خصوصيات

- معرب متن
- په متن باندې اعراب
- د باب نمبر
- د حديث نمبر
- ترجمه او تشريح
- حل لغات
- د راوي حالات
- د حديث تخريج
- تحقيق د مذاهب اربعه
- متن مع السند بالاستيعاب

الورد الشذي

پښتو شرح د

جامع الترمذي

شيخ الاسلام وفقيه العصر
محمد حسن جان المدني

حديث
١ تا ٣٠٥

مكتبه رحمانيه

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى

الـــورد الشـــذي

بشرح

جامع الترمذي

الجـــزء الثامن

من _٣٢٠٥_ الى _ ٣٩٥٢_

جمع وترتيب: خادم العلماء المفتقر الي الله ابوهلال: **عبد الخالق بن خان محمد**
خريج الجامعة امداد العلوم الاسلامية پشاور_ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات)

ازافادات

شيخ الاسلام فقيه العصر محمد حسن جان (المدني) شهيد (رحمه الله)

ناشــر: مكتبه رحمانيه پشاور

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ

الــــورد الشــــذي

پښتو شرح د

جـــامع الـــترمذي

جلد ثاني

ازحديث _٣٠٢_ تا _ ٨٠٨_

جمع وترتيب: خادم العلماء المفتقر الي الله ابوهلال: **عبدالخالق بن خان محمد**
خريج الجامعة امداد العلوم الاسلامية پشاور/ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات)

ازافادات

شيخ الاسلام فقيه العصر محمد حسن جان (المدني) شهيد (رحمه الله)

ناشـــر: مكتبه رحمانيه پشاور

اسم الكتاب: الورد الشذي بشرح الجامع للترمذي

جلد **ثاني**

ازحديث _٣٠٢_ تا _ ٨٠٨_

تاليف: ابوهلال "**عبد الخالق**" خَرِيْجُ الْجَامِعَة اِمْدَادُ الْعُلُوْمِ الْإِسْلَامِيَّةِ پِشَاوَر_ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات) رابطه: ۰۳۳۳۹۱۲۱۱۹۲

سال اشاعت: **۲۰۲۱**

تعداد: ۱۰۰۰

ناشر: مكتبه رحمانيه محله جنكي نزد قصه خواني (پشاور)

اهتمام طباعت: الحاج شاه زاده صاحب

****

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرس العناوين والمحتويات

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(سورة الصافات:۱۸۲)

****

بسم الله الرحمن الرحيم

۱۱۶_ باب مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ

دسحر په مونځ کي دلوستل کيدونکو سورتونو بيان

۳۰۶_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مِسْعَرٍ، وَسُفْيَانَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عَلَاقَةَ، عَنْ عَمِّهِ قُطْبَةَ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ، وَأَبِي بَرْزَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ قُطْبَةَ بْنِ مَالِكٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "قَرَأَ فِي الصُّبْحِ بِ: الْوَاقِعَةِ" وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ "يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ مِنْ سِتِّينَ آيَةً إِلَى مِائَةٍ" وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ "قَرَأَ: إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ" وَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ، أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى أَبِي مُوسَى، أَنِ اقْرَأْ فِي الصُّبْحِ بِطِوَالِ الْمُفَصَّلِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعَلَى هَذَا الْعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَبِهِ قَالَ: سفيان الثوري، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ.(1)

ترجمه : دقطبه بن مالك رضي الله عنه بيان دي چي ما دسحر دمونځ په رومبي ركعات كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه "والنخل باسقات" اوريدلي وو.
امام ترمذي وائي دقتبه بن مالك حديث حسن صحيح، په دي باب كي دعمرو بن حريث، جابر بن سمره، عبدالله بن سائب، ابو برزه او ام سلمه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي دسحر په مونځ كي يي سورة فاتحه لوستلي وه، او دا هم مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په سحر كي دشپيتو نه واخله سلو پوري ايتونه لوستل، او دا هم مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسحر مونځ كي "اذاالشمس كورت" سورت لوستلي دي، اود عمر رضي الله عنه په باره كي مروي دي چي ابوموسي اشعري ته يي خط ليكلي وو چي دسحر په مونځ كي طوال مفصل لوله. داهل علمو هم په دي باندي عمل دي او همدا دسفيان ثوري او ابن مبارك، او شافعي قول دي.

تشريح : دلته امام ترمذي ځلور بابونه قائم كري دي او په مونځ كي يي قرائت مسنون مقدار بيان كري دي اودبعضي سورتونو تعين يي هم كري دي په دي مسئله كي اصل الوصول دعمر

1_ صحيح مسلم في الصلاة ۳۵ (۴۵۷) . سنن النسائي في الافتتاح ۴۲ (۱۵۱) . سنن ابن ماجه في الإقامة (۸۱۶) . (تحفة الأشراف: ۱۱۰۸۷) . سنن الدارمي في الصلاة ۶۶ (۱۳۲۲)

فاروق رضي الله عنه خط دي چي ابو موسي اشعري ته يي ليکلي وو حاصل دخط دا وو چي دسحر او ماسپخين په مونځ کي دطوال مفصل قرائت مسنون دي يعني دسورة حجرات نه دسورة بروج پوري، او دمازيگر اوماخوستن په مونځ کي د اوساط مفصل قرائت مسنون دي، يعني دبروج نه واخله د دالبينه پوري البته په دي کي اختلاف هم ثابت دي ددي دپاره چي خلق کوم خاص صورت واجب اونه گنړي.

د سورة تکوير فضائل:

دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دقيامت منظر په سترگو ليدل خوښوي نو هغه دي "اذا الشمس كورت" او "واذا السماء انشقت" او واذا السماء انفطرت" لولي ترمذي دا روايت د حسن درجي گنړلي دي او دبغوي په روايت کي صرف داولني سورت ذکر دي.

ابن ابي حاتم او کتاب في البحر والاحوال کي ابن ابي الدنيا او ابو الشيخ په کتاب العظمة کي ددي ايت په ضمن کي هم دابن عباس رضي الله عنهما قول ددي مضمون مطابق نقل کړي دي چي دقيامت په ورځ به الله تعالي نمر او سپوږمئ او ستوري بي نوره کړي او سمندر ته به يي اوغورځوي او يوه مغربي هوا به راوليږي چي په سمندر باندي به اولگي د ټول سمندر نه به اور جوړ شي.

دبعضي علماؤ قول دي چي کله نمر سمندر ته اوغورځولي شي نو دسمندر نه به په گرميدو سره اور جوړ شي ، ابن ابي حاتم دابن ابي مريم قول نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي نمر د بي نوره کيدو نه پس سمندر ته اوغورځولي شي او ستوري دخواره واره کيدو نه پس جهنم ته پريوځي او علاوه دعيسي عليه السلام او دهغه دمور نه چي به دکوم معبود علاوه دالله تعالي نه پرستش کيدو هغوئ به جهنم ته اوغورځولي شي ، زه وايم چي سمندر ته دنمر غورځيدل او جهنم ته غورځيدل ظاهرا متعارض دي ددي دواړو تطبيق داسي کيدي شي چي سمندر به پخپله گرم اور اوگرځي، بخاري دابو هريره رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به سپوږمئ او نمر بي نوره کړي شي بزار پخپل مسند کي دومره اضافه بيان کړي ده چي اور ته به اوغورځولي شي.

د زيد بن علاقه رضي الله عنه حالات:

نوم زيد دپلار نوم علاقه دقبيله بني ثقيف سره تعلق لري ،دي په تابعينو کي شميرل شوی دی په ۱۵۳يا ۱۵۸کي وفات شوی دی او دده عمر پدغه وخت کي دسل کالو نه زيات وو چي صحاح سته ورنه نقل دروايت کړی دی، اوپه ثقه راويانو کي شميرلی شوی دی.

****

۱۱۷_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ

دماسپخين او مازيكر په مونځ كي دلوستل كيدونكو سورتونو بيان

۳۰۷_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِـ: السَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ وَ السَّمَاءِ وَالطَّارِقِ وَشِبْهِهِمَا" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ خَبَّابٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي قَتَادَةَ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَالْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "قَرَأَ فِي الظُّهْرِ قَدْرَ تَنْزِيلِ السَّجْدَةِ" وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ "يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى مِنَ الظُّهْرِ قَدْرَ ثَلَاثِينَ آيَةً، وَفِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ قَدْرَ خَمْسَ عَشْرَةَ آيَةً" وَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى أَبِي مُوسَى، أَنِ اقْرَأْ فِي الظُّهْرِ بِأَوْسَاطِ الْمُفَصَّلِ، وَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الْقِرَاءَةَ فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ كَنَحْوِ الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ، يَقْرَأُ بِقِصَارِ: الْمُفَصَّلِ وَرُوِيَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: تَعْدِلُ صَلَاةُ الْعَصْرِ بِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ فِي الْقِرَاءَةِ، وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: تُضَاعَفُ صَلَاةُ الظُّهْرِ عَلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ فِي الْقِرَاءَةِ أَرْبَعَ مِرَارٍ.[1]

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه په ماسپخين او مازيگر كي "والسماء ذات البروج، والسماء والطارق" او ددي پشان سورتونه لوستل

امام ترمذي وائي دجابر بن سمره رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي د خباب، ابو سعيد، ابوقتاده، زيد بن ثابت، او براء بن عازب رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي رسول الله صلي الله عليه وسلم باره كي مروي دي چي په ماسپخين كي يي د سورة الم السجده په مقدار تلاوت كړي وو، دا هم مروي دي چي رسول الله دماسپخين په ړومبي ركعات كي د ديرش ايتونو په مقدار او په دويم ركعات كي دپنځلس ايتونو په مقدار قرائت كولو، اود عمر رضي الله عنه په باره كي مروي دي چي ابوموسي اشعري ته يي خط ليكلي وو چي دسحر په مونځ كي اوساط مفصل لوله.دبعضي اهل علمو رائي ده چي دمازيگر قرائت دمانبام

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ۱۳۱ (۸۰۵) . سنن النسائي في الافتتاح ۶۰ (۹۸۰، ۹۸۱) . (تحفة الأشراف : ۲۱۷۴) . مسند احمد (۵/في ۱۰۱، ۱۰۳، ۱۰۶، ۱۰۸)

دقرائت پشان وي، يعني امام به قصار مفصل لولي او دابراهيم نخعي قول دي چې دماسپخين قرائت دمازيگر دقرائت يو په څلور ډبل وي.

تشريح : د سورة البروج فضائل اود بروج لفظ تحقيق.

په صحيحينو کې دمعراج دحديث په تفصيل کې راغلي دي چې بيازه بيت المعمور ته پورته کړې شوم يعني اوم اسمان ته دکعبې په مقابل کښې، په سورة تطفيف کې دوهب بن منبه قول تير شوي دي چې په اوم اسمان کې يو مکان دي چې سپين کور ورته وئيلې شي هلته دمومنانو روحونه جمع کيږي،

يادبرج نه مراد داسمان دروازې دي څکه چې وتونکې خاصکر په دروازو باندې وتل کوي دفلاسفه داتباع په نتيجه کې دعوامو هم داخيال دي چې په وهمي طور اسمان په دولسو حصو تقسيم کړې شوي دي او هرې يوې حصې ته يې بروج وئيلې شي په کوم کې چې ثوابت (يعني غير متحرک ستورې) موجود وي او سيارې هم تلل راتلل کوي او دثوابتو په اجتماع سره چې کوم شکل جوړيږي هم هغه ددې دپاره نوم ايخودلې کيږي لکه حمل (دچيلۍ بچې) ثور (غويې) جوزا (غبرگوني بچې) مگر دا قول قابل داعتبار نه دي ددې خيال بناپدې خبره ده چې داسمان حرکت دوامي دي او ستورې پدې کې پيوست دي ليکن دا اقوال غلط دي ، په قران او سنت سره ثابته ده چې هره يوه سياره په فلک کې په اوار رفتار سره گرځي او په اسمانونو کې غير متحرک ستورې بالکل موجود نه دي چې ددې دمجموعې په بنا داسمان يوې خاص حصې ته بروج اووئيلې شي دالله تعالي په کلام کې دبې دينه فلسفيانو اصطلاح مراد کيدې نشي نوپدې وجه داسمان موهوم حصو ته بروج نشي وئيلې. دبروج لفظي ساخت خو دظهور په معنې دلالت کوي او اصطلاحي معنې يې داسمان محض وهمي حصه ده . داهم وئيلې شوي دي چې دبرج نه مراد لوې ستورې دي څکه چې هغه بالکل ښکاره وي (حسن، مجاهد، قتاده).

****

۱۱۸_باب مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي الْمَغْرِبِ

دماښام په مونځ کې دلوستلې کيدونکو سورتونو بيان

۳۰۸_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُمِّهِ أُمِّ الْفَضْلِ، قَالَتْ: خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَاصِبٌ رَأْسَهُ فِي مَرَضِهِ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ فَقَرَأَ بِ: "الْمُرْسَلَاتِ". قَالَتْ: فَمَا صَلَّاهَا بَعْدُ حَتَّى لَقِيَ اللَّهَ قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ أَبُو

عِيسَى: حَدِيثُ أُمِّ الْفَضْلِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ " قَرَأَ فِي الْمَغْرِبِ بِ: الْأَعْرَافِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا " وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَنَّهُ قَرَأَ فِي الْمَغْرِبِ بِ: الطُّورِ " وَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى أَبِي مُوسَى، أَنِ اقْرَأْ فِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ، وَرُوِيَ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ أَنَّهُ قَرَأَ فِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ، قَالَ: وَعَلَى هَذَا الْعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ: ابْنُ الْمُبَارَكِ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وقَالَ الشافعي: وَذَكَرَ عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ كَرِهَ أَنْ يُقْرَأَ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ بِالسُّوَرِ الطِّوَالِ نَحْوَ الطُّورِ وَ الْمُرْسَلَاتِ، قَالَ الشافعي: لَا أَكْرَهُ ذَلِكَ بَلْ أَسْتَحِبُّ أَنْ يُقْرَأَ بِهَذِهِ السُّوَرِ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي دده مور ام فضل به فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته په داسي حال كي راغي چي دبيمارئ په وجه يي په سر باندي پټئ تړلي وه او دماښام مونځ يي وركړو او سورة مرسلات يي پكي اولوستلو او بيا يي ددينه پس دا سورة په ماښام كي نه دي لوستلي تردي پوري چي خپل محبوب حقيقي (الله تعالي) ته رخصت شو.

امام ترمذي وائي دام الفضل حديث صحيح دي، او په دي باب كي د جبير بن مطعم، ابن عمر، ابو ايوب، او زيد بن ثابت رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي، درسول الله صلي الله عليه وسلم باره كي مروي دي چي دماښام په دوه ركعاتونو كي يي سورة الاعراف لوستلي وو او درسول الله باره كي دا هم مروي دي چي دماښام په مونځ كي سورة الطور لوستلي وو، دعمر رضي الله عنه باره كي مروي دي چي ابوموسي اشعري ته يي خط ليږلي وو چي ته به په ماښام كي قصار مفصل لولي، دابوبكرصديق رضي الله عنه باره كي مروي دي چي هغه به په ماښام كي قصار مفصل لوستل، داهل علمو په دي باندي عمل دي، ابن مبارك ، احمد، او اسحاق هم په دي باندي قول كړي دي امام شافعي وائي دامام مالك باره كي ذكر شوي دي چي دماښام په مونځ كي يي دسورة طور او مرسلات پشان اوږده سورتونه لوستل مكروه ګڼړلي دي، امام ترمذي وائي دامام شافعي قول دي ليكن زه ورته مكروه نه وايم بلكه په ماښام كي ددي سورتونولوستل مستحب ګنړم

[1] _ صحيح البخاري في الأذان ٩٨ (٧٦٣) . والمغازى ٨٣ (٤٤٢٩) . صحيح مسلم في الصلاة ٣٥ (٤٦٢) . سنن ابى داود في الصلاة ١٣٢ (٨١٠) . سنن النسائي في الافتتاح ٦٣ (٩٨٦) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٩ (٨٣١) . (تحفة الأشراف : ١٨٠٥٢) . مسند احمد (٦ في ٣٣٨، ٣٤٠) . سنن الدارمي في الصلاة ٦٣ (١٣٣١)

تشريح : د سورة المرسلات فضائل:

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه سورة هود او ددي ملګرو سورتونو بوډا كړم دا حديث عقبه بن عامر او ابو جحيفه په روايت سره طبراني نقل كړي دي درسول الله صلي الله عليه وسلم مطلب داوو چي پدي كې الله تعالي حكم كړي دي "فاستقم كما امرت ومن تاب معك" يا دا مطلب وو چي پدي كې دقيامت او په تيرو شوو قومونو دغالب كيدو ذكر دي ، دوروستني مطلب تائيد په هغه روايت سره كيږي كوم چي حاكم دابو بكر په سند سره نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه سورة هود او الواقعه او المرسلات او عم يتساءلون او واذا الشمس كورت بوډا كړم (رواه الترمذي عن ابن عباس والحاكم عن ابي بكر وابن مردويه عن سعد) .

دا قسم يو روايت دانس رضي الله عنه نه هم مروي دي كوم چي عبدالله بن احمد بيان كړي دي ليكن ددي روايت الفاظ دادي چي زه سورة هود او ددي ملګرو سورتونو بوډا كړم ځكه چي پدي كې دقيامت او دنورو قومونو دواقعاتو بيان دي .

****

١١٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ الْعِشَاءِ

دماسخوتن په مونځ كې دلوستل كيدو نكو سورتونو بيان

٣٠٩_ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْخُزَاعِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ: الشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَنَحْوِهَا مِنَ السُّوَرِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ بُرَيْدَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "قَرَأَ فِي الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ: التِّينِ وَالزَّيْتُونِ"، وَرُوِيَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ بِسُوَرٍ مِنْ أَوْسَاطِ الْمُفَصَّلِ نَحْوِ سُورَةِ الْمُنَافِقِينَ وَأَشْبَاهِهَا، وَرُوِيَ عَنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالتَّابِعِينَ أَنَّهُمْ قَرَءُوا بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا وَأَقَلَّ. فَكَأَنَّ الْأَمْرَ عِنْدَهُمْ وَاسِعٌ فِي هَذَا، وَأَحْسَنُ شَيْءٍ فِي ذَلِكَ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "قَرَأَ بِ: الشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ".[1]

---

[1] _ سنن النسائي في الافتتاح ٧١ (١٠٠٠) ، (تحفة الأشراف : ١٩٦٢) ، مسند احمد (٥ في ٣٥٤، ٣٥٥) سنن النسائي في الافتتاح ٧١ (١٠٠٠) ، (تحفة الأشراف : ١٩٦٢) ، مسند احمد (٥ في ٣٥٤، ٣٥٥)

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په ماخوستن كي "والشمس وضحاها" اولوستلو او ددي برابر سورتونه به يي لوستل.

امام ترمذي وائي دبريده رضي الله عنه حديث حسن دي، او په دي باب كي د براء بن عازب او انس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي، درسول الله باره كي مروي دي چي په ماخوستن كي به يي سورة والتين والزيتون لوستلو، دعثمان بن عفان رضي الله عنه باره كي مروي دي چي هغه به په ماخوستن كي اوساط مفصل سورتونه لوستل لكه سورة منافقون، اوددي پشان نور سورتونه، دصحابه كرامو او تابعينو نه دا هم مروي دي چي هغوئ ددينه زيات او كم هم لوستلي دي گويا كي دهغوئ په نزد په دي معامله كي وسعت دي ليكن په دي سلسله كي دټولو نه بهتر څيز هغه دي كوم چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي سورة الشمس او سورة التين به يي لوستلو .

دبريده رضي الله عنه حالات

نوم بريده كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم مصيب بن عبدالله دي، كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته ورسيدو نو بريده يي په خدمت كې حاضر شو نو رسول الله ورته داسلام دعوت وركړو نو دی فورا مسلمان شو او دده سره دبني اسلم اتيا كسان هم په اسلام كې داخل شول (طبقات ابن سعد).

په صلح حديبيه او بيعة الرضوان كې يي هم شركت كړى دى (اسد الغابه).

او په فتح مكه كې يي هم ملگرتيا كړي وه (مسند احمد).

تقريبا په شپاړسو غزواتو كې شريك پاتي شوى دى (بخاري كتاب المغازي).

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه په مشرئ كې اخر لښكر تيار كړو نو په دي كې هم شريك وو (طبقات ابن سعد).

غرض دا چي دده په رگ رگ كې دجهاد جذبي توپونه وهل او دژوند مزه به يي داسونو په زغلولو كې ليدله (طبقات ابن سعد).

ديزيد په زمانه كې دهجرت په ۶۳ كال وفات شو چي دمروياتو شمير يي ۱۲۴ دى يو متفق عليه دى او دوه په بخاري كې دي يولس په مسلم كې دي (تهذيب الكمال).

****

٣١٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ فِي الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دماخوستن مونځ کي سورة التين اولوستلو

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي

****

١٢٠_ باب مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ

د امام په اقتداء کي دمقتدي دپاره دقراءت لوستلو بيان

٣١١_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ، فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: "إِنِّي أَرَاكُمْ تَقْرَءُونَ وَرَاءَ إِمَامِكُمْ"، قَالَ: "قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِي وَاللَّهِ، قَالَ: "فَلَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي قَتَادَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُبَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الزُّهْرِيُّ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ" قَالَ: وَهَذَا أَصَحُّ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ فِي الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالتَّابِعِينَ، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ يَرَوْنَ الْقِرَاءَةَ خَلْفَ الْإِمَامِ.[2]

---

[1] _ صحيح البخاري في الأذان ١٠٠ (٧٦٦)، و١٠٢ (٧٦٩)، وتفسير التين ١ (٤٩٥٢)، والتوحيد ٥٢ (٧٥٤٦)، صحيح مسلم في الصلاة ٣٦ (٤٦٤)، سنن ابي داود في الصلاة ٢٧٥ (١٢٢١)، سنن النسائي في الافتتاح ٧٢ (١٠٠١)، و٧٣ (١٠٠٢)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٠ (٨٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٩١)، موطا امام مالک في الصلاة ١٥ (٢٧)، مسند احمد (٤ في ٢٨٦، ٣٠٢)

[2] _ سنن ابي داود في الصلاة ١٣٦ (٨٢٣)، (تحفة الأشراف: ٥١١١)، مسند احمد (٥ في ٣١٣، ٣١٦، ٣٢٢)

ترجمه : دعباده بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسحر مونځ اوکړو او قرائت ورباندي دروند شو نو دمونځ پوره کولو نه پس يي اوفرمائيل ماته داسي ښکاري چي تاسو په امام پسي قرائت وائي مونږ عرض اوکړو هو. په الله قسم چي مونږ قرائت وايو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو به داسي نه کوئ مگر علاوه دسورة فاتحي نه ځکه چي څوك دا اونه لولي نومونځ يي نه کيږي

امام ترمذي وائي دعباده رضي الله عنه حديث حسن دي، دا حديث زهري دمحمود بن ربيع نه اومحمود دعباده بن صامت نه او عباده دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهغه چا مونځ نه کيږي څوك چي سورة فاتحه اونه لولي او دا په دي باب کي دټولو نه صحيح ترين روايت دي، په دي باب کي د ابوهريره، عائشه، انس، ابوقتاده، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، په صحابه کرامو او تابعينو کي داکثرو اهل علمو په امام پسي دقرائت په سلسله کي په دي روايت باندي عمل دي او د تابعينو نه پس په اهل علمو کي امام مالك، ابن مبارك، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم په دي باندي قول کړي دي او دوئ ټول په امام پسي دقرائت کولو قائل دي.

****

١٢١_ باب مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الإِمَامِ إِذَا جَهَرَ الإِمَامُ بِالْقِرَاءَةِ

په جهري مونځونو کي په امام پسي دقرائت نه کولو بيان

٣١٢_ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ ابْنِ أُكَيْمَةَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ فِيهَا بِالْقِرَاءَةِ، فَقَالَ: "هَلْ قَرَأَ مَعِي أَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفًا؟" فَقَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "إِنِّي أَقُولُ مَالِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ". قَالَ: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا جَهَرَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الصَّلَوَاتِ بِالْقِرَاءَةِ حِينَ سَمِعُوا ذَلِكَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَابْنُ أُكَيْمَةَ اللَّيْثِيُّ اسْمُهُ: عُمَارَةُ، وَيُقَالُ عَمْرُو بْنُ أُكَيْمَةَ، وَرَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ الزُّهْرِيِّ هَذَا الْحَدِيثَ وَذَكَرُوا هَذَا الْحَرْفَ، قَالَ: قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ حِينَ سَمِعُوا ذَلِكَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَلَيْسَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ مَا يَدْخُلُ عَلَى مَنْ رَأَى الْقِرَاءَةَ خَلْفَ الإِمَامِ، لِأَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ هُوَ الَّذِي رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْحَدِيثَ،

وَرَوَى أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ فَهِيَ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ" فَقَالَ لَهُ حَامِلُ الْحَدِيثِ: إِنِّي أَكُونُ أَحْيَانًا وَرَاءَ الْإِمَامِ. قَالَ: اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ. وَرَوَى أَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "أَمَرَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُنَادِيَ أَنْ لَا صَلَاةَ إِلَّا بِقِرَاءَةِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ" وَاخْتَارَ أَكْثَرُ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ أَنْ لَا يَقْرَأَ الرَّجُلُ إِذَا جَهَرَ الْإِمَامُ بِالْقِرَاءَةِ، وَقَالُوا: يَتَتَبَّعُ سَكَتَاتِ الْإِمَامِ. وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ. فَرَأَى أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالتَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمُ الْقِرَاءَةَ خَلْفَ الْإِمَامِ، وَبِهِ يَقُولُ: مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. وَرُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ: أَنَا أَقْرَأُ خَلْفَ الْإِمَامِ وَالنَّاسُ يَقْرَءُونَ، إِلَّا قَوْمًا مِنَ الْكُوفِيِّينَ، وَأَرَى أَنَّ مَنْ لَمْ يَقْرَأْ، صَلَاتُهُ جَائِزَةٌ. وَشَدَّدَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي تَرْكِ قِرَاءَةِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَإِنْ كَانَ خَلْفَ الْإِمَامِ، فَقَالُوا: لَا تُجْزِئُ صَلَاةٌ إِلَّا بِقِرَاءَةِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَحْدَهُ كَانَ أَوْ خَلْفَ الْإِمَامِ. وَذَهَبُوا إِلَى مَا رَوَى عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَقَرَأَ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَ الْإِمَامِ، وَتَأَوَّلَ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا صَلَاةَ إِلَّا بِقِرَاءَةِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ" وَبِهِ يَقُولُ: الشافعي، وَإِسْحَاقُ وَغَيْرُهُمَا، وَأَمَّا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، فَقَالَ: مَعْنَى قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ إِذَا كَانَ وَحْدَهُ". وَاحْتَجَّ بِحَدِيثِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، حَيْثُ قَالَ: مَنْ صَلَّى رَكْعَةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ، فَلَمْ يُصَلِّ إِلَّا أَنْ يَكُونَ وَرَاءَ الْإِمَامِ. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: فَهَذَا رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، تَأَوَّلَ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ أَنَّ هَذَا إِذَا كَانَ وَحْدَهُ" وَاخْتَارَ أَحْمَدُ مَعَ هَذَا الْقِرَاءَةَ خَلْفَ الْإِمَامِ، وَأَنْ لَا يَتْرُكَ الرَّجُلُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَإِنْ كَانَ خَلْفَ الْإِمَامِ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دهغه مونځ نه دفارغيدو نه پس په کوم کي چي په تيز اواز قرائت کيږي اوفرمائيل چي ايا اوس په تاسو کي چا په ماپسي قرائت کړي دي؟ يوکس عرض اوکړو هو اي دالله رسوله، ما په تاسو پسي

---

[1] _ سنن ابي داود في الصلاة ۱۳۷ (۸۲۶) ، سنن النسائي في الافتتاح ۲۸ (۹۰) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۳ (۸۴۸، ۸۴۹) .
(تحفة الأشراف : ۱۴۲۶۴) ، موطا امام مالک في الصلاة ۱۰ (۴۴) ، مسند احمد (۲ في ۲۴۰، ۲۸۴، ۲۸۵، ۲۸۷)

قرائت کړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ما هم همدا اوس قرائت کولو اخر څه خبره ده چي دقران په لوستلو کي زما د اواز سره نور اوازونه ټکر کيږي او زما په اواز دبل اواز دغالب کولو کوشش کيږي زهري وائي هر کله چي خلقو درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا خبري واوريدي نو خلق په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسي په هغه مونځونو کي په کوم کي چي قرائت په تيزه کيږي دقرائت کولو نه منع شول .

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي، او دابن اکيمه ليثي نوم عماره دي هغه ته عمرو بن حکيمه هم وئيلي شي، دزهري نورو شاګردانو هم دا حديث نقل کړي دي ليکن هغوئ په دي الفاظو نقل کړي دي ''قال الزهري فانتهي الناس عن القراءة حين سمعوا ذلك من رسول الله صلي الله عليه وسلم، په دي باب کي دابن مسعود، عمران بن حصين، او جابر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي ، او په دي حديث کي داسي کوم څيز نشته کوم چي دهغه چا دپاره درکاوټ سبب جوړ شي څوك چي په امام پسي دقرائت کولو قائل دي ځکه چي دا حديث ابوهريره رضي الله عنه نقل کړي دي او ابوهريره درسول الله صلي الله عليه وسلم دا حديث هم نقل کړي دي ''چاچه کوم مونځ اوکړو او په هغه کي يي سورة فاتحه پرنيخودله نو مونځ يي ناقص دي، ناقص معني ناتمام نو دهغه نه يو کس چاچه ورته دا حديث نقل کړي وو تپوس اوکړو چي زه کله کله په امام پسي ولاړ يم نو څه به کوم ابوهريره ورته اوفرمائيل په زړه کي يي وايه، دابوعثمان نهدي نه روايت دي چي دابوهريره رضي الله عنه بيان دي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم دا حکم اوکړو چي زه اعلان اوکړم چي دسورة فاتحي نه بغير مونځ نه کيږي، اکثر محدثينو دا خبره اختيار کړي ده چي کله امام په تيز اواز قرائت کوي نو مقتدي به قرائت نه کوي او دا قول يي کړي دي چي دي به دامام دسکتو تتبع جاري ساتي يعني هغه به فاتحه دامام دسکتو په مينځ کي وائي، په امام پسي دقرائت په سلسله کي داهل علمو اختلاف دي صحابه کرام او تابعين او ددوئ نه پس اکثر اهل علم په امام پسي دقرائت وئيلو قائل دي، مالك بن انس، عبدالله بن مبارك، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهوي هم قرائت خلف الامام اختيار کړي دي عبدالله بن مبارك وائي چي زه په امام پسي قرائت وايم او نور خلق يي هم وائي علاوه د يو څو کوفيانو نه مګر زما خيال دادي چي څوك فاتحه اونه لولي نو مونځ يي درست نه دي، په اهل علمو کي بعضي کسانو په دي سلسله کي سختي کړي ده ددوئ قول دي چي په مونځ کي دسورة فاتحي پرنيخودل جائز نه دي اګر که په امام پسي ولاړ وي دوئ وائي چي بغير دسورة فاتحي نه مونځ کفايت نه کوي او دوئ په هغه حديث عمل کړي دي کوم چي عباده بن صامت دنبي کريم سلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي او پخپله عباده بن صامت به هم په رسول الله پسي قرائت کولو دهغه عمل درسول الله په هغه قول دي په کوم کي چي دا کلمات دي ''دسورة فاتحي نه بغير مونځ نه کيږي'' او همدا قول دامام شافعي او اسحاق

وغيره هم دي، احمد بن حنبل وائي درسول الله صلي الله عليه وسلم دقول ''دسورة فاتحي نه بغير مونځ نه کيږي'' مطلب دادي چي کله څوك يواځي مونځ کوي نو بيا دسورة فاتحي نه بغير مونځ نه کيږي امام احمد دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما دحديث نه دا استدلال کړي دي په کوم کي چي دا وارد دي ''چاچه يو رکعات اوکړو او په دي کي يي سورة فاتحه اونه لوستله نو دهغه مونځ نه کيږي مګر علاوه دهغه چانه چي په امام پسي ولاړ وي امام احمد بن حنبل وائي چي دا په صحابه کرامو کي يو کس وو او هغوئ دنبي کريم صلي الله عليه وسلم ددي فرمان ''دسورة فاتحي نه بغير مونځ نه کيږي'' دا تفسير کړي دي چي دا حکم دهغه چا دپاره دي څوك چي يواځي مونځ کوي ددي هر څه باوجود امام احمد بن حنبل په امام پسي دفاتحي لوستل خوښوي او داقول يي کړي دي چي په مونځ کي دسورة فاتحي پريخودل نه دي پکار اګر که په امام پسي ولاړ وي

****

٣١٣ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي نُعَيْمٍ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "مَنْ صَلَّى رَكْعَةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَلَمْ يُصَلِّ إِلَّا أَنْ يَكُونَ وَرَاءَ الْإِمَامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي چاچه يو رکعات مونځ اوکړو او سورة فاتحه يي پکي پريخوده دهغه مونځ نه کيږي مګر علاوه دهغه چا نه چي په امام پسي ولاړ وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

د قراءت خلف الامام شرعی حکم

د قرات خلف الامام متعلق دري مذاهب دي:

(١) د احنافو مسلك دادي چي مقتدی به په امام پسي بيخی قرات نه وائی.نه فاتحه او نه سورت، که جهری مونځ وی اوکه سری مونځ وی

(٢) د امام مالك اوداامام شافعی په دي کي اختلاف دي.يعنی دده په نزد په مقتدی باندي د امام شاه ته فاتحه وئيل واجب دي.

[1] ـ تفرد به المؤلف. وانظر موطأ امام مالک في الصلاة ٨ (٣٨). (لم يذكره المزی في مظانه ج٢ في ص٢٨٥٢٨٨ من رقم ٣١٢٥ إلى ٣١٣٢)

دامام شافعي قديم قول خو دا دې چې په مقتدي باندې په سري مونځ کي چې په کومو رکعتونو کي جهر نه وي.په هغې کي فاتحه وئيل واجب دي.

(۳)ليکن د امام شافعي قول جديد او صحيح مذهب دا دې چې په مقتدي باندې په هر مانځه کي فاتحه وئيل واجب دي.که جهري مونځ وي اوکه سري وي.دامام شافعي عقلي دليل دا دې چې قرات يو رکن دې.او په ټولو ارکانوکي امام او مقتدي دواړه شريك وي.مثلاً قيام، رکوع ،سجده وغيره کي دواړه شريك دي.نو په قرات کي به هم دواړه شريك وي.

او نقلي دليل د ابوعباده (رضي الله عنه) حديث دې.فرمائي:

(صلى بنا رسول الله صلي الله عليه وسلم الصبح فثقلت عليه القراءة فلما إنصرف قال إني لأراكم تقرءون خلف إمامكم قلنا أجل: قال لا تفعلوا ذلك الا بفاتحة الكتاب فإنه لا صلاة لمن لم يقرأها)

يعنى رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته د سحر مونځ راکولو.نو په دوى باندې لوستل گران شو.لکه چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم سلام اوگرځولو.نو ويې فرمائل.زه وينم چې تاسو په خپل امام پسې شاه ته قرات وائې.مونږ عرض اوکړو.هو. رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل.داسې مکوئ.مگر په فاتحة الکتاب سره،ځکه چې څوك فاتحه اونه وائي.د هغه مونځ نه کيږي.

داحنافودلائل: زمونږ دليل د رسول پاك صلي الله عليه وسلم ارشاد نبوي دې:

(من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة)

وجه د استدلال دا ده چې دامام قرات حکماً د مقتدي دپاره کافي کيږي.نو هرکله چې د مقتدي دپاره حکماً قرات موجود شو.نو اوس به مقتدي دوباره قرات نه کوي.گني د مقتدي به دوباره قرات کول لازم شي.حالانکه په مانځه کي دوباره قرات کول مشروع نه دې.

صاحب د هدايه فرمائي چې د صحابه کرامو اجماع هم په دې باندې ده چې مقتدي به په امام پسې قرات نه کوي.خو په دې باندې دا اعتراض کيږي چې بعضي صحابه کرام د قرات خلف الامام د وجوب قائل دي.لکه عباده بن صامت(رضي الله عنه)

جواب دا دې چې دلته د اکثرو صحابو اجماع مراد ده.اتيا صحابه کرامو د قرآت فاتحه خلف الامام انکار کړې دې.

امام شعبي فرمائي چې ما اويا بدريان صحابه کرام ليدلي وو چې د قرات فاتحه خلف الامام نه ئې منع کوله.خود دې اويا يا اتيا صحابه کرامو تعداد دا کثرو صحابه کرامو تعداد نه دې.نو ځکه دې ته د اکثرو صحابه کرامو اجماع وئيل درست نه دي.

دویم جواب : بعضي اهل علمو ددی جواب دا ورکړی دی چی د مجتهدینو صحابه کرامو او لویو صحابه کرامو اجماع مرادده.او مجتهدین صحابه دا دی(۱)ابوبکر صدیق(۲)عمربن الخطاب(۳) عثمان بن عفان (۴)علی بن ابی طالب(۵) عبدالرحمن بن عوف (۶) سعدبن ابی وقاص(۷) عبدالله بن مسعود(۸) عبدالله بن عمر(۹) عبدالله بن عباس(۱۰) زید بن ثابت رضی الله عنم اجمعین.

یواحتمال دا هم موجود دی چی کوم حضرات د قرات فاتحه خلف الامام قائل دی.د هغوی رجوع ثابته ده.نو په دی صورت کي به اجماع تامه شی.او دا وئیلی شی چی کله ددی لس لویو صحابه کرامو نه نفی ثابته ده.اوددوی خلاف د یو صحابی رد ثابت نه دی.حالانکه په هغه وخت کي د صحابه کرامو لوئي تعداد موجود وو.نو دا اجماع سکوتی شوه.

پاتې شوه.دامام شافعیدا وینا چی قرات د امام او مقتدی په مینځ کي مشترك رکن دی.نو مونږ دا منو.خو د مقتدی حصه چپ پاتې کیدل دی.او غوږ کیخودل اوریدل دی. رسول پاك صلي الله علیه وسلم فرمائیلی دی(إذا قرء فأنصتوا) کله چی امام قرات کوی.نو تاسو چپ اوسی:

(۲)او دالله تعالی ارشاد دی: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (الاعراف:۲۰۴) یعنی کله چی قرآن لوستلي شی.نو تاسو غوږ ایږدئ .اوچپ اوسئ.اودا آیت د مونځ په باره کي نازل شوی دی.ځکه چی د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی چی :

(أن أصحاب رسول الله صلي الله علیه وسلم قرأوا خلفه فخلطو علیه القراءة فنزلت)

یعنی د رسول الله صلي الله علیه وسلم صحابه کرامو په رسول پاك صلي الله علیه وسلم پسې قرات لوستلو.نو رسول الله صلي الله علیه وسلم باندي په قرات کي ګډوډوالی راغلو.نو دا آیت نازل شو، دغه شان د ابوهریره(رضي الله عنه) نه روایت دی:

(أنه صلي الله علیه وسلم قال إنما جعل الإمام لیؤتم به فإذا کبر فکبروا وإذا قرأ فأنصتو)

یعنی امام ددی دپاره مقرر شوي دي چی دده اقتداء وکړی شی.کله چی هغه تکبیر وائی.نو تاسو هم تکبیر وائي.او کله چی هغه قرات وائی.نوتاسو چپ اوسئ.

دامام محمد نه یو روایت دا دی چی د احتیاط دپاره قرات فاتحه خلف الامام مستحسن دی.ځکه چی د عباده بن صامت(رضي الله عنه) حدیث وړاندې تیر شو چی (لاتفعلوا ذلك الا بفاتحة الکتاب فإنه لا صلاة لمن لم یقرأها)

او د شیخینو په نزد قرات خلف الامام مکروه دی .ځکه چی د قرات خلف الامام په باره کي وعید راغلی دی هغه روایتونه کوم چي دقراءت خلف الامام کولو متعلق راغلي دي

(۱)رسول پاك صلي الله علیه وسلم فرمائیلی دی :

(من قرأ خلف الإمام ففي فيه جمرة وقال قد خطأ السنة)
کوم کس چې په امام پسې قرات اووائی.نو دهغه په خولهٔ کي سکروټه واچوئ.اووېي فرمائيل چې ده د سنت نه خلاف اوکړو.
(۲)او د سعد بن ابی وقاص(رضي الله عنه) نه نقل دی
(أنه قال من قرأ خلف الإمام فسدت صلاته).
يعنی کوم کس چې په امام پسې قرات ولوستلو.نو د ده مونځ فاسد شو.
(۳) او د عمربن خطاب (رضي الله عنه) نه نقل دی
(قال ليت في فم الذی يقرأ خلف الإمام حجرا أو غير ذلك)
عمربن خطاب (رضي الله عنه) فرمائی.کوم کس چې په امام پسې قرات وائی. کاش چې دده په خولهٔ کي کاڼړي اچولي شوي وې.

د مقتدی د پاره د جمعې په خطبه کې د خاموشئ حکم

که چرې امام کله قرات کوی.نو مقتدی به غوږ اږدی.اوری به او چپ به وی.اګرچې امام د ترغيب يا ترهيب آيت اووائی، دليله دليل دا دې چې غوږ لګول، اوريدل، اوخاموش پاتې کيدل د نص قرآن: ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ (الاعراف:۲۰۴)نه ثابت دی.اوپه امام پسې روستو قرات کول دجنت سوال کول او د دوزخ نه پناه غوښتل دا ټول څيزونه په استماع او انصات کي خلل پيدا کوی. څکه به په دی کي يو کار هم نه کوی.
پاتې شوه دا خبره چې امام يا منفرد به دجنت سوال يا د دوزخ نه پناه غواړی که نه؟
صاحب د عنايه‌ليکلی دی چې امام به دا کار نه په فرض مونځ کي کوی اونه په نفل کي ،څکه چې دا نه د رسول پاك صلي الله عليه وسلم نه منقول دی.اونه د دوی نه پس د امامانو نه منقول دی.دويم دليل دا دې چې امام به داسی دعاګانې غواړی چې په مقتديانو باندې د تطويل صلاة باعث نشی.څکه چې دا مکروه دی.نوڅکه به هم امام دا کار نه کوی، دغه شان به منفرد هم چې کله فرض مونځ کوی. دا دعاګانې به د فرض مونځ په مينځ کي نه غواړی.څکه چې د رسول پاك صلي الله عليه وسلم نه منقول نه دی.اونه د هغوی نه پس د امامانو نه منقول دی.مګر که نفل کوی. نودجنت سوال کول او د اور نه پناه غوښتل بهتر دی.څکه چې د حذيفه (رضي الله عنه) حديث دې
(صليت مع رسول الله صلي الله عليه وسلم صلاة الليل فما مر بآية فيها ذكر الجنة الا وقف وسأل الله الجنة فما مر بآية فيها ذكر النار الا وقف وتعوذ بالله من النار)
فرمائی چې ما د رسول‌الله سره د شپې مونځ کولو.نو په داسی آيت چې د جنت ذکر به پکې وو.نه به تيريدلو.مګر اودريدلويه او د جنت سوال به ئې کولو.اوپه داسی آيت چې د جهنم

ذکر به پکي وو.په هغی به نه تیریدلو.مگر رسول پاك صلي الله علیه وسلم به اودریدلو.اود جهنم نه به ئې پناهي غوښتله.

دغه شان که خطیب په خطبه کي وی.نو قوم به غوږ ایږدی.اوخطبه به په آرام سره اوری.ځکه چی ابوهریره(رضي الله عنه) نه روایت دې

(أن النبي قال من قال لصاحبه والإمام يخطب أنصت فقد لغا ومن لغا فلا صلاة له) رسول پاك صلي الله علیه وسلم فرمائی چی کوم کس د خطبه په دوران کي خپل ملگری ته اووئیل.چپ شه.نو ده لغو کار اوکړو.اوچا چی لغو کار اوکړو دهغه مونځ نه کیږی.

دغه شان که امام په خطبه کي په رسول پاك صلي الله علیه وسلم باندې درود اووائی.نو بیا به هم قوم چپ وی.او غوږ به ایږدی اوری به. دلیل دا دې چی:

صلاة على النبي صلي الله علیه وسلم فرض نه دې.اود خطبهٔ اوریدل فرض دی.نو د غیر فرض د وجی به فرض نشی پریخودلې.البته که خطیب دخطبي په دوران کي دا آیت :

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا (الاحزاب:۵۶) اولوستلونو ددی آیت اوریدونکی به په زړه کي درود شریف وائی.

حاصل دا دې چی د خطبي په دوران کي درود شریف وئیل ممنوع دی.مگر کله چی خطیب دا آیت اووائی.نوپه دغه وخت کي په زړه کي درود شریف وئیلی شی.دلیل دا دې. چی خطیب دالله تعالی نه حکایت اوکړو چی هغه په رسول پاك صلي الله علیه وسلم باندې درود وائی.اوحکایت ئې اوکړو چی فرشتی هم په هغوی باندې درود وائی.او الله تعالی د درود وئیلو حکم ورکړې دې.حالانکه پخپله د دوی سره مشغول دې.نو په قوم باندې هم واجب دی چی هغه په درود وئیلو کي مشغول شی.دي دپاره چی هغه څیز متحقق شی.د کوم چی د دوی نه مطالبه شوې ده.داحکم په هغه وخت کي دې.کله چی دی منبر سره نزدی وی.

اوکه یو کس دمنبر نه لري وی.نو د هغه په حق کي اختلاف دې.یعنی که د منبر نه دومره لري وی چی خطبه نشی اوریدې.نو په داسی صورت کي د قرآن قرات غوره دې.که چپ وایي په دی باره کي د محمد بن سلمه نه روایت دې چی چپ اوسیدل غوره دی.هم دا قول امام کرخی اختیار کړې دې. دلیل دا دې چی د قرآن پاك قرات اوریدل اوچپ اوسیدل دوه فرض دی.نو که دلري والی د وجی اوریدل ممکن نه وی.نو دویم فرض چی چپ اوسیدل دی ممکن وي نو دا به قائم ساتی.

(۲) امام فضلی فرمائی چی قرات د قرآن غوره دې.دلیل ددي دا دې چی د چپ اوسیدو حکم په دی وجه وو چی د قرآن په اوریدو کي تدبر اوکړی.اوچی اوریدل تري فوت شو.نو د قران قرات دی کوی چی د قرآن لوستلو ثواب حاصل کړی.

تفسير مظهري د ايت كريمه "فاقرؤوا ما تيسر من القران" په تفسير کې د قراءة خلف الامام مسئله داسې واضح کړې ده:

مسئله: په مقتدي قراءت دفاتحې واجب دي اوکه نه ؟ دامام شافعي په نزد دمنفرد او دامام پشان په مقتدي باندې هم دفاتحې قرائت واجب دي ، عمرفاروق، عثمان بن عفان ، علي ، ابن عباس او معاذ رضي الله عنهم نه هم ددې پشان روايات مروي دي ، امام مالك ، امام ابو حنيفه او امام احمد په نزد واجب نه دي دامام ابو حنيفه په نزد خو دمقتدي دپاره دفاتحې قرائت مطلقا مکروه دي او امام مالك يې په جهري مونځونو کې مکروه ګڼړي دامام احمد قول دادې چې په سري مونځونو کې دمقتدي دپاره دفاتحې قرائت مستحب دي او په جهري مونځونو کې هم په هغه وخت کې مستحب دي کله چې امام په کوم ايت سکته کوي، دامام دقرائت په حالت کې مکروه دي، زهري دامام مالك او ابن مبارك نه هم دا قول نقل کړې دي او دا دعبدالله بن عمر او عروه بن زبير او ابو القاسم بن محمد نه هم مروي دي.

دامام دقرائت په وخت کې دمقتدي نه دفاتحې دقرائت په سقوط دا حديث دلالت کوي دجابر رضي الله عنه نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دچا دپاره چې امام وي نو دامام قرائت دده قرائت دي يعني دده دپاره کافي دي (رواه احمد والدارقطني عن جابر الجعفي) دارقطني ددې حديث تضعيف کړې دي.

دابن جوزي بيان دې چې ثوري او شعبه دده تضعيف کړې دي دارقطني دا حديث په يو بل سند چې مدار يې په ليث دي هم نقل کړې دي ليکن ابن عيينه دليث تضعيف کړې دي، امام احمد مذکوره حديث ديحيي بن سلام په سند سره پدې الفاظو نقل کړې دي په کوم مونځ کې چې ام القران اونه لوستلې شي هغه ناتمام دي مګر چې په امام پسې وي دارقطني يحيي ضعيف ګڼړلې دي دابن جوزي قول دي ما هيڅوك داسې نه دي ليدلې چې يحيي يې ضعيف ګڼړلې دي، د دارقطني ، بيهقي او ابن عدي قول دي چې صحيح خبره داده چې دا حديث مرسل دي ځکه چې دحديث حافظانو لکه سفيان بن عيينه، سفيان ثوري، ابو الاحوص ، شعبه اسرائيل ، شريف، جرير، عبدالحميد ، او زهير دا روايت دموسي بن ابي عائشه نه په سند د عبدالله بن شداد سره رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل کړې دي، مونږ وايو مرسل هم زمونږ په نزد حجت دي او ابن جوزي خو ددې داتصال دتضعيف نه هم انکار کړې دي ليکن امام ابو حنيفه په هغه سند سره بيان کړې دي کوم چې دشيخينو دشرط مطابق صحيح دي اوګورئ امام محمد په مؤطا کې ليکلې دي،

حدثنا ابو حنيفة ثنا ابو الحسن موسى بن ابي عائشة عن عبد الله بن شداد عن جابر عن النبي صلى الله عليه وسلم.

" ورواه احمد ابن منيع فى مسنده بسند صحيح على شرط مسلم قال انا اسحق الأرزق ثنا سفيان وشريك عن موسى ابن ابى عائشة عن عبد الله بن شداد عن جابر "

ددي مبحث په سلسله کښې بعضې نور احاديث هم مروي دي مګر ضعيف دي دطوالت دلاړميدو په وجه يې مونږ ترک کوو.

شبهه: دايت کريمه "فاقرؤا ماتيسر من القران" حکم دهر مونځ کونکي دپاره عام دي ، هر کله چې داسې وي نو دامام ابو حنيفه دضابطې موافق په اخبار احادو سره ددې حکم تخصيص نشي کيدې.

جواب: دا ايت اجماعا عام مخصوص البعض دي يعنې هغه کس څوک چې امام لره په رکوع کښې بيامومې دده حکم بالاجماع ددينه جدا دي بيا ددينه دمقتدي تخصيص هم جائز دي.

په سري مونځ کښې دفاتحې دمستحب کيدو دليل عباده بن الصامت مروي حديث دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې قرائت په جهر سره کيږي نو په تاسو کښې دي هيڅوک دقران کومه حصه نه لولي مګر علاوه دام القران نه.

دارقطني ددي حديث دنقل کولو نه پس ليکلي دي چې ددي روايت تمام راويان ثقات دي پدي روايت کښې په جهري مونځ کښې دمقتدي دپاره دقرائت نه ممانعت راغلي دي دجهري مونځ خصوصيت دا تقاضا کوي چې په سري مونځ کښې دي قرائت دفاتحې مستحب وي او بيا دام القران استثني دا تقاضا کوي چې ددي قرائت دي دامام په مختلفو سکتاتو کښې اوکړې شي ددې دپاره چې په تمامو احاديثو عمل راشي او په ايت کريمه

"وإذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا وقوله صلى الله عليه وسلم إذا قرئ فانصتوا"

رسول الله صلي الله عليه وسلم هم فرمائيلي دي اذا قرء فانصتوا يعني کله چې قرائت کيږي نو په خاموشۍ سره ورته متوجه شئ دا حديث ابو داود هم دابو هريره رضي الله عنه په روايت سره او نسائي او ابن ماجه هم بيان کړې دي.

مسئله: ايا دفرضو او دنفلو په هر رکعات کښې قرائت واجب دي؟ امام شافعي امام احمد او مالك په نزد دمونځ په هر رکعات کښې علي الاطلاق واجب دي څکه چې درکوع او دسجدې دحکم په شان حکم دقرائت هم دي صرف دامام مالك نه په يو روايت کښې يو قول راغلي دي که چرې دڅلور رکعاتي يا دري رکعاتي دفرضي مونځ په يو رکعات کښې قرائت ترک کړې شي نو سجده سهو طرف ته به دا عمل راخکلي شي يعني واجب به وي ، امام ابو حنيفه د وترو او نفلو په هر رکعات کښې دقرائت دوجوب قائل دي ددي وجه داده چې دنفلو هر دوه رکعاتونه مستقل مونځ دي مګر په فرضو کښې صرف په دوه رکعاتي مونځ کښې قرائت واجب دي، دقياس تقاضا خو دا وه چې صرف په يو رکعات کښې دي قرائت واجب شوي وي څکه چې امر دتکرار تقاضا نه

کوي ليکن کله چي مونږ دقرائت او دمقدار دقرائت قائل يو نو ددي سره به اخري رکعات پدي حکم کې شريك نه وي، دامام ابو حنيفه ددي قول مدار پدي خبره دي چي کله ايت کريمه فاقرؤا ما تيسر من القران دپنځه وختني مونځونو متعلق اوګرځولي شي مګر دا خبره دمنلو لايق نه ده.

دجمهورو دقول دليل مختلف احاديث دي مثلا دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چي يو کس مسجد ته داخل شو او مونځ يي اوکړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم په ممبر باندي تشريف فرما وو دغه کس دمونځ کولو نه پس درسول الله په خدمت کې حاضر شو او سلام يي اوکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم دسلام دجواب ورکولو نه پس اوفرمائيل ورشه او مونځ دي اوکړه ځکه چي تا مونځ نه دي کړي پدي شان سره دي دري پيري لاړو او راغلو په اخر کې يي عرض اوکړو زما دي په هغه ذات قسم وي چاچه ته په حق سره راليږلي يي زه ددينه زيات ښه مونځ نشم کولي ماته يي اوښايه نو ويي فرمائيل کله چي په مونځ اودريږي نو الله اکبر وايه بيا چي څومره قران په سهولت سره لوستلي شي هغه وايه بيا رکوع کوه کله چي په اطمينان سره رکوع اوکړئ نو دسر پورته کولو نه پس به نيغ اودريږي او بيا به سجده اوکړي چي په اطمينان سره دي سجده اوکړه نو سر به پورته کړي او برابر به کيني بيا به ټول مونځ په همدي طريقه پوره کړي (متفق عليه).

ددي هم معني روايت رفاعه قرظي هم بيان کړي دي کوم چي امام احمد، ابوداود، ترمذي او نسائي نقل کړي دي.

ابو قتاده په حديث کې راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دماسپخين او ماز يګر په اولنو دوه رکعاتونو کې سورة فاتحه او دوه سورتونه لوستلي وو او په اخري دوه رکعاتونو کې يي صرف سورة فاتحه لوستلي وه او دسحر او ماسپخين په اولني رکعات کې يي د دويم په نسبت اوږدوالي کړي وو (بخاري ومسلم).

دابو الدردا رضي الله عنه نه روايت دي يو کس عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا په هر مونځ کې قران لوستل ضروري دي؟ نو ويي فرمائيل هو ددي په اوريدو سره يو انصاري اووئيل دا واجب شو، که چري دا شبهه اوکړي شي چي دا تمام احاديث احاد دي او په خبر واحد سره په قران زيادت جائز نه دي نو مونږ به دا جواب ورکوو چي داصول فقه ددي ضابطي دمنلو نه پس دا وئيلي کيدي شي چي دا حکم په هغه وخت کې دي کله چي دقران دلالت قطعي وي او ايت فاقرؤا خو دمختلفو تاويلاتو احتمال لري او دکوم قرائت چي دمونځ دپاره حکم شوي دي هغه مجمل دي احاد احاديث دهغي دپاره بيان ګرځيدي شي، والله اعلم.

****

١٢٢_ بَاب مَا جَاءَ مَا يَقُولُ عِنْدَ دُخُولِ الْمَسْجِدِ

٣١٤_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّهِ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْحُسَيْنِ، عَنْ جَدَّتِهَا فَاطِمَةَ الْكُبْرَى، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ وَقَالَ: "رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ" وَإِذَا خَرَجَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ فَضْلِكَ"[1]

ترجمه : فاطمه بنت حسين د خپلي نيا فاطمه بنت رسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله مسجد ته داخل شو نو په محمد صلي الله عليه وسلم به يي درود وئيلو او بيا به يي دا دعا وئيله" رب اغفر لي ذنوبي وافتح لي ابواب رحمتك" يعني اي الله ماته مغفرت وکړي اود خپل رحمت دروازي راته پرانيزي ، او کله چي به د مسجد نه وتلو نو په محمد صلي الله عليه وسلم به يي سلام وئيلو او بيا به يي دا دعا وئيله" رب اغفر لي ذنوبي وافتح لي ابواب رحمتك. يعني اي الله ماته مغفرت وکړي اود خپل رحمت دروازي راته پرانيزي

****

٣١٥_ وقَالَ عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ: قَالَ إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: فَلَقِيتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الْحَسَنِ بِمَكَّةَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَحَدَّثَنِي بِهِ، قَالَ: كَانَ إِذَا دَخَلَ، قَالَ: "رَبِّ افْتَحْ لِي بَابَ رَحْمَتِكَ" وَإِذَا خَرَجَ، قَالَ: "رَبِّ افْتَحْ لِي بَابَ فَضْلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ، وَأَبِي أُسَيْدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ فَاطِمَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ الْحُسَيْنِ لَمْ تُدْرِكْ فَاطِمَةَ الْكُبْرَى، إِنَّمَا عَاشَتْ فَاطِمَةُ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْهُرًا.[2]

ترجمه : داسماعيل بن ابراهيم بيان چي زه په مکه کي د عبد الله بن حسن سره ملاو شوم او ددي حديث باره کي مي ورنه پوښتنه وکړله نو هغه راته بيان کړو او ويي فرمائيل: کله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم مسجد ته داخل شو نو بيا به يي دا دعا وئيله" رب اغفر لي ذنوبي وافتح لي ابواب رحمتك" يعني اي الله ماته مغفرت وکړي اود خپل رحمت دروازي راته پرانيزي.

---

[1] _ سنن ابن ماجه في المساجد ١٣ (٧٧١) . (تحفة الأشراف : ١٨٠٢١)

[2] _ سنن ابن ماجه في المساجد ١٣ (٧٧١) . (تحفة الأشراف : ١٨٠٢١)

امام ترمذي وايي چي د فاطمه رضي الله عنها حديث د شواهدو په بنا د حسن درجي دي . کنه نو سند يي متصل نه دی، ځکه چي فاطمه بنت حسين د فاطمه کبري نه سماع نه ده کړي هغه خو د رسول الله نه يو څو مياشتي پس وفات شوي وه، او په دي باب کي د ابو حميد، ابو اسيد، او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

د فاطمه بنت محمد (صلي الله عليه وسلم) فضائل او حالات

دابو موسي رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کامل سړي خو ډير دي مگر کاملي ښځي دري دي علاوه داسيه چي دفرعون ښځه وه او دمريم بنت عمران نه نور څوك نشته او دعائشي فضيلت په نورو ښځو داسي دي لکه دثريد فضيلت چي په نورو طعامونو دي (رواه احمد والبخاري ومسلم والترمذي وابن ماجه).

ثعلبي او ابو نعيم په روايت کي مذکوره حديث په لاندي الفاظو راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کامل سړي خو زيات دي مگر کاملي ښځي صرف څلور دي اسيه بنت مزاحم زوجه فرعون، مريم بنت عمران خديجه بنت خويلد او فاطمه بنت محمد (صلي الله عليه وسلم) او دعائشي فضيلت په نورو ښځو داسي دي لکه دثريد فضيلت چي په نورو خوراکونو دي.

دکامل کيدو نه مراد غالبا کمالاتو دنبوت ته رسيدل دي، دبخاري او مسلم په روايت کي گويا کي دمخکنو قومونو خبر ورکړي شوي دي ځکه چي په هغوئ کي کامل سړي يعني انبياء په کثرت سره راغلي وو او کمالاتو دنبوت ته رسيدونکي په تيرو امتونو کي صرف اسيه او مريم وه.

دانس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسوالله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دټولي دنيا دښځو نه مريم بنت عمران خديجه بنت خويلد او فاطمه بنت محمد (صلي الله عليه وسلم) او اسيه بنت مزاحم ستاسو دپاره کافي دي (يعني صرف دا څلور ښځي کاملي دي).

دعلي رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يي چي پخپله مي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي وو چي دتيرو قومونو په ښځو کي مريم بنت عمران دټولو نه بهتره وه او زمونږ په زنانوو کي دټولو نه بهتره خديجه بنت خويلد ده (متفق عليه).

دام سلمه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دفتح مکي په کال فاطمه رضي الله عنها راوغوښتله او په غوږ کي يي ورته څه اوويل فاطمي چي واوريدل نو په ژړا شوه خوبيا ورته رسول الله کومه بله خبره هم وکړه چي دهغي په اوريدو سره يي اوخاندل مگر کله چي رسول الله وفات شو نوماد فاطمي نه ددي دژړا او بيا دخاندلو دسبب تپوس اوکړو نو ويي فرمائيل رسول الله اول ماته دا فرمائيلي وو ډيره نزدي ده چي زه به وفات شم ماچه دا

واوريدل نو اومي ژړل خوبيايي چي اوفرمائيل علاوه د مريم بنت عمران نه ته به دتمامو جنتي ښځو سرداره يې پس دا چي مي واوريدل نو اومي خاندل «رواه الترمذي».

****

١٢٣ـ بَاب مَا جَاءَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ

كله چي پتاسو كي څوك مسجد ته داخل شي دوه ركعاته تحية المسجد مونځ دي وكړي

٣١٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، نَحْوَ رِوَايَةِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَرَوَى سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهَذَا حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَالصَّحِيحُ حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَصْحَابِنَا، اسْتَحَبُّوا إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ الْمَسْجِدَ أَنْ لَا يَجْلِسَ حَتَّى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ لَهُ عُذْرٌ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: وَحَدِيثُ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ خَطَأٌ، أَخْبَرَنِي بِذَلِكَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمَدِينِيِّ.[1]

ترجمه : دابوقتاده رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي څوك مسجد ته راشي نو دكيناستو نه دي مخكي دوه ركعاتونه اوكړي.

امام ترمذي وائي دابوقتاده حديث حسن صحيح دي، محمد بن عجلان، او بعضي نورو خلقو دعامر بن عبدالله بن زبير نه هم دا حديث دانس بن مالك دروايت پشان نقل كړي دي ، او سهيل بن ابي صالح دا حديث په سند دعامر بن عبدالله بن زبير عن عمرو بن سليم الزرقي عن جابر بن عبدالله عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، دا حديث غير محفوظ دي

---

[1] ـ صحيح البخارى في الصلاة ٦٠ (٤٤٤) . والتهجد ٢٥ (١١٦٣) . صحيح مسلم في المسافرين ١١ (٧١٤) . سنن ابى داود في الصلاة ١٩ (٤٦٧) . سنن النسائى في المساجد ٣٧ (٧٣١) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٧ (١٠١٣) . (تحفة الأشراف : ١٢١٢٣) . موطا امام مالك في السفر ١٨ (٥٧) . مسند احمد (٥ في ٢٩٥، ٢٩٦، ٣٠٣)

او دابوقتاده حديث صحيح دي، په دي باب کي دجابر، ابوامامه، ابوهريره، ابوذر، کعب بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او زمونږ دعلماؤ په همدي باندي عمل دي هغوئ مستحب ګڼرلي دي چي کله څوك مسجد ته داخل شي چي څو پوري يي دوه رکعاتونه کړي نه وي ترهغي پوري دي نه کيني مګر دا چي که دچا عذر وي (نو څه حرج نشته) علي بن مديني وائي دسهيل بن ابي صالح نه په دي حديث کي غلطي شوي ده.

لغات يصل: داد مضارع صيغه ده معني مونځ وکړي اوپه معني ددعا کولو هم راځي. صفت يي مصلي دي، دصلات مشهوري څلور معني دي مونځ، دعا، رحمت، استغفار.

يجلس: جلس جلوسا ومجلسا معني کيناستل صفت يي جالس او جلوس او جلاس راځي اود باب افعال نه اجلس په معني دکينولو دي.

تشريح: دجمهورو علماؤ په نزد تحية المسجد مونځ مستحب دي او داهل ظواهر په نزد واجب دي دجمهورو دليل دمصنف ابن ابي شيبه والادزيد بن اسلم روايت دي او داهل ظواهرو مستدل حديث الباب دي.

امام نووي وايي: دتحية المسجد مونځ فضيلت اوددی ترغيب او داچه جومات کي دوه رکعته مونځ کولو نه مخکي کيناستل مکروه دي يو شرعي حکم دی، هر وخت چي وي دا دوه رکعته که دتحية المسجد په نيت نفل اوکړي که فرض مونځ وي که سنت موکد يا سنن زوايد او نفل وغيره وي. (رياض الصالحين)

عن أَبِي قَتَادَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: ((إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ، فَلاَ يَجْلِسْ حَتَّى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ)) متفقٌ عَلَيْهِ.

أخرجه: البخاري كتاب الصلاة باب اذا دخل المسجد فليركع ركعتين ومسلم كتاب صلاة المسافرين باب استحباب تحية المسجد بركعتين ومالك في الموطأ واحمد والترمذي والنسائي وابن ماجه وابن حبان والبيهقي.

دابوقتاده رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو کي چي څوك جومات ته لاړ شي نو څو پوری چي يی دوه رکعته نه وي کړي نه دی کيني.

کله چي څوك مسجد ته راشي نو پکار ده چي دوه رکعته تحية المسجد مونځ وکړي دجمهورو علماؤ په نزد دا دوه رکعاته مونځ مستحب دی او د داود ظاهري په نزد واجب دی، که څوك مسجد ته راشي او کيني نو داحنافو په نزد بيا هم دا مونځ کولی شي ليکن دامام شافعي په نزد په کيناستو سره ددي مونځ وخت فوت کيږي.

رسول الله دتحية مسجد مونځ کولو حکم کړي دي

عن جابرٍ ﷺ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: ((صَلِّ رَكْعَتَيْنِ)) متفقٌ عَلَيْهِ.
جابر رضي الله عنه نه روايت دى چي زه د رسول الله صلي الله عليه وسلم ملاقات ته ورغلم او هغوئ جومات كې وو، نو راته يې اوفرمائيل دوه ركعته مونځ اوكړه بيا به خبرى كوو
مطلب دادى چه كله سړى دالله په دربار كې حاضر شي نو اول دې دوه ركعاته مونځ اوكړي كوم ته چي تحية المسجد وئيلى شي ليكن كه وخت داسې وي چي مونځ پكې نشي كيدى مثلا جمع ولاړه وي يا دا وخت دمونځ كولو نه وي مكروه وخت وي نو په دې صورت كې دې يوځل سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر واي (روضة الصالحين، دليل الفالحين)
أخرجه: البخاري كتاب الصلاة باب اذا دخل المسجد فليركع ركعتين ومسلم كتاب صلاة المسافرين باب استحباب تحية المسجد بركعتين واحمد وابوداود والنسائي والنووي في رياض الصالحين).

****

١٢٤_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الأَرْضَ كُلَّهَا مَسْجِدٌ إِلاَّ الْمَقْبَرَةَ وَالْحَمَّامَ

د مسجد او مقبرې نه علاوه د ځمکې هر يو ځاى كې مونځ كيږي

٣١٧_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ وَأَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلَّا الْمَقْبَرَةَ وَالْحَمَّامَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَحُذَيْفَةَ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَأَبِي ذَرٍّ، قَالُوا: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "جُعِلَتْ لِيَ الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ قَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مُحَمَّدٍ رِوَايَتَيْنِ، مِنْهُمْ مَنْ ذَكَرَهُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يَذْكُرْهُ، وَهَذَا حَدِيثٌ فِيهِ اضْطِرَابٌ. رَوَى سفيان الثوري، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: وَكَانَ عَامَّةُ رِوَايَتِهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَأَنَّ رِوَايَةَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَثْبَتُ وَأَصَحُّ مُرْسَلًا. (1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقبرستان او حمام (غسل خانه) نه علاوه دزمكي هر يو ځاي دمسجد كيدو قابل دي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي د عبدالله بن عمرو، ابوهريره، جابر، ابن عباس، حذيفه، انس، ابو امامه، او ابوذر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دوئ وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تمامه زمكه زما دپاره سجده ګاه او دطهارت او دپاكوالي ذريعه ګرځولي شوي ده، دابوسعيد رضي الله عنه حديث دعبدالعزيز بن محمد نه په دوه سندونو مروي دي بعضي علماؤ دابوسعيد واسطه ذكر كړي ده او بعضو نه ده ذكر كړي پس په دي حديث كي اضطراب دي سفيان ثوري په دي سند نقل كړي دي عمرو بن يحيي عن ابيه عن النبي صلي الله عليه وسلم، يعني مرسل يي نقل كړي دي او حماد بن سلمه دا حديث په سند د عمرو بن يحي عن ابيه عن ابي سعيد عن النبي صلي الله عليه وسلم سره مرفوعا نقل كړي دي او محمد بن اسحاق هم دا حديث په سند دعمرو بن يحي عن ابيه سره نقل كړي دي دمحمد بن اسحاق قول دي چي ديحي اكثر احاديث دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دابوسعيد خدري په واسطه مروي دي ليكن په دوئ كي هغه دابوسعيد واسطه نه ده ذكر كړي ګويا دسفيان ثوري روايت زيات ثابت او زيات صحيح دي.

تشريح : د مسجد د ادابو متعلق تفسير مظهري په سورة الجن كي لاندېني احاديث راجمع كړي دي:

تشريح: دقتاده قول دي چي يهوديان او عيسايان به عبادت خانو ته تلل او دالله تعالي سره به يي په عبادت كي نور شريكان شريكول ، دمساجد نه مراد هغه تمام مساجد دي دكومو دپاك ساتلو چي الله تعالي حكم كړي دي او فرمائيلي يي دي "طهرا بيتي للطائفين" رسول الله صلي الله عليه وسلم هم فرمائيلي دي چي ماشومان، او ليوني، او دالله تعالي فرضي شريكان ،خريد اوفروخت، او پخپل مينځ كي جنګ جګړي، او چغي او شور، او حدود او رجم، او برينډي توري، زمونږ دمساجدونه جدا اوساتي ، دمسجد په دروازو كي لوټي اوساتئ او

---

1 - سنن ابي داود في الصلاة ۲۴ (۴۹۲). سنن ابن ماجه في المساجد ۴ (۷۴۵). (تحفة الأشراف: ۴۴۰۶). مسند احمد (۳ في ۹۶،۸)

دجمعي په ورځ مسجدونه خوشبوداره کوئ دا حديث ابن ماجه دواصله په روايت مرفوعا نقل کړي دي.

ابو داود او ترمذي دعمرو بن شعيب په سند سره دهغه دنيکه بيان نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مسجدونو کې دتيز اواز کولو او شعرونو ويلو او خريد او فروخت کولو او دجمعي په ورځ دمونځ نه مخکې دحلقي په شکل کې دکيناستلو نه ممانعت فرمائيلي دي.

دا هم ارشاد نبوي دي چي په مسجد کې توکل گناه ده او ددي کفاره داده چي په خاورو کې دفن کړي شي (بخاري اومسلم).

دانس رضي الله عنه نه دا ارشاد نبوي مروي دي چي ماته به زما دامت نيك کارونه پيش کړي شي تردي چي که چا دمسجد نه کوړه ويستلي وي نو بهر به يي اوغورځوي.

ابو داود او ترمذي دا هم وئيلي دي که څوك دچا نه دخپلي ورکي شوي اوښي دپاره په مسجد کې اعلان کول واوري نو داسي دي اووائي چي الله تعالي دي تاته دا راواپس نکړي.

ددي وجه داده چي مسجدونه ددي کار دپاره نه دي جوړ کړي شوي (مسلم عن ابي هريره)

ليکن ترمذي او دارمي دا حديث ددومره اضافي سره نقل کړي دي که چري تاسو چالره په مسجد کې په خريد او فروخت اووينئ نو داسې ورته اووائي چي الله تعالي دي تاته پدي کې نفع درنکړي.

دحسن بصري قول دي دالمساجد نه مراد تمام مقامات دي ځکه چي ددي امت دپاره تمامه زمکه مسجد گرځولي شوي ده مطلب دادي چي په هيڅ ځاي کې به هيچا لره دالله تعالي سره شريك نه گرځوئ او دالله تعالي په موجودگئ کې به دبل چانه غوښتل نه کوئ.

ابن ابي حاتم دابو صالح نه په سند سره دابن عباس قول نقل کړي دي چي جناتو عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا مونږ ته اجازت دي چي ستا سره پدي مسجدونو کې دمونځ کولو دپاره تلل راتلل اوکړو نو پدي باره کې ايت کريمه : ان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدا (النور:١٨) نازل شو

ابن جرير دجبير قول نقل کړي دي چي جناتو نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چي مونږ به مسجد ته څنگه راځو ؟ او که دا عرض يي اوکړو چي مونږ به مونځ ته څنگه حاضريږو؟ ځکه چي مونږ ستا نه ډير لري يو نو پدي باره کې مذکوره ايت نازل شو.

****

١٢٥ــ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ بُنْيَانِ الْمَسْجِدِ

دمسجد جوړولو دفضيلت بيان

٣١٨_ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ بَنَى لِلَّهِ مَسْجِدًا بَنَى اللَّهُ لَهُ مِثْلَهُ فِي الْجَنَّةِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، وَأُمِّ حَبِيبَةَ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَعَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ، وَوَاثِلَةَ بْنِ الأَسْقَعِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُثْمَانَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمَحْمُودُ بْنُ لَبِيدٍ قَدْ أَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ قَدْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمَا غُلاَمَانِ صَغِيرَانِ مَدَنِيَّانِ. ([1])

ترجمه : دعثمان بن عفان رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي چاچه دالله درضا دپاره مسجد جوړ کړو الله تعالي به دده دپاره دده دجوړ کړي مسجد پشان کور جوړ کړي.

امام ترمذي وائي دعثمان رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابوبکر، عمر، علي، عبدالله بن عمرو، ابن عباس، عائشه، ام حبيبه ، ابوذر، عمروبن عبسه، واثله بن اسقع، ابوهريره او جابر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : د مسجد فضائل:

سعيد بن جبير د ايت کريمه : ان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدا" په تفسير کي دابن عباس قول نقل کړي دي چي مسجدونه په زمکه کې دالله تعالي کورونه دي او دا اسماني مخلوق ته داسي پرقيدونکي ښکاري لکه چي زمکي والا ته ستوري پرقيدونکي ښکاري دمسجدونو دلوړولو نه مراد دمسجدونو جوړول دي (مجاهد).

په مذکوره ايت کي په "ان ترفع" کي رفع په معني دتعمير ده.

اوپه ايت کريمه " وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ" کې هم راغلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چي دالله تعالي دپاره مسجد جوړ کړي نو الله تعالي به دده دپاره په جنت کې کور جوړ کړي(متفق عليه من حديث عثمان).

---

[1] _ صحيح مسلم في المساجد ۴ (۵۳۳) ، والزهد ۳ (۴۴ في ۵۳۳) ، سنن ابن ماجه في المساجد ۱ (۷۳۶) . (تحفة الأشراف : ۹۸۳۷) ، مسند احمد (۱ في ۶۰ ، ۷۰)

دحسن قول دي چي د "فِيْ بُيُوْتٍ أَذِنَ اللهُ أَنْ تُرْفَعَ" مطلب دادي چي الله تعلي حكم كړي دي چي دده دكور تعظيم دي وكړي شي يعني پدي كې دي بي فائدي او بدي خبري څوك نه كوي او په ايت كريمه ان طهرا بيتي كې همدا مضمون مراد دي بغوي دصالح بن حبان په روايت سره دبريده قول نقل كړي دي چي ددينه مراد صرف څلورمسجدونه دي كوم چي انبياؤ جوړ كړي وو كعبه ابراهيم عليه السلام جوړه كړي وه او بيت المقدس داود او سليمان عليه السلام مسجد نبوي أو مسجد قبا رسول الله صلي الله عليه وسلم جوړ كړي وو دكوم اولني بنيادونه چي په تقوي باندي ايخودلي شوي وو .

پس دا مسجدونه لوي فضيلت لري ليكن په خصوصيت سره ددوئ دمراد كولو دپاره څه دليل نشته د في بيوت تعلق دتير شوي عبارت سره دي يعني دالله تعالي دنور مثال داسي دي لكه دالله تعالي په كورونو كې دمشكات رڼا، نو پدي وجه زيات مناسب دا وي چي في بيوت لره يهدي الله لنوره من يشاء سره وتړلي شي او اكثر هدايت په مسجدونو كې اعتكاف كونكو او مونځ كونكو ته حاصليږي دالله رسول فرمائيلي دي مونځ دمومن معراج دي او دا يي هم فرمائيلي دي چي بنده الله تعالي ته ډير نزدي دسجدي په حالت كې وي لهذا تاسو په سجدو كې دعاګاني ډيري غواړئ (رواه مسلم وابو داود والنسائي عن ابي هريرة) دا هم ممكن دي چي د في بيوت تعلق ديو محذوف سره وي يعني دالله په كورونو كې دالله پاكي بيان كړئ (مفسر تفسير مظهري)

****

٣١٩ـ وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ بَنَى لِلَّهِ مَسْجِدًا صَغِيرًا كَانَ أَوْ كَبِيرًا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الجَنَّةِ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَوْلَى قَيْسٍ، عَنْ زِيَادٍ النُّمَيْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دالله درضا دپاره كوم مسجد جوړ كړي وړوكي وي او كه لوي وي الله تعالي به دده دپاره په جنت كې كور جوړوي.

امام ترمذي وائي قتيبه هم پخپل سند د انس رضي الله عنه په واسطه د رسول الله نه د ماقبل هم معني روايت نقل كړی دی.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٣٩)

****

١٢٦_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ أَنْ يَتَّخِذَ عَلَى الْقَبْرِ مَسْجِدًا

په قبرونو دمسجد جوړولو د كراهت بيان

٣٢٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَاتِ الْقُبُورِ وَالْمُتَّخِذِينَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ " قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو صَالِحٍ هَذَا هُوَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ وَاسْمُهُ: بَاذَانُ، وَيُقَالُ بَاذَامُ أَيْضًا. (١)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم قبرونو ته په تلونكو ښځو او په قبرونو دمسجد جوړونكو خلقو او په قبرونو دشمعي بلونكو خلقو باندي لعنت كړي دي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوهريرة او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

١٢٧_ باب مَا جَاءَ فِي النَّوْمِ فِي الْمَسْجِدِ

په مسجد كي داوده كيدو بيان

٣٢١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كُنَّا نَنَامُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَنَحْنُ شَبَابٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَخَّصَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي النَّوْمِ فِي الْمَسْجِدِ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَا يَتَّخِذُهُ مَبِيتًا وَلَا مَقِيلًا، وَقَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ ذَهَبُوا إِلَى قَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (٢)

---

[1] _ سنن ابي داود في الجنائز ٨٢ (٣٢٣٦) . سنن النسائي في الجنائز ١٠٣ (٢٠٤٥) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٤٩ (١٥٧٥) . (تحفة الأشراف : ٥٣٧) . مسند احمد (١/ ٢٢٩، ٢٨٧، ٣٢٤، ٣٣٧)

[2] _ تفرد به المؤلف، وانظر سنن ابن ماجه في المساجد ٦ (٧٥١) . (تحفة الأشراف : ٦٩٦٠) . و مسند احمد (١ في ١٢)

ترجمه : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي چي مونږ به درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي په مسجد کي اوده کيدو او مونږ نوجوان هلکان وو.

امام ترمذي وائي دابن عمر رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دي او داهل علمو يو جماعت په مسجد کي داوده کيدو اجازت ورکړي دي، دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي هيڅوک دي مسجد لره دقيلولي او دشپي تيرولو ځاي نه ګرځوي او بعضي اهل علمو دابن عباس په روايت قول کړي دي.

تشريح : داهل علمو په دي کي اختلاف دي چي په مسجد کي دخوب څه حکم دي

(۱) دجمهور اهل علمو په نزد مکروه دي البته مسافر، معتکف، او دچاچه کور نه وي هغوئ ددي حکم نه مستثني دي.

(۲) مګر امام شافعي په نزد نوم في المسجد مطلقا جائز دي او دزير بحث باب دروايت نه يي استدلال کړي دي چي ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي چي مونږ به درسول الله په زمانه کي په مسجد کي اوده کيدو ليکن دجمهورو علماؤ په نزد دا قسم تمام روايات په حالت داعتکاف يا په حالت د سفر محمول دي.

****

۱۲۸_بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَإِنْشَادِ الضَّالَّةِ وَالشِّعْرِ فِي الْمَسْجِدِ

په مسجد کي داخستلو خرڅولو او دورک شيز دموندلو دپاره داعلان کولو او دشعرونو لوستلو دکراهت بيان

۳۲۲_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ: "نَهَى عَنْ تَنَاشُدِ الأَشْعَارِ فِي الْمَسْجِدِ، وَعَنِ الْبَيْعِ وَالاِشْتِرَاءِ فِيهِ، وَأَنْ يَتَحَلَّقَ النَّاسُ فِيهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ بُرَيْدَةَ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَعَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ هُوَ: ابْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ: رَأَيْتُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَذَكَرَ غَيْرَهُمَا يَحْتَجُّونَ بِحَدِيثِ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَقَدْ سَمِعَ شُعَيْبُ بْنُ مُحَمَّدٍ مِنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَمَنْ تَكَلَّمَ فِي حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ إِنَّمَا ضَعَّفَهُ، لِأَنَّهُ يُحَدِّثُ عَنْ صَحِيفَةِ جَدِّهِ كَأَنَّهُمْ رَأَوْا أَنَّهُ لَمْ يَسْمَعْ هَذِهِ الأَحَادِيثَ مِنْ جَدِّهِ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: وَذَكَرَ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّهُ قَالَ: حَدِيثُ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عِنْدَنَا وَاهٍ، وَقَدْ كَرِهَ

قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ فِي الْمَسْجِدِ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ رُخْصَةٌ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ فِي الْمَسْجِدِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَيْرِ حَدِيثٍ رُخْصَةٌ فِي إِنْشَادِ الشِّعْرِ فِي الْمَسْجِدِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مسجد کي داشعار لوستلو او اخستلو خرڅولو او دجمعي په ورځ دمونځ نه مخکي دحلقي په شکل کي دکيناستلو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دعبدالله بن عمرو بن العاص حديث حسن دي دعمرو پلار شعيب دمحمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص ځوي دي، دامام بخاري قول دي چي ما امام احمد او اسحاق بن راهوي ليدلي دي چي هغوئ به دعمرو بن شعيب دحديث نه استدلال کولو دامام بخاري قول دي چي شعيب بن محمد دخپل نيکه عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه اوريدل کړي دي(يعني سماع يي ورنه ثابته ده)، چاچه دعمرو بن شعيب په حديث کلام کړي دي هغوئ صرف په دي وجه ضعيف ګرځولي دي چي هغه به دخپل نيکه (عبدالله بن عمرو بن العاص) دصحيفي نه روايت کولو ګويا کي ددوئ خيال دادي چي دا احاديث هغه دخپل نيکه نه نه دي اوريدلي. علي بن عبدالله مديني وائي ديحي بن سعيد القطان نه منقول دي چي دعمرو بن شعيب حديث زمونږ په نزد ضعيف دي ، او په دي باب کي دبريده، جابر، انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي بعضي اهل علمو په مسجد کي اخستل خرڅول مکروه ګنړلي دي او همدا دامام احمد او اسحاق قول دي، او په تابعينو کي بعضي اهل علمو په مسجد کي داخستلو او خرڅولو اجازت ورکړي دي او همدارنګي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په مسجد کي دشعرګويي رخصت هم منقول دي .

تشريح : امام نووي د مسجد په ادابو مستقل باب قائم کړی دی:

"په مسجد کي دجګړو کولو او تيز اواز کولو اود ورك شوي څيز داعلان کولو او بيع اوشراء کولو اود اجاري وغيره معاملاتو کولو دممانعت ذکر يي کړی دی، او بيا يي د ترمذي او مسلم دوه احاديث نقل کړي دي:

عن ابي هريرة : أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ . قَالَ : ((إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ . فَقُولُوا : لا أَرْبَحَ اللهُ تِجَارَتَكَ . وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ ضَالَّةً فَقُولُوا : لا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ)) . رواه الترمذي . وقال

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ۲۲۰ (۱۰۷۹) . سنن النسائي في المساجد ۲۳ (۷۱۴) . سنن ابن ماجه في المساجد ۵ (۷۴۹) .

(تحفة الأشراف : ۸۷۹۶) . مسند احمد (۲ في ۱۷۹)

: ((حديث حسن)) .(رياض الصالحين)

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي مسجد کې په څه اخستلو يا خرڅولو باندى اووينئ نو ورته اووائي په دى تجارت کې دى الله گټه درنکړي او چي څوك دورك څيز دپاره په اعلان کولو والااووينى نو ورته اووائي خداي پاك دى هيچرى تاته دا څيز واپس درنه کړي.

علماء وايي چي مساجد ددي دپاره اباد کړي شوي دي چي هلته دالله ذكر او عبادت او مونځونه او تلاوتونه وکړي شي نو که هلته تجارتونه شروع کړي شي نو بيا به دي عباداتو کې خلل راځي نو که څوك چرته داسي کس ووينى نو په زبردستئ سره دي دى منع کړي او ورته دي اووايي چي الله دي درته په دي تجارت کې گټه درنکړي.

واذا رئيتم من ينشد ضالة الخ. کله چي تاسو څوك اووينئ چي په مسجد کې دورك شوي څيز اعلان کوي نو اووائي چي الله دي درته دا څيز واپس په لاس درنکړي، علماء وائي چي په مسجد کې دخپل ورك شوي څيز اعلان کول منع دي ددي جائز طريقه داده چي داسي کس دي دمسجد د دروازي سره کيني او دهر راتلونکي کس نه دي تپوس کوي په داسي صورت کې به دمسجد احترام هم برقرار پاتي شي او دورك څيز لټيون به هم اوشي.

عن بُرَيْدَةَ ﷺ : أَنَّ رَجُلاً نَشَدَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ : مَنْ دَعَا إِلَى الْجَمَلِ الأَحْمَرِ ؟ فَقَالَ رسولُ اللهِ ﷺ : ((لا وَجَدْتَ ؛ إِنَّمَا بُنِيَتِ الْمَسَاجِدُ لِمَا بُنِيَتْ لَهُ)) . رواه مسلم .

أخرجه : مسلم كتاب المساجد باب النهي عن نشد الضالة في المسجد ٨٢/٢ (٥٦٩) (٨٠) والمصنف والبيهقي ٤٤/٢ .

دبريده نه روايت دى چي يو سړي په جومات کې دخپل ورك اوښ دپاره اعلان اوکړو ويى وئيل چا سور اوښ ليدلى دى رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خدايى پاك دى تاته دا په لاس درنه کړي، بيشکه جماتونه چي کوم کار دپاره جوړ دي هغى دپاره جوړ دي (يعنى جوماتونه عبادت دپاره جوړ دي عبادت نه علاوه نور دنياوي کارونه ورکښى کول جائز نه دي).

امام قرطبي فرمائي: وهذا يدل علي ان الاصل ان لايعمل في المسجد غير الصلاة الاذكار وقراءة القران، د پورتني حديث متعلق مولانا رشيد احمد گنگوهي ليکلي دي: واما انشاد الضالة فالنهي عن رفع الصوت بذلك اذ فيه الاضرار دون غيره وفيه سوء تاديب نسبة الي المسجد وقد يعد فيه رفع الصوت قبيحاً فكيف بنداء من ينشد ضالة الخ.

دورك څيز په لټيون کې شور او غوغا کول منع دي کوم چي دمسجد د ادابو او احترام خلاف دي

او د مونځ ګذارو دپاره هم باعث دتشویش دی بیا دهغوی په عبادت کې خپل عبادت ته توجه باقي نه پاتي کیږي

همدا وجه ده چي عمرفاروق رضي الله عنه په داسي موقعه کې په مسجد کې یو تیز اواز واوریدو تپوس یي اوکړو ایا تاته معلومه ده چي ته اوس چرته موجود یي؟ ملاعلي قاري د عمرفاروق رضي الله عنه دا الفاظ نقل کړي دي. ان عمر رضي الله عنه سمع رجلا رافعاً صوته في المسجد فقال اتدري این انت؟

عمرو بن شعیب رضي الله عنه حالات:

نوم عمرو شعیب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص هغه عموما دخپل پلار او سعید بن المسیب نه روایتونه اوریدلي دي او دی دحدیث په اسناد کې اکثر موندلی شي "ابیه" کې ضمیر پلار ته راجع دی او ددي مصداق شعیب دی 'جده، په دي ضمیر کې دوه احتماله دي اول ددي مصداق محمد دی ، دویم احتمال دادی چي دجد مرجع ابیه دی او دجد مصداق عبدالله بن عمرو دی کوم چي دشعیب نیکه دی مطلب دا شو چي شعیب دخپل نیکه عبدالله نه روایت کوي ددي احتمالاتو په وجه په سند کې اختلاف راغی پاتي شوه دا خبره چي دا سند قابل داحتجاج دی یا نه دی نو صحیح رائي داده چي دا سند قابل داحتجاج دی کم از کم دحسن درجي دی اضحاب سنن او امام احمد وغیره دا سند قبول کړی دی (میزان الاعتدال، تدریب الرامي)

****

١٢٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى

دهغه مسجد بیان دکوم بنیاد چي په تقوي ایخودلي شوي دي

٣٢٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ أُنَيْسِ بْنِ أَبِي يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: امْتَرَى رَجُلٌ مِنْ بَنِي خُدْرَةَ وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى، فَقَالَ الْخُدْرِيُّ: "هُوَ مَسْجِدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ الْآخَرُ: هُوَ مَسْجِدُ قُبَاءٍ، فَأَتَيَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ، فَقَالَ: هُوَ هَذَا يَعْنِي مَسْجِدَهُ وَفِي ذَلِكَ خَيْرٌ كَثِيرٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ:

سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَحْيَى الأَسْلَمِيِّ، فَقَالَ: لَمْ يَكُنْ بِهِ بَأْسٌ، وَأَخُوهُ أُنَيْسُ بْنُ أَبِي يَحْيَى أَثْبَتُ مِنْهُ. (1)

ترجمه : انيس ابويحي دخپل پلار نه او هغه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت كوي چي دبني خدره او بني عمرو بن عوف د دوه كسانو په مينځ كي دهغه مسجد باره كي اختلاف پيدا شو دكوم بنياد چي په تقوي ايخودلي شوي دي بني خدره والا اووئيل ددينه مراد مسجد نبوي دي او دي بل كس اووئيل ددينه مراد مسجد قباء دي تردي چي دواړه په خدمت نبوي كي حاضر شول رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا همدا دي او په دي كي ډير فوائد دي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او ابوبكر دعلي بن عبدالله نه روايت كوي هغوئ وئيلي دي چي يحي بن سعيد نه دمحمد بن ابي يحي اسلمي باره كي تپوس اوكړي شو هغه اووئيل په ده كي هيڅ حرج نشته ليكن دده ورور انيس بن ابي يحي دده نه زيات قوي دي.

تشريح : د مسجد تقوي تعين اوفضيلت داحاديثو په رڼا كي:

امام احمد ، ابن ابي شيبه ، ترمذي ، نسائي ، ابويعلي، ابن جرير، ابن المنذر ، ابن ابي حاتم، ابو الشيخ، حاكم ، ابن مردويه، او بيهقي په دلائل النبوة كي ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دي چي فرمائيلي يي وو چي زه په امهات المومنين كي دكومي يوي په كور كي درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او عرض مي اوكړو اي دالله رسوله هغه كوم يو مسجد دي دكوم متعلق چي فرمائيلي شوي دي چي ددي بنياد په تقوي ايخودلي شوي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ګيټۍ ياكانړي راواخستو او زمكي ته يي اوويشتو او ويي فرمائيل ستاسو همدا دمديني مسجد دي.

طبراني او ضياء مقدسي په المختاره كي زيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دهغه مسجد په باره كي تپوس اوكړي شو دكوم بنياد چي په تقوي ايخودلي شوي دي نو ويي فرمائيل ددينه مراد زما مسجد دي ، ابن ابي شيبه او ابن مردويه روايت بيان كړي دي چي دابن عمررضي الله عنهما نه دهغه مسجد په باره كي تپوس اوكړي شو چي بنياد يي په تقوي ايخودلي شوي دي چي هغه كوم مسجد دي نو ويي فرمائيل درسول الله صلي الله عليه وسلم مسجد دي.

دمسجد نبوي په فضائلو كي هغه حديث هم راغلي دي كوم چي شيخينو دابوهريره رضي الله عنه نه نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دكور اودمنبر په

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٤٢٠)

مینځ کې دجنت په باغونو کې یوباغ دي اوزما منبر په حوض دي دبغوي په روایت کې دکور په ځاي دقبر لفظ راغلي دي.
شیخینو او امام احمد او نسائي دعبدالله بن زید مازني نه روایت بیان کړي دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي زمادکور اودمنبر په مینځ کې دجنت په باغونو کې یوباغ دي، اودترمذي هم دا روایت دعلي رضي الله عنه نه بیان کړي دي.
دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي زمایه دي مسجد کې یومونځ کول علاوه دمسجد حرام نه دنورو مساجدو په نسبت دزرو مونځونو کولو نه بهتر دي.
دبعضي علماؤ خیال دي چې د "مسجد اسس علي التقوي" نه مراد مسجد قبا دي، دعطیه په روایت کې هم دابن عباس دا قول ذکر شوي دي، عروه بن زبیر ، سعید بن جبیر، اوقتاده هم پدي باندي قول کړي دي، رسول الله صلي الله علیه وسلم دمسجد قبا بنیاد ایخودلي وو دهجرت کولو نه پس چې کله رسول الله صلي الله علیه وسلم مدیني ته راغي نویوڅو ورځي یي یعني ددوشنبي نه دجمعي پوري په قبا کې قیام اوکړو اوپدي موده کې یي دلته مونځونه اوکړل.
ابن جریر او ابن المنذر او ابن ابي حاتم او بیهقي دا روایت دابن عباس رضي الله عنهما نه روایت بیان کړي دي او ابوالشیخ دضحاك نه هم بیان کړي دي.
بخاري دعبدالله بن دینار په واسطه دابن عمر رضي الله عنهما نه هم داسي روایت نقل کړي دي نافع دابن عمر رضي الله عنهما قول ددومره اضافي سره نقل کړي دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به پدي کې دوه رکعاته مونځ کولو، داودي ، سهیلي، اوحافظ ابن حجر وئیلي دي داتفسیري اختلاف دي ځکه چې په دواړو کې دهریومسجد بنیاد په تقوي ایخودلي شوي وو.
ددینه مراد خصوص دمورد نه دي لیکن عموم دالفاظو لره اعتبار دي اومسجد نکره موصوفه ده اوددي صفت اسس علي التقوي دي اوداهم عام صفت دي لیکن دایت دسیاق نه معلومیږي چې په دي ایت کې مسجد قبا مراد دي اوهم ددي مسجد متعلق ددي ایت نزول شوي دي ځکه چې دمسجد ضرار تعمیر مسجد قباته دنقصان رسولودپاره شوي وو اوبیا په وروستني ایت سره هم ددي تائید کیږي (مظهري، زاد المسیر)
سعید بن جبیر دابن عباس قول نقل کړي دي چې مسجدونه په زمکه کې دالله تعالي کورونه دي او دا اسمان مخلوق ته داسي پړقیدونکي ښکاري لکه چې زمکي والا ته ستوري پړقیدونکي ښکاري دمسجدونو دلوړولو نه مراد دمسجدونو جوړول دي (مظهري، زاد المسیر).

****

١٣٠_ باب مَا جَاءَ فِي الصَّلاَةِ فِي مَسْجِدِ قُبَاءٍ

په مسجد قبې کې دمونځ کولو فضیلت

٣٢٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ أَبُو كُرَيْبٍ، وَسُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، قَالاَ: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو الأَبْرَدِ مَوْلَى بَنِي خَطْمَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أُسَيْدَ بْنَ ظُهَيْرٍ الأَنْصَارِيَّ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الصَّلاَةُ فِي مَسْجِدِ قُبَاءٍ كَعُمْرَةٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أُسَيْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَلاَ نَعْرِفُ لِأُسَيْدِ بْنِ ظُهَيْرٍ شَيْئًا يَصِحُّ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَلاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، وَأَبُو الأَبْرَدِ اسْمُهُ: زِيَادٌ مَدِينِيٌّ.[1]

ترجمه : دابو الابرد د بني خطمه ازاد کړي غلام بیان دي فرمائي چي داسید بن ظهیر نه مي اوریدلي دي (او اسید بن ظهیر دصحابه کرامو دجملي نه دي) چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په مسجد قبې کې مونځ کول داسي دي لکه چي څوک عمره اوکړي.

امام ترمذي وائي په دي باب کې دسهل بن حنیف نه هم روایت دي، او حدیث د اسید بن ظهیر حسن غریب دي او داسید بن ظهیر په روایت کې مونږ ته کوم صحیح روایت نه دي معلوم او مونږ دا حدیث صرف دابو اسامه عن عبدالحمید بن جعفر په روایت پیژنو او دابو الابرد نوم زیاد مدیني دي.

****

١٣١_ باب مَا جَاءَ فِي أَيِّ الْمَسَاجِدِ أَفْضَلُ

په مسجدونو کې کوم یو افضل دي

٣٢٥_ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ رَبَاحٍ وَعُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي عبد الله الأغر، عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الأَغَرِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " صَلاَةٌ فِي مَسْجِدِي هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلاَةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلاَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَمْ يَذْكُرْ قُتَيْبَةُ فِي حَدِيثِهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، إِنَّمَا ذَكَرَ عَنْ زَيْدِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي

---

[1] _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٩٧ (١٤١١) (تحفة الأشراف: ١٥٥)

عَبْدِ اللهِ الْأَغَرِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو عَبْدِ اللهِ الْأَغَرُّ اسْمُهُ: سَلْمَانُ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ وَمَيْمُونَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ، وَجُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، وَأَبِي ذَرٍّ. [1]

ترجمه : دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په مسجد نبوي کي دیو مونځ کول په نورو مسجدونو کي دمونځ کولو نه زر درجي بهتر دي علاوه دمسجد حرام نه.

امام ترمذي وائي قتیبه پخپل حدیث کي دعبدالله په ځاي زید بن رباح ذکر کړي دي او زید بن رباح دابوعبدالله اغر نه روایت کوي امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي او دابو عبدالله اغر نوم سلمان دي، دا حدیث دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه دابو هریره په واسطه په ډیرو سندونو مروي دي، او په دي باب کي د علي، میمونه، ابوسعید، جبیرбن مطعم، عبدالله بن زبیر، ابن عمر، او ابوذر رضي الله عنهم نه هم احادیث وارد دي.

تشریح امام ابو یوسف فرمائیلي دي چاچه په مسجد حرام کي ددوه رکعتانه مونځ کولو نذرمنلي وي اوپه بل ځاي کي یي اداکړي نوکافي به نه وي ځکه چي دانس بن مالك په روایت کي راغلي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي پخپل کورکي دتنه یو مونځ کول دیو مونځ سره برابر دي اودمحلي په مسجد کي یومونځ کول دپنځه ویشتومونځونوسره برابردي اوپه جامع مسجد کي مونځ کول دپنځه سوه مونځونوسره برابردي اوپه مسجد اقصي کي مونځ کول دزرو مونځونوسره برابردي او زما په مسجد کي مونځ کول دپنځوس زره مونځونوسره برابردي اوپه مسجد حرام کي یومونځ کول دسل زره مونځونوسره برابردي (ابن ماجه).

په طحاوي کښي دعطاء بن زبیر په روایت سره منقول دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي زماپه دي مسجد کي یومونځ کول دمسجد حرام نه علاوه دنورو مسجدونونه زرچنده زیات دي اوپه مسجدحرام کي یومونځ کول زماپه مسجدکي دسلومونځونونه بهتردي ، عبدالله بن زبیر رضي الله عنه دعمر بن خطاب په روایت سره هم دا حدیث نقل کړي دي مګر

---

[1] ـ صحيح البخاري في الصلاة في مسجد مكة والمدينة ١ (١١٩٠). صحيح مسلم في الحج ٩٤ (١٣٩٤). سنن النسائي في المساجد ٧ (٦٩٥). والحج ١٢٤ (٢٩٠٢). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٩٥ (تحفة الأشراف: ١٣٤٦٤). وكذا (١٣٥٥١ و٢٩٦٠). موطا امام مالك في القبلة ٥ (٩). مسند احمد (٢ في ٢٣٩، ٢٤١، ٢٥٦، ٢٧٧، ٢٧٨، ٣٨٦، ٣٦٦، ٣٦٨، ٤٧٣، ٤٨٣، ٤٨٥، ٤٩٩). سنن الدارمي في الصلاة ١٣١ (١٤٥٨)

غير مرفوع دي اودجابر بن عبدالله په روايت سره داحديث مرفوع هم مروي دي ابن جوزي په روايت دجابر رضي الله عنه سره په دي الفاظو مرفوع روايت ذكركړي دي چي په مسجد حرام كې يو مونځ دسلو مونځونونه افضل دي ، ليكن دامام ابو حنيفه او امام محمد قول دادي چي دمونځونو دا ترتيبي فضيلت صرف دفرض مونځونو متعلق دي په نوافلوكې دا فضيلت نشته ځكه چي دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دفرضو نه علاوه دسړي دپاره ټول مونځونه پخپل كوركې كول افضل دي (بخاري اومسلم)

داعتكاف حكم دفرض مونځونوپشان دي ځكه چي داعتكاف په صورت كې سړي په مسجد كې دننه اوسيږي او فرضي مونځونوته انتظاركوي ګويا كې داسي ده لكه په مونځ كې چي مشغول وي ابن جوزي رحمة الله عليه په فضائل مكه كې دعبدالله بن عد ي بن الحمرا روايت ليكلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمكي په بازار كې په حروره مقام كې موجود وو اوفرمائيل يې چي په الله تعالي قسم ته په ټولو زمكو كې بهتره يې اودالله په نزد محبوبه يې كه چري زه ستانه نه وي ويستلي شوي نوزه به وتلي نه ووم ، دا حديث ابن جوزي دابو هريره رضي الله عنه نه هم مرفوعا بيان كړي دي. (ابن جوزي)

****

٣٢٦ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ قَزَعَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ، مَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِي هَذَا، وَمَسْجِدِ الْأَقْصَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د دري مسجدونو نه علاوه كوم بل مسجد ته سفر كول نه دي پكار يو مسجد حرام دي او بل زما مسجد دي او بل مسجد اقصي (بيت المقدس) دي. امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

[1] ـ صحيح البخاري في الصلاة في مسجد مكة والمدينة ١ (١١٨٨) ، و٦ (١١٩٧) ، وجزاء الصيد ٢٦ (١٨٦٤) ، والصوم ٦٧ (١٩٩٥) ، صحيح مسلم في المناسك ٧٤ (٤١٥ في ٨٢٧) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٩٦ (١٤١٠) ، (تحفة الأشراف : ٤٢٧٩)

۱۳۲ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَشْيِ إِلَى الْمَسْجِدِ

مسجد ته دتلو فضيلت

۳۲۷ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوهَا وَأَنْتُمْ تَسْعَوْنَ وَلَكِنِ ائْتُوهَا وَأَنْتُمْ تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةَ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْمَشْيِ إِلَى الْمَسْجِدِ، فَمِنْهُمْ مَنْ رَأَى الْإِسْرَاعَ إِذَا خَافَ فَوْتَ التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى، حَتَّى ذُكِرَ عَنْ بَعْضِهِمْ أَنَّهُ كَانَ يُهَرْوِلُ إِلَى الصَّلَاةِ، وَمِنْهُمْ مَنْ كَرِهَ الْإِسْرَاعَ وَاخْتَارَ أَنْ يَمْشِيَ عَلَى تُؤَدَةٍ وَوَقَارٍ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ، وَقَالَا: الْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَالَ إِسْحَاقُ: إِنْ خَافَ فَوْتَ التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى فَلَا بَأْسَ أَنْ يُسْرِعَ فِي الْمَشْيِ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي جماعت قائم شي نو په منډو منډو مه راځئ بلکه سکون سره راځئ څومره مونځ چي ورسوئ هغه اوکړئ او کوم چي درنه تير شوي وي هغه پوره کړئ.

په دي باب کي دابوقتاده، ابئ بن کعب، ابوسعيد، زيد بن ثابت، جابر، انس بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي امام ترمذي وائي مسجد ته دتلو په سلسله کي دعلماؤ اختلاف دي، بعضي اهل علم وائي که چري دتکبير اولي دفوت کيدو خطر وي نو په زر تلو کي څه حرج نشته بلکه دبعضو نه په منډه راتلل هم منقول دي مګر دبعضي نورو اهل علمو په نزد په منډه تلل مکروه دي ددوئ په نزد په قلاره او وقار سره راتلل بهتر دي او دا دامام احمد او اسحاق قول دي ددوئ دا قول دي چي په دي مسئله کي دابوهريره رضي الله عنه حديث معمول بها دي، امام اسحاق وائي که چري دتکبير اولي دفوت کيدو خطر وي نو په تيز تلو کي څه حرج نشته.

---

[1] ـ صحيح البخاری في الجمعة ۱۸ (۹۰۸). صحيح مسلم في المساجد ۲۸ (۶۰۲). سنن ابي داود في الصلاة ۵۷ (۵۷۲). سنن النسائي في الإمامة ۵۷ (۸۶۲). سنن ابن ماجه في المساجد ۱۴ (۷۷۵). (تحفة الأشراف: ۱۵۲۸۹). موطا امام مالک في الصلاة ۱ (۴). مسند احمد (۲ في ۲۳۷، ۲۳۸، ۲۳۹، ۲۷۰، ۲۷۲، ۲۸۲، ۳۱۸، ۳۸۲، ۳۸۶، ۴۲۷، ۴۵۲، ۴۶۰، ۴۷۳، ۴۸۹، ۵۲۹، ۵۳۲، ۵۳۳). سنن الدارمي في الصلاة ۵۹ (۱۳۱۹)

لغات : السكينة معني اطمينان اووقار.

تشريح : يعني جماعت ته په منډه مه ورځئ دبخاري په يو روايت كي ولاتسعوا لفظ راغلي دي ددينه معلوميږي چي مسجد ته په منډه تلل دوقار او سكينت خلاف دي په دي وجه ترغيب وركولي شي چي سړي كله دكور نه دمونځ دپاره راووځي او ترڅو په لاره روان وي نو په ارام سره دي ځي او كه دجماعت دفوت كيدو يره وي نوتيز دي لاړ شي خو منډي دي نه وهي ليكن دعبدالله بن عمر او ابن مسعود رضي الله عنهما په نزد منډه وهلي شي.

وما ادركتم فصلوا : يعني كوم مونځ چي دامام سره بيامومئ هغه ورسره اوكړئ ددينه معلومه شوه چي كوم مونځ دامام سره اوشي نو دا به دمقتدي مونځ وي او ددينه پس به باقي مونځ پوره كوي دمونځ تكميل به دامام دسلام نه پس كوي.

فان احدكم اذاكان يعمد الي الصلاة فهو في الصلاة : ديو سړي چي څو پوري دمونځ اراده وي ترهغي پوري دمونځ په حالت كي شميرلي شي ددينه معلومه شوه چي څوك په كور كي اودس اوكړي او مسجد ته روان شي نو ده ته به دمونځ ثواب ملاويدل شروع شي په همدي وجه امام نووي وئيلي دي چي مونځ ته تلونكي به په لاره كي فحش خبري نه كوي او بدنظري به نه كوي او دهر قسم ګناه نه به ځان ساتي اګر چي دي په مونځ كي نه دي ليكن په مونځ كي شميرلي شوي دي.

****

٣٢٨ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِمَعْنَاهُ. هَكَذَا قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ زُرَيْعٍ. [1]

ترجمه : حسن بن علي خلال، دعبدالرزاق نه او عبدالرزاق دمعمر نه او معمرو دزهري نه او زهري دسعيد بن مسيب نه او سعيد دابوهريره رضي الله عنه نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دابوسلمه دحديث هم معني روايت نقل كړي دي، دا رنګي عبدالرزاق دسعيد بن

[1] ـ انظر ما قبله (تحفة الأشراف : ١٣٢٠٥) . وأخرجه: مسند احمد (٢ في ٢٧٠)

مسيب نه او هغه دابوهريره نه روايت نقل کوي مګر دا روايت ديزيد بن زريع دحديث نه زيات اصح دي.

****

٣٢٩_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. (1)

ترجمه: ابن ابي عمر دسفيان نه او سفيان دزهري نه او زهري دسعيد بن مسيب نه او سعيد دابوهريره نه او ابوهريره دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دمذکوره روايت هم معني حديث نقل کړي دي.

١٣٣_ باب مَا جَاءَ فِي الْقُعُودِ فِي الْمَسْجِدِ وَانْتِظَارِ الصَّلَاةِ مِنَ الْفَضْلِ

په مسجد کي دکيناستو او د راروان مونځ دپاره دا انتظار فضيلت

٣٣٠_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا دَامَ يَنْتَظِرُهَا، وَلَا تَزَالُ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي الْمَسْجِدِ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ مَا لَمْ يُحْدِثْ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ: وَمَا الْحَدَثُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: فُسَاءٌ أَوْ ضُرَاطٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 _ صحيح البخاري في الجمعة ١٨ (٩٠٨). صحيح مسلم في المساجد ٢٨ (٦٠٢). سنن ابي داود في الصلاة ٥٤ (٥٤٣). سنن النسائي في الإمامة ٥٧ (٨٦٢). سنن ابن ماجه في المساجد ١٣ (٧٧٥). (تحفة الأشراف: ١٥٢٨٩). موطا امام مالک في الصلاة ١ (٣). مسند احمد (٢ في ٢٣٧، ٢٣٨، ٢٣٩، ٢٧٠، ٢٧٣، ٢٨٢، ٣١٨، ٣٨٢، ٣٨٧، ٤٢٧، ٤٥٢، ٤٦٠، ٤٧٣، ٤٨٩، ٥٢٩، ٥٣٢، ٥٣٣). سنن الدارمي في الصلاة ٥٩ (١٣١٩)

2 _ صحيح البخاري في الوضوء ٣٤ (١٧٦). والصلاة ٦١ (٤٤٥). و٨٧ (٤٧٧). والأذان ٣٠ (٦٤٧). و٣٦ والبيوع ٤٩ (٢٠١٣). وبدء الخلق ٧ (٣٢٢٩). صحيح مسلم في المساجد ٤٩ (٦٤٩). سنن ابي داود في الصلاة ٢٠ (٤٦٩). سنن النسائي في المساجد ٤٠ (٧٣٣). سنن ابن ماجه في المساجد ١٩ (٧٩٩). (تحفة الأشراف: ١٣٧٢٢). مسند احمد (٢ في ٢٦٦، ٢٨٩، ٣١٢، ٣١٩، ٣٩٤، ٤١٥، ٤٢١، ٤٨٦، ٥٠٢). موطا امام مالک في الصلاة ٢٧ (٥١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو کي چي کله څوک ديو مونځ انتظار کوي نو دا داسي ده لکه چي تردغه وخته پوري په مونځ کي مشغول وي او دداسي کس دپاره فرشتي هميشه درحمت دعا غواړي ترڅو چي دي په مسجد کي موجود وي او ترڅو چي دده اودس مات شوي نه وي نو فرشتي دده په حق کي داسي وائي "اللهم اغفرله اللهم ارحمه" دي وخت کي دحضرموت قبيلي يو کس عرض اوکړو اي ابوهريره دحدث مطلب څه دي ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل هواخارجيدل برابره خبره ده چي د اواز سره وي او که بغير داواز نه وي، او په دي باب کي دعلي، ابوسعيد ، انس، عبدالله بن مسعود ، او سهل بن سعد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي امام ترمذي وائي حديث دابوهريره حسن صحيح دي.

تشريح : امام نووي د مساجدو په فضيلت کي د مسلم يو روايت نقل کړی دی مونږ يي توضيحا للمقام نقل کوو:

عن ابي هريرة : أَنَّ رسول الله ﷺ ، قَالَ : ((أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا ، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ ؟)) قَالوا : بَلَى يَارسول الله ، قَالَ : ((إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ ، وَ كَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ ، وَانْتِظَارُ الصَّلاَةِ بَعْدَ الصَّلاَةِ ؛ فَذلِكُمُ الرِّبَاطُ ؛ فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ))

دا روايت هم دابوهريره رضي الله عنه نه نقل دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي ګورئ زه تاسو ته داسی خبره ښايم چي دهغی دوجی نه الله ستاسو ګناهونه معاف کوي او درجی اوچتوي صحابه کرامو عرض اوکړو ضروريی وفرمائي . ويی فرمائيل چي کله په اودس کې څه تکليف وي هغه وخت هم اودس په ښه شان کول جومات طرف ته ډير تلل راتلل، ديو مانځه نه پس د دويم مانځه په انتظار کې اوسيدل پس هم دادي هغه مرغوب او زړه ته خوښی خبری . او هم دا ستاسو رباط دی .

اخرجه مسلم في کتاب الصلاة باب اسباغ الوضوء علي المکاره .

خطاياه: خطايا جمع دخطية ده ګناه ته وئيلي شي او دبعضو په نزد ارادي د ګناه ته وئيلي شي صفت يي خاطئ دي او جمع خطاة دي.

ګناهونو لره ختمونکي اودرجاتو لره لوړونکي اعمال په پورتني حديث کې خودلی کيږي دمشقت او تکليف په وخت کې په ښه شان سره اودس کول مثلا بيماري وي يا شديده يخني وي نو په داسي وخت کې دپوره ادابو سره اودس کول او دسنن لحاظ ساتل او دري دري پيري اندامونه ښه وينځل ډير فضيلت لري.

او دمسجد په طرف ډير قدمونه ايخودل يعني که مسجد لري هم وي خو دی ورله ورځي او

دجماعت سره مونځ ادا کوي او ديومونځ نه پس دبل مونځ انتظار کول يا دا چي دمسجد نه وتلی هم وي خو دمسجد سره يي زړه تړلی وي.

فذلکم الرباط: رباط په سرحداتو پيري کولو ته وئيلی شي چي دشمن دننه داخل نشي او مسلمانانو ته نقصان ونه رسوي، همدا رنګي دشيطان نه هم په دي اعمالو سره حفاظت کيدی شي او ديته رباط وئيلی شي.

****

١٣٤_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْخُمْرَةِ

په جا نماز دمونځ کولو بيان

٣٣١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي عَلَى الْخُمْرَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ وَابْنِ عُمَرَ، وَأُمِّ سُلَيْمٍ، وَعَائِشَةَ، وَمَيْمُونَةَ، وَأُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الْأَسَدِ، وَلَمْ تَسْمَعْ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَبِهِ يَقُولُ: بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، وقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ: قَدْ ثَبَتَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةُ عَلَى الْخُمْرَةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْخُمْرَةُ هُوَ: حَصِيرٌ قَصِيرٌ. [1]

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په جانماز باندي مونځ ورکولو،

امام ترمذي وائي په دي باب کي د ام حبيبه، ابن عمر، ام سلمه، عائشه، ميمونه، ام کلثوم بنت ابي سلمه بن عبدالاسد رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي. اود ام کلثوم سماع د نبي کريم صلي الله عليه وسلم او ام سلمه رضي الله عنها نه ثابت نه ده.

امام ترمذي وائي حديث دابن عباس حسن صحيح دي او همدا دبعضي اهل علمو قول دي، امام احمد او اسحاق وائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دړۍ مونځ کول ثابت دي

امام ترمذي وائي خمرة وړي دړۍ ته وئيلي شي (يعني جا نماز).

****

١٣٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْحَصِيرِ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١١٥). وانظر: مسند احمد (١/ في ٢٦٩، ٣٠٩، ٣٢، ٣٥٨)

په پوزكي(درئ) د مونځ كولو بيان

٣٣٢_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " صَلَّى عَلَى حَصِيرٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَالْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ. إِلَّا أَنَّ قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ اخْتَارُوا الصَّلَاةَ عَلَى الأَرْضِ اسْتِحْبَابًا. وَأَبُو سُفْيَانَ اسْمُهُ: طَلْحَةُ بْنُ نَافِعٍ. ([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په پوزكي (درئ) باندي مونځ اوكړو.

امام ترمذي وائي دابوسعيد خدري رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د انس، او مغيره بن شعبه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او داكثرو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي البته دعلماؤ يوي ډلي په زمكه مونځ كول استحبابا خوښ كړي دي.

****

١٣٦_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْبُسُطِ

په بسترو د مونځ كولو بيان

٣٣٣_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ الضُّبَعِيِّ، قَال: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَالِطُنَا حَتَّى إِنْ كَانَ يَقُولُ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ. قَالَ: وَنُضِحَ بِسَاطٌ لَنَا فَصَلَّى عَلَيْهِ "قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَنْ بَعْدَهُمْ لَمْ يَرَوْا بِالصَّلَاةِ عَلَى الْبِسَاطِ وَالطُّنْفُسَةِ بَأْسًا. وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ، وَاسْمُ أَبِي التَّيَّاحِ: يَزِيدُ بْنُ حُمَيْدٍ. ([2])

---

[1] _ صحيح مسلم في الصلاة ٥٢ (٥١٩) . والصلاة ٣٨ (٦٦١) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٣ (١٠٢٩) . (تحفة الأشراف : ٣٩٨٢) . مسند احمد (٣ في ١٠، ٥٢، ٥٩)

[2] _ صحيح البخاري في الأدب ٨١ (٦١٢٩) . و ١١٢ (٦٢٠٣) . صحيح مسلم في المساجد ٤٨ (٦٥٩) . سنن ابن ماجه في الأدب ٢٤ (٣٧٤٠) . (تحفة الأشراف : ١٦٩٢) . مسند احمد (٣ في ٢١٢) . ويأتي عند المؤلف في البر والصلة برقم : (١٩٨٩)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به زمونږ سره مخالطت(مزاح) كول تردي پوري چي زما كشر ورور ته به يي وئيل "ابوعمير مافعل النغير" يعني اي ابو عمير بلبل دي څه شو؟ زمونږ په درئ به كيناستلو او مونځ يي وربا ندي اوكړو

امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د ابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي چي صحابه كرامو او ددوئ نه پس په اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي چي په څادر اوقالين باندي يي په مونځ كولو كي څه قباحت نه ګڼړلو او همدا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي.

****

١٣٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلاَةِ فِي الْحِيطَانِ

په باغونو كي دمونځ كولو بيان

٣٣٤_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ " يَسْتَحِبُّ الصَّلاَةَ فِي الْحِيطَانِ " قَالَ أَبُو دَاوُدَ: يَعْنِي الْبَسَاتِينَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مُعَاذٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ الْحَسَنِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، وَالْحَسَنُ بْنُ أَبِي جَعْفَرٍ قَدْ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَغَيْرُهُ، وَأَبُو الزُّبَيْرِ اسْمُهُ: مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ تَدْرُسَ، وَأَبُو الطُّفَيْلِ اسْمُهُ: عَامِرُ بْنُ وَاثِلَةَ. [1]

ترجمه دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به په باغونو كي مونځ كول خوښول، امام ابو داود به وئيل دحيطان نه مراد باغونه او باغيچي دي.

امام ترمذي وائي دمعاذ حديث غريب دي او مونږ ته صرف دحسن بن ابي جعفر په سند رارسيدلي دي او يحي بن سعيد القطان وغيره دحسن بن ابي جعفر تضعيف كړي دي

****

١٣٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي سُتْرَةِ الْمُصَلِّي

دمصلي(مونځ ګذار) دستري بيان

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٣٢٣)

٣٣٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤَخَّرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ وَلَا يُبَالِي مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذَلِكَ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَسَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَسَبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ الجُهَنِيِّ، وَأَبِي جُحَيْفَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ طَلْحَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ، وَقَالُوا: سُتْرَةُ الإِمَامِ سُتْرَةٌ لِمَنْ خَلْفَهُ.[1]

ترجمه : دطلحه رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي ځوك خپلي مخي ته دکجاوي د وروستني لرگي په برابر څه شي کيږدي نو مونځ کولي شي او ددي خبري خيال دي نه ساتي چي دده مخي ته څه تيريږي.

امام ترمذي وائي دطلحه رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي د ابوهريره، سهل بن ابي حثمه، ابن عمر، سبره بن معبد جهني، ابو جحيفه، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : كه يو كس په ميدان كي مونځ كوى .نوخپل مخې ته دى ستره اودروى.اودا مستحب عمل دې، دليل د ددي قول د رسول پاك صلي الله عليه وسلم دا ارشاد دې :

(إذا صلى أحدكم في الصحراء فليجعل بين يديه سترة)

باقى پاتې شوه دا خبره چى د ستري اندازه به څه وى.نو په دي باره كي فرمائى چى د ستري اوږدوالى كم از كم يو گز پكار دې.او زياتى چي څومره وى.څه باك نشته، او دليل د ددي قول د رسول پاك صلي الله عليه وسلم دا ارشاد دې :

(أيعجز أحدكم إذا صلى في الصحراء أن يكون أمامه مثل مؤخرة الرحل) (موخرة)

د ميم ضمه او د خاء كسره،هغه لرگى ته وائى.كوم چى د كجاوى شاه ته د كيناستونكى د سر برابر وى.خاء په تشديد سره وئيل غلط دى (رحل) د كجاوى په معنى دى . صاحب دقدورى فرمائى. چى ډبلوالى ئې د يوى گوتى برابر وى، دليل دا دې چى ددى نه كم ډبلوالى كتونكو ته نه ښكارى. او مقصود نه حاصليږى.نوځكه وئيلى شوى دى چى كم ازكم د يوى گوتى د غټ والى په اندازه پكار دى.

---

1 ـ صحيح مسلم في الصلاة ٤٧ (٤٩٩) . سنن ابي داود في الصلاة ١٠٢ (٦٨٥) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٣٦ (٩٤٠) . (تحفة الأشراف: ٥٠١١) . مسند احمد (١/ ١٦١، ١٦٢)

دسترې لګولو طريقه

مصلی دی ستره خپلي ښئ یا ګسی وریځی ته مخامخ ساتی.یعنی د دواړو سترګو په مینځ کي دی نه ساتی، ځکه چی په دی باندې اثر وارد شوي دې.امام ابوداود د ضباعه بنت المقداد بن الاسود نه او هغوی د خپل پلار مقداد بن الاسود نه روایت کړې دې:

(قال ما رأيت رسول الله صلي الله عليه وسلم يصلي إلى عود ولا عمود ولا شجر الا جعله على حاجبه الأيمن أو الأيسر ولا يصمد له صمداً)

مقداد (رضي الله عنه) فرمائی.ما د الله تعالی حق پیغمبر کله هم څه لرګی یا ستن، یا وونی طرف ته مونځ کونکی نه دی لیدلې.مګردا چی هغه به ئې خپلي ښئ یا ګسی وریځی ته مخامخ ساتله.او ددی اراده به ئې نه کوله(فتح القدير) صاحب د عنایه دا اثر په دی الفاظو سره نقل کړې دې:

(أنه صلي الله عليه وسلم ما صلى إلى شجرة ولا إلى عود ولا عمود الا جعله على حاجبه الأيمن ولم يصمد له صمداً أى لم يقصده قصداً إلى المواجهة)

صاحب د هدایه فرمائی چی د سترې په ترك كولو كي په هغه وخت کښي څه قباحت نشته چی کله د خلقو د تیریدو نه امن وی.او مخامخ لاره نه وی.په دی عبارت کي دی طرف ته اشاره ده.چې د سترې علت مخامخ تیریدل دی.نو چی کوم ځائې کي د تیریدو غالب ګمان نه وی.نو هلته د سترې په پریخودو کي څه قباحت نشته.البته د امن باوجود ستره لګول مستحب دی.(فتح القدير، عنايه)

د جماعت د مونځ په صورت کي دامام ستره د مقتدیانو دپاره کافی ده.دلیل ددې هغه حدیث دې.کوم چی امام بخاری و امام مسلم د ابوجحیفه نه روایت کړې دې.د علامه ابن الهمام د بیان مطابق دحدیث متن دادی:

(أنه صلي الله عليه وسلم صلى بهم بالبطحاء وبين يديه عنزة والمرأة والحمار يمرون من ورائها)

یعنی رسول پاك صلي الله عليه وسلم په مقام بطحاء کي خلقو ته مونځ کولو.او د رسول پاك صلي الله عليه وسلم مخکې نیزه وه .او ښځی او خرونه د شل نه اخوا تیریدل.

دا د مقتدیانو دپاره ستره نه وه.دی نه معلومه شوه چی د امام ستره د مقتدیانو دپاره کافی ده.

د سترې دعدم وجود په صورت کې مصلي لره د تیریدونکی منع کول

که چرې د مصلی مخکې ستره نه وی.یا ستره خو وی.خو ددوی او مصلي په مینځ کي څوك د تیریدو اراده اوکړی.نو مصلی دي د غه تیریدونکی منع کوی.ځکه چی رسول پاك صلي

الله عليه وسلم فرمائيلي دی. (فادرؤاما استطعتم) يعنی څه څومره ممکن وی.نو دی منع کوئ.

باقی پاتې شوه دا خبره چی مصلی به تیریدونکی څنګه منع کوی.نو په دی باره کي فرمائی چی په اشاره دی منع کوی.لکه چی رسول پاک صلي الله عليه وسلم د ام سلمه رضی الله عنها دوه بچی منع کړی وو.تفصيل دصاحب د کفايه او عنايه دا ذکر کړې دې:

(أن النبي صلي الله عليه وسلم كان يصلى في بيت أم سلمة فقام ولدها عمر ليمر بين يديه فأشار إليه أن قف فوقف ثم قامت بنتها زينب لتمر بين يديه فأشار إليها أن قفى فأبت فمرت فلما فرغ من صلاته قال ناقصات العقل ناقصات الدين صواحب يوسف صواحب كرسف يغلبن الكرام ويغلبهن اللام)

تفسير روح البيان په سورة الحشر کې دا روايت داسي نقل کړی دی:

انه عليه السلام كان يصلى في بيت أم سلمة رضى الله عنها فقام عمر بن أم سلمة ليمر بين يديه فأشار اليه ان قف فوقف ثم قامت زينب بنت أم سلمة لتمر بين يديه فأشار إليها أن قفى فأبت ومرت فلما فرغ من صلاته نظر إليها وقال ناقصات العقل ناقصات الدين صواحب يوسف صواحب كرسف يغلبن الكرام ويغلبهن اللئام قال الخبازى في حواشى الهداية قال مولانا حميد الدين رحمه الله كرسف اسم زاهد وقع في الفتنة بسبب امرأة وقال المطرزي في المغرب كرسف رجل من زهاد بنى إسرائيل كان يقوم الليل ويصوم النهار فكفر بسبب امرأة عشقها ثم تداركه الله بما سلف منه فتاب عليه هكذا في الفردوس ومنه الحديث صاحبات يوسف صاحبات كرسف.

يعنی رسول پاک صلي الله عليه وسلم د ام سلمی رضی الله عنها کور کي مونځ کولو.نو د ام سلمه رضی الله عنها ځوئي عمر اودريدلو چی د رسول پاک صلي الله عليه وسلم وړاندې تير شی. رسول پاک صلي الله عليه وسلم هغه ته اشاره اوکړله چی اودريږه.نو هغه اودريدلو.بيا د ام سلمه ساده لور زينب اودريدله چی د رسول پاک صلي الله عليه وسلم وړاندې تيره شی. رسول پاک صلي الله عليه وسلم هغی طرف ته اشاره اوکړله چی اودريږه.خو هغی اونه منل.او تيره شوه.بيا چی کله صاحب د شريعت د خپل مونځ نه فارغ شو.نو ويی فرمائل. دا د بنی آدم لونړه د عقل او دين په اعتبار سره ناقصي دی.د يوسف ملګری دی.او د کرسف (هغه کپړه چی د حيض اونفاس په دوران کي ئې زنانه استعمالوی) خاوندانی دی.دوی په شريف او ښه خلقو باندې غالب راځی.او رزيل خلق په دوی باندې غالب وی.بهر حال دی حديث نه په اشاره سره منع کول ثابت شو.

يا به په تسبيح ونيلو سره دى منع كوى.دليل وړاندې تير شوې روايت دې.يعنى د رسول پاك صلي الله عليه وسلم قول چى (إذا نابت أحدكم نائبة في الصلاة فليسبح)
او اشاره او تسبيح دواړه جمع كول مكروه دى.ځكه چى په دى دواړو كي په يو باندې اكتفاء كول كافى دى. (عنايه، كفايه)

دطلحه بن عبيدالله حالات:

نوم طلحه كنيه ابو محمد فياض او خير دده لقبونه دي دپلار نوم يي عبيدالله او دمور نوم يي صعبه وو دطلحه نسب په شپږم پوشت كې درسول الله سره يوځاي كيږي دهجرت نبوي نه ۲۴ يا ۲۵ كلونه مخكې دده پيدائش شوى دى داتلسو كالو په عمر كې بصري ته لاړو او هلته ورته يو راهب دبعثت نبوي خبر وركړو او بيا ذابوبكر رضي الله عنه په دعوت سره په اسلام كې داخل شو طلحه دغزوه بدر په موقعه په مدينه كې موجود وو ددينه علاوه يي په تمامو غزواتو كي شركت كړى دى او په بيعة الرضوان كې هم شامل وو او دنورو خلفاؤ په جنگونو كې هم شريك پاتي شوى دى.
طلحه به دير زيات سخاوت كولو دفقيرانو مسكينانو دپاره به يي دروازه هر وخت پرانيستلي وه، دقيس بن ابي هاضم بيان دى چي ما دطلحه نه زيات سخاوت كونكى بل څوك نه دى ليدلى الله تعالي ورته فراخه مال هم وركړى وو چي روزانه اوسط امدن يي زر دينارو ته رسيدو (طبقات ابن سعد).
موصوف په جنگ جمل كې شهيد شو او پدغه وخت كې دده عمر ۶۲ يا ۶۴كلونه وو او په همدي ميدان كې دفن كړى شو ليكن دلته به اوبه اودريدلي نو په خوب كې اوليدلى شو ونيل يي چي زما قبر كوم محفوظ خاي ته منتقل كړئ نو عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دابوبكر رضي الله عنه كور په لس زره درهم واخستو او هلته يي منتقل كړو او په دومره ورځو كي دده جسم بالكل محفوظ وو خراب شوى نه وو تردي چي په سترگو يي كافور لگولى شوي وو هغه هم محفوظ وو دده دمروياتو شمير ۳۸ دى چي دوه په دي كې متفق عليه دي او دوه په مسلم كې دي او دوه په بخاري كې دي.

****

۱۳۹_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْمُرُورِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي

دمونځ گذارمخې ته دتيريدو دكراهت بيان

۳۳۶_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ. حَدَّثَنَا مَعْنٌ. حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ. عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ خَالِدٍ الْجُهَنِيَّ أَرْسَلَهُ إِلَى أَبِي جُهَيْمٍ يَسْأَلُهُ: مَاذَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللهِ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي؟ فَقَالَ أَبُو جُهَيْمٍ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ" قَالَ أَبُو النَّضْرِ: لَا أَدْرِي، قَالَ: أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي جُهَيْمٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَأَنْ يَقِفَ أَحَدُكُمْ مِائَةَ عَامٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْ أَخِيهِ وَهُوَ يُصَلِّي" وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا الْمُرُورَ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي، وَلَمْ يَرَوْا أَنَّ ذَلِكَ يَقْطَعُ صَلَاةَ الرَّجُلِ، وَاسْمُ أَبِي النَّضْرِ: سَالِمٌ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ الْمَدِينِيِّ. [1]

ترجمه : دبسر بن سعيد نه روايت دي فرمائي چي زه زيد بن خالد ابو جحيم ته اوليږلم تردي چي ددي خبري تپوس ورنه اوکړم چي دمونځ ګذار مخي ته دتيريدو متعلق يي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه څه اوريدلي دي؟ ابوجحيم اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چري دمونځ ګذار مخي ته تيريدونکي ته معلومه شي چي په دي کار کي څومره ګناه ده نو نو څلويښت اودريدل به دده دپاره ددي نه بهتر وو چي د مونځ کونکي مخي ته تير شي، ابو النضر راوي وايي ماته پته نشته چي څلويښت يي څه شي ياد کړل ورځي، اوکه مياشتي اوکه کلونه،

امام ترمذي وائي په دي باب کي د ابو سعيد خدري، ابو هريره، ابن عمر او عبد الله بن عمرو نه هم احاديث وارد دي، او دا حديث حسن صحيح دی، د نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چي فرمائيل يي سل کاله منتظر اودريدل د يو کس دپاره ددي نه بهتر دي چي د مصلي مخي ته تير شي ، امام ترمذي وائي داهل علمو په دي باندي عمل دي، دوي مکروه ګڼلي دي د مصلي مخي ته تيريدل او مونځ لره نه ماتوي اود ابو النضر نوم سالم دي اود عمر بن عبيد الله مديني ازاد کړی غلام دی.

تشريح :

بيان دهغه مقام چی په هغې کي تيريدل حرام دی :

(۱) چی د مصلی د قدم نه واخله تر د سجدي د مقام پورې هم دا اصح قول دې.او هم دا شمس الائمه سرخسی،شيخ الاسلام او قاضی خان اختيار کړې دې

[1] ـ رواه محمد بن الحسن في الموطأ برقم :٢٧١، باب المار بين يدي المصلي، والطبراني في المعجم الاوسط برقم ٩١ ٥٣.

(۲)بعضي مشانخو ونيلی دی چی کله مونځ ګذار خپل نظر د خپلی سجدی ځائې ته کړی.او په تيريدونکی دده نظر نه پريوځی.يعنی حد د سجدي د ځائې نه هم وړاندې هغه ځائې پورې دې چی د سجدي ځائې ته نظر کوی.اوپه دغه حالت کي ورته وړاندې څومره ځائې ښکاری.نو چی کوم ځائې نه ښکاری.دهغی ځائې نه تيريدل مکروه نه دی

(۳)بعضو د دوو يا دريو صفونو مقدار مقرر کړې دې.

(۴)اوبعضو دری ګزونه اوبعضو پنځوګزو پورې اندازه کړې ده. اوبعضو څلويښتو ګزو پورې اندازه کړې ده.دا حکم په هغه وخت کي دې چی دی په صحرا يا په ميدان کي مونځ کوی.

اوکه په مسجد کي مونځ کوی نو دي صورت کي د علماو دوه اقوال دي:

(۱)نو دبعضو رائې دا ده چی پنځوس ګزه پريږدی.اواخوا تيريږی

(۲)او د بعضو قول دا دې چی د مصلی او د قبلی د ديوال په مخ کي تيريدل مناسب نه دی. بلکه د ديوال هغه طرف ته ذی تيريږی.

صاحب د هدايه فرمائی چی د مونځ ګذار وړاندې دتيريدولو کراهت په هغه وخت کي دې چی د مونځ ګذار او تيريدونکی په مينځ کي څه څيز حائل نه وی.لکه ستن،ديوال ،ستره،يا ناست سړې ،وغيره اوکه څه څيز حائل وی.نو تيريدونکی ګناهګار نه دې. ددی نه پس فرمائی.که يو کس په دوکانچی باندې مونځ کوی.نو مخکې تيريدونکی به په هغه وخت کي ګناهګار وی چی د تيريدونکی اندامونه د مصلی د اندامو سره برابر او مخامخ شی.اوکه دسړی قد برابر اوچت ځائې باندې مونځ کوی.نو د هغی نه وړاندې تيريدونکی ګناهګار نه دې.

****

۱۴۰_ باب مَا جَاءَ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ

هيڅ يو شي مونځ لره نه باطل کوي

۳۳۷ (حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كُنْتُ رَدِيفَ الْفَضْلِ عَلَى أَتَانٍ، فَجِئْنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ بِمِنًى، قَالَ: فَنَزَلْنَا عَنْهَا فَوَصَلْنَا الصَّفَّ فَمَرَّتْ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ فَلَمْ تَقْطَعْ صَلَاتَهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَالْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ

الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنَ التَّابِعِينَ. قَالُوا: لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ، وَبِهِ يَقُولُ: سفيان الثوري، وَالشَّافِعِيُّ.[1]

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائيل يې چي زه په يو خر باندي دخپل ورور فضل بن عباس رضي الله عنهما شاته سور وم چي مونږ راغلو او رسول الله صلي الله عليه وسلم په منې کي صحابه کرامو ته مونځ ورکولو مونږ دخر نه کوز شواو په صف کي شامل شو او دا خر دخلقو مخي ته تيريدو راتيريدو او په دي باندي ددي خلقو مونځ باطل نشو.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دعائشه، فضل بن عباس، او ابن عمرر ضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او داکثرو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي دوئ وائي چي مونځ دهيڅ يو څيز نه فاسدوي ، سفيان ثوري او امام شافعي هم په دي باندي قول کړي دي.

****

۱۴۱_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّهُ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ إِلَّا الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ

مونځ لره دسپي او خر او ښځي تيريدو نه علاوه بل هيڅ يوشي نه فاسدوي

۳۳۸_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَمَنْصُورُ بْنُ زَاذَانَ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا صَلَّى الرَّجُلُ وَلَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ كَآخِرَةِ الرَّحْلِ أَوْ كَوَاسِطَةِ الرَّحْلِ، قَطَعَ صَلَاتَهُ الْكَلْبُ الْأَسْوَدُ وَالْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ " فَقُلْتُ لِأَبِي ذَرٍّ: مَا بَالُ الْأَسْوَدِ مِنَ الْأَحْمَرِ مِنَ الْأَبْيَضِ؟ فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِي سَأَلْتَنِي كَمَا سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: " الْكَلْبُ الْأَسْوَدُ شَيْطَانٌ " قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَالْحَكَمِ بْنِ عَمْرٍو الْغِفَارِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَيْهِ، قَالُوا: يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ

---

[1] _ صحيح البخاری في العلم ۱۸ (۷٦) والصلاة ۹۰ (۴۹۳) . والأذان ۱٦۱ (۸٦۱) . وجزاء الصيد ۲۵ (۱۸۵۷) . والمغازي ۷۷ (۴۴۱۱) . صحيح مسلم في الصلاة ۴۷ (۵۰۴) . سنن ابي داود في الصلاة ۱۱۳ (۷۱۵) . سنن النسائي في القبلة ۷ (۷۵۳) . سنن ابن ماجه في الإقامة ۳۸ (۹۴۷) (تحفة الأشراف : ۵۸۳۴) . مسند احمد (۱ في ۲۱۹، ۲٦۴، ۲٦۵، ۳۴۷، ۳۴۲، ۳٦۵) . سنن الدارمي في الصلاة ۲۹ (۱۴۵۵)

وَالْكَلْبُ الْأَسْوَدُ. قَالَ أَحْمَدُ: الَّذِي لَا أَشُكُّ فِيهِ أَنَّ الْكَلْبَ الْأَسْوَدَ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ، وَفِي نَفْسِي مِنَ الْحِمَارِ وَالْمَرْأَةِ شَيْءٌ. قَالَ إِسْحَاق: لَا يَقْطَعُهَا شَيْءٌ إِلَّا الْكَلْبُ الْأَسْوَدُ. (1)

ترجمه : دابو ذر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي څوك مونځ كوي او دده مخي ته دكجاوي داخري لرګي برابر كوم څيز ولاړ نه وي نو دتور سپي او خره او ښځي دتيريدو سره دده مونځ باطل كيږي، ما دابوذر نه واوريدل فرمائيل يي چي دسور او سپين سپي په مقابله كي دتور سپي څه خصوصيت دي؟ هغه اووئيل اي وراره تاخو زمانه دداسي څيز سوال اوكړو دكوم په باره كي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس كړي وو او راته يي فرمائيلي يي وو چي تورسپي شيطان دي.

امام ترمذي وائي دابوذر رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوسعيد خدري، حكم بن عمرو غفاري، ابوهريره، انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، بعضي اهل علمو ديته ميلان كړي دي چي دخر او ښځي او تور سپي تيريدل دمونځ ګذارو مونځ باطل كوي، داحمد بن حنبل قول دي زما په دي كي هيڅ شك نشته چي دتور سپي تيريدل مونځ فاسدوي ليكن دخر او دښځي دتيريدو په باره كي زما شك او شبه ده ، اسحاق بن راهوي وائي دتور سپي دتيريدو نه علاوه بل دهيڅ شي تيريدل دچا مونځ نه فاسدوي.

امام ترمذي وائي دابوجهيم حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د ابوسعيد خدري ، ابوهريره، ابن عمر، او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا هم منقول دي چي فرمائيل يي په تاسو كي دي يو كس سل كاله (منتظر) اودريدل ددينه بتهر دي چي هغه خپل مونځ ګذار ورور مخي ته تير شي، داهل علمو په دي باندي عمل دي او هغوئ دمونځ ګذار مخي ته تيريدل مكروه ګڼړلي دي ليكن دهغوئ دا رائي نه ده چي په دي باندي مونځ باطل كيږي.

تشريح : **د مونځ ګذار مخكي د ښځي تيريدل**

د مونځ ګذار مخكي د ښځي او سپي او خر تيريدلو سره د مونځ نه ماتيدو متعلق دمذاهب ثلاثه بيان

---

1 _ صحيح البخاري في الصلاة ١٠١ (٥١٠) . صحيح مسلم في الصلاة ٤٨ (٥٠٤) . سنن ابي داود في الصلاة ١٠٩ (٧٠١) . سنن النسائي في القبلة ٨ (٧٥٧) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٣٧ (٩٣٥) . (تحفة الأشراف : ١١٨٨٣) . موطا امام مالك في قصر الصلاة ١٠ (٣٣) . مسند احمد (٣ في ١٦٩) . سنن الدارمي في الصلاة ١٣٠ (١٤٥٦)

(۱) دجمهورعلمارِ قول دادی چي دمونځ ګدار مخکې د ښځې تيريدل مونځ نه ماتوی.ښځه که حائضه وی اوکه غيرحائضه وی.دغه شان د سپي او خر تيريدل هم مونځ نه فاسدوی

(۲) اهل ظواهروائی چې ددی دری وارو څيزونو تيريدل مونځ ماتوی.د امام احمدبن حنبل مشهور قول هم دا دې.

د اهل ظواهر دليل : د رسول پاك صلي الله عليه وسلم قول دې (تقطع المرأة الصلاة والكلب والحمار) دا حديث د ابوذرغفاری(رضي الله عنه) نه نقل دې(عنايه ,كفايه) يعنی د ښځی سپی او خر تيريدل د مونځ فاسدونكی دی.د جمهورو د دلائلو نه وړاندې د فاضل جلال الدين بن شمس الدين الخوارزمی صاحب د كفايه په ژبه كي د اصحاب ظواهر د پيش كړی حديث جواب واورئ.فاضل موصوف فرمائی چی په كوم وخت كي عائشی رضی الله عنهاته دا حديث اورسيدلو.نو هغوی ددی نه انكار اوكړو.او عروه ته مخاطب شوه او ويي فرمائيل:

(يا عروة ما ذا يقول أهل العراق قال يقولون يقطع الصلاة مرور المرأة والحمار والكلب فقالت يا أهل العراق والشقاق والنفاق قرنتمونا بالكلاب والحمار كان رسول الله صلي الله عليه وسلم يصلي بالليل وأنا معترضة بين يديه إعتراض الجنازة فإذا سجد حبست رجلى وإذا قام مددتها)

يعنی ای عروه اهل عراق څه وائی. عروه اوفرمائيل چی اهل عراق وائی چی د ښځی خر او سپی تيريدل مونځ قطع كوی.نو عائشه رضی الله عنها اوفرمائيل.ای اهل عراق والشقاق والنفاق تاسو مونږ ښځی د سپو او خرو سره برابروئ.رسول الله به د شپی موځ كولو.او زه به مخامخ ملاسته ووم.لكه څنګه چی جنازه كيخودی شی.كله چی به رسول پاك صلي الله عليه وسلم سجده كوله نو ما به خپلي پښې راغونډولې.اوكله چی به رسول پاك صلي الله عليه وسلم اودريدلو.نو پښې به می خوروليې.

ددی واقعي نه معلومه شوه چی ام المومنين عائشه رضی الله عنها د حديث نه د ابوذر(رضي الله عنه) په سختۍ سره انكار اوكړو.او د مصلی وړاندې د ښځی په تيريدو سره د مونځ فاسديدل ئې په سخته لب او لهجه كي ترديد اوكړو.د زيات نه زيات دا اعتراض كيدلی شی چی بحث د مصلی وړاندې په تيريدو كي دې.د پښو په خورلو كي نه دې.اود عائشی رضی الله عنها د بيان نه د پښو خورول او خملاستل ثابتيږی.د مونځ ګذار وړاندې تيريدل تري نه ثابتيږی .جواب دا دې چی كله ئې پښې خوری كړی وی.اوملاسته وی.نو دا مونځ نه ماتوی.نو تيريدل خو به په درجه اولی سره مونځ نه ماتوی.

د جمهورو دليل: د رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد دې (لا يقطع الصلاة مرور شئ فادرأوا ماستطعتم فإنه شيطان)يعنی د هيڅ څيز تيريدل مونځ نه فاسدوی چی څومره كيدی شی

دفع کوئ.ځکه چې دا شیطان دې.خو دومره خبره ضرور ده چې د مونځ ګذار مخکې تیریدونکی ګناهګار دې.ځکه چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائیلی دی:

(لو علم المار بين يدي المصلي ما ذا عليه من الإثم لوقف أربعين) يعنې كه د مونځ ګذار مخکې تیریدونکی ته پته لګیدله چې دی څومره ګناهګاریږی. نو څلويښتو پورې به ولاړ وو.راوی وائي.چې ماته معلومه نه ده چې څلويښت کاله دی که څلويښت مياشتي اوکه څلويښت ورځې.بعضې علماو وئيلی دی چې د ابوهريره (رضي الله عنه) دحديث نه په طريقه د صحت سره ثابته ده چې څلويښت کاله مراد دی.

****

١٤٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ

په يوه جامه كي دمونځ كولو بيان

٣٣٩ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ مُشْتَمِلًا فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ، وَسَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ، وَأَنَسٍ، وَعَمْرِو بْنِ أَبِي أَسِيدٍ، وَعُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَكَيْسَانَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، وَأُمِّ هَانِئٍ وَعَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، وَطَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ، وَعُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنَ التَّابِعِينَ، وَغَيْرِهِمْ قَالُوا: لَا بَأْسَ بِالصَّلَاةِ فِي الثَّوْبِ الوَاحِدِ، وَقَدْ قَالَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ: يُصَلِّي الرَّجُلُ فِي ثَوْبَيْنِ. ([1])

ترجمه : دعمر بن ابي سلمه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم لره دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها په كور كي په داسي حال كي اوليدو چي مونځ يي كولو او يوه جامه يي دځان نه راتاؤ كړي وه.

[1] ـ صحيح البخاري في الصلاة ٤ (٣٥٦)، صحيح مسلم في الصلاة ٥٢ (٥١٧)، سنن ابي داود في الصلاة ٧٨ (٦٢٨)، سنن النسائي في القبلة ١٤ (٧٦٥)، سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٩ (١٠٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٦٨٤)، وكذا (١٠٦٨٢)، موطا امام مالك في الجماعة ٩ (٢٩)، مسند احمد (٤ في ٢٦،٢٧)

امام ترمذي واي دعمر بن ابي سلمه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوهريره، جابر، سلمه بن الاكوع، انس، عمرو بن ابي اسيد، ابوسعيد خدري، كيسان، ابن عباس، عائشه، ام هاني، عمار بن ياسر، طلق بن علي، او عباده بن الصامت رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، دصحابه كرامو او ددوئ نه پس دتابعينو او داكثر اهل علمو په همدي باندي عمل دي دوئ وائي چي په يوه جامه كي په مونځ كولو كي هيڅ حرج او قباحت نشته او دبعضي اهل علمو قول دي چي بنده به په دوه جامو كي مونځ كوي.

دعمر بن ابي سلمه عبدالله بن عبدالاسد رضي الله عنه حالات:

عمر دام سلمه رضي الله عنها بچى دى كوم چي ددي دمخكني خاوند ابوسلمه نه پيدا شوى وو عمر دهجرت نه دوه كاله مخكي پيداشوى وو او دا هغه وخت وو كله چي ام سلمه په حبشه كي وه عمر پخپلو خويندو او رونړو كي دټولو نه مشر وو كله چي دام سلمه رضي الله عنها سره درسول الله صلي الله عليه وسلم نكاح اوشوه په دي وخت كي دى ماشوم وو او بيا ددينه پس درسول الله صلي الله عليه وسلم په فرورش كي راغى دى درسول الله صلي الله عليه وسلم نه هم براه راست روايات نقل كوي او دخپلي مور ام سلمه رضي الله عنها نه هم نقل كوي (سير اعلام النبلاء).

عمر دعبدالملك بن مروان په زمانه كي وفات شو (اسد الغابه) دابن الاسير په قول دده دوفات كيدو كال ۸۳هجري دى.

****

١٤٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي ابْتِدَاءِ الْقِبْلَةِ

دقبلي دابتداء بيان

٣٤٠ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ صَلَّى نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (البقرة) فَوَجَّهَ نَحْوَ الْكَعْبَةِ وَكَانَ يُحِبُّ ذَلِكَ، فَصَلَّى رَجُلٌ مَعَهُ الْعَصْرَ، ثُمَّ مَرَّ عَلَى قَوْمٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُمْ رُكُوعٌ فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، فَقَالَ: هُوَ يَشْهَدُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَّهُ قَدْ وَجَّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ، قَالَ: فَانْحَرَفُوا وَهُمْ رُكُوعٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعُمَارَةَ

بْنِ أَوْسٍ، وَعَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ الْبَرَاءِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَاهُ سفيان الثوري، عَنْ أَبِي إِسْحَاق. ([1])

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته راغلو نو دشپاړسو نه تر اولس مياشتو پوري يي بيت المقدس ته دمتوجه كيدو په حالت كي مونځ كړي وو، مګر رسول الله صلي الله عليه وسلم كعبي طرف ته مونځ كول خوښول نو الله تعالي دا ايت كريمه:

"قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (البقرة)"

نازل كړو، يعني مونږ بار بار اسمان طرف ته ستا دمخ متوجه كيدل وينو نو اوس به مونږ تالره هغه قبلي ته متوجه كړو په كومه چي به ته خوشحاله شي پس راوګرځوه مخ خپل مسجد حرام طرف ته نو ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم كعبي طرف ته راستون كړو او دا به يي غوښتل هم ، يوكس درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دمازيګر مونځ اوكړو او بيا په څه انصاري كسانو باندي تيريدلو او هغوئ بيت المقدس طرف ته دمازيګر مونځ كولو ده ورته اووئيل زه ګواهي وركوم چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په داسي حال كي مونځ كړي دي چي كعبي طرف ته يي مخ ګرځولي وو نو هغوئ هم دركوع په حالت كي كعبي طرف ته راوګرځيدل.

امام ترمذي وائي دبراء حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عمر. ابن عباس. عماره بن اوس، عمروبن عوف مزني، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : تحويل دقبلي يو عظيم الشان انقلاب وو كه چري دفعةً په يوځل باندي دقبلي دتحويل حكم نازل شوي وي نوطبيعتونو به ورسره موافقت نه ووكړي اومن وجه دانكار صورت به پيداشوي وو ، پدي خبر وركولوسره ددغه صورت دپيداكيدو احتمال باقي پاتي نشو اودتحويل حكم په زړونو كي راسخ شو، همدارنګي مخكي دوخت نه ددي اعتراض دپاره مستعد كول مطلوب دي قبله په اصل كي د څه شي نه دمخكي كيدلو حالت او هيئت ته وئيلي شي لكه چي جلسه دناستي حالت ته وئيلي شي بيا په طور دنقل سره ددي اطلاق په هغه

---

[1] ـ صحيح البخاري في الإيمان ٣٠ (٤٠) . والصلاة ٣١ (٣٩٩) . وتفسير البقرة ١٢ (٤٤٨٦) . و١٨ (٤٤٩٢) . وأخبار الآحاد (٧٢٥٢) . صحيح مسلم في المساجد ٢ (٥٢٥) . سنن النسائي في الصلاة ٢٢ (٤٨٩، ٤٩٠) . والقبلة ١ (٧٤٣) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٦ (١٠١٠) . (تحفة الأشراف : ١٨٠٢) . وكذا (١٨٢٩) . مسند احمد (٤ في ٢٨٣، ٢٨٨، ٣٠٤) . ويأتي عند المؤلف في تفسير البقرة (٢٩٦٢)

مكان باندي جاري شو كوم طرفته چي خلق دمونځ دپاره مخ ګرځوي ، يهوديانو اومشركانو چي د بيت المقدس نه كعبي طرف ته په تحويل باندي اعتراض اوكړو نوپدغه وخت كې آيت كريمه"فلنولينك قبلة ترضاها" نازل شو

ابن جرير دسدي په سند سره بلكه په مختلفو سندونو روايت نقل كړي دي چي كله الله تعالى خپل نبي ته دكعبي طرف ته دمخ ګرځولو حكم اوكړو نو دمكي مشركانو اووئيل چي محمد (صلي الله عليه وسلم) اوس پخپل دين كې حيران شوي دي اوداګمان كوي چي مونږ په سمه لار باندي يو نوپدي وجه يي خپله قبله پريخودله او زمونږ قبله يي اختيار كړه اونږدي ده چي زمونږ په دين كې شامل شي ، علامه بغوي وائي چي دتحويل قبلي په باره كې يهوديانو معاذ بن جبل رضي الله عنه ته اووئيل چي محمد صلي الله عليه وسلم زمونږ قبله دحسد په وجه پريخودله.

ټول جهتونه او تمام مكانات دالله تعالى دي او استقبال قبله عبادت دي اوپه عبادت كې دالله په حكم باندي اعتماد كول پكاردي دكوم خصوصيت مكاني لحاظ پدي كې معتبر ندي نومونږ ته چي الله تعالى دكعبي طرف ته دمخ كولو حكم كړي دي پدي وجه مونږ ددي اتباع كوو

چنانچه په حديث شريف كې وارد دي چي كله دتحويل قبله حكم وارد شونوبعضي مسلمانان يهوديت ته واوړيدل اودائي وويل چي محمد عليه السلام بيا دخپل پلار نيكه دين ته را اوګرځيدو

سوال: چي علم دالله تعالى خو قديم دي نودتحويل قبلي غاية څنګه متصور كيدي شي هغه ته خو دمخكې نه دهرڅه حالت معلوم دي؟

بعضو دا جواب كړي دي چي دعلم نه مراد تميز دي كوم چي دعلم سبب دي دسبب په نوم مسبب مسمي شوي دي

دالله تعالى علم ازلي، قديم، محيط كل دي ، هغه ته هريوشي دهغه دپيدائش نه ډير مخكې په ازل كې معلوم وواوعلم ئي داحتياج زماني نه پاك دي او اجمالي دي ليكن اجمالي ناقص ندي ،زمونږ اجمالي علم ناقص وي اود الله تعالى اجمالي علم ناقص نه وي

داجمالي قيد لګولو فائده صرف داده چي دهرڅيز دوجود نه مخكې په مجموعي حيثيت سره دهغه انكشاف كيږي ،ددي تعلق دحدوث شيء سره نه وي يعني دشي وجود بالفعل موقوف ندي ، پدي وجه باندي داد الله تعالى صفت كماليه دي ، ليكن دالله تعالى سره يوبل علم هم دي كوم ته چي تميز ياظهور فعلي ويلي شي اوداد حادثاتو علم وي اود شي دوجود نه پس وي نوپدي وجه دا علم دالله تعالى صفت كماليه ندي .

چنانچه مروي دي چې حيي بن احطب يهودي اودده ملګرو مسلمانانو ته وئيلي ووتاسوچه څومره زمانه بيت المقدس ته مونځونه کړي دي دا هدايت وو اوکه ګمراهي وه که هدايت وو نوتاسوخو بيا هدايت پريخودواوکه چرې ګمراهي وه نوبياخو تاسوپه ګمراهئ کې دالله تعالي عبادت کړي دي ددي په جواب کې مسلمانانو ووئيل چې هدايت هغه وي په کوم کار چې الله تعالي حکم کړي وي اوګمراهي دهغه دممنوع شده څيزونو ارتکاب دي ترڅوپورې چې بيت المقدس ته دمونځ کولو اجازت ووترهغه وخته پورې هدايت وو اوکله چې ورنه منع راغله نو ګمراهئ شوه دتحويل قبلې نه مخکې دبنو النجار قبيلي نه اسعد بن زراره اودبني سلمه نه براء بن معرور وفات شوي وو اودوي دواړه دنقباؤ نه وو اوددينه مخکې ډير خلق مړه شوي وو دهغوي عزيزان او اقارب رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلل اوعرض ئې وکړو چې اي دالله رسوله الله تعالي خوتاته ابراهيمي قبلې ته دمخ کولو حکم کړي دي اوزموږ وفات شوو اقاربو او عزيزانو چې دوفات نه مخکې بيت المقدس ته مونځونه کړي دي دهغوي به څه حال وي؟نوپدي وخت کې الله تعالي آيت کريمه وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ نازل شو.

په صحيحينو کې دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي چې دتحويل قبله نه مخکې ډيرخلق مړه شوي اوشهيدان شوي دي موږته داعلم نه وو چې دهغوي په باره څه ووايو(يعني مونځونه ئې قبول شوي دي اوکه نه) نو آيت کريمه وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ نازل کړو

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم زړه داغوښتل چې دمونځ متعلق کعبي ته دمخ ګرځولو حکم اوشي ځکه چې هغه ابراهيمي قبله وه چې مومنانو لره دايمان او مشرکانو لره دمخالفت طرف ته مائل کونکي وه ، دايت دتحويل قبله دقصې ابتدائي حصه ده، اوپه تلاوت کې وروسته کړي شوي ده ، دهجرت نه پس په منسوخ شوو احکاموکې اولني حکم همدا دي اوپدي کې اختلاف هم دي چې دهجرت نه مخکې قبله بيت الله وه اوکه بيت المقدس ، بعضو ويلي دي چې په مکه کې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيت المقدس طرف ته مونځ کولواوکعبه به ورته هم مخامخ وه ، داحديث امام احمد دابن عباس رضي الله عنهما نه په جيد سند سره نقل کړي دي اوبعضووئيلي دي چې مطلقا به ئې بيت المقدس طرف ته مونځ کولواو ددي ذکر ئې ندي کړي چې قبله به ورنه کوم طرف ته وه.

علامه بغوي فرمائي چې په مکه کې رسول الله صلي الله عليه وسلم کعبي طرف ته مونځ کولواودهجرت کولونه پس چې مديني ته راغي نودبيت المقدس طرف ته متوجه شو، چنانچه ابن جريرپه خپل تفسير کې دابن عباس رضي الله عنهما نه په جيد سند سره نقل کړي دي چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته هجرت وکړو نو الله تعالي ورته حکم وکړو چې دبيت المقدس طرف مخ ستون کړه

ابن جرير وائي چي اول به رسول الله صلي الله عليه وسلم د كعبي طرف ته مونځ كولو او بيا په مكه كې داوسيدو په حالت كې ورته دبيت المقدس طرف ته دمونځ كولو حكم اوشو تردي چي دري كاله يي دبيت المقدس طرف ته مونځ اوكړو او بيايي مديني ته هجرت اوكړو ، اولني قول يعني دعلامه بغوي مسلك زيات صحيح او قوي دي اوډير احاديث ددي تائيد كوي.

پدي كې اختلاف هم دي چي دهجرت نه پس دبيت المقدس طرف ته رسول الله صلي الله عليه وسلم څومره زمانه مونځ كړي وو دابو داود په نزد باندي دابن عباس په روايت سره اولس مياشتي دي اودطبراني اوبزار په نزد باندي دعمرو بن عوف دروايت مطابق او دابن ابي شيبه او ابوداود وغيره په نزد دابن عباس دروايت مطابق اودامام مالك او سعيد بن مسيب دقول مطابق شپاړس مياشتي وي اودبخاري په نزد هم دبراء بن عازب دروايت مطابق شپاړس مياشتي وي ، حق دادي چي شپاړس مياشتي او يو څو ورځي رسول الله صلي الله عليه وسلم بيت المقدس طرف ته مونځ كړيدي ځكه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمكي نه دربيع الاول په پنځم تاريخ د دوشمبي په ورځ هجرت كړيوو اومديني ته په دولسم ربيع الاول د دشنبي په ورځ داخل شوي وو او دتحويل قبله حكم دصحيح قول مطابق پنځلسم رجب اوپه دويم هجري كال د بدر دواقعي نه دوه مياشتي مخكې د زوال په وخت كې شوي وو جمهورو علماؤ دا قول راجح ګرځولي دي اوڅوك چي داولس مياشتو قائل دي دهغي وجه داده چي هغوئ تولي مياشتي ډكي حسابي كړي دي اوپه كومو روايتونوكې چي ديارلس يا نولس يا اتلس مياشتي ذكر شوي دي يا دوه مياشتي او دوه كاله ذكر شوي دي دا ټول ضعيف اقوال دي په مدينه كې چي كله رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف فرما وو نو يهوديانو به وئيل چي محمد خوپه دين كې زمونږ مخالفت كوي ليكن تابعداري زمونږ دقبلي كوي پدي وجه باندي به رسول الله صلي الله عليه وسلم دا غوښتل چي قبله دي بيت الله شي ، چنانچه نبي كريم صلي الله عليه وسلم جبريل عليه السلام ته خپله دا تمنا ظاهره كړيوه چي بيت الله چونكه زما دپلار نيكه قبله ده نوپدي وجه باندي زما دا خواهش دي چي الله تعالي دا قبله جوړه كړي ،جبرائيل عليه السلام عرض اوكړو چي يقينا زه ستا پشان بنده يم او ته دالله تعالي په نزد باندي دمرتبي په لحاظ زمانه زيات يي پخپله دالله تعالي نه سوال اوكړه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دعا وغوښتله اودالله تعالي دحكم په انتظار كې يئي اسمان طرف ته كتل تر دي چي الله تعالي يي دعا قبوله كړه او مذكوره ايت نازل شو.

چنانچه ترمذي دابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل كړيدي چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمشرق اودمغرب په مينځ كې قبله ده ددي حديث نه په واضح طور معلومه شوه چي دلري اوسيدونكو دپاره قبله جهت دكعبي دي.

پدي حديث کې دمشرق نه دوړو ورځو مشرق مراد دي او همدارنګي دمغرب نه هم دوړو ورځو مغرب مراد دي ددي په مينځ کې جنوبي جهت دي دا داهل مدينه قبله ده اوهمدارنګي دهر ملك دخلقو دپاره جدا قبله ده چنانچه داهل هند دپاره ددوه مغربونو په مينځ کې قبله ده.

په مواهب او سبيل الرشاد کې ذکر شوي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دبنو سلمه قبيلي ام بشر ، ابن براء بن معرور سره دملاقات دپاره دبراء دانتقال نه پس تشريف وړي وو ام بشر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته خوراك تيار کړو اوهلته په رسول الله صلي الله عليه وسلم باندي دماسپخين وخت راغي اوهغه سره دخپلو ملګرو دبني سلمه په جومات کې مونځ ادا کړو کله چې هغه دوه رکعتونه اوکړل نوجبرائيل عليه السلام راغي او اشاره يې وکړه چې دبيت الله طرف ته راوګرځه رسول الله صلي الله عليه وسلم دمونځ په مينځ کې دکعبي طرف ته راوګرځيدو په کومو ځايونو کې چې سړي وو هلته ښځي راغلي اوپه کومو ځايونو چې ښځي وي هلته سړي لاړل غرض دادي چې ټول په مونځ کې وګرځيدل هم پدي وجه باندي دي جومات ته مسجد القبلتين وئيلي شي.

واحدي وئيلي دي چې زمونږ په نزد باندي دا قصه په انتهائي قوي سند سره ثابته ده غرض داچه رسول الله صلي الله عليه وسلم دماسپخين دوه رکعتونه دبيت المقدس طرف ته کړي وو او باقي دوه رکعتوه يې دکعبي طرف ته اوکړل ، عباد بن بشر رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره مونځ اوکړو او روان وو چې هغه اوليدل چې بني حارث دمازيګر مونځ کوي اوده ورته په رکوع کې په اوچت اواز سره اووئيل چې زه درته په الله تعالي باندي دقسم سره وايم چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم سره بيت الله طرف ته مونځ اوکړو او راغلم هغوئ چې دا واوريدل نوفورا دبيت الله طرف ته راوګرځيدل.

اوپه صحيح بخاري کې دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم چې اول کوم مونځ دکعبي طرف ته کړي وو هغه دمازيګر مونځ وو . دا حديث دړومبنئ حديث خلاف دي ځکه چې د هغه نه معلوميږي چې اولني مونځ رسول الله صلي الله عليه وسلم کعبي ته دمازيګر کړي وو. (مظهري، در منثور)

ليکن تحقيق دادي چې دماسپخين مونځ يې کړي وو اوپه نورو حديثونو کې چې دمازيګر ذکر راغلي دي ممکن ده چې براء بن عازب ته دبني سلمه په جومات کې دماسپخين نه مخکې اطلاع نه وي شوي يادهغه مراد داوي چې ټول مونځ چې دټولو نه مخکې دقبلي طرف ته شوي دي هغه دمازيګر وو ځکه چې دماسپخين خو صرف دوه رکعتونه دقبلي طرف ته شوي وو يا دا چې رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل جومات کې دکعبي طرف ته اولني مونځ دمازيګر کړي وو اودتحويل قبلي خبر قباء والاته بله ورځ دمازيګر په مونځ کې اوشو.

چنانچه په صحيحينو کې دابن عمر رضي الله عنهمانه مروي دي چې په قباء کې خلقو دسحر مونځ کولو او يو کس راغي او ويې وئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم ته چې دالله تعالي دطرف نه کعبي ته دمخ گرځولو حکم شوي دي نوهغوئ په دغه وخت کې ټول دقبلې طرف ته راوگرځيدل مخکې به ددوئ مخ دشام طرف ته وو ، رافع بن خديج وائي چې مونږ په بني عبد الاشهل کې مونځ کولو چې يو کس راغي چغې يې وهلې چې رسول الله ته دقبلې طرف ته دمخ گرځولو حکم شوي دي زمونږ امام چې دا واوريدل نو دقبلې طرف ته ستون شو اومونږ ټول ورسره هم اوگرځيدو.

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم بيت المقدس ته تشريف يوړو نودبيت الله په ټولو گوټونوکې يې دعا اوغوښتله او دننه يې پکې مونځ اوکړو کله چې بهر راغي نو دکعبي طرف ته متوجه شو او دوه رکعاته مونځ يې اوکړو او ويې فرمائيل چې دا قبله ده.

په صحيحينو کې دعبدالله بن عمرورضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم او ورسره اسامه ، بلال عثمان بن طلحه رضي الله عنهم کعبي ته دننه تشريف يوړو او دروازه يې بنده کړه ابن عمررضي الله عنهما فرمائي کله چې دوئ ټول رابهرشول نو مادبلال نه تپوس اوکړو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دننه څه اوکړل بلال رضي الله عنه اوفرمائيل چې خپل ښي طرف ته يې دکعبي دوه ستني پريخودي او يوه ستن يې دځان نه چپ طرف ته پريخوده او د دري ستنونه شاته يې مونځ اوادريدو ، دراوي بيان دي چې په دغه وخت کې په بيت الله کې شپږستني وې زه وايم پدې دواړه حديثونو کې څه تعارض نشته ځکه چې ممکن ده چې يو ځل يې دراوتو نه پس مونځ کړي وي اويو ځل يې دننه مونځ کړي وي. (مظهري، در منثور)

****

٣٤١_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. عَنْ سُفْيَانَ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ. عَنْ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ: كَانُوا رُكُوعًا فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

1 _ صحيح البخاري في الصلاة ٣٢ (٤٠٣) ، وتفسير البقرة ١٣ (٤٤٨٨) ، و١٦ (٤٤٩٠) ، و١٧ (٤٤٩١) ، و٨ (٤٤٩٢) ، و١٩ (٤٤٩٣) ، و٢٠ (٤٤٩٤) ، صحيح مسلم في المساجد ٢ (٥٢٦) ، سنن النسائي في الصلاة ٢٤ (٤٩٣) ، والقبلة ٢ (٧٤٦) ، (تحفة الأشراف: ٧١٥٤) ، وكذا (٧٢٢٨) ، موطا امام مالک في القبلة ٢ (١) ، مسند احمد (٢ في ١١٣)

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي مذكوره انصار دسحر په مونځ كي دركوع په حالت كي وو امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي.

****

١٤٤_ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ

دمشرق او دمغرب په مينځ كي چي څومره فاصله ده دا ټوله قبله ده

٣٤٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي مَعْشَرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ".[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمشرق او مغرب مينځ كي چي څومره فاصله ده دا ټوله قبله ده.

تشريح : دا حكم په اتفاق فقهاؤ او محدثينو دهغه چا دپاره دي ځوك چي دكعبي په جنوب يا شمال كي واقع وي ځكه چي مدينه دكعبي په شمال كي واقع ده نو په دي وجه ددوئ قبله دمشرق او مغرب مينځ كي واقع كيږي يعني جنوب طرف ته ځي، په دي كي ضابطه داده ځوك چي په مسجد حرام كي مونځ كوي هغه به خپل مخالف طرف ته مخ گرځوي مثلاً چي په مشرق كي وي نو مغرب طرف ته به مخ گرځوي او ددي په عكس هم او ځوك چي په شمال كي وي هغه به جنوب ته مخ اړوي او ددي بالعكس هم خو په دي شرط چي كعبه مخامخ وي علي هذا القياس كله چي دي دائري ته وسعت وركړي شي نو بيا به هم دا حكم وي چي جهت به په هره وجه معتبر وي لهذا ځوك چي په جنوب مشرق كي واقع وي هغه دپاره مغرب ته مائل كيدل پكار دي او ځوك چي په جنوب مغرب كي واقع وي هغه دپاره مشرق ته مائل كيدل پكار دي او ځوك چي په شمال مشرق كي واقع وي نو هغه به مغرب طرف ته دقبلي دپاره مائل كيږي او ځوك چي په مغرب كي واقع وي دهغه دقبلي ميلان به مشرق طرف ته وي.

اوځوك چي په مسجد حرام كي داخل وي دهغه دپاره مواجهت الي عين الكعبه ضروري دي او دبهر نه راتلونكو خلقو دپاره جهت ضروري دي نه چي عين كعبي ته ځكه چي دا ممكن نه ده او كه په دي كي لږ شان غلطي واقع شي نو تر ۴۵ درجي زاويه پوري گنجائش شته او زيات گنجائش نشته ورنه مونځ به فاسد شي.

[1] ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٦ (١٠١١). (تحفة الأشراف: ١٥١٢٢)

البته دامام شافعي يو قول دادي په كتاب الام كي يي ليكلي دي چي امام شافعي دغائبينو دپاره هم عين كعبي طرف ته متوجه كيدل فرض گرځولي دي، مگر په معارف السنن كي دي ددي مطلب دادي دچادپاره چي توجه ممكن وي هغه به عين كعبي ته متوجه كيږي ځكه چي د لري علاقو خلقو دپاره عين كعبي طرف ته متوجه كيدل تكليف بما لا يطاق دي، دجهت په باره كي احنافو ليكلي دي چي په جهت كي انحراف كه د ۴۵ ډگري نه كم وي نو جائز دي او كه ددينه زيات وي نو بيا مونځ نه كيږي او اداء كړي مونځ به يي واجب الاعاده وي.

****

٣٤٣ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي مَعْشَرٍ مِثْلَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ. وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ فِي أَبِي مَعْشَرٍ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَاسْمُهُ: نَجِيحٌ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، قَالَ مُحَمَّدٌ: لَا أَرْوِي عَنْهُ شَيْئًا، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ النَّاسُ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَحَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ المَخْرَمِيِّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُحَمَّدٍ الأَخْنَسِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَقْوَى مِنْ حَدِيثِ أَبِي مَعْشَرٍ وَأَصَحُّ.[1]

ترجمه : ديحي بن موسي بيان دي چي محمد بن ابي محشر دسابقه روايت هم معني حديث بيان كړو.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث ددي سند نه علاوه په يو بل سند هم مروي دي مگر بعضي محدثينو په ابو معشر راوي باندي دحفظ په اعتبار كلام كړي دي او دابو معشر نوم نجيح مولي بن هاشم دي.

دامام بخاري قول دي چي زه دابو معشر نه روايت نه نقل كوم مگر ډيرو خلقو دده نه اخذ درروايت كړي دي، دامام بخاري قول دي حديث د عبدالله بن جعفر مخرمي عن عثمان بن الاخنسي عن سعيد المقبري عن ابي هريرة زيات قوي او اصح دي دحديث دابو معشر نه.

****

٣٤٤ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ بَكْرٍ المَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا المُعَلَّى بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ المَخْرَمِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُحَمَّدٍ الأَخْنَسِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا بَيْنَ المَشْرِقِ وَالمَغْرِبِ قِبْلَةٌ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَإِنَّمَا قِيلَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ المَخْرَمِيُّ، لِأَنَّهُ مِنْ وَلَدِ المِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٦ (١٠١١). (تحفة الأشراف: ١٥١٢٣)

مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ" مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَابْنُ عَبَّاسٍ، وقَالَ ابْنُ عُمَرَ: "إِذَا جَعَلْتَ الْمَغْرِبَ عَنْ يَمِينِكَ وَالْمَشْرِقَ عَنْ يَسَارِكَ، فَمَا بَيْنَهُمَا قِبْلَةٌ إِذَا اسْتَقْبَلْتَ الْقِبْلَةَ"، وقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ هَذَا لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ، وَاخْتَارَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ التَّيَاسُرَ لِأَهْلِ مَرْوٍ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت.دي چي نبي كريم سلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمشرق او مغرب په مينځ كي چي كوم طرف دي دا قبله ده

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دمتعددو صحابه كرامو نه مروي دي چي دمشرق او مغرب مينځ كي طرف قبله ده چي يو په دوئ كي عمر بن خطاب، علي بن ابي طالب، او ابن عباس رضي الله عنهم هم شامل دي، دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي كله چي مغرب طرف خپل ښي طرف ته اوګرځوي او مشرق طرف خپل چپ طرف ته نو ددوئ په مينځ كي قبله ده كله چي ته قبلي ته مخامخ شوي، او ابن مبارك وائي مابين المشرق والمغرب قبلة حكم داهل مشرق دپاره دي او ابن مبارك داهل مروه دپاره ګس طرف ته مائل كيدل خوښ كړي دي .

تشريح : امام نووي د قبلي د ادابو سسلسله كي احاديث نقل كړي دي چي ستاسو دفائدي دپاره يي تاسو ته پيش كوو:

قبلي طرف ته توكل منع دي

عن أنس ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ رَأَى نُخَامَةً فِي القِبْلَةِ، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ حَتَّى رُؤِيَ فِي وَجْهِهِ؛ فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ، فَقَالَ: ((إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِي صَلَاتِهِ فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ، وَإِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ القِبْلَةِ، فَلَا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ القِبْلَةِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ)) ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيهِ، ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، فَقَالَ: ((أَوْ يَفْعَلُ هكذا)) متفقٌ عَلَيْهِ.

وَالأَمْرُ بِالبُصَاقِ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ هُوَ فِيمَا إِذَا كَانَ فِي غَيْرِ المسجِدِ، فَأَمَّا فِي المسجِدِ فَلَا يَبْصُقُ إِلَّا فِي ثَوْبِهِ. (نووي)

انس بن مالك رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم (دجومات په ديوال باندي) قبلي طرف ته توكلي شوي بلغم اوليدل نو دومره سخت خفه شو چي په مخ مبارك يي دهغي اثرښكاره شو، رسول الله صلي الله عليه وسلم پاځيدو او هغه يي اوګرولو (صفايي كړو)

[1] ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٦ (١٠١١) . (تحفة الأشراف : ١٥١٢٣)

دی نه پس یی اوفرمائیل چې کله ستاسو نه څوك دمانځه دپاره اودريږي نو هغه خپل رب سره راز او نياز دپاره پيش کيږي او الله تعالي دقبلې اودمونځ ګذار په مينځ کې وي داسې حالت کې که چرې توکل وي نوخپل ګس طرف ته يی تو کړئ يا دخپو لاندې، مخ په قبله يی هيچرې مه توکئ، دغه وخت رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل څادر مبارك يوګوټ اونيولو، په هغې کې يی توکړل او بيايی کپړه راغونډه کړه ويی مږله او ويی فرمائيل ، دارنګې توکل کوئ.

امام نووي وائي چې ګس طرف ته يا په خپو کې دتوکلو اجازت شته خو هلته چې په جومات کې نه وي، جومات کې صرف کپړه کې دتوکانړو اچولو اجازت دی .

أخرجه : البخاري كتاب الصلاة باب حك البزاق باليد من المسجد ومسلم في كتاب الصلاة باب النهي عن البزاق في المسجد. واحمد وعبد الرزاق وابن حبان وابن ابي شيبه والبيهقي .

تشریح امام نووي په شرح دمسلم کې ليکلي دي چې په مسجد کې لاړي توکل حرام دي په مسجد کې دننه وي او که بهر قبلې ته مخامخ وي احناف علماء وائي په مسجد کې لاړي توکل مکروه تحريمي دي او مسجد لره دګنده څيزونو نه پاك ساتل واجب دي برابره خبره ده چې دا توکل په فرش باندي وي او که په ديوال باندي وي علماؤ چې دتوکلو کومه طريقه خودلې ده دا يې دمونځ په دوران کې په حالت باندي حمل کړي ده او که په مونځ کې دننه نه وي نودمسجد نه بهر توکلو کې څه حرج نشته دپورتني حديث نه دا هم معلوميږي که په مسجد کې ګنده څيز اوليدلی شي نو فورا دي پاك کړی شي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله هم داسې کړي دي او تواضعا يي امت ته تعليم هم ورکړی دی.

****

١٤٥ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُصَلِّي لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ فِي الْغَيْمِ

کله چې څوك په وريځ کې دقبلې نه علاوه بل طرف ته مونځ اوکړي

٣٤٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ سَعِيدٍ السَّمَّانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ، فَلَمْ نَدْرِ أَيْنَ الْقِبْلَةُ، فَصَلَّى كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا عَلَى حِيَالِهِ، فَلَمَّا أَصْبَحْنَا ذَكَرْنَا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَ: "فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ سورة البقرة آية ١١٥ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَشْعَثَ السَّمَّانِ، وَأَشْعَثُ بْنُ سَعِيدٍ أَبُو الرَّبِيعِ السَّمَّانُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَقَدْ ذَهَبَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، قَالُوا: إِذَا صَلَّى فِي الْغَيْمِ

لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ ثُمَّ اسْتَبَانَ لَهُ بَعْدَمَا صَلَّى أَنَّهُ صَلَّى لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ، فَإِنَّ صَلَاتَهُ جَائِزَةٌ، وَبِهِ يَقُولُ: سفيان الثوري وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. (1)

ترجمه : دعامر بن ربيعه رضي الله عنه بيان دي چي مونږ په يوه تورتم شپه كي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په سفر كي وو او مونږ ته نه معلوميده چي قبله كوم طرف ته دي په مونږ كي هر يو كس هغه طرف ته دمتوجه كيدو په حالت كي مونځ اوكړو كوم طرف ته چي مخكي دهغه توجه وه كله چي مونږ سحر كړو او نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته مو ددي ذكر اوكړو نو په دغه وخت كي ايت كريمه "فاينما تولوا فثم وجه الله" نازل شو.

امام ترمذي وائي ددي حديث سند څه خاص دبهترئ حامل نه دي مونږ ته دا داشعث بن سمان په ذريعه رارسيدلي دي او اشعث بن سعيد د ابو الربيع سمان دحديث په معامله كي ضعيف ګڼرلي شي، او اكثر اهل علمو دي طرف ته ذهاب كړي دي چي څوك دقبلي نه غير بل طرف ته مونځ اوكړي نو مونځ يي درست دي، سفيان ثوري، ابن مبارك، احمد، او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول كړي دي.

په مانځه كي قبلي ته مخامخ ودريدل

قبلي ته مخ كول هم د مونځ په شرطونو كي يوشرط دي.دليل دالله تعالى ارشاد دي: ﴿فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾وجه د استدلال دا ده چي الله تعالى فرمائيلي دي.﴿فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا﴾ يعني مونږ به تا،ستا خوښي قبلي طرف ته واړوو.او بيا ئي مسجد حرام ته د مخ اړولو حكم اوكړو.

دمانځه دوه صورتونه دي.يا خو به دا په مكه مكرمه كي ادا كوي.اويا به د مكي نه بهر په بل ځائي كي ادا كوي.، په اول صورت كي عين كعبي ته مخ كول ضروري دي، داځكه چي نبي ﷺ به په مسجد حرام كي مونځ كولو.نو عين كعبي ته به ئي مخ كولو.اوهم دا معمول د صحابه كرامو او تابعينو (رحمه الله)هم پاتي شوي دي .او په دي باندي اجماع ده.

او په دويم صورت كي قبلي طرف ته مخ كول فرض دي دليل ئي دا دي چي نبي ﷺ او مسلمانان په مدينه منوره كي وو.نو الله تعالى هغوى ته مسجد حرام طرف ته د مخ كولو حكم كړي وو.كعبي طرف ته دمخ كولوحكم ئي نه وو كړي.نومعلومه شوه چي كوم سړي د مكي نه بهر وي .دهغه دپاره عين كعبي ته مخ كول فرض نه دي.ځكه چي الله تعالى بندګانو لره د هغوى د طاقت مطابق مكلف كوي.دالله تعالى ارشاد دي:

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٠ (١٠٢٠). ويأتي عند المؤلف في تفسير البقرة (٢٩٥٧).

﴿لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾

د خائف دپاره حکم داستقبال القبله

که یوکس د ویري د وجې قبلې ته په مخ کولو قادر نه وی.نو کوم طرف ته چې قادر وی.هغه طرف ته دی مخ کوی.ویره که مالی وی یا جانی وی.که د دشمن وی اوکه د ځناور وی.اوکه د ډاکو وی.مثلاً چې یو کس سره دا ویره وی.که زه اوخوزیدم.او قبلې ته مي مخ کړو.نو دشمن ته به پته اولګی. نو دهغه دپاره په ناسته یا په ملاسته چې څنګه ممکنه وی.هغې طرف ته مخ کول جائزدی .مونځ دی اوکړی.هم دا حکم د هغه بیمار دې چې قبلې طرف ته په اوړېدو باندې قادر نه وی.او داسې څوك هم نه وی چې دی قبلې ته واړوی .

دغه شان که یو کس په کشتۍ کې ناست وی.اوکشتۍ ماته شوه.اوهغه په یوه تخته پاتې شو.اوهغه سره ویره وی.که قبلې ته مخ کوی.نو ډوبیږی.نودده دپاره جائز دی چې کوم طرف ته ممکن وی.هغه طرف ته دی مونځ کوی.

دلیل دا دې چې د اشتباه دحالت په شان دده عذر هم متحقق دی .نو دده دپاره به حقیقةً استقبال د قبلې شرط نه وی.

حکم دهغه چا چې قبله وربا ندې مشتبه شي

که په یوکس باندې د قبلې طرف مشتبه شی.او ورسره داسې څوك هم نه وی چې هغه د قبلې دجهت نه خبر وی.اودهغه نه تپوس اوکړی. نو ددی سړی دپاره تحری (اجتهاد) کول پکار دی.نوچې کوم طرف ته ئې غالب ګمان راغلو.هغه طرف ته دی مونځ اوکړی.

که یو کس د قبلې خودونکی موجود وی. نودهغه نه دی تپوس اوکړی.په دی صورت کې به تحری جائز نه وی.

بغیر د تحری نه مونځ نه کیږی.د تحری د جواز دپاره دلیل دا دې چې یوځل په صحابه کرامو باندې قبله مشتبه شوه. نو هغوی تحری اوکړله. اومونځ ئې اوکړو.بیائې دا واقعه رسول الله ﷺ ته ذکر کړله.نو نبی ﷺ پري څه انکار اونکړو.

اول خو دا ضروری ده چې د چانه تپوس اوکړی.اودا تپوس کول ځکه ضروری دی چې تپوس کول د تحری نه قوی دی. نو چې ترکومې پورې تپوس کول ممکن وی.ترهغه وخته پورې تحری کول ناجائز دي .

د مونځ کولو نه پس په استقبال د قبله کې د غلطیدو نه پس د مونځ اعاده

که یوکس باندې د قبلې اشتباه راغله .او هغه د قبلې د طرف معلوملو دپاره تحری اوکړه.اومونځ ئې اوکړو.د مانځه نه پس ورته معلومه شوه چې د قبلې طرف ترې خطا شوې وو. یعنی د قبلې نه علاوه بل طرف ته ئې مونځ کړې وو.نود احنافو قول دادی چې په دی

صورت کي په ده باندې د مونځ اعاده نشته.ځکه چې داسې وخت کي شرعي قبله جهت د تحري وی.او هغه د شرعي حکم مطابق مونځ اوکړو.
امام شافعي (رحمه الله) فرمائی.که په تحری سره ئې مونځ کړې وی.اودا ورته معلومه شی چې قبلې طرف ته ئې شاه وه.نود مونځ اعاده واجب ده.ځکه چې په دی صورت کي غلطی په یقین سره ثابته شوه.
زمونږ د طرفه جواب دا دې چې دده په وس کي د تحري نه علاوه بل څه نه وو او تکلیف په قدر دطاقت وی.نوځومره چې د ده په طاقت کي وه.هغه ئې اوکړله. نوځکه پرې اعاده د مانځه نشته.

د مانځه په دوران کي د قبلې په طرف پوهيدل

كه يوكس په تحزی سره مونځ شروع کړی وی.اوهغه ته د مانځه په دوران کي معلومه شوه چې زه د قبلې په طرف کي خطا شوې يم.نودا کس دي د مانځه په دوران کي قبلې طرف ته اوګرځی اودليل ددي دا دې چې اهل قبا ته کله په مانځه کي دا معلومه شوه چې قبله بدله شوه يعنی د بيت المقدس په ځائې خانه کعبې ته د مخ ګرځولو حکم اوشو. نو په هم په مانځه کي د رکوع په حالت کي قبلې طرف ته اوګرځيدل.اوبيا چې کله نبی ﷺ ته ددی علم اوشو.نو هغه د دوی تعريف اوکړو اوانکار ئې اونکړو. دا حکم په هغه صورت کي هم دی چې کله د مانځه په دوران کي دده رائې بدله شی.يعنی کلکه شی.نوهغه طرف ته دی اوګرځی.تر دی که په ګرځيدو کي ئې په قصد څه روستووالی اوکړو. نو مونځ ئې ماتيږی.ځکه چې د مانځه په باقی حصه کي په ده باندې د اجتهاد مطابق عمل کول واجب وو.بغيردماتولو د هغه حصې نه چې وړاندې ئې کړې وه.

****

١٤٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ مَا يُصَلَّى إِلَيْهِ وَفِيهِ

بيان دهغه مقاماتو او اشياؤ د كومو طرف ته چې مونځ كول مكروه دي

٣٤٦_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ جَبِيرَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى أَنْ يُصَلَّى

فِي سَبْعَةِ مَوَاطِنَ: فِي الْمَزْبَلَةِ، وَالْمَجْزَرَةِ، وَالْمَقْبَرَةِ، وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ، وَفِي الْحَمَّامِ، وَفِي مَعَاطِنِ الْإِبِلِ، وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللَّهِ ".[1]

ترجمه : دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په اوه مقاماتو كي دمونځ كولو نه منع فرمائيلي ده، دګندګئ او خوشايانو غورځولو په ځاي كي، دذبحي كولو په ځاي كي، په قبرستان كي، په عامه لاره كي، په حمام (غسل خانه) كي او داوښانو تړلو په ځاي كي او دبيت الله په چت باندي.

****

٣٤٧ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ جَبِيرَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي مَرْثَدٍ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ أَبُو مَرْثَدٍ اسْمُهُ: كَنَّازُ بْنُ حُصَيْنٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِذَاكَ الْقَوِيِّ، وَقَدْ تُكُلِّمَ فِي زَيْدِ بْنِ جَبِيرَةَ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَزَيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ الْكُوفِيُّ أَثْبَتُ مِنْ هَذَا وَأَقْدَمُ، وَقَدْ سَمِعَ مِنَ ابْنِ عُمَرَ، وَقَدْ رَوَى اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ الْعُمَرِيِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، وَحَدِيثُ دَاوُدَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْبَهُ وَأَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ الْعُمَرِيُّ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، مِنْهُمْ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ.[2]

ترجمه : يعني په دي سند باندي هم دماقبل روايت هم معني حديث مروي دي.

امام ترمذي وائي دابن عمر رضي الله عنهما حديث زيات قوي نه دي او په زيد بن جبيره باندي دحفظ په اعتبار كلام شوي دي، زيد بن جبير كوفي دده نه زيات قوي دي خو هغه دده نه مخكي تير شوي دي دابن عمر رضي الله عنهما نه يي اوريدل كړي دي، په دي باب كي دابو مرثد كناز بن حصين، جابر او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، ليث بن سعد دا حديث په سند دعبدالله بن عمر العمري عن نافع، عن ابن عمر، عن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، او د داود حديث كوم چي هغه په سند د عن نافع عن ابن عمر

---

1 ـ سنن ابن ماجه في المساجد ٣ (٧٤٦). (تحفة الأشراف: ٧٦٦٠)

2 ـ سنن ابن ماجه في المساجد ٣ (٧٤٦). (تحفة الأشراف: ٧٦٦٠)

عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي دليث بن سعد دحديث نه زيات صحيح دي او بعضي محدثينو دعبدالله بن عمرو او عمري تضعيف كړي دي چي يو په هغوئ كي يحي بن سعيد القطان هم دي.

****

١٤٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ وَأَعْطَانِ الإِبِلِ

دګډو چيلو شپول او داوښا نو تړلو په ځاي كي دمونځ كولو بيان

٣٤٨_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " صَلُّوا فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ وَلَا تُصَلُّوا فِي أَعْطَانِ الإِبِلِ ". (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچيلو اودرولو په ځايونو كي مونځ كوئ او داوښانو تړلو په ځايونو كي مونځ مه كوئ.

تخريج : تفرد به المؤلف، (تحفة الأشراف : ١٣٥٦٤) . وانظر مسند احمد (٢ في ٤٥١، ٤٩١، ٥٠٨)

****

٣٤٩_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ أَوْ بِنَحْوِهِ، قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، وَالْبَرَاءِ، وَسَبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَلَيْهِ الْعَمَلُ عِنْدَ أَصْحَابِنَا، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق وَحَدِيثُ أَبِي حَصِينٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَرَوَاهُ إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَوْقُوفًا وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَاسْمُ أَبِي حَصِينٍ: عُثْمَانُ بْنُ عَاصِمٍ الأَسَدِيُّ. (2)

ترجمه : په دي سند باندي هم دماقبل حديث هم معني روايت مروي دي.

---

1 _ تفرد به المؤلف، (تحفة الأشراف : ١٣٥٦٤) . وانظر مسند احمد (٢/ ٤٥١، ٤٩١، ٥٠٨)

2 _ تفرد به المؤلف، (تحفة الأشراف : ١٣٥٦٤) . وانظر مسند احمد (٢ في ٤٥١، ٤٩١، ٥٠٨)

امام ترمذي وائي دابوهريره رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او زمونږ دعلماؤ په نزد په همدي باندي عمل دي امام احمد او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول کړي دي، او دابوحصين حديث کوم چي هغه په سند دابوصالح عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي غريب دي دا روايت اسرائيل په سند د ابي حصين عن ابي صالح عن ابي هريره موقوفا نقل کړي دي او مرفوع کړي يي نه دي، دي باب کي دجابر بن سمره، براء، صبره بن معبد، عبدالله بن مغفل، ابن عمر، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٥٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ الضُّبَعِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو التَّيَّاحِ الضُّبَعِيُّ اسْمُهُ: يَزِيدُ بْنُ حُمَيْدٍ.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دګډو چيلو اودرولو په ځايونو کي مونځ کولو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

١٤٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الدَّابَّةِ حَيْثُمَا تَوَجَّهَتْ بِهِ

په سورلۍ باندي دمونځ کولو دجواز بيان اګر که هر طرف ته يي مخه وي

٣٥١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَيَحْيَى بْنُ آدَمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَاجَةٍ، فَجِئْتُ وَهُوَ "يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالسُّجُودُ أَخْفَضُ مِنَ الرُّكُوعِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ جَابِرٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ، لَا نَعْلَمُ بَيْنَهُمْ اخْتِلَافًا، لَا يَرَوْنَ بَأْسًا أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ عَلَى رَاحِلَتِهِ تَطَوُّعًا حَيْثُ مَا كَانَ وَجْهُهُ إِلَى الْقِبْلَةِ أَوْ غَيْرِهَا. (1)

---

1 _ سنن ابي داود في الصلاة ٢٧٧ (١٢٢٧). وراجع أيضاً: صحيح مسلم في المساجد ٧ (٥٤٠). سنن النسائي في السهو ٦ (١١٩٠). سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٩ (١٠١٨). (تحفة الأشراف: ٢٧٥٠). مسند احمد (٣ في ٣٣٢)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه په يو ضرورت پسي اوليږلم ما چي ضرورت پوره كړو او واپس راغلم نو اومي ليدل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په سورلئ باندي مشرق طرف ته مخامخ مونځ كوي او سجده يي د ركوع نه زياته ټيټه وه.

امام ترمذي وائي دجابر رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، دا حديث په نورو سندونو هم دجابر نه مروي دي، او په دي باب كي د انس، ابن عمر ابو سعيد ، عامر بن ربيعه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي باندي داكثرو اهل علمو عمل دي په دي كي هيڅا اختلاف نه دي كړي دوئ به په سورلئ باندي په نفلي مونځ كي څه حرج نه ګنړلو اګر كه مخ به يي هر طرف ته وو.

تشريح : دمذكوره روايت نه فقهاؤ دا استدلال كړي دي او دا مسئله يي ثابته كړي ده چي نفلي مونځ په سورلئ مطلقا جائز دي برابره خبره ده چي قبلي ته مخامخ وي او كنه وي ركوع او سجدي به په اشاره باندي كوي البته په فرضي مونځونو كي قبلي ته مخامخ كيدل ضروري دي كه څوك په داسي سورلئ سور وي چرته چي قبلي ته مخامخ كيدي شي او دا كس مخامخ اودريږي نو مونځ يي درست دي كنه نو جائز به نه وي.

****

١٤٩ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ إِلَى الرَّاحِلَةِ

خپلي سورلئ ته مخامخ دمونځ كولو بيان

٣٥٢ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى إِلَى بَعِيرِهِ أَوْ رَاحِلَتِهِ وَكَانَ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ مَا تَوَجَّهَتْ بِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ قَوْلُ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ بِالصَّلَاةِ إِلَى الْبَعِيرِ بَأْسًا أَنْ يَسْتَتِرَ بِهِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم خپل اوښ يا خپلي سورلئ ته مخامخ اودريدو او مونځ يي اوكړو او همدا رنګي هغه به پخپله سورلئ باندي دپاسه مونځ كولو برابره خبره ده چي مخ به يي هر طرف ته وو.

---

[1] ـ صحيح مسلم في الصلاة ٤٧ (٥٠٢) . سنن ابي داود في الصلاة ١٠٣ (٦٩٢) . (تحفة الأشراف : ٧٩٠٨) . سنن الدارمي في الصلاة ١٢٦ (١٣٥٢) . وراجع ايضا: صحيح البخاري في الصلاة ٥٠ (٤٣٠)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په همدي باندي بعضي اهل علمو قول کړي دي چي داوښ نه ستره جوړول او بيا هغي ته مخامخ په مونځ اودريدلو کي هيڅ حرج نشته.

****

١٥٠ ـ باب مَا جَاءَ إِذَا حَضَرَ الْعَشَاءُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ

کله چي دماښام خوراک حاضر شي او دغه وخت کي جماعت قائم شي اول خوراک اوکړئ

٣٥٣ ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا حَضَرَ الْعَشَاءُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عُمَرَ. وَسَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ وَأُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَعَلَيْهِ الْعَمَلُ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مِنْهُمْ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَابْنُ عُمَرَ. وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ يَقُولَانِ: يَبْدَأُ بِالْعَشَاءِ وَإِنْ فَاتَتْهُ الصَّلَاةُ فِي الْجَمَاعَةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْتُ الْجَارُودَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا يَقُولُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: يَبْدَأُ بِالْعَشَاءِ إِذَا كَانَ طَعَامًا يَخَافُ فَسَادَهُ وَالَّذِي ذَهَبَ إِلَيْهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ أَشْبَهُ بِالِاتِّبَاعِ. وَإِنَّمَا أَرَادُوا أَنْ لَا يَقُومَ الرَّجُلُ إِلَى الصَّلَاةِ وَقَلْبُهُ مَشْغُولٌ بِسَبَبِ شَيْءٍ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ قَالَ: لَا نَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ وَفِي أَنْفُسِنَا شَيْءٌ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر کله چي دماښام خوراک حاضر شي او دغه وخت کي مونځ اودريږي نو اول خوراک اوکړئ.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي د عائشه، ابن عمر، سلمه بن اکوع، او ام سلمه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي ، او په صحابه کرامو کي په اهل علمو په دي باندي عمل دي چي ابوبکر، عمر، او ابن عمر رضي الله عنهم هم په دوئ کي شامل دي او همدا قول دامام احمد او اسحاق بن راهويه هم دي دوئ وائي اول دي خوراک اوکړي اګر که جماعت ورنه فوت کيږي، ددي حديث باره کي علماء وائي چي داسي وخت کي به انسان اول خوراک کوي مګر په هغه وخت کي کله چي دخوراک دخرابيدو خطره وي

---

1 ـ صحيح البخاري في الأذان ٤٢ (٦٧٢) . الأطعمة ٥٨ (٥٤٦٣) . و مسلم في المساجد ٦ (٥٥٧) . سنن النسائي في الإمامة ٥١ (٨٥٣) . و ابن ماجه في الإقامة ٣٤ (٩٣٣) . (تحفة الأشراف : ١٤٨٦) . مسند احمد (٣ في ١٠٠، ١١٠، ١٦١، ٢٣١، ٢٣٨، ٢٤٩) . سنن الدارمي في الصلاة ٥٨

ليكن كوم قول ته چي صحابه كرامو وغيره كي بعضو اهل علمو ذهاب كړي دي هغه د اتباع زيات لائق دي ددوئ مقصود دادي چي يو سړي دي په داسي وخت كي په مونځ نه اودريږي چي زړه يي په بل ځيز كي مشغول وي او دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي مونږ به هغه وخته پوري په مونځ نه اودريدو څو پوري چي به زمونږ زړونه په بل ځيز كي مشغول وو.

****

٣٥٤ـ وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "إِذَا وُضِعَ الْعَشَاءُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ" قَالَ: وَتَعَشَّى ابْنُ عُمَرَ وَهُوَ يَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ. قَالَ: حَدَّثَنَا بِذَلِكَ هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي دماښام خوراك كيخودلي شي او دي وخت كي مونځ اودريږي نو اول خوراك اوكړئ ابن عمر رضي الله عنهما به دماښام خوراك كولو او دامام قرائت به يي اوريدلو.

****

١٥١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عِنْدَ النُّعَاسِ

دپركالي په وخت كي دمونځ كولو بيان

٣٥٥ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْكِلَابِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَرْقُدْ حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَهُوَ يَنْعَسُ لَعَلَّهُ يَذْهَبُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دام المومنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چي په مانځه كي خوب ورشي نو پكاره ده چي دومره اوده شي چي

---

[1] ـ صحيح البخاري في الأذان ٤٢ (٦٧٣، ٦٧٢). صحيح مسلم في المساجد ٦ (٥٥٩). سنن ابن ماجه في الإقامة ٣٤ (٩٣٥). (تحفة الأشراف: ٨٢٥٥). كذا (٨٢١٢). مسند احمد (٢ في ١٠٣)

[2] ـ صحيح البخاري في الوضوء ٥٣ (٢١٢). صحيح مسلم في المسافرين ٣١ (٧٨٦). سنن ابي داود في الصلاة ٣٠٨ (١٣١٠). سنن النسائي في الطهارة ١١٧ (١٦٢). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨٤ (١٣٨٠). (تحفة الأشراف: ١٧٠٨٤). مسند احمد (٦ في ٥٦، ٢٠٢، ٢٠٥، ٢٥٩). سنن الدارمي في الصلاة ١٠٧ (١٤٢٢)

خوب تري لاړ شي، څکه چي چاته چي خوب ورځي او مونځ کوي نو ممکنه ده چي دی ځان ته دعا غواړي او دخولي نه يې بده دعا (خيري) اوځي.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي د انس او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات نعس: نعس نعسا دفتح او نصر نه په معني دپرکالئ کولو.

فيسب، سبّ سبًّا دنصر نه په معني کنځل کولو دي.

تشريح: ((إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَرْقُدْ)) يعني کله چي په مونځ کې درياندي پرکالي راشي نو اوده شه، مطلب دادي چي په داسي حالت کې زړه او دماغ حاضر نه وي او ژبه هم ورسره ملگرتيا نه کوي نو که دي څه وايي نو په ژبه به يوڅه اووايي او په زړه کې به يي بل څه وي. ((لا يَدْرِي لَعَلَّهُ يَذْهَبُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ)) يعني هسي نه چي داستغفار کولو په ځاي ځان ته کنزل ونکړي، مثلا د اللهم اغفرلي په ځاي اللهم اعفرلي ونه وايي. او تبا نشي.

مطلب دادي چي په مونځ کي خشوع او خضوع څومره زياته وي نو دومره به ددي اجر زيات وي او دقبوليت زيات لائق به وي.

نودخوب حالت دخشوع او خضوع نه مانع دي او صرف مانع ندي بلکه داسي هم کيږي چي سړي يوڅه وئيل غواړي او اووايي بل څه لکه چي د استغفار په ځاي ځان ته خيري وکړي.

****

۱۵۲ـ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ زَارَ قَوْمًا لَا يُصَلِّي بِهِمْ

ميلمه دي داجازت نه بغير امامت نه کوي

۳۵۶ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ أَبَانَ بْنِ يَزِيدَ الْعَطَّارِ، عَنْ بُدَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ الْعُقَيْلِيِّ، عَنْ أَبِي عَطِيَّةَ، عن رَجُلٍ مِنْهُمْ قَالَ: كَانَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ يَأْتِينَا فِي مُصَلَّانَا يَتَحَدَّثُ، فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ يَوْمًا، فَقُلْنَا لَهُ: تَقَدَّمْ، فَقَالَ: لِيَتَقَدَّمْ بَعْضُكُمْ حَتَّى أُحَدِّثَكُمْ لِمَ لَا أَتَقَدَّمُ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ زَارَ قَوْمًا فَلَا يَؤُمَّهُمْ وَلْيَؤُمَّهُمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَيْرِهِمْ قَالُوا: صَاحِبُ الْمَنْزِلِ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ مِنَ الزَّائِرِ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا أَذِنَ لَهُ فَلَا بَأْسَ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِ، وَقَالَ إِسْحَاقُ: بِحَدِيثِ مَالِكِ بْنِ

الْحُوَيْرِثِ، وَشَدَّدَ فِي أَنْ لَا يُصَلِّيَ أَحَدٌ بِصَاحِبِ الْمَنْزِلِ، وَإِنْ أَذِنَ لَهُ صَاحِبُ الْمَنْزِلِ، قَالَ: وَكَذَلِكَ فِي الْمَسْجِدِ لَا يُصَلِّي بِهِمْ فِي الْمَسْجِدِ إِذَا زَارَهُمْ يَقُولُ: لِيُصَلِّ بِهِمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ. (¹)

ترجمه : دابو عطيه عقيلي بيان دي فرمائي چي مالك بن الحويرث رضي الله عنه به زمونږ مسجد ته تلو راتلو او احاديث به يي بيانول يوه ورځ ددرس يا تقرير په دوران كي دمونځ وخت راغي چنانچه هم دلته وربانديي مونځ كول ضروري شو نو خلقو ورته دامامت درخواست اوكړو مالك بن حويرث اوفرمائيل پكار خو داده چي په تاسو كي يو كس مخكي شي او زه ولي امامت نه كوم ددي به درته وجه بيان كړم او بيا يي دا حديث بيان كړو مادرسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي كله يو كس ديو قوم دملاقات دپاره لاړ شي يعني هلته ميلمه شي نو هلته دي دهغوئ امامت نه كوي او پكار ده چي په هغوئ كي يو كس امامت وركړي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په صحابه كرامو وغيره كي داكثرواهل علمو په دي باندي عمل دي هغوئ وائي چي كوربه دميلمه په نسبت دامامت كولوزيات حقدار دي، دبعضي اهل علموقول دي چي كله ميلمه ته اجازت وركړي شي نو دده په اجازت بيا په امامت وركولو كي هيڅ قباحت نشته، اسحاق بن راهوي دمالك بن حويرث دحديث مطابق قول كړي دي چي په دي مسئله كي يي سختي كړي ده چي ميلمه به كوربه ته امامت نه وركوي اګر كه كوربه ورته اجازت هم وركړي وي دا رنګي داسحاق قول دي چي دا حكم دربانديي دمسجد په باره كي هم دي چي كله يو كس ديوقوم دملاقات دپاره تلي وي نو په قوم كي دي يو كس خپل قوم ته امامت وركړي.(او ميلمه دي امامت نه وركوي)

تشريح : دلته دا اعتراض واردیږي چي كله قوم ميلمه ته اجازت وركړي نو بيا په امامت كي څه مانع پاتي شو؟ اجازت وركولو نه پس خو دميلمه دپاره امامت وركول جائز شول.

جواب: په كوم حديث كي چي اجازت استثناء راغلي ده مالك رضي الله عنه ته دغه حديث نه دي رسيدلي او دده په حديث كي استثناء نشته نو ځكه مالك دوئ ته امامت ورنكړو، او ددينه بهتر جواب دادي چي مالك بن الحويرث رضي الله عنه غوښتل چي خلق ددي واقعي په ذريعه حديث ياد كړي كه مالك مونځ وركړي وي نو ددي حديث ديادولو دپاره به كومه خاص واقعه

¹ ـ سنن ابي داود في الصلاة ٦٦ (٥٩٦) . سنن النسائي في الإمامة ٩ (٧٨٨) . مسند احمد (٣ في ٤٣٦) . (تحفة الأشراف: ١١١٨٦)

نه وه پس دا حديث په بعضو ته ياد وو او دبعضو نه به هير شوي وو او دامامت نه دانكار نه پس اوس به دا هر چاته ياد وي.

دابوعطيه رضي الله عنه حالات:

دده په نوم كې اختلاف دى دبعضو په نزد مالك بن عامر دى او دبعضو په نزد مالك بن ابي عامر دى يا مالك بن عوف دى مشهور تابعي دى او همدان قبيلي سره يې تعلق دى چې عموما دابن مسعود او ابو موسي اشعري رضي الله عنه نه نقل دروايت كوي اسحاق او اعمش وغيره ثقه گنړلى دى په ۷۸هجري كې وفات شوى دى بخاري او مسلم او سنن والا ورنه نقل دروايت كړى دى.

****

۱۵۳ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ أَنْ يَخُصَّ الإِمَامُ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ

په دعا كې امام خپل ځان لره دخاص كولو دكراهت بيان

۳۵۷ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنِي حَبِيبُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي حَيٍّ الْمُؤَذِّنِ الْحِمْصِيِّ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ أَنْ يَنْظُرَ فِي جَوْفِ بَيْتِ امْرِئٍ حَتَّى يَسْتَأْذِنَ، فَإِنْ نَظَرَ فَقَدْ دَخَلَ، وَلَا يَؤُمَّ قَوْمًا فَيَخُصَّ نَفْسَهُ بِدَعْوَةٍ دُونَهُمْ، فَإِنْ فَعَلَ فَقَدْ خَانَهُمْ، وَلَا يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ وَهُوَ حَقِنٌ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ثَوْبَانَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنِ السَّفْرِ بْنِ نُسَيْرٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَأَنَّ حَدِيثَ يَزِيدَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي حَيٍّ الْمُؤَذِّنِ، عَنْ ثَوْبَانَ فِي هَذَا أَجْوَدُ إِسْنَادًا وَأَشْهَرُ. (۱)

ترجمه : دثوبان رضي الله عنه نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيچا دپاره جائز نه دي چې دچا كور ته ورودانگي او اوگوري مگر چې اجازت يې څو پوري اخستلې نه وي او كه چا دچا كور ته وكتل نو دا داسي ده لكه چې ورته داخل شي او دا رنگې يو كس دي يو قوم ته په داسي شان سره امامت نه وركوي چې دوئ پريږدي او خپل ځان په دعا

---

[1] ـ الطهارة ۴۳(۹۰) . سنن ابن ماجه في الإمامة ۳۱(۹۲۳) . (تحفة الأشراف : ۲۰۸۹) .

كي خاص كړي او كه چا داسي اوكړل نو خيانت يي اوكړو او نه دي څوك په مونځ په داسي حال كي اودريږي چي وړوكي يا لوي اودس ماتي ټينګ كړي وي.
امام ترمذي وائي دثوبان رضي الله عنه حديث حسن دي ، دا حديث دمعاويه بن صالح نه هم مروي دي او معاويه دا په سند د سفر بن نسير عن يزيد بن شريح عن ابي امامة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، ديزيد بن شريح حديث د ابي حئ المؤذن عن ثوبان سند په اعتبار عمده او مشهور دي، او په دي باب كي دابوهريره او ابوامامه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : وَلَا يَؤُمَّ قَوْمًا فَيَخُصَّ نَفْسَهُ بِدَعْوَةٍ دُونَهُمْ: دي باره كي امام ترمذي په ابواب الطهارت رقم الحديث: ۱۴۷ كي په ۱۱۱_بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَوْلِ يُصِيبُ الأَرْضَ كي زيات واضح او تفصيلي او صريح الدلالت حديث د ابو هريره رضي الله عنه نه نقل كړى.دى دلته يي تنويرا للمقام نقل كوو:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: دَخَلَ أَعْرَابِيٌّ الْمَسْجِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فَصَلَّى. فَلَمَّا فَرَغَ. قَالَ: اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا وَلَا تَرْحَمْ مَعَنَا أَحَدًا. فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: "لَقَدْ تَحَجَّرْتَ وَاسِعًا". فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ بَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَأَسْرَعَ إِلَيْهِ النَّاسُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَهْرِيقُوا عَلَيْهِ سَجْلًا مِنْ مَاءٍ أَوْ دَلْوًا مِنْ مَاءٍ" ثُمَّ قَالَ: "إِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي يو اعرابي مسجد ته داخل شوم، او نبي كريم صلي الله عليه وسلم په مسجد كي ناست وو ده مونځ اوكړو او چي كله يي مونځ پوره كړو نو ويي وئيل اي الله ته په ما باندي او په محمد (صلي الله عليه وسلم) باندي رحم اوكړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اعرابي ته متوجه شو او ويي فرمائيل تا خو يو ډير فراخه څيز (رحمت الهي) راتنګ كړو او بيا يوه شيبه پس اعرابي په مسجد كي متيازي اوكړي خلقو په تيزئ سره ورمنډه كړل نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل يوه بوكه اوبه ورباندي واړوئ او بيا يي اوفرمائيل تاسو خو اساني كونكي ليږلي شوي يئ نه چي سختي كونكي.

دثوبان رضي الله عنه حالات

نوم ثوبان كنيه ابو عبدالله چي په يمن كي دمشهور خاندان حمير سره يي تعلق وو ثوبان يو غلام وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه خوښه دي وي خپل خاندان ته لاړ شه او كه زمونږ سره دي اوسيدل خوښ وي نو اوسيږه ته به داهل بيتو نه شميرلى شي نو په دي بنا ثوبان په اهل بيتو كي شميرلو ته پخپل خاندان ترجيح وركړه.

همیشه به یي درسول الله صلي الله علیه وسلم خدمت کولو او د رسول الله دفرمان سره به یي دځان نه زیات محبت کولو یو ځل نبي کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل هیڅ کله به چاته لاس نه خوروي نو ددینه پس که به دده نه داس چابك هم اوغورځیدو نو پخپله به ورپسې کوځیدو او اوچتولو به یي خو دچانه به یي سوال نه کولو (مسند احمد).

دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دخدمت کولو په وجه یي پخپله بهترینه استفاده اوکړه په همدي وجه ابن عبدالبر لیکلي دي چي ثوبان دهغه دري کسانو نه دی چاچه احادیث محفوظ کړي دي او ددي اشاعت یي هم کړی دی (استیعاب) دمرویاتو شمیر یي ۱۲۷دی.

****

١٥٤_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ

دیو داسي کس قوم ته امامت ورکول چي قوم یي نه خوښوي

٢٥٨_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ وَاصِلِ بْنِ عَبْدِ الْأَعْلَى الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْقَاسِمِ الْأَسَدِيُّ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ دَلْهَمٍ، عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةً: رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ، وَرَجُلٌ سَمِعَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ثُمَّ لَمْ يُجِبْ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَطَلْحَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو وَأَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ لَا يَصِحُّ لِأَنَّهُ قَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَمُحَمَّدُ بْنُ الْقَاسِمِ تَكَلَّمَ فِيهِ، أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ وَضَعَّفَهُ وَلَيْسَ بِالْحَافِظِ، وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يَؤُمَّ الرَّجُلُ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، فَإِذَا كَانَ الْإِمَامُ غَيْرَ ظَالِمٍ، فَإِنَّمَا الْإِثْمُ عَلَى مَنْ كَرِهَهُ، وَقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق فِي هَذَا: إِذَا كَرِهَ وَاحِدٌ أَوِ اثْنَانِ أَوْ ثَلَاثَةٌ، فَلَا بَأْسَ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ حَتَّى يَكْرَهَهُ أَكْثَرُ الْقَوْمِ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بیان دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم په دري کسانولعنت فرمائیلي دي یو هغه کس دي چي خلقوته امام ورکوي او خلق یي نه خوښوي، دویمه هغه ښځه ده چي په داسي حال کي شپه تیره کړي چي خاوند ورنه راضي نه وي دریم هغه کس چي "حي علي الفلاح" واوري او ددي جواب ورنکړي (یعني جماعت ته حاضرنشي).

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٢٨)

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه دا حديث صحيح نه دي ځکه چي په حقيقت کي دا حديث دحسن بصري نه بغير دکومي واسطي نه درسول الله نه مرسل مروي دي، دمحمد بن قاسم متعلق امام احمد بن حنبل کلام کړي دي او ضعيف يي ګرځولي دي ځکه چي هغه حافظ نه وو، په دي باب کي دابن عباس، طلحه، عبيدالله بن عمرو، او ابوامامه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دبعضي اهل علمو په نزدي دا کار مکروه دي چي يو سړي خلقو ته امامت ورکوي او خلق يي نه خوښوي مګر کله چي امام مجرم نه وي نو ګنهګار به هغه څوک وي څوک چي ده لره نه خوښوي امام احمد او اسحاق بن راهويه قول په دي باره کي دادي چي کله امام لره يو يا دوه کسان نه خوښوي نو په داسي امام پسي په مونځ کولو کي څه قباحت نشته، قباحت هغه وخت کي دي کله چي اکثريت ده لره نه خوښوي.

****

۳۵۹_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الْمُصْطَلِقِ، قَالَ: كَانَ يُقَالُ: " أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ اثْنَانِ، امْرَأَةٌ عَصَتْ زَوْجَهَا، وَإِمَامُ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ ". قَالَ هَنَّادٌ، قَالَ جَرِيرٌ، قَالَ: مَنْصُورٌ: فَسَأَلْنَا عَنْ أَمْرِ الْإِمَامِ، فَقِيلَ لَنَا: إِنَّمَا عَنَى بِهَذَا أَئِمَّةً ظَلَمَةً فَأَمَّا مَنْ أَقَامَ السُّنَّةَ فَإِنَّمَا الْإِثْمُ عَلَى مَنْ كَرِهَهُ.(١)

ترجمه : دعمرو بن حارث المصطلق بيان دي وئيلي کيدل به چي دقيامت په ورځ به په تولو خلقو کي دسخت عذاب والا دوه قسمه خلق وي، يو قسم هغه ښځي دي چي دخپلو خاوندانو نافرماني کوي او دويم قسم هغه امامان دي چالره چي قوم نه خوښوي منصور وائي چي مونږ په دي سلسله کي تپوس اوکړو نو مونږ ته اووئيلي شول چي ددينه مراد ظالمان امامان دي ليکن کوم امام چي سنت قائموي ګناه به په هغه چا وي څوک چي ده لره نه خوښوي.

دعمرو بن حارث رضي الله عنه حالات:

نوم عمرو دپلار نوم حارث بن ابي ضرار دی د خزاعه قبيلي سره تعلق لري او د ام المؤمنين جويريه رضي الله عنها ورور وو په اهل کوفه کي شميرلی شوی دی چي عموما ابو وائل شقيق بن سلمه او ابو اسحاق سبيعي ورنه نقل دروايت کوي.

حافظ ابن حجر وائي چي دی صحابي دی صرف همدا روايت ورنه بخاري نقل کړی دی او يو

---

١ _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۰۷۱۳)

روايت يي په مسلم کې هم شته تو بل ورنه دوه روايات نقل شوي دي.

****

۳۶۰ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ وَاقِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو غَالِبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثَةٌ لَا تُجَاوِزُ صَلَاتُهُمْ آذَانَهُمْ: الْعَبْدُ الْآبِقُ حَتَّى يَرْجِعَ، وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ، وَإِمَامُ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو غَالِبٍ اسْمُهُ: حَزَوَّرٌ. ([1])

ترجمه : دابو امامه رضي الله عنه نه مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د درې قسمه کسانو مونځ د دوئ د غوږونو نه پورته نه خيژي يو تختيدونکي غلام دي ترڅو پورې چې خپل مالک ته واپس راغلي نه وي، دويم قسم هغه ښځې دي چې شپه تيره کړي او خاوند ورنه ناراض وي، دريم قسم هغه امامان دي چې قوم يي نه خوښوي.

امام ترمذي وائي دا حديث ددې سند په اعتبار حسن غريب دې.

" وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ "ددې حديث په تشريح کې علماؤ ليکلي دي چې دحيض حالت هم عذر نه دې ، ځکه چې په دې صورت کې که جماع نشي کولي نو لوازم دجماع خو کولي شي لکه بوسه اخستل غاړه ورکول وغيره ، دشرمګاه نه علاوه باقي تمام بدن نه فائده اخستلي شي.

فبات غضبان، يعني چې شپه مروره تيره کړي، علماء وايي چې دلته دشپې ذکر ځکه خاص شوي دې چې دا معامله اکثر دشپې کولي شي، پس که دورځې داسې حالت پيښ شي نو هم به دا ښځه دعتاب لائق وي.

حتي تصبح، په بل روايت کې رازي حتي ترجع، ددې حديث نه بعضې علماؤ استدلال کړې دې چې په شريعت کې دخاوند څومره اهميت دې چې دده دجذباتو دتسکين باره کې دالله فرشتې خفه کيږي نو که کومه ديني معامله وي او په دې خاوند خفه شي نو بيا به ددې څومره زيات اهميت وي.

په بل روايت کې راځي "ومن حق الزوج علي زوجته ان لاتصوم تطوعاً الا باذنه وان فعلت لم يقبل".

امام نووي وايي چې خاوند هر وخت دښځې دفائدې اخستلو حق هر وخت لري نو که ښځه

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۴۹۳۷)

دخاوند داجازت نه بغير روجي نيسي نودخاوند د حق فوت كولو په وجه به دا روژه قبوله نوي شاهد، شاهد په معني دحاضر دي ، او كه خاوند غائب وي نو بيا باك نشته.
ولا تاذن في بيته الا باذنه، يعني دخاوند داجازت نه بغير به څوك كور ته نه راولي، خو دميلمنه راتلل ددينه مستثني دي. (روضه الصالحين)

****

١٥٥_ بَاب مَا جَاءَ إِذَا صَلَّى الإِمَامُ قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا

كله چي امام په ناسته مونځ وركوي نو مقتديان به هم ورسره په ناسته مونځ كوي

٣٦١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ قَالَ: خَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ فَرَسٍ، فَجُحِشَ، فَصَلَّى بِنَا قَاعِدًا فَصَلَّيْنَا مَعَهُ قُعُودًا ثُمَّ انْصَرَفَ، فَقَالَ: " إِنَّمَا الإِمَامُ أَوْ إِنَّمَا جُعِلَ الإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا، وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا، وَإِذَا صَلَّى قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا أَجْمَعُونَ " قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَائِشَةَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَجَابِرٍ وَابْنِ عُمَرَ وَمُعَاوِيَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " خَرَّ عَنْ فَرَسٍ فَجُحِشَ ". حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، مِنْهُمْ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَأُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ، وَأَبُو هُرَيْرَةَ وَغَيْرُهُمْ، وَبِهَذَا الْحَدِيثِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا صَلَّى الإِمَامُ جَالِسًا لَمْ يُصَلِّ مَنْ خَلْفَهُ إِلَّا قِيَامًا، فَإِنْ صَلَّوْا قُعُودًا لَمْ تُجْزِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: سفيان الثوري، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنهم بيان دي چي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم داس نه راپريوتو او زخمي شو نو مونږ ته يي په ناسته مونځ راكړو او مونږ ورسره هم په ناسته مونځ اوكړو بيا چي كله مونږ ته راوګرځيدو نو ويي فرمائيل امام خو وي ددي دپاره يا امام جوړولي شي ددي دپاره چي اقتداء يي اوكړي شي كله چي امام الله اكبر اووائي نو تاسو ورسره هم الله

---

[1] _ صحيح البخارى في الصلاة ١٨ (٣٧٨) ، والأذان ٥١ (٦٨٩) ، و ٨٢ (٨٣٢) ، و ١٢٨ (٨٠٥) ، وتقصير الصلاة ١٧ (١١١٣) ، صحيح مسلم في الصلاة ١٩ (٤١١) ، سنن ابى داود في الصلاة ٦٩ (٦٠١) ، سنن النسائي في الإمامة ١٦ (٧٩٥) ، و ٤٠ (٨٣٣) ، والتطبيق ٢٢ (١٠٦٣) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٤٤ (١٢٣٨) ، (تحفة الأشراف : ١٥٢٣) ، وكذا (١٥٢٩) ، موطأ امام مالك في الجماعة ٥ (١٦) ، مسند احمد (٣/ ١١٠، ١٦٢)

اكبر اووائي او چي كله ركوع اوكړي نو تاسو هم ركوع كوئ او چي كله سر پورته كړي دركوع نه نو تاسو هم ورسره سرونه پورته كړي او چي كله سمع الله لمن حمده اووائي نو تاسو "ربنا لك الحمد" اووائي او چي كله سجدي ته لاړ شي نو تاسو هم سجده اوكړئ او چي كله په ناسته مونځ كوي نو تاسو هم ورسره په ناسته مونځ اوكړئ.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي د عائشه، ابوهريره، جابر، ابن عمر، او معاويه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او بعضي صحابه كرام لكه عبدالله، اسيد بن حضير، او ابوهريره رضي الله عنهم هم پكي شامل دي دي طرف ته ميلان كړي دي او همدا دامام احمد او اسحاق قول هم دي، مگر دبعضي اهل علمو قول دي چي كله امام په ناسته مونځ وركوي نو مقتديان دي ورسره اودريږي او كه دوئ هم ورسره په ناسته مونځ اوكړو نو دا مونځ به ددوئ نه كافي نه وي دا دسفيان ثوري، مالك بن انس، ابن مبارك او امام شافعي قول دي.

****

١٥٦_ بَاب مِنْهُ

دامام د پيروئ متعلق يو بل باب

٣٦٢_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ بْنُ سَوَّارٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ نُعَيْمِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ قَاعِدًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِذَا صَلَّى الْإِمَامُ جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا" وَرُوِيَ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ فِي مَرَضِهِ وَأَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ، فَصَلَّى إِلَى جَنْبِ أَبِي بَكْرٍ وَالنَّاسُ يَأْتَمُّونَ بِأَبِي بَكْرٍ، وَأَبُو بَكْرٍ يَأْتَمُّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". وَرُوِيَ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ قَاعِدًا". وَرُوِيَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ وَهُوَ قَاعِدٌ".[1]

---

1 _ سنن النسائي في الإمامة ٨ (٧٨٤)، وليس عنده "قاعداً" (تحفة الأشراف: ١٧٦١٢)، مسند احمد (٦ في ١٥٩)

ترجمه : عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په هغه بيمارئ كي په كومه كي چي وفات شوي وو په ابوبكر رضي الله عنه پسي په ناسته مونځ كړي وو.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنهاحديث حسن صحيح غريب دي.

او دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي امام په ناسته مونځ وركوي نو تاسو هم په ناسته مونځ كوئ، او دام المؤمنين نه دا هم مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله بيمارئ كي اووتلو او ابوبكر رضي الله عنه خلقو ته مونځ وركولو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دابوبكررضي الله عنه په اړخ كي مونځ اوكړو خلقو به په ابوبكر پسي اقتداء كوله او ابوبكر به درسول الله صلي الله عليه وسلم اقتداء كوله، او دهغي نه دا هم مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوبكر رضي الله عنه پسي په ناسته مونځ كړي وو، او دانس رضي الله عنه نه هم مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوبكر رضي الله عنه پسي په ناسته مونځ كړي وو.

****

٣٦٢_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ بْنُ سَوَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَلْحَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: " صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ قَاعِدًا فِي ثَوْبٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَالَ: وَهَكَذَا رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ، عَنْ ثَابِتٍ، وَمَنْ ذَكَرَ فِيهِ عَنْ ثَابِتٍ فَهُوَ أَصَحُّ. (١)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله بيمارئ كي په ابوبكر رضي الله عنه پسي مونځ اوكړو چي په يوه جامه كي يي خان تاؤ كړي وو.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي دا رنګي دا روايت يحيي بن ايوب هم دحميد نه او حميد دثابت نه او ثابت دانس رضي الله عنه نه نقل كړي دي دارنګي داروايت نورو خلقو هم دحميد نه اوحميد دانس رضي الله عنه نه نقل كړي دي مګر هغوئ په دي كي دثابت واسطه نه ده ذكر كړي اوچاچه دثابت واسطه ذكر كړي ده هغه روايت زيات صحيح او قابل داعتماد دي.

****

---

١ _ تفرد المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٩٧)، وانظر مسند احمد (٣ في ١٥٩، ٢١٦، ٢٤٣)

١٥٧_ باب مَا جَاءَ فِي الإِمَامِ يَنْهَضُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ نَاسِيًا

امام چي د دوه ركعاتو نه پس دكيناستو په ځاي نيغ اودريږي او كيناستل ورنه هير شي

٣٦٤_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: صَلَّى بِنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ، "فَنَهَضَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ، فَسَبَّحَ بِهِ الْقَوْمُ وَسَبَّحَ بِهِمْ، فَلَمَّا صَلَّى بَقِيَّةَ صَلَاتِهِ سَلَّمَ، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ وَهُوَ جَالِسٌ، ثُمَّ حَدَّثَهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ بِهِمْ مِثْلَ الَّذِي فَعَلَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَسَعْدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُحَيْنَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي ابْنِ أَبِي لَيْلَى مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. قَالَ أَحْمَدُ: لَا يُحْتَجُّ بِحَدِيثِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، وقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل ابْنُ أَبِي لَيْلَى هُوَ صَدُوقٌ وَلَا أَرْوِي عَنْهُ، لِأَنَّهُ لَا يَدْرِي صَحِيحَ حَدِيثِهِ مِنْ سَقِيمِهِ، وَكُلُّ مَنْ كَانَ مِثْلَ هَذَا فَلَا أَرْوِي عَنْهُ شَيْئًا. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، رَوَاهُ سُفْيَانُ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُبَيْلٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، وَجَابِرٌ الْجُعْفِيُّ، قَدْ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، تَرَكَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ وَغَيْرُهُمَا، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا قَامَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مَضَى فِي صَلَاتِهِ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، مِنْهُمْ مَنْ رَأَى قَبْلَ التَّسْلِيمِ، وَمِنْهُمْ مَنْ رَأَى بَعْدَ التَّسْلِيمِ، وَمَنْ رَأَى قَبْلَ التَّسْلِيمِ فَحَدِيثُهُ أَصَحُّ، لِمَا رَوَى الزُّهْرِيُّ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ. [1]

ترجمه : دعامر بن شراحيل شعبي بيان دي فرمائي چي مونږ ته مغيره بن شعبه رضي الله عنه مونځ راكړو او په دوه ركعاتو كي دكيناستو په ځاي اودريدو خلقو ورته سبحان الله سبحان الله اوازونه وركړل او هغه ته يي دا رايادول غوښتل چي كيني نو په سبحان الله ونيلو سره يي ورته اشاره اوكړه چي خلق اودريږي بيا چي كله هغوئ باقي مونځ پوره كړو او سلام يي اوګرځولو او په ناسته يي دوه سجدي دسهو اوكړي او بيا يي خلقو ته حديث بيان كړو چي

---

[1] _ سنن ابي داود في الصلاة (١٠٣٧) . (تحفة الأشراف : ١١٥٠٢) . مسند احمد (٣ في ٢٤٧. ٢٥٣. ٢٥٤) . سنن الدارمي في الصلاة ١٧٦(١٥٤٢)

رسول الله صلي الله عليه وسلم هم دخلقو سره داسي کړي وو لکه څرنګه چي هغوئ (مغيره) اوکړل.

امام ترمذي وائي دمغيره رضي الله عنه حديث په نورو سندونو هم مروي دي، بعضي اهل علمو په ابن ابي ليلي راوي دحفظ په اعتبار کلام کړي دي امام احمد بن حنبل وائي دابن ابي ليلي حديث قابل داستدلال دي، محمد بن اسماعيل بخاري وائي ابن ابي ليلي صدوق دي ليکن زه ورنه اخذ دروايت نه کوم ځکه چي دا نه معلوميږي دده کوم احاديث صحيح دي او کوم يې ضعيف دي او دهر چاچه دا حال وي زه ورنه نقل دروايت نه کوم، دا روايت دمغيره بن شعبه نه په نورو سندونو هم مروي دي، سفيان په سند دجابر عن المغيره بن شبيل عن قيس بن ابي حازم عن المغيرة بن شعبة سره نقل کړي دي او دجابر جعفي بعضي اهل علمو تضعيف کړي دي يحي بن سعيد او عبدالرحمن مهدي وغيره دده نه اخذ دروايت نه دي کړي، او په دي باب کي د عقبه بن عامر، سعد، او عبدالله بن بحينه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي چي يو سړي کله د دوه رکعاتو کولو نه پس په غلطئ دکيناستلو په ځاي اودريږي نو خپل مونځ دي جاري اوساتي او په اخر کي دي دوه سجدي دسهو اوکړي، دبعضي اهل علمو خيال دي چي سجدي به دسلام ګرځولو نه مخکي کوي او بعضي اهل علم وائي چي دسلام ګرځولو نه پس به سجدي کوي ځوك چي مخکي دسلام نه دسجدو کولو قائل دي دهغوئ روايت زيات صحيح دي ځکه چي دا روايت زهري او يحي بن سعيد انصاري دعبدالرحمن بن اعرج نه او هغه دعبدالله بن بحينه رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

تشريح: دسلام نه مخکي او وروسته دسجده سهو متعلق دفقهاو مذاهب ثلاثه:

که په مانځکه کي د ځکه فعل زياتوالی وشی.ياکميګ.نوپه ده به دوه سجدي د سهو واجب وی.

.پاتي شوه داخبره چی دسلام نه پس به واجب وی.اوکه دسلام نه مخکي ، ددی په جواز کي د هيچا اختلاف نشته. د ټولو اتفاق دی چی سجده سهودسلام نه مخکي اوکړی.يا د سلام نه پس.دواړه جائزدی.ليکن په افضليت کي اختلاف دي.

(۱)داحنافو په نزد د سلام نه پس غوره ده.

(۲)اود امام شافعی په نزد دسلام نه مخکي غوره ده.

(۳)او امام مالك فرمائي. که د مونځ ګذار سهو دنقصان په وجه وی.نوسجده سهو به دسلام نه مخکي کوی.اوکه د زياتوالی په وجه وی.نودسلام نه پس به سجده سهو کوی.

دامام شافعی دليل دادي چی نبی کريمﷺسجده سهودسلام نه مخکي کړي ده.لکه چی په صحاح سته کي دعبدالله بن مالك(رضي الله عنه) حديث دي.دبخاری الفاظ دی دی.

(ان النبي كريم صلي الله عليه وسلم صلى الظهر فقام في الركعتين الا وليين ولم يجلس فقام الناس معه حتى إذا قضى الصلوة و انتظر الناس تسليمه كبر و هو جالس فسجد سجدتين قبل أن يسلم).

يعني نبی کريم ﷺ د ماسپخين مونځ کولو او په مخکنو دوو رکعتوکي بغير د قعدی کولو پاڅيدلو. هغوی ﷺ سره خلق هم پورته کيدل تردی چی کله مونځ ختميدو ته نزدی شو اوخلقود رسول پاك صلي الله عليه وسلم دسلام اؤولو انتظار کولو.

نورسول پاك صلي الله عليه وسلم په ناسته ناسته تکبير اووئيلو. اود سلام اؤولونه مخکي ئيگ دوه سجدي اوکؤيگ. د دی حديث نه معلومه شوه چی سجده سهو قبل السلام ده

داحنافودلائل: اول دليل درسول پاك صلي الله عليه وسلم قول:

(۱) (لكل سهو سجدتان بعد السلام) ديگ. (ابوداوٗد، ابن ماجه)

(۲) دويم دليل حديث فعلی ديگ چی رسول پاك صلي الله عليه وسلم دسلام نه پس دوه سجدی کؤی دی. صاحب دهدايه وائی چی دوه فعلی حديثونه متعارض شی.نودا دواړه به پريخودی شی.اودرسول پاك صلي الله عليه وسلم په قول به عمل کولی شی.اودنبی کريم ﷺ قول دادي چی دسهو دوه سجدي دسلام نه پس دی.

(۳) داحنافو عقلي دليل دادي چی په اجماع سجده سهو نشی مکرر کيدی .اود سلام نه مخکي د سجده سهو کولو په صورت کي دتکرار امکان دي.په دی طريقه چی دسلام نه مخکي ئي سجده اوکړه. بياچی کله دسلام اړولو وخت راغي.نو د ده شك شو چی دری رکعته شوی دی اوکه څلور.په دی سوچ کي پروت وو.تردی چی په سلام کي تاخيراوشو.بيا ورياد شو چی څلور رکعته شوی دی نواوس دسلام دتاخيرد وجی په ده دوه سجدي د سهو واجب شوي.نودا کس به دوباره سجده سهوکوی اوکه نه.نودوه صورتونه دی. که ده دوباره سجده سهواونکړه.نوپه مونځ کي به داسی نقص باقی پاتيگ شی چی د هغی تلافی نه ده شوي.اوکه دوباره ئي سجده سهواوکړه.نوسجده سهو به مکررشی.حالانکه دا په اجماع سره غير مشروع ده.په دی وجه مناسب دی چی سجده سهو د سلام نه پس اوشی چی د ټولو سهوو تلافی اوشی.

مسئله: دسجده سهو نه مخکي دواړو طرف ته سلام واړوی اوکه يوطرف، په دی باره کي د هدايه دمصنف په نزد راجح دا دی چی دواړو طرفونو ته سلام واړوی.

(۱) ددی قائل شمس الا ئمه سرخسی، صدرالاسلام اوفقيه ابوالليث دی.

(۲) بعضی فقهاء وائی چی د امام ابو حنيفه رحمه الله اود امام ابو يوسف په نزد هم داحکم دي.اودشيخ الاسلام خواهرزاده،علامه فخرالاسلام اودصاحب ايضاح په نزد راجح دادی چی صرف گس طرف ته سلام واړوی.

هدايه مصنف دليل دابيان کړي دي چې په احاديثوکي کوم خاي لفظ دسلام ذکر دي دهغې نه متعارف اومعهود سلام مراددیګ اومتعارف دواړو طرف ته سلام اړول دی یوطرف ته مراد نه دی ،په دی وجه دواړو طرف ته سلام اړول ضروری دی.

(۳) د شيخ الاسلام خواهرزاده وغيره دليل دادي چې دسلام دوه حکمونه دی .یوخودقوم دپاره تحیه او دعا .او بل قطع کول د احرام.اودلته مونږ قطع کول مقصودنه دی .نومعلومه شوه چې تحليل مراددي اوپه تحليل کي تکرار نه وی.په دی وجه دسلام دتکرار هيڅ ضرورت نشته بلکه یوطرف ته به کافي وی.

****

۳۶۵ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، قَالَ: صَلَّى بِنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ " فَلَمَّا صَلَّى رَكْعَتَيْنِ قَامَ وَلَمْ يَجْلِسْ فَسَبَّحَ بِهِ مَنْ خَلْفَهُ، فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَنْ قُومُوا، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ سَلَّمَ وَسَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ وَسَلَّمَ . وَقَالَ: هَكَذَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : دزیاد بن علاقه بیان دي چي مونږ ته مغیره بن شعبه رضي الله عنه مونځ راکړو کله چي یي دوه رکعاتونه اوکړل نو په تشهد کي دکیناستو بغير اودریدو څوك چي وریسي ولاړ وو هغوئ سبحان الله اوازونه شروع کړل نو مغیره ورته اشاره اوکړه چي تاسو هم اودریږئ بیا چي کله هغه دمونځ نه فارغ شو نو سلام یي اوګرځولو او دوه سجدي دسهو یي اوکړي او بیا یي سلام اوګرځولو او بیا یي اووئیل همداسي رسول الله صلي الله علیه وسلم هم کړي وو.

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي او دا حدیث دمغیره بن شعبه نه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

۱۵۸ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي مِقْدَارِ الْقُعُودِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ

په اولنو دوه رکعاتونو کي په تشهد کي دکیناستلو دمقدار بیان

---

[1] ـ انظر ما قبله (تحفة الأشراف : ۱۱۵۰)

٣٦٦_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ هُوَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنَا سَعْدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ كَأَنَّهُ عَلَى الرَّضْفِ". قَالَ شُعْبَةُ: ثُمَّ حَرَّكَ سَعْدٌ شَفَتَيْهِ بِشَيْءٍ، فَأَقُولُ: حَتَّى يَقُومَ، فَيَقُولُ حَتَّى يَقُومَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، إِلَّا أَنَّ أَبَا عُبَيْدَةَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِيهِ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ يَخْتَارُونَ أَنْ لَا يُطِيلَ الرَّجُلُ القُعُودَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الأُولَيَيْنِ وَلَا يَزِيدَ عَلَى التَّشَهُّدِ شَيْئًا، وَقَالُوا: إِنْ زَادَ عَلَى التَّشَهُّدِ فَعَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ، هَكَذَا رُوِيَ عَنِ الشَّعْبِيِّ وَغَيْرِهِ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم په اولنو دوه ركعاتونو كيناستلو نو داسي به ښكاريدلو لكه چي هغه په ګرم كاڼړي ناست وي شعبه وائي چي بيا سعد خپلو دواړو شونډو ته په څه خبره حركت وركړو نو ما اووئيل تردي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به اودريدو؟نو هغوئ اووئيل تردي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به اودريدو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي مګر دابوعبيده سماع دخپل پلار نه ثابت نه ده داهل علمو په دي باندي عمل دي او هغوئ دا قول اختياركړي دي چي په اولنو دوه ركعاتونو كي قعده اوږدول پكار نه دي او نه دتشهد نه زيات څه لوستل پكار دي دوئ وائي كه چا دتشهد نه زيات كلمات اولوستل نو سجده سهو به ورباندي لازميږي دشعبي وغيره نه هم داسي مروي دي.

****

١٥٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي الإِشَارَةِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ كي داشاري كولو بيان

٣٦٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الأَشَجِّ، عَنْ نَابِلٍ صَاحِبِ العَبَاءِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ صُهَيْبٍ، قَالَ: "مَرَرْتُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي،

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ١٨٨ (٩٩٥) . سنن النسائي في التطبيق ١٠٥ (١١٧٧) . (تحفة الأشراف : ٩٦٠٩) . مسند احمد (١/ ٣٨٦، ٤١٠، ٤٢٨، ٤٦٠)

فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ إِلَيَّ إِشَارَةً، وَقَالَ: لَا أَعْلَمُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: إِشَارَةً بِإِصْبَعِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ بِلَالٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَعَائِشَةَ. [1]

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهمانه مروئ دي چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خوا كي تير شوم او هغه په مونځ كي مشغول وو ما چي ورباندي سلام واچولو نو په اشاري سره يي جواب راكړو ابن عمر وائي زما خيال دي چي صهيب راوي اووئيل دگوتي په اشاري سره يي جواب راكړو.

امام ترمذي وائي دصهيب حديث حسن دي ، په دي باب كي دبلال، ابوهريره، عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٦٨ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قُلْتُ لِبِلَالٍ: كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِينَ كَانُوا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ؟ قَالَ: "كَانَ يُشِيرُ بِيَدِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَحَدِيثُ صُهَيْبٍ حَسَنٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ اللَّيْثِ، عَنْ بُكَيْرٍ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قُلْتُ لِبِلَالٍ: كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ حَيْثُ كَانُوا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ فِي مَسْجِدِ بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ؟ قَالَ: كَانَ يَرُدُّ إِشَارَةً، وَكِلَا الْحَدِيثَيْنِ عِنْدِي صَحِيحٌ، لِأَنَّ قِصَّةَ حَدِيثِ صُهَيْبٍ غَيْرُ قِصَّةِ حَدِيثِ بِلَالٍ، وَإِنْ كَانَ ابْنُ عُمَرَ رَوَى عَنْهُمَا فَاحْتَمَلَ أَنْ يَكُونَ سَمِعَ مِنْهُمَا جَمِيعًا. [2]

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي دبلال رضي الله عنه نه مي تپوس اوكړو چي رسول الله به كله په مونځ كي وو نو خلقو به ورباندي سلام واچولو نو جواب به يي څنګه وركولو، بلال اووئيل دلاس په اشاره به يي جواب وركولو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او دصهيب حديث حسن دي مونږ يي صرف دليث په روايت پيژنو او هغه دبكير نه روايت كړي دي او دا دزيد بن اسلم نه مروي دي چي دابن عمر نه روايت كوي چي دبلال نه مي تپوس اوكړو نبي كريم صلي الله عليه وسلم به څنګه

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ١٧٠ (٩٢٥) . سنن النسائي في السهو ٦ (١١٨٨) . (تحفة الأشراف : ٤٩٦٦) . مسند احمد (٢ في ٣٣٢) . سنن الدارمي في الصلاة ٩٤ (١٤٠١)

[2] ـ سنن ابي داود في الصلاة ١٧٠ (٩٢٥) . (تحفة الأشراف : ٢٠٣٨) . مسند احمد (٦ في ١٢)

جواب ورکولو کله چي خلقو په مسجد بن عمرو بن عوف کي رسول الله ته سلام کړي وو؟ هغه په جواب کي اووئيل چي په اشاري سره به يي جواب ورکولو زما په نزد دواړه احاديث صحيح دي ځکه چي دصهيب رضي الله عنه قصه دبلال دقصي نه علاوه ده اګر چي ابن عمر ددي دواړو نه نقل د روايت کړي دي ددي خبري احتمال شته چي ددواړو نه يي اوريدلي وي

****

١٦٠ـ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ التَّسْبِيحَ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيقَ لِلنِّسَاءِ

په مونځ کي دسهو کيدو په حالت کي سړو دپاره سبحان الله وئيل پکار دي او دښځو دپاره لاس پړقول

٣٦٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ " قَالَ: وَفِي البَاب عَنْ عَلِيٍّ وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عُمَرَ وقَالَ: عَلِيٌّ كُنْتُ إِذَا اسْتَأْذَنْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي سَبَّحَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سړو لره پکار دي چي امام ته دتنبيه ورکولو دپاره سبحان الله اووائي او ښځو لره پکار دي چي لاس اوپړقوي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي، سهل بن سعد، جابر، ابوسعيد، ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، علي رضي الله عنه وائي کله چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه د دننه تللو دپاره اجازت غوښتلو او هغه به په مونځ کي مشغول وو نو سبحان الله به يي وئيل داهل علمو په دي باندي عمل دي او امام احمد او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول کړي دي.

---

[1] ـ صحيح البخاري في العمل في الصلاة ٥ (١٢٠٣) . صحيح مسلم في الصلاة ٢٣ (٤٢٢) . والصلاة ١٤٣ (٩٣٩) . سنن النسائي في السهو ١٥ (١٢٠٨) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٥ (١٠٣٤) . (تحفة الأشراف : ١٢٥١٧) . مسند احمد (٢ في ٢٦١، ٣١٤، ٣٧٦، ٤٣٢، ٤٤٠، ٤٧٣، ٤٧٩، ٤٩٢، ٥٠٧) . سنن الدارمي في الصلاة ٩٥ (١٤٠٣)

تشريح : انما التصفيق للنساء، يعني لاس پرقول دښځو كار دي، د مقتديانو دپاره ځان ته د امام متوجه كولو دپاره سبحان الله ويل پكار دي، لكه چي په پوتني روايت كې دي التسبيح للرجال و التصفيق للنساء، يعني دسړو دپاره سبحان ويل دي. او لاس پرقول دښځو دپاره دي. پورتني روايت امام ترمذي مختصر نقل كړى دى مگر بخاري چي د سهل بن سعد نه كوم روايت نقل كړى دى هغه زيات تفصيلي دي:

عن أَبِي العباس سهل بن سَعد الساعِدِيّ ﷺ : أَنَّ رَسُول الله ﷺ بَلَغَهُ أَنَّ بَني عَمرو بن عَوْفٍ كَانَ بَيْنَهُمْ شَرٌّ، فَخَرَجَ رسول الله ﷺ يُصْلِحُ بَينَهُمْ فِي أُنَاسٍ مَعَهُ، فَحُبِسَ رَسُول الله ﷺ وَحَانَتِ الصَّلاةُ، فَجَاءَ بِلالٌ إِلَى أَبِي بكر رضي الله عنهما، فَقَالَ: يَا أَبَا بَكْرٍ، إِنَّ رَسُول الله ﷺ قَدْ حُبِسَ وَحَانَتِ الصَّلاةُ فَهَلْ لَكَ أَنْ تَؤُمَّ النَّاس؟ قَالَ: نَعَمْ، إِنْ شِئْتَ، فَأَقَامَ بِلالٌ الصَّلاةَ، وتَقَدَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَكَبَّرَ وَكَبَّرَ النَّاسُ، وَجَاءَ رَسُول الله ﷺ يَمشي فِي الصُّفُوفِ حَتَّى قَامَ فِي الصَّفِّ، فَأَخَذَ النَّاسُ فِي التَّصْفِيقِ، وَكَانَ أَبُو بكرٍ ﷺ لاَ يَلْتَفِتُ فِي الصَّلاةِ، فَلَمَّا أَكْثَرَ النَّاسُ فِي التَّصْفِيقِ الْتَفَتَ، فإِذَا رَسُول الله ﷺ، فَأَشَارَ إِلَيْهِ رسول الله ﷺ فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ يَدَهُ فَحَمِدَ اللهَ، وَرَجَعَ القَهْقَرَى وَرَاءَهُ حَتَّى قَامَ فِي الصَّفِّ، فَتَقَدَّمَ رَسُول الله ﷺ، فَصَلَّى للنَّاسِ، فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: ((أَيُّهَا النَّاسُ، مَا لَكُمْ حِينَ نَابَكُمْ شَيْءٌ فِي الصَّلاةِ أَخَذْتُمْ فِي التَّصفيق؟! إِنَّمَا التَّصفيق للنِّساء. مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلاتِهِ فَلْيَقُلْ: سُبْحَانَ الله، فَإِنَّهُ لاَ يَسْمَعُهُ أَحدٌ حِينَ يقُولُ: سُبْحَانَ الله، إلاَّ الْتَفَتَ. يَا أَبَا بَكْرٍ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّي بالنَّاسِ حِينَ أَشَرْتُ إِلَيْكَ؟))، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: مَا كَانَ يَنْبَغِي لابْنِ أَبِي قُحَافَةَ أَنْ يُصَلِّي بالنَّاسِ بَيْنَ يَدَيْ رَسُول الله ﷺ. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اطلاع ملاؤ شوه چي په بني عوف كې څه جهگړه راپيدا شوي ده رسول الله صلي الله عليه وسلم سره دځو ملگرو دصلح صفايئ دپاره تشريف يوړو، هلته معاملات اصلاح كولو كې ناوخته شو او (دمازيگر) دمونځ وخت شو، دلته بلال رضي الله عنه ابوبكر صديق ته اووئيل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم خو هلته پاتې شو او دمانځه وخت شو ايا تاسو به امامت اوكړئ؟ ابوبكر صديق رضي الله عنه اوفرمائيل كه تاسو غواړئ نو خه به مونځ وركړم نو بلال رضي الله عنه اقامت اوكړو او ابوبكر رضي الله عنه او نورو تكبير تحريمه اوكړو او مونځ يې شروع كړو. په دې كې رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف راوړو او دخلقو مينځ كې تير شو په اول صف كې اودريدو (دى كتلو سره) خلقو (دصديق اكبر متوجه كولو دپاره) لاسونه پرقول شروع كړل، هغوئ چونكه مانځه كې دمشغولتيا په وجه هيڅ يو طرف ته نه متوجه كيدل، په دې وجه يې

لاسونو پړقولو طرف ته توجه ورنکړه ليکن چي کله خلقو زيات لاسونه پړقول شروع کړل نو هغه متوجه شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم يې اوليدو رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل ځايې دپاتي کيدلو او دامامت جاري ساتلو اشاره اوکړه ليکن ابوبکر رضي الله عنه لاس اوچت کړو او دالله پاك حمد يې بيان کړو او په شاراغى اول صف کې اودريدو، بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم وړاندي شو خلقو ته يې مونځ ورکړو کله چي دمونځ نه فارغ شو نو صحابه کرامو ته متوجه شو او ويې فرمائيل په تاسو څه شوي دي چي کله تاسو ته په مانځه کې څه خبر راپيښه شي نو تاسو لاسونه پړقول شروع کړئ؟ لاسونه پړقول خو ښځو دپاره دي تاسو ته چي څه خبره راپيښه شي نو سبحان الله وايئ نو اوريدونکى به تاسو ته متوجه کيږي، او اى ابوبکر! کله چي ماتاته اشاره اوکړه نو تاته امامت جاري ساتلو کې څه مانع وو؟ هغه وخت ابوبکر صديق رضي الله عنه عرض اوکړو چي دابوقحافه دځوي داطاقت چرته شته چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په موجودګئ کې خلقو ته مونځ ورکړي (بخاري ومسلم).

****

١٦١_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّثَاؤُبِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ کې داسويلي کولو دکراهت بيان

٣٧٠_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "التَّثَاؤُبُ فِي الصَّلَاةِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَجَدِّ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ التَّثَاؤُبَ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ إِبْرَاهِيمُ: إِنِّي لَأَرُدُّ التَّثَاؤُبَ بِالتَّنَحْنُحِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په مونځ کي اسويلي راتلل دشيطان دطرفه وي اوپه تاسو کي چي چا له اسويلي راشي نوچه خومره پوري ممکن وي دا دي بند کړي.

1 _ صحيح البخاري في بدء الخلق ١١ (٣٢٨٩) . والأدب ١٢٥ (٦٢٢٣) . و١٢٨ (٦٢٢٦) . صحيح مسلم في الزهد ٩ (٢٩٩٤) . (تحفة الأشراف : ١٣٩٦٢) . وكذا (٣٠١٩) . مسند احمد (٢/ ٢٦٥، ٣٩٧، ٤٢٨، ٥١٧) . ويأتي عند المؤلف في الأدب برقم: (٢٧٤٦)

امام ترمذي وائي دابوهريره رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابوسعيد خدري، او دعدي بن ثابت دنيکه (عبيد بن عازب) نه هم روايتونه وارد دي. بعضي اهل علمو په مونځ کي اسويلي کول مکروه ګڼړلي دي دابراهيم نخعي قول دي زه اسويلي په غاړي تازه کولو دفع کوم.

****

١٦٢_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ صَلاَةَ الْقَاعِدِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ صَلاَةِ الْقَائِمِ

په ناسته په مونځ کولوثواب په ولاړي دمونځ کولوپه نيمه دي

٣٧١_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلاَةِ الرَّجُلِ وَهُوَ قَاعِدٌ، فَقَالَ: "مَنْ صَلَّى قَائِمًا فَهُوَ أَفْضَلُ، وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ، وَمَنْ صَلَّى نَائِمًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَنَسٍ، وَالسَّائِبِ، وَابْنِ عُمَرَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دي چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه دهغه چا باره کي تپوس اوکړو څوک چي په ناسته مونځ کوي ويي فرمائيل څوک چي په ولاړه مونځ کوي هغه په ناستي دمونځ کولو نه افضل دي ځکه چي ده ته به په ولاړي دمونځ کولو والا په نسبت نيم ثواب ملاويږي او څوک چي په ملاسته مونځ کوي ده ته به په ناسته دمونځ کونکي په نيمه ثواب ملاويږي.

امام ترمذي وائي دعمران بن حصين حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دعبدالله بن عمر ، انس، سائب، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

دعمران بن حصين رضي الله عنه حالات

نوم عمران کنيه او ابو نجيد او دپلار نوم يي حصين وو دهجرت په ابتداء کي مسلمان شوی وو (مستدرك حاکم).

په بعضي غزواتو کي يي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يي ملګرتيا کړي وه او درسول

[1] _ صحيح البخاري في تقصير الصلاة ١٧ (١١١٥) ، و١٨ (١١١٦) . سنن ابي داود في الصلاة ١٧٩ (٩٥١) . سنن النسائي في قيام الليل ٢١ (١٦٦١) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٤١ (١٢٣١) . (تحفة الأشراف : ١٠٨٣١) . مسند احمد (٤ في ٤٣٣، ٤٣٥، ٤٤٢، ٤٤٣)

الله په تبوله زندګۍ کې دی په مدینه کې پاتې شوی دی او د وفات نبوي نه پس یې مدینې ته راتلل پریخودل او ګوشه نشیني یې اختیار کړه، عمرفاروق رضي الله عنه په زمانه کې چې کله بصره اباده شوه نو هلته منتقل شوه او عمرفاروق رضي الله عنه ورته دتعلیم خدمت حواله کړو (طبقات ابن سعد).

عمر رضي الله عنه ددور نه پس چې کله جنګونه شروع شول نو ده ورنه ځان اوساتلو (الاصابه).

علامه ابن عبدالبر لیکلي دي كان من فضلاء الصحابة وفقهائهم (الاستيعاب).

دحسن بصري قول دی چې دعمران پشان بل بهترین سړی بصري ته نه دی راغلی (استیعاب).

دده په زندګۍ کې یو څو خصوصیات وو مثلا احترام رسول داسوه رسول پابندي په عبادت کې ریاضت کول باوجود ددي چې دده ذات مرجع الخلائق وو څوك چې به په لاره تیریدل نو دده نه به یې مسائل معلومول.

وفات: داستخساء په مرض مریض شو او هم دي مرض په نتیجه کې په ۵۲هجري کې په بصره کې وفات شو (مستدرك).

مرویات: دده دمرویاتو شمیر ۱۳۰ دي په احادیثو کې به یې ډیر زیات احتیاط کولو نو ځکه یې دمرویاتو شمیر کم دی چې ۸ دهغي نه متفق علیه دي په بخاري کې څوارلس او نهه په مسلم کې دي. (روضة الصالحین)

****

۳۷۲ـ وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، إِلَّا أَنَّهُ يَقُولُ: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ الْمَرِيضِ، فَقَالَ: "صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ"[1]

ترجمه: دا حدیث دابراهیم بن طهمان په سند باندې هم مروي دي مګر دابراهیم سند داسې دي عمران بن حصین وائي چې ما درسول الله صلي الله علیه وسلم نه دمریض باره کې تپوس اوکړو نو وېې فرمائیل مونځ په ولاړه کوه او که ددې طاقت دې نه وي نو په ناسته یې کوه او که په ناسته دمونځ کولو طاقت دې نه وي نو په ملاسته یې کوه.

تشریح: په دي حدیث کې یو اشکال دي دا حدیث به خالي نه وي یا به دمفترض په باره کې وي، یا به دمتنفل په باره کې وي که دمفترض په باره کې وي نو د دوه حالاتو نه به خالي نه وي

[1] ـ صحیح البخاري في تقصیر الصلاة ۱۹ (۱۱۱۷). سنن ابي داود في الصلاة ۱۷۹ (۹۵۲). وانظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۱۰۸۳۱)

یا به مفترض په قیام قادر وي او یا به نه وي که په قیام قادر وي نو بیا خو په ناسته او په ملاسته دده مونځ فاسد وي او که په قیام قادر نه وي نو بیا خو دده په اجر کې کمې نه راځي، او که دمتنفل په باره کې وي نو بیا به هم د دوه حالاتو نه خالي نه وي یا به متنفل معذور وي او یا به نه وي که معذور وي خو په ثواب کې یې کمې نه کیږي او که غیر معذور وي دده دپاره دجمهورو په نزد په ملاسته نفل کول جائز نه دي لهذا په دې صورت کې د "من صلاح نائما" څه مطلب دي.

جواب: دا حدیث دمعذور متنفل په باره کې دي او متنفل معذور په دوه قسمه دي یو هغه چې په قیام قادر نه وي او دمشقت سره په قیام قادر وي په مذکوره حدیث کې د دویم قسم بیان دي که په ناسته مونځ کوي نو دده دپاره اجازت دي او که په ولاړه یې کوي دا دده دپاره عزیمت دي که چرې دې په عزیمت عمل کوي نو ده ته به زیات ثواب ملاؤ شي او که په رخصت عمل کوي نو دعزیمت په نیمه ثواب به ورته ملاؤ شي اګر چې دروغ سړي دثواب په مقابله کې به دا نیم ثواب وي غرض دا چې دلته نیم ثواب دعزیمت په مقابله کې دي نه چې دصحت مند په مقابله کې.

****

۱۶۳_ باب ما جاء في الرجل يتطوعُ جالسا

په ناسته دنفلي مونځ کولو بیان

۳۷۳_ حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَبِي وَدَاعَةَ السَّهْمِيِّ، عَنْ حَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: " مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا حَتَّى كَانَ قَبْلَ وَفَاتِهِ بِعَامٍ، فَإِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا، وَيَقْرَأُ بِالسُّورَةِ وَيُرَتِّلُهَا حَتَّى تَكُونَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلَ مِنْهَا ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ حَفْصَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ " يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ جَالِسًا، فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً قَامَ فَقَرَأَ، ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ صَنَعَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذَلِكَ ". وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ " يُصَلِّي قَاعِدًا، فَإِذَا

قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ، رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَاعِدٌ، رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ ". قَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: وَالْعَمَلُ عَلَى كِلَا الْحَدِيثَيْنِ كَأَنَّهُمَا رَأَيَا كِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحًا مَعْمُولًا بِهِمَا. (1)

ترجمه : دام المؤمنين حفصه رضي الله عنها بيان دي فرمائي كله چي هيڅ كله مي رسول الله صلي الله عليه وسلم په ناسته په مونځ كولو نه دي ليدلي تردي پوري چي وفات كيدو ته يي يو كال پاتي شو بنو بيا يي په ناسته مونځ كول شروع كړو او چي سورت به يي لوستلو نو په وقفي وقفي سره به يي لوستلو تردي چي داوږد نه به اوږد شو.

امام ترمذي وائي دحفصه رضي الله عنها حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د ام سلمه، او انس بن مالك رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم باره كي مروي دي چي دشپي به يي په ناسته مونځ كولو او كله چي به د ديرش يا څلوېښتو ايتونو په مقدار تلاوت پاتي شو نو بيا به اودريدو او قرائت به يي كولو او بيا به يي ركوع كوله او بيا به يي په دويم ركعات كي هم داسي كول او درسول الله باره كي دا هم مروي دي چي په ناسته به يي مونځ كولو او چي كله به يي په ولاړه قرائت كولو نو ركوع او سجده به يي هم په ولاړه كوله او چي كله به يي په ناسته قرائت كولونوركوع اوسجده به يي هم په ناسته كول، داامام احمد او اسحاق بن راهويه قول دي چي دا دواړه روايتونه صحيح او معمول بها دي.

دام المومنين حفصه رضي الله عنها حالات:

نوم حفصه دپلار نوم عمربن الخطاب چي ولادت يي دبعثت نبوي نه پنځه كاله مخكې شوى دى او پدغه وخت كې قريش دكعبي په تعمير كې مصروف وو اولنۍ نكاح يي د خنيس بن حذافه سره شوي وه.

دخپل مور او پلار او خاوند سره يوځاي مسلمانه شوي وه دخاوند سره يي هجرت هم كړى وو ليكن كله چي په غزوه بدر كې وفات شو نو ددينه پس يي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره نكاح اوشوه مروي دي چي دوفات كيدو په وخت كې يي هم روژه وه.

دهجرت په ۴۵ كال په مدينه كې وفات شو او دا د معاويه رضي الله عنه زمانه وه او مروان چي دمديني والي وو جنازه يي ورباندي اوكړه ددي ورور عبدالله بن عمر او دهغه خامنو عاصم سالم عبدالله او حمزه قبر ته اوسپارلو دوفات په وخت كې يي خپل ورور عبدالله بن عمر رضي

1 ـ صحيح مسلم في المسافرين ١٦ (٤٣٣) . سنن النسائي في قيام الليل ١٩ (١٦٥٩) . (تحفة الأشراف : ١٥٨١٢) . موطأ امام مالك في الجماعة ٧ (٢١) . مسند احمد (٦ في ٢٨٥)

الله عنه ته وصيت اوکړو چي دغابه مقام کوم جائيداد دی هغه به په طور دصدقي وقف کړي.

****

۳۷٤_ حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُصَلِّي جَالِسًا فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ، فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ مَا يَكُونُ ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً، قَامَ فَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ، ثُمَّ صَنَعَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په ناسته مونځ کولو نو قرائت به يي هم په ناسته کولو بيا چي به کله د ديرشو يا څلويښتو ايتونو په مقدار قرائت باقي پاتي شو نو بيا به اودريدو او دا به يي په ولاړه کول او بيا به يي رکوع کوله او بيا به يي سجده کوله او بيا به يي په دويم رکعات کي هم داسي کول.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

۳۷۵_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ وَهُوَ: الْحَذَّاءُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ: سَأَلْتُهَا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ، قَالَتْ: "كَانَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا وَلَيْلًا طَوِيلًا قَاعِدًا، فَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ جَالِسٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ جَالِسٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: دعبدالله بن شقيق بيان دي فرمائي چي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مي رسول الله صلي الله عليه وسلم دنفلي مونځ باره کي تپوس اوکړو نو ويي فرمائيل رسول الله به دشپي راتلو پوري په ولاړه مونځو کولو او تر ډير وخته پوري به يي په ناسته کولو کله چي به يي

---

1 _ صحيح البخاري في تقصير الصلاة ۲۰ (۱۱۱۸، ۱۱۱۹)، والتهجد ۱۶ (۱۱۴۸)، صحيح مسلم في المسافرين ۱۶ (۷۳۱)، سنن ابي داود في الصلاة ۱۷۹ (۹۵۳، ۹۵۴)، سنن النسائي في قيام الليل ۱۸ (۱۶۴۹)، سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۴۰ (۱۲۲۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۰۹)، موطا امام مالك في الجماعة ۷ (۲۳)، مسند احمد (٦ في ۱۷۸، ۲۳۱).

2 _ صحيح مسلم في المسافرين ۱۶ (۷۳۰)، سنن ابي داود في الصلاة ۲۹۰ (۱۳۵۱)، سنن النسائي في قيام الليل ۱۸ (۱۶۴۷، ۱۶۴۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۰۷)، مسند احمد (٦ في ۳۰)

په ولاړه قرائت کولو نو درکوع او سجده به يي هم په ولاړه کوله او کله چي به يي په ناسته قرائت کولو نو رکوع او سجده به يي هم په ناسته کول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

١٦٤ ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فِي الصَّلاَةِ فَأُخَفِّفُ

دماشوما نو ژړا داوريدو وخت کي په مونځ کي درسول الله داختصار کولو بيان

٣٧٦ ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "وَاللَّهِ إِنِّي لأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ وَأَنَا فِي الصَّلاَةِ فَأُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَتَنَ أُمُّهُ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په الله قسم كله چي زه په مونځ كي يم او دغه وخت كي دماشومانو ژړا واورم نو ددي ويري په وجه مونځ مختصر كوم چي ددي ماشوم مور چرته په فتنه كي مبتلا نشي.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د ابوقتاده، ابو سعيد، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

١٦٥ ـ باب مَا جَاءَ لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ الْمَرْأَةِ إِلاَّ بِخِمَارٍ

دپړوني يا لوي څادر اغوستلو نه بغير دښځو دمونځ نه کيدو بيان

٣٧٧ ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ صَفِيَّةَ ابْنَةِ الْحَارِثِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ الْحَائِضِ إِلاَّ بِخِمَارٍ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. وَقَوْلُهُ الْحَائِضِ يَعْنِي الْمَرْأَةَ الْبَالِغَ يَعْنِي إِذَا حَاضَتْ،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف. وراجع: صحيح البخارى في الأذان ٦٥ (٧٠٩، ٧١٠). صحيح مسلم في الصلاة ٣٧ (٤٧٠). سنن ابن ماجه في الإقامة ٤٩ (٩٨٩). (تحفة الأشراف: ٧٧٢)

قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَالعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ أَنَّ المَرْأَةَ إِذَا أَدْرَكَتْ فَصَلَّتْ وَشَيْءٌ مِنْ شَعْرِهَا مَكْشُوفٌ لَا تَجُوزُ صَلَاتُهَا، وَهُوَ قَوْلُ الشافعي، قَالَ: لَا تَجُوزُ صَلَاةُ المَرْأَةِ وَشَيْءٌ مِنْ جَسَدِهَا مَكْشُوفٌ. قَالَ الشافعي: وَقَدْ قِيلَ إِنْ كَانَ ظَهْرُ قَدَمَيْهَا مَكْشُوفًا فَصَلَاتُهَا جَائِزَةٌ.[1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دبالغي ښځي مونځ بغير دڅادر اغوستلو نه نه کيږي.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حديث حسن دي ، او په دي باب کي د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي چي کله يوه ښځه بالغه شي او مونځ کوي او دويختو څه حصه يي ښکاري نو ددي مونځ جائز نه دي او دا دامام شافعي قول هم دي، امام شافعي وائي ښځه به په داسي حال کي مونځ کوي چي دجسم هيڅ يوه حصه يي نه ښکاري، امام شافعي دا هم وائي، وئيلي شوي دي که چري ددي ددواړو څپو تلي ښکاري نو مونځ يي درست دي.

****

١٦٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ کي دسدل دکراهت بيان

٣٧٨ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عِسْلِ بْنِ سُفْيَانَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ" قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَرْفُوعًا، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِسْلِ بْنِ سُفْيَانَ، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ، فَكَرِهَ بَعْضُهُمُ السَّدْلَ فِي الصَّلَاةِ وَقَالُوا: هَكَذَا تَصْنَعُ اليَهُودُ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّمَا كُرِهَ السَّدْلُ فِي الصَّلَاةِ إِذَا

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٨٥ (٦٤١) . سنن ابن ماجه في الطهارة ١٣٢ (٦٥٥) . (تحفة الأشراف : ١٧٨٤٦) . مسند احمد (٦ في ١٥٠، ٢١٨، ٢٥٩)

لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ، فَأَمَّا إِذَا سَدَلَ عَلَى الْقَمِيصِ فَلَا بَأْسَ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ وَكَرِهَ ابْنُ الْمُبَارَكِ السَّدْلَ فِي الصَّلَاةِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مونځ كي دسدل كولو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي مونږ دابوهريره حديث دعطاء په روايت دابوهريره نه يي مرفوعا نقل كړي دي دعسل بن سفيان په سند پيژنو ، په دي باب كي دابو جحيفه رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، دسدل باره كي په اهل علمو كي اختلاف دي بعضي وائي چي سدل كول مكروه دي دوئ وائي چي سدل به يهوديانو كولو او دبعضو قول دي سدل په مونځ كي په هغه وخت كي مكروه وي كله چي په جسم باندي صرف يوه كپړه وي او چي كله څوك دقميص دپاسه سدل كوي نو په دي كي څه قباحت نشته او همدادامام احمد قول دي ليكن ابن مبارك په مونځ كي سدل كول مطلقا مكروه ګڼړلي دي.

تشريح : دسدل څلور تفسيرونه دي:

(۱) چي كپړه په سر راواړوي او دواړه پلوونه يي ازاد پريږدي.

(۲) سدل ديته وائي چي څادر په اوګو راواړوي او پلوونه يي كولاو پريږدي.

(۳) سدل ديته وائي چي يو كس ځان په څادر كي په داسي شان تاؤ كړي چي لاسونه يي هم په څادر كي بند پاتي شي او بيا په داسي حال كي ركوع او سجده كوي.

(۴) دسدل نه مراد دادي چي پرتوګ يا لنګ دكعبين نه لاندي وي، داولنو تفسيرونو په اعتبار سدل په مونځ كي مكروه دي او دڅلورم تفسير په اعتبار دمونځ او غير مونځ په حالتونو كي ناجائز دي څكه چي په احاديثو كي دداسي سدل متعلق شديد ممانعت او وعيد مذكور دي.

په مانځه كي د جامې راغوندول او د سدل كراهت

صاحب دكفايه وائي : سدل د جامي دا دې چي كله د سجدي كولو اراده اوكړي.نو دخپلي مخي يا شاه نه جامه راوچته كړي.اوس حاصل د مسئلې دا دې چې كه جامه په زمكه باندې راوغورځيږي.نو دادي نه رانيسي.څكه چي په دې كي يو قسم تكبر دې.

---

1 _ سنن ابي داود في الصلاة ٨٥ (٦٤٣) . سنن النسائي في السهو ٧ (١١٩٢) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٣ (١٠٢٨) . (تحفة الأشراف : ١١٩٩٤) . سنن الدارمي في الصلاة ١١٠ (١٤٢٨)

دليل ددی قول دا دې چې امام ابوداود د ابوهريره(رضي الله عنه) نه روايت کړې دې:(أنه صلي الله عليه وسلم نهى عن السدل في الصلاة وأن يغطي الرجل فاه)
يعنی رسول پاك صلي الله عليه وسلم په مانځه کي د سدل نه منع کړې ده.او ددی نه ئې منع کړې ده چې سړې خپله خوله پټه کړی.سدل دا دې چې خپله جامه په خپل سر او اوږو باندې راواچوی.اود هغې اړخونه دواړو طرفونو ته زوړند پريږدی.
صاحب د کفايه فرمائی چې سدل دی ته وائی چې څادر يا قباء په خپلو اوږو باندې واچوی.او خپل لاسونه په نستوڼړو کي نه پټوي.که د قميص دپاسه وی اوکه د قميص لاندې وی اوپه مونځ کي به نه خوراك کوی اونه څکاك کوی.څکه چې دا د مونځ په اعمالو کي نه دې.څوکه د غاښونو په مينځ کي څه څيز وی.اوبيا هغه تير کړی.نودده مونځ نه فاسديږی.څکه چې کوم څيز د غاښونو په مينځ کي وی.هغه د لاړو تابع دې.او د لاړو تيرول د مونځ فاسدونکی نه دې.نو ددی تابع به هم په تيرولو سره د مونځ فاسدونکی نه وی.(کفايه علي الهدايه).

****

١٦٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ مَسْحِ الْحَصَى فِي الصَّلَاةِ

په مونځ کي دخپلي مخي نه دکيڼولري کولو دکراهت بيان

٣٧٩ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَا يَمْسَحْ الْحَصَى فَإِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ مُعَيْقِيبٍ، وَعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَحُذَيْفَةَ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ كَرِهَ الْمَسْحَ فِي الصَّلَاةِ" وَقَالَ: إِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَمَرَّةً وَاحِدَةً، كَأَنَّهُ رُوِيَ عَنْهُ رُخْصَةٌ فِي الْمَرَّةِ الْوَاحِدَةِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

---

1 ـ صحيح البخاری في العمل فی الصلاة ٨ (١٢٠٧) . صحيح مسلم في المساجد ١٢ (٥٤٦) . سنن ابی داود في الصلاة ١٧٥ (٩٤٦) . سنن النسائي في السهو ٨ (١١٩٣) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٢ (١٠٢٦) . (تحفة الأشراف : ١١٩٨٥) . مسند احمد (٣ في ٤٢٦) . و (٥ في ٤٢٥، ٤٢٦) سنن الدارمی في الصلاة ١١٠ (١٤٢٧)

ترجمه : دابوذر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي څوك په مونځ اودريږي نو دخپلي مخي نه دي ګيټي نه لري كوي ځكه چي دغه وخت كي دالله رحمت ده ته مخامخ شوي وي.
امام ترمذي وائي دابوذر حديث حسن دي او په دي باب كي د معيقيب، علي، حذيفه، جابر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چي په مونځ كي به يي ګيټي لري كول نه خوښول ارشاد نبوي دي كه ګيټي لري كول ضروري وي نو يو ځل نيم جائز دي ګويا كي درسول الله نه يو ځل رخصت مروي دي او داهل علمو په دي قول عمل دي.

تشريح : مسلمانانو به داسلام په ابتدائي دور كي په زمكه دڅه څيز دغوړولو نه بغير مونځ كولو ځكه چي دوئ ته به داغوستلو دپاره جامي نه رسيدلي نو دغوړولو دپاره يي يا دجانماز دپاره به يي كپړه دكوم ځاي نه راوړي وه او دعربو زمكه كاڼړنه وي سجده كول وربانديي ګران وو هغوئ به ددي دپاره ځاي اوارولو مګر كله كله به ورته داوارولو موقعه ملاؤ نشوه او كله كله به يي ديته خيال رانغلو نو په دي وجه دوئ ته په مونځ كي ديوځل نيم دپاره دسجدي كولو دپاره دځاي د اوارولو اجازت وركړي شو مګر بار بار دا كار كول مكروه ګنړلي شوي دي همدا وجه ده چي ارشاد نبوي دي "په مونځ كي په كاڼړو لوبي مه كوئ ځكه چي دي وخت كي دالله رحمت تاسو ته متوجه وي".

****

٣٨٠ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُعَيْقِيبٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَسْحِ الْحَصَى فِي الصَّلاَةِ، فَقَالَ: "إِنْ كُنْتَ لاَ بُدَّ فَاعِلاً فَمَرَّةً وَاحِدَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

---

[1] ـ صحيح البخاري في العمل فى الصلاة ٨ (١٢٠٧) . صحيح مسلم في المساجد ١٢ (٥٤٦) . سنن ابي داود في الصلاة ١٧٥ (٩٤٦) . سنن النسائي في السهو ٨ (١١٩٣) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٢ (١٠٢٦) . (تحفة الأشراف : ١١٤٨٥) . مسند احمد (٣ في ٤٢٦) ، و (٥ في ٤٢٥، ٤٢٦) سنن الدارمي في الصلاة ١١٠ (١٤٢٧)

ترجمه : دمعيقيب رضي الله عنه بيان دي چي ما په مونځ كي دګيټو لري كولو په سلسله كي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو ، ويې فرمائيل كه چري ضرورت وي نو يو خل يې لري كړه.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

١٦٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ النَّفْخِ فِي الصَّلاَةِ

په مونځ كي دپوكو كولو دكراهت بيان

٣٨١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، أَخْبَرَنَا مَيْمُونٌ أَبُو حَمْزَةَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ مَوْلَى طَلْحَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلاَمًا لَنَا يُقَالُ لَهُ أَفْلَحُ، إِذَا سَجَدَ نَفَخَ، فَقَالَ: "يَا أَفْلَحُ تَرِّبْ وَجْهَكَ" قَالَ أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ: وَكَرِهَ عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ النَّفْخَ فِي الصَّلاَةِ، وَقَالَ: إِنْ نَفَخَ لَمْ يَقْطَعْ صَلاَتَهُ. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ: وَبِهِ نَأْخُذُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، وَقَالَ مَوْلًى لَنَا يُقَالُ لَهُ رَبَاحٌ. ([1])

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ دكور يو هلك اوليدو چي نوم يې افلح وو كله چي به يې سجده كوله نو پوكي به يې كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل اي افلح خپل تندي په خاورو ككړ كړه، داحمد بن منيع بيان دي چي عباد بن العوام په مونځ كي پوكي كول مكروه ګڼرلي دي او وئيلي يې دي كه چا په مونځ كي پوكي اوكړو مونځ يې نه باطل كيږي احمد بن منيع وائي مونږ همدا قول اختيار كړي دي.
امام ترمذي وائي دا حديث بعضي نورو علماؤ دابو حمزه په واسطه نقل كړي دي او د "غلاما لنا يقال له افلح" په ځاي "مولي لنا يقال له رباح" مذكور دي.

****

٣٨٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ مَيْمُونٍ أَبِي حَمْزَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ، وَقَالَ: غُلاَمٌ لَنَا يُقَالُ لَهُ رَبَاحٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أُمِّ سَلَمَةَ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِذَاكَ، وَمَيْمُونٌ أَبُو حَمْزَةَ قَدْ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي النَّفْخِ فِي الصَّلاَةِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنْ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٢٢٢)

نَفَخَ فِي الصَّلَاةِ اسْتَقْبَلَ الصَّلَاةَ، وَهُوَ قَوْلُ سفيان الثوري وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: يُكْرَهُ النَّفْخُ فِي الصَّلَاةِ وَإِنْ نَفَخَ فِي صَلَاتِهِ لَمْ تَفْسُدْ صَلَاتُهُ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق. (1)

ترجمه: په مذكوره سند حماد بن زيد دميمون بن ابي حمزه نه دپورتني حديث هم معني روايت نقل كړي دي او په دي كي "غلام لنا يقال له رباح" مذكور دي.

امام ترمذي وائي دام سلمه رضي الله عنها دحديث سند څه خاص قوي نه دي ، ميمون ابوحمزه بعضي محدثينو ضعيف ګڼرلي دي، او په مونځ كي دپوكي كولو په سلسله كي په اهل علمو كي اختلاف دي دبعضو قول دي چي څوك په مونځ كي پوكي اوكړي نو دا مونځ به دوباره كوي او همدا دسفيان ثوري او اهل كوفه قول دي او بعضي وائي چي په مونځ كي پوكي كول مكروه دي او كه چا په مونځ كي پوكي اوكړو نو مونځ يي نه فاسديږي دا دامام احمد او اسحاق بن راهويه وغيره قول دي.

****

١٦٩ــ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ الِاخْتِصَارِ . فِي الصَّلَاةِ

په مونځ كي په تشو باندي دلاسونو ايخودلو دمما نعت بيان

٣٨٣ــ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ الِاخْتِصَارَ فِي الصَّلَاةِ، وَكَرِهَ بَعْضُهُمْ أَنْ يَمْشِيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا، وَالِاخْتِصَارُ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ يَدَهُ عَلَى خَاصِرَتِهِ فِي الصَّلَاةِ أَوْ يَضَعَ يَدَيْهِ جَمِيعًا عَلَى خَاصِرَتَيْهِ، وَيُرْوَى أَنَّ إِبْلِيسَ إِذَا مَشَى مَشَى مُخْتَصِرًا. (2)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مونځ كي په تشو باندي دلاسونو ايخودلو نه منع فرمائيلي ده.

---

1 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٢٢٢)

2 ــ صحيح البخارى في العمل فى الصلاة ١٧ (١٢٢٠) . صحيح مسلم في المساجد ١١ (٥٣٥) . سنن ابى داود في الصلاة ١٤٦ (٩٣٧) . سنن النسائي في الافتتاح ١٢ (٨٩١) . (تحفة الأشراف: ١٣٥٦٠) . مسند احمد (٢ في ٢٣٢ . ٢٩٠ . ٢٩٥ . ٣٣١ . ٣٩٩) . سنن الدارمي في الصلاة ١٣٨ (١٣٦٨)

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي، بعضي اهل علمو په مونځ کي په تشو لاسونه ايخودل مکروه ګڼړلي دي او بعضو په تشو دلاسونو ايخودلو په حالت کي تلل مکروه ګڼړلي دي، او اختصار ديته وائي چي انسان په مونځ کي خپل لاس په تشي کيږدي او يا دواړه لاسونه په تشي کيږدي مروي دي چي شيطان کله روان وي نو په تشي يي لاس ايخودلي وي روان وي.

تشريح : داختصار دري تعريفونه دي:

(۱) په قرائت کي تخفيف کول (۲) په مونځ کي په همسا خان ټينګول (۳) وضع اليد على الخاصرة، دلته په حديث کي دريم تفسير مراد دي او ددي دممانعت دري وجوهات دي اوله وجه داده کله چي شيطان دجنت نه زمکي ته راشړلي شوي وو نو په همدي حالت کي زمکي ته راغلي وو، دويمه وجه داده په تشو لاس ايخودل دجهنميانو داستراحت حالت دي، دريمه وجه داده دا حالت دخشوع او خضوع خلاف دي.

****

١٧٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ كَفِّ الشَّعْرِ فِي الصَّلَاةِ

دمونځ په حالت کي دويختو تړلو دکراهت بيان

٣٨٤ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ مُوسَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، أَنَّهُ مَرَّ بِالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ وَهُوَ يُصَلِّي وَقَدْ عَقَصَ ضَفِرَتَهُ فِي قَفَاهُ فَحَلَّهَا، فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ الْحَسَنُ مُغْضَبًا. فَقَالَ: أَقْبِلْ عَلَى صَلَاتِكَ وَلَا تَغْضَبْ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " ذَلِكَ كِفْلُ الشَّيْطَانِ " قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي رَافِعٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ وَهُوَ مَعْقُوصٌ شَعْرُهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعِمْرَانُ بْنُ مُوسَى هُوَ: الْقُرَشِيُّ الْمَكِّيُّ وَهُوَ أَخُو أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى. [1]

ترجمه : دابورافع رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي زه دحسن بن علي په خوا کي تير شوم او هغه مونځ کولو او خپل ويخته يي په غړي پوري تړلي وو نو ابو رافع دا پرانيستل حسن

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٨٨ (٦٤٦) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٧ (١٠٤٢) . (٦ في ٨، ٣٩١) . (تحفة الأشراف : ١٢٠٢٠) .

سنن الدارمي في الصلاة ١٠٥ (١٤٢٠)

رضي الله عنه ورته دخفگان په نظر اوكتل نو ابو رافع اوونيل ته خپل مونځ جاري اوساته او غصه كيږه مه ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي دا دشيطان حصه ده.

امام ترمذي وائي دابورافع حديث حسن دي، او په دي باب كي دام سلمه، او عبدالله بن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي هغوئ دا مكروه گنړلي دي چي يو سړي دمونځ په حالت كي خپل ويخته وتړي.

تشريح : ويخته ددي دپاره په مرئ پوري تړل چي په سجده كي په خاورو گنده نشي دا طريقه كول مكروه دي بلكه دمونځ په دوران كي په ځان پوري جامي راټولول هم مكروه دي او دا ځكه كله چي انسان سجده كوي نو ټول ځيزونه په سجده كي شريكيږي او دا كار دي لره دسجدي نه منع كول دي، دويمه خبره داده چي ويخته يا جامي دخاورو نه ساتل تكبر هم دي او په مونځ كي خو دخشوع حكم دي، دكف الشعر كراهت اتفاقي او اجماعي دي.

****

۱۷۱_ باب مَا جَاءَ فِي التَّخَشُّعِ فِي الصَّلاَةِ

په مونځ كي دخشوع كولو بيان

۳۸۵_ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ أَبِي أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ نَافِعِ ابْنِ الْعَمْيَاءِ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الصَّلاَةُ مَثْنَى مَثْنَى تَشَهَّدُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَتَخَشَّعُ وَتَضَرَّعُ وَتَمَسْكَنُ وَتَذَرَّعُ وَتُقْنِعُ يَدَيْكَ، يَقُولُ: تَرْفَعُهُمَا إِلَى رَبِّكَ مُسْتَقْبِلًا بِبُطُونِهِمَا وَجْهَكَ، وَتَقُولُ: يَا رَبِّ يَا رَبِّ، وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَهُوَ كَذَا وَكَذَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَالَ غَيْرُ ابْنِ الْمُبَارَكِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: مَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَهِيَ خِدَاجٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ: رَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ فَأَخْطَأَ فِي مَوَاضِعَ، فَقَالَ: عَنْ أَنَسِ بْنِ أَبِي أَنَسٍ وَهُوَ عِمْرَانُ بْنُ أَبِي أَنَسٍ، وَقَالَ: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ، وَإِنَّمَا هُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ نَافِعِ ابْنِ الْعَمْيَاءِ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ، وَقَالَ شُعْبَةُ: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ الْمُطَّلِبِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَإِنَّمَا هُوَ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ

الْمُطَّلِبِ، عَنِ الفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَحَدِيثُ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ هُوَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ يَعْنِي أَصَحَّ مِنْ حَدِيثِ شُعْبَةَ. (1)

ترجمه : دفضيل بن عياض نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مونځ دوه دوه رکعاته دي او دهر دوه رکعاتونو نه پس تشهد دي او تشهد په مونځ کي دخشوع او خضوع او مسکنت او ژړا او زارئ داظهار نوم دي او تاسو خپل دواړه لاسونه پورته کړئ يعني دخپل رب په وړاندي خپل لاسونه پورته کړئ په داسې حال کي چي ورغوي ستاسو دمخ طرف ته وي او داسي وائي اي ربه اي ربه او چاچه داسي اونکړل هغه داسي دي او داسي دي.

امام ترمذي وائي دابن مبارك نه علاوه نورو خلقو په دي حديث کي "من لم يفعل ذلك فهي كذا وكذا خداج" يعني چاچه داسي اونکړل مونځ يي ناقص دي جمله نه ده نقل کړي، ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چي شعبه دا حديث د عبد ربه بن سعيد نه نقل کړي دي او دهغه نه په ډيرو مقاماتو کي غلطياني شوي دي يوه غلطي يي دا کړي ده چي هغه دانس بن ابي انس نه روايت کړي دي او حال دادي چي هغه عمران بن ابي انس دي، دويمه غلطي يي دا کړي ده چي هغه "عن عبدالله بن الحارث عن المطلب عن النبي صلي الله عليه وسلم" وئيلي دي او حال دادي چي صحيح عن ربيعة بن الحارث بن عبدالمطلب عن الفضل بن عباس عن النبي صلي الله عليه وسلم دي، امام بخاري وائي دليث بن سعد حديث صحيح دي يعني دشعبه د روايت نه زيات صحيح دي.

****

١٧٢_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّشْبِيكِ بَيْنَ الأَصَابِعِ فِي الصَّلاَةِ

دمونځ په حالت کي ديو لاس په ګوتو کي دبل لاس دګوتو ورکولو دکراهت بيان

٣٨٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يُشَبِّكَنَّ بَيْنَ أَصَابِعِهِ فَإِنَّهُ فِي صَلَاةٍ" قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، مِثْلَ حَدِيثِ اللَّيْثِ، وَرَوَى شَرِيكٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ،

---

1 _ تفرد به المؤلف ورواه النسائي في الكبرى في الصلاة (١١٩) (تحفة الأشراف: ١١٠٤٢)

عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَحَدِيثُ شَرِيكٍ غَيْرُ مَحْفُوظٍ. (1)

ترجمه : دكعب بن عجره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي څوك په تاسو كي په ښه شان سره اودس اوكړي او مسجد ته دتلو په اراده دكور نه روان وي نو تشبيك دي نه كوي (يعني ديو لاس گوتي دي دبل لاس په گوتو كي نه وركوي) ځكه چي دي په مونځ كي دي.

امام ترمذي وائي دكعب بن عجره حديث دابن عجلان نه ډيرو خلقو دليث دحديث هم معني نقل كړي دي، او شريك په سند د "محمد بن عجلان عن ابيه عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم" سره نقل كړي دي او ددي روايت هم معني روايت يي بيان كړي دي او دشريك روايت غير محفوظ دي.

كعب ابن عجره رضي الله عنه حالات

نوم كعب كنيه ابو محمد په يوه غزوه كي يي لاس كټ شوى وو او دسر ويخته يي ګڼړ وو (طبقات ابن سعد).

دهجرت نه پس مسلمان شوى وو او دمسلمانيدو نه پس يي په تمامو غزواتو كي شركت كړى دى په غزوه حديبيه كي هم درسول الله صلي سره موجود وو دويختو دګڼروالي په وجه يي په سر كي دومره ډيري سپږي شوي وي چي په مخ به يي رارواني وي نو رسول الله ورته دويختو كټ كولو مشوره وركړه نو بيا يي ددينه پس كټ كړل دده په سيرت كي دحق حمايت او حب رسول سر فهرست دي دكعب رضي الله عنه په اخلاقو كي دا دوه څيزونه ډير روښانه دي چي يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو چي درسول الله رنګ دلوږي په وجه تغير شوى وو نو دى فورا پوهه شو او ديهودي اوښ يي اوبه كولو ده به اوښ ته يوه بوكه اوبه په يوه كجوره اچولي كله چي يو څو كجوري ورسره جمع شوي نو هغه يي درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضري كړي (الاصابه).

دهجرت په ۵۱كال كي كله چي دده عمر ۷۵كلونه وو په مدينه كي وفات شو او درواياتونو تعداد يي ۴۷دى.

****

1 (تحفة الأشراف: ١١١٢١). وأخرجه مسند احمد (٤ في ٢٤٢). سنن ابن ماجه في الإقامة ٤٢ (٩٦٧)

١٧٣_ باب مَا جَاءَ فِي طُولِ الْقِيَامِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ کي داوږد قيام کول بيان

٣٨٧_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "طُولُ الْقُنُوتِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِيٍّ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ.[1]

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي چي يو ځل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړي شو چي په مونځونو كي كوم يو مونځ افضل دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په كوم كي چي قيام اوږد وي.

امام ترمذي وائي دجابر بن عبدالله حديث حسن صحيح دي او په نورو سندونو هم دا روايت دجابر بن عبدالله نه مروي دي، او په دي باب كي دعبدالله بن حبشي او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : په دي مسئله كي اختلاف دي چي اوږد قيام كول افضل دي او كه ډيري سجدي كول افضل دي.

(١) دامام ابو حنيفه او امام شافعي او جمهورو اهل علمو په نزد اوږد قيام كول افضل دي.

(٢) او دبعضي اهل علمو په نزد كثرت دسجود افضل دي؟

دامام ابو حنيفه او جمهورو دلائل دوئ په دي مسئله كي دحديث الباب نه استدلال كړي دي چي دجابر په حديث كي مروي دي كله چي درسول الله نه دافضل مونځ په باره كي تپوس اوكړي شو نو په جواب كي يي طول القنوت يعني اوږد قرائت كول اوفرمائيل.

دليل دبعضي اهل علمو په دي باب پسي راتلونكي باب دي وفيه "مامن عبد يسجد لله سجدة الا رفعه الله بها درجة وحط بها عنه خطيئة" يعني الله تعالي په هره سجده دبنده درجي لوړوي او په هره سجده غلطي معاف كوي ددي روايت نه اشارة معلومه شوه چي كثرت دسجود افضل دي.

[1] ـ صحيح مسلم في المسافرين ٢٢ (٧٥٦). سنن ابن ماجه في الإقامة ٢٠٠ (١٤٢١). (تحفة الأشراف: ٢٧٤٢). مسند احمد (٣ في ٣٠٢، ٣٩١، ٣١٢)

جواب: دلته ذكر دجزء دي او مراد كل دي ځكه چي دمونځ نه بغير سجده معتبر نه وي مگر علاوه دسجدي دتلاوت نه.

امام نووي د اوږد قيام په فضائلو كي يو متفق عليه روايت نقل كړى دى كوم چي په لاندينو كرخولي ذكر كولى شي:

عن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ لَيلَةً، فَأَطَالَ القِيَامَ حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سُوءٍ! قِيل: وَمَا هَمَمْتَ بِهِ؟ قَالَ: هَمَمْتُ أَنْ أَجْلِسَ وَأَدَعَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

أخرجه البخاري ٢/٢٤ (١١٣٥) كتاب التهجد باب تطويل القيام في صلاة الليل. ومسلم ٢/١٨٢ (٧٧٣) (٢٠٤) واحمد في المسند ٣٧٤٢ وابن ماجه.

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چي يوه شپه مي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره مونځ كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم قيام دومره اوږد كړو چي زما زړه ته يو خراب خيال راغلو، چاترينه تپوس اوكړو چي څه خراب خيال درته راغلي وو هغه اوويل دا خيال راغلو چي زه كينم او رسول الله صلي الله عليه وسلم دغه شان ولاړ پريږدم (بخاري او مسلم)

لغات: همت: همّ همًا دنصر نه په معني دقصد او ارادي كولو دي.

د اوږد قيام په باره كې دعلماؤ اختلاف دى چي اوږد قيام افضل دى او كه ډيري سجدي كول؟ دامام ابو حنيفه او شافعي په نزد اوږد قيام افضل دى او دعبدالله بن عمر او امام احمد او په يو قول كې امام شافعي په نزد زياتي سجدي يعني ډير ركعاتونه كول افضل دي دامام ابو يوسف په نزد دورځي زيات ركعاتونه كول افضل دي او دشپي اوږد قيام كول افضل دي خو پورتني روايت دامام ابو حنيفه دقول تائيد كوي په يو بل روايت كې داسي راغلي دي "سئل اي الاعمال افضل قال طول القيام" يعني درسول الله نه تپوس اوكړى شو چي كوم يو عمل ډير افضل دى نو ويى فرمائيل اوږد قيام كول.

"هممت ان اجلس وادعه" يعني قصد مي اوكړو چي كينم او دده ملگرتيا پريږدم دا عمل ابن مسعود بد اوگنړل اگر چي جائز دى چي كه مقتدي عاجز وي نو كيناستى شي دلته دا عمل ابن مسعود ځكه بد اوگنړلو چي دا بده خبره ده چي رسو الله صلي الله عليه وسلم دي ولاړ وي او زه كينم.

****

١٧٤ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَثْرَةِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ وَفَضْلِهِ

دركوع او سجدي دكثرت فضيلت

٣٨٨_ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ. حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ. قَالَ: وحَدَّثَنَا أَبُو مُحَمَّدٍ رَجَاءٌ. قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ. عَنِ الأَوْزَاعِيِّ. قَالَ: حَدَّثَنِي الْوَلِيدُ بْنُ هِشَامٍ الْمُعَيْطِيُّ. قَالَ: حَدَّثَنِي مَعْدَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيُّ. قَالَ: لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ لَهُ: دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يَنْفَعُنِي اللهُ بِهِ وَيُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ. فَسَكَتَ عَنِّي مَلِيًّا ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيَّ. فَقَالَ: عَلَيْكَ بِالسُّجُودِ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ بِهَا دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً"[1]

ترجمه : د معدان بن طلحه يعمري بيان دي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دازاد كړي غلام ثوبان رضي الله عنه سره ملاقات اوكړو او هغوئ ته مي اووئيل چي ماته كوم داسي عمل اوښايئ په كوم چي الله تعالي ماته نفع رسوي او جنت ته مي داخلوي ددي وينا نه پس ثوبان يوه شيبه خاموش اودريدو او بيا زما طرف ته متوجه شو او ويي فرمائيل چي سجدي ډيري كوه ځكه چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي هر يو بنده چي دالله تعالي درضا دپاره سجده كوي الله تعالي ددي سجدي په بركت دده يوه يوه درجه لوړوي او يوه يوه ګناه يي معاف كوي.

****

٣٨٩_ قَالَ مَعْدَانُ بْنُ طَلْحَةَ: فَلَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ. فَسَأَلْتُهُ عَمَّا سَأَلْتُ عَنْهُ ثَوْبَانَ. فَقَالَ: عَلَيْكَ بِالسُّجُودِ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ بِهَا دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً" قَالَ مَعْدَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيُّ. وَيُقَالُ ابْنُ أَبِي طَلْحَةَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. وَأَبِي أُمَامَةَ. وَأَبِي فَاطِمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ثَوْبَانَ. وَأَبِي الدَّرْدَاءِ فِي كَثْرَةِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا الْبَابِ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: طُولُ الْقِيَامِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ كَثْرَةِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ. وقَالَ بَعْضُهُمْ: كَثْرَةُ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ أَفْضَلُ مِنْ طُولِ الْقِيَامِ. وقَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: قَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا حَدِيثَانِ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ بِشَيْءٍ. وقَالَ إِسْحَاقُ: أَمَّا فِي النَّهَارِ فَكَثْرَةُ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ وَأَمَّا بِاللَّيْلِ فَطُولُ الْقِيَامِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ لَهُ جُزْءٌ بِاللَّيْلِ يَأْتِي عَلَيْهِ. فَكَثْرَةُ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ فِي هَذَا

[1] _ تفرد به المؤلف رحمه الله.

أَحَبُّ إِلَيَّ لِأَنَّهُ يَأْتِي عَلَى جُزْئِهِ، وَقَدْ رَبِحَ كَثْرَةَ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا قَالَ إِسْحَاقُ: هَذَا لِأَنَّهُ كَذَا وُصِفَ صَلَاةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ وَوُصِفَ طُولُ الْقِيَامِ، وَأَمَّا بِالنَّهَارِ فَلَمْ يُوصَفْ مِنْ صَلَاتِهِ مِنْ طُولِ الْقِيَامِ مَا وُصِفَ بِاللَّيْلِ. (1)

ترجمه : دمعدان بن طلحه بیان دي چي بیا مي ملاقات دابو الدرداء رضي الله عنه سره اوشو نو دهغه نه مي هم په دي باره کي سوال اوکړو په څه باره کي چي مي دثوبان نه کړي وو نو هغه راته هم اوونیل چي سجدي کول په ځان باندي لازم کړه ځکه چي ما درسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي هر یو بنده چي دالله درضا دپاره سجدي کوي الله تعالي دهغي په برکت دده یوه درجه لوړوي او یوه ګناه یي محوه کوي.

امام ترمذي وائي درکوع اوسجدي دکثرت په سلسله کي دثوبان او ابو الدرداء رضي الله عنهما احادیث دحسن صحیح درجي والا دي، او په دي باب کي دابوهریره، ابو امامه، او ابو فاطمه رضي الله عنهم نه هم احادیث وارد دي ، او په دي باب کي داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دي چي په مونځ کي اوږد قیام کول دډیرو سجدو کولو نه افضل دي او دبعضو قول دي چي په کثرت سره رکوع او سجده کول داوږد قیام نه افضل دي، احمد بن حنبل وائي چي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه په دي سلسله کي دواړه قسمه احادیث مروي دي لیکن په دي کي هغوئ کومه فیصله نه ده کړي چي په دي روایاتو کي کوم یو راجح دي، اسحاق بن راهویه وائي چي دورځي په کثرت سره رکوع او سجدي کول افضل دي او دشپي اوږد قیام کول افضل دي مګر دا چي یو کس داسي وي دچاچه دشپي په حصه کي دقران لوستلو کومه حسه متعین ده نو بیا دهغه په حق کي دشپي هم رکوع او سجدي په کثرت سره افضل دي ځکه چي دي خو به دقران هغه هومره حصه وائي کومه چي هغه دځان دپاره خاص کړي وي او په کثرت سره درکوع او سجدي کولو نفع به ورته جدا حاصل شي، اسحاق بن راهویه داخبره په دي وجه کړي ده چي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دقیام اللیل حال دا بیان کړي شوي دي چي هغه به په دي کي ډیر اوږد قیام کولو پاتي شول دورځي مونځونه نو په دي سلسله کي دا نه دي بیان شوي چي په دي مونځونو کي به یي دشپي دمونځونو پشان اوږد قیام کولو.

****

۱۷۵ــ بَابُ مَا جَاءَ فِي قَتْلِ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ فِي الصَّلَاةِ

---

1 ـ صحیح مسلم في الصلاة ۴۲ (۴۸۸) . سنن النسائي في التطبیق ۸۰ (۱۱۴۰) . سنن ابن ماجه في الإقامة ۲۰۱ (۱۴۲۳) . (تحفة الأشراف : ۲۱۱۲) . مسند احمد (۲۷۶۵. ۲۸۰. ۲۸۳)

دمونځ په دوران کې دمار لړم دوژلو بیان

۳۹۰_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ وَهُوَ: ابْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ ضَمْضَمِ بْنِ جَوْسٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ الْحَيَّةُ وَالْعَقْرَبُ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي رَافِعٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ، وَكَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ قَتْلَ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ فِي الصَّلَاةِ، وقَالَ إِبْرَاهِيمُ: إِنَّ فِي الصَّلَاةِ لَشُغْلًا، وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ.[1]

ترجمه: دابو هریره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم په مونځ کي د دوه تورو څیزونو یعني دمار او لړم دوژلو حکم کړي دي امام ترمذي وائي دابوهریره حدیث حسن صحیح دي او په دي باب کي دابن عباس او ابو رافع رضي الله عنهم نه هم احادیث وارد دي او دصحابه کرامو وغیره بعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي او په همدي امام احمد او اسحاق بن راهویه هم قول کړي دي، مګر بعضي اهل علمو په مونځ کي دمار لړم وژل مکروه ګڼړلي دي، ابراهیم نخعي وائي چي مونځ پخپله یو شغل دي (او دا څیز په دي کي مخل وي) اولني قول راجح دي.

په مانځه کې مار لړم قتلول

د مانځه په حالت کي مار او لړم قتلول بغیر د کراهت نه مباح دی دلیل ددي قول د رسول پاك صلي الله علیه وسلم دا ارشاد دې (اقتلوا الأسودين ولو كنتم في الصلاة) په حدیث کي د اسودین نه مراد مار او لړم دې.ترجمه دا شوه چی مار او لړم قتلوئ.اګرکه تاسو په مانځه کي یې.

او عقلی دلیل دا دې چی مار او لړم وژل ددی وجی جائز دی چی په دی سره د زړه مشغولیت لري کیږی.یعنی د مونځ ګذار نظر چی تر څو پورې په هغی باندې وی.نو دده زړه هغی طرف ته متوجه وی.او ده ته د مانځه روح چی حضور قلب دی نه حاصلیږی.څکه وئیلی شوی دی

[1] _ سنن ابي داود في الصلاة ۱۶۹ (۹۲۱) . سنن النسائي في السهو ۱۲ (۱۲۰۳) . سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۳۶ (۱۲۴۵) . (تحفة الأشراف: ۱۳۵۱۳) . سنن الدارمي في الصلاة ۱۷۸ (۱۵۴۵)

چې دوئ وژنئ چې د زړه مشغولیت مو ختم شي.او حضور قلب درته نصیب شي.نو دا د مار او لړم وژل د مونځ گذار مخکې د تیریدونکې منع کولو سره مشابه شو.

دضرباتو دعدد متعلق دوه اقوال دي

(۱) صاحب دعنایه لیکلی دی چې مصنف د هدایه ددی څه تفصیل نه دی ذکر کړې دې چې په یو ځل به ئې وژني او که بار بار وهلو ته ضروت پیښ شي.نو په څو کرته کې به ئې وژني.هم دا دویم قو ل د شمس الائمه سرخسی دې.یعنی که په یو ځل وهلو سره ئې وژل ممکن وي.نو یو ځل به ئې وهي.او که څو ځله وهلو ته ضرورت پیښ شي.نو په دی به هم صرفه نه کوي.حاصل دا دې چې مقصود ددی قتلول دی.که په یوځل وهلو سره وي.اوکه په گڼرو وهلو سره وي.دلیل ددي قول دا دې چې رسول پاك صلي الله علیه وسلم (اقتلوا الأسودین) فرمائیلی دی.او په دی کې څه تفصیل نشته.

(۲) دبعضي فقهاؤ خیال دا دې چې که په یوځل وهلو سره قتلول ممکن وي.نو وژني دې.اومونځ دی نه راگرځوي.اوکه څوکرته وهل په عمل کې راشي.نو مونځ به راگرځوي.ځکه چې دا عمل کثیر دې.اوعمل کثیر مفسد د صلاة دې.

لیکن ددی جواب دا دې.بیشکه چې په څو ځله لرگی وهلو کې عمل کثیر دې.خو دا عمل کثیر داسی دې چې ددی د شریعت د طرفه رخصت او اجازت دې.لکه په مانځه کې چې حدث پیښ شي.نو ددی نه پس د مصلی تلل د کوهی نه اوبه راویستل او اودس کول دا مجموعه عمل کثیر دې.خو د شریعت د رخصت ورکولو د وجی مفسد د صلاة نه دی. نو هم دغه شان دلته هم چونکه د شریعت د طرفه رخصت دې.نو ځکه په بار بار وهلو کې فساد د مانځه نشته.

(۱) صاحب د هدایه فرمائی په دی حکم کې د مار ټول قسمونه برابر دی.که هغه سپین وی اوکه برگ یا تور. هم دا قول صحیح دې.ځکه چې کوم حدیث مونږ ذکر کړې دې.هغه مطلق دې.ټولو ته شامل دې

(۲) فقیه ابوجعفر هندوانی فرمائی. چې بعضي سپین ماران په کورنونو کې اوسیږی.او نیغ گرځی.هغه پیریان وی.د هغوی قتلول مباح نه دی.ځکه چې د الله تعالی رښتینی پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمائیلی دی(إیا کم والحیة البیضاء فإنها من الجن) یعنی د سپین رنگ مار قتلولو نه خان ساتئ.ځکه چې دا پیری وی.په دی کې د مونځ او غیر مونځ څه تفصیل نشته.نود داسی قسم مار د قتلولو په مانځه کې هم اجازت نشته.البته که د وړاندې نه دی اووائی.چې تاسو لاړ شئ.د مسلمانانو لار پریږدئ.گنی مونږ مو قتلوو.او ددی باوجود هم هغه نه تلو نود هغه قتلول مباح دی.

(۳) امام ابوجعفر طحاوی په مارانو کي فرق کول غلط ګرځولې دی.ځکه چې رسول الله صلي الله علیه وسلم د پیریانو نه وعده اخستې وه چې دوی به امت ته د مار په صورت کي نه ښکاره کیږی.اونه به د دوی کورونو ته داخلیږی.نو چې دوی وعده ماته کړی.نو قتل ئې مباح شو.هم دا قول شمس الائمه سرخسی اختیار کړې دې.او په حدیث کي د "اسودین"نه مراد صرف تور ماران نه دی.بلکه دا لفظ د عربو په عرف کي د مطلق مار دپاره استعمالیږی.که د هر رنګ وی.

****

أبـــواب الـــســهـــو

هرکله چي مصنف د ادا د بیان نه چې فارغ شو.نواوس هغه څیزبیانوی چې په ادا کي د واقع کیدونکی نقصان تلافی کوی.یعنی سجده سهو.دسجدي ترکیب د(اضافت المسبب الی السبب) د قبیلی نه دې.ځکه چې په مانځه کي سهودسجدو واجبولو سبب دې.
باقي دا چې په مانځه کي د دوه سجدو مقررولوڅه حکمت دې؟.نود حکیم الامت په ژبه دحق بیان اوګورئ اوله سجده نفس ته په دی خبره تنبیه ورکولو دپاره ده چې زه ددی خاورونه پیدا شوې یم.اودویمه سجده په دی خبره دلا لت دې چې زه به هم دی خاوروته ورځم.
تهانوی صاحب په (احکام اسلام عقل کی نظرمین)کي لیکلی دی چې شیطان دسجدي نه انکارکړې وو.دده د ذلیل کولو دپاره دوه سجدي فرض شوې.اود ازل عهد نه پس چې دسجدي نه پورته شو.نودکافرانو نه کول معلوم شو.دخپل توفیق په شکریه کي دویمه سجده شوې وه هغه اوس هم اقي ده. (احسن الهدایه)

١٧٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ

دسلام نه مخکي دسجده سهو کولو بیان

٣٩١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ الأَسَدِيِّ حَلِيفِ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " قَامَ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ وَعَلَيْهِ

جُلُوسٌ، فَلَمَّا أَتَمَّ صَلَاتَهُ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ يُكَبِّرُ فِي كُلِّ سَجْدَةٍ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ، وَسَجَدَهُمَا النَّاسُ مَعَهُ مَكَانَ مَا نَسِيَ مِنَ الْجُلُوسِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن بحينه رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دماسپخين په مونځ كي اودريدو او كيناستل ورله يكار وو چنانچه كله يي مونځ پوره كړو نو دسلام ګرځولو نه مخكي يي په همدغه ځاي كي دوه سجدي اوكړي او په هره سجده كي يي الله اكبر اووئيل او خلقو ورسره هم سجده اوكړه په بدل دهغه جلسه كي كومه چي ورنه هيره شوي وه.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى وَأَبُو دَاوُدَ قَالَا حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ السَّائِبِ الْقَارِئَ كَانَا يَسْجُدَانِ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ قَالَ أَبُو عِيسَى حَدِيثُ ابْنِ بُحَيْنَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ يَرَى سَجْدَتَيِ السَّهْوِ كُلِّهِ قَبْلَ السَّلَامِ وَيَقُولُ هَذَا النَّاسِخُ لِغَيْرِهِ مِنَ الْأَحَادِيثِ وَيَذْكُرُ أَنَّ آخِرَ فِعْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى هَذَا

و قَالَ (حم) وَإِسْحَقُ إِذَا قَامَ الرَّجُلُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ فَإِنَّهُ يَسْجُدُ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ قَبْلَ السَّلَامِ عَلَى حَدِيثِ ابْنِ بُحَيْنَةَ.

دمحمد بن ابراهيم نه روايت دي چي ابوهريره او عبدالله بن السائب دواړو به سجده سهو دسلام نه مخكي كوله ، او په همدي دبعضي اهل علمو عمل دي او دامام شافعي هم دا قول دي دامام شافعي رائي داده چي سجده سهو په هر صورت كي دسلام نه مخكي كول پكار دي او دا حديث دنورو احاديثو دپاره ناسخ دي ځكه چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم عمل په اخر كي په همدي باندي پاتي شوي دي. او احمد او اسحاق بن راهويه وائي كله چي يو كس د دوه ركعاتونو كولو نه پس اودريږي نو هغه به دابن بحينه په حديث دعمل كولو په حال كي سجده سهو دسلام نه مخكي كوي

---

[1] ـ البخاري في الأذان ١٣٦ (٨٢٩)، و١٣٧ (٨٣٠)، والسهوا (١٢٢٥)، و٥ (١٢٣٠)، والأيمان والنذور ١٥ (٦٦٧٠)، مسلم في المساجد ١٩ (٥٧٠)، سنن ابي داود في الصلاة ٢٠٠ (١٠٣٤)، النسائي في التطبيق ١٠٦ (١١٧٨)، والسهو ٢٨ (١٢٦٢)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٣١ (١٢٠٦، ١٢٠٧)، (تحفة الأشراف: ٩١٥٤)، موطا امام مالك في الصلاة ١٧ (٦٥)، مسند احمد (٣٤٥٥، ٣٤٦)، سنن الدارمي في الصلاة ١٧٦ (١٥٤٠)

****

قَالَ علي بن المديني: وَعَبْدُ اللهِ ابْنُ بُحَيْنَةَ هُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَالِكٍ وَهُوَ ابْنُ بُحَيْنَةَ مَالِكٌ أَبُوهُ وَبُحَيْنَةُ أُمُّهُ هَكَذَا أَخْبَرَنِي إِسْحَقُ بْنُ مَنْصُورٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمَدِينِيِّ قَالَ أَبُو عِيسَى وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ مَتَى يَسْجُدُهُمَا الرَّجُلُ قَبْلَ السَّلَامِ أَوْ بَعْدَهُ فَرَأَى بَعْضُهُمْ أَنْ يَسْجُدَهُمَا بَعْدَ السَّلَامِ وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَأَهْلِ الْكُوفَةِ و قَالَ بَعْضُهُمْ يَسْجُدُهُمَا قَبْلَ السَّلَامِ وَهُوَ قَوْلُ أَكْثَرِ الْفُقَهَاءِ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مِثْلِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ وَرَبِيعَةَ وَغَيْرِهِمَا وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ و قَالَ بَعْضُهُمْ إِذَا كَانَتْ زِيَادَةٌ فِي الصَّلَاةِ فَبَعْدَ السَّلَامِ وَإِذَا كَانَ نُقْصَانًا فَقَبْلَ السَّلَامِ وَهُوَ قَوْلُ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ

و قَالَ مَا رُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ فَيُسْتَعْمَلُ كُلٌّ عَلَى جِهَتِهِ يَرَى إِذَا قَامَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ عَلَى حَدِيثِ ابْنِ بُحَيْنَةَ فَإِنَّهُ يَسْجُدُهُمَا قَبْلَ السَّلَامِ وَإِذَا صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا فَإِنَّهُ يَسْجُدُهُمَا بَعْدَ السَّلَامِ وَإِذَا سَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِنْ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فَإِنَّهُ يَسْجُدُهُمَا بَعْدَ السَّلَامِ وَكُلٌّ يُسْتَعْمَلُ عَلَى جِهَتِهِ وَكُلُّ سَهْوٍ لَيْسَ فِيهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذِكْرٌ فَإِنَّ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ قَبْلَ السَّلَامِ و قَالَ إِسْحَقُ نَحْوَ قَوْلِ (حم) فِي هَذَا كُلِّهِ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ كُلُّ سَهْوٍ لَيْسَ فِيهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذِكْرٌ فَإِنْ كَانَتْ زِيَادَةً فِي الصَّلَاةِ يَسْجُدُهُمَا بَعْدَ السَّلَامِ وَإِنْ كَانَ نُقْصَانًا يَسْجُدُهُمَا قَبْلَ السَّلَامِ.

علي بن مديني وائي چي عبدالله بن بحينه عبدالله بن مالك دي دابن بحينه دپلار نوم مالك دي او بحينه دده مور ده، دسجده سهو باره كي په اهل علمو كي اختلاف دي چي دسلام نه مخكي كول پكار دي او كه روسته دبعضو علماؤ رائي داده چي دا د دسلام نه پس كول پكار دي او دا قول د سفيان ثوري او اهل كوفه دي، او دبعضي علماؤ خيال دي چي دا دسلام نه مخكي كول پكار دي او همدا دمديني داكثرو فقهاؤ قول دي مثلا يحيي بن سعيد. ربيعه وغيره او دا دامام شافعي قول هم دي او دبعضي علماؤ قول دي چي كله په مونځ كي زيادت اوشي نو سجده سهو دسلام نه پس پكار دي او چي كله مونځ كي كمي شوي وي نو بيا دسلام نه مخكي سجده سهو پكار ده او همدا دمالك بن انس قول دي ، احمد بن حنبل وائي په كوم صورت كي چي سجده سهو څنګه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي ده په هم هغه شان او په هم هغه طريقه يي كول پكار دي ، امام احمد وائي كه يو كس د دوه ركعاتونو نه پس اودريږي نو دابن بحينه دحديث مطابق به اول سجده كوي او كه چاپه ماسپخين كي پنځه ركعاتونه اوكړل نو دي به سجده سهو دكلام نه پس كوي او كه يو كس په ماسپخين او مازيګر

کي په دوه دوه رکعاتونو سلام اوگرځولو نو په داسي صورت کي به سجده سهو دسلام نه پس کوي همدارنګي چي په کوم شان او څنګه څنګه فعل درسول الله صلي الله عليه وسلم موجود دي په هغي باندي په هم هغه شان عمل کول پکار دي او كه دسهو په صورت کي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه کوم فعل مروي نه وي نو په داسي حالاتو کي به سجده سهو دکلام نه مخکي کوي، داسحاق بن راهويه او امام احمد دقول موافق وايو مګر فرق صرف دومره دي هغوئ وائي چي دسهو په صورت کي که درسول الله کوم فعل موجود نه وي او په مونځ کي دزيادت نقصان شوي وي نو سهو به دسلام نه پس کوي او که دکمي نقصان شوي وي نو دسلام نه مخکي به يي کوي.

****

١٧٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ وَالْكَلَامِ

دسلام او کلام نه پس دسهو دوه سجدو کولو بيان

٣٩٢ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا ". فَقِيلَ لَهُ أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ. " فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي چي يو ځل نبي کريم صلي الله عليه وسلم په ماسپخين کي پنځه رکعاتونه اوکړل نو تپوس ورنه اوکړي شو چي ايا په مونځ کي اضافه راغله (چه دځلورو په ځاي مو پنځه اوکړل) نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دسلام ګرځولو نه پس دوه سجدي اوکړي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

[1] ـ صحيح البخاري في الصلاة ٣١ (٤٠١)، و٣٢ (٤٠٤)، والسهو ٢ (١٢٢٦)، والأيمان ١٥ (٦٦٧١)، وأخبار الآحاد ١ (٧٢٤٩). صحيح مسلم في المساجد ١٩ (٥٧٢). سنن ابي داود في الصلاة ١٩٦ (١٠١٩). سنن النسائي في السهو ٢٥ (١٢٤٢)، و٢٦ (١٢٥٥). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢٩ (١٢٠٣)، و٣٠ (١٢٠٥)، و١٣٢ (١٢١١)، و١٣٦ (١٢١٨). (تحفة الأشراف: ٩٤١١). مسند احمد (١ في ٣٧٩، ٤٢٩، ٤٣٨، ٤٥٥). سنن الدارمي في الصلاة ١٧٥ (١٥٢٩)

۳۹۳_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ الْكَلَامِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ مُعَاوِيَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسهو دواړه سجدي دخبرو كولو نه پس اوكړلي

امام ترمذي وائي دابن مسعود حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دمعاويه ،عبدالله بن جعفر، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

۳۹٤_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "سَجَدَهُمَا بَعْدَ السَّلَامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَقَدْ رَوَاهُ أَيُّوبُ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ وَحَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: إِذَا صَلَّى الرَّجُلُ الظُّهْرَ خَمْسًا فَصَلَاتُهُ جَائِزَةٌ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ وَإِنْ لَمْ يَجْلِسْ فِي الرَّابِعَةِ، وَهُوَ قَوْلُ الشافعي، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا وَلَمْ يَقْعُدْ فِي الرَّابِعَةِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ فَسَدَتْ صَلَاتُهُ، وَهُوَ قَوْلُ: سفيان الثوري وَبَعْضِ أَهْلِ الْكُوفَةِ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د سهو دواړه سجدي دسلام گرځولو نه پس كړي وي.

امام ترمذي وائي دابوهريره رضي الله عنه داحديث حسن صحيح دي دا روايت ايوب او نورو راويانو هم دابن سيرين نه نقل كړي دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي دوئ وائي چي كله يو كس په هيره دماسپخين مونځ كي پنځم ركعات اوكړي نو دهغه مونځ درست دي او دسهو دوه سجدي دي اوكړي اگر كه دي په څلورم ركعات كي كيناستلي هم نه وي همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق قول دي دبعضي علماؤ قول دي چي كله څوك دماسپخين مونځ كي

---

[1] ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ۹۴۲۲)

[2] ـ تفرد به المؤلف. وانظر حديث رقم: ۳۹۹ (تحفة الأشراف : ۱۵۲۸)

پنځم رکعات اوکړي او په څلورم کي کيناستلي نه وي نو مونځ يي فاسد کيږي دا دسفيان ثوري او بعضي کوفيانو قول دي.

تشريح : دسلام نه مخکي او وروسته دسجده سهو متعلق دفقهاو مذاهب ثلاثه:

که په مونځ کي د څه فعل زياتوالی وشی.ياکمي.نوپه ده به دوه سجدي د سهو واجب وی پاتي شوه داخبره چی دسلام نه پس به واجب وی.اوکه دسلام نه مخکي ، ددی په جوازکي د هيچا اختلاف نشته.د ټولو اتفاق دی چی سجده سهودسلام نه مخکي اوکړی يا د سلام نه پس.دواړه جائزدی.ليکن په افضليت کي اختلاف دي.

(۱)داحنافو په نزد د سلام نه پس غوره ده

(۲)اود امام شافعی په نزد دسلام نه مخکي غوره ده

(۳)او امام مالك فرمائی. که د مونځ گذار سهو دنقصان په وجه وی.نوسجده سهو به دسلام نه مخکي کوی.اوکه د زياتوالی په وجه وی.نودسلام نه پس به سجده سهو کوی.

دامام شافعی دليل دادي چی نبی کريمﷺسجده سهودسلام نه مخکي کړي ده.لکه چی په صحاح سته کي دعبدالله بن مالك(رضي الله عنه) حديث دي.دبخاری الفاظ دا دي:

(ان النبي كريم صلي الله عليه وسلم صلى الظهر فقام في الركعتين الا وليين ولم يجلس فقام الناس معه حتى إذا قضى الصلوة و انتظر الناس تسليمه كبر و هو جالس فسجد سجدتين قبل أن يسلم)

يعنی نبی کريم ﷺ د ماسپخين مونځ کولو او په مخکنو دوو رکعتوکي بغير د قعدی کولو پاسيدلو.هغوی ﷺ سره خلق هم پاڅيدل تردی چی کله مونځ ختميدو ته نزدی شو.اوخلقود رسول پاك صلي الله عليه وسلم دسلام اړولو انتظارکولو.

نورسول پاك صلي الله عليه وسلم په ناسته ناسته تکبير اووئيلو. اود سلام اړولونه مخکي ئيگ دوه سجدي وکړی؛ د دی حديث نه معلومه شوه چی سجده سهو قبل السلام ده.

داحنافودلائل: اول دليل درسول پاك صلي الله عليه وسلم قول:

(۱) (لكل سهو سجدتان بعد السلام) ديگ. (ابوداوٗد،ابن ماجه)

(۲)دويم دليل حديث فعلي ديگ چی رسول پاك صلي الله عليه وسلم دسلام نه پس دوه سجدی کړی دی. صاحب دهدايه وائی چی دوه فعلي حديثونه متعارض شی.نودا دواړه به پريخودی شی.اودرسول پاك صلي الله عليه وسلم په قول به عمل کولی شی.اودنبی کريم ﷺ قول داديگ چی دسهو دوه سجدي دسلام نه پس دی.

(۳)داحنافو عقلي دليل داديگ چی په اجماع سجده سهو نشی مکرر کيدی .اود سلام نه مخکي د سجده سهو کولو په صورت کي دتکرار امکان ديگ.په دی طريقه چی دسلام نه

مخکي ئيګ سجده اوکوه. بياچي کله دسلام اؤولو وخت راغيګ.نو د ده شك شو چي دري رکعته شوي دي اوکه خګلور په دی سوچ کي پروت وو تردی چی په سلام کي تاخيراوشو.بيا ورياد شو چی خګلور رکعته شوي دی.نواوس دسلام دتاخيرد وجی په ده دوه سجدي د سهو واجب شويګ.نودا کس به دوباره سجده سهوکوی اوکه نه.نودوه صورتونه دی.که ده دوباره سجده سهواونکوه.نوپه مانحګه کي به داسی نقص باقي پاتيګ شي چی د هغی تلافی نه ده شويګ.اوکه دوباره ئيګ سجده سهواوکوه.نوسجده سهو به مکررشي.حالانکه دا په اجماع سره غير مشروع ده.په دی وجه مناسب دی چی سجده سهو د سلام نه پس اوشي چی دتګولوسهوو تلافی اوشي.

مسئله: دسجده سهو نه مخکي دواؤو طرف ته سلام واؤوی اوکه يوطرف، په دی باره کي د هدايه دمصنف په نزد راجح دا دی چی دواؤو طرفونو ته سلام واؤوی

(۱) ددی قائل شمس الا ئمه سرخسی، صدرالاسلام اوفقيه ابوالليث دی

(۲)بعضی حضرات وائی چی د امام ابو حنيفه رحمه الله اود امام ابو يوسف په نزد هم داحکم دي.اوشيخ الاسلام خواهرزاده.علامه فخرالاسلام اودصاحب ايضاح په نزد راجح دادی چی صرف ګس طرف ته سلام واړوی.

هدايه مصنف دليل دابيان کړې دې چی په احاديثوکي کوم ځائي لفظ دسلام ذکر دې.دهغی نه متعارف اومعهود سلام مراددې.اومتعارف دواړو طرف ته سلام اړول دی.يوطرف ته مراد نه دی ،په دی وجه دواړو طرف ته سلام اړول ضروری دی.

(۳) د شيخ الاسلام خواهرزاده وغيره دليل دادې چی دسلام دوه حکمونه دی .يوخودقوم دپاره تحيه او دعا .او بل قطع کول د احرام.اودلته مونځ قطع کول مقصودنه دی .نومعلومه شوه چی تحليل مراددې.اوپه تحليل کي تکرار نه وی.په دی وجه دسلام دتکرار هيڅ ضرورت نشته.بلکه يوطرف ته به کافی وی.

****

۱۷۸_ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّشَهُّدِ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ

په سجده سهو کي دتشهد وئيلو بيان

۳۹۵_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَشْعَثُ، عَنْ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " صَلَّى بِهِمْ فَسَهَا فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ تَشَهَّدَ ثُمَّ سَلَّمَ " قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ وَهُوَ عَمُّ أَبِي

قِلَابَةَ غَيْرَ هَذَا الحَدِيثِ، وَرَوَى مُحَمَّدٌ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ خَالِدٍ الحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي المُهَلَّبِ، وَأَبُو المُهَلَّبِ اسْمُهُ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَمْرٍو، وَيُقَالُ أَيْضًا: مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ الوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، وَهُشَيْمٌ وَغَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ خَالِدٍ الحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ بِطُولِهِ، وَهُوَ حَدِيثُ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "سَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ مِنَ العَصْرِ، فَقَامَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الخِرْبَاقُ" وَاخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي التَّشَهُّدِ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: يَتَشَهَّدُ فِيهِمَا وَيُسَلِّمُ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَيْسَ فِيهِمَا تَشَهُّدٌ وَتَسْلِيمٌ وَإِذَا سَجَدَهُمَا قَبْلَ السَّلَامِ لَمْ يَتَشَهَّدْ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، قَالَا: إِذَا سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ قَبْلَ السَّلَامِ لَمْ يَتَشَهَّدْ.[1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه نه مروي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم مونږ ته مونځ راكولو او سهو ورنه اوشوه او بيا يې دوه سجدې اوكړې بيا يې تشهد اووئيل او بيا يې سلام اوګرځولو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، عبدالوهاب ثقفي خشين او ددينه علاوه نورو خلقو دا روايت په سند د "خالد الحذاء عن ابي قلابة" سره نقل كړي دي او هغه همدا دعمران بن حصين حديث دي چې رسول الله صلي الله عيله وسلم په ماژيګر كې صرف درې ركعاتونه اوكړل او سلام يې اوګرځولو نو يو كس پاڅيدو چې خرباق به ورته وئيلې كيدل او تپوس يې اوكړو ايا په مونځ كې كمي اوكړې شو او كه ستاسو نه هير شو.

په سجده سهو كې دتشهد په سلسله كې داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دي چې دسجده سهو نه پس به تشهد وائي او سلام به ګرځوي او بعضي وائي چې په سجده سهو كې تشهد او سلام ضروري نه دي او كله چې څوك دسلام نه مخكې سجده سهو كوي نو تشهد دي نه وائي همدا دامام احمد او اسحاق قول دي چې كله څوك دسلام نه مخكې سجده كوي نو تشهد دي نه وائي (اختلاف په هغه صورت كې دي كله چې سجده سهو دسلام نه پس وي).

تشريح : مسئله: درود على النبي كريم صلي الله عليه وسلم اوماثوره دعاګانې په قعدې د صلوة كې وئيل پكاردي اوكه په قعده د سهو كې .دقعده صلوة نه د سجده سهو نه مخكنۍ قعده مراد ده.اود قعده سهو نه مراد د سجده (سهو) نه پس قعده ده.

په دې باره كې د احنافو اهل علمو متعدد اقوال دي:

---

1 سنن ابي داود في الصلاة ۲۰۲ (۱۰۳۹) . سنن النسائي في السهو ۲۳ (۱۳۳۷) . (تحفة الأشراف : ۱۰۸۸۵)

(۱) امام طحاوی فرمائی چی په دواړو قعدو کي دی اووائی. یعنی په قعدی دصلوة کي هم اوپه قعدی دسهو کي هم.اودشیخینو په نزد به په قعدی دصلوهٔ کي وائی. یعنی دسجده سهو نه مخکي.

(۲) اودامام محمد په نزد به په قعده د سهو کي وائی. یعنی دسجده سهونه پس. مصنف دهدایه هم دی ته صحیح وئیلی دی.

امام طحاوی دخپل مذهب تائید کي یوه ضابطه بیان کوېګ ده. چی هرهغه قعده چی د هغی په آخرکي سلام وی په هغی کي به درود علی النبي کریم صلي الله علیه وسلم وئیلی شی. نو ددی ضابطی په رڼاکي دواړو قعدو کي یعنی په قعدی دصلوهٔ اوپه قعدی دسهو په آخر کي سلام شته.

د امام محمد دلیل دادې چی درود او دعا د مانځه په آخری قعده کي وئیلی شی.اوپه کوم کس چی سجده سهوواجب شوه.د هغه دغه سلام کول چی دسجده سهو دپاره دې.هغه د مانځه نه ویستل کوی.اوچی دا سلام د مانځه نه ویستل کوی.نوهم قعده د صلوة، قعده د ختم شوه.اود امام محمد په نزد چونکه دا سلام دمانځه نه خارجول نه کوی.بلکه دسجده سهو نه پس کوم چی سلام دی هغه د مانځه نه خارجول کوی.په دی وجه به قعده سهو قعده دختم وی.نه داچی قعده دصلوة اود درود او دعاء مقام چونکه دمونځ آخردې.په دی وجه په قعده سهو کي به درود او دعا وئیلی شی.په قعده دصلوة کي به نشی وئیلې.د امام محمد قول مفتیٰ به دې.

****

۱۷۹ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُصَلِّي فَيَشُكُّ فِي الزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ

کله چي دمونځ کولو په وخت کي دچا دکمي یا زیاتي کولو شک پیداشي نو څه به کوي

۳۹۶ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ. حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِيَاضٍ يَعْنِي ابْنَ هِلَالٍ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي سَعِيدٍ أَحَدُنَا يُصَلِّي فَلَا يَدْرِي كَيْفَ صَلَّى، فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلَمْ يَدْرِ كَيْفَ صَلَّى فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ " قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُثْمَانَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: " إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي الْوَاحِدَةِ وَالثِّنْتَيْنِ

فَلْيَجْعَلْهُمَا وَاحِدَةً وَإِذَا شَكَّ فِي الثِّنْتَيْنِ وَالثَّلَاثِ فَلْيَجْعَلْهُمَا ثِنْتَيْنِ وَيَسْجُدُ فِي ذَلِكَ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ " وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَصْحَابِنَا، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا شَكَّ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى فَلْيُعِدْ. (1)

ترجمه : عياض يعني ابن هلال وائي چي ما ابو سعيد خدري رضي الله عنه ته اوونيل كله كله يو كس مونځ كوي او دا ورته نه وي معلومه چي څومره ركعاتونه يي كړي دي (نو داسي كس به څه كوي) ابوسعيد خدري رضي الله عنه اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي يو كس مونځ كوي او دا ورته نه وي معلومه چي څومره مونځ يي كړي دي نو هغه دي په ناسته دسهو دوه سجدي اوكړي (په يقيني خبره دبناء كولو نه پس).
امام ترمذي وائي دابوسعيد حديث حسن دي او په دي باب كي دعثمان، ابن مسعود، عائشه ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي دا حديث دابوسعيد خدري نه په نورو سندونو هم مروي دي او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چي فرمائيل يي كله چي په تاسو كي دچا په يو يا دوه كي شك پيدا شي نو دادي يو اوګڼري او كله چي دچا په دوو او دريو كي شك پيدا شي نو دا دي دوه اومني او دسلام ګرځولو نه مخكي دي دسهو دوه سجدي اوكړي او په همدي باندي زمونږ دفقهاؤ او محدثينو عمل دي دبعضي اهل علمو قول دي كله چي دچا پخپل مونځ كي شك پيدا شي او هغه ته نه وي معلومه چي څومره ركعاتونه يي كړي وي داسي كس به خپل مونځ راګرځوي.

****

٣٩٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْتِي أَحَدَكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَيَلْبِسُ عَلَيْهِ حَتَّى لَا يَدْرِيَ كَمْ صَلَّى فَإِذَا وَجَدَ ذَلِكَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ " قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 _ سنن ابي داود في الصلاة ١٩٨ (١٠٢٩) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢٩ (١٢٠٤) . (تحفة الأشراف : ٤٣٩٦) . مسند احمد (٣ في ١٢، ٣٧، ٥٠، ٥١، ٥٣)

2 _ صحيح البخاري في الأذان ٤ (٦٠٨) . والعمل في الصلاة ١٨ (١٢٢٢) . والسهو ٦ (١٢٣١) . وبدء الخلق ١١ (٣٢٨٥) . صحيح مسلم في الصلاة ٨ (٣٩) . والمساجد ١٩ (٥٧٠) . سنن ابي داود في الصلاة ١٩٨ (١٠٣٠) . سنن النسائي في الأذان ٣٠ (٦٧١) .

دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي انسان ته شيطان دمونځ په وخت کي راځي او ده لره په شك کي غورځوي تردي چي انسان ته ياد پاتي نشي چي څومره رکعاتونه يي کړي دي چنانچه په تاسو کي که څوك دا قسم شبه محسوس کړي نو هغه لره پکار دي چي په ناسته ناسته دي دسهو دوه سجدي اوکړي امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٣٩٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ ابْنُ عَثْمَةَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا سَهَا أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ وَاحِدَةً صَلَّى أَوْ ثِنْتَيْنِ فَلْيَبْنِ عَلَى وَاحِدَةٍ فَإِنْ لَمْ يَدْرِ ثِنْتَيْنِ صَلَّى أَوْ ثَلَاثًا فَلْيَبْنِ عَلَى ثِنْتَيْنِ فَإِنْ لَمْ يَدْرِ ثَلَاثًا صَلَّى أَوْ أَرْبَعًا فَلْيَبْنِ عَلَى ثَلَاثٍ وَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي کله چي يو کس نه په مونځ کي هيريدل اوشي او هغه ته دا نه وي ياد چي ما څومره رکعاتونه کړي دي يو رکعات مي کړي دي او که دوه نو داسي صورت کي دي دي يو اومني او که دا ورته نه وي معلومه چي دوه رکعاتونه کړي دي او که دري نو په داسي صورت کي دي دوه اومني او په دي دي بناء اوکړي او که څوك په دي نه پوهيږي چي دري رکعاتونه مي کړي دي او که څلور نو په دريو دي بناء اوکړي او دسلام ګرځولو نه مخکي دي د دسهو دوه سجدي اوکړي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي دا حديث دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه په نورو سندونو هم مروي دي.

والسهو ٢٥ (١٢٥٣)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٣٥ (١٢١٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٣٩)، مسند احمد (٢ في ٢١٣، ٢٥٨، ٣١١، ٣٦٠، ٥٠٣، ٥٢٢، ٥٣١)

1 ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٣٢ (١٢٠٩)، (تحفة الأشراف: ٩٧٢٢)، مسند احمد (١ في ١٩٠، ١٩٣)

تشريح : دشك واقع کيدو په حالت کي دوه صورتونه دي ،که د ادا شوی رکعتونو دمقدار په باره کي زيات شك راشي.نو ددی دوه صورتونه دی(۱)یاخوبه ده ته د يوطرف ظن غالب وی(۲) يا به نه وی که ظن غالب وی.نوهم د هغې مطابق دی عمل کوی.ځکه چی دنبی کريم ﷺ ارشاددی.

(من شك في صلاته فليتحر الصواب) ملاعلی قاری د صحيحنو په حواله دا حديث څه قدری په تفصيل سره ذکرکړی دی:

(عن ابن مسعود(رضي الله عنه) ان النبيﷺ قال إذا شك أحدكم فليتحر الصواب وليتم عليه ثم ليسلم ثم ليسجد سجدتين)

يعنی چی کله په تاسو کي چاته شك پيښ شی.نوهغه دی درست خبري دپاره په زړه سره تحری اوکړی.اودتحری اوذظن غالب مطابق دی عمل اوکړی.بيادی سلام واړوی.اودوه سجدي دی اوکړی، دويم عقلی دليل دی چي که هرڅل دمونځ د اعادی حکم ورکړې شی.نوحرج به واقع شی.د دی وجی د حرج لري کولو دپاره به په ظن غالب عمل کولی شی، اوکه ده ته د يوطرف هم ظن غالب نه وی.نو په اقل دی عمل اوکړی.يعنی که په دری يا څلور رکعته کي شك وی.اود هيڅ يوغالب گمان نه وی.نودری رکعته دی خيال کړی، ددي قول دليل د رسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان دی :

(من شك في صلاته فلم يدر أثلاثا صلى أم أربعا بنى على الأقل) امام ترمذی داحديث په دی الفاظوسره ذکر کړي دی : (عن عبد الرحمن بن عوف(رضي الله عنه) قال سمعت النبيﷺ يقول إذا سهى أحدكم في صلاته فلم يدر واحدة صلى او ثنتين فليبن على واحدة فأن لم يدر ثنتين صلى أو ثلاثا فليبن على ثنتين فأذا لم يدر ثلاثا أو أربعا فليبن على ثلاث).

که د سرنه دمونځ کولو اراده اوکړی.نو موجوده مشکوك فيه مونځ په سلام قطع کول غوره دی.يعنی باقاعده دی سلام واړوی.اودسرنه دی مونځ شروع کړی .په کلام سره مونځ قطع کول غوره نه دی.ځکه چی په شريعت کي سلام ته محلل وئيلی شوې دې. کلام نه،کلام خومفسد دمونځ دې.دنبي كريم صلي الله عليه وسلم حديث دی (تحليلها التسليم) نو په اسلامی شريعت او حديث رسولﷺ کي سلام محلل (دمونځ نه خارجونکی) معلوم شو .نو په سلام د مونځ نه وتل غوره دی.په کلام نه اوکه دمونځ نه د وتلوصرف نيت اوکړې شی.اود مانځه قطع کونکی عمل موجود نه شی..نودا کافی نه دې.بلکه نيت چی تر کومه پورې داسی عمل سره متصل نه وی چی هغه قاطع دمونځ وی نو هغه لغونيت دې او ددی هيڅ اثرنشته.

په اقل دبناء کولو په صورت کي دی په هر رکعت قعده اوکړی.اوتشهد دی اووائی.مثلاً په رباعی مونځ کي مونځ گذار ته دا شك پیښ شو چی داړومبی رکعت دی اوکه دویم. اویوطرف ته ئې غالب گمان هم نه وی.نودادی ړومبی رکعت اوګنړی.خو ددی رکعت پوره کیدو نه پس دی قعده اوکړی.ځکه چی دا هم ممکن ده چی دا دویم رکعت وی.اوپه دویم رکعت قعده واجب ده.په دی وجه دي د قعدی په حکم کي اومنی. بیادی پاسی دریم رکعت دی اوکړی.او بیادی قعده اوکړی.ځکه ممکن ده چی دا څلورم رکعت وی.اوپه څلورم رکعت قعده فرض ده.بیا دی پاڅي څلورم رکعت دی اوکړی . او قعده دی اوکړی. ځکه چی دمونځ گذار په نزد دی د څلورم رکعت په حکم کي دي.او په څلورم رکعت قعده فرض ده.حاصل داچی د فرض قعدی اود واجب قعدی پاتې کیدو په ویره دی په هر رکعت قعده اوکړی.(عنایه شرح هدایه)

****

۱۸۰_ باب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُسَلِّمُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ

باب دي په بيان دهغه کس کي چي دماسپخين دمازيکر په مونځ کي په دوه دوه رکعاتونوسلام واړوي

۳۹۹_ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ أَبِي تَمِيمَةَ وَهُوَ: أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " انْصَرَفَ مِنَ اثْنَتَيْنِ، فَقَالَ لَهُ ذُو الْيَدَيْنِ: أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ أَمْ نَسِيتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَصَدَقَ ذُو الْيَدَيْنِ، فَقَالَ النَّاسُ: نَعَمْ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى اثْنَتَيْنِ أُخْرَيَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ كَبَّرَ فَرَفَعَ ثُمَّ سَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ " قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَذِي الْيَدَيْنِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْكُوفَةِ: إِذَا تَكَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ نَاسِيًا أَوْ جَاهِلًا أَوْ مَا كَانَ فَإِنَّهُ يُعِيدُ الصَّلَاةَ، وَاعْتَلُّوا بِأَنَّ هَذَا الْحَدِيثَ كَانَ قَبْلَ تَحْرِيمِ الْكَلَامِ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ: وَأَمَّا الشَّافِعِيُّ فَرَأَى هَذَا حَدِيثًا صَحِيحًا، فَقَالَ بِهِ، وقَالَ: هَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الَّذِي رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي " الصَّائِمِ إِذَا أَكَلَ نَاسِيًا فَإِنَّهُ لَا يَقْضِي وَإِنَّمَا هُوَ رِزْقٌ رَزَقَهُ اللَّهُ ". قَالَ الشافعي: وَفَرَّقَ هَؤُلَاءِ بَيْنَ الْعَمْدِ وَالنِّسْيَانِ فِي أَكْلِ الصَّائِمِ بِحَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ. وقَالَ أَحْمَدُ فِي حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ: إِنْ تَكَلَّمَ الْإِمَامُ فِي شَيْءٍ مِنْ

صَلَاتِهِ وَهُوَ يَرَى أَنَّهُ قَدْ أَكْمَلَهَا ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ لَمْ يُكْمِلْهَا يُتِمُّ صَلَاتَهُ، وَمَنْ تَكَلَّمَ خَلْفَ الإِمَامِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّ عَلَيْهِ بَقِيَّةً مِنَ الصَّلَاةِ، فَعَلَيْهِ أَنْ يَسْتَقْبِلَهَا، وَاحْتَجَّ بِأَنَّ الفَرَائِضَ كَانَتْ تُزَادُ وَتُنْقَصُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِنَّمَا تَكَلَّمَ ذُو اليَدَيْنِ وَهُوَ عَلَى يَقِينٍ مِنْ صَلَاتِهِ أَنَّهَا تَمَّتْ، وَلَيْسَ هَكَذَا اليَوْمَ لَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يَتَكَلَّمَ عَلَى مَعْنَى مَا تَكَلَّمَ ذُو اليَدَيْنِ، لِأَنَّ الفَرَائِضَ اليَوْمَ لَا يُزَادُ فِيهَا وَلَا يُنْقَصُ، قَالَ أَحْمَدُ نَحْوًا مِنْ هَذَا الكَلَامِ، وَقَالَ إِسْحَاقُ نَحْوَ قَوْلِ أَحْمَدَ فِي هَذَا البَابِ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم (دماسپخين يادمازيگر) دوه ركعاتونه اوكړل او دمقتديانو طرف ته راوګرځيدو ذواليدين عرض اوكړو اي دالله رسوله ايا په مونځ كي كمي راغلو او كه ستاسو نه هير شول؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوكړو ايا ذواليدين رښتيا وائي؟ خلقو عرض اوكړو هو، رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه ركعاتونه اوكړل او بيا يي سلام اوګرځولو او بيا يي الله اكبر اووئيل او بيا يي دخپلي مخكنئ سجدي پشان او يا يي ددينه لږه اوږده سجده اوكړه او بيا يي الله اكبر اووئيل او سر يي پورته كړو بيا يي دخپلي مخكنئ سجدي پشان يا ددينه لږه زياته سجده اوكړه يعني سجده سهو.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعمران بن حصين، ابن عمر، او ذواليدين رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. ددي حديث متعلق داهل علمو اختلاف دي اهل كوفه وائي كله چي څوك په مونځ كي په هيره يا په بي علمئ كي يا په كومه بله وجه خبري اوكړي نو دا به دسره دوباره مونځ راګرځوي او هغوئ په دي حديث كي په ذكر شوي واقعه كي تاويل كوي او دا قول كوي چي دا واقعه دهغه وخت سره تعلق لري كله چي په مونځ كي دخبري كولو حرمت نه وو راغلي. امام شافعي دا حديث صحيح ګڼړلي دي او هم ددي حديث مطابق يي فتوي وركړي ده دامام شافعي قول دي چي داحديث دهغه حديث نه زيات صحيح دي كوم چي دروژه دار په سلسله كي مروي دي كله چي هغه په هيره خوراك

---

[1] ـ صحيح البخارى في الأذان ٨٨ (٤٨٢) . والأذان ٦٩ (٧١٣) . والسهو ٣ (١٢٢٧) . و ٤ (١٢٢٨) . و ٨٥ (١٣٦٧) . والأدب ٢٥ (٦٠٥١) . وأخبار الآحاد ١ (٧٢٥٠) . صحيح مسلم في المساجد ١٩ (٥٧٣) . سنن ابي داود في الصلاة ١٩٥ (١٠٠٨) . سنن النسائى في السهو ٢٢ (١٢٢٥) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٣٢ (١٢١٣) . (تحفة الأشراف : ١٢٢٢٩) . مسند احمد (٢ في ٢٣٥، ٤٢٣، ٤٦٠) . سنن الدارمي في الصلاة ١٧٥ (١٥٣٨) .

اوکړي نو په هغه باندي دروژي قضاء نشته ځکه چي دي دالله تعالي ورکړي رزق خوري. امام شافعي مزيد وائي دي خلقو چي دروژه دار په قصدي خوراك کولو او دهيري په صورت کي په خوراك کولو کي فرق کړي دي دا دابوهريره رضي الله عنه دحديث په وجه دي. امام احمد دابوهريره دحديث متعلق وائي که امام دا اوګنړي چي دده مونځ پوره شوي دي او څه خبري اوکړي او بيا ورته معلومه شي چي دده مونځ خو لا پوره شوي نه دي نو دي دي خپل مونځ پوره کړي او څوك چي دامام په اقتداء کي ولاړ وي او خبري اوکړي او دا ورته معلومه وي چي دي وخت کي دده په ذمه دمونځ څه حصه باقي ده نو په هغه باندي لازم دي چي خپل مونځ راوګرځوي او هغوئ په دي خبره استدلال کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي په فرائضو کي کمي زيادت راتلي شو او ذواليدين چي کومي خبري کړي وي دا خو صرف په دي وجه وي چي دهغه يقين وو چي مونځ کامل شوي دي او اوس خو دهيڅا دپاره دا قسم خبري کول جائز نه دي کومي چي د ذواليدين دپاره جائز کړي شوي وي ځکه چي اوس په فرائضو کي کمي زيادت نشي راتلي، دامام احمد قول هم دي قول ته نزدي دي او اسحاق بن راهويه هم په دي باب کي دامام احمد دقول مطابق رائي اختيار کړي ده.

تشريح : په دي مسئله کي اختلاف دي چي په مونځ کي خبري کول دمونځ دپاره مفسد دي او کنه دي.

(۱) دامام ابو حنيفه په نزد کلام في الصلاة مطلقا مفسد دمونځ دي برابره خبره ده چي قصدا وي او که سهوا وي او يا جهلا وي.

(۲) دامام شافعي په نزد که کلام سهوا يا جهلا وي نو مفسد دمونځ نه دي

(۳) د امام مالك په نزد په کلام في الصلاة دمونځ داصلاح دپاره وي نو مفسد نه دي او کنه نو مفسد به وي.

(۴) دامام احمد په نزد که چري کلام في الصلاة دمونځ دپوره کيدو په ګمان باندي وي نو مفسد نه دي حاصل دکلام دادي چي دائمه ثلاثه په نزد في الجمله کلام مفسد دصلاة نه دي او دامام ابو حنيفه په نزد مفسد دمونځ دي.

امام ابو حنيفه ددي قراني ايت نه استدلال کوي "قوموا لله قانتين" دلته دقنوت نه مراد سکوت دي او دا ايت دکلام في الصلاة په ممانعت کي نازل شوي دي او په دي کي عموم دي هر قسم کلام به منع وي، دزيد بن ارقم بيان دي فرمائي چي مونږ به په مونځ کي خبري کولي تردي پوري چي ايت کريمه قوموا لله قانتين نازل شو نو مونږ ته دسکوت کولو حکم اوکړي شو او کلام في الصلاة منع کړي شو دا رنګي داحنافو دويم دليل په مسلم کي دمعاويه رضي الله

عنه حديث دي او دريم دليل يي په نسائي كي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه واقعه ده په كوم كي چي دحبشي نه دراتلو واقعه ذكر شوي ده د دلائلو تفسير په فتح القدير كي كتلي شئ؛ دليل دائمه ثلاثه حديث الباب دي چي رسول الله څلور ركعاتي مونځ وركړو نو ذواليدين دا سوال اوكړو "اقصرت الصلاة ام نسيت يارسول الله" رسول الله ورته اوفرمائيل هيڅ هم نه دي شوي نورو صحابه كرامو چي دذواليدين تصديق اوكړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ركعات بل اوكړو او دا تمامه معامله دمونځ په دوران كي شوي وه لهذا كلام في الصلاة ددوئ په نزد مفسد دصلاة نه دي.

ددي جواب دادي چي دا واقعه منسوخ شوي ده بيا امام شافعي زمونږ په دي جواب دري اعتراضات كړي دي چي تفصيل يي دعلم فقه په مطولاتو كي مذكور دي "من ارادها فاليراجع" والله اعلم بالثواب.

****

۱۸۱_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلاَةِ فِي النِّعَالِ

دپيزار دخپو كولو په حالت كي د مونځ كولو بيان

۴۰۰_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ أَبِي مَسْلَمَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: "أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي حَبِيبَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، وَشَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، وَأَوْسٍ الثَّقَفِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَطَاءٍ رَجُلٍ مِنْ بَنِي شَيْبَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. [1]

ترجمه : دابومسلمه سعيد بن يزيد بيان دي فرمائي چي دانس بن مالك رضي الله عنه نه مي تپوس اوكړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم به په پيزار كي مونځ كولو؟ نو هغه اوفرمائيل هو، په پيزار كي به يي مونځ كولو.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعبدالله بن مسعود ، عبدالله بن ابي حبيبه ، عبدالله بن عمرو، عمرو بن حريث، شداد بن اوس ثقفي او

---

[1] _ صحيح البخاري في الصلاة ۲۴ (۳۸۶) . واللباس ۳۷ (۵۸۵۰) . صحيح مسلم في المساجد ۱۴ (۵۵۵) . سنن النسائي في القبلة ۲۴ (۷۷۶) . (تحفة الأشراف : ۸۶۶) . مسند احمد (۳ في ۱۰۰، ۱۶۶، ۱۸۹) . سنن الدارمي في الصلاة ۱۰۳ (۱۴۱۷)

ابوهريره، او عطاء رضي الله عنهم دبني شيبه قبيلي يو فرد نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي.

تشريح : مذاهب دفقهاؤ.

دمذكوره حديث نه ثابتيږي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په پيزار كي مونځ كړي دي.

(۱) دامام احمد او اهل ظواهرو په نزد په پيزار كي مونځ كول مستحب دي.

(۲) دجمهور فقهاء او محدثينو په نزد مباح دي نه مستحب دي او نه مكروه دي.

داستحباب دقائلينو دليل په ابو داود كي دشداد بن اوس رضي الله عنه روايت دي "قال النبي صلي الله عليه وسلم خالفوا اليهود فانهم لايصلون في نعالهم ولا خفافهم".

جواب: كه چري دا حكم ديهوديانو دمخالفت په وجه وي نو اوس خو دهغوئ مخالفت دپيزار په ويستلو كي دي ځكه چي په دي زمانه كي يهوديان پخپل معبد كي په پيزارونو كي عبادت كوي نو په دي وجه ددي مخالفت بغير پيزار نه په مونځ كولو كي دي باقي دا چي ددي حديث نه جواب كولو ته ضرورت نشته ځكه چي احناف هم دجواز قائل دي، علامه خطابي ليكلي دي داستحباب هيڅوك قائل نه دي بله دا چي ددي په سند كي مروان بن معاويه مدلس دي او عنعني كوي همدارنګي په دي روايت كي يعلاء بن شداد دي.

جواب نمبر(۲) : ابن دقيق العيد وائي په نعلين كي د مونځ كولو رخصت دي او مقصد دصلاة نه دي اګر چي په دي كي زينت په مصلي دي مګر په دي كي دنجاست احتمال هم شته او قاعده داده چي جلب دمصالحو او منفعت مؤخر وي د دفعي دمفاسدو او مضرت نه لهذا دمونځ كولو وخت كي پيزار ويستل پكار دي مګر دا جواز په يو څو شرائطو مشروط دي:

(۱) پيزار به داسي وي چي دانسان ګوتو لره به په زمكه دلګيدو نه منع كونكي وي.

(۲) پيزار به داسي وي چي جومات نه ګنده كوي.

(۳) پيزار به داسي وي چي ګنده به نه وي بلكه پاك به وي.

معارف السنن په حواله دعلامه زاهد الكوثري ليكلي دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي په مسجدونو كي كانړي او ګيټئ موجود وي مګر نن سبا په مساجدونو كي فرشونه وي نو په دي وجه كه دپيزار په ذريعه دمسجد دګنده كيدو خطره وي نو جائز به نه وي. مګر دنن سبا پيزار دي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دزماني په پيزار باندي قياس نكړي شي ددي يو څو وجوهات دي.

(۱) په هغه زمانه كي به پيزار دومره نرم وو چي دپيزار په موجودګئ كي به هم دګوتو راتاوول اسان وو په خلاف دهغه پيزار چي كوم اوس استعماليږي ځكه چي دا سخت وي كه چري پيزار داسي وي چي دخپو ګوتي دپيزار اخري حصي ته نشي رسيدلي نو په دي كي به مونځ نه كيږي

دارنګي هغه زمانه کي به خلق اودس ماتولو دپاره صحراء ته تلل او په کانړو به يي استنجاء کوله مګر نن سبا په ليټرين کي دنجاست او تلويث احتمال زيات وي.
(۳) دا رنګي په هغه زمانه کي به په کوڅوکي نجاست موجود نه وو او کوڅي پخي هم نه وي که يو څيز به په نجاست ګنده شو نو په شګو پوري دمړلو په وجه به ختميدو
او کوم حديث چي دابوهريره رضي الله عنه نه دايت خذوا زينتکم په تفسير کي وارد دي چي "خذوا زينة الصلاة" ددينه ابن حجر جواب کړي دي چي ابن عدي په الکامل کي دابن مردويه په حواله ليکلي دي چي دا حديث سخت ضعيف دي (معارف السنن) او قاضي شوکاني هم په الفوائد المجموعه کي ددي حديث تضعيف کړي دي (محاسن ترمذي).

****

۱۸۲_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْقُنُوتِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ

دسحر په مونځ کي ددعا قنوت وئيلو بيان

د وترو په هر رکعت کي د سورة فاتحه او بل يو سورت وئيل په اتفاق سره واجب دی.
دصاحبينو او امام شافعي په نزد خو ددی وجی چی وتر سنت دی.او په سنتو او نوافلو کي په هر رکعت کي قرات مسنون دی.
او د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد وتر اګرچی واجب دی.خو چونکه د وترو د وجوب ثبوت په سنت سره دې.او سنت مفيد د يقين نه دی.نو ځکه د دی په وجوب کي يوقسم شك پاتې شو.نو د احتياط د وجی امام ابو حنيفه رحمه الله په هر رکعت کي قرات واجب اوګرخولو.لکه څنګه چی په سنتو او نوافلو کي په هر رکعت کي قرات واجب دې.
د قنوت لوستلو طريقه داده.چی په دريم رکعت کي د سورة فاتحه د قرات او ضم د سورت نه پس چی کله د دعاء قنوت وئيلو اراده اوکړی.نو خپل دواړه لاسونه به د غوږونو پورې پورته کړی.او تکبير به اووائی.بيا دی دعاءقنوت اووائی . تکبير وئيل واجب دی.
دليل ددی قول دا دې چی د مصلي حالت بدل شو.په دی طريقه چی اول په حقيقي قرات کي مشغول وو.او اوس په شبيه قرات يعنی دعاء قنوت کي مشغوليږی.او چونکه تکبيرات مشروع شوی دی.د حالت تبديلۍ په وخت کي نو ځکه په دی موقع هم تکبير وئيل واجب دې.(اشرف الهدايه. شرح هدايه)

۴۰۱_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَقْنُتُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ وَالْمَغْرِبِ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ

عَبَّاسٍ، وَخُفَافِ بْنِ أَيْمَاءَ بْنِ رَحْضَةَ الْغِفَارِيِّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْبَرَاءِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْقُنُوتِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ. فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمُ الْقُنُوتَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ، وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ، وَالشَّافِعِيِّ، وقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ: لَا يُقْنَتُ فِي الْفَجْرِ إِلَّا عِنْدَ نَازِلَةٍ تَنْزِلُ بِالْمُسْلِمِينَ، فَإِذَا نَزَلَتْ نَازِلَةٌ فَلِلْإِمَامِ أَنْ يَدْعُوَ لِجُيُوشِ الْمُسْلِمِينَ. [1]

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دسحر او ماښام په مونځ كي دعا قنوت لوستلو.

امام ترمذي وائي دبراء حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعلي، انس، ابوهريره، ابن عباس، او خفاف بن ايماء بن رحضه غفاري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. په سحر كي دقنوت وئيلو په سلسله كي په اهل علمو كي اختلاف دي دبعضي صحابه كرامو او اهل علمو قول دي چي دسحر په مونځ كي دعاء قنوت لوستل پكار دي او همدا دامام مالك او شافعي قول دي، اسحاق بن راهويه وائي دسحر په مونځ كي به دعاء قنوت نه وائي مگر هغه وخت كي وئيلي شي كله چي په مسلمانانو كوم مصيبت نازل شوي وي په داسي صورت كي امام لره پكار دي چي دمسلمانانو دلښكرونو دپاره دعا اوغواړي.

تشريح: **دعا قنوت ويل په كومو مونځونو كي پكار دي**

په غير دوترو نه په قنوت كي د اهل علمو دوه مذاهب دي:

(۱)داحنافو په نزد د وترو نه علاوه په بل مونځ كي قنوت نشته.

(۲)امام شافعي فرمائي چي د سحر په مانځه كي قنوت مسنون دي.ابونصر بغدادي فرمائي چي د امام شافعي په نزد د سحر په مانځه كي قنوت وئيل مسنون دي.

امام شافعي دليل د انس (رضي الله عنه) حديث دي:

(كان رسول پاك صلي الله عليه وسلم يقنت في صلاة الفجر إلى أن فارق الدنيا).

يعني رسول پاك صلي الله عليه وسلم به د سحر په مانځه كي قنوت وئيل.تردي چي د دنيا نه رخصت شو.

داحنافو دليل د ابن مسعود (رضي الله عنه) حديث دي:

---

[1] ـ صحيح مسلم في المساجد ۵۳ (٦٧٨). سنن ابي داود في الصلاة ۳۴۵ (۱۴۴۱). سنن النسائي في التطبيق ۲۹ (۱۰۷۷).

(تحفة الأشراف: ۱۷۸۲). مسند احمد (۴ في ۲۹۹). سنن الدارمي في الصلاة ۲۱٦ (۱٦۳۸)

(أن النبي صلي الله عليه وسلم قنت في صلاة الفجر شهراً يدعو على حي من أحياء العرب).
رسول پاك صلي الله عليه وسلم يوه مياشت د سحر په مانځه كي قنوت وئيل.د عربود يوى قبيلى دپاره ئې خيرې كولې.
(۲)په خپله د انس (رضي الله عنه) نه نقل دى چې:
(قال قنت رسول الله صلي الله عليه وسلم في صلاة الفجر شهراً أو قال أربعين يوماً على أهل ذكوان وعصبة حين قتلوا القراء وهم سبعون رجلاً أو ثمانون)
يعنى رسول پاك صلي الله عليه وسلم يو مياشت يا څلويښت ورځې قنوت وئيلى وو.مقصد هغه خلقو ته خيري كول وو.چا چې اويا يا اتيا قاريان شهيدان كړى وو. ددى حديث نه هم معلومه شو چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم د سحر په مانځه كي د څو ورځو نه علاوه دعاء قنوت نه دى وئيلې
(۳)ابوعثمان نهدى فرمائي:
(صليت خلف أبي بكر (رضي الله عنه) سنتين وصليت خلف عمر (رضي الله عنه) كذلك فلم أر واحداً منهما يقنت في صلاة الفجر).
مسئله: د طرفينو قول دى كه يو شافعئ المسلك امام د سحر په مانځه كي دعاء قنوت اووئيل.اومقتدى حنفي وى.نو په داسى صورت كي د طرفينو په نزد دى حنفى المسلك مقتدى چپ وى.قنوت دى نه وائى.
(۲)اوامام ابويوسف فرمائى چې د امام اتباع دى كوى.يعنى حنفى المسلك مقتدى دى هم قنوت وائى.
دامام ابويوسف دليل دا دې چې مقتدئ په يقين سره د امام تابع دې.او اصل دا دې چې مقتدى دامام متابعت اوكړى.او د سحر په مانځه كي قنوت وئيل مختلف فيه دى.ځكه چې د بعضي مجتهدينو په نزد د سحر په مانځه قنوت وئيل مسنون دى.او د بعضو په نزد د سحر په مانځ كي قنوت وو.خو منسوخ شوى دى. نو ددى اختلاف د وجى د سحر په مانځه كي قنوت وئيل او نه وئيل مشكوك او محتمل دى او دا ثابت اصول دادى چې اصل اويقينى څيز د شك د وجى نشى پريخودې.نوځكه به د امام تابعدارى نه پريږدى.بلكه د امام تابعدارى به كوى.
د طرفينو دليل دا دې چې دسحر په مانځه كي قنوت وئيل منسوخ شوى دى.ځكه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم د سحر په مانځه كي يو مياشت قنوت وئيلى وو.بيا ئې پريخودى وو.او په منسوخ كي متابعت نشى كولې.نوځكه دى حنفى المسلك مقتدى د قنوت په وئيلو كي د شافعى المسلك تابعدارى نه كوى.بلكه چپ دى ولاړ وى.

په صورت د عدم اتباع کې د ماموم متعلق دوه اقوال

(۱)پاتې شوه دا خبره چې مقتدي تابعداري نه کوي.نوڅه به کوي؟نو په دې باره کې د بعضې علماؤ رايه دا ده چې مقتدي دې چپ ولاړ وي چې په کوم څيزکې تابعداري واجب ده.په هغې کې تابعداري اوشي.يعنې قيام او قنوت دوه څيزونه دي.نو حنفي مقتدي دې په قيام کې د خپل امام تابعداري کوي.او په قنوت کې دې تابعداري نه کوي.

(۲) او د بعضو قول دې چې کله شافعي المسلك امام قنوت وئيل شروع کړي.نو حنفي المسلك دې کينې چې د امام پوره مخالفت ښکاره شي.ځکه چې چپ ولاړ کس د دعا کونکي سره شريك وي.لکه څنګه چې مقتدي قرات نه کوي.اوچپ ولاړ وي.خو ددې باوجود د امام سره په قرات کې شريك وي.

صاحب د عنايه د قول اول د اظهريت وجه دا ذکر کړې ده چې د امام فعل په مشروع او غير مشروع دواړو باندې مشتمل دې.نو قيام کوم چې مشروع دی .په دې کې دې د امام تابعداري کوي.او قنوت کوم چې غير مشروع دې.په دې کې دې اتباع نه کوي.بلکه چپ دې ولاړ وي ، په عين الهديه کې ليکلي دي چې اول قول ددې وجې اظهر دې چې په مانځه کې د امام مخالفت کول اګرچې په رکن او شرط کې نه دی.خو بيا هم د دوو وجوهاتو د جهته بد دی. اول دا چې دا د اقتداء د شان نه خلاف دی.ځکه چې په حديث کې دی (إنما جعل الإمام ليؤتم به) يعنې امام خو ددې دپاره وي چې دده تابعداري اوکړې شي . دويم دا چې دا فعل ددې وجې که عمل کثير نه دې.مفسد هم نه دې.او لږ مکروه دې.

بعضې علماء فرمائي چې کله امام قنوت وائي.نوحنفي المسلك مقتدي دې التحيات وغيره اووائي.او د امام نه وړاندې دې سلام واړوي.ځکه چې امام دحنفي المسلك مقتدي په نزد په بدعت کې لګيا شو.نو دده د انتظار څه وجه نشته.مصنف د هدايه دا قول ذکر نکړو.ځکه چې په دې صورت کې سلام کوم چې امر مشروع دې.په دې کې داامام مخالفت لازميږي.اودا مناسب نه ده.

په وترو کې د جهر او اخفا متعلق دوه اقوال دي:

(۱) په قنوت کې اخفاء مختار ده.دعاء قنوت ويونکې که مقتدي وي او که منفرد وي.ځکه چې قنوت يوه دعا ده.او په دعاکې اخفاء غوره ده

(۲)د بعضې علماؤ خيال دا دې چې قنوت دې په جهر سره لولي.ځکه چې قنوت د قرآن سره مشابه دې.هم دا وجه ده چې د (اللهم إنا نستعينك) په باره کې صحابه کرامو اختلاف کړې دې چې آيا دا قرآن دی اوکه نه دې.د ابن مسعود(رضي الله عنه) قول دا دې چې قنوت د قرآن سورت دې.او ابی بن کعب(رضي الله عنه) فرمائي چې دا قرآن نه دې. عالمان هم ددی

قائلين دي.خو د احتياط تقاضا هم دا ده چې حائضه او نفاسه او جنب دي د لوستلو نه ځان ساتي(کفايه)

د عمر(رضي الله عنه) نه منقول دی:

(اللهم اغفرلنا وللمؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلمات وألف بين قلوبهم وأصلح بينهم وانصرهم على عدوك وعدوهم اللهم العن كفرة أهل الكتاب الذين يصدون عن سبيلك ويكذبون رسلك ويقاتلو أوليائك اللهم خالف بين كلمتهم وزلزل أقدامهم وأنزل بهم بأسك الذی لا يرد عن القوم المجرمين بسم الله الرحمن الرحيم إنا نستعينك ونستغفرك ونؤمن بك ونتوكل عليك ونثنى عليك الخير نشكرك ولانكفرك ونخلع ونترك من يفجرك بسم الله الرحمن الرحيم اللهم إياك نعبد ولك نصلى ونسجد وإليك نسعى ونحفد ونرجوا رحمتك ونخشى عذابك إن عذابك بالكفار ملحق).

په بعضی روایاتو کي د (اللهم إنا نستعينك) نه شروع شوي ده. (احسن الهدايه، والکفايه،والعنايه علي الهدايه.)

****

١٨٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الْقُنُوتِ

د دعاء قنوت نه وئيلو بيان

٤٠٢_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي: يَا أَبَةِ إِنَّكَ قَدْ " صَلَّيْتَ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، وَعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ هَا هُنَا بِالْكُوفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِينَ، أَكَانُوا يَقْنُتُونَ ؟ قَالَ: أَيْ بُنَيَّ مُحْدَثٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وقَالَ سفيان الثوري: إِنْ قَنَتَ فِي الْفَجْرِ فَحَسَنٌ وَإِنْ لَمْ يَقْنُتْ فَحَسَنٌ، وَاخْتَارَ أَنْ لَا يَقْنُتَ، وَلَمْ يَرَ ابْنُ الْمُبَارَكِ الْقُنُوتَ فِي الْفَجْرِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو مَالِكٍ الْأَشْجَعِيُّ اسْمُهُ: سَعْدُ بْنُ طَارِقِ بْنِ أَشْيَمَ.[1]

---

[1] _ سنن النسائي في التطبيق ٣٢ (١٠٨١)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٤٥ (١٢٤١)، (تحفة الأشراف: ٤٩٧٦)، مسند احمد (٣ في ٤٧٢)

ترجمه : دابومالك سعد بن طارق اشجعي بيان دي چي ما خپل پلار، طارق بن اشيم، ته عرض اوکړو چي اي پلاره تا خو په رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبکر او عمر او عثمان رضي الله عنهم پسي مونځونه کړي دي او په علي رضي الله عنه پسي دي هم کړي دي او دلته دي په کوفه کي هم پنځه کالو پوري مونځونه کړي دي ايا هغوئ به قنوت نازله لوستلو؟ زما پلار اووئيل اي زما بچيه دا بدعت دي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او داکثرو اهل علمو په دي باندي عمل دي، سفيان ثوري وائي که دسحر مونځ کي څوك قنوت نازله اولولي نو هم ښه ده او که څوك يې نه لولي نو هم ښه ده خو هغوئ نه لوستل خوښ کړل او ابن مبارك به په سحر کي دعاء قنوت نه لوستل خوښول.

****

٤٠٣ـ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ.

ترجمه : ابوعوانه دمالك اشجعي نه په همدې سند ددي يو هم معني روايت بيان کړي دي

****

١٨٤ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَعْطُسُ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ کي دپرنجي کولو بيان

٤٠٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا رِفَاعَةُ بْنُ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ الزُّرَقِيُّ، عَنْ عَمِّ أَبِيهِ مُعَاذِ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَطَسْتُ، فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى. فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ. فَقَالَ: "مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ؟" فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّانِيَةَ: "مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ؟" فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ: "مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ" فَقَالَ رِفَاعَةُ بْنُ رَافِعٍ ابْنُ عَفْرَاءَ: أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: "كَيْفَ قُلْتَ؟" قَالَ: قُلْتُ الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدِ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَثَلَاثُونَ مَلَكًا أَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَوَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، وَعَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ رِفَاعَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَكَأَنَّ هَذَا الْحَدِيثَ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ

الْعِلْمِ أَنَّهُ فِي التَّطَوُّعِ، لِأَنَّ غَيْرَ وَاحِدٍ مِنَ التَّابِعِينَ، قَالُوا: إِذَا عَطَسَ الرَّجُلُ فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ إِنَّمَا يَحْمَدُ اللهَ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُوَسِّعُوا فِي أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ. (1)

ترجمه : رفاعه بن رافع رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما يو ځل په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسي مونځ اوکړو او په مونځ کي پرنجي راغي نو ما "الحمدلله حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه مباركا عليه ومايحب ربنا ويرضي" اووئيل كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمونځ نه فارغ شو او مونږ ته راوګرځيدو نو تپوس يي اوكړو په مانځه كي خبري چا كولي؟ نو هيڅا ورته جواب ورنكړو نو بيا يي دوباره دا سوال اوكړو چي په مونځ كي چا خبري كولي په دي ځل هم ورته چا جواب ورنكړو نو په دريم ځل يي بيا دا تپوس اوكړو چي په مونځ كي خبري چا كولي؟ رفاعه بن رافع وائي ما عرض اوكړو چي اي دالله رسوله خبري ما كولي ، رسول الله راته تپوس اوكړو تا په مونځ كي څه وئيلي وو؟ ابو رافع اووئيل ما داسي وئيلي دي:

"الحمدلله حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه مباركا عليه ومايحب ربنا ويرضي"

نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په هغه ذات مي دي قسم وي دچا په اختيار كي چي زما روح دي د ديرشو نه زياتو فرشتي په دي باندي راتولي شوي چي په دوئ كي به څوك دا كلمات اسمان ته خيژوي.

امام ترمذي وائي رفاعه بن رافع حديث حسن دي ، او په دي باب كي دانس، وائل بن حجر، او عامر بن ربيعه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دبعضي اهل علمو په نزد دا واقعه په نفلي مونځ كي شوي ده ځكه چي دمتعددو تابعينو قول دي كله چي څوك په فرض مونځ كي پرنجي اوكړي نو په زړه كي دي الحمدلله اووائي او ددينه زيات هغوئ اجازت نه دي وركړي.

تشريح : دحديث مطلب دادي چي له پرنجي والا الحمد لله اووايي نو په اوريدونكي يرحمك الله ويل اتفاقا لازم دي.

دهر اوريدونكي په يرحمك الله ويلو كي دفقهاؤ مذاهب

داحنافو په نزد يرحمك الله ويل واجب علي الكفايه دي مطلب دادى كه چري دپرنجي

1 ـ سنن ابي داود في الصلاة ١٢١ (٧٧٣). سنن النسائي في الافتتاح ٣٦ (٩٣٢) . (تحفة الأشراف : ٣٦٠٦) . وراجع أيضا: صحيح البخارى في الأذان ١٢٦ (٧٩٩) . و سنن ابي داود في الصلاة ١٢١ (٧٧٠) . وسنن النسائي في التطبيق ٢٢ (١٠٦٢) . ومأني القرآن ٧(٢٥) . ومسند احمد (٣ في ٣٤٠)

اوریدونکي ډير کسان وي نو که په دوئ کې يوکس يرحمك الله اووائي کافي به وي او وجوب به دټولو دذمې نه ساقط شي.

داکابرو علماؤ يوجماعت او صاحب دسفر السعادت وائي چي دپرنجي جواب ورکول په اوريدونکي باندي فرض دي. او که څوك جواب نه ورکوي ګنهګار به وي.

ليکن دشوافعو علماؤ په نزد سنت علي الكفايه دي.

دامام مالك په مذهب کې يو څو اقوال دي ديو قول په اعتبار واجب دي او دبل قول په اعتبارسنت دي.

فليقل يهديكم الله ويصلح بالكم. کله چي پرنجي کونکي ته په يرحمك الله سره جواب ورکړې شي نو پرنجي والا به يهديكم الله ويصلح بالكم وائي علماء وائي که چري ددي سره يغفرالله لي ولكم يوځاي کړې شي نو ډير به بهتر وي.

د مسلم په حديث کي دي که فرنجي کونکي الحمد لله ونه وايي نو "فلا تشمتوه" يعني جواب مه ورکوئ.

معلومه شوه چي پرنجي والا الحمدلله اووائي نو په يرحمك الله سره دي جواب ورکړې شي خو که پرنجيدونکي الحمدلله وئيلي نه وي نو بيابه ورته په يرحمك الله جواب نشي ورکولې همدارنګي که چا الحمدلله اووئيل خوچا وانه اوريدل نو په دي صورت کي هم جواب ورکول ضروري نه دي.

که چري دا صورت پيښ شي چي په مجلس کې څوك پرنجي اوکړي او الحمدلله اووائي او هغه په مجلس کې بعضو کسانو اوريدلې وي او بعضو نه وي اوريدلې نو اوس چي په دوئ کې چا اوريدلې دی په هغوئ باندي جواب ورکول لازم دي اوچاچه نه دی اوريدلې په هغوئ لازم نه دي.

قاضي ابوبكر ابن العربي المالكي ليکلي دي چي کله بعضو يرحمك الله اووئيل نو ددينه دا معلومه شوه چي هغه به الحمدلله وئيلي وي اوس که چا نه وي اوريدلي هغوئ لره هم يرحمك الله وئيل پکار دي.

د فقهاؤ ديرحمك الله په جواب ورکولو دويم اختلاف په دي کي دی چي کله څوك په مونځ ولاړ وي فرنجي وکړي نو مذکوره دعا به وايي او که نه ؟ او د چا فرنجي واوري نو جواب ورکول ضروري دي او که ممنوع دي؟ ، په دي باره کي د اهل علمو اختلاف دی: معارف السنن ليکلي دي: دجهمورو علماؤ قول دادی چي که څوك داسي وکړي مونځ نه فاسد کيږي، البته ددي د استحباب هيڅوك ندي قائل. (معارف السنن)

د رفاعه بن رافع رضي الله عنه حالات

نوم رفاعه كنيه ابو معاذ دمور نوم ام مالك بنت ابي سلول چي د عبدالله بن ابي منافق خور وه، رفاعه پلار رافع په قبيله بني خزرج کي دټولو نه ړومبی مسلمانيدونکی شخصيت دی، دبيعت عقبه نه دوه کاله مخکي مسلمان شوی دی او دده مور هم ربښتوني مومنه وه او رفاعه پخپله په عقبه ثانيه کي دخپل پلار سره مکي ته لاړو او درسول الله په لاس مسلمان شو او په تمامو غزواتو کي يي شرکت کړی دی دبدر ذکر خو په بخاري کي دی خو په جنګ جمل او صفين کي هم دعلي رضي الله عنه سره ملګری وو چي په ۴۱ يا ۴۳ هجري کي وفات شوی دی او دا دامير معاويه دحکومت ابتدائي زمانه وه يو څو روايات ورنه مروي دي چي دري ددينه په بخاري کي هم موجود دي.

****

١٨٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي نَسْخِ الْكَلَامِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ کي دخبرو اترو دجواز منسوخ کيدو بيان

٤٠٥_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ شُبَيْلٍ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: "كُنَّا نَتَكَلَّمُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ، يُكَلِّمُ الرَّجُلُ مِنَّا صَاحِبَهُ إِلَى جَنْبِهِ حَتَّى نَزَلَتْ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ سورة (البقرة) فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ وَنُهِينَا عَنِ الْكَلَامِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَمُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: إِذَا تَكَلَّمَ الرَّجُلُ عَامِدًا فِي الصَّلَاةِ أَوْ نَاسِيًا أَعَادَ الصَّلَاةَ، وَهُوَ قَوْلُ: سفيان الثوري، وَابْنِ الْمُبَارَكِ وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا تَكَلَّمَ عَامِدًا فِي الصَّلَاةِ أَعَادَ الصَّلَاةَ وَإِنْ كَانَ نَاسِيًا أَوْ جَاهِلًا أَجْزَأَهُ، وَبِهِ يَقُولُ: الشَّافِعِيُّ.(1)

ترجمه: دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي چي مونځ به په رسول الله صلى الله عليه وسلم پسي په مونځ کي خبري اتري کولي او يو کس به دخپل خوا کي کس سره خبري کولي تردي

(1) صحيح البخاري في العمل في الصلاة ٢ (١٢٠٠) وتفسير البقرة ٤٢ (٤٥٣٤) . صحيح مسلم في المساجد ٧ (٥٣٩). سنن ابي داود في الصلاة ١٧٨ (٩٤٩) . سنن النسائي في السهو ٢٠ (١٢٢٠) تحفة الأشراف (٣٦٦١)، مسند احمد (٤/٣٦٨). ويأتي عند المؤلف في تفسير البقرة برقم (٢٩٨٦)

پوري چي ايت کريمه "وقوموا لله قانتين" نازل شو نو مونږ ته دخاموش اودريدو حکم اوشو او دخبرو کولو نه مونږ منع کړي شو.

تشريح : په خبروکولوسره دمونځ فاسديدو متعلق دوه مذاهب دي:

(۱)مسئله :که يو کس په خپل مونځ کي په قصد يا په سهو کلام اوکړو.نو دده مونځ باطل شو.کلام د داسي حروفو آواز ته وائي چي مفيد د معنى وي.کله يو حرف وي.لکه :ق، يعنى بچ شه اوکه يوحرف بى معنى وي.نوکلام نه دي

(۲)او د امام شافعي په نزد د خطأ او نسيان په صورت کي مونځ نه فاسديږي.په دى شرط چي اوږد نه وي.ځکه چي اوږد کار دخطاء او نسيان سره منافي دى.

د امام شافعي مستدل حديث معروف دي (رفع عن أمتي الخطاء والنسيان) يعنى زما دامت نه خطاء او نسيان پورته کړي شوي. ددينه استدلال په دوه وجو دى

(۱)او وجه د استدلال دا ده چي حکم په دوه قسمه وي.دنيوى (د مونځ فاسدونکى) او اخروى (ګناهګاريدل)نو لکه چي رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي زما د امت نه د خطاء او نسيان دنيوى او اخروى دواړه حکمونه پورته شوى دى.يعنى په دى دواړو کي نه څه څيز فاسديږي.اونه په آخرت کي څه ګناه شته

(۲)صاحب دعنايه ليکلى دى چي وجه د استدلال دا ده چي ددى دواړه حقيقت خو غير مرفوع دي.ځکه چي دا دواړه په خلقو کي موجود دى.نو ددى حکم يعنى فساد راوستل به مرفوع وي.

داحنافو دليل د معاويه بن الحکم اسلمى(رضي الله عنه) حديث دي.پوره حديث داسى دي :(قال صليت خلف رسول الله صلي الله عليه وسلم فعطش بعض القوم فقلت يرحمك الله فرماني القوم بأبصارهم فقلت وا ثكل اماه مالى أرا کم تنظرون إلى شزر فضربوا بأيديهم على أفخاذهم فعلمت أنهم يسكتوننى فلما فرغ النبي صلي الله عليه وسلم دعانى فوالله ما رأيت معلماً أحسن تعليما منه ما قهرنى ولا زجرنى ولكن قال إن صلاتنا هذه لايصلح فيها شئ من كلام الناس وإنما هى التسبيح والتهليل وقراءة القرآن)

يعنى معاويه بن حکم(رضي الله عنه) فرمائي چي ما په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسې مونځ کولو.نو يو کس پرنجي اوکړو.ما ورته (يرحمك الله) اوويل نو ما اوو ئيل.ددوى ميندي دى بورى شي. ما څه چل کړي دي چي زه تاسو ته ګورم چي په برندو سترګو ګورئ.نو هغوى خپل پتونان په خپلو لاسونو اووهل،نو زه پوهه شوم چي دوى ما چپ کول غواړي چي کله رسول پاك صلي الله عليه وسلم د مانځه نه فارغ شو.نو زه يى راوُ غوښتلم.په الله قسم چي

ما د رسول پاك صلي الله عليه وسلم نه ښه معلم نه دی ليدلې.چي ماته نۀ په غصه شو.او نه ئې زه اورټلم.بلکه ويي فرمائيل چي زمونږ په دی مونځ کي د خلقو د خبرو نه دڅه ځ گنجائش نشته.دا خوصرف تسبيح ،تهليل او قرات د قران دې ، ددی حديث نه معلومه شو چي په مونځ کي د کلام عدم وجود د مونځ حق دې.لکه څنگه چي د طهارت وجود د مونځ حق دې.نو لکه څنگه چي دعدم طهارت سره مونځ جائز نه دې.دغه شان د کلام د وجود سره هم مونځ جائز نه دې.

دامام شافعی د پیش کړی حدیث نه جواب دا دې چي حديث (رفع عن أمتي الخطأ والنسيان)

د گناه په پورته کيدو باندې محمول دې.حاصل دادی . چي په حديث کي د آخرت حکم يعنی گناه نه واقع کيدل په اجماع سره مراد دي.اوس که دنيوی حکم يعنی مفسد کيدل ترې هم مراد واخستی شی.نو عموم مشترك لازميږی.حالانکه عموم مشترك جائز نه دې.

په سهو او نسيان او خطا کي فرق دادي چي سهو وائی.د قوت مدرکه نه د صورت زائله کيدل او نسيان د قوت حافظه نه د صورت زائله کيدل.تردی چي دا کس جديد محتاج شی.او خطاء دا ده چي صورت خو باقي وی.خو چي کله د يو څيز د تکلم اراده اوکړی.نو بغير د ارادی نه بل څيز په ژبه باندې راشی.په دی ځائې کي د سهو نه عامه معنی مراد ده.کومه چي درې واړه قسمونو ته شامل ده.اوچونکه په سهو او نسيان کي د شرعی حکم په اعتبار سره څه فرق نشته.نوځکه مصنف‌هم د دی دواړو په مينځ کي څه فرق اونکړو.

دزید بن ارقم رضي الله عنه حالات:

نوم زيد کنيه ابوعمر قبيله خزرج په ماشوموالي کې يتيم شوی وو او پرورش يي خپل تره عبدالله بن رواحه رضي الله عنه اوکړو او همدا دزيد په اسلام کې دداخليدو سبب اوگرځيدو دماشوموالي په وجه په غزواتو کې شريك شوی نه وو او شرکت يي په غزوه خندق کې کړی وو دی پخپله وائي ما په اولس غزواتو کې شرکت کړی دی، په دربار رسالت کې ډير مقرب وو کله چي به بيمار شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به يي عيادت له راتلو يو خل يي په سترگه درد راغلی وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دده دعيادت دپاره راغی دجوړيدو نه پس يي ورنه تپوس اوکړو که دا مرض اوس هم باقي پاتي شوی وی نو څه به دي کول زيد صبر اوکړو چي صبر او داجر اميد به مي کولو رسول الله ورته اوفرمائيل که داسي دي کولی نو دالله تعالي په وړاندي به بي گناه گرځيدلی وی (مسند احمد).

په ۶۸هجري کې په کوفه کې وفات شوی دی او دا دمختار بن ابي عبيد ثقفي زمانه وه دمروياتو شمير يي ۹۰ دی مزيد حالات يي ابن سعد په طبقات کې ذکر کړي دي.

****

١٨٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عِنْدَ التَّوْبَةِ

دصلاة توبه بيان

٤٠٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَسْمَاءَ بْنِ الْحَكَمِ الْفَزَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا، يَقُولُ: إِنِّي كُنْتُ رَجُلًا إِذَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا نَفَعَنِي اللَّهُ مِنْهُ بِمَا شَاءَ أَنْ يَنْفَعَنِي بِهِ، وَإِذَا حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ اسْتَحْلَفْتُهُ، فَإِذَا حَلَفَ لِي صَدَّقْتُهُ، وَإِنَّهُ حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرٍ وَصَدَقَ أَبُو بَكْرٍ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا ثُمَّ يَقُومُ فَيَتَطَهَّرُ ثُمَّ يُصَلِّي ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللَّهَ إِلَّا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ. ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ (آل عمران)". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَمُعَاذٍ، وَوَاثِلَةَ، وَأَبِي الْيَسَرِ وَاسْمُهُ: كَعْبُ بْنُ عَمْرٍو وَقَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، وَرَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، فَرَفَعُوهُ مِثْلَ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ، وَرَوَاهُ سفيان الثوري، وَمِسْعَرٌ فَأَوْقَفَاهُ وَلَمْ يَرْفَعَاهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مِسْعَرٍ هَذَا الْحَدِيثُ مَرْفُوعًا أَيْضًا، وَلَا نَعْرِفُ لِأَسْمَاءَ بْنِ الْحَكَمِ حَدِيثًا مَرْفُوعًا إِلَّا هَذَا. (١)

ترجمه: اسماء بن حكم فزاري وائي چي دعلي رضي الله عنه نه مي اوريدلي دي ما چي به كله درسول الله صلي الله عليه وسلم نه كوم حديث واوريدو نو الله تعالي به په هغه ماته نفع راكوله څومره چي به الله تعالي ماته نفع راكول غوښتل او چي كله به په صحابه كرامو كي چا ماته بيان كړو نو ما به هغه ته قسم وركولو چي ايا واقعي تا دا حديث درسول الله صلي الله عليه وسلم نه پخپله اوريدلي نو كه هغه به زما په وړاندي قسم اوكړو نو ما به يي تصديق اوكړو، ماته حديث بيان كړو ابو بكر او تصديق اوكړو عمر فرمائيل يي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي څوك چي گناه اوكړي او بيا اودس اوكړي او بيا مونځ اوكړي او بيا داالله تعالي نه معافي اوغواړي نو الله تعالي هغه ته معافي كوي او بيا يي دا ايت

---

١ ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣٦١ (١٥٢١)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٩٣ (١٣٩٥)، (تحفة الأشراف: ٦٦١٠)، مسند احمد (١/ في

٢ ويأتي عند المؤلف في تفسير آل عمران برقم: ٣٠٠٦)

کريمه وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ (آل عمران) تلاوت کړه.

دا هغه کسان دي چې کله د بې حيايئ کار وکړي او يا په ځانونو ظلم وکړي نو يادوي دوئ الله لره، اود خپلو ګناهونو مغفرت ورنه غواړي ، اود الله نه علاوه بل هيڅوك ګناهونه نشي ښنلي، او دوئ بيا پخپله ګناه کلك هم نشي.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث حسن دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي يعني دعثمان بن مغيره په سند مونږ ته رارسيدلي دي او دده نه شعبه او نورو محدثينو هم روايت نقل کړي دي هغه دا روايت دابوعوانه دروايت پشان مرفوعا نقل کړي دي او دا روايت سفيان ثوري او مسعر هم نقل کړي دي ليکن ددوئ دواړو روايت موقوف دي مرفوع نه دي او دمسعر نه دا حديث مرفوعا هم مروي دي او ددي حديث نه علاوه داسماء بن حکم کوم بل حديث مرفوع مونږ ته معلوم نه دي ، او په دي باب کې د ابن مسعود ، ابو الدرداء، انس، ابو امامه، معاذ، واثله ، ابو اليسر ، کعب بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : د ايت کريمه: وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً... شان نزول او مختصر تفسير:

فاحشة دفحش نه ماخوذ دي په اصل کې په معني دبدئ اودحد نه دتجاوز کولو دي ، اودلته دفاحشة نه مراد کبيره ګناهونه دي، ځکه چې مرتکب دکبيره دعصيان اوبدئ دحد نه تيريږي، جابر رضي الله عنه فرمائيلي دي فاحشة نه مراد زنا ده.

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائيلي دي مسلمانانو عرض وکړو چې اي دالله رسوله زمونږ نه خوبني اسرائيل دالله په نظر کې زيات عزت مند وو که په دوئ کې به چري چا دشپې ګناه اوکړه نوسحر به دهغوئ په دروازه دهغې کفاره ليکلي شوي وه چې خپل غوږ يا پوزه پري کړه يا داسي داسي اوکړه ، نبي کريم صلي الله عليه وسلم چې دا واوريدل نو خاموشي يې اختيار کړه او الله تعالي دا ايت کريمه نازل کړو.

عطاء وئيلي دي ددي ايت نزول دنبهان کجوري خرڅونکي په حق کې شوي وو چې کنيه يې ابو معبد وه، قصه داسي وه چې يوه ښکلي ښځه ده ته دکهجورو اخستلو دپاره راغله نبهان ورته ووئيل چې دا کهجوري ډيري ښې ندي عمده اوغوره کهجوري زما سره په کور کې موجود دي چنانچه نبهان دا ښځه دځان سره کورته راوستله نو چې کورته ئې را داخل کړه ځان ته ئې راجوښته کړه اوپه غيږ کې ئې ونيوله اوخکول ئې کړه ، ښځې ورته ووئيل دالله تعالي نه وويريږه نونبهان فورا فريښودله اوپخپل حرکت باندي پښيمانه شو اودرسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو اوخپله قصه ئې ورته عرض کړه نوپدي باره کې دا ايت کريمه نازل شو.

دمقاتل اوكلبي بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوه كسانو په مينځ كښ اخوت قائم كړي وو يو انصاري وو او دويم ثقفي وو ، ثقفي جهاد ته لاړو او خپل انصاري ورور يي دخپل بال بچ نګران اوګرځولو . يوه ورځ انصاري دثقفي دبچو دپاره غوښه واخستله او دثقفي ښځي چي كله دانصاري نه غوښه اخستل اوغوښتل نوهغه په ښځي پسي كورته راننوتواودهغي لاسونه ئي خكل كړل اوبيا ورباندي پښيمانه شو او واپس راغي اوخاوري ئي په سر بادولي اوسرګردانه خنګل ته روان شو ، ثقفي چي كله راورسيدو اوانصاري ئي داستقبال په حالت كښ اونه ليدو نوده دخپلي ښځي نه دانصاري دحال په باره كښ تپوس وكړو نوښځي ورته ووئيل دداسي ورونړو تعداد دي الله تعالي زيات نكړي اوپوره حالت ئي ورته بيان كړو ، بل جانب ته انصاري په غرونو كښ ګرځيدو او توبي ئي ويستلي نوثقفي دهغه تلاش شروع كړو نوچه وني موندلو نو ابوبكر الصديق رضي الله عنه ته ئي راوستلو ليكن دده دا اميد وو چي شايد دسكون كومه لاره راته ملاو شي ، چنانچه انصاري ورته خپله قصه عرض وكړو او وني وئيل چي زه تباه شوي يم ابوبكر الصديق رضي الله عنه ورته ووئيل ته دي هلاك شي ايا تاته دامعلومه نه وه چي دغازي په سلسله كښ الله تعالي دومره رحمت كوي څومره چي دمقيم دپاره نه كوي ، اوددينه پس دوئ دواړه دعمر فاروق رضي الله عنه سره ملاو شول عمر رضي الله عنه ورته هم دغه جواب وركړو كوم چي ابوبكر الصديق رضي الله عنه وركړي وو ، اخرداچه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كښ حاضرشول رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته هم دشيخينو پشان جواب وركړو نوپدي باره كښ الله تعالي دا ايت كريمه نازل كړو . (تفسير مظهري)

****

١٨٧ـ بَاب مَا جَاءَ مَتَى يُؤْمَرُ الصَّبِيُّ بِالصَّلَاةِ

ماشوم ته به كله په مونځ باندي حكم كولى شي

٤٠٧ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا حَرْمَلَةُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيُّ، عَنْ عَمِّهِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلِّمُوا الصَّبِيَّ الصَّلَاةَ ابْنَ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُ عَلَيْهَا ابْنَ عَشْرٍ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَلَيْهِ الْعَمَلُ

عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَقَالَا: مَا تَرَكَ الْغُلَامُ بَعْدَ الْعَشْرِ مِنَ الصَّلَاةِ فَإِنَّهُ يُعِيدُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَبْرَةُ هُوَ ابْنُ مَعْبَدٍ الْجُهَنِيُّ، وَيُقَالُ هُوَ: ابْنُ عَوْسَجَةَ. (1)

ترجمه : سبره بن معبد جهني رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چي كله ماشوم داوو كالو شي نو هغه ته مونځ اوښائي او دلسو كالو په عمر كې يې مونځ نه كولو باندي وهئ.

امام ترمذي وايي چي په دي باب كي د ابن عمر رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دی، او حديث د سبره بن معبد الجهني حسن صحيح دی اوپه همدي د بعضي اهل علمو عمل دی، امام احمد او اسحاق هم په دي باندي قول كړی دی، دوي وايي چي كوم هلك د لسو كالو نه پس مونځ قضاء كړي نو دهغي قضا به راوړي.

تشريح : دا امام ابو داود رحمه الله په روايت كې داسی دي چي كله ماشوم داوو كالو شي نو هغه ته دمونځ كولو حكم كوئ.

لغات : علموا: علم يعلم تعليما باب تفعيل مغني تعليم وركول.

علموا الصبي، په تير شوي روايت كې مروا لفظ وو اوپه ذي كې علموا لفظ دی علماء وائي مخاطب چونكه سرپرست دی ماشوم نه دی نو په دي وجه يي په مختلفو عنواناتو سره دماشومانو تربيت بيان كړو.

الصبي، يعني ماشوم، علامه نووي وائي چي دلته مراد صرف ماشوم نه دی بلكه ماشومه هم مراد ده.واضربوها واضربوه عليها ابن عشر سنين، ليكن په بعضو روايتونو كې ثلاث عشر لفظ هم راغلی دی ليكن عشر سنين په كثرت سره وارد دی په دي وجه علماء ديته ترجيح وركوي.

ماشوما نو دپاره په دعاگا ني هم غواړئ

په ظاهري نيت سره علماء وائي چي ددعاگانو اهتمام هم كول پكار دي لكه څرنګه چي داسلافو معمول پاتي شوی دی عباس بن عبدالمطلب دخپل څوي تميم دپاره داسي دعاء غوښتلي وه..

تموا بتمام فصاروا عشرة يارب واجعلهم كراما بررة.

دتميم په ذريعه دوئ كامل لس كسان شول ای ربه او دوئ ټول نيكان او شريفان اوګرځوي.

يارب ذكيهم وتمي الثمرة ، يعني ای ربه ددوئ تزكيه اوكړی او دميوو خوراك ورباندي ډير

---

1 _ سنن ابي داود في الصلاة ٢٦ (٤٩٤) . (تحفة الأشراف : ٣٨١٠) . سنن الدارمي في الصلاة ١٣١ (١٤٢١)

اوكړي.

****

١٨٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُحْدِثُ فِي التَّشَهُّدِ

ځوك چې په تشهد كې بې اودسه شي نو څه به كوي

٤٠٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ مُوسَى الْمُلَقَّبُ مَرْدُوَيْهِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمٍ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ رَافِعٍ، وَبَكْرَ بْنَ سَوَادَةَ أَخْبَرَاهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا أَحْدَثَ يَعْنِي الرَّجُلَ وَقَدْ جَلَسَ فِي آخِرِ صَلَاتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ فَقَدْ جَازَتْ صَلَاتُهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِذَاكَ الْقَوِيِّ وَقَدِ اضْطَرَبُوا فِي إِسْنَادِهِ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا. قَالُوا: إِذَا جَلَسَ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ وَأَحْدَثَ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهُ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا أَحْدَثَ قَبْلَ أَنْ يَتَشَهَّدَ وَقَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ أَعَادَ الصَّلَاةَ، وَهُوَ قَوْلُ الشافعي، وقَالَ أَحْمَدُ: إِذَا لَمْ يَتَشَهَّدْ وَسَلَّمَ أَجْزَأَهُ، لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ وَالتَّشَهُّدُ أَهْوَنُ. قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اثْنَتَيْنِ فَمَضَى فِي صَلَاتِهِ وَلَمْ يَتَشَهَّدْ " وقَالَ إِسْحَاق بْنُ إِبْرَاهِيمَ: إِذَا تَشَهَّدَ وَلَمْ يُسَلِّمْ أَجْزَأَهُ، وَاحْتَجَّ بِحَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ حِينَ عَلَّمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّشَهُّدَ، فَقَالَ: " إِذَا فَرَغْتَ مِنْ هَذَا فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمٍ هُوَ الْأَفْرِيقِيُّ، وَقَدْ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ مِنْهُمْ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، وَأَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي دسلام گرځولو نه مخكي دچا اودس مات شي او هغه دځپل مونځ په اخر كي يعني په اخري قعده كي كيناستلي وي نو دده مونځ درست دي.

امام ترمذي وائي ددي حديث سند څه خاص قوي نه دي ددي په سند كي اضطراب دي، بعضي محدثينو دعبدالرحمن بن زياد بن انعم افريقي تضعيف كړي دي چي يو په هغوئ كي د جرح او تعديل امام يحي بن سعيد القطان او احمد بن حنبل هم شامل دي، بعضي اهل علمو دي طرف ته ميلان كړي دي چي كله ځوك د تشهد په مقدار كيناستلي وي او دسلام گرځولو نه

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٧٤ (٦١٧). (تحفة الأشراف: ٨٦١٠، و٨٨٤٥)

مخکې يې اودس مات شي نو دده مونځ پوره دي او دبعضي اهل علمو قول دي کله چې بې اودسي دتشهد وئيلو نه مخکې يا دسلام ګرځولو نه مخکې پيدا شي نو مونځ دي راوګرځوي او همدا دامام شافعي قول دي، امام احمد وائي څو پورې چې داسې کس تشهد وئيلې نه وي او سلام اوګرځوي نو دده مونځ به دده نه کافي وي ځکه چې ارشاد نبوي دي"وتحليها التسليم" يعني په مونځ کې چې کوم څيزونه حرام شوي وي هغه اشياء په سلام ګرځولو سره حلاليږي او بغير دسلام ګرځولو نه دمونځ نه وتل نشي کيدي او تشهد دومره اهم نه دي څومره اهم چې سلام دي ځکه چې دسلام په ترک مونځ درست نه پاتې کيږي يو ځل نبي کريم صلي الله عليه وسلم د دوه رکعاتونو کولو نه پس اودريدو او خپل مونځ يې جاري اوساتلو او تشهد يې اونکړو، اسحاق بن رابراهيم بن راهويه وائي کله چې څوک تشهد اووائي او سلام اونه ګرځوي نو مونځ يې اوشو او د ابن مسعود رضي الله عنه دحديث نه يې استدلال کړي دي چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه ته تشهد خودلو نو ورته يې اوفرمائيل کله چې ته ددينه فارغ شې نو ته خپله فريضه اداء کړه.

****

١٨٩ـ بَابُ مَا جَاءَ إِذَا كَانَ الْمَطَرُ فَالصَّلَاةُ فِي الرِّحَالِ

دباران په دوران کې په کور کې دمونځ کولو بيان

٤٠٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَأَصَابَنَا مَطَرٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ شَاءَ فَلْيُصَلِّ فِي رَحْلِهِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَسَمُرَةَ، وَأَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِيهِ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ قال أبو عيسى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَخَّصَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْقُعُودِ عَنِ الْجَمَاعَةِ وَالْجُمُعَةِ فِي الْمَطَرِ وَالطِّينِ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْت أَبَا زُرْعَةَ يَقُولُ: رَوَى عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَلِيٍّ حَدِيثًا وَقَالَ أَبُو زُرْعَةَ: لَمْ نَرَ بِالْبَصْرَةِ أَحْفَظَ مِنْ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةِ عَلِيِّ بْنِ الْمَدِينِيِّ، وَابْنِ الشَّاذَكُونِيِّ، وَعَمْرِو بْنِ عَلِيٍّ، وَأَبُو الْمَلِيحِ اسْمُهُ: عَامِرٌ، وَيُقَالُ: زَيْدُ بْنُ أُسَامَةَ بْنِ عُمَيْرٍ الْهُذَلِيُّ. (١)

---

١ ـ صحيح مسلم في المسافرين ٣ (٦٩٨) . سنن ابي داود في الصلاة ٢١٣ (١٠٦٥) . (تحفة الأشراف : ٢٤١٦) . مسند احمد (٣ في ٣١٢، ٣٢٧)

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يو سفر کي موجود وو چي باران شروع شو نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که څوك پخپله ديره کي مونځ کول غواړي نو کولي يي شي.
امام ترمذي وائي دجابر رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي د ابن عمر، سمره، ابوالمليح، عامر، او عبدالرحمن بن سمره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، بعضي اهل علمو په باران او ختو چقړو کي په مسجد کي دجماعت دپاره درخصت اجازت ورکړي دي او همدا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول دي.

****

١٩٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّسْبِيحِ فِي أَدْبَارِ الصَّلَاةِ

دمونځ نه پس دتسبيحاتو او اذكارو بيان

٤١٠ـ حَدَّثَنَا وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، إِسْحَاقَ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ الْبَصْرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَتَّابُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، وَعِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ الْفُقَرَاءُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الْأَغْنِيَاءَ يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ وَلَهُمْ أَمْوَالٌ يُعْتِقُونَ وَيَتَصَدَّقُونَ، قَالَ: " فَإِذَا صَلَّيْتُمْ فَقُولُوا: سُبْحَانَ اللَّهِ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ مَرَّةً، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ مَرَّةً، وَاللَّهُ أَكْبَرُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ مَرَّةً، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ عَشْرَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّكُمْ تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ وَلَا يَسْبِقُكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ " قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي ذَرٍّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَفِي الْبَاب أَيْضًا عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَالْمُغِيرَةِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: " خَصْلَتَانِ لَا يُحْصِيهِمَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ: يُسَبِّحُ اللَّهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا، وَيَحْمَدُهُ عَشْرًا، وَيُكَبِّرُهُ عَشْرًا، وَيُسَبِّحُ اللَّهَ عِنْدَ مَنَامِهِ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَيَحْمَدُهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَيُكَبِّرُهُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ ".(1)

---

1 ـ صحيح مسلم في المسافرين ٣ (٦٩٨)، سنن ابي داود في الصلاة ٢١٣ (١٠٦٥)، (تحفة الأشراف: ٦٤١٦)، مسند احمد (٣ في ٢١٣، ٣٢٧)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي څه محتاجه او فقيران خلق حاضر شول او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله مالداران خلق داسي مونځونه کوي څنګه چي مونږ کوو او هغوئ داسي روژې هم نيسي څنګه چي مونږ نيسو مګر دهغوئ سره مالونه هم دي چي غلامان وربانديي ازادوي او صدقي ورنه ورکوي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کله چي تاسو مونځ اوکړئ نو ۳۳پيري سبحان الله او ۳۳ پيري الحمد لله او ۳۴پيري الله اکبر او ۱۰ځله لا اله الا الله وائي نو تاسو به هغه خلقو پوري اورسيږئ څوک چي ستاسو نه په اجر او ثواب کي مخکي شوي دي او څوک چي ستاسو نه روسته پاتي شوي دي هغوئ به درنه په اجر او ثواب کي مخکي کيدي شي. يعني تاسو پسي به در رسيدلی نشي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن غريب دي، په دي باب کي د کعب بن عجره. انس. عبدالله بن عمرو، زيد بن ثابت، ابو الدرداء، ابن عمر، او ابو ذر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دا رنګي په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي. او دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چي فرمائيل يي دوه داسي عادتونه دي کوم چي په هر يو مسلمان کي راشي جنت ته به داخل شي يو دادي چي دهر مونځ نه پس لس پيري سبحان الله. او لس پيري الحمدلله او لس پيري الله اکبر اووائي ، دويم دادي چي هغوئ د اوده کيدو وخت کي ۳۳پيري سبحان الله او ۳۳پيري الحمدلله او ۳۴پيري الله اکبر اووائي.

تخريج : سنن النسائي في السهو ۹۵ (۱۳۵۳) ، (تحفة الأشراف : ۶۰۶۸ و ۶۳۹۳)

تشريح : په پورتني حديث کې دصحابه کرامو په نيکو کارونو کې ديو بل سره مقابله کول بيان شوي دي چي هغوئ به ديو بل نه په نيکو کارونو کې مخکې کيدل.

کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فقراؤ ته دهر مونځ نه پس تسبيحات فاطمه اوخودل نو مالدارو خلقو هم شروع کړل نو مالدارانو خلقو يو طرف ته داسلام داحکامو او فرائضو پابندي کوله او دمالدار کيدو په وجه به يي مالي عبادتونه او صدقات هم ورکول او ورسره يي تسبيحات هم شروع کړل نو په دي وخت کې نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل "ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء" يعني دا دالله تعالي فضل دی چي دچا دپاره يي اوغواړي هغه ته يي ورکوي.

ديو سوال جواب

دبر کل صلاة ثلاثا وثلاثين مرة: يعني دهر مونځ نه پس به ۳۳پيري سبحان الله، الحمدلله، او الله اکبر لولې.

سوال: ددي عبارت نه ظاهرا معلوميږي چي سبحان الله الحمد لله الله اکبر مجموعه دري ديرش پيري وئيل پکار دي يعني هره يوه کلمه يولس پيري او حال دادی چي مشهوره داده چي په دوی کي به هر يو لره (۳۳) پيري لولي.

ابن حجر ددي دا جواب کړی دی چي دا عبارت په اصل کي داسي دی "تسبحون خلف کل صلاة ثلاثا وثلاثين" مطلب دادی چي دهر مونځ نه پس به ۳۳ پيري سبحان الله، ۳۳، الحمد لله، ۳۳ الله اکبروائي لکه چي ديو بل روايت نه هم دا معلوميږي.

امام نووي ليکلي دي په بعضي روايتونو کي راغلي دي چي الله اکبر ۳۴ پيري او يو خل لااله الاالله وحده لاشريك له له الملك والحمد وهو علي كل شيئ قدير. هم وئيل پکار دي.

فتح الباري والا ليکلي دي چي دمسنون تعداد نه زياتول ددي تاثير ختموي لکه چي ديو حکيم په نسخه کي دکمي او زياتي کولو په وجه دعلاج اثر ختميږي.

ددي تعداد نه زياتول ندي پکار

ددي تعداد نه زيات وئيل پکار نه دي ابن حجر په فتح الباري کي ليکلي دي چي دمسنون طريقي نه په زيات لوستلو سره ددي تاثير ختميږي لکه چي دحکيم په نقصه کي کمی او زياتی اوکړی شي نو تاثير يي ختميږي.

****

١٩١_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الدَّابَّةِ فِي الطِّينِ وَالْمَطَرِ

په ختيو او چقړو او باران کي په سورلئ با ندي دمونځ کولو بيان

٤١١_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ بْنُ سَوَّارٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ الرَّمَّاحِ الْبَلْخِيُّ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ بْنِ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُمْ كَانُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسِيرٍ، فَانْتَهَوْا إِلَى مَضِيقٍ وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَمُطِرُوا السَّمَاءُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَالْبِلَّةُ مِنْ أَسْفَلَ مِنْهُمْ " فَأَذَّنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى رَاحِلَتِهِ وَأَقَامَ أَوْ أَقَامَ فَتَقَدَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ فَصَلَّى بِهِمْ يُومِئُ إِيمَاءً يَجْعَلُ السُّجُودَ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوعِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، تَفَرَّدَ بِهِ عُمَرُ بْنُ الرَّمَّاحِ الْبَلْخِيُّ، لَا يُعْرَفُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِهِ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ،

وَكَذَلِكَ رُوِيَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ صَلَّى فِي مَاءٍ وَطِينٍ عَلَى دَابَّتِهِ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ. (1)

ترجمه : ديعلي بن مره نه روايت دي فرمائي چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يو سفر كي موجود وم او هغوئ يو تنگ ځاي ته ورسيدل او دمونځ وخت ورباندي راغي دپاسه ورباندي باران كيدو او لاندي ختي جوړي شوي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله سورلئ دپاسه اذان اوكړو او اقامت يي اوكړو او خپله سورلئ يي وړاندي ورمخكي كړه او دهغي دپاسه يي خلقو ته مونځ وركړو رسول الله به په اشاري سره مونځ كولو چي سجده به يي دركوع نه لږه زياته ټيټه وه.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي ځكه چي عمر بن رماح بلخي ددي په روايت كي منفرد دي او دا حديث صرف دهغه په سند متصل دي او دهغه نه دا حديث په اهل علمو كي متعددو او محدثينو نقل كړي دي، دانس بن مالك نه هم ددي روايت يو هم معني حديث مروي دي چي هغه په ختيو او چقړو كي پخپله سورلئ باندي مونځ اوكړو او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي امام احمد او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول كړي دي.

****

١٩٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الِاجْتِهَادِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ كي دكوشش كولو بيان

٤١٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَبِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ الْعَقَدِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَفَخَتْ قَدَمَاهُ، فَقِيلَ لَهُ: أَتَتَكَلَّفُ هَذَا وَقَدْ غُفِرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ. قَالَ: "أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دمغيره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دشپى په

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٨٥١)

2 ـ صحيح البخاري في التهجد ٦، وتفسير الفتح ٢ (٤٨٣٦)، والرقاق ٢٠ (٦٤٧١). صحيح مسلم في المنافقين ١٨ (٢٨٢٠). سنن النسائي في قيام الليل ١٧ (١٦٤٥). سنن ابن ماجه في الإقامة ٢٠٠ (١٤١٩، ١٤٢٠). (تحفة الأشراف: ١١٤٩٨) مسند احمد (٤/ في ٢٥١، ٢٥٥)

نفلونو کې دومره ډير اودريدو چې پښې مبارکې به يې اوپړسيدې ما ورته عرض اوکړو، يا رسول الله ! ته دومره تکليف ولې برداشت کوې الله تعالى خو تا ته وړومبۍ روستۍ ټولې غلطۍ معاف کړې دي رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا زه دا خوښه نه کړم چې د الله تعالى شکر گزار بنده شم.

امام ترمذي وايي چې د ابو هريره او عائشه رضي الله عنها نه هم احاديث مروي دي اود مغيره بن شعبه حديث حسن صحيح دی.

تشريح : او په بخاري او مسلم دواړو کې دغه شان يو بل روايت د عائشه رضي الله عنها نه هم مروي دي.

د رسول الله کثرت عبادت د شکر ادا کولو د پاره وو

وقد غفر الله لك ما تقدم من ذنبك وما تأخر: يعني رسول الله ته مخکني او روستني تمام گناهونه معاف شوي وو، سوال ايا د انبياؤ نه هم د گناه صدور کيدې شي؟

جواب دادي چې انبياء عليهم السلام د گناهونو نه معصوم وي په دې باندې د امت د علماؤ اتفاق دي په قران او حديث کې چې هرچرته د مغفرت او ذنب لفظ راغلې دې د هغې نه مراد خلاف اولي وي کوم چې د انبياو نه صادريدلې شي، ځکه چې د نبوت د لوړ مقام په اعتبار سره غير افضل عمل هم لغزش گڼړلې شي، چې په قران او حديث کې ورنه په ذنب سره تعبيرونه شوي دي، لکه چې ويلې شوي دي حسنات الابرار سيئات المقربين.

ايا زه د الله شکر گذار بنده جوړ نه شم

"افلا اکون عبدا شکورا" يعني ايا شکر گذار بنده جوړ نه شم؟ دا د عبادت اعلى درجه ده چې انسان عبادت د جنت د انعام د پاره اونکړي علي رضي الله عنه فرمائيلي دي درې قسمه خلق عبادت کونکي دي (۱) يو د سودا گر عبادت وي دا هغه خلق دي ځوک چې د جنت او د ثواب په اوميد او تمنا د الله عبادت کوي (۲) دويم د غلامانو عبادت دی دا هغه خلق دي ځوک چې د عذاب الهي او د دوزخ د يرې په وجه عبادت کوي (۳) د ازادو خلقو عبادت دی دا هغه کسان دي ځوک چې د خپل مولا دورکړو نعمتونو د شکر ادا کولو د پاره عبادت کوي.

****

۱۹۳_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الصَّلَاةُ

د قيامت په ورځ به اول د بنده سره د مونځ حساب کيږي

٤١٣ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، قَالَ: حَدَّثَنِي قَتَادَةُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ حُرَيْثِ بْنِ قَبِيصَةَ، قَالَ: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ، فَقُلْتُ: اللَّهُمَّ يَسِّرْ لِي جَلِيسًا صَالِحًا، قَالَ: فَجَلَسْتُ إِلَى أَبِي هُرَيْرَةَ، فَقُلْتُ: إِنِّي سَأَلْتُ اللَّهَ أَنْ يَرْزُقَنِي جَلِيسًا صَالِحًا فَحَدِّثْنِي بِحَدِيثٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يَنْفَعَنِي بِهِ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ، فَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْءٌ قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّعٍ فَيُكَمَّلَ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيضَةِ، ثُمَّ يَكُونُ سَائِرُ عَمَلِهِ عَلَى ذَلِكَ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ الْحَسَنِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ حُرَيْثٍ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَالْمَشْهُورُ هُوَ قَبِيصَةُ بْنُ حُرَيْثٍ، وَرُوِيَ عَنْ أَنَسِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا.[1]

ترجمه : د حريث بن قبيصه نه روايت دى فرمائي كله چي زه مديني ته راغلم نو دا دعا مي اوغوښتله چي اي الله زما دپاره د يو نيك ملګري انتظام وکړى نو دابوهريره رضي الله عنه سره کيناستم او ورته مي ووئيل چي ما خو د الله تعالي نه د نيك ملګري سوال وکړو پس يو داسي حديث راته بيان کړه چي د رسول الله نه دي اوريدلي وي اميد دى چي الله تعالي به ماته په هغي نفع راکړي نو وئي فرمائيل:

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به تپولو نه اول دمانځه حساب کيږي که دايي پوره وو نو کامياب شو او خلاص شو او که پکښي خرابى وه نو تباه شو او تاواني شو، او که په فرضو کې يې څه کمى وو نو الله تعالي به فرښتو ته حکم اوکړي چي اوګورئ ايا زما دى بنده چرته نفلي مونځونه کړي دي؟ چي په هغي يې دفرضو کمى پوره کړى شي، بيابه دنورو فرضي اعمالو حساب هم پدى طريقه کيږي (يعني که فرض روژه کې يې څه کمى وي نو په نفلي به پوره کولى شي او که زکات کښى يې څه کمى وي نو دخيرات نه به پوره کولى شي وغيره)

امام ترمذي روايت کړى دى او حديث حسن غريب يې ورته ددي سند په اعتبار وئيلي دي، امام

[1] ـ سنن النسائي في الصلاة ٩ (٤٦٦)، سنن ابن ماجه في الإقامة ٢٠٢ (١٤٢٥)، (تحفة الأشراف : ١٢٢٩٣)، مسند احمد (٢/ ٤٢٥)

ترمذي وايي چي په دي باب کي د تميم الداري نه هم روايت وارد دی. او دا روايت ددي سند نه علاوه په بل سند هم د ابو هريره نه مروي دی،

دارنګي د حسن بعضي شاګردانو د قبيصه بن حريث نه ددي روايت نه علاوه روايات هم نقل کړي دي مګر مشهور روايت د قبيصه بن حريث دی ، دارنګي په دي باب کي د انس بن حکيم ، ابو هريره رضي الله عنهما نه هم ددي حديث هم معني روايتونه مروي دي.

لغات : العبد : سړي، غلام جمع يي عبيد راځي جمع الجمع اعابد او معابد راځي.

تشريح: اول ما يحاسب به العبد يوم القيامة: دهر څه نه مخکې به دقيامت په ورځ دمونځ تپوس کيږي.

سوال: په يو بل روايت کې راځي چي دقيامت په ورځ به دهر څه نه مخکې دناحقه قتل تپوس کيږي.

جواب: په حقوق الله کې به دهر څه نه مخکې به دمونځ تپوس کيږي او په حقوق العباد کې به دهر څه نه مخکې دناحقه قتل تپوس کيږي او همدا جواب په يو بل روايت کې هم راغلی دی.

"اول ما يحاسب العبد الصلاة واول ما يقضي بين الناس في الدماء" يعني دهر څه نه مخکې حساب به دمونځ کيږي او دهر څه نه مخکې فيصله به دويني په باره کې کيږي.

فان انتقص من فريضته شيئاً . الخ. که چري دده په فرائضو کې څه کمی وي نو دده دنوافلو نه به پوره کولی شي.

قاضي ابوبکر ابن عربي وائي چي دفرائضو کمی به دقيامت په ورځ دنوافلو نه پوره کيږي که دچا نه فرائض پاتي شوي وي او نوافل يي موجود وي نو دده نوافل به دفرائض قائم مقام اوګرځي ليکن جمهور علماء وائي که دچا نه فرائض پاتي شوي وي په زرګونو نوافل هم ددي برابر نشي کيدی مګر که په فرائضو کې څه کمی پاتي شوی وي نو دا کمی په نوافلو پوره کيدی شي همدا خبره دمجمع الزوائد په يو روايت کې هم راغلي ده.

****

۱۹۴_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنَ السُّنَّةِ وَمَا لَهُ فِيهِ مِنَ الْفَضْلِ

په شپه اوورځ کي د دولس رکعاته سنت اداء کولو دثواب بيان

٤١٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ النَّيْسَابُورِيُّ. حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سُلَيْمَانَ الرَّازِيُّ. حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ ثَابَرَ عَلَى ثِنْتَيْ

عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنَ السُّنَّةِ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ " قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي مُوسَى، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمُغِيرَةُ بْنُ زِيَادٍ قَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (1)

ترجمه : د عائشه رضي الله عنها نه روايت دى فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: كوم مسلمان بنده چي هره ورځ دفرضو نه علاوه دولس ركعته نفل مونځ كوي، الله تعالي به ورته په جنت كې كور جوړ كړي، يا يي دا الفاظ وفرمايل: په جنت كې به ورته كور جوړ كړى شي.

امام ترمذي وايي چي په دي باب كي د ام حبيبه، ابو هريره، ابو موسي او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. امام ترمذي وايي چي د عائشي حديث په مذكوره سند حسن غريب دى، اوپه مغيره بن زياد باندي محدثينو د حفظ په اعتبار كلام كړى دى.

لغات: بيتا: بات يبيت بيتا ومبيتا ومباتا شپه تيرول يا چاته دشپي ورتلل ، دبيت جمع بيوت ده په معني دكور سره.

تشريح : ددينه مراد دولس ركعاته سنت مؤكد دي ددي تفصيل دادى په سحر كې ددوه ركعاته فرضو نه مخكې دوه ركعاتونه كول او په ماسپخين كې دفرضو نه مخكې څلور ركعاته او دفرضو نه پس دوه ركعاته او په مازيګر كې سنت مؤكده نشته او دماښام دمونځ نه پس دوه ركعاته او دوه ركعاتونه دماخوستن دمونځ نه پس نو دا ټول دولس ركعاته شو او په دي باندي په پورتني حديث كې دجنت وعده شوي ده.

په نورو احاديثو كې د دولسو ركعتو تفصيل داسي راغلى دى ، دوه ركعته دسحر دفرضو نه مخكې ، څلور ركعته ماسپخين دفرضونه مخكې او دوه ورپسي دوه دماښام دفرضونه روستو اودوه دماخوستن. د مونځ نه پس.

****

٤١٥_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ هُوَ ابْنُ إِسْمَاعِيلَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ عَنْبَسَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ، أَرْبَعًا قَبْلَ

---

1 _ سنن النسائي في قيام الليل ٦٦ (١٧٩٥، ١٧٩٦). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٠٠ (١١٤٠). (تحفة الأشراف: ١٧٣٩٣)

الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ " قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ عَنْبَسَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ فِي هَذَا الْبَابِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَنْبَسَةَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. [1]

ترجمه : د ام حبيبه رضي الله عنها نه روايت دى فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: كوم مسلمان بنده چي هره ورځ دفرضو نه علاوه دولس ركعته نفل مونځ كوي، الله تعالي به ورته په جنت كې كور جوړ كړي، يا يي دا الفاظ وفرمايل: په جنت كي به ورته كور جوړ كړى شي.

امام ترمذي وايي چي په دي باب كي دعنبسه حديث د ام حبيبه په روايت حسن صحيح دى اوبه دي باب كي د عنبسه نه په نورو سندونو هم دا روايت مروي دى.

****

١٩٥_ باب مَا جَاءَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ مِنَ الْفَضْلِ

د سحر د دوه ركعاته سنتو فضائل

٤١٦_ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللهِ التِّرْمِذِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا " قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ عَبْدِ اللهِ التِّرْمِذِيِّ حَدِيثَ عَائِشَةَ. [2]

ترجمه : د عائشه رضي الله عنها نه روايت دى فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: دسحر دوه ركعتونه د دنيا او ما فيها نه بهتر دي،

---

[1] _ صحيح مسلم في المسافرين ١٣ (٧٢٩) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٩٠ (١٢٥٠) . سنن النسائي في قيام الليل ٦٦ (١٧٩٧، ١٧٩٨) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٠٠ (١١٤١) . (تحفة الأشراف)

[2] _ صحيح مسلم في المسافرين ١٤ (٧٢٥) . سنن النسائي في قيام الليل ٥٦ (١٧٦٠، ٢٦٥) . (تحفة الأشراف : ١٦١٠٦) . مسند احمد (٦/في ١٤٩)

امام ترمذي وايي چي په دي باب كي د علي، ابن عمر، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او حديث دعائشه رضي الله عنها حسن صحيح دى. دارنګي امام احمد بن حنبل حديث د عائشي د صالح بن عبد الله الترمذي په سند هم نقل كړى دى

****

١٩٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَخْفِيفِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ وَمَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِيهِمَا

دسحر د دوه ركعاتو نو د مختصر كولو او دهغه صورتو نو بيان كوم چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي كي لوستل

٤١٧ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ وَأَبُو عَمَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "رَمَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا فَكَانَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ بِ: قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَحَفْصَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَلَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي أَحْمَدَ، وَالْمَعْرُوفُ عِنْدَ النَّاسِ حَدِيثُ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، وَقَدْ رَوَى عَنْ أَبِي أَحْمَدَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ هَذَا الْحَدِيثَ أَيْضًا، وَأَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ ثِقَةٌ. حَافِظٌ. قَالَ: سَمِعْتُ بُنْدَارًا، يَقُولُ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ حِفْظًا مِنْ أَبِي أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيِّ، وَأَبُو أَحْمَدَ اسْمُهُ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ الْكُوفِيُّ الْأَسَدِيُّ. (1)

ترجمه : ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چي ما يوه مياشت څار نه كړى ده رسول الله صلي الله عليه وسلم به دسحر دوه ركعته سنتو كي "قل يايها الكافرون" او "قل هو الله احد" وئيل.

امام ترمذي روايت وايي په دي باب كي د ابن مسعود، انس، ابو هريره او ابن عباس او حفصه او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

امام ترمذي وايي حديث دابن عمر د حسن درجي دى اود سفيان ثوري په سند د ابو اسحاق نه مونږ ته ندى رارسيدلى، مګر د ابو احمد په سند د اسرائيل نه او ابو احمد الزبيري ثقه او

---

1 ـ سنن النسائي في الافتتاح ٦٨ (٩٩٢). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٠٢ (١١٤٩). (تحفة الأشراف: ٧٣٨٨). مسند احمد (٢ في ٩٤، ٩٥، ٩٩)

حافظ وو، د بُندار نه مي اوريدلي دي چي فرمائيل يي د ابو احمد نه مي بالاتر او بهتري حافظي والا كس بل څوك ندى ليدلى، اود ابو احمد نوم محمد بن عبد الله بن الزبير الكوفي الاسدي دى

لغات : رمقت رمقة دنصر نه ترديره پوري كنل ، شهرا: معني مياشت چي جمع يي شهور او اشهر رراځي

تشريح : رسول الله به په اول ركعات كي قل ياايها الكافرون او په دويم ركعات كي قل هو الله احد لوستل نو امت لره هم دسحر په مونځ كي ددي اتباع كول پكار دي

****

١٩٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكَلَامِ بَعْدَ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

د سحر ددوه ركعاتو سنتو نه پس خبري كول

٤١٨ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، قَالَ: سَمِعْتُ مَالِكَ بْنَ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، فَإِنْ كَانَتْ لَهُ إِلَيَّ حَاجَةٌ كَلَّمَنِي وَإِلَّا خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمُ الْكَلَامَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ حَتَّى يُصَلِّيَ صَلَاةَ الْفَجْرِ، إِلَّا مَا كَانَ مِنْ ذِكْرِ اللهِ أَوْ مِمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي كله چي به نبي كريم صلي الله عليه وسلم دسحر دوه ركعاتونه اوكړل نو كه زما سره به يي څه كار وو نو دهغه كار باره كي به يي ماسره ګفتګو كوله او كه څه كار به يي راسره نه وو نو دمونځ دپاره به روان شو

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، په صحابه كرامو او اهل علمو كي بعضو دسحر دختلو نه پس دسحر دمونځ كولو پوري خبري كول مكروه ګڼړلي دي علاوه ددينه چي كومي خبري دالله تعالي دذكر سره معلق وي او يا نوري دضرورت خبري وي اوهمدا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول دي

---

1 ـ صحيح البخاری في التهجد ٢٤ (١١٦١) ، و٢٥ (١١٦٢) . صحيح مسلم في المسافرين ١٧ (٧٤٣) . سنن ابی داود في الصلاة ٢٩٣ (١٢٦٢، ١٢٦٣، ١٢٦٣) . (تحفة الأشراف : ١٧٧١١)

****

۱۹۸_ بَاب مَا جَاءَ لاَ صَلاَةَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلاَّ رَكْعَتَيْنِ

دسحر ختلو نه پس دسحر د دوه رکعاتونو نه علاوه بل مونځ کول نشته

۴۱۹_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ قُدَامَةَ بْنِ مُوسَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ، عَنْ يَسَارٍ مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا صَلَاةَ بَعْدَ الْفَجْرِ إِلَّا سَجْدَتَيْنِ" وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ إِنَّمَا يَقُولُ: لَا صَلَاةَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَّا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَحَفْصَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ قُدَامَةَ بْنِ مُوسَى، وَرَوَى عَنْهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، وَهُوَ مَا اجْتَمَعَ عَلَيْهِ أَهْلُ الْعِلْمِ كَرِهُوا أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَّا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دسحر ختلو نه پس دسحر د دوه رکعاته سنتو نه علاوه بل کوم مونځ نشته.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن غريب دي او دا روايت مونږ صرف دقدامه بن موسي په سند پيژنو او دهغه نه ډيرو خلقو اخذ درروايت کړي دي ، او په دي باب کي د عبدالله بن عمرو، او حفصه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او همدا هغه قول دي په کوم چي داهل علمو اجماع ده چي هغوئ دسحر ختلو نه پس دفرضو نه مخکي دسحر د دوه رکعاته سنت کولو نه علاوه بل کوم مونځ کول مکروه ګنړلي دي.

تشريح : **دسحر سنتو د قضا راوړلو بيان**

که دسحر سنت فوت شي.نو ددي قضائي به راوړي او که نه ؟ په دي تګول متفق دي چي دنمر ختونه مخکي دي قضاء اونکړيګ شي.حګکه چي سنت کله دخپل حګائيګ نه فوت شي.نو نفل ککرحګي.اودسحر مانحګه نه پس دنمر راختو پوريګ نفل کول مکروه دي.په دي وجه د نمر راختو نه مخکي دي ددي قضاء نه راوړي.اودنمر راختونه پس په قضاء راوړو کي اختلاف دي ، دشيخينو په نزد دنمر راختو نه پس هم دسحردسنتو قضاء واجب نه ده.امام محمد وئيلي دي چي واجب خونه ده.خو بهتره خبره ده چي قضاء راوړي.د امام محمد دليل

---

[1] _ سنن ابي داود في الصلاة ۲۹۹ (۱۲۷۸) . سنن ابن ماجه في المقدمة ۱۸ (۲۳۳) . (تحفة الأشراف : ۸۵۷۰) . مسند احمد (۲ في ۲۳، ۵۷)

دادي چې د ليلة التعريس په سحر دنمر اوچت راختونه پس نبي كريم ﷺ دسحر دسنتو قضاء كړېگ ده. ددي نه ثابتيږي چې دنمر راختو نه پس دسحر دسنتو قضاء كيږي،د شيخينودليل دادي چې اصل داديگ چې دسنتو قضاء نشي راوؤ ليگ.حگكه چې قضاء د واجب سره مخصوص ده او واجب سره حگكه خاص ده چې قضاء په "مثل دما وجب الامر" ته د سپارلو نوم دي اوسنت،واجب نه دي.په دي وجه مثل د واجبو ته ئيگ سپارل خگنگگه متحقق كيدي شي. او دا مفتي به او راجح قول دي.

د امام محمد د پيش كړې دليل جواب دادي چې دليلة التعريس په سحر نبي كريم ﷺ دفرضو په اتباع كي دسحر دسنتوقضاء كړې ده.يعني چونكه د سحر فرض مونځ هم فوت شوې وو.په دې وجه چې كله رسول پاك صلي الله عليه وسلم دفرضوقضاء راوړله.نو ددي په اتباع كي ئې دسنتوهم قضاء راوړله.نو ددي نه علاوه به په اصل باقي پاتې وي.يعني ددي صورت نه علاوه به قضاء نشي راوړ لې.

صاحب د هدايه وايي چې دسحر دسنتوقضاء به دفرضو په اتباع كي كولى شي.يعنى كه دسحر دفرض مونځ قضاء كوي نودسحر د سنتوقضاء دي هم اوكړي دسحر دفرض مونځ قضاء كه په جماعت سره كوي اوكه ځانله ئې قضاء راوړي.دا خبره ياد ساتئ چې دسحر دسنتوقضاء دفرضو په اتباع كي صرف د زواله پورې راوړې شي.خوكه دنمر زوال اوشو.او تراوسه ئې قضائي نه وه راوړې.نوپه دي كي اختلاف دى (۱)بعضي حضرات وائي چې د زوال نه پس دسحر دسنتو قضائي نشته.اگرچې دفرضو تابع ولي نه وي.ځكه چې رسول الله ﷺ د زوال نه مخكي دفرضو په اتباع كي دسحر دسنتو قضاء راوړې ده.(۲)او بعضى حضرات وائي چې د زوال نه پس هم دفرضو په اتباع كي دسحر دسنتو قضاء كولى شي.

پاتې شو دسحر دسنتو نه علاوه نورسنت،نو ددي په باره كي حكم دا دې چې د وخت نه پس به يواځې دسنتو قضاء نشي راوړ لې.خو دفرضو په اتباع كي قضائي كيدى شي اوكه نه ؟ په دى باره كي دمشائخو اختلاف دى (۱)بعضو وئيلى دى چې قضاء دى راوړي.ځكه چې ډير ځيزونه ضمنًا ثابتيږي،اگرچې قصداً نه ثابتيږي.(۲)او بعضو وئيلى دى چې قضاء دى نه راوړي.ځكه چې قضاء د واجبوسره خاص ده هم داصحيح قول دې. (اشرف الهدايه. احسن الهدايه)

****

۱۹۹_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الإِضْطِجَاعِ بَعْدَ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

دسحر د دوه ركعاته سنت كولو نه پس د ډډي وهلي او پريوتلو بيان

٤٢٠_ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِينِهِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فِي بَيْتِهِ اضْطَجَعَ عَلَى يَمِينِهِ" وَقَدْ رَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يُفْعَلَ هَذَا اسْتِحْبَابًا.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي کله په تاسو کي څوك دسحر دوه رکعاتونه اوکړي نو په ښئ ډډه دي څملي.

امام ترمذي وائي دابوهريره رضي الله عنه حديث په مذکوره سند حسن صحيح غريب دي. او په دي باب کي د عائشه رضي الله عنها نه هم حديث وارد دي دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به کله پخپل کور کي دسحر دوه رکعاتونه اوکړل نو په ښئ ډډه به څملاستو بعضي اهل علمو قول دي چي دا عمل استحبابي دي.

****

٢٠٠_ بَابُ مَا جَاءَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ صَلاَةَ إِلاَّ الْمَكْتُوبَةُ

کله چي جماعت قائم شي نودفرض مونځ نه علاوه بل هيڅ قسم مونځ جائز نه دي

٤٢١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَطَاءَ بْنَ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةُ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ ابْنِ بُحَيْنَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَنَسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَهَكَذَا رَوَى أَيُّوبُ، وَوَرْقَاءُ بْنُ عُمَرَ، وَزِيَادُ بْنُ سَعْدٍ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ مُسْلِمٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، وَسُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ فَلَمْ يَرْفَعَاهُ، وَالْحَدِيثُ الْمَرْفُوعُ أَصَحُّ عِنْدَنَا، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ إِذَا أُقِيمَتِ

---

1 _ سنن ابي داود في الصلاة ٢٩٣ (١٢٦١)، (تحفة الأشراف: ١٢٤٣٥)، مسند احمد (٢ في ٤١٥)

الصَّلَاةُ أَنْ لَا يُصَلِّيَ الرَّجُلُ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ، وَبِهِ يَقُولُ: سفيان الثوري، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، رَوَاهُ عَيَّاشُ بْنُ عَبَّاسٍ الْقِتْبَانِيُّ الْمِصْرِيُّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي جماعت قائم شي نو دفرض مونځ نه علاوه بل هيڅ قسم مونځ جائز نه پاتي كيږي امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن دي، دارنګي په يو بل سند هم دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي . او باقي حديث يي د ما قبل پشان بيان كړو.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابن بحينه، عبدالله بن عمرو. عبدالله بن سرجش، ابن عباس، او انس رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي او حماد بن زيد او سفيان بن عيينه هم دعمرو بن دينار نه روايت نقل كړي دي ليكن دوئ دواړو دا روايت مرفوع نه دي ذكر كړي او صرف مرفوع حديث زمونږ په نزد زيات صحيح دي، سفيان ثوري، ابن مبارك، شافعي، احمد، او اسحاق هم ددي قائل دي، ددينه علاوه په يو دريم سند هم دا حديث په واسطه دابوهريره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي او هغوئ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت كړي دي لكه چي عياش بن عباس قتباني مصري دابوسلمه نه او ابو سلمه دابوهريره نه او ابو هريره درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

تشريح : په دي مسئله داهل علمو اتفاق دي چي دسحر دمونځ نه علاوه په نورو تمامو وختونو كي چي كله جماعت قائم شي كوم بل مونځ اداء كول جائز نه پاتي كيږي بلكه په جماعت كي شركت ضروري دي البته دسحر په سنتو كي اختلاف دي چي كله دسحر جماعت قائم شي نو دي وخت كي سنت كول جائز دي او كنه دي؟ په دي باره كي دعلماؤ دوه مذاهب دي.

(۱) دامام ابو حنيفه او امام مالك په نزد دسحر دجماعت اوريدو نه پس دجماعت دخاي نه اخوا سنت كول جائز دي خو په دي شرط چي دجماعت دفوت كيدو خطره نه وي.

---

[1] ـ صحيح مسلم في المسافرين ۹ (۷۱۰) . سنن ابي داود في الصلاة ۲۹۴ (۱۲۶۶) . سنن النسائي في الإمامة ٦٠ (٨٦٦) . سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۰۳ (۱۱۵۱) . (تحفة الأشراف : ۱۴۲۲۸) . مسند احمد (۲ في ۳۵۲. ۳۵۵) . سنن الدارمي في الصلاة ۱۴۹ (۱۱۸۸)

(۲) دامام شافعي او امام احمد په نزد چي کله جماعت قائم شي دغه وخت کي سنت کول جائز نه دي او ددي دليل حديث الباب دي په دي کي ذکر شوي دي چي جماعت قائم شي نو دفرضو نه علاوه کوم بل مونځ جائز نه وي او په دي کي دسحر دمونځ کوم تخصيص نشته

****

۲۰۱ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ تَفُوتُهُ الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ يُصَلِّيهِمَا بَعْدَ صَلاَةِ الْفَجْرِ

کله چي دچا نه دسحر دوه رکعاته سنت فوت شي نو دا به دمونځ نه پس اداء کوي

۴۲۲ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو السَّوَّاقُ الْبَلْخِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ جَدِّهِ قَيْسٍ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ الصُّبْحَ، ثُمَّ انْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَنِي أُصَلِّي، فَقَالَ: "مَهْلاً يَا قَيْسُ أَصَلاَتَانِ مَعًا"، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي لَمْ أَكُنْ رَكَعْتُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، قَالَ: "فَلاَ إِذًا" قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ لاَ نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ، وقَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: سَمِعَ عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ، مِنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، وَإِنَّمَا يُرْوَى هَذَا الْحَدِيثُ مُرْسَلاً، وَقَدْ قَالَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ: لَمْ يَرَوْا بَأْسًا أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَكْتُوبَةِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَعْدُ بْنُ سَعِيدٍ هُوَ أَخُو يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ: وَقَيْسٌ هُوَ جَدُّ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ وَيُقَالُ: هُوَ قَيْسُ بْنُ عَمْرٍو، وَيُقَالُ: هوَ قَيْسُ بْنُ قَهْدٍ، وَإِسْنَادُ هَذَا الْحَدِيثِ لَيْسَ بِمُتَّصِلٍ، مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ قَيْسٍ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فَرَأَى قَيْسًا، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ. (۱)

ترجمه : دقيس (عمرو بن سهل) نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمونځ دپاره راووتلو او دجماعت دپاره اقامت اووئيلي شو او ما ورسره دسحر مونځ اداء کړو بيانبي کريم صلي الله عليه وسلم راوګرځيدو او زه يي اوليدم چي زه مونځ کولو ته ورروان وم ماته يي

---

(۱) سنن ابي داود في الصلاة ۲۹۵ (۱۲۶۷) . سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۰۴ (۱۱۵۴) . (تحفة الأشراف : ۱۱۱۰۲) . مسند احمد (۵ / ۴۴۷)

اوفرمائيل اې قيس لږ اودربړه ايا په يو ځاي د دوه مونځونو كولو دپاره روان وې؟ ما عرض اوكړو اې دالله رسرله مادسحر دوه ركعاته سنت نه وو كړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا هم هيڅ حرج نشته.

امام ترمذي وائي مونږ دمحمد بن ابراهيم حديث ددي په مثل صرف دسعد بن سعيد په سند پيژنو، دسفيان بن عيينه قول دي چې عطاء بن ابي رباح هم دا حديث دسعد بن ابي سعيد نه اوريدلي دي دا حديث مرسل هم مروي دي، بعضي اهل مكه ددي حديث مطابق قول كړي دي چې دسحر دفرضو كولو نه پس او دنمر دختلو نه مخكي دسحر د دوه ركعاته سنتو په اداء كولو كي هيڅ حرج نشته، سعد بن ابي سعيد ديحي بن سعيد انصاري ورور دي او قيس ديحي بن سعيد انصاري نيكه دي هغه ته قيس بن عمرو وئيلي كيږي او قيس بن فهد ورته هم وئيلي كيږي ددي حديث سند متصل نه دي، محمد بن ابراهيم تيمي دقيس نه اوريدل نه دي كړي بعضي كسانو دا حديث دسعد بن سعيد نه او سعد دمحمد بن ابراهيم نه نقل كړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم راووتلو او قيس يې اوليدلو او دا روايت دعبدالعزيز دحديث نه كوم چې هغه دسعد بن سعيد نه نقل كړي دي زيات صحيح دي.

تشريح : په دي مسئله كي اختلاف دي كه ديو كس نه دسحر سنت پاتي شوي وي نو ايا دا دفرض مونځ نه فورا پس اداء كولي شي او كنه؟ په دي كي دوه مذاهب دي.

(۱) دامام ابو حنيفه او امام مالك په نزد دسحر دمونځ نه پس دنمر دختلو نه مخكي سنت اداء كول جائز نه دي دنمر دختلو نه پس به يې كوي ددوئ دليل په راتلونكي باب كي دابوهريره حديث دي "وفيه من لم يصل ركعتيي الفجر فليصلهما بعدماتطلع الشمس".

(۲) دامام شافعي او امام احمد په نزد دسحر دمونځ نه فورا پس سنت اداء كول مكروه دي او هغوئ دحديث الباب نه استدلال كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم قيس ته اوفرمائيل "مهلا ياقيس اصلاتان معا".

****

۲۰۲_ باب مَا جَاءَ فِي إِعَادَتِهِمَا بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ

د نمر ختلو نه پس ددي دراكرځولو بيان

۴۲۳_ حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الْعَمِّيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيُصَلِّهِمَا بَعْدَ مَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ فَعَلَهُ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ: سفيان الثوري، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، قَالَ: وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ هَمَّامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ هَذَا إِلَّا عَمْرَو بْنَ عَاصِمٍ الْكِلَابِيَّ، وَالْمَعْرُوفُ مِنْ حَدِيثِ قَتَادَةَ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ."[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چي دسحر دوه ركعاته سنت اونكړي شي نو دا دي دنمر ختلو نه پس اوكړي.

امام ترمذي وائي دا حديث مونږ صرف په همدي سند پيژنو، دابن عمر نه دا هم مروي دي چي هغه همداسي كړي دي او دبعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي، سفيان ثوري، ابن مبارك، شافعي، احمد، او اسحاق هم ددي قول قائلين دي، مونږ ته هيڅوك داسي معلوم نه دي چي دهمام نه يي دا حديث په دي سند په همدي طريقه نقل كړي وي مګر علاوه دعمرو بن عاصم كلابي نه، او په سند دقتاده عن النضر بن انس عن بشير بن نهيك عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم، مشهوره داده چي رسول الله فرمائيلي دي چاچه دسحر يو ركعات هم دنمر ختلو نه مخكي اورسولو نو هغه سحر لره اوموندلو.

****

٢٠٣ ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ

دماسپخين دمونځ نه مخكي دڅلور ركعاته سنت اداء كولو بيان

٤٢٤ ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَائِشَةَ، وَأُمِّ حَبِيبَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْعَطَّارُ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: كُنَّا نَعْرِفُ فَضْلَ حَدِيثِ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ عَلَى حَدِيثِ الْحَارِثِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ يَخْتَارُونَ أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعَ

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٢١٤)

رَكَعَاتٍ، وَهُوَ قَوْلُ سفيان الثوري، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَإِسْحَاق وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: صَلَاةُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنَى مَثْنَى يَرَوْنَ الْفَصْلَ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ. وَبِهِ يَقُولُ: الشافعي، وَأَحْمَدُ. (1)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دماسپخين دمونځ نه مخکي ځلور رکعاتونه او ددينه پس دوه رکعاتونه کول.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث حسن دي، او په دي باب کي دعائشه، ام حبيبه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي مونږ ته ابوبکر عطاء وئيلي دي چي علي بن عبدالله ديحي بن سعيد نه او يحي بن سعيد دسفيان نه نقل کړي دي هغه به وئيل مونږ ته نه ده معلومه چي د عاصم بن ضمره حديث دحارث دحديث نه افضل دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي داکثرو په دي باندي عمل دي هغوئ دا خوښوله چي دماسپخين دمونځ نه مخکي ځلور رکعاته اوکړي شي، او همدا دسفيان ثوري، ابن مبارك، اسحاق بن راهويه، او اهل کوفه قول دي ، بعضي اهل علم وائي چي دورځي او دشپي دواړو مونځونه دوه دوه رکعاته دي هغوئ دهر دوه رکعاتو نه پس دفصل کولو قائل دي امام شافعي او امام احمد هم په دي باندي قول کړي دي.

****

٢٠٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ

دماسپخين دمونځ نه پس د دوه رکعاته سنت کولو بيان

٤٢٥_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَعَائِشَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ما دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره دماسپخين دمونځ نه مخکي دوه رکعاتونه او ددينه پس دوه رکعاتونه اوکړل.

امام ترمذي وائي په دي باب کي دعلي، او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او دابن عمر حديث حسن صحيح دي.

---

1 _ تفرد به المؤلف وأخرجه في الشمائل (٣٢) أيضاً. وانظر ما يأتي برقم: ٤٢٩ و٥٩٨ (تحفة الأشراف: ١٠١٣٩)

2 _ تفرد به المؤلف ويأتي برقم: ٤٣٢ (تحفة الأشراف: ٧٥٩١)

****

۲۰۵_ بَابٌ مِنْهُ آخَرُ

دماسپخين دمونځ نه پس د دوه ركعاته سنت متعلق يو بل باب

۴۲۶_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ الْعَتَكِيُّ الْمَرْوَزِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا لَمْ يُصَلِّ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ صَلَّاهُنَّ بَعْدَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ الْمُبَارَكِ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَاهُ قَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ نَحْوَ هَذَا وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَوَاهُ، عَنْ شُعْبَةَ غَيْرَ قَيْسِ بْنِ الرَّبِيعِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا. (۱)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي كله چي به دماسپخين نه مخكي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه څلور ركعاته سنت پاتي شول نو هغه به يي دماسپخين نه پس اداء كول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي ، مونږ ته دا حديث صرف په همدي سنت معلوم دي او دا حديث قيس بن ربيع دشعبه نه او شعبه د خالد الحذاء نه همداسي نقل كړي دي او مونږ ته دقيس بن ربيع نه علاوه په بل سند نه دي معلوم چي دشعبه نه يي نقل كړي وي، او په سند دعبدالرحمن بن ابي ليلي عن النبي صلي الله عليه وسلم سره هم مروي دي.

****

۴۲۷_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الشُّعَيْثِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَنْبَسَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا، حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. (۲)

---

1 _ سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۰۶ (۱۱۵۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۰۸)

2 _ سنن ابي داود في الصلاة ۲۹۶ (۱۲۶۹)، سنن النسائي في قيام الليل (۱۸۱۵)، سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۰۸ (۱۱۶۰)، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۵۸)، مسند احمد (۶ في ۳۲۶)

ترجمه : دام حبيبه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چاچه دماسپخين نه مخكي څلور ركعاتونه او دماسپخين نه پس څلور ركعاتونه اوكړل نو الله تعالي به ده لره دجهنم په اور باندي حرام كړي.

امام ترمذي وائي دا حديث حَسَن غريب دي او دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي، دجمهورو په نزد په دي كي دوه سنت مؤكد دي او دوه غير مؤكد دي دا حديث هم درست دي مګر صرف په يو سند د مروي كيدو په وجه غريب دي البته ددي يو بل سند هم شته كوم چي امام ترمذي بيان كړي دي او هغه دباب دريم حديث دي او ددغه حديث هم دا مضمون دي دا حديث دام حبيبه رضي الله عنها نه صرف دهغي وررور عنبسه نقل كړي دي او بيا لاندي ددي ډير سندونه دي.

****

٤٢٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ التِّنِّيسِيُّ الشَّأْمِيُّ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنِي الْعَلَاءُ هُوَ: ابْنُ الْحَارِثِ، عَنِ الْقَاسِمِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَنْبَسَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ أُخْتِي أُمَّ حَبِيبَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، تَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالْقَاسِمُ هُوَ: ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَهُوَ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ، وَهُوَ ثِقَةٌ شَأْمِيٌّ، وَهُوَ صَاحِبُ أَبِي أُمَامَةَ. (1)

ترجمه : دعنبسه بن ابي سفيان رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ما دخپلي خور ام المؤمنين ام حبيبه رضي الله عنها نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چاچه دماسپخين نه مخكي څلور ركعاتونه اوكړل او بيا يي ددينه پس په څلورو ركعاتونو محافظت اوكړو نو الله تعالي به هغه لره دجهنم په اور باندي حرام كړي.

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، قاسم په اصل كي دعبدالرحمن خوي دي او دده كنيه ابو عبدالرحمن ده او هغه د عبدالرحمن بن خالد بن يزيد بن معاويه مولي(ازاد كړي غلام) دي او ثقه دي دشام اوسيدونكي او دابوامامه شاګرد دي.

---

1 ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٥٨٦١)

****

٢٠٦_ باب مَا جَاءَ فِي الأَرْبَعِ قَبْلَ الْعَصْرِ

دمازيګر دمونځ نه مخکي دڅلور رکعاته سنت کولو بيان

٤٢٩_ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ هُوَ: الْعَقَدِيُّ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُؤْمِنِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَاخْتَارَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَنْ لَا يُفْصَلَ فِي الْأَرْبَعِ قَبْلَ الْعَصْرِ وَاحْتَجَّ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وقَالَ إِسْحَاقُ: وَمَعْنَى قَوْلِهِ أَنَّهُ يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ يَعْنِي التَّشَهُّدَ، وَرَأَى الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ صَلَاةَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنَى مَثْنَى يَخْتَارَانِ الْفَصْلَ فِي الْأَرْبَعِ قَبْلَ الْعَصْرِ. [1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به دمازيګر دمونځ نه مخکي څلور رکعاتونه کول او ددي په مينځ کي به يې په مقربو فرشتو او مسلمانانو او مومنانو باندي چاچه دهغوئ تابعداري کړي وي دسلام په ذريعه فصل کولو.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث حسن دي، او په دي باب کي د ابن عمر، عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي اسحاق بن ابراهيم بن راهويه دمازيګر نه مخکي په څلورو رکعاتونو کي فصل نه کولو ته ترجيح ورکړي ده او هغوئ ددي حديث نه استدلال کړي دي اسحاق وائي دعلي رضي الله عنه دقول "دسلام په ذريعه په څلورو رکعاتونو کي دفصل کولو" معني داده چي هغوئ به د دوه رکعاتو نه پس تشهد لوستلو او دامام شافعي او احمد رائي داده چي دشپي او ورځي مونځونه دوه دوه رکعاتونه دي او هغوئ دمازيګر نه مخکي په دواړو کي دڅلور رکعاتونو مينځ کي دسلام په ذريعه فصل کول خوښوي.

****

٤٣٠_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ مِهْرَانَ، سَمِعَ جَدَّهُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ،

---

[1] _ تفرد به المؤلف وانظر ماتقدم برقم ٤٢٢، وما يأتي برقم ٥٩٨ (تحفة الأشراف : ١٠١٣٢)

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "رَحِمَ اللَّهُ امْرَأً صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي دي په هر هغه كس رحم اوكړي څوك چي دمازيګر نه مخكي څلور ركعاتونه اوكړي.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب حسن دي

****

٢٠٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَالْقِرَاءَةِ فِيهِمَا

دماښام دمونځ نه پس دوه ركعاتونه كول او په دي كي دقرائت بيان

٤٣١ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا بَدَلُ بْنُ الْمُحَبَّرِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَعْدَانَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّهُ قَالَ: "مَا أُحْصِي مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ: قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَاصِمٍ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زه نشم شميرلي چي ما به څومره پيري رسول الله صلي الله عليه وسلم لره دماښام دمونځ نه پس په دوه ركعاته سنتو كي او دسحر دمونځ نه مخكي په دوه ركعاتونو كي په قل يا ايهالكافرون او په قل هو الله احد وئيلو باندي ليدلي وي او څومره به مي ورنه دا اوريدلي وي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي ، دابن مسعود حديث غريب دي مونږ يي صرف دعبيد الله بن معدان عن عاصم په سند باندي پيژنو.

تشريح : د امام مالك په نزد دماښام دمونځ نه پس شپږ ركعاته كول سنت دي او دټولو درجه يوه ده يعني مندوب دي او دنورو اهل علمو په نزد دوه ركعاتونه كول سنت مؤكده دي او څلور

---

1 ـ سنن ابي داود في الصلاة ٢٩٧ (١٢٧١) . (تحفة الأشراف : ٧٤٨٥)

2 ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ١١٢ (١١٦٦) (تحفة الأشراف : ٩٢٤٨)

مندوب دي او دي شپږ ركعاتونو ته صلاة الاوابين وئيلي شي لكه څنګه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسحر په سنتو كي د اخلاص دوه سورتونه لوستل نو دماښام نه پس په سنتو كي به يي هم دا دوه سورتونه لوستل.

****

۲۰۸_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّهُ يُصَلِّيهِمَا فِي الْبَيْتِ

په كورونو كي د سنتو ادا كولو بيان

۴۳۲_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَكَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(۱)

ترجمه : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ما دماښام نه پس دوه ركعاتونه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره دهغه په كور كي او كړل.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي درافع بن خديج او كعب بن عجره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي، او دابن عمر حديث حسن صحيح دي.

تشريح : امام نووي په مسئله د افضليت التطوع والسنن في البيوت مستقل باب قائم كړي دى چي "باب استحباب جعل النوافل في البيت سواء الراتبة وغيرها والأمر بالتحول للنافلة من موضع الفريضة أو الفصل بينهما بكلام

يعني نفل مونځ كور كي كول مستحب دي، سنت مؤكد وي او كه غير مؤكد (نفل) او كه څوك يي جومات كي كوي نو دفرضو ځايي نه ورته په دوه كيدل پكار دي ياپي ترمينځه په خبرو جدائي راوستل پكار دي.

امام نووي په دي سلسله كي د بخاري او مسلم متعدد روايات نقل كړي دي، چنانچه د زيد بن ثابت رضي الله عنه يو متفق عليه روايت دى:

عن زيد بن ثابت ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: ((صَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ، فَإِنَّ أَفْضَلَ الصَّلَاةِ صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ)) متفقٌ عَلَيْهِ.

دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اى

---

[1] _ تفرد به المؤلف ويأتي برقم: ۴۳۲ (تحفة الأشراف: ۷۵۹۱)

خلقو په کورونو کي مونځونه کوئ ځکه چي دبنده بهترين مونځ هغه دی ، چي په کور کي يې اوکړي مګر علاوه دفرض مونځ نه (چه هغه په جومات کي جمع سره پکار دی).

افضل الصلاة صلاة المرء في بيته : دنا رينه افضل مونځ هغه دی کوم چي پخپل کور کي اوکړي خو دفرضو نه علاوه سنت مؤکد وي او که غير مؤکد وي په کور کي کول افضل دي ځکه چي په کور کي سنت ادا کول دريا او نمائش نه خالي وي او اخلاص پکي زيات وي او ددي په وجه کور ته دالله رحمت نازليږي په کور کي نوافل کول مستحب دي او که څوک يې په مسجد کي کوي نو مکروه به نه وي اختلاف صرف په افضليت کي دی.

عن ابن عمر رضي الله عنهما ، عن النبيِّ ﷺ ، قَالَ : ((اجْعَلُوا مِنْ صَلاَتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ ، وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُوراً)) متفقٌ عَلَيْهِ .

ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څه مونځونه کورونو کي هم کوئ کورونو نه اديري مه جوړوئ (يعني دعبادت نه يې خالي مه پرېږدئ).

عن جابر ﷺ ، قَالَ : قَالَ رسول الله ﷺ : ((إِذَا قَضَى أحَدُكُمْ صَلاَتَهُ فِي مَسْجِدِهِ فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيباً مِنْ صَلاَتِهِ ؛ فَإنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلاَتِهِ خَيْراً)) رواه مسلم .

دجابر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو چي په جومات کي فرض مونځ اوکړئ نو په خپل مونځ کي څه برخه پخپلو کورونو کي هم کوئ (يعني سنت او نوافل کور کي کوئ) ځکه پدی مونځ الله تعالي ستاسو کورونو کي برکت اچوي

فان الله جاعل في بيته من صلاته خيرا: ځکه چي په کور کي دده دمونځ د ادا کولو په وجه الله تعالي خير او برکت نازلوي دحديث مطلب دادی چي خلق دي په کورونو کي هم نوافل او سنت کوي ترڅو چي کور ته برکت راشي علماء وائي دا حکم دهغه خلقو دپاره دی څوک چي دفرض ادا کولو نه پس کور ته لاړ شي نو که څوک کور ته لاړ نشي يا په اعتکاف کي وي نو بيا دي په مسجد کي نوافل اوکړي دا هم معمول نبوي دی.

****

٤٣٣ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الحُلْوَانِيُّ الخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: " حَفِظْتُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ رَكَعَاتٍ كَانَ يُصَلِّيهَا بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ المَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ

الْعِشَاءِ الآخِرَةِ ". قَالَ: وَحَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الْفَجْرِ رَكْعَتَيْنِ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم لس ركعاتونه ياد دي چي كوم به يي په شپه او ورځ كي اداء كول دوه ركعاتونه دماسپخين نه مخكي او دوه دماسپخين دمونځ نه پس او دوه ركعاتونه دمابنام دمونځ نه پس او دوه ركعاتونه دماخوستن دمونځ نه پس او ماته حفصه رضي الله عنها بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دسحر دمونځ نه مخكي دوه ركعاتونه كول. امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٤٣٤_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(2)

ترجمه: په دي سند باندي هم دابن عمر رضي الله عنهما نه دسابقه روايت هم معني حديث مروي دي امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢٠٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّطَوُّعِ وَسِتِّ رَكَعَاتٍ بَعْدَ الْمَغْرِبِ

دمابنام دمونځ نه پس د نفل كولو او شپږ ركعاتونو كولو بيان

٤٣٥_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ يَعْنِي مُحَمَّدَ بْنَ الْعَلَاءِ الْهَمْدَانِيَّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ أَبِي خَثْعَمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيمَا بَيْنَهُنَّ بِسُوءٍ عُدِلْنَ لَهُ بِعِبَادَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ عِشْرِينَ رَكْعَةً بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ " قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ

---

1 _ صحيح البخاري في التهجد ٣٤ (١١٨٠). (تحفة الأشراف: ٧٥٣٤)

2 _ تفرد به المؤلف، وانظر ما قبله (تحفة الأشراف: ٦٩٥٩)

غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ الْحُبَابِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي خَثْعَمٍ. قَالَ: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، يَقُولُ: عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي خَثْعَمٍ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ وَضَعَّفَهُ جِدًّا. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دماښام دمونځ نه پس شپږ رکعاتونه اوکړل او ددي په مينځ کي يي څه بدي خبري اونکړي نو ددي ثواب به د دولسو کالو دعبادت برابروي.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دماښام دمونځ نه پس شل رکعاتونه اوکړل الله تعالي به دهغه دپاره په جنت کي کور جوړ کړي، دابوهريره رضي الله عنه دا حديث غريب دي او مونږ يي صرف په سند د زيد بن حباب عن عمربن ابي خثعم په سند پيژنو، ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چي عمربن عبدالله بن ابي خثعم منكرالحديث دي او بخاري دده سخت تضعيف كړي دي.

****

٢١٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ

دماخوستن دمونځ نه پس د دوه رکعاتونو بيان

٤٣٦_ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَتْ: "كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ ثِنْتَيْنِ وَبَعْدَ الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ وَقَبْلَ الْفَجْرِ ثِنْتَيْنِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دعبدالله بن شقيق نه روايت دي فرمائي چي ما دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دمونځ باره کي تپوس اوکړو راته يي اوفرمائيل چي دماخوستن دمونځ نه مخکي به يي دوه رکعاتونه کول او دوه رکعاتونه به يي ددينه پس کول

---

1 _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١١٣ (١١٦٧) (تحفة الأشراف: ١٥٤١٢)

2 _ سنن ابي داود في المسافرين ١٦ (٧٣٠). سنن ابي داود في الصلاة ٢٩٠ (١٢٥١). سنن النسائي في قيام الليل ١٨ (١٦٣٧، ١٦٣٨). (تحفة الأشراف: ١٦٢٠٧). مسند احمد (٦ في ٣٠)

دماښام دمونځ نه پس به يي دوه رکعاتونه اوکړل او دوه رکعاتونه دماخوستن دمونځ نه پس او دوه رکعاتونه به يي دسحر دمونځ نه مخکي کول.
امام ترمذي وائي په دي باب کي د علي او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. او دعبدالله بن شقيق دا حديث کوم چي هغه دعائشه رضي الله عنها نه نقل کړي دي حسن صحيح دي.

عبدالله بن شقيق حالات:

دا د ال حضرمي مولا دی.دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت نقل کوي او دده په شاګردانو کي يحيي بن قطان او وکيع وغيره قابل ذکر دي اکثر محدثينو دده توثيق کړی دی تردي پوري چي علامه نووي دده په عظمت دعلماؤ اتفاق نقل کړی دی

****

۲۱۱_ باب مَا جَاءَ أَنَّ صَلاَةَ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى

دشپي نفلي مونځ دوه دوه رکعاتونه دي

۴۳۷_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: " صَلاَةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا خِفْتَ الصُّبْحَ فَأَوْتِرْ بِوَاحِدَةٍ وَاجْعَلْ آخِرَ صَلاَتِكَ وِتْرًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ صَلاَةَ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، وَهُوَ قَوْلُ: سفيان الثوري، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دشپي نفل دوه دوه رکعاته دي. او کله چي تاسره دسحر دمونځ دوخت داخليدو ويره پيدا شي نو يو رکعات اوکړه او وتر يي اوګرځوه او دشپي خپل اخري مونځ وتر ګرځوه.
امام ترمذي وائي دابن عمر رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي د عمرو بن عنبسه رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي چي

---

[1] _ صحيح البخاری في الصلاة ۸۴ (۴۷۲، ۴۷۳) ، والوتر ۱ (۹۹۰، ۹۹۱، ۹۹۳) ، والتهجد ۱۰ (۱۱۳۷) ، صحيح مسلم في المسافرين ۲۰ (۷۴۹) ، سنن ابي داود في الصلاة ۳۱۳ (۱۳۲۶) ، سنن النسائي في قيام الليل ۲۶ (۱۶۶۸۱۶۷۵) ، و۳۵ (۱۶۹۳) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۷۱ (۱۳۲۰) ، (تحفة الأشراف : ۸۳۸۸) ، موطا امام مالک في صلاة الليل ۳ (۱۳) ، مسند احمد (۲ في ۵، ۹، ۱۰، ۴۹، ۵۴، ۶۶)

دشپې مونځ دوه دوه رکعاته وي، سفيان ثوري ، ابن مبارك ، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه هم دا قول اختيار کړي دي.

تشريح : صلاة الليل مثني مثني: يعني دشپې مونځ دوه رکعاته دي، دشپې مونځ دوه دوه رکعاته دی، دجمهورو علماؤ او صاحبينو په نزد دشپې دوه دوه رکعاته مونځ افضل دی دامام ابو حنيفه په نزد دشپې څلور رکعاتي مونځونه کول افضل دي دجمهورو علماؤ دليل پورتنی حديث دی او امام ابوحنيفه دعائشه رضي الله عنها ددي روايت نه استدلال کړی دی.

ماكان رسول الله يزيد في رمضان ولا في غيره علي احدي عشرة ركعة يصلي اربعا فلاتسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثا.

يعني رسول الله به په رمضان او غير رمضان کي يولس رکعاته تهجد کول څلور رکعاته به يي اوکړل دحسن او اوږدوالي تپوس يي مه کوه او بيابه يي بيا څلور رکعاته اوکړل او بيابه يي دري رکعاته اوکړل، دا اختلاف صرف په افضليت کي دی که څوك دوه رکعاته کوي او که څوك څلور کوي ټول جائز دي.

****

٢١٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ صَلَاةِ اللَّيْلِ

دصلاة الليل (تهجد) دفضيلت بيان

٤٣٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِمْيَرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ شَهْرُ اللَّهِ الْمُحَرَّمُ وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ جَابِرٍ، وَبِلَالٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو بِشْرٍ اسْمُهُ: جَعْفَرُ بْنُ أَبِي وَحْشِيَّةَ وَاسْمُ أَبِي وَحْشِيَّةَ: إِيَاسٌ. [1]

---

[1] ـ صحيح مسلم في الصيام ٣٨ (١١٦٣) . سنن ابي داود في الصوم ٥٥ (٢٤٢٩) . سنن النسائي في قيام الليل ٦ (١٦١٣) . سنن ابن ماجه في الصوم ٤٣ (١٧٤٢) . (تحفة الأشراف : ١٢٢٩٢) . مسند احمد (٣٤٢، ٣٤٤، ٥٣٥) . (ويأتي عند المؤلف في الصوم ٤٠ برقم ٧٤٠)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درمضان نه پس دټولو نه افضل روژي دالله تعالي دمحرم مياشتي روژي نيول دي او دفرضي مونځونو نه علاوه په ټولو مونځونو کي افضل مونځ تهجد دي.

امام ترمذي وائي په دي باب کي دجابر، بلال او ابو امامه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او حديث دابوهريره حسن صحيح دي.

امام ترمذي وائي دابوبشر نوم جعفر بن ابي وحشي دي او دابو وحشي نوم اياس دي.

****

٢١٣ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي وَصْفِ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ

دشپي وخت کي د نبي کريم صلي الله عليه وسلم دتهجد دکيفيت بيان

٤٣٩ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ: كَيْفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ فِي رَمَضَانَ؟ فَقَالَتْ: مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثًا" فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ؟ فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي دام المؤمنين عائشه نه مي تپوس اوکړو چي په رمضان کي درسول الله صلي الله عليه وسلم تهجد څنګه وو؟ نو ويې فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به په رمضان او غير رمضان کي ديولس رکعاتونو نه زيات تهجد نه کول دوه دوه رکعاتونه کولو په حال کي به يي څلور رکعاتونه په دومره ښکلي شان او شانداري طريقي سره اداء کول چي دخائست او داوږدوالي تپوس يي مه کوه بيا به يي څه مزيد څلور رکعاتونه د دوه دوه رکعاتو په طريقه اوکړل چي دخائست او د اوږدوالي تپوس يي مه کوه او بيا به يي دري رکعاتونه اوکړل ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها فرمائي چي ما عرض

---

١ ـ صحيح البخاري في التهجد ١٦ (١١٤٧) . والتراويح ١ (٢٠١٣) . والمناقب ٢٣ (٣٥٦٩) . صحيح مسلم في المسافر ١٧ (٧٣٨) . سنن ابي داود في الصلاة ٣١٦ (١٣٤١) . سنن الترمذي في الصلاة ٢٠٩ (٤٣٩) . سنن النسائي في قيام الليل ٣٦ (١٦٩٨) . موطأ امام مالک في صلاة الليل ٢ (٩) . مسند احمد (٦ في ٣٦، ٧٣، ١٠٤)

اوکړو چي اي دالله رسوله چي ايا ته دوتر کولو نه مخکي اوده کيږي نو ويي فرمائيل اي عائشي زما سترګي اودي کيږي خو زړه مي نه اوده کيږي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٤٤٠ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ، فَإِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ"[1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دشپي يولس رکعاته مونځ کولو او په دي کي به يو رکعات وتر وو کله چي به رسول الله ددينه فارغ شو نو ښخپل ښي طرف به يي ډډه اووهله.

****

٤٤١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه : په دي سند باندي هم دابن شهاب زهري نه دسابقه حديث هم معني روايت مروي دي، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢١٤ـ بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٤٤٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ الضُّبَعِيِّ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو جَمْرَةَ الضُّبَعِيُّ اسْمُهُ: نَصْرُ بْنُ عِمْرَانَ الضُّبَعِيُّ.[2]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دشپي ديارلس رکعاتونه کول ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او دابوحمزه ضبعي نوم نصر بن عمران ضبعي دي.

---

1 ـ صحيح البخارى في التهجد ١٠ (١١٣٨) . صحيح مسلم في المسافرين ٢٦ (٧٦٤) . (تحفة الأشراف : ٦٥٢٥)

2 ـ صحيح البخارى في التهجد ١٠ (١١٣٨) . صحيح مسلم في المسافرين ٢٦ (٧٦٣) . (تحفة الأشراف : ٦٥٢٥)

****

٢١٥_ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٤٤٣_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ" قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ، وَالفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ.(١)

ترجمه : دام المومنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به دشپي نهه ركعاتونه كول.

امام ترمذي وائي عائشه رضي الله عنها حديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب كي دابوهريره، زيد بن خالد، او فضل بن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٤٤٤_ وَرَوَاهُ سفيان الثوري، عَنِ الأَعْمَشِ نَحْوَ هَذَا، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الأَعْمَشِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَكْثَرُ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي "صَلَاةِ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً مَعَ الوِتْرِ، وَأَقَلُّ مَا وُصِفَ مِنْ صَلَاتِهِ بِاللَّيْلِ تِسْعُ رَكَعَاتٍ".(٢)

ترجمه : سفيان ثوري هم دا حديث په دي سند داعمش نه نقل كړي دي، او مونږ ته دا محمود بن غيلان بيان كړي دي او محمود ته يحي بن ادم او هغه دسفيان نه او سفيان داعمش نه نقل كړي دي.

امام ترمذي وائي دشپي دمونځ په سلسله كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه زيات نه زيات دوترو سره ديارلس ركعاتونه مروي دي او كم از كم نهه ركعاتونه مروي دي.

****

٢١٦_ باب إِذَا نَامَ عَنْ صَلَاتِهِ بِاللَّيْلِ صَلَّى بِالنَّهَارِ

---

1 _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨١ (١٣٦٠). (تحفة الأشراف: ١٥٩٥١). مسند احمد (٦ في ٣٠، ١٠٠)

2 _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨١ (١٣٦٠). (تحفة الأشراف: ١٥٩٥١). مسند احمد (٦ في ٣٠، ١٠٠)

څوک چې د تهجد کولو نه اوده پاتې شي نو دورځې به يې کوي

٤٤٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَمْ يُصَلِّ مِنَ اللَّيْلِ مَنَعَهُ مِنْ ذَلِكَ النَّوْمُ أَوْ غَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وسَعْدُ بْنُ هِشَامٍ هُوَ: ابْنُ عَامِرٍ الأَنْصَارِيُّ، وَهِشَامُ بْنُ عَامِرٍ هُوَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَتَّابُ بْنُ الْمُثَنَّى، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، قَالَ: كَانَ زُرَارَةُ بْنُ أَوْفَى قَاضِيَ الْبَصْرَةِ، وَكَانَ يَؤُمُّ فِي بَنِي قُشَيْرٍ، فَقَرَأَ يَوْمًا فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ. "فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ فَذَلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ خَرَّ مَيِّتًا، فَكُنْتُ فِيمَنِ احْتَمَلَهُ إِلَى دَارِهِ".[1]

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چې كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم دشپې تهجد اونكړل او خوب پكي ركاوټ جوړ شو نو دورځې به يې ددې په بدل كې دولس ركعاتونه كول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او سعد بن هشام ابن عامر انصاري دي او هشام بن عامر درسول الله صلي الله عليه وسلم په صحابه كرامو كې دي، دبهز بن حكيم نه روايت دي چې زراره بن اوفي دبصري قاضي وو هغه به بني قشير قبيلې ته امامت وركولو زراره يوه ورځ دسحر په مونځ كې ايت كريمه "فاذا نقر في الناقور، فذلك يوم عسير" اولوستلو نو بې هوش راپريوتلو او مړ شو او زه هم په هغه خلقو كې شامل وم چاچه دې پورته كړو او كور ته يې اورسولو.

****

٢١٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي نُزُولِ الرَّبِّ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا كُلَّ لَيْلَةٍ

هره شپه دد نيا اسمان ته دالله تعالي د نزول بيان

٤٤٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الإِسْكَنْدَرَانِيُّ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَنْزِلُ اللَّهُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا كُلَّ لَيْلَةٍ حِينَ يَمْضِي ثُلُثُ اللَّيْلِ الأَوَّلِ فَيَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ مَنْ ذَا الَّذِي يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ مَنْ ذَا

---

[1] ـ صحيح مسلم في المسافرين ٢١ (٧٤٦) . سنن ابي داود في الصلاة ٣١٦ (١٣٤٢) . سنن النسائي في قيام الليل ٢ (١٦٠٢) . (في سياق طويل) ، و ٦٣ (١٦٩٠) . (تحفة الأشراف : ١٦١٠٥) ، مسند احمد (٦ / ٥٣)

الَّذِي يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ مَنْ ذَا الَّذِي يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ فَلَا يَزَالُ كَذَلِكَ حَتَّى يُضِيءَ الْفَجْرُ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَرِفَاعَةَ الْجُهَنِيِّ، وَجُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَعُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ أَوْجُهٍ كَثِيرَةٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: "يَنْزِلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ" وَهُوَ أَصَحُّ الرِّوَايَاتِ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي هره شپه څه وخت چي دشپي په دري حصو كي اولنۍ حصه تيره شي ددنيا اسمان ته نزول كوي او داسي وائي زه بادشاه يم داسي څوك شته چي ماته چغه اووهي او زه يي چغه واورم او داسي څوك شته چي مانه مغفرت اوغواړي او زه ورته مغفرت اوكړم، او داسي څوك شته چي زما نه خپل حاجت اوغواړي او زه يي ورته وركړم الله تعالي برابر همداسي فرمائي تردي پوري چي سحر راوخيژي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي د علي بن ابي طالب، ابوسعيد، رفاعه جهني، جبير بن مطعم، ابن مسعود، ابوالدرداء، عثمان بن ابي العاص رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابو هريره رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، دابوهريره حديث په يو څو سندونو دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي او همدا رنگي درسول الله نه دا هم مروي دي چي فرمائيلي يي دي كله چي دشپي په دري حصو كي اخري حصه باقي پاتي شي نو الله تعالي نزول كوي، او دا دټولو نه زيات صحيح روايت دي.

تشريح : ددعا دقبوليت دپاره بعضي مفيد تحقيقات ذكر كوو، مسلم مذكوره مسئله په دي الفاظو ثابته كړي ده:

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هره شپه چي كله دشپي اخري حصه پاتي شي نو الله تعالي اسمان دنيا ته نزول كوي او ارشاد فرمائي زه د ټولو جهانونو بادشاه يم ايا څوك شته چي زما نه اوغواړي اوزه يي دعاقبوله كړم

---

[1] ـ صحيح البخاري في التهجد ١٤ (١١٤٥) . والدعوات ١٤ (٦٣٢١) . والتوحيد ٣٥ (٧٤٩٤) . صحيح مسلم في المسافرين ٢٤ (٧٥٨) . سنن ابي داود في الصلاة ٣١١ (١٣١٥) . والسنة ٢١ (٤٧٣٣) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨٢ (١٣٦٦) . (تحفة الأشراف : ١٣٦٤٧) . موطأ امام مالك في القرآن ٨ ا (٣٠) . مسند احمد (٢ في ٢٦٤، ٢٦٧، ٢٨٢، ٤١٩، ٤٨٧) (عند الأكثر "الآخير")

، او څوك شته چي زما نه اوغواړي او زه يي ورته وركړم اوڅوك شته چي زما نه دګناهونو معافي اوغواړي او زه يي ورته معاف كړم (بخاري او مسلم).

دمسلم په روايت كي دومره اضافه ده چي الله تعالي خپل دواړه لاسونه غوړوي او فرمائي ايا څوك قرض وركونكي شته داسي چاته چي مفلس نه وي اونه دچا حق وهونكي وي ، دا اواز به د صبا راختو پوري كيږي، بغوي دحسن بصري قول نقل كړي دي چي لقمان حكيم خپل خوي ته فرمائيلي وو ته دچرګ نه كمزوري نه يي كوم چي دسحر په وخت كي په چغو چغو اذان كوي اوته په بستره اوده پروت يي.

زيد بن اسلم فرمائيلي دي چي د "المستغفرين بالاسحار" نه هغه خلق مراد دي چي سحر مونځ دجماعت سره كوي ، دسحر وخت صباختو ته نږدي وي نوځكه يي بالاسحار اووئيل.

حسن بصري ددي ايت تشريح داسي كړي ده چي هغوئ دسحر دوخته پوري دتهجدو مونځونه كوي او بيا استغفار وائي.

دنافع بيان دي چي ابن عمر رضي الله عنهما به ټوله شپه عبادت كولو اوپه اخر كي به يي فرمائيل اي نافع ايا سحرشوي دي ؟ مابه عرض اوكړو نه دي نودي به دوباره په مونځ اودريدو او كه چري مابه اووئيل چي سحر شوي دي نو بيا به كيناستو او استغفار به يي شروع كړو اودسحره پوري به په دعا كي مشغول وو.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: په هغه ذات مي دي قسم وي دچا په قبضه كي چي زما روح دي كه چري تاسو ګناه نه كوئ نوتاسو به الله تعالي بوځي(فناء كړي) اوداسي خلق به راولي چي ګناهونه به كوي اوبيابه مغفرت هم غواړي اوګناهونه به ئي ببنلي كيږي (رواه مسلم، واحمد)

****

٢١٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي قِرَاءَةِ اللَّيْلِ

په قيام الليل (تهجد) كي دقرائت كولو بيان

٤٤٧ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ هُوَ السَّالَحِينِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: " مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تَقْرَأُ وَأَنْتَ تَخْفِضُ مِنْ صَوْتِكَ " فَقَالَ: إِنِّي أَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ، قَالَ: " ارْفَعْ قَلِيلًا "، وَقَالَ لِعُمَرَ: " مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تَقْرَأُ وَأَنْتَ تَرْفَعُ صَوْتَكَ " قَالَ: إِنِّي أُوقِظُ الْوَسْنَانَ وَأَطْرُدُ الشَّيْطَانَ، قَالَ: " اخْفِضْ قَلِيلًا " قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَائِشَةَ، وَأُمِّ هَانِئٍ، وَأَنَسٍ، وَأُمِّ سَلَمَةَ،

وابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَإِنَّمَا أَسْنَدَهُ يَحْيَى بْنُ إِسْحَاق، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، وَأَكْثَرُ النَّاسِ إِنَّمَا رَوَوْا هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ مُرْسَلًا. (1)

ترجمه : دابوقتاده رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ابوبكر رضي الله عنه ته اوفرمائيل زه دتهجد په وخت كي ستا په خوا كي تيرشوم او تا قران لوستلو او ستا اواز لږ ټيټ وو ابوبكر اوفرمائيل ما خو هغه چاته اورولو دچاسره چي ما مناجات كولو (يعني الله تعالي ته) رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خپل اواز لږ تيز كړه. او عمر رضي الله عنه ته يي اوفرمائيل او ستا په خوا كي چي زه تيريدم او تا قران لوستلو او اواز دي زيات تيز وو عمر فاروق اوفرمائيل ما اوده خلق ويخول او شيطان مي تختولو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ته دا خپل اواز لږ ټيټ كړه، امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي، او په دي باب كي دعائشه، ام هاني، انس، ام سلمه، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، دا روايت يحي بن اسحاق دحماد نه مسند كړي دي او اكثر خلقو دا حديث دثابت نه او ثابت دعبدالله بن رباح نه مرسل نقل كړي دي (يعني دابوقتاده ذكر يي نه دي كړي).

تشريح : په تهجد كي خفيه قرائت هم جائز دي او جهري قرائت هم جائز دي مگر بهتر درمياني كيفيت دي يعني نه بالكل خفيه او نه بالكل جهر او دا ځكه كه څوك يي بالكل پټ اووائي نو طبيعت يي ستړي كيږي او ډير وخته پوري يي نه شي لوستلي اوكه څوك يي په تيز اواز اووائي نو هم ستړي كيږي نو په دي وجه درمياني كيفيت به بهتر وي.

****

٤٤٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ نَافِعٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ الْعَبْدِيِّ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ النَّاجِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِآيَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ لَيْلَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم يوه هفته صرف دقران شريف يو ايت په ولاړه لوستلو.

---

1 ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣١٥ (١٣٢٩). (تحفة الأشراف: ١٢٠٨٨). مسند احمد (١ في ١٠٩)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٧٨٠٢)

امام ترمذي وائي داحديث په دي سند حسن غريب دي

****

٤٤٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ. قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ. أَكَانَ يُسِرُّ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَجْهَرُ؟ فَقَالَتْ: "كُلُّ ذَلِكَ قَدْ كَانَ يَفْعَلُ رُبَّمَا أَسَرَّ بِالْقِرَاءَةِ وَرُبَّمَا جَهَرَ "فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه عبدالله بن ابي قيس وائي چي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مي تپوس اوكړو چي دشپي به دنبي كريم صلي الله عليه وسلم قرانت څنګه وو ايا قران به يي په مزه مزه لوستلو او كه په تيزه؟ ام المؤمنين اوفرمائيل رسول الله به قران هر قسم لوستلو كله به يي پټ لوستلو او كله به يي په جهر سره ما اووئيل دالله ډير شكر دي چاچه ددين په معامله كي پراخي راوستلي ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح غريب دي

****

٢١٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ صَلَاةِ التَّطَوُّعِ فِي الْبَيْتِ

په كوركي د نفلي مونځونو كولو دفضيلت بيان

٤٥٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ. عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: "أَفْضَلُ صَلَاتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ سَعْدٍ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدِ اخْتَلَفَ النَّاسُ فِي رِوَايَةِ هَذَا الْحَدِيثِ،

---

[1] صحيح مسلم في الحيض ٦ (٣٠٧) . سنن ابي داود في الصلاة ٣٤٣ (١٤٣٧) . سنن النسائي في قيام الليل ٢٣ (١٦٦٣) . (التحفة: ١٦٢٩٤) . مسند احمد (٦ في ١٣٩) . و عند المؤلف في ثواب القرآن ٢٣ (برقم: ٢٩٢٤)

فَرَوَى مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَرْفُوعًا وَرَوَاهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ وَأَوْقَفَهُ بَعْضُهُمْ وَالْحَدِيثُ الْمَرْفُوعُ أَصَحُّ. [1]

ترجمه : دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو په مونځونو كي دټولو نه افضل مونځ هغه دي كوم چي تاسو پخپل كور كي كوئ مګر دفرضو نه علاوه.

امام ترمذي وائي دزيد بن ثابت حديث حسن صحيح دي. او په دي باب كي د عمر، جابر بن عبدالله، ابو سعيد، ابو هريره، ابن عمر، عائشه، عبدالله بن سعد، او زيد بن خالد جهني رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي ؛ داهل علمو ددي حديث په روايت كي اختلاف دي موسي بن عقبه او ابراهيم بن ابي نضر دواړو دا روايت دابونضر نه مرفوعا نقل كړي دي، او همدارنګي دا حديث مالك بن انس هم دابونضر نه نقل كړي دي ليكن هغه مرفوع نه دي نقل كړي او بعضي اهل علمو دا موقوف ګرځولي دي مګر مرفوع حديث زيات صحيح دي.

تشريح : امام نووي په مسئله د افضليت التطوع والسنن في البيوت مستقل باب قائم كړي دی چي "باب استحباب جعل النوافل في البيت سواء الراتبة وغيرها والأمر بالتحول للنافلة من موضع الفريضة أو الفصل بينهما بكلام

يعني نفل مونځ كور كي كول مستحب دي، سنت مؤكد وي او كه غير مؤكد (نفل) او كه څوك يی جومات كي كوي نو دفرضو ځايی نه ورته په ډېره كيدل پكار دي يايی ترمينځه په خبرو جدائي راوستل پكار دي.

امام نووي په دي سلسله كي د بخاري او مسلم متعدد روايات نقل كړي دي، چنانچه د زيد بن ثابت رضي الله عنه يو متفق عليه روايت دی:

عن زيد بن ثابت ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ : ((صَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ، فَإِنَّ أَفْضَلَ الصَّلَاةِ صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلاَّ الْمَكْتُوبَةَ)) متفقٌ عَلَيْهِ.

دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ای خلقو په كورونو كي مونځونه كوئ ځكه چي دبنده بهترين مونځ هغه دی ، چي په كور كي يی

---

1 ـ صحيح البخاری في الأذان ٨١ (٧٣١) . والأدب ٧٥ (٦١١٣) . والاعتصام ٣ (٧٢٩٠) . صحيح مسلم في المسافرين ٢٩ (٧٨١) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٠٥ (١٠٤٣) . و٣٤٦ (١٤٤٧) . سنن النسائي في قيام الليل ١ (١٦٠٠) . (تحفة الأشراف : ٣٦٩٨) . موطا امام مالک في الجماعة ١ (٣) . مسند احمد (٥ في ١٨٢، ١٨٤، ١٨٦، ١٨٧) . سنن الدارمی في الصلاة ٩٦ (١٤٠٦)

اوكړي بې دفرض مونځ نه (چه هغه په جومات کي جمع سره پکار دى).

افضل الصلاة صلاة المرء في بيته : دناړينه افضل مونځ هغه دى کوم چي پخپل کور کي اوکړي خو دفرضو نه علاوه سنت مؤکد وي او که غير مؤکد وي په کور کي يي کول افضل دي ځکه چي په کور کي سنت ادا کول دريا او نمائش نه خالي وي او اخلاص پکي زيات وي او ددي په وجه کور ته دالله رحمت نازليږي په کور کي نوافل کول مستحب دي او که څوک يي په مسجد کي کوي نو مکروه به نه وي اختلاف صرف په افضليت کي دى.

عن ابن عمر رضي الله عنهما . عن النَّبِيِّ ﷺ . قَالَ : ((اجْعَلُوا مِنْ صَلاَتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ . وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُوراً)) متفقٌ عَلَيْهِ .

ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څه مونځونه کورونو کي هم کوئ دکورونو نه اديري مه جوړوئ (يعني دعبادت نه يې خالي مه پريږدئ).

عن جابر ﷺ . قَالَ : قَالَ رسول الله ﷺ : ((إِذَا قَضَى أَحَدُكُمْ صَلاَتَهُ فِي مَسْجِدِهِ فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيباً مِنْ صَلاَتِهِ ؛ فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلاَتِهِ خَيْراً)) رواه مسلم .

دجابر رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو چي په جومات کي فرض مونځ اوکړئ نو په خپل مونځ کي څه برخه دخپلو کورونو هم کوئ (يعني سنت او نوافل کور کي کوئ) ځکه پدى مونځ الله تعالي ستاسو کورونو کي برکت اچوي

فان الله جاعل في بيته من صلاته خيرا: ځکه چي په کور کي دده دمونځ د ادا کولو په وجه الله تعالي خير او برکت نازلوي دحديث مطلب دادى چي خلق دي په کورونو کي هم نوافل او سنت کوي ترڅو چي کور ته برکت راشي علماء وائي دا حکم دهغه خلقو دپاره دى څوک چي دفرض ادا کولو نه پس کور ته لاړ شي نو که څوک کور ته لاړ نشي يا په اعتکاف کي وي نوبيا دي په مسجد کي نوافل اوکړي دا هم معمول نبوي دى.

دزيد بن ثابت رضي الله عنه حالات:

نوم زيد کنيه ابوسعيد ، ابوخارجه ، ابوعبدالرحمان لقب مقري ، فرضي، کاتب الوحي ، حبرالامر.

په خزرج قبيله کي دبنو نجار سره تعلق لري او دشپږو کالو عمر کي يي پلار وفات شوى و او ديولسو کالو په عمر کي دمصعب بن عمير په لاس مسلمان شوى وو کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته راغلى نو دى داولسو سورتونو حافظ وو دده عمر په ديارلسو کالو کي روان وو چي دبدرغزوه راغله دده دا خواهش وو چي دى هم پکي شرکت اوکړي مګر دعمر

دكموالي په وجه واپس كړى شو او په غزوه خندق كې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوځاي وو.

په جنګ يمامه كې هم شريك شوى وو او په دي جنګ كې په يو غشي هم لګيدلى وو ليكن جسم ته يي څه نقصان نه وو رسيدلى ، رسول الله صلي الله عليه وسلم دوحي دليكلو كار دډيرو صحابه كرامو نه اخستلى وو په دوئ كې زيد بن ثابت رضي الله عنه هم شامل وو.

زيد يو عقلمند او انتهائي زكي انسان وو دهجرت په پنځم كال رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته دخلقو خطونه راځي چې په عبراني ژبه كې دي په يهوديانو مي اعتبار نشته نو په دي وجه زيد صرف په پنځلسو ورځو كې عبراني او سرياني ژبي زده كړه (مسند احمد).

زيد دفقه امام وو ګويا كې زيد دخلفاء راشده او معاويه رضي الله عنه په زمانه كې مفتي اعظم وو (اعلام الموقعين).

دهجرت په ۴۵ كال د ۵۵ يا ۵۲ كالو په عمر كې وفات شو دده دوفات كيدو په مناسبت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل نن دعلم يوه خزانه ختمه شوه دده دمروياتو شمير ۹۲دى پنځه په دي كې متفق عليه دي.

****

٤٥١ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صَلُّوا فِي بُيُوتِكُمْ وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو پخپلو كورونو كي مونځونه كوئ او قبرستان ورنه مه جوړوئ.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

أبواب الوتر

[1] صحيح البخاري في الصلاة ٥٢ (٤٣٢)، والتهجد ٣٧ (١١٨٧)، صحيح مسلم في المسافرين ٢٩ (٧٧٧)، سنن ابي داود في الصلاة ٢٠٥ (١٠٤٣)، و٣٤٦ (١٤٤٨)، سنن النسائي في قيام الليل ١ (١٥٩٩)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨٦ (١٣٧٧)، (تحفة الأشراف: ٨٠١٠)، وكذا (٨١٤٢)، مسند احمد (٢ في ٦، ١٦، ١٢٢)

١ـ باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْوِتْرِ

دوتر مونځ دفضيلت بيان

٤٥٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ رَاشِدٍ الزَّوْفِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُرَّةَ الزَّوْفِيِّ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ حُذَافَةَ، أَنَّهُ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّ اللهَ أَمَدَّكُمْ بِصَلَاةٍ هِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ الْوِتْرُ. جَعَلَهُ اللهُ لَكُمْ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى أَنْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَبُرَيْدَةَ وَأَبِي بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ خَارِجَةَ بْنِ حُذَافَةَ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، وَقَدْ وَهِمَ بَعْضُ الْمُحَدِّثِينَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ رَاشِدٍ الزُّرَقِيِّ وَهُوَ وَهَمٌ فِي هَذَا، وَأَبُو بَصْرَةَ الْغِفَارِيُّ اسْمُهُ حُمَيْلُ بْنُ بَصْرَةَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: جَمِيلُ بْنُ بَصْرَةَ وَلَا يَصِحُّ، وَأَبُو بَصْرَةَ الْغِفَارِيُّ رَجُلٌ آخَرُ يَرْوِي عَنْ أَبِي ذَرٍّ وَهُوَ: ابْنُ أَخِي أَبِي ذَرٍّ. [1]

ترجمه : دخارجه بن حذافه رضي الله عنه بيان دي چي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم دحجري نه راووتلو او زمونږ طرف ته راغي او ويي فرمائيل الله تعالي ستاسو دپاره ديو داسي مونځ اضافه کړي ده کوم چي ستاسو دپاره دسرو اوښانو نه بهتر دي او هغه وتر دي. الله تعالي ددي وخت ستاسو دپاره دماخوستن نه واخله دسحر دراختلو پوري اوږد کړي دي.

امام ترمذي وائي دخارجه بن خزافه حديث غريب دي مونږ يي صرف ديزيد بن ابي حبيب په روايت پيژنو بعضي محدثينو په دي کي وهم کړي دي هغوئ عبدالله بن راشد زرقي وئيلي دي دا وهم دي (صحيح ذوفي دي) په دي باب کي د ابوهريره، عبدالله بن عمرو، بريده. او ابو بصره غفاري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابو بصره غفاري نوم جميل بن بصره دي او بعضي خلقو حميل بن بصره وئيلي دي ليکن دا درست نه دي اوابو بصره غفاري يو بل کس دي څوک چي دابوذر رضي الله عنه نه روايت کوي او هغه دابوذر وراره دي.

تشريح : سردار دوجهان فرمائيلي دي:

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣٣٦ (١٤١٨). سنن ابن ماجه في الإقامة ١١٢ (١١٦٨). (تحفة الأشراف: ٣٤٥٠). سنن الدارمي في الصلاة ٢٠٨ (١٦١٧)

(الوتر حق واجب فمن لم يوتر فليس منا) يعنى وتر حق واجب دى.چا چې وتر اونكړو.نو هغه زمونږ نه نۀ دې (ابوداود)

په مسلم شريف كي د ابوسعيد خدری(رضي الله عنه) حديث دې:

(أن النبي صلي الله عليه وسلم قال أوتروا قبل أن تصبحوا) يعنى رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلى دى.د سحر راختو نه وړاندې وړاندې وتر كوئ.په دى حديث كي (اوتروا) د امر صيغه ده.او په وجوب باندې دلالت كوى.

د صاحبينو دطرفه د عقلى دليل جواب دا دې چى د وترو منكر ځكه كافر نه دې چى د وترو ثبوت په سنت غير متواتره سره دې.او دا چى د امام ابو حنيفه رحمه الله نه روايت شوي دې چى وتر سنت دى. ددى معنى هم دا ده چى د وترو ثبوت په سنت سره شوي دې.او چونكه د وترو مونځ د ماسخوتن په وخت كي ادا كولى شى.نو ځكه د ماسخوتن په اذان او اقامت باندې اكتفاء كړې شوې ده.د وترو دپاره د ځانله اذان او اقامت ضرورت نشته. د صاحبينو د طرفه پيش كړې شوې حديث اعرابى جواب دا دې چى دا حديث د وجوب وتر نه وړاندې دې.

****

٢ـ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْوِتْرَ لَيْسَ بِحَتْمٍ

دوترو دفرض نه کيدو بيان

٤٥٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: الْوِتْرُ لَيْسَ بِحَتْمٍ كَصَلَاتِكُمُ الْمَكْتُوبَةِ، وَلَكِنْ سَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: " إِنَّ اللَّهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ فَأَوْتِرُوا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ " قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ. [1]

ترجمه : امير المومنين علي رضي الله عنه نه روايت دى چي هغه فرمائيلي دي وتر لكه دپنځو فرضو مونځونو په شان قطعي فرض نه دي ليكن رسول الله صلي الله عليه وسلم مقرر كړي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، الله جل جلاله يو دى (طاق دى) او طاق خوښوي نو اى اهل قران (اى مسلمانانو) طاق مونځ وتر كوئ، دا حديث امام ترمذي

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣٣٦ (١٤١٦) . (الشطر الأخير فحسب) . سنن النسائي في قيام الليل ٢٧ (١٦٧٧) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١١٤ (١١٦٩) . (تحفة الأشراف : ١٠١٣٥) . مسند احمد (١ في ٨٦، ٩٨، ١٠٠، ١٠٧، ١١٥، ١٤٤، ١٤٥، ١٤٨) . سنن الدارمي في الصلاة ٢٠٨ (١٦٢١)

روايت کړی دی او حديث حسن یی ورته ونیلی دی . اوپه دي باب کي د ابن عمر او ابن مسعود او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات : الوتر: وتر يتر وترا وترة معني جفت لره طاق کول، الوتر معني جوړ، طاق ، بدله.

تشريح : وتر واجب دي که سنت په دي باره کي يو څو اقوال دي دامام ابو حنيفه په نزد واجب دي او دائمه ثلاثه په نزد سنت دي امام ابو حنيفه دوجوب دپاره ددي روايت نه استدلال کوي "الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا، الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا. الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا".

وتر حق دي او څوك چي وتر ونکړي هغه زمونږ نه نه دی همدارنګي دپورتني حديث په اخر کي راغلي دي فأوتروا ياأهل القران، ای اهل قران مومنانو وتر اوکړئ دامر صيغه ده په وجوب دلالت کوي همدارنګي په احاديثو کي په ډیرو مقاماتو کي ددي اهميت واضح کړی شوی دی خو ددي بالمقابل دصاحبين او ائمه ثلاثه په نزد وتر مونږ سنت مؤکد دی او سنت مؤکده هم واجب ته نزدي وي.

****

٤٥٤ـ وَرَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَغَيْرُهُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "الْوِتْرُ لَيْسَ بِحَتْمٍ كَهَيْئَةِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ وَلَكِنْ سُنَّةٌ سَنَّهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، وَقَدْ رَوَاهُ مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق نَحْوَ رِوَايَةِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ.[1]

ترجمه : امير المومنين علي رضي الله عنه نه روايت دی چي هغه فرمائيلي دي وتر لکه دپنځو فرضو مونځونو په شان قطعي فرض نه دي ليکن رسول الله صلي الله عليه وسلم مقرر کړي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، دا روايت محمد بن بشار هم پخپل

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣٣٦ (١٤١٦) . (الشطر الأخير فحسب) . سنن النسائي في قيام الليل ٢٧ (١٦٧٧) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١١٤ (١١٦٩) . (تحفة الأشراف : ١٠١٣٥) . مسند احمد (١ في ٨٦، ٩٨، ١٠٠، ١٠٧، ١١٥، ١٢٢، ١٣٥، ١٣٨) . سنن الدارمي في الصلاة ٢٠٨ (١٦٢١)

سند د ماقبل پشان بیان کړی دي مګر د ابو بکر بن عیاش د روایت نه زیات صحیح دی.
دارنګي منصور بن معتمر د ابو بکر بن عیاش د روایت پشان نقل کړی دی.

****

٣_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ النَّوْمِ قَبْلَ الْوِتْرِ

دوتر کولو نه مخکښي داوده کيدو دکراهت بيان

٤٥٥_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ عِيسَى بْنِ أَبِي عَزَّةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أَبِي ثَوْرٍ الأَزْدِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ ". قَالَ عِيسَى بْنُ أَبِي عَزَّةَ: وَكَانَ الشَّعْبِيُّ يُوتِرُ أَوَّلَ اللَّيْلِ ثُمَّ يَنَامُ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَأَبُو ثَوْرٍ الأَزْدِيُّ اسْمُهُ: حَبِيبُ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ، وَقَدِ اخْتَارَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ أَنْ لاَ يَنَامَ الرَّجُلُ حَتَّى يُوتِرَ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته حکم اوکړو چي زه به وتر داوده کيدو نه مخکښي کوم.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث په دي سند حسن غريب دي او په دي باب کي دابوذرغفاري رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي. اود ابو ثور ازدي نوم حبيب بن ابي مليکه دی، بعضي صحابه کرامو او تابعينو اهل علمو دا قول اختيار کړی دی چي د وتر کولو نه مخکي اوده کيدل ممنوع دي.

تخريج : تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٨٢١)

تشريح : په دي حديث کي دوتر نه مراد څه دي دامام ترمذي په خيال دوتر نه مراد حقيقي وتر دي او دبعضو په خيال ددينه دوتر او دصلاة الليل مجموعه مراد ده.

****

[1] _ صحيح مسلم في المسافرين ٢١ (٧٥٥). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢٠ (١١٨٧). (تحفة الأشراف : ٢٢٩٧). مسند احمد (٣ في ٣١٥، ٣٣٨)

٤٥٦ـ وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ خَشِيَ مِنْكُمْ أَنْ لَا يَسْتَيْقِظَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ مِنْ أَوَّلِهِ، وَمَنْ طَمِعَ مِنْكُمْ أَنْ يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ، فَإِنَّ قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ فِي آخِرِ اللَّيْلِ مَحْضُورَةٌ وَهِيَ أَفْضَلُ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ هَنَّادٌ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ. (1)

ترجمه: نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په تاسو كي چي دچا سره دا ويره وي چي دشپي په اخري حصه كي نشي پاڅيدي نو هغوئ دي دشپي په اوله حصه كي وتر كوي او څوك چي دشپي اخري حصه كي دپورته كيدو اميد لري هغوئ دي دشپي په اخري حصه كي هم وتر كوي ځكه چي دشپي په اخري حصه كي دقران په لوستلو فرشتي حاضريږي او دا افضل وخت دي.

****

٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْوِتْرِ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَآخِرِهِ

دشپي په اوله او اخري دواړو وختونو كي وتر كيدي شي

٤٥٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا أَبُو حَصِينٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ وَثَّابٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ قَدْ أَوْتَرَ أَوَّلَهُ وَأَوْسَطَهُ وَآخِرَهُ فَانْتَهَى وِتْرُهُ حِينَ مَاتَ إِلَى السَّحَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: أَبُو حَصِينٍ اسْمُهُ: عُثْمَانُ بْنُ عَاصِمٍ الأَسَدِيُّ، قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ، وَأَبِي قَتَادَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ الَّذِي اخْتَارَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ الْوِتْرُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ. (2)

ترجمه: دمسروق نه روايت دي چي هغوئ دعائشه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دوترو باره كي تپوس اوكړو ام المؤمنين اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به دشپي په هره حصه كي وتر اداء كول اوله حصه كي هم او په اخري حصه كي هم او كله چي

---

1 ـ صحيح البخارى في الوتر ٢ (٩٩٢). صحيح مسلم في المسافرين ١٧ (٧٤٥). سنن ابى داود في الصلاة ٣٤٣ (١٤٣٥). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢١ (١١٨٦). (تحفة الأشراف: ١٧٦٥٣). مسند احمد (٦ في ٤٦، ١٠٠، ١٠٧، ١٢٩، ٢٠٤، ٢٠٥). سنن الدارمى في الصلاة ٢١١ (١٦٢٨)

2 ـ

رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو نو دغه وخت دهغوئ وتر دسحر وخت پوري رسيدلي وو.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي د علي، جابر، ابومسعود انصاري، او ابوقتاده رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دبعضي اهل علمو په نزد همدا بهتره طريقه ده چي وتر دشپي اخري حصه کي اداء کړي شي.

****

٥ـ باب مَا جَاءَ فِي الْوِتْرِ بِسَبْعٍ

داوه رکعاته وتر کولو بيان

٤٥٨ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْجَزَّارِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً فَلَمَّا كَبِرَ وَضَعُفَ أَوْتَرَ بِسَبْعٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أُمِّ سَلَمَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "الْوِتْرُ بِثَلَاثَ عَشْرَةَ وَإِحْدَى عَشْرَةَ وَتِسْعٍ وَسَبْعٍ وَخَمْسٍ وَثَلَاثٍ وَوَاحِدَةٍ" قَالَ: إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ مَعْنَى مَا رُوِيَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُوتِرُ بِثَلَاثَ عَشْرَةَ" قَالَ: إِنَّمَا مَعْنَاهُ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً مَعَ الْوِتْرِ فَنُسِبَتْ صَلَاةُ اللَّيْلِ إِلَى الْوِتْرِ، وَرَوَى فِي ذَلِكَ حَدِيثًا عَنْ عَائِشَةَ، وَاحْتَجَّ بِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "أَوْتِرُوا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ" قَالَ: إِنَّمَا عَنَى بِهِ قِيَامَ اللَّيْلِ، يَقُولُ: "إِنَّمَا قِيَامُ اللَّيْلِ عَلَى أَصْحَابِ الْقُرْآنِ".(١)

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به وتر ديارلس رکعاته کول ليکن کله چي دهغوئ عمر پوخ شو او کمزوري شو نو اوه رکعاته وتر کول يي شروع کړل.

امام ترمذي وائي دام سلمه حديث حسن دي، او په دي باب کي دعائشه رضي الله عنها نه هم حديث مروي دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ديارلس، يولس، نهه، اوه، پنځه، او دري رکعاته وتر تول مروي دي. داسحاق بن ابراهيم قول دي درسول الله صلي الله عليه وسلم باره کي چي د ديارلس رکعاته وتر کولو روايت مروي دي ددي مطلب دادي چي تهجد به يي دوتر د

---

١ سنن النسائي في قيام الليل ٣٩ (١٧٠٩)، و٣٥ (١٧٢٨). (تحفة الأشراف: ١٨٢٢٥). مسند احمد (٦ في ٣٢٢)

سره دیارلس رکعاته کول په دي کي قیام اللیل ته هم دوترو نوم ورکړي شوي دي او هغوئ په دي سلسله کي دعائشه رضي الله عنها یو حدیث هم نقل کړي دي او دا ارشاد نبوي یي هم نقل کړي دي چي اي اهل قران وتر به کوئ ددي حدیث نه یي هم استدلال کړي دي اسحاق بن راهویه وائي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم ددینه قیام اللیل مراد کړي دي او قیام اللیل صرف په قران منونکو باندي دي.

****

٦ــ بَاب مَا جَاءَ فِي الْوِتْرِ بِخَمْسٍ

دپنځه رکعاته دوترو کولو بیان

٤٥٩ــ حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ الْكَوْسَجُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " كَانَتْ صَلَاةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْ ذَلِكَ بِخَمْسٍ لَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ، فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ قَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ " قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمُ الْوِتْرَ بِخَمْسٍ، وَقَالُوا: لَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَأَلْتُ أَبَا مُصْعَبٍ الْمَدِينِيَّ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " يُوتِرُ بِالتِّسْعِ وَالسَّبْعِ " قُلْتُ: كَيْفَ يُوتِرُ بِالتِّسْعِ وَالسَّبْعِ، قَالَ: "يُصَلِّي مَثْنَى مَثْنَى وَيُسَلِّمُ وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ".[1]

ترجمه : دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها بیان دي چي د رسول الله صلي الله علیه وسلم قیام اللیل به دیارلس رکعاته وو په دي کي به پنځه رکعاته وتر وو او په دي پنځه رکعاتونو کي به هغوئ صرف په اخري رکعات کي قعده کوله او بیاچه به کله مؤذن اذان اوکړو نو رسول الله به اودریدو او دوه مختصر رکعاتونه به یي اوکړل.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنهاحدیث حسن صحیح دي، او په دي باب کي د ابوایوب انصاري رضي الله عنه نه هم حدیث وارد دي، په صحابه کرامو کي داهل علمو دا خیال دي چي وتر پنځه رکعاتونه دي او په دي کي هغوئ صرف په اخري رکعات کي قعده کوله راوي وایي ما ددي حدیث باره کي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم نهه او اوه رکعاتونه

---

1 ـ صحيح مسلم في المسافرين ١٧(٧٣٧) . (تحفة الأشراف : ١٦٩٨١)

كول دابومصعب مديني نه تپوس اوكړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به نهه او اوه ركعاتونه څنګه كول؟ نو هغوئ اوونيل دوه دوه ركعاتونه به يي كول او سلام به يي ګرځولو او بيا به يي يو ركعات وتر اوكړو.

دعروه بن زبير رضي الله عنه حالات:

نوم عروه كنيه ابوعبدالله دپلار نوم زبير بن عوام دمور نوم اسماء بنت ابي بكر، دعروه ولادت عمر فاروق دخلافت په اخر يا دعثمان دخلافت په ابتداء كې شوې وو (تهذيب التهذيب).
دده دورور عبدالله بن زبير دده په وينا عبدالملك دعبدالله بن زبير د دفن كولو حكم اوكړو عروه دعلم او عمل مجمع البحرين وو خكه چي دده پلار زبير بن عوام حواري رسول وو او دده نيكه ابوبكر صديق رضي الله عنه او دده ترور ام المومنين عائشه رضي الله عنها وه او دده مور اسماء ذات النطاقين وه دده ورور عبدالله هم داهل علمو صحابه كرامو نه وو، په ده كې يو څو خصوصيات وو مثلا صبر او استقامت، عبادت او رياضت، صبر او شكر، ددنيا نه بې رغبتي او سخاوت وغيره دده ضرب المثل وو.
داحاديثو سره يي ډيره مينه وه چي دعائشه رضي الله عنها نه يي اكثر اوريدلي وو او هغه اعلم الناس وه (تهذيب التهذيب).
دام المومنين تمام علمي ذخيره يي محفوظ كړي وه پخپله فرمائي چي زما دترور دوفات نه څلور پنځه كاله مخكې ما دهغي ټول علم حاصل كړى وو كه چري دا په دي وخت كې مړه وې نو ما به دهغي دكوم حديث په باقي پاتي كيدو افسوس نه وو كړى (تهذيب التهذيب).
په كال ۹۴ هجري كې په مدينه كې وفات شو (طبقات ابن سعد).
دده مزيد حالاتو دپاره لاندېني كتابونه مفيد دي ابن اسير، طبقات ابن سعد. تهذيب الاسماء، تذكرة الحفاظ ابن خلكان.

****

٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْوِتْرِ بِثَلَاثٍ

دري ركعاته وتر كولوبيان

٤٦٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ يَقْرَأُ فِيهِنَّ بِتِسْعِ سُوَرٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ يَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ بِثَلَاثِ سُوَرٍ آخِرُهُنَّ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَيُرْوَى أَيْضًا عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، هَكَذَا رَوَى بَعْضُهُمْ فَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ، عَنْ أُبَيٍّ، وَذَكَرَ بَعْضُهُمْ عَنْ عَبْدِ

الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أُبَيٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ ذَهَبَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ إِلَى هَذَا، وَرَأَوْا أَنْ يُوتِرَ الرَّجُلُ بِثَلَاثٍ. قَالَ سُفْيَانُ: إِنْ شِئْتَ أَوْتَرْتَ بِخَمْسٍ، وَإِنْ شِئْتَ أَوْتَرْتَ بِثَلَاثٍ، وَإِنْ شِئْتَ أَوْتَرْتَ بِرَكْعَةٍ. قَالَ سُفْيَانُ: وَالَّذِي أَسْتَحِبُّ أَنْ أُوتِرَ بِثَلَاثِ رَكَعَاتٍ، وَهُوَ قَوْلُ: ابْنِ الْمُبَارَكِ وَأَهْلِ الْكُوفَةِ. حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ: كَانُوا يُوتِرُونَ بِخَمْسٍ وَبِثَلَاثٍ وَبِرَكْعَةٍ وَيَرَوْنَ كُلَّ ذَلِكَ حَسَنًا.[1]

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دري رکعاته وتر کول او په دي رکعاتونو کي به يي په مفصل صورتونو کي نهه سورتونه لوستل په هر رکعات کي به يي دري دري سورتونه لوستل او دټولو په اخر کي به يي قل هوالله احد لوستلو

امام ترمذي وائي په دي باب کي دعمران بن حصين ، عائشه، ابن عباس، ابوايوب انصاري، او عبدالرحمن بن ابزي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، عبدالرحمن بن ابزي دا روايت دابيِ بن کعب نه نقل کړي دي ، دا رنګي دا هم مروي دي چي عبدالرحمن بن ابزي دا روايت دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه بغير دواسطي نقل کړي دي، دارنګي بعضي خلقو روايت نقل کړي دي او په دي کي هغوئ "ابي" واسطه نه ده ذکر او بعضو دابي واسطه ذکر کړي ده په صحابه کرام وغيره اهل علمو کي ديو جماعت همدا خيال دي چي وتر دري رکعاته کول پکار دي. دسفيان ثوري قول دي که چري تاسو غواړئ او خوښه مو وي نو وتر پنځه رکعاته اوکړئ او که خوښه مو وي نو دري رکعاته وکړئ، او که خوښه مو وي صرف يو رکعات اوکړئ مګر زه دري رکعاته کول مستحب ګنړم، دابن مبارك او اهل کوفه هم دا قول دي، محمد بن سيرين وائي چي وتر به خلقو پنځه رکعاتونه کول او کله دري او کله يو او هر يو به يي مستحسن ګنړلو.

تشريح: د وترو په مسئله کي دري قسمه اختلاف دی

(۱) د وترو د رکعتونو په تعداد کي.

(۲) په سلام کي اختلاف دې يعني په دی خبره کي هم اختلاف دې چی وتر به په يو سلام سره کوی.اوکه په دوو سلامونو سره.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٣٠١)

(۱)د احنافو په نزد د وترو دری رکعتونه په یو سلام سره واجب دی.په مینځ کي به په سلام گرځولو سره فصل نه کوی.
(۲) د امام شافعی دوه اقوال دی.یو قول خو د احنافو د قول مطابق دې ، دویم قول دا دې چی د وترو دری رکعتونه به په دوو سلامونو سره کوی.هم دا قول د امام مالك دې
(۳)او بعضو وئیلی دی چی وتر یو رکعت دې.

د یو رکعت د قائلینو دلائل: د یو رکعت قائلین د ابن عمر رضی الله عهما په حدیث سره استدلال کوی.حدیث دا دې:

(۱) (أن رجلاً سأل النبي صلي الله عليه وسلم عن صلاة الليل فقال مثنى مثنى فإذا خشيت الصبح فصل ركعة توتر لك ما صليت)
یعنی د رسول پاك صلي الله عليه وسلم نه یو کس د صلاة اللیل په باره کي تپوس اوکړو.نو ویي اوفرمائیل.دوه رکعتونه دی.اوچی تاسره د سحر راختو ویره شی.نو یو رکعت کوه.دا به ستا دپاره د شوی مونځ وتر شی.

(۲) دغه شان په مسلم شریف کي د ابن عمر(رضي الله عنه) نه مرفوعاً روایت دې چی :
(الوتر ركعة من آخر الليل)
یعنی وتر د شپی په آخر کي یو رکعت دې.

(۳)دغه شان د نبیﷺ نه روایت دې:
(قال من أحب أن يوتر بخمس فليفعل ومن أحب أن يوتر بواحدة فليفعل)
یعنی رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائیلی دی.څوك چی د وترو پنځه رکعته خوښوی.نو دادی کوی.اوڅوك چی یو رکعت خوښوی.نو دادی کوی.د وترو د اووۀ، نهه، اود یوولس رکعتونو تعداد هم مروی دې(عنایه)

د احنافو دلائل:د عائشه رضی الله عنها نه نقل دی:

(۱) (أن النبي صلي الله عليه وسلم كان يوتر بثلاث ركعات)
حسن بصری په یو سلام د وترو د دری رکعتونو اجماع نقل کړې ده.دحسن بصری(نه مروی دی:

(۲) (قال أجمع المسلمون على أن الوتر ثلاث لايسلم الا في آخرهن)
یعنی فرمائی چی مسلمانانو په دی خبره باندې اجماع کړې ه چی وتر دري رکعتونه دی.صرف ددی په آخر کي به سلام گرځوی

(۳) (عن عائشة رضی الله عنها قال كان رسول الله صلي الله عليه وسلم لا يسلم في الركعتين الأوليين من الوتر)

یعنی عائشه رضی الله عنها فرمائی چی رسول الله به د وترو په اولنو دوو رکعتون کي سلام نه گرځولو.

(۴)د ابن مسعود (رضي الله عنه) نه نقل دی

(وتر الليل ثلاث كوتر النهار)

یعنی د شپی وتر دری رکعتونه دی.لکه د ورځ وتر چی دری رکعته دی.د ورځې د وترو نه مراد د مابنام مونځ دې(فتح القدير)

ابوخالد بیان کړې دې چی ما د جلیل القدر تابعی ابوالعالیه نه د وترو په باره کي تپوس اوکړو.نو ویي فرمائیل:

(علمنا أصحاب رسول الله صلي الله عليه وسلم أن الوتر مثل صلاة المغرب هذا وتر الليل وهاوتر النهار)

یعنی مونږ ته د رسول پاك صلي الله عليه وسلم صحابه کرامو تعلیم رکړې دې چی وتر د مابنام د مونځ پشان دی.دا د شپي وتر دی.او دا یعنی مابنام د ورځې وتر دی.دی نه هم معلومه شوه چی د مابنام پشان وتر هم دری رکعتونه دی.

(٦)عن عائشة رضی الله عنها أن النبي صلي الله عليه وسلم كان يوتر بثلاث يقرأ في الركعة الأولى سبح اسم ربك الاعلي وفي الثانية قل يا ايها الكافرون وفي الثالثة قل هو الله أحد .والمعوذتين)

یعنی نبیﷺ به دری رکعته وتر کول.په اولنی رکعت کي به یی:سبح اسم ربك الاعلي او په دویم رکعت کي به ئي قل یا ایها الکافرون او په دریم رکعت کي به ئې قل هو الله احد او معوذتین وئیل.

(۷) مشهور اثر دې.

(نهى رسول الله صلي الله عليه وسلم عن البتيراء)

یعنی رسول پاك صلي الله عليه وسلم د صلاة بتيراء یعنی د یو رکعت کولو نه منع فرمائیلی دہ.

خوك چی د وترو د یو رکعت قائلین دی.د هغوی د طرفه د پیش کړی ابن عمر(رضي الله عنه) د حدیث جواب د امام طحاوی د قول مطابق دا ې چی د رسول پاك صلي الله عليه وسلم قول (فصل ركعة) معنی دا ده چی (صل ركعة مع ثنتين قبلها) یعنی نبیﷺ اوفرمائیل چی ددی نه وړاندې دوه رکعتونو سره یو رکعت ضم کړه.نو وس دری رکعتونه شول. یو رکعت نشو.

دویم جواب دا دې چی د یو رکعت یا پنځه رکعتونه یا اوه یا نهه یا د یوولسو رکعتونو روایت د وترو د استقرار نه وړاندې دې.خو چی کله دری رکعته مقرر شو نو باقی روایتونه منسوخ شول.

****

٨ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْوِتْرِ بِرَكْعَةٍ

ديو ركعات وتر كولو بيان

٤٦١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ. فَقُلْتُ: أُطِيلُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ. فَقَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ، وَكَانَ يُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ وَالأَذَانُ فِي أُذُنِهِ يَعْنِي يُخَفِّفُ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَجَابِرٍ، وَالْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَالتَّابِعِينَ رَأَوْا أَنْ يَفْصِلَ الرَّجُلُ بَيْنَ الرَّكْعَتَيْنِ، وَالثَّالِثَةِ يُوتِرُ بِرَكْعَةٍ، وَبِهِ يَقُولُ: مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ. [1]

ترجمه : دانس بن سيرين بيان دي چي دابن عمر رضي الله عنهما نه مي تپوس اوکړو چي ايا زه به دسحر دوه رکعاته سنت اوږده رکعاتونه کوم، نو هغوئ اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به تهجد دوه دوه رکعاته کول او وتر به يي يو رکعات کول او دسحر دوه رکعاته سنت به يي کول داسي به ښکاريده لکه تکبير دده په غوږونو کي کيږي.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعائشه، جابر، فضل بن عباس او ابو ايوب انصاري او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي په صحابه کرامو او تابعينو کي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي ددوئ خيال دي چي بنده به د دوه رکعاتونو او دريم رکعات په مينځ کي دسلام په ذريعه فصل کوي او يو رکعات وتر به کوي امام مالك ، شافعي، احمد ، او اسحاق بن راهويه هم دا طريقه اختيار کړي ده.

دانس بن سيرين رضي الله عنه حالات

نوم انس دپلار نوم سيرين دده په کنيه کي اختلاف دی څوك وائي ابو حمزه دی او څوك وائي ابو عبدالله دی دبصري اوسيدونکی دی دمحمد ورور دی او د متوسطي درجي دتابعينو نه دی په صحاح سته کي دده نه روايات موجود دي١١٨ يا ١٢٠ هجري کي وفات شوی دی.

****

[1] صحيح البخاری في الوتر ٢ (٩٩٥) . صحيح مسلم في المسافرين ٢٠ (١٥٧ في ٧٤٩) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٠١ (١١٤٣) . (مختصرا) (تحفة الأشراف : ٦٦٥٢) . مسند احمد (٢ في ٣١، ٤٩، ٧٨، ٨٨، ١٢٦)

٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَا يُقْرَأُ بِهِ فِي الْوِتْرِ

په وترو کي کوم کوم صورتونه لوستل پکار دي

٤٦٢_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْوِتْرِ بِ: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، وقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، وقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ فِي رَكْعَةٍ رَكْعَةٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَيُرْوَى عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَنَّهُ قَرَأَ فِي الْوِتْرِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّالِثَةِ بِ: الْمُعَوِّذَتَيْنِ، وَقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ، وَالَّذِي اخْتَارَهُ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ أَنْ يَقْرَأَ بِ: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، وقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، وَقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ يَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ مِنْ ذَلِكَ بِسُورَةٍ. (1)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په وترو کي "سبح اسم ربك الاعلي" او "قل يا ايهالكافرون" او "قل هوالله احد" دري واړه په يو رکعات کي لوستل.

امام ترمذي وائي په دي باب کي د علي ، عائشه، او عبدالرحمن بن افزي رضي الله عنهم نه چاچه دابئ بن کعب نه روايت نقل کړي دي هم احاديث مروي دي او دا روايت عبدالرحمن بن ابزي نه بغير دواسطي نه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه هم منقول دي، او درسول الله نه دا هم مروي دي چي هغوئ به په وترو کي په دريم رکعات کي معوذتين او سورة اخلاص لوستل په صحابه کرامو او ددوئ نه پس په اهل علمو کي اکثر اهل علمو چي کومه خبره اختيار کړي ده هغه داده چي سورة الاعلي سورة ا الکافرون او سورة اخلاص، دري واړو سورتونو کي يو يو په هر رکعات کي لوستل پکار دي.

****

٤٦٣_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْحَرَّانِيُّ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: سَأَلْنَا عَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ " يُوتِرُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَتْ: كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى بِ: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَفِي الثَّانِيَةِ بِ: قُلْ يَا

---

1 _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١١٥ (١١٧٢). (تحفة الأشراف : ٥٥٨٧)

أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَفِي الثَّالِثَةِ بِ: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، قَالَ: وَعَبْدُ الْعَزِيزِ هَذَا هُوَ وَالِدُ ابْنِ جُرَيْجٍ صَاحِبِ عَطَاءٍ، وَابْنُ جُرَيْجٍ اسْمُهُ: عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ، وَقَدْ رَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه: دعبدالعزيز بن جريج بيان دي فرمائي چي مونږ دعائشه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دوترو باره کي تپوس اوکړو چي په وترو کي به يي څه لوستل نو هغوئ اوويئيل په اولني رکعات کي به يي سبح اسم ربك الاعلي، او په دويم رکعات کي به يي قل يا ايهالكافرون، او په دريم رکعات کي به يي قل هو الله احد ، او معوذتين لوستل

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي، او عبدالعزيز راوي دعطاء دشاګرد ابن جريج پلاردي او دابن جريج نوم عبدالملك بن عبدالعزيز بن جريج دي،او يحي بن سعيد انصاري دا حديث په سند د عمرة عن عائشة عن النبي صلي الله عليه وسلم نقل کړي دي

****

١٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ

په وتروکي د دعاء قنوت لوستلوبيان

٤٦٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَبِي الْحَوْرَاءِ السَّعْدِيِّ، قَالَ: قَالَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَلِمَاتٍ أَقُولُهُنَّ فِي الْوِتْرِ " اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ " قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبِي الْحَوْرَاءِ السَّعْدِيِّ وَاسْمُهُ: رَبِيعَةُ بْنُ شَيْبَانَ، وَلَا نَعْرِفُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ هَذَا، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ، فَرَأَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ الْقُنُوتَ فِي الْوِتْرِ فِي السَّنَةِ كُلِّهَا، وَاخْتَارَ الْقُنُوتَ قَبْلَ الرُّكُوعِ، وَهُوَ قَوْلُ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ: سفيان الثوري، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَإِسْحَاقَ وَأَهْلُ

---

1 ـ سنن ابی داود في الصلاة ١٤٢٤ (١٤٢٤) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١١٥ (١١٧٣)

الْكُوفَةِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّهُ كَانَ "لَا يَقْنُتُ إِلَّا فِي النِّصْفِ الْآخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، وَكَانَ يَقْنُتُ بَعْدَ الرُّكُوعِ "وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، وَبِهِ يَقُولُ: الشافعي وَأَحْمَدُ.[1]

ترجمه : دحسن بن علي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه كلمات خودلي دي كوم چي زه په وترو كي وايم او هغه كلمات دادي

"اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ. وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ. وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ. وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ. تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ"

يعني اي الله ماته هدايت اوكړي او دهغه خلقو په ډله كي مي شامل كړي چاته چي تا هدايت كړي دي، ماته عافيت راكړي او په هغه خلقو كي مي شامل كړي چاته چي تا عافيت وركړي دي، او زما سرپرستي اوكړي او په هغه خلقو كي مي شامل كړي دچاچه تا سرپرستي كړي ده او څه چي تا ماته راكړي دي په هغي كي زما دپاره بركت واچوي، او دكوم شر چي تا فيصله كړي ده دهغي نه مي محفوظ اوساتي او يقينا تمامي فيصلي صرف ته كوي او ستا دفيصلي خلاف هيڅ فيصله نشي كيدي او دچاچه ته والي يي هغه هيڅ كله ذليل او خوار كيدي نشي اي زمونږه ربه ته ډير لوي بركت والايي او لوي شان والايي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او دا مونږ صرف په دي سند يعني دابو الحوراء په سند سره پيژنو او دابو الحوراء نوم ربيعه بن شيبان دي، زما دعلم مطابق په وترو كي د دعاء قنوت په سلسله كي ددينه بهتر كوم بل څيز دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي نه ښكاري ، او په دي باب كي علي رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي داهل علمو په وترو كي دقنوت ونيلو باره كي اختلاف دي، دابن مسعود رضي الله عنه خيال دي چي په وترو كي دعاء قنوت په پوره كال كي يو ځل وئيل پكار دي او هغوئ دركوع نه مخكي دعاء قنوت ونيل خوښ كړي دي او همدا دبعضي اهل علمو قول دي او دسفيان ثوري، ابن مبارك، اسحاق او اهل كوفه همدا قول دي، دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي هغه به صرف درمضان په اخري نصف كي دعاء قنوت لوستلو او دركوع نه پس به يي لوستلو بعضي اهل علمو هم دا قول اختيار كړي دي او دامام شافعي او امام احمد هم دا قول دي.

تشريح : په دي باب كي دري مسائل معلومول ضروري دي.

---

1 - سنن ابي داود في الصلاة ۳۴۰ (۱۴۲۵) ، سنن النسائي في قيام الليل ۵۱ (۱۷۴۶) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ۱۱۷ (۱۱۷۸) ، (تحفة الأشراف : ۳۴۰۴) ، مسند احمد (۱/ في ۱۹۹، ۲۰۰) ، سنن الدارمي في الصلاة ۲۱۴ (۱۶۳۲)

(١) په دي مسئله كي اختلاف دي چي دعاء قنوت په وترو كي په كال كي يو خل وئيل دي او كنه.

داما م ابو حنيفه په نزد په وترو كي دعاء قنوت (قنوت نازله) په كال كي يو خل دي او داما م مالك په نزد صرف په رمضان كي او داما م شافعي او احمد په نزد درمضان په نصف اخر كي حاصل دا شو چي دائمه ثلاثه په نزد قنوت په وترو كي صرف په رمضان كي دي.

(٢) دويمه مسئله داده: چي قنوت په وترو كي قبل الركوع دي او كه بعد الركوع دي په دي كي دوه مذاهب دي.

(١) داما م ابو حنيفه او امام مالك په نزد په وترو كي قنوت قبل الركوع دي.

(٢) داما م شافعي او امام احمد په نزد قنوت په وترو كي بعد الركوع لوستلي شي.

ددي ټولو مسائلو دلائل په فتح القدير دابن همام او دهدايه په نورو شروحو كي كتلي شي.

****

١١_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَنَامُ عَنِ الْوِتْرِ أَوْ يَنْسَاهُ

دوتر كولو نه بغير د اوده كيدلو يا دوتر د هيريدو بيان

٤٦٥_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ نَامَ عَنِ الْوِتْرِ أَوْ نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ وَإِذَا اسْتَيْقَظَ".[1]

ترجمه : ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دوتر كولو نه بغير اوده شي او يا ورنه ددي اداء كول هير شي هر كله چي ورته دا رایاد شي هم هغه وخت دي دا اداء كړي.

****

٤٦٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهِ فَلْيُصَلِّ إِذَا أَصْبَحَ" قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْتُ أَبَا دَاوُدَ السِّجْزِيَّ يَعْنِي سُلَيْمَانَ بْنَ الْأَشْعَثِ، يَقُولُ: سَأَلْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، عَنْ

---

1 _ سنن ابي داود في الصلاة ٣٣١ (١٤٣١)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢٢ (١١٨٨)، (تحفة الأشراف : ٤١٩٨)، مسند احمد (٣/ ٣١)

عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ. فَقَالَ أَخُوهُ عَبْدُ اللَّهِ: لَا بَأْسَ بِهِ، قَالَ: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدًا يَذْكُرُ عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ ضَعَّفَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، وَقَالَ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ ثِقَةٌ، قَالَ: وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالْكُوفَةِ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالُوا: يُوتِرُ الرَّجُلُ إِذَا ذَكَرَ وَإِنْ كَانَ بَعْدَ مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ، وَبِهِ يَقُولُ: سفيان الثوري. (١)

ترجمه : دزيد بن اسلم نه مرسلا مروي دي چي نبي كريم صلي الله علي وسلم فرمائيلي دي څوک چي دوتر کولو نه بغير اوده شي نو چي كله سحر پاڅي دا دي اداء كړي.

امام ترمذي وائي داحديث دسابقه حديث نه زيات صحيح دي ما دابوداود سجزي يعني سليمان بن اشعث نه اوريدلي دي فرمائيلي يي چي ما دامام احمد بن حنبل نه دعبدالرحمن بن زيد بن اسلم باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل دهغه په ورور عبدالله كي هيڅ قباحت نشته، ما د محمد بن اسماعيل بخاري نه اوريدلي دي چي د علي بن عبدالله (ابن المديني) نه يي روايت كولو چي هغوئ دعبدالرحمن بن زيد بن اسلم تضعيف كړي دي او دا يي وئيلي دي چي دهغه ورور عبدالله بن زيد بن اسلم ثقه دي، دكوفي بعضي اهل علم په دي حديث عمل اختيار كړي دي هغوئ وائي چي كله سړي دوترو نه اوده پاتي شي او نمر راختلي وي نو همدغه وخت دي وتر اوكړي او دا دسفيان ثوري قول هم دي.

****

١٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي مُبَادَرَةِ الصُّبْحِ بِالْوِتْرِ

دسبا كيدو نه مخكي دوتر كولو بيان

٤٦٧_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ " قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دسبا كيدو نه به مخكي وتر كوئ امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف

[2] ـ صحيح مسلم في المسافرين ٣٠ (٧٥٠) . سنن ابي داود في الصلاة ٣٤٣ (١٤٣٦) . (تحفة الأشراف : ٨١٣٢) . مسند احمد (٢/ في ٣٧، ٣٨)

تشريح : دا باب دائمه ثلاثه دمسلك دپاره مستدل دي.
دلته دسبا كيدو نه څه مراد دي دائمه ثلاثه په نزد دسحر مونځ مراد دي او دهغوئ په نزد ددي حديث مطلب دادي چي دسحر دمونځ نه مخكي وتر اداء كول پكار دي او چي دسحر مونځ اوكړي نو بيا خو دوترو وخت تير شو او ګناه لازمه شوه.
دامام ابو حنيفه قول دي چي دسباكيدو نه دسحر مونځ مراد نه دي بلكه صبح صادق مراد دي او په حديث كي دوترو د اداء دوخت بيان دي يعني دصبح صادق نه مخكي وتر اوكړئ او دا ددي د اداء وخت دي چي صبح صادق داخل شي نو د وترو اداء كولو وخت ختم شو.

****

٤٦٨_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَوْتِرُوا قَبْلَ أَنْ تُصْبِحُوا".([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دسبا كيدو نه به مخكي وتر اداء كوئ.

تشريح : په دي حديث كي هم احناف دسبا كيدو نه صبح صادق مراد كوي او ائمه ثلاثه ورنه دسحر مونځ مراد كوي.

****

٤٦٩_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ فَقَدْ ذَهَبَ كُلُّ صَلَاةِ اللَّيْلِ وَالْوِتْرُ، فَأَوْتِرُوا قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ" قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى قَدْ تَفَرَّدَ بِهِ عَلَى هَذَا اللَّفْظِ، وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَا وِتْرَ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ" وَهُوَ قَوْلُ غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ وَبِهِ يَقُولُ: الشافعي، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، لَا يَرَوْنَ الْوِتْرَ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ.([2])

---

[1] _ صحيح مسلم في المسافرين ٢٠ (٧٥٤) . سنن النسائي في قيام الليل ٣١ (١٦٨٣، ١٦٨٥) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢٢ (١١٨٩) . (تحفة الأشراف : ٤٣٨٤) . مسند احمد (٣ في ١٣، ٣٥، ٣٧، ٧١) . سنن الدارمي في الصلاة ٢١١ (١٦٢٩)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٧٦٧٤)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي سبا راوخيژي نو دقيام الليل او وترو تمام وخت ختم شي لهذا دسبا راختلو نه مخكي وتر اداء كوي.

امام ترمذي وائي سليمان بن موسي ددي الفاظو په نقل كي منفرد دي، دا رنگي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي فرمائيل يي دسحر دمونځ نه پس وتر كول نشته او دډيرو او اكثرو اهل علمو همداقول دي. امام شافعي احمد او اسحاق بن راهويه همدا وائي او دوی دسحر دمونځ نه پس وتر كول درست نه گنړي.

****

١٣ـ بَابُ مَا جَاءَ لاَ وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ

په يوه شپه كي دوباره وتر كول نشته.

٤٧٠ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا مُلاَزِمُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَدْرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لاَ وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي الَّذِي يُوتِرُ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ، ثُمَّ يَقُومُ مِنْ آخِرِهِ، فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ نَقْضَ الوِتْرِ، وَقَالُوا: يُضِيفُ إِلَيْهَا رَكْعَةً وَيُصَلِّي مَا بَدَا لَهُ، ثُمَّ يُوتِرُ فِي آخِرِ صَلاَتِهِ لِأَنَّهُ لاَ وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ، وَهُوَ الَّذِي ذَهَبَ إِلَيْهِ إِسْحَاقُ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: إِذَا أَوْتَرَ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ ثُمَّ نَامَ ثُمَّ قَامَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ يُصَلِّي مَا بَدَا لَهُ وَلاَ يَنْقُضُ وِتْرَهُ وَيَدَعُ وِتْرَهُ عَلَى مَا كَانَ. وَهُوَ قَوْلُ: سفيان الثوري، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَابْنِ المُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ وَأَهْلِ الكُوفَةِ وَأَحْمَدَ. وَهَذَا أَصَحُّ، لِأَنَّهُ قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَدْ صَلَّى بَعْدَ الوِتْرِ".[1]

ترجمه : دطلق بن علي رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي په يوه شپه كي دوباره وتر كول پكار نه دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي، د هغه چا باره كي داهل علمو اختيار دي څوك چي دشپي په اوله حصه كي وتر كوي او بيا دشپي په اخري حصه كي دقيام الليل دپاره پاڅي

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣٢٢ (١٤٣٩) . سنن النسائي في قيام الليل ٢٩ (١٦٨٠) . (تحفة الأشراف : ٥٠٢٣) . مسند احمد (٤/ ٢٣)

نو په صحابه کرامو او ددوئ نه پس په خلقو کي دبعضي اهل علمو په قول وتر ماتول پکار دي هغوئ وائي چي دي سره به يو رکعات بل يوځاي کوي تردي چي جفت شي او بيا يي چي څومره خوښه وي دومره مونځ دي اوکړي او دمونځ په اخر کي دي وتر اوکړي ځکه چي په يوه شپه کي دوباره وتر کول نشته، اسحاق بن راهويه هم دا قول اختيار کړي دي، په صحابه کرامو او اهل علمو کي دبعضو دا قول دي چي يو کس دشپي په اوله حصه کي وتر اوکړل او بيا اوده شو او بيا دشپي په اخري حصه کي بيدار شو نو دي چي څومره مونځ کول غواړي دومره دي اوکړي او وتر دي نه ماتوي بلکه وتر دي پخپل حال پريږدي سفيان ثوري، مالك بن انس، ابن مبارك، شافعي، او اهل کوفه او داحمد همدا قول دي او دا زيات صحيح قول دي ځکه چي په نورو روايتونو کي مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دوترو نه پس مونځ کړي دي

دطلق بن علي رضي الله عنه حالات:

نوم طلق دپلار نوم علي کنيه ابو علي حنفي يمامي طلق بن ثمامه ورته ونيلی شي دمسلمانيدو دپاره ديمامي دوفد.سره راغلی وو څوارلس روايات ورنه منقول دي چي په دوئ کي يو هم په صحيحينو کي نشته.

****

٤٧١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ مَسْعَدَةَ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مُوسَى الْمَرَئِيِّ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُصَلِّي بَعْدَ الْوِتْرِ رَكْعَتَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ نَحْوُ هَذَا عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، وَعَائِشَةَ وَغَيْرِ وَاحِدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (١)

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دوترو نه پس دوه رکعاتونه کول.

امام ترمذي وائي دابو امامه ، عائشه رضي الله عنهما او بعضي نورو خلقو نه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايتونه مروي دي.

****

١٤_ باب مَا جَاءَ فِي الْوِتْرِ عَلَى الرَّاحِلَةِ

په سورلئ دپاره دوترو کولو بيان

---

١ _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢٥ (١١٩٥) . (تحفة الأشراف : ١٨٢٥٥)

٤٧٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي سَفَرٍ فَتَخَلَّفْتُ عَنْهُ، فَقَالَ: أَيْنَ كُنْتَ ؟ فَقُلْتُ: أَوْتَرْتُ، فَقَالَ: أَلَيْسَ لَكَ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ، "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ عَلَى رَاحِلَتِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ إِلَى هَذَا، وَرَأَوْا أَنْ يُوتِرَ الرَّجُلُ عَلَى رَاحِلَتِهِ، وَبِهِ يَقُولُ الشافعي، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا يُوتِرُ الرَّجُلُ عَلَى الرَّاحِلَةِ، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يُوتِرَ نَزَلَ فَأَوْتَرَ عَلَى الْأَرْضِ، وَهُوَ قَوْلُ بَعْضِ أَهْلِ الْكُوفَةِ.[1]

ترجمه: دسعيد بن يسار قول دي چي زه په يو سفر كي دابن عمر رضي الله عنهما سره روان وم او زه ورنه روستو پاتي شوم هغه رانه تپوس اوكړو ته چرته پاتي شوي وي؟ ما عرض اوكړو چي وتر مي كول هغوئ اوفرمائيل ايا درسول الله صلي الله عليه وسلم په ذات كي ستا دپاره اسوه حسنه نشته؟ ماخورسول الله صلي الله عليه وسلم لره پخپلي سورلئ باندي دپاسه دوترو كولو په حال كي ليدلي دي.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عباس نه هم روايت وارد دي په صحابه كرامو كي دبعضي اهل علمو دا قول دي چي په سورلئ باندي وتر كول جائز دي او همدا دامام شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه قول هم دي مګر بعضي اهل علم وائي چي په سورلئ باندي وتر كول پكار نه دي كله چي څوك دوترو اراده اوكړي نو دسورلئ نه دي كوز شي او دا دي اداء كړي او دا دبعضي اهل كوفه قول هم دي.

****

١٥_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الضُّحَى

دڅاښت مونځ

ايا دڅاښت او اشراق مونځ يو دي او كه نه؟ دفقهاء او محدثينو په نزد دواړه يو شي دي كه دنمر ختلو نه پس په تعجيل سره اوكړي شي نو اشراق دي او كه په تاخير سره اوكړي شي نو

[1] صحيح البخاري في الوتر ٥ (٩٩٩)، وتقصير الصلاة ٧ (١٠٩٥)، و٨ (١٠٩٨)، و١٢ (١١٠٥)، صحيح مسلم في المسافرين ٤ (٧٠٠)، سنن النسائي في قيام الليل ٣٢ (١٦٨٧،١٦٨٩)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٢٧ (١٢٠٠)، (تحفة الأشراف: ٧٠٨٥)، موطا امام مالک في صلاة الليل ٣ (١٥)، مسند احمد (٢ في ٥٧، ١٣٨)، سنن الدارمي في الصلاة ٢١٣)

ثابت دي چنانچه امام ترمذي او امام احمد په دي باندي باب قائم کړي دي او ددي لاندي يې تمام روايتونه راوړي دي.

مګر صوفيان وائي چي دا دواړه جدا جدا مونځونه دي داشراق مونځ کم از کم دوه رکعاته دي اوزيات نه زيات څلور رکعاته دي او دڅاښت مونځ کم از کم اته رکعاته دي او زيات نه زيات دولس رکعاته دي ظاهره ده چي په دي مسئله کي د صوفيانو قول څه زيات اهميت نه لري ځکه چي سفيان دشريعت په اسرارو خبردار نه وي دشريعت په رموسو خبردار خلق او په نصوصو پوهيدونکي خلق فقهاء او محدثين دي پس ددوئ چي کومه رائي وي هغه صحيح ده.(احسن الهدايه).

****

٤٧٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ فُلَانِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عَمِّهِ ثُمَامَةَ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى الضُّحَى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بَنَى اللَّهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَنُعَيْمِ بْنِ هَمَّارٍ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَعُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ السُّلَمِيِّ، وَابْنِ أَبِي أَوْفَى، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.(1)

ترجمه : انس رضي الله عنه وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دڅاښت دولس رکعاتونه اوکړل الله تعالي به دهغه دپاره په جنت کي دسرو زرو يو محل تيار کړي.

امام ترمذي وائي دانس حديث غريب دي مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي. او په دي باب کي د ام هاني، ابوهريره، نعيم بن حمار، ازبوذر عائشه، ابو امامه، عتبه بن عبد سلمي، ابن ابي اوفي، ابوسعيد خدري، زيد بن ارقم او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : **دڅاښت دمونځ فضيلت**

وَيُجزِىءُ مِنْ ذٰلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُما مِنَ الضُّحَى)) رواه مسلم . يعني د مذکوره تسبيحاتو او اذکارو په بدل کي په بدل کي دڅاښت دوه رکعاتونه کافي دي ځکه چي په مونځ کي دبدن تمام اعضاء مصروف کيږي اوشکريه ادا کوي.

1 ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨٧(١٣٨٠) . (تحفة الأشراف : ٥٠٥)

دڅاښت مونځ ددوه رکعاتونو نه تردولسو پوري دی مګر په دي کي درسول الله صلي الله عليه وسلم عمومي عادت څلور رکعاته دی محمد ابن جرير ، طبري فرمائي چي دڅاښت مونځ په باره کي څومره روايات مروي دي هغه دتواتر درجي ته رسيدلي دي.
قاضي ابوبکر فرمائي چي دڅاښت مونځ دسابقه انبياؤ او رسولانو مونځ دی.
علامه سيوطي دابوهريره رضي الله عنه نه دا روايت نقل کړی دی چي داود عليه السلام به څاښت مونځ په کثرت سره کولو.
ابن نجار دثوبان رضي الله عنه نه روايت نقل کړی دی چي دڅاښت مونځ به ادم . نوح، ابراهيم، موسي، عيسي، عليهم السلام کولو.
په يو روايت کي دي څوک چي دڅاښت د دوه رکعاته مونځ اهتمام کوي نو که ګناهونه يي دسمندر د ځګ برابر وي نو هم به ورته معاف شي.
دڅاخت مونځ کم از کم څلور رکعاته دي او زيات نه زيات دولس رکعاته دي ددولسو نه دزياتو رکعاتونو تعداد په هيڅ يو حديث کي منقول نه دی.
قاضي ابوبکر وائي دا مونځ دسابقه انبياؤ سنت هم دی، ابن نجار دثوبان رضي الله عنه نه روايت نقل کړی دی چي ادم ، نوح، ابراهيم، موسي، او عيسي عليهم السلام به هم ددي مونځ اهتمام کولو، ابن جرير طبري وائي چي دڅاښت مونځ په احاديثو کي معنا متواتر دی ، ابن حجر وائي تقريبا دا دشلو صحابه کرامو نه منقول دي او دعيني په نزد د درويش صحابه کرامو نه ثابت دي. (روضة الصالحين)

****

٤٧٤_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: مَا أَخْبَرَنِي أَحَدٌ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى إِلَّا أُمُّ هَانِئٍ، فَإِنَّهَا حَدَّثَتْ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ، فَاغْتَسَلَ فَسَبَّحَ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ مَا رَأَيْتُهُ صَلَّى صَلَاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا، غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَكَأَنَّ أَحْمَدَ رَأَى أَصَحَّ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَابِ حَدِيثَ أُمِّ هَانِئٍ وَاخْتَلَفُوا فِي نُعَيْمٍ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: نُعَيْمُ بْنُ خَمَّارٍ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: ابْنُ هَمَّارٍ، وَيُقَالُ: ابْنُ هَبَّارٍ وَيُقَالُ: ابْنُ هَمَّامٍ، وَالصَّحِيحُ ابْنُ هَمَّارٍ، وَأَبُو نُعَيْمٍ وَهِمَ فِيهِ، فَقَالَ: ابْنُ حِمَازٍ

وَأَخْطَأَ فِيهِ ثُمَّ تَرَكَ. فَقَالَ نُعَيْمٌ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وأَخْبَرَنِي بِذَلِكَ عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ أَبِي نُعَيْمٍ. (1)

ترجمه : دعبدالرحمن بن ابي ليلي بيان دي چي ماته ام هاني خبر راكړي دي چي هغوئ رسول الله صلي الله عليه وسلم لره دڅاښت په مونځ كولو ليدلي وو. دام هاني بيان دي چي دفتح مكه په ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم زما كور ته داخل شو او غسل يي اوكړو او اته ركعاتونه يي اوكړل او ما كله رسول الله صلي الله عليه وسلم نور كله ددي مونځ نه په زيات مختصر مونځ كولو نه دي ليدلي البته ركوع او سجدي به ي پوره پوره كولي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دامام احمد بن حنبل په نظر كي دا حديث په دي باب كي دټولو نه زيات صحيح حديث دي.

دام هاني فاخته بنت ابي طالب رضي الله عنها حالات:

نوم فاخته كنيه ام هاني دپلار نوم ابو طالب دمور نوم فاطمه بنت اسد ده، دا دعلي رضي الله عنه حقيقي خور ده دهبيره بن عمرو مخزومي سره يي نكاح شوي وه دفتح مكي په ورځ مسلمانه شوه ليكن ددي خاوند هبيره نجران ته اوتختيدو دام هاني درسول الله سره ډير محبت وو رسول الله چي دفتح مكي په ورځ ددوئ كور ته راغي نو شربت يي اوڅكلو او بيايي ددينه هغي ته هم وركړو ام هاني اووئيل زما روژه ده ليكن درسول الله صلي الله عليه وسلم جوټه يي واپس كول نه غوښتل (مسند احمد).

يوځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي ام هاني چيلئ اوساته دا دډير خير او بركت والا څيز دي دامير معاويه رضي الله عنه په زمانه كي وفات شوه او دمروياتو شمير يي ۴۲ دي.

****

---

1 - صحيح البخارى في تقصير الصلاة ١٢ (١١٠٣). والتهجد ٣١ (١١٧٦). والمغازى ٥٠ (٤٢٩٢). صحيح مسلم في المسافرين ١٣ (٨٠ في ٣٣٦). سنن ابى داود في الصلاة ٣٠١ (١٢٩١). (تحفة الأشراف: ١٨٠٠٤). مسند احمد (٦ في ٣٤٢٣٤٣). سنن الدارمى في الصلاة ١٥١ (١٤٩٣). وانظر أيضا: صحيح البخارى في الغسل ٢١ (٢٨٠). والصلاة ٤ (٣٥٧). الجزية ٩ (٣١٧١). والأدب ٩٣ (٦١٥٨). وسنن النسائى في الطهارة ١٤٣ (٢٢٦). والغسل ١١ (٤١٥). وسنن ابن ماجه في الطهارة ٥٩ (٤٦٥). والإقامة ١٨٧ (١٣٢٣). والمؤطاء في قصر الصلاة ٨ (٢٨). ومسند احمد (٦ في ٣٤١. ٣٤٣. ٣٤٤. ٣٤٥)

٤٧٥_ حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ السِّمْنَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَوْ أَبِي ذَرٍّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، أَنَّهُ قَالَ: " ابْنَ آدَمَ ارْكَعْ لِي مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ أَكْفِكَ آخِرَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دابوالدرداء یا ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي فرمائي اي بني ادم ته د ورځي په شروع كي زما درضا دپاره څلور ركعاتونه كوه زه به تمامه ورځ ستا دپاره كافي يم ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي.

****

٤٧٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ نَهَّاسِ بْنِ قَهْمٍ، عَنْ شَدَّادٍ أَبِي عَمَّارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ حَافَظَ عَلَى شُفْعَةِ الضُّحَى غُفِرَ لَهُ ذُنُوبُهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى وَكِيعٌ، وَالنَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ نَهَّاسِ بْنِ قَهْمٍ وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِهِ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دڅاښت د دوه ركعاتونو محافظت اوكړو دهغه ګناهونه به اوبخلي شي اګر چي دا دسمندر دزګ براب وي.

امام ترمذي وائي وكيع، نضر بن شميل، او نورو اهل علمو دا حديث د نهاس بن قهم په سند مروي دي او موږ نهاس صرف دده په همدي حديث پيژنو.

****

٤٧٧_ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: " كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى حَتَّى نَقُولَ: لَا يَدَعُ وَيَدَعُهَا حَتَّى نَقُولَ: لَا يُصَلِّي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (3)

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٩٢٤) و ١١٩٠٤)

2 ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨٧ (١٣٨٣). (تحفة الأشراف: ١٣٤٩١)

3 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٢٢٤)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دځاښت مونځ كولو تردي پوري چي مونږ به ګمان اوكړو چي دي دي لره نه پريږدي او هغه به پريخودل تردي پوري چي مونږ به ګمان اوكړو چي ددينه پس به دا نه كوي. امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي.

****

١٦_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلاَةِ عِنْدَ الزَّوَالِ

دزوال وخت كي مونځ كول

٤٧٨_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي الْوَضَّاحِ هُوَ: أَبُو سَعِيدٍ الْمُؤَدِّبُ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ السَّائِبِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَقَالَ: إِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ وَأَبِي أَيُّوبَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ السَّائِبِ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ "يُصَلِّي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ بَعْدَ الزَّوَالِ لَا يُسَلِّمُ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ"(١).

ترجمه : دعبدالله بن سائب رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دزوال نه پس او ماسپخين فرضونه مخكي څلور ركعته كول اوفرمائيل به يی داداسی وخت دی چي پدي كي داسمان دروازي پرانستی وي زه دا غواړم چي په دی وخت كي مي نيك عمل بره وخيژي.

امام ترمذي وايي په دي باب كي د علي او ابو ايوب رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي. اود عبد الله بن السائب حديث حسن غريب دی، اود رسول الله نه دا هم مروي دي چي د زوال نه پس به يي څلور ركعتونه كول او سلام به يي نه ګرځولو مګر ددي په اخير كي.

لغات : الساعة: ګنټه ، جمع يي ساعات راځي ، صعد يصعد صعدا په معني دختلو ، دمزيدو نه هم مستعمل دي.

---

١ _ أخرجه: الترمذي. والنسائي في "الكبرى". وقال: ((حديث حسن غريب)) ومسند احمد (٣ في ٤١١)

تشريح : كان يصلي اربعاً بعد ان تزول الشمس قبل الظهر : يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم به دماسپخين نه مخكې دزوال نه پس څلور ركعاتونه كول دا كوم څلور ركعاتونه دي؟ په دي كې دعلماو اختلاف دى دبعضو په نزد دا هغه څلور سنت مؤكد ركعاتونه دي كوم چې دماسپخين نه مخكې ادا كولى شي ليكن دبعضو په نزد دا دسنت مؤكده نه علاوه دي كوم چې دزوال نه پس ادا كولى شي اكثرو علماؤ دويم قول ته ترجيح وركړې دى چې دزوال نه پس څوك څلور ركعاته اوكړي الله تعالي به دده دپاره داسمان تمامي دروازې پرانيځي كه دچا نه دماسپخين څلور ركعاته سنت پاتي شي يعني دسنت ادا كولو نه بغير فرض اوكړي نو ددي په روستو ادا كولو كې داحنافو دوه اقوال دي اولنى قول دامام محمد بن حسن دى دده په نزد به اول څلور ركعاتونه كوي او بيابه وروسته دوه ركعاته كوي ليكن دويم قول دادى چې اول به دوه ركعاته كوي او روستو به څلور كوي او همدا مفتي به قول دى او همدا دعائشه رضي الله عنها دروايت نه معلوميږي.

دعبدالله بن سائب رضي الله عنه حالات:

نوم عبدالله كنيه ابو عبدالرحمان دده نه مكي والاقرائت زده كړې دى علامه ذهبي ليكلي دي چې دده ته دنبي كريم صلي الله عليه وسلم صحبت حاصل دى دابئ بن كعب رضي الله عنه نه يي قران ياد كړې وو او دعبدالله بن زبير په زمانه كې وفات شوى دى توټل ورنه اوه روايات مروي دي چې يو ددينه په مسلم كې دى او باقي په نورو كتابونو كې دي.

****

١٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي صَلاَةِ الحَاجَةِ

٤٧٩ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عِيسَى بْنِ يَزِيدَ البَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرٍ السَّهْمِيُّ، وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُنِيرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَكْرٍ، عَنْ فَائِدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ كَانَتْ لَهُ إِلَى اللَّهِ حَاجَةٌ أَوْ إِلَى أَحَدٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فَلْيَتَوَضَّأْ فَلْيُحْسِنِ الوُضُوءَ، ثُمَّ لِيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ لِيُثْنِ عَلَى اللَّهِ وَلْيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ لِيَقُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الحَلِيمُ الكَرِيمُ، سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ العَرْشِ العَظِيمِ، الحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ، أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَالغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، لَا تَدَعْ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ، وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ، وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ ". قَالَ أَبُو

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ فَائِدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَفَائِدٌ هُوَ أَبُو الْوَرْقَاءِ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن ابي اوفي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د چا چي الله تعالي ته يا په انسانانو کي چاته څه حاجت وي نو اودس دي وکړي اوپه ښه شان سره دي اودس وکړي، بيا دي دوه رکعاته مونځ وکړي، بيا دي د الله تعالي ثناء اووايي او بيا دي په رسول الله درود اووايي او بيا دي دا دعاء اووايي:

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ. سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ. الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ. أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ. وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ. وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ. وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ. لَا تَدَعْ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ. وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ. وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ".

نشته لائق دبندګئ مګر صرف الله تعالي دی، چي صبرناك او مهربان ذات دي، پاکي ده الله تعالي لره چي پيدا کونکي د عرش عظيم دی، اوثناء ده هغه ذات لره چي پالونکي دمخلوقاتو دی، اي الله زه تانه ستا درحمت اسباب غواړم (يعني دداسی کارونو توفيق راکړی دکومو په برکت چي په بندګانو رحم کوی) او يا الله تانه ستا دمغفرت اسباب غواړم اودهری نيکئ توفيق غواړم اودهری ګناه نه بچ کيدل غواړم اي الله دمغفرت نه بغير مي هيڅ يوه ګناه پري نږدي، او هيڅ يو حاجت مي د پوره کيدو نه بغير پري نږدی او هيڅ يو داسي حاجت مي د پوره کيدو نه بغير پري نږدي کوم چي ستا خوښ وي مګر چي پوره يي کړي، اي د ټولو رحم کونکو نه زيات رحم کونکيه.

امام ترمذي وايي دا حديث غريب دي او په سند يي کلام شوي دي او فائد بن عبد الرحمن په باب د حديث کي ضعيف دی.اود فائد اسم کنيه ابو الورقاء ده.

لغات: موجبات : واجبونکي لازمونکي، وجب وجوبا واجبول ، عزائم جمع دعزم معني پخه اراده، الغنيمة جمع دغنائم معني مفت حاصلول، غنم دسمع نه غنما وغنيمة وغناما، مفت حاصلول. الفوز : فاز يفوز فوزا کاميابيدل.

تشريح : موجبات رحمتك يعني ای الله دداسي خبرو يا داسي عمل يا داسي عادت توفيق راکړي دکوم په وجه چي جنت واجبيږي.

ديته نږدي معني علامه سيوطي کړي ده چي په کوم عمل دجنت وعده ده دهغي دکولو دي الله

---

١ _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨٩ (١٣٨٤). (تحفة الأشراف: ٥١٧٨)

توفيق ورکړي کله چې عمل پوره شي نو بيا الله تعالي هم خپله وعده پوره کوي

وعزائم مغفرتك: او لازمونکي ستا دمغفرت، عزائم دعزيمة جمع ده مطلب دادی چې الله تعالي پخپل فضل اوکرم سره دخپلو نيکانو بندګانو سره عزم کړی دی چې مغفرت به ورته کوم ورنه په الله تعالي هيڅ څيز واجب نه دی.

والسلامة من کل اثم : ابن حجر هيثمي ددي جملي دا مطلب بيان کړی دی چې ای دعا قبلونکيه الله په ما کي دګناهونو او رزائلو مادي بالکل ختم کړي.

سوال: دا خو دمعصوم کيدو دعا ده کومه چې جائز نه ده؟

جواب: اګر چې معصوم صرف انبياء دي او فرشتي ليکن داسي دعا کول چې ای الله دګناهونو او رزائلو نه زما داخلاقو حفاظت اوکړي جائز ده.

****

۱۸_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الِاسْتِخَارَةِ

داستخاري دمونځ بيان

۴۸۰_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الْمَوَالِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا الِاسْتِخَارَةَ فِي الْأُمُورِ كُلِّهَا كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، يَقُولُ: "إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالْأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ، ثُمَّ لِيَقُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ. فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ. اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ، فَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ، قَالَ: وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ" قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي أَيُّوبَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا

نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي الْمَوَالِي، وَهُوَ شَيْخٌ مَدِينِيٌّ ثِقَةٌ، رَوَى عَنْهُ سُفْيَانُ حَدِيثًا. وَقَدْ رَوَى عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ، وَهُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الْمَوَالِي. [1]

ترجمه جابر رضي الله عنه وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به مونږ ته په تمامو کارونو کي استخاره داسي ښودله څنګه چي به يې راته دقران شريف يو سورت ښودلو اوفرمائيل به يې چي کله تاسو ته څه اهم کار پيښ شي نو د فرضو نه علاوه دي دوه رکعته مونځ اوکړئ او دا دعا اولولي:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ. فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ. وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ. وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ. اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ. فَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ. وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي. أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ. وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ. ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ. قَالَ: وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ"

يعني اى الله زه ستا دعلم په ذريعه خبريدل اوستا دقدرت په ذريعه ددى په عمل كي دراوستلو طاقت غواړم او ستا نه ستالويى فضل غواړم ځكه چي ته قادر يى او زه قدرت نه لرم ته ټول هر څه باندي عالم يى او زه نه پوهيږم ستا ذات علام الغيوب دى اى الله كه چري ستا په علم كي دا كار ديني، معاشي او په اعتبار دانجام ځما دپاره بهتروي (ياددى الفاظو په ځايى رسول الله صلي الله عليه وسلم دارنګى اوفرمائيل چه) داكار دنيا او اخرت كي بهتروي نو دى باندي ماته قدرت راكړي او دا زما دپاره اسان كړي، بيا دي كي بركت واچوي او كه چرى ستا په علم كي دا كار مادپاره ديني، معاشي او دانجام په اعتبار سره بد وي (يايى دا اوفرمائيل چه) دا كار دنيا او اخرت كي بد وي نو ددى خيال ځما دزړه نه اوباسى او ددى دكولو نه مي منعه كړى او ما دپاره هغه اسان كړى چرته چي مي خيروي ماپه هغى باندي راضي كړى.

دهذا الامرپه ځايى دي دخپل كار نوم واخلي يادي په نيت كي راولي.

لغات: استخارة: استخار استخارة: معني خير طلب كول، عاجل: دعجل نه عجلا و عجلة په

---

[1] صحيح البخاري في التهجد ٢٥ (١١٦٢)، والدعوات ٤٨ (٦٣٨٢)، التوحيد ١٠ (٧٣٩٠)، سنن ابي داود في الصلاة ٣٦٦ (١٥٣٨)، سنن النسائي في النكاح ٢٧ (٣٢٥٥)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٨٨ (١٣٨٣)، (تحفة الأشراف: ٣٠٥٥)، مسند احمد (٣ في ٣٤٤) وابن ماجه وابن حبان والبيهقي

معني دجلتئ کولو دي ، عاجل معني زر ورکونکي، اجل: معني وروسته پاتيي کيدونکي او تاخير کونکي صفت يي اجل او اجيل راځي ، اجل دمرګ نيتي ته وئيلي شي. جمع يي اجال ده.

تشريح : رسول الله به دقران دسورتونو پشان داستخاري تعليم ورکولو

استخاره دهغه کارونو دپاره ضروري ده دکومو تعلق چي دمباحاتو سره وي چي انسان ته پکي دخير اوشر پته نه لګي اوددينه علاوه دفرائضو او واجباتو او سنن اومستحباتو ادا کول خوپه هر حال کي ضروري دي او چي کوم محرمات اومکروهات دي دهغي نه ځان ساتل ضروري دي په هغي کي هم استخاره صحيح نه وي.

علماء وائي دا اصول ياقاعده کليه نه ده چي څوك استخاره کوي ضرور به ورته غيبي اشاره کيږي اوبه همدي وجه غيبي اشاري ته انتظار کول نه دي پکار بلکه داستخاري نه پس اودسوچ کولو نه پس دظاهري اسبابو مطابق چي ورته کومه خبره ښه ښکاره شي هغه دي اختيار کړي .

اشرف علي تهانوي ليکلي دي په استخاره کي ضروري څيز دوه رکعاته مونځ او داستخاري دعا لوستل دي باقي اوده کيدل اوخوب ليدل هرګز شرط نه دي دا هر څه عوامو دځان نه جوړکړي دي مګر په بعضي وختونو کي ممکن ده چي ددي اثر دخوب په شکل کي ظاهر شي لکن داددي دپاره شرط نه دی.(روضة الصالحين، دليل الفالحين)

استخاره په فرضي اوپه ناروا کارونو ندي کول پکار ،داپه مباح کارونو کي دکوم کارد کولويانه کولودپاره کيږي،يادنورودعاګانوپشان يوه دعاده که قبوله شي نوددي کارطرف ته به زړه مائله شي اواسباب به ئي مهياشي،خوهرچه په خلقوکي مشهوره ده چي داستخاري نه پس اوده کيدل ضروري دي څکه چي پدي دخوب په ذريعه رهنمائي کيږي داخبره بالکل غلطه اوبي بنياده ده .که الله تعالي اوغواړي خوب به ورله راولي ورنه داخوڅه ضروري خبره نده.

همدارنګي دغلاوغيره په صورت کي دخلقونه دځان دپاره داستخاري مطالبه کول چي ګني پدي غلامعلوميږي ،ياکومه بله غيبي خبره پدي سرګنديږي بهرحال په خپله يادبل چاپه ذريعه دمغيباتوداظهاردپاره استخاره کول اوداعقيده لرل چي هرقسم معلومات پدي حاصليږي دا سراسر شرك دي اواجتناب ورنه لازم دي .(فضائل اعمال لابي عبد الله مغربي)

****

۱۹_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ التَّسْبِيحِ

د صلاة تسبيح بيان

٤٨١ ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ أُمَّ سُلَيْمٍ غَدَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: عَلِّمْنِي كَلِمَاتٍ أَقُولُهُنَّ فِي صَلَاتِي، فَقَالَ: "كَبِّرِي اللهَ عَشْرًا، وَسَبِّحِي اللهَ عَشْرًا، وَاحْمَدِيهِ عَشْرًا، ثُمَّ سَلِي مَا شِئْتِ، يَقُولُ: نَعَمْ نَعَمْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَالْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي رَافِعٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ حَدِيثٍ فِي صَلَاةِ التَّسْبِيحِ وَلَا يَصِحُّ مِنْهُ كَبِيرُ شَيْءٍ، وَقَدْ رَأَى ابْنُ الْمُبَارَكِ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ صَلَاةَ التَّسْبِيحِ وَذَكَرُوا الْفَضْلَ فِيهِ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو وَهْبٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ الْمُبَارَكِ عَنِ الصَّلَاةِ الَّتِي يُسَبَّحُ فِيهَا، فَقَالَ: "يُكَبِّرُ، ثُمَّ يَقُولُ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ، ثُمَّ يَقُولُ: خَمْسَ عَشْرَةَ مَرَّةً سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ يَتَعَوَّذُ وَيَقْرَأُ: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ سورة وَفَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً، ثُمَّ يَقُولُ: عَشْرَ مَرَّاتٍ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ يَرْكَعُ فَيَقُولُهَا عَشْرًا، ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَيَقُولُهَا عَشْرًا، ثُمَّ يَسْجُدُ فَيَقُولُهَا عَشْرًا، ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَيَقُولُهَا عَشْرًا، ثُمَّ يَسْجُدُ الثَّانِيَةَ فَيَقُولُهَا عَشْرًا، يُصَلِّي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ عَلَى هَذَا، فَذَلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُونَ تَسْبِيحَةً فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، يَبْدَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ بِخَمْسَ عَشْرَةَ تَسْبِيحَةً، ثُمَّ يَقْرَأُ ثُمَّ يُسَبِّحُ عَشْرًا، فَإِنْ صَلَّى لَيْلًا فَأَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يُسَلِّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ، وَإِنْ صَلَّى نَهَارًا فَإِنْ شَاءَ سَلَّمَ وَإِنْ شَاءَ لَمْ يُسَلِّمْ" قَالَ أَبُو وَهْبٍ: وَأَخْبَرَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي رِزْمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، أَنَّهُ قَالَ: يَبْدَأُ فِي الرُّكُوعِ بِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ وَفِي السُّجُودِ بِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثًا، ثُمَّ يُسَبِّحُ التَّسْبِيحَاتِ، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ: وَحَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ زَمْعَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ وَهُوَ ابْنُ أَبِي رِزْمَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ: إِنْ سَهَا فِيهَا يُسَبِّحُ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ عَشْرًا عَشْرًا، قَالَ: لَا إِنَّمَا هِيَ ثَلَاثُ مِائَةِ تَسْبِيحَةٍ. (١)

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ام سليم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضره شوه او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ماته داسي كلمات اوښايه چي زه يي په مونځ كي وايم رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل لس پيري

---

١ ـ سنن النسائي في السهو ٥٧ (١٣٠٠). (تحفة الأشراف: ١٨٥). مسند احمد (٣ في ١٢٠)

الله اكبر وايه او لس پيري سبحان الله وايه او لس پيري الحمدلله وايه او بيا چي دي څه خوښه وي هغه غواړه او الله تعالي په هريو څيز هو هو وائي (يعني قبلوي يي)
امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن غريب دي او په دي باب كي د ابن عباس. عبدالله بن عمرو، فضل بن عباس، او او رافع رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. دصلاة تسبيح په سلسله كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نور احاديث هم مروي دي ليكن زيات صحيح نه دي، ابن مبارك او بعضي نور اهل علم دصلاة تسبيح قائل دي او هغوئ ددي كيفيت ذكر كړي دي، ابو وهب محمد بن مزاحم العامري وائي چي دعبدالله بن مبارك نه مي دصلاة تسبيح باره كي تپوس اوكړو په كوم كي چي تسبيح وئيلي شي هغوئ اووئيل اول تكبير تحريمه دي بيا "سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالي جدك والا اله غيرك" دي يعني اي الله ستا ذات پاك دي او ته دهر عيب او نقصان نه پاك يي او ټول تعريفونه ستادپاره دي او بركت والادي نوم ستا او لوي دي شان ستا او ستا نه علاوه بل هيڅوك لائق دبندګئ نشته. او بيا د پنځلس پيري دا كلمات اووائي سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ. او بيا دي اعوذ بالله من الشيطان الرجيم" او بيا دي" بسم الله الرحمن الرحيم" اووائي او بيا دي سورة فاتحه او كوم سورة ورسره اووائي ، بيا دي لس پيري سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ. او بيا دي ركوع ته لاړ شي او لس پيري دي دا كلمات اووائي ، بيا دي سر پورته كړي او لس پيري دي دا كلمات اووائي ،بيا دي سجدي ته لاړ شي او لس پيري دي دا كلمات اووائي ، بيا دي دسجدي نه سر پورته كړي او لس پيري دي دا كلمات اووائي ، بيا دي دويمه سجده اوكړي او لس پيري دي دا كلمات اووائي، په دي طريقه به څلور ركعاتونه پوره كړي او په هر ركعات كي به ټول پنځه اويا پيري تسبيحات اووئيلي شي. دهر ركعات په شروع كي پنځلس او بيا لس لس او كه چري دشپي مونځ كوي نو زما په نزد مستحب داده چي دهر ركعات نه پس به سلام ګرځوي او كه دورځي مونځ كوي نو كه خوښه يي وي د دوه دوه ركعاتونو نه پس دي سلام اوګرځوي او كه خوښه يي وي نو سلام دي نه ګرځوي دابو وهب بن زمعه نه روايت دي چي عبدالعزيز بن ابي رزمه وائي چي عبدالله بن مبارك وائي په ركوع كي اول "سبحان ربي العظيم" او په سجده كي اول "سبحان ربي الاعلي" دري دري پيري وئيل پكار دي او بيا تسبيحات وئيل پكار دي او ابن ابي رزمه دعبدالعزيز نوم دي دي وائي چي دعبدالله بن مبارك نه مي تپوس اوكړو كه يو كس په دي مونځ كي سهو شي نو ايا دي به په سجده سهو كي لس لس تسبيحات وائي هغوئ اووئيل نه دا صرف دري سوه تسبيحات دي.

تشريح : صلاة التسبيح په جمع سره دکولو په ځاي باندي دي يواځي وکړي شي.څکه چي دصلاة تسبيح خپل ثبوت دکثرت طرق باوجودزيات نه زيات دحسن درجي ته رسيږي په جمع سره کول خويوه ياتي خبره ده دکومي ثبوت چي بالکل دسره نشته.نوېدي وجه په جمع سره دکولونه اجتناب ضروري اوبهتردي.

دصلاة التسبيح طريقه

دصلاة تسبيح طريقه مندرجه ذيل ده: دابن عباس‌رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي کريمﷺخپل تره عباس‌رضي الله عنه ته اوفرمائيل:چه څلور رکعته مونځ وکړه الله تعالي به دي ټول ګناهونه معاف کړي ،په هررکعت کي سورت فاتحه اويول سورت ورسره هم وايه اوپنځلس کرته داتسبيح وايه: (سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ وَلَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ) الله تعالي پاك دي ،الله تعالي دټولوتعريفونو لائق دي اودالله تعالي نه علاوه بل دبندګئ حق دارنشته.اوالله تعالي ډيرلوي دي.بياپه رکوع اوقومه کي ،په دواړوسجدوکښي، اوددوي په مينځنئ قومه کي ،اوپه جلسه استراحت کي لس لس کرته همداکلمات وايه نوېدي شان سره به په هررکعت کي پنځه اويا تسبيحات شي.څلور رکعته پدي طريقي سره وکړه.مناسب خوداده چي دامونځ هره ورځ يوځل وکړي شي اوکه هره ورځ نه وي نوپه جمعه کي يوځل اوکه په جمعه کي يوځل نه وي نوپه کال کي يوځل اوپه کال کي هم يوځل ونکړي شي نوپه ټول عمرکي خويوځل ضرور ادا کول پکاردي.

****

٤٨٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ الْعُكْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ مَوْلَى أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ: "يَا عَمِّ أَلَا أَصِلُكَ أَلَا أَحْبُوكَ أَلَا أَنْفَعُكَ" قَالَ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "يَا عَمِّ صَلِّ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ تَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ، فَإِذَا انْقَضَتِ الْقِرَاءَةُ فَقُلْ: اللَّهُ أَكْبَرُ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خَمْسَ عَشْرَةَ مَرَّةً قَبْلَ أَنْ تَرْكَعَ، ثُمَّ ارْكَعْ فَقُلْهَا عَشْرًا، ثُمَّ ارْفَعْ رَأْسَكَ فَقُلْهَا عَشْرًا ثُمَّ اسْجُدْ فَقُلْهَا عَشْرًا ثُمَّ ارْفَعْ رَأْسَكَ فَقُلْهَا عَشْرًا، ثُمَّ اسْجُدِ الثَّانِيَةَ فَقُلْهَا عَشْرًا، ثُمَّ ارْفَعْ رَأْسَكَ فَقُلْهَا عَشْرًا قَبْلَ أَنْ تَقُومَ، فَتِلْكَ خَمْسٌ وَسَبْعُونَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ هِيَ ثَلَاثُ مِائَةٍ فِي أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ، فَلَوْ كَانَتْ ذُنُوبُكَ مِثْلَ رَمْلِ عَالِجٍ لَغَفَرَهَا اللَّهُ لَكَ" قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَنْ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَقُولَهَا فِي كُلِّ يَوْمٍ، قَالَ: "فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ أَنْ تَقُولَهَا فِي كُلِّ يَوْمٍ فَقُلْهَا فِي

جُمُعَةٍ، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ أَنْ تَقُولَهَا فِي جُمُعَةٍ فَقُلْهَا فِي شَهْرٍ. فَلَمْ يَزَلْ يَقُولُ لَهُ حَتَّى قَالَ: فَقُلْهَا فِي سَنَةٍ

"قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي رَافِعٍ. [1]

ترجمه : دابورافع رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل تره عباس رضي الله عنه ته اوفرمائيل اي تره ايا زه ستا سره صله رحمي اونکړم او ايا زه تاته دڅه څيز درکول اونکړم او ايا زه تاته څه فائده اونه رسوم؟ هغوئ اووئيل ولي نه اي دالله رسوله؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څلور رکعاته مونځ اوکړه او په هر رکعات کي سورة فاتحه او کوم سورة اولوله کله چي قرائت پوره شي نو الله اکبر، الحمد لله، سبحان الله، او لااله الاالله پنځلس پيري درکوع نه مخکي وايه، بيا چي رکوع ته لاړ شي نو لس پيري همدا کلمات په رکوع کي وايه بيا چي سر پورته کړي نو لس پيري همدا کلمات په رکوع کي وايه ، بيا چي سجدي ته لاړ شي نو لس پيري همدا کلمات په رکوع کي وايه بيا چي دسجدي نه سر پورته کړي نو لس پيري همدا کلمات په رکوع کي وايه، بيا چي دويمي سجدي ته لاړ شي، نو لس پيري همدا کلمات په رکوع کي وايه بيا چي دسجدي نه خپل سر پورته کړي نو د اودريدو نه مخکي لس پيري دا کلمات اووايه دا رنګي په هر رکعات کي به پنځه اويا پيري دا کلمات اووئيلي شي او په څلور رکعاتونو کي به دري سوه شي نو که چري ستا ګناهونه دډيرو زياتو شګو دتعداد برابر هم وي نو الله تعالي به يي معاف کړي هغوئ عرض اوکړو اي دالله رسوله روزانه ددي کلمات وئيلو طاقت په چا کي دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که روزانه دا کلمات نشي وئيلي نو په جمعه کي يو ځل او که هره جمعه يي نشئ وئيلي نو په مياشت کي يو ځل دا خبره يي مسلسل همداسي کوله تردي چي وبيي فرمائيل که داسي نه وي نو په کال کي يو ځل دا عمل کوه.

امام ترمذي وائي دا حديث دابو رافع په روايت غريب دي.

تشريح : صاحب دتعليمات محمدي شرح ترمذي دصلاة تسبيح مونځ دوه طريقي ذکر کړي دي يوه طريقه دابن عباس دروايت ده او دويمه طريقه دعبدالله بن مبارك نه منقول ده که څوك زيات وضاحت غواړي تعليمات محمدي شرح ترمذي ته رجوع کولي شئ.

****

٢٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الصَّلاَةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٩٠ (١٣٨٦) . (تحفة الأشراف : ١٢٠١٥)

په رسول الله با ندي د درود وئيلو د كيفيت بيان

٤٨٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ مِسْعَرٍ، وَالأَجْلَحِ، وَمَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، عَنِ الحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا السَّلَامُ عَلَيْكَ قَدْ عَلِمْنَا، فَكَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكَ؟ قَالَ: "قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ". قَالَ مَحْمُودٌ: قَالَ أَبُو أُسَامَةَ، وَزَادَنِي زَائِدَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنِ الحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: وَنَحْنُ نَقُولُ: وَعَلَيْنَا مَعَهُمْ. قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي حُمَيْدٍ، وَأَبِي مَسْعُودٍ، وَطَلْحَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَبُرَيْدَةَ، وَزَيْدِ بْنِ خَارِجَةَ، وَيُقَالُ: ابْنُ جَارِيَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى كُنْيَتُهُ أَبُو عِيسَى، وَأَبُو لَيْلَى اسْمُهُ: يَسَارٌ.[1]

ترجمه : دكعب بن عجره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكړو چي اي دالله رسوله مونږ خو په تا باندي سلام وئيل زده كړي دي ليكن په تا باندي د درود وئيلو طريقه څه ده؟ رسول الله اوفرمائيل داسي وائي

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ"

يعني اي الله په محمد (ص) او په ال د محمد (ص) رحمتونه نازل كړي لكه چي تا په ابراهيم عليه السلام رحمتونه نازل كړي وو يقينا ته ستائيلي شوي او لوي يې او په محمد (ص) او په ال د محمد (ص) بركتونه نازل كړي لكه چي تا په ابراهيم عليه السلام بركتونه نازل كړي دي يقينا ته لائق د تعريف او لوي ذات يي ، زائده په سند داعمش عن الحكم عن عبدالرحمن بن ابي ليلي يو اضافي لفظ نقل كړي دي هغوئ اووائي چي هغوئ په درود كي "وعلينا معهم" يعني دهغوئ سره په مونږ باندي هم رحمت او بركت نازل شو

---

[1] صحيح البخاري في أحاديث الأنبياء ١٠ (٣٣٧٠) . وتفسير الأحزاب ١٠ (٤٧٩٧) . والدعوات ٣٢ (٦٣٥٧) . صحيح مسلم في الصلاة ١٧ (٤٠٦) . سنن ابي داود في الصلاة ١٨٣ (٩٧٦) . سنن النسائي في السهو ٥١ (١٢٨٨) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٢٥ (٩٠٤) . (تحفة الأشراف ١١١١٣) . مسند احمد (٤ في ٢٤١، ٢٤٤) . سنن الدارمي في الصلاة ٨٥ (١٣٨١)

امام ترمذي وائي دكعب بن عجره رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دې باب کي دعلي. ابوحميد . ابو مسعود . طلحه . ابو سعيد . بريده . زيد بن خارجه او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

امام ترمذي وايي چي د کعب بن عجره حديث حسن صحيح دی. عبد الرحمن بن ابي ليلي اسم کنيه ابو عيسي ده. اود ابو ليلي نوم يسار دی.

دابومحمد کعب بن عجره رضي الله عنه حالات:

نوم کعب کنيه ابو محمد په يوه غزوه کې يي لاس کټ شوی وو او دسر ويخته يي ګڼړ وو (طبقات ابن سعد)

دهجرت نه پس مسلمان شوی وو او دمسلمانيدو نه پس يي په تمامو غزواتو کې شرکت کړی دی په غزوه حديبيه کې هم درسول الله صلي سره موجود وو دويختو دګڼړوالي په وجه يي په سر کې دومره ډيري سپږي شوي وي چي په مخ به يي راروانې وي نو رسول الله ورته دويختو کټ کولو مشوره ورکړه نو بيا يي ددينه پس کټ کړل دده په سيرت کې دحق حمايت او حب رسول سر فهرست دي دکعب رضي الله عنه په اخلاقو کې دا دوه څيزونه ډير روښانه دي چي يو خل درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو چي درسول الله رنګ دلوږي په وجه تغير شوی وو نو دی فورا پوهه شو او ديهودي اوښ يي اوبه کولو ده به اوښ ته يوه بوکه اوبه په يوه کجوره اچولي کله چي يو څو کجوري ورسره جمع شوي نو هغه يي درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضري کړي (الاصابه)

دهجرت په ٥١ کال کې کله چي دده عمر ٧٥ کلونه وو په مدينه کې وفات شو او درواياتونو تعداد يي ٤٧ دی.

****

٢١_ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په رسول الله با ندي د درود ويلو فضيلت

٤٨٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ ابْنُ عَثْمَةَ، حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ يَعْقُوبَ الزَّمْعِيُّ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَيْسَانَ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ شَدَّادٍ أَخْبَرَهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَوْلَى النَّاسِ بِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً" قَالَ أَبُو

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرُوِي عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا وَكَتَبَ لَهُ بِهَا عَشْرَ حَسَنَاتٍ".(1)

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به ماته په ټولو خلقو کي زيات نزدي هغه څوك وي چاچه په ما باندي څومره زيات درود وئيلي وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، رسول الله نه دا هم مروي دي چي فرمائيلي دي څوك چي په ما باندي يو ځل درود اووائي الله تعالي په ده باندي ددي په بدل کي لس رحمتونه نازلوي او دده دپاره لس نيکئ ليکلي کيږي (همداحديث وروسته هم راروان دي).

لغات: صلي: دنصر نه دعا کول ، درود ويل . ددي لفظ څلور معاني دي، دعا، مونځ، تسبيح، رحمت، جمع يي صلوات راځي.

تشريح: د درود فضائل په قران او سنت کي په کثرت سره وارد دي الله تعالي فرمائي:

قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيماً﴾ [الأحزاب: ٥٦].

الله تعالي فرمائي: بيشکه الله اودهغه فرشتي په رسول الله صلي الله عليه وسلم باندي درود وائي اى مومنانو تاسو هم په رسول الله صلي الله عليه وسلم باندى درود اوسلام اووائي.

دصلاة لفظ يو څومعني دي که ددي نسبت فرشتو ته اوشي نو دعا ورنه مراد وي مطلب دا شو چي فرشتو هر وخت درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره دعا غوښتله نو په ايت کي مسلمانانو ته خطاب دى چي تاسو همورباندي درود اووائي لکه چي الله تعالي ورباندي خاص رحمتونه نازل کړي دي دامت محمديه دطرف نه چي څوك درود وائي دا دالله تعالي داحساناتو بدله نشي کيدى کوم چي دهغه په امت باندي دي دا يوه فقيرانه هديه ده کومه چي په شان درسالت کي پيش کولی شي.

ابن همام وائي دلته دامر صيغه استعمال شوي ده کومه چي تکرار نه قبلوي په همدي وجه احناف او امام مالك وائي که په ژوند کي څوك صرف يو ځل درود هم اووائي نو په دي ايت به عمل راشي ليکن دا خبره ده چي هر وخت درسول الله نوم ياديږي نو هر ځل به ورباندي درود وئيل پکار وي (قرطبي).

علامه سخاوي دعامر بن ربيعه نه دا ارشاد نبوي نقل کړى دى چي څوك په ماباندي يوځل

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٢٣)

درود وائي الله تعالي ورباندي لس خل درود وائي اوس ستاسو اختيار دی چي كم درود وائي او كه زيات دا مضمون په متعددو رواياتو كي دمتعددو صحابه كرامو نه منقول دی.

سوال: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما په روايت كي راخي چي څوك رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خل درود اووائي نو الله تعالي او دهغه فرشتي په هغه باندي اويا پيري درود يعني رحمتونه ليږي او په دي حديث كي خو لس پيري راغلي دي.

جواب: دالله تعالي رحمت په دي امت باندي ورځ په ورځ زياتيږي په كومو روايتونو كي چي دلسو وعده ده هغه اولنۍ وعده وه بيا چي كله يي اضافه اوشوه نو داوياو وعده اوشوه.

دويم جواب: بعضي علماؤ دا په اشخاصو او حالاتو او وختونو پوري مخصوص كړي دي.

دريم جواب: داويا وعدي والا حديث تعلق دجمعي دورځو سره دی او دلسو والا تعلق دعامو ورځو سره دی بعضي روايتونو نه معلوميږي چي دجمعي په ورځ دنيكۍ ثواب دنورو ورځو په نسبت اويا چنده زيات وي.

دجمعي په ورځ د درود وئيلو فضيلت وجه

حافظ ابن قيم ليكلي دي دجمعي په ورځ د درود وئيلو زيات فضيلت په دي وجه دی چي دجمعي ورځ د تمامو ورځو سرداره ده او بل طرف ته رسول الله صلي الله عليه وسلم هم دتمام مخلوق سردار دی، انس رضي الله عنه فرمائي دجمعي په ورځ او دجمعي په شپه به درود زيات وائي كه څوك داسي كوي نو زه دهغه دپاره شهادت وركوم او دقيامت په ورځ به يي شفاعت كوم.

****

٤٨٥ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ العَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا " قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَعَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، وَعَمَّارٍ، وَأَبِي طَلْحَةَ، وَأَنَسٍ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرُوِي عَنْ سفيان الثوري وَغَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ العِلْمِ، قَالُوا: صَلَاةُ الرَّبِّ الرَّحْمَةُ وَصَلَاةُ المَلَائِكَةِ الِاسْتِغْفَارُ. [1]

---

[1] ـ صحيح مسلم في الصلاة ١٧ (٤٠٨) . سنن ابي داود في الصلاة ٣٦١ (١٥٣) . سنن النسائي في السهو ٥٥ (١٢٩٧) . (تحفة الأشراف: ١٣٩٧٣) . مسند احمد (٢ في ٣٧٣، ٥-٣، ٣٨٥) . سنن الدارمي في الرقاق ٥٨ (٢٨١٣)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي په ما باندي يو ځل درود اووائي الله تعالي ددي په بدل كي په هغه باندي لس پيري رحمت نازلوي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د عبدالرحمن بن عوف. عامر بن ربيعه. عمار. ابوطلحه. انس. او ابيّ بن كعب رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. دسفيان ثوري او نورو بعضي اهل علمو نه مروي دي چي درب دصلاة نه مراد دهغه رحمت دي او دفرشتو دصلاة نه مراد استغفار دي.

****

٤٨٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ سُلَيْمَانُ بْنُ سَلْمٍ الْمَصَاحِفِيُّ الْبَلْخِيُّ، أَخْبَرَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، عَنْ أَبِي قُرَّةَ الْأَسَدِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: " إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتَّى تُصَلِّيَ عَلَى نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ".[1]

ترجمه : دعمرفاروق رضي الله عنه نه مروي دي دعا دزمكي او اسمان مينځ كي ولاړه وي او په دي كي يوه ذره هم هغه وخته پوري پورته نه خيژي ترڅو چي تاسو پخپل رسول صلي الله عليه وسلم باندي درود ونيلي نه وي.

تشريح: بعضي علماؤ ونيلي دي چي دصلاة نه مراد دعا ده او ددعا مسنونه طريقه داده چي اول دي هم دالله تعالي ثنا بيان كړي شي او په اخر كي دي هم بيان كړي ، دفضاله رضي الله عنه قول دي يو كس په داسي وخت كي راغي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم موجود وو او مونځ يي اوكړو او بيايي داخري قاعدي نه پس اووئيل اي پروردګاره ماته بخشش اوكړي او رحم راباندي اوكړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دي دعا كونكي خو دعجلت نه كار واخستلو ، كله چي مونځ اوكړي او په اخره قعده كي كيني نو اول به هغه اوصاف بيان كړي او دالله تعالي حمد به اووائي دكومو اوصافو چي الله تعالي مستحق دي بيابه په ما درود اووائي او بيا دعا كوه.

دراوي بيان دي چي بيا يو بل كس راغي او مونځ يي اوكړو او په قعده كي يي دالله تعالي حمد او په رسول الله صلي الله عليه وسلم درود اولوستلو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي مونځ كونكيه دعا كوه ستا دعا به ضرور قبليږي (رواه الترمذي وابو داود) او

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٤٢٩)

نسائي هم ددي پشان روايت دابن مسعود رضي الله عنه نه نقل كړي دي فرمائيل يي چي ما مونځ كولو او رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبكر اوعمر رضي الله عنهما هم د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو كله چي زه كيناستم نو ما دالله تعالي ثنا شروع كړه بيا مي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره دعا اوكړه او بيا مي دخان دپاره دعا اوغوښتله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل غواړه ستا سوال به پوره كيږي او غواړه څه چي غواړي تاته به دركولي كيږي (رواه الترمذي).

****

٤٨٧ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْقُوبَ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: "لَا يَبِعْ فِي سُوقِنَا إِلَّا مَنْ قَدْ تَفَقَّهَ فِي الدِّينِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. عَبَّاسٌ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: يعقوب وهو مولى الحرقة. والعلاء هو من التابعين. سَمِعَ مِنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَغَيْرِهِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ يَعْقُوبَ وَالِدُ الْعَلَاءِ، وَهُوَ أَيْضًا مِنَ التَّابِعِينَ. سَمِعَ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَيَعْقُوبُ جَدُّ الْعَلَاءِ هُوَ مِنْ كِبَارِ التَّابِعِينَ أَيْضًا. قَدْ أَدْرَكَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ وَرَوَى عَنْهُ. (1)

ترجمه دامير المؤمنين عمرفاروق بيان دي هيڅوك دي زمونږ په بازارونو كي هغه وخته پوري اخستل خرڅول نه كوي ترڅو چي هغه په دين كي ښه پوهه حاصل كړي نه وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، او عباس د عبد العظيم ځوي دی، امام ترمذي وائي يعقوب د حرقة مولي دي، او علاء يو جليل القدر تابعي دي،چي د انس بن مالك نه يي اوريدل كړي دي، علاء بن عبدالرحمن بن يعقوب پلار او ځوي او نيكه دري واړه تابعين دي دعلاء نيكه او يعقوب په مشرانو تابعينو كي دي هغوی عمر رضي الله عنه ليدلي وو او روايت يي هم ورنه نقل كړي دي

تخريج : تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٦٥٨)

****

1 صحيح مسلم في الجمعة ٥ (٨٥٣) . (تحفة الأشراف : ١٣٨٨٣) . مسند احمد (٢ في ٢٠١، ٢٣٨، ٣٥١، ٣٨٦، ٥٠١، ٥٤٠) .
وانظر أيضا ما يأتي برقم ٤٩١

كتاب الجمعة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ

دجمعي دورځي دفضيلت بيان

٤٨٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ فِيهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا، وَلاَ تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ " قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي لُبَابَةَ، وَسَلْمَانَ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، وَأَوْسِ بْنِ أَوْسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي په هغه ورځو کي چي نمر پکي راخيژي بهترينه ورځ دجمعى ده، په دى ورځ ادم عليه السلام پيدا شوى دى ، په دى ورځ جنت ته ننوتى دى او په دى ورځ جنت نه ويستى شوى دى (يعني زمكى ته راكوز شوى دى). او قيامت به نه قائميږي مګر دجمعي په ورځ.

امام ترمذي وايي په دي باب کي دابو لبابه، سلمان، ابو ذر، سعد بن عباده، او اوس بن اوس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، اود ابو هريره حديث حسن صحيح دى.

لغات: طلعت: دطلوع نه ماخوذ دي معني ختل دي.

تشريح : په پورتني روايت کي دجمعي ورځ دتمامو ورځو سرداره ګنړلى شي ده او په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا شوى دى ګويا کي په دي ورځ دانساني نسل ابتداء شوي ده. علامه طيبي وائي چي بعضي خلقو دعرفي ورځ افضله ګنړلي ده تطبيق داسي کيدى شي چي په هفته کي بهترينه ورځ دجمعي ده او په کال کي بهترينه ورځ دعرفي ده.

اخرج منها: يعني په همدي ورځ يي دجنت نه وويستلو.

سوال: دجنت نه وتل دکوم فضيلت خبره ده؟

جواب: دجنت نه وتل خو سبب جوړ شو دتمامو انبياؤ او اولياؤ دموجود کيدو

---

[1] ـ صحيح مسلم في الجمعة ٥ (٨٥٤) . (تحفة الأشراف : ١٣٨٨٣) . مسند احمد (٢ في ٤٠١، ٤٢٨، ٤٥١، ٤٨٦، ٥٠١، ٥٤٠)، وانظر أيضا ما يأتي برقم ٤٩١

مسئله ښار که هر څومره لوي وي خو دجمعي مونځ به پکي صرف يو ځل کيږي ديو نه زيات کول جائز نه دي، دا قول دامام ابو حنيفه او امام احمد رحمة الله عليهما دي، طحاوي ليکلي دي چي همدا قول دامام مالك هم دي او دا دامام شافعي قديم قول هم دي صاحب داملا دامام ابو يوسف قول نقل کړي دي چي په يو ښار کي په دوه ځايونو کي دجمعي مونځ جائز نه دي مګر که دښار په مينځ کي يو لوي درياب بهيږي دکوم په وجه چي ښار په دوه حصو تقسيم شوي وي نو پداسي صورت کي په دوه ځايونو کي دجمعي مونځ کيدي شي همدا وجه ده چي امام ابو يوسف به فرمائيل چي پول دي مات کړي شي ددي دپاره چي په دواړه ځايونو کي دجمعي مونځ جائز شي که پول مات شوي نه وي او ښار هم يو وي نو په کوم ځاي کي چي جمعه مخکي ادا کړي شي هغه به درسته وي او چي وروسته په دويم ځاي کي ادا کيږي او يا په دواړه ځايونو کي په يو وخت کي ادا کړي شي په دواړو ځايونو کي به دجمعي مونځ فاسد وي.

دامام ابو يوسف دويم قول په يو روايت کي دا هم راغلي دي چي په لوي ښار کي په دوه ځايونو کي دجمعي مونځ کيدي شي او ددينه په زياتو مساجدو کي نشي کيدي.

دامام احمد بيان دي که چري ښار ډير لوي وي لکه بغداد او ابادي هم زياته وي او ضرورت هم موجود وي نو په دوه ځايونو کي دجمعي مونځ کيدي شي او که ضرورت نه وي نو بيا دي صرف په يو ځاي کي ادا کړي شي او تعدد ناجائز دي ، په بعضو روايتونو کي راغلي دي چي بغداد په اصل کي ښار نه وو بلکه جدا جدا او متفرق کلي وو ليکن بيا ابادي دومره زياته شوه چي ټولي اباديانې يو دبل سره پيوست شوي او يو ښار ورنه جوړ شو ليکن جمعه به حسب سابق په متعددو ځايونو کي کيدله.

دامام شافعي په متعددو اقوالو کي راجح قول دادي که ابادي دومره زياته شي چي ټول خلق يو ځاي ته راجمع شي او مونځ کول ورته ګران شي نو په دوه ځايونو کي بلکه حسب ضرورت په متعددو مساجدو کي ددوئ دپاره دجمعي مونځ جائز دي.

دمحمد بن حسن شيباني قول دي چي تعدد دجمعي مطلقا جائز دي برابره خبره ده چي ښار لوي وي او که وړوکي امام محمد دي قول نسبت امام ابو حنيفه ته کړي دي، سرخسي قول دي چي دامام ابو حنيفه رحمة الله عليه صحيح قول دادي چي په دوه مسجدونو کي بلکه په متعددو مسجدونو کي اقامت دجمعي جائز دي ابن همام ليکلي دي زمونږ په نزد مفتي به قول همدا دي ځکه چي دجمعي داقامت دپاره ښار کيدل شرط دي او دښار هريو ګوټ ښار وي (لهذا په متعددو ګوټونو او مختلفو مسجدونو کي اقامت دجمعي جائز دي).

په يو ښار کي په متعددو مقاماتو کي دجمعي داقامت ممانعت پدي وجه دي چي دجمعي لفظ دا تقاضا کوي چي دښار تمام جماعتونه دي په يو خاي کي جمع شي او دجمعي مونځ دي ادا کړي او دجمعي وجه دتسميه هم داده.

مروي دي چي اثرم امام احمد ته اووئيل ايا په يو ښار کي په دوه خايونو کي دجمعي مونځ کيدي شي؟ امام احمد اووئيل ماته معلومه نه ده چي چا داسي کړي وي. دابن المنذر قول دي پدي خبره دتمامو اهل علمو اتفاق دي چي درسول الله په مبارکه زمانه کي او دخلفاء راشدينو په دور کي هميشه جمعه په مسجد نبوي کي ادا کيدله. دجمعي په ورځ تمام مساجد پريخودل او په يو مسجد کي دجمعي د ادا کولونه معلوميږي چي د جمعي حکم دنورو جماعتنو دحکم نه مختلف دي دجمعي مونځ به صرف په يو خاي کي ادا کيږي (او باقي مونځونه خو په جداجدا مساجدو کي ادا کيدي شي) او دتعدد قول صرف دعطاء دي بل هيچا پدي قول نه دي کړي.

خطيب په تاريخ بغداد کي ليکلي دي چي په يو ښار کي په قديم مسجد کي دجمعي کيدو باوجود په نورو خايونو کي هم دجمعي اقامت دمعتصم په زمانه کي په ٢٨٠ هجري کي کيدو معتصم په سلطاني قصر کي دجمعي مونځ اوکړو خکه چي په عام هجوم کي به خلفاء دشريکيدو نه ويريدل ليکن دجمعي دپاره کوم بل جومات مقرر کړي شوي نه وو. بيا دمکتفي په زمانه کي دجمعي دپاره يو دويم جومات هم تعمير کړي شو او خلق به په هغي کي هم جمع کيدل.

ابن عساکر په تاريخ دمشق کي ليکلي دي چي عمر رضي الله عنه ابو موسي اشعري او عمرو بن وقاص او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم ته وليکل چي پخپل ښار کي يو جامع مسجد تعمير کړئ چي جمعه پکي قائميږي او دمختفلو قبائلو دپاره جدا جدا مساجد جوړ کړئ (تاريخ دمشق په حواله دمظهري)

****

٢ـ باب مَا جَاءَ فِي السَّاعَةِ الَّتِي تُرْجَى فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ

دجمعي په ورځ دهغه ساعت بيان په کوم کي چي د دعا دقبوليت اميد کيدي شي

٤٨٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْهَاشِمِيُّ الْبَصْرِيُّ الْعَطَّارُ. حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ الْحَنَفِيُّ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ. حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ وَرْدَانَ. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّهُ قَالَ: " الْتَمِسُوا السَّاعَةَ الَّتِي تُرْجَى فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَى غَيْبُوبَةِ الشَّمْسِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَنَسٍ.

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ يُضَعَّفُ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَيُقَالُ لَهُ: حَمَّادُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ، وَيُقَالُ: هُوَ أَبُو إِبْرَاهِيمَ الْأَنْصَارِيُّ وَهُوَ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ، وَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. أَنَّ السَّاعَةَ الَّتِي تُرْجَى فِيهَا بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَقَالَ أَحْمَدُ: أَكْثَرُ الْأَحَادِيثِ فِي السَّاعَةِ الَّتِي تُرْجَى فِيهَا إِجَابَةُ الدَّعْوَةِ أَنَّهَا بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ وَتُرْجَى بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ.

([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دجمعي په ورځ هغه ساعت په كوم كي چي ددعا دقبوليت اميد كيدي شي دمازيگر نه واخله تر دنمر پريوتو پوري وخت كي تلاش كړئ.

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند غريب دي او دا حديث دانس رضي الله عنه نه هم په يو ځو سندونو مروي دي . محمد بن ابي حميد ضعيف دي بعضي اهل علمو دحفظ په اعتبار دهغه تضعيف كړي دي او ده ته حماد بن ابي حميد هم وئيلي شي دارنگي ونيلي كيږي چي همدي ابو ابراهيم انصاري دي او دا منكر الحديث راوي دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو خيال دي چي په كوم ساعت كي د دعا دقبوليت اميد كيږي دا وخت دمازيگر نه پس دنمر پريوتو پوري درمياني وخت دي او همدا د اسحاق بن راهويه قول هم دي. امام احمد بن حنبل وائي دكوم ساعت متعلق چي ددعا دقبوليت اميد دي اكثر احاديث داسي راغلي دي چي داوخت دمازيگر نه پس دنمر پريوتو پوزي دوخت په مينځ كي دي او همدارنگي دنمر پريوتو نه پس هم ددي وخت دكيدو اميد كيدي شي.

تشريح : ددی وخت متعلق مختلفو احاديثو كي مختلف وختونه راغلي دي په دی وجه په دي كي دعالمانو هم ډير اقوال دي دامام ابو حنيفه او امام احمد په نزد دا وخت دجمعی دورځی دمازيگر مانځه نه ترمابنام پوري دی. ددي وختو تفصيل د علماؤ داقوالو په رڼرا كي په مابعد صفحاتو كي راروان دی.

تفسير مظهري په دي مسئله متعدد احاديث را جمع كړي دي او اعلي ترين تحقيق يي كړی دی او د مسئلي حق يي ادا كړی دی.

دجمعي دبهترين ساعت او دجمعي دسنتونو متعلق احاديث

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦١٩)

دجمعي په ورځ غسل كول سنت دي ، دامام مالك او داود ظاهري دجمعي غسل واجب دي ،
دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيلي دي دجمعي په ورځ په هر بالغ باندي غسل كول واجب دي (متفق عليه).

دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) اوفرمائيل څوك چي جمعي مونځ ته راځي نو دده دپاره غسل كول پكار دي (متفق عليه).

دا حديث مشهور بلكه متواتر دي ابو القاسم بن منده دنافع نه ددي دنقل كونكو شمير اوكړو نو د دري سوو نه زيات كسان يي اوشميرل او دنافع نه علاوه ډارك دابن عمر نه ددي نقل كونكي څوارلس صحابه اوشميرل شول.

ددي جواب دادي چي په مذكوره حديث كي امر دوجوب دپاره نه دي داستحباب دپاره دي او دواجب لفظ نه دلته مراد هغه واجب دي كوم چي په طريقه دسنت وي يعني لازم ځكه چي په بل حديث كي ورسره دداسي امورو ذكر هم شوي دي كوم چي دهيچا په نزد واجب نه دي.

امام احمد دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) اوفرمائيل دجمعي په ورځ په هر بالغ باندي غسل كول ، مسواك وهل، او هره خوشبو چي ميسره وي دهغي لګول لازم دي.

په صحيحينو كي دي چي ام المومنين عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل خلقو به خپل كاروبارونه (زمينداري باغباني اوبه خور وغيره) كول او دكار نه پس به په همدغه هينت كي دمونځ دپاره راتلل دكوم په وجه چي به د بد بويئ په وجه خلقو ته تكليف وو او دجامو نه به يي دخولو بدبويي خوريدله، نو پدي وجه دوئ ته اوونيلي شول كه چري تاسو غسل كړي وي نو بهتره به وه.

دجمعي دغسل دعدم وجوب دليل هغه حديث دي كوم چي دقتاده په روايت سره حسن مرسل منقول دي او دابو هريره نه هم مرفوعا مروي دي چي څوك په ښه شان سره اودس اوكړي او دجمعي دمونځ دپاره راشي او خطبه واوري نو دده ددي جمعي نه دبلي جمعي پوري ګناهونه معاف كيږي او دهفتي نه د دري ورځو زياتي هم (رواه مسلم).

دا خبره دشك قابل ده چي دغسل دعدم وجوب احاديث دوجوب داحاديثو نه كمزوري دي ليكن دصحابه كرامو تعامل او اجماع په عدم وجوب دلالت كوي چي دغسل دوجوب احاديث يامنسوخ دي او يا قابل دتاويل دي.

بخاري او مسلم دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت بيان كړي دي چي عمر فاروق رضي الله عنه دجمعي په ورځ د خطبي وركولو دپاره اودريدلي وو چي په اولنو مهاجرينو كي يو كس مسجد ته داخل شو اميرالمومنين اوفرمائيل دا كوم ساعت دي نو راتلونكي جواب وركړو زه په كار كي مشغول وم خو چي څنګه مي د اذان اواز واوريدو نو كورته هم لاړم بس دومره

تاخير مي اوکړو چي اودس پکي اوشو او راروان شوم عمر رضي الله عنه اوفرمائيل او اودس هم (يعني غسل دي اونکړل او صرف اودس دي اوکړو دا دويمه غلطي ده) باوجود ددي چي ته خبردار يي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) به دجمعي دمونځ دپاره دغسل کولو حکم کولو.

دابن جوزي قول دي چي دا کس عثمان رضي الله عنه وو چي غسل يي نه وو کړي ليکن نه عمر رضي الله عنه دده کار ممنوع اوګنړلو او نه بل چا ددينه انکار وکړو نو معلومه شوه چي غسل سنت دي واجب نه دي، هغه تمام احاديث په کومو چي دغسل دوجوب دپاره استدلال کيږي قابل دتاويل دي منسوخ نه دي که چري منسوخ وي نو عمر رضي الله عنه به دا نه فرمائيل چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) به دغسل کولو حکم ورکولو ددينه ثابته شوه چي غسل مستحب او مسنون دي او امر په استحباب محمول دي.

مسئله: دامام ابو حنيفه په نزد دجمعي دمونځ نه مخکي څلور رکعاتونه او دجمعي نه پس څلور رکعاتونه کول سنت دي امام ابو يوسف شپږ رکعاتونه سنت ګنړلي دي يعني دجمعي دمونځ نه پس ، او په بعضي روايتونو کي راغلي دي چي دامام محمد قول دامام ابو يوسف دقول سره موافق دي چي دجمعي دمونځ نه مخکي دڅلورو رکعاتونو کولو کوم دليل نشته علاوه ددينه چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) به دزوال نه پس دماسپخين دمونځ نه مخکي عموما څلور رکعتونه کول او فرمائيل به يي چي پدي وخت کي داسمانونو دروازي پرانيستلي کيږي ، زه غواړم چي زما کوم نيک عمل پدي وخت کي اسمان ته اوخيژولي (روا اه بن ماجه عن ابي يوسف باسناد حسن) لهذا په ماسپخن باندي په قياس کولو سره امام ابو حنيفه دجمعي نه مخکي هم څلور رکعاتونه سنت ګرځولي دي خکه چي دا خبره منلي شوي ده چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) دماسپخين نه مخکي څلور رکعاته او دسحر دمونځ نه مخکي دوه رکعاتونه هيڅ کله نه ترک کول (رواه البخاري وابو داود والنسائي عن عائشه).

پاتي شو دجمعي دمونځ نه پس دوه رکعتونه نود ابن عمر په روايت کي راغلي دي چي رسول الله به دجمعي دمونځ نه پس هيڅ قسم مونځ نه کولو (رواه البخاري ومسلم وابو داود والنسائي).

امام ابوداود په خپل سنن کي روايت نقل کړي دي چي ابن عمر به کله په مکه کي وو نو دجمعي دمونځ نه پس به يي څلور رکعتونه کول ليکن کله چي به په مدينه کي وو نو دوه رکعتونه به يي کول نو کله چي ورنه ددي دوجي تپوس وکړي شو نوويي فرمائيل چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) به هم داسي کول.

دابن همام قول دي ظاهره داده چي سنت شپږ رکعته دي ليکن په مکه کي چي به رسول الله (صلي الله عليه وسلم) څه کول هغه تول ابن عمر ته معلوم نه وو . مګر کله چي به يي سفر کولو نو په مسجد کي به يي سنت ادا کول اوابن عمر به ورنه خبريدو.

امام ابوحنيفه او امام ابويوسف دجمعي نه پس دشپږو رکعتونو قائل دي خکه چي ابن مسعود رضي الله عنه به هم داسي کول ، ترمذي په خپل جامع کي دابن مسعود رضي الله عنه په همدي باندي تعامل ذکر کړي دي.

دابن مبارك اوثوري هم دا قول دي ، مسلم د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل کړي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي په تاسو کي چي څوك دجمعي مونځ ادا کړي نو دجمعي دادا کولو نه پس دي څلور رکعتونه وکړي.

مسئله:ابوداود او بغوي د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل کړي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي من اغتسل يوم الجمعة واستن ومس من طيب ان كان عنده ولبس من احسن ثيابه ثم خرج حتى يأتي المسجد فلم يتخط رقاب الناس ثم ركع ما شاء الله ان يركع فانصت إذا خرج الامام كانت كفارة لما بينها وبين الجمعة التي قبلها

چا چي دجمعي په ورځ غسل وکړل او مسواك ي ووهلو اوخوشبو يي هم استعمال کړه خوبه دي شرط چي ورته ميسره وي اوخپلي پاکي اوښي کپړي يي واغوستلي اوبيا روان شو تردي چي مسجد ته ورسيدو اوبيا يي دخلقو په څټونو اوړيدل ونکړل او بيا يي مونځ هم وکړو څومره چي يي خوښه وي اود خطبي داوريدو دپاره خاموشي هم وکړه نو دده داعمل ديوي جمعي نه دبلي جمعي پوري دده دګناهونو کفاره شوه.

بغوي ليکلي دي چي ابوهريره رضي الله عنه دا هم فرمائيلي دي اوددري نورو ورځو ګناهونه هم خکه چي الله تعالي فرمائيلي دي "من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها"

بخاري هم دا روايت دسلمان رضي الله عنه نه نقل کړي دي چي ليکن ددري ورځو لفظ يي نه دي ذکر کړي

بغوي د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل کړي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي کله چي دجمعي ورځ راشي نودمسجد په هره دروازه کي فرښتي ودريږي او مسجد ته دداخليدونکو نومونه په نمبر نمبر سره ليکي ، بيا چي کله امام را اوخيي نو کاغذ ونغښتلي شي اوخطبه بيانيدل شروع شي ، دمونځ دپاره دتولو نه مخکي راتلونکي داسي دي لکه داوښ قرباني کونکي ، دده نه پس راتلونکي داسي دي لکه دغوا قرباني کونکي . دده نه پس راتلونکي داسي دي لکه دګډ قرباني کونکي . تردي چي رسول الله دچرګي ذکر هم وکړو ، ددي هم معني روايت په صحيحينو کي هم راغلي دي.

مسلم د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل کړي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي په هغه تمامو ورځو کي چي نمر پکي راخيژي بهتره ورځ دجمعي ده ، په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا کړي شوي دي اوپه همدي ورځ جنت ته داخل کړي شوي وو اوپه همدي ورځ دجنت نه وښکلي شوي وو اوپه همدي ورځ به قيامت قائميږي (رواه مسلم).

د ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي چي دجمعي په ورځ يو ساعت داسي دي چي که کوم مسلمان ددي موافق دخير دعا اوغواړي نو الله تعالي يي ضرور قبلوي (بخاري ومسلم) ليکن دمسلم په روايت کي دومره اضافه ده چي هغه ساعت خفيف (يعني مختصر وي).

دبخاري او مسلم په دويم روايت کي ددي الفاظو اضافه ده چي پدغه ساعت کي کوم مسلمان ولاړ وي او مونځ کوي او دالله تعالي نه دخير طلب کوي نو الله تعالي دده دعا قبلوي ليکن دمسلم په روايت کي دومره اضافه ده چي هغه ساعت خفيف (يعني مختصر وي).

دابو موسي اشعري رضي الله عنه نه مروي دي چي پخپله مي درسول الله (صلي الله عليه وسلم) نه اوريدلي دي چي دجمعي دساعت متعلق يي فرمائيل چي دغه ساعت دامام دناستي او دمونځ دختمولو په مينځ کي دي (رواه مسلم).

د ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي زه طور ته لاړم او دکعب اخبار سره مي ملاقات اوشو زه چي ورسره کيناستم نو ماته يي دتورات څه خبري بيان کړي او ما ورته درسول الله (صلي الله عليه وسلم) څه احاديث بيان کړل کوم احاديث چي ما هغه ته بيان کړي وو په هغو کي يو دا هم وو چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي په کومو ورځو کي چي نمر راخيژي په هغو ټولو کي دجمعي ورځ افضله ده ، په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا کړي شوي دي اوپه همدي ورځ جنت ته داخل کړي شوي وو اوپه همدي ورځ دجنت نه وښکلي شوي وو اوپه همدي ورځ به قيامت قائميږي دجن او انس نه علاوه هر زنده سر دجمعي په ورځ د طلوع فجر نه پس دنمر پريوتو پوري دقيامت دويري په وجه چغي وهي او خاص دجمعي په ورځ کي يو ساعت داسي دي که چري پدي کي کوم مسلمان بنده په مونځ کي دالله تعالي نه کومه دعا اوغواړي نو الله تعالي يي قبلوي ، کعب اخبار اوونيل ايا دا ساعت هر کال په يوه ورځ کي وي ؟ ما اوونيل نه بلکه هره جمعه وي ددي په اوريدو سره کعب تورات اولوستلو او بيايي اوونيل رسول الله رښتيا وئيلي دي.

د ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي بيا زه دعبدالله بن سلام سره روان شوم او پدغه مجلس کي مي چي دکعب اخبار سره کومي خبري شوي وي هغه مي بيان کړي او کوم حديث چي مي ورته بيان کړي وو هغه مي ورته هم بيان کړو نو عبدالله بن سلام اوونيل کعب غلطه خبره کړيده ليکن کله چي ما اوونيل چي کعب دتورات لوستلو نه پس داسي وئيلي دي چي

دهري جمعي په ورځ دا ساعت وي نو عبدالله اوونيل كعب صحيح ونيلي دي ايا تاته معلومه ده چي دغه ساعت كوم يو دي؟ ابوهريره اوونيل بخل مه كوه راته يي بيان كړه عبدالله بن سلام اوونيل دا دجمعي اخري ساعت دي دابو هريره رضي الله عنه بيان دي دجمعي اخري ساعت څنګه وي رسول الله خو فرمائيلي دي چي پدي ساعت كي كوم مسلمان بنده په مونځ كي دعا اوغواړي ، الخ ، اوپدي ساعت كي خو مونځ نه كيږي عبدالله بن سلام اوونيل ايا رسول الله دا نه دي فرمائيلي دي چي څوك دمونځ په انتظار كي ناست وي نو هغه دمونځ كولو پوري دمونځ په حكم كي دي ما اوونيل يقينا يي فرمائيلي وو نو عبدالله اوونيل بس همدا مراد دي (رواه مالك وابو داود والترمذي).

داوس بن اوس نه مروي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي چي ستاسو په بهترينو ورځو كي دجمعي ورځ هم ده په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا شوي دي او په همدي ورځ وفات شوي دي او په همدي ورځ به شپيلۍ پوكلي شي او په همدي ورځ به بيهوشي راځي نو پدي وجه په ما باندي درود زيات وائي او ستاسو درود به ماته پيش كولي شي صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله زمونږ درود تاته څنګه پيش كولي شي ستا جسم خو به پناه شوي وي نو ويي فرمائيل په زمكه باندي دانبياؤ اجسام خوړل حرام كړي شوي دي (رواه ابو داود والنسائي وابن ماجه والدارمي والبيهقي).

ابن المنذر دابو لبابه په سند سره روايت بيان كړي دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيل دي دجمعي ورځ په ټولو ورځو سرداره ده او دالله تعالي په نزد په تمامو ورځو كي زيات عظمت والا ده او دلوي او واړه اختر نه يي هم عزمت زيات دي ځكه چي پدي كي پنځه خصوصيات دي په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا كړي شوي دي او په همدي رځ زمكي ته راكوز كړي شوي دي او په همدي ورځ وفات كړي شوي دي پدي كي يو داسي ساعت دي كه مومن بنده پدي كي دالله تعالي نه څه اوغواړي نو الله تعالي يي ورته وركوي خو پدي شرط چي ده حرام نه وي غوښتلي. اوپه همدي ورځ به قيامت قائميږي ، هره مقربه فرشته اسمان او زمكه هواګاني او غرونه اوسمندر دجمعي په ورځ ويريږي (ځكه چي دجمعي په ورځ به قيامت قائميږي) رواه ابن ماجه.

دسعد بن معاذ رضي الله نه په سند سره امام احمد روايت بيان كړي دي چي يو انصاري په دربار رسالت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله دجمعي په ورځ كومي كومي فائدي دي مونږ ورنه خبر كړه نو ويي فرمائيل پدي كي پنځه خصوصيات دي ...الحديث

د ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي عرض اوكړي شو چي جمعي ته جمعه په څه وجه وئيلي شي نو ويي فرمائيل ستاسو دپلار ادم عليه السلام خمير په همدي ورځ اوار كړي شوي وو او په همدي ورځ به خلق بيهوشه كيږي او په همدي ورځ به مړي دقبرونو نه پورته كولي

شي او په همدي ورځ به نيول كيږي ددي په اخري دري ساعتونو كي يو ساعت داسي دي چي كه څوك پدي كي دالله تعالي نه دعا وغواړي نو قبلوي يي (رواه احمد)

دابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمائيلي دي دجمعي په ورځ په ماباندي درود زيات وائي ځكه چي دا ورځ مشهوره ده او فرشتي هم پدي ورځ موجودي دي څوك چي په ماباندي درود وائي نو دهغه درود ماته پيش كولي شي ما عرض اوكړو ايا ستاسو دوفات نه پس هم ؟ (ځكه چي ستاسو جسم به خاوري شوي وي) نو ويي فرمائيل په زمكه باندي دانبياؤ دجسمونو خوړل حرام كړي شوي دي دالله نبي ژوندي وي (ابن ماجه)

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كوم مسلمان چي دجمعي په ورځ ياشپه مړ شي نو الله تعالي دده قبر لره دفتني نه محفوظ ساتي (رواه احمد والترمذي) ترمذي دا حديث غريب ګڼړلي دي چي ددي اسناد متصل نه دي

دانس رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله به فرمائيل دجمعي ورځ روښانه تندي والا ده يعني ممتازه ده او دجمعي شپه ډيره سپينه او پړقيدونكي شپه ده (رواه البيهقي في الدعوات الكبير)

فائده: حافظ ابن حجر په فتح الباري كي دجمعي دمقبول ساعت متعلق دڅلويښتو نه زيات احاديث نقل كړي دي په كومو كي چي دحصن حصين مؤلف دمسلم مروي احاديث منتخب كړي دي چي دجمعي دساعت نه هغه ساعت مراد دي كوم چي دخطبي دپاره دامام دراوتلو نه دختميدو پوري وي (رواه ابو موسي)

اكثرو علماؤ دابوهريره رضي الله عنه هغه حديث اختيار كړي دي كوم چي دعبدالله بن سلام په حواله مروي دي يعني د جمعي دورځي اخري ساعت په حديث كي مراد دي

همدا رنګي نسائي وغيره دجابر رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي دا وخت دمازيګرنه پس په اخري لمحاتو كي اولټوي ، بيهقي ليكلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دليلة القدر پشان دا ساعت په معين طور پيژندلي ليكن بيا چي يي څنګه دليلة القدر تعين هير كړو نو همدا رنګي يي دا ساعت هم هير كړو

ابن خزيمه پخپل صحيح كي دابو سعيد خدري رضي الله عنه مروي روايت ذكر كړي دي فرمائيل يي چي مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي ساعت دتعين په باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل ماته معلوم خو وو خو بيا رانه هير شوي دي لكه چي دليلة القدر تعين رانه هير شوي دي، داثرم په قول په دوه صورتونو كي ديو صورت منل ضروري ګرځيدلي دي يا خو به بعضي احاديثو ته په بعضو نورو دصحت په لحاظ ترجيح وركولي شي يادي داسي اووئيلي شي چي دجمعي دمخصوص ساعت مقبوليت منتقل كيږي كله يو

وخت ته منتقل شي او كله بل وخت ته لكه چي دشب قدر دمخصوص قدر منتقل كيږي چي كله درمضان داخري عشري په يو تاريخ كيږي او كله په بل كنبي.

دابو موسي او عبدالله بن سلام رضي الله عنهما دروايتونو تطبيق داسي كيدي شي چي عبدالله به دجمعي اخري ساعت مقبول ګڼرلي وي او هغه دا د تورات نه نقل كړي دي څكه چي دموسي عليه السلام په شريعت كي دجمعي مونځ نه وو بني اسرائيلو به دخالي دورځي تعظيم كولو او خاص دخالي ورځ ددوئ د عبادت خصوصي ورځ وه ، نو بيا چي په كوم كلي يا صحراء كي دجمعي مونځ نه كيږي نو ددغه ځاي داوسيدونكو دپاره به دجمعي اخري ساعت دمقبوليت ساعت وي او چرته اوكله چي جمعه كيږي دهغه ځاي دخلقو دپاره به دمقبوليت ساعت دجمعي دمونځ پشان وي لكه چي دابو موسي اشعري په روايت كي راغلي دي.

دجمعي دمخصوص ساعت دتعين متعلق ددي دوه اقوالو نه علاوه بل هيڅ يو قول قابل داعتماد نه دي.

****

٤٩٠ـ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ سَاعَةً لَا يَسْأَلُ اللَّهَ الْعَبْدُ فِيهَا شَيْئًا إِلَّا آتَاهُ اللَّهُ إِيَّاهُ" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيَّةُ سَاعَةٍ هِيَ؟ قَالَ: "حِينَ تُقَامُ الصَّلَاةُ إِلَى الِانْصِرَافِ مِنْهَا" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي مُوسَى، وَأَبِي ذَرٍّ، وَسَلْمَانَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، وَأَبِي لُبَابَةَ، وَسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه: دعمرو بن عوف مزني رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجمعي په ورځ يو ساعت داسي دي چي بنده پكي دالله تعالي نه هر څه اوغواړي ورته يي وركوي خلقو عرض او كړو اي دالله رسوله دا كوم وخت دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دجمعي دمونځ دوخت داخليدو نه واخله دمونځ ختميدو پوري.

امام ترمذي وائي دعمرو بن عوف حديث حسن غريب دي او په دي باب كي دابو موسي، ابوذر، سلمان، عبدالله بن سلام، ابو لبابه، سعد بن عباده او ابو امامه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دعوف بن عمرو حديث حسن صحيح دي.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٩ (١١٣٨) (تحفة الأشراف: ١٠٧٧٣)

د عمرو بن عوف انصاري رضي الله عنه حالات:

نوم عمرو کنیه ابوعبدالله چي داسلام په ابتداء کې مسلمان شوی وو او بیا یي ددینه پس مدیني ته هجرت هم کړی وو (استیعاب).

کله چي په عزوه تبوك کې سخت قحط وو نو رسول الله ددي دپاره تیاری شروع کړو او عمرو بن عوف په دربارنبوت کې حاضر شو او عرض یې اوکړو که زمونږ دپاره هم څه انتظام اوکړی شي نو مونږ به ددي جهاد نه محروم پاتي نشو غرض داچه ددي دپاره څه انتظام اونه شو لیکن الله تعالی ددا سي خلقو په باره کې دا ایت کریمه :

ولا على الذين اذا ما اتوك لتحملهم قلت لا اجد ما احملكم عليه تولوا واعينهم تفيض من الدمع حزناً الا يجدوا ما ينفقون (توبه) نازل کړو.

یعني او نه په هغه خلقو الزام شته کرم چي تاته دسورلۍ غوښتلو دپاره راغلل او تا ورته اووئیل زما سره خو هیڅ څیز نشته چي تاسو پري سواره کړم نو ددي وینا په اوریدو سره دغم په وجه دهغوئ دسترګو نه اوښکي بهیدلي.

وفات: دامیر معاویه رضي الله عنه په زمانه کې په دمینه کې وفات شو (استیعاب) دده دمروياتو شمیر اوو ته رسیږي.

****

٤٩١ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ فِيهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيهِ أُهْبِطَ مِنْهَا، وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يُصَلِّي، فَيَسْأَلُ اللَّهَ فِيهَا شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ " قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَلَقِيتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَلَامٍ فَذَكَرْتُ لَهُ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: أَنَا أَعْلَمُ بِتِلْكَ السَّاعَةِ فَقُلْتُ أَخْبِرْنِي بِهَا وَلَا تَضْنَنْ بِهَا عَلَيَّ، قَالَ: هِيَ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ، فَقُلْتُ كَيْفَ تَكُونُ بَعْدَ الْعَصْرِ، وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّي " وَتِلْكَ السَّاعَةُ لَا يُصَلَّى فِيهَا، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ: أَلَيْسَ قَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ فَهُوَ فِي صَلَاةٍ " قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: فَهُوَ ذَاكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي

الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَمَعْنَى قَوْلِهِ أَخْبِرْنِي بِهَا وَلَا تَضْنَنْ بِهَا عَلَيَّ لَا تَبْخَلْ بِهَا عَلَيَّ. وَالضَّنُّ الْبُخْلُ. وَالظَّنِينُ الْمُتَّهَمُ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په تولو ورځو كي بهتره ورځ چي نمر پكي ختلي دي دجمعي ورځ ده او په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا شوي دي او په همدي ورځ جنت ته داخل كړي شوي دي او په همدي ورځ دجنت نه زمكي ته راكوز كړي شوي دي په دي ورځ كي داسي يو ساعت دي كوم لره چي مسلمان بنده دمونځ په حالت كي بيامومي او دالله تعالي نه دي وخت كي څه اوغواړي نو الله تعالي يي ورته ضرور وركوي دابوهريره بيان دي بيازه عبدالله بن سلام ته ورغلم او ددي حديث ذكر مي ورته اوكړو هغه اووئيل ماته دا ساعت ډير ښه معلوم دي ما ورته اووئيل ماته يي هم اوښايه او په دي سلسله كي ماسره بخل مه كوه هغه اووئيل دا وخت دمازيګر نه واخله دنمر پريوتلو پوري په مينځ كي وخت دي ما اووئيل دا دمازيګر نه پس څنګه كيدي شي او حال دادي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دا چي يو مسلمان بنده دمونځ په حالت كي بيامومي او دغه وخت خو داسي دي په كوم كي چي مونځ نه كيږي؟عبدالله بن سلام اووئيل ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا نه دي فرمائيلي چي څوك دمونځ په انتظار كي په يو ځاي كي ناست وي نو داسي ده لكه دي چي په مونځ كي مشغول وي ما ورته اووئيل ولي نه دا يي ضرور فرمائيلي دي نو عبدالله بن سلام اووئيل همدا مطلب دي.

امام ترمذي وائي په دي حديث كي يوه اوږده قصه ده او دا حديث حسن صحيح دي او دابوهريره قول "اخبرني بها ولاتضنن بها علي" معني داده چي ماته ددي په خودلو كي بخل مه كوه او ضن په معني دبخل دي اوظنين په معني د متهم دي.

تشريح : ددې وخت متعلق مختلفو احاديثو كي مختلف وختونه راغلي دي په دې وجه په دي كي دعالمانو هم ډير اقوال دي دامام ابو حنيفه او امام احمد په نزد دا وخت دجمعې دورځې دمازيګر مانځه نه ترمانښام پوري دې.

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٢٠٧ (١٠٤٦). سنن النسائي في الجمعة ٤٥ (١٤٣). (تحفة الأشراف: ١٥٠٠٠). موطا امام مالك في الجمعة ٧ (١٦) صحيح البخاري في الجمعة ٣٧ (٩٣٥). والطلاق ٢٤ (٥٢٩٤). والدعوات ٦١ (٦٤٠٠). و صحيح مسلم في الجمعة ٤ (٨٥٢). و سنن النسائي في الجمعة ٤٥ (١٤٣٢، ١٤٣٣). و سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٩ (١١٣٧). والمؤطاء في الجمعة ٧ (١٥) و مسند احمد (٢/ ٢٣٠، ٢٥٥، ٢٧٢، ٢٠٨، ٢٨٤، ٢٠٣، ٤٥٧، ٤٦٩، ٤٨١، ٤٨٩). وسنن الدارمي في الصلاة ٢٠٤ (١٦١٠)

دجمعي په ورځ دقبوليت ساعت کوم يو دی؟ دي باره کي شارح د رياض الصالحين ليکلي دي چي دا مخکي متعين وو خو بيا پټ کړی شو په دي وجه په دي کي دعلماؤ ډير اقوال دي چي تقريبا ۳۵ته رسيږي

(۱) دجمعي په ورځ دسحر دمونځ دپاره داذان وخت
(۲) دنمر دختو نه دسپوږمۍ دراختو پوري وخت
(۳) دمازگر نه دنمر پريوتو پوري وخت
(۴) دجمعي دخطبي نه پس دامام دممبر نه دکوزيدو نه پس دتکبير تحريمه ونيلو پوري وخت
(۵) دنمر دراختو نه فورا وروسته وخت
(۶) دنمر دختو وخت
(۷) دساخت وخت
(۸) دزوال شروع کيدو نه پس دسوري دنيم لاس خوريدو پوري
(۹) دزوال شروع کيدو نه پس دسوري ديولاس خوريدو پوري
(۱۱) دنمر ديو لاس خوريدو نه پس ديو لاس اوږيدو دوخته پوري
(۱۲) دعين زوال وخت
(۱۳) دجمعي دمونځ دپاره چي کله مؤذن اذان کوي
(۱۴) دزوال شروع کيدو نه دجمعي په مونځ کي دشامليدو پوري وخت
(۱۵) دزوال کيدو نه پس دامام دفارغيدو پوري وخت
(۱۶) دنمر دزوال نه پس دسپوږمۍ دپريوتو پوري وخت
(۱۷) دخطبي دپاره دامام ممبر ته دختو نه پس دمونځ دشروع کيدو پوري وخت
(۱۸) داذان نه پس دمونځ ختميدو پوري وخت
(۱۹) ممبر ته دامام دختو نه پس دمونځ د ادا کيدو پوري وخت
(۲۰) داذان نه پس دمونځ ادا کولو پوري وخت
(۲۱) په ممبر دامام دکيناستو نه پس دمونځ پوره کيدو پوري وخت
(۲۲) دخريد او فروخت حراميدو نه پس دحلاليدو پوري وخت
(۲۳) اذان ته نژدي وخت
(۲۴) دامام دخطبي دشروع کولو نه دخطبي ختمولو پوري وخت
(۲۵) دخطبي دپاره په منبر دکيناستو نه پس دخطبي درمياني وخت
(۲۶) د دوه خطبو په مينځ کي دامام دکيناستو وخت
(۲۷) دخطبي نه دفارغيدو نه پس دمنبر نه دامام دکوزيدو وخت
(۲۸) دمونځ دپاره دتکبير دشروع کيدو نه پس په مسئله باندي دامام داودريدو پوري وخت

(۲۹) دتکبیر دشروع کیدو نه داختتام پوري وخت.
(۳۰) دجمعي دمونځ نه دفارغیدو نه فورا پس وخت
(۳۱) دمازیگر دمونځ نه دنمر پریوتو پوري وخت
(۳۲) دمازیگر درمیاني وخت.
(۳۳) دمازیگردمونځ نه پس دنمر پریوتو نه مخکي دمونځ مستحب وخت
(۳۴) مطلقا دمازیگر نه پس وخت
(۳۵) دنمر دپریوتو وخت.

****

٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الِاغْتِسَالِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

دجمعي په ورځ دغسل کولو بیان

٤٩٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَجَابِرٍ، وَالْبَرَاءِ، وَعَائِشَةَ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمانیلي دي څوك چي دجمعې مانځه ته خي نو غسل دي اوکړي.

امام ترمذي واني د ابن عمر حدیث حسن صحیح دي او په دي باب کي دعمر، ابوسعید خدري، جابر، براء، عائشه، او ابو الدرداء رضي الله عنهم نه هم احادیث مروي دي

تشریح: دجمعي په ورځ دغسل کولو څه حکم دی؟ په دي باره کي دامام ابو حنیفه. امام شافعي، امام احمد، او جمهورو علماؤ مسلك دادی چي دجمعي دورځي غسل سنت دی لیکن امام مالك په یو قول کي او داصحاب ظواهرو په نزد واجب دی ځکه چي صیغه دامر ده او امر تقاضا دوجوب کوي جمهورو ددي دا جواب کړی دی چي امر کله کله داستحباب دپاره هم راځي.

لغات: فلیغتسل: اغتسل یغتسل اغتسالا معني غسل کول. غسل یغسل غسلا وینځل مغتسل معني غسل خانه. غسیل وینځلي شوي. غاسل معني دوبي

---

١ صحیح مسلم في الجمعة (٨٤٤). (تحفة الأشراف: ٦٨٣٣). مسند احمد (٢ في ٣١، ٤٢، ٥٣، ٥٥، ١٠١، ١١٥، ١٢١، ١٣٥)

دسالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حالات:

نُوم سالم كنيه ابو عمر . واقعه داسي وه چي دعمر رضي الله عنه په زمانه كې دايران دشاهنشاه كومي جينكۍ گرفتار شوي وي په هغي كې يوه عبدالله رضي الله عنه ته وركړى شوه او سالم دهغي نه پيدا شو (تهذيب التهذيب).

په فقه حديث او تفسير كې يي مثال نه وو دامام مالك قول دى چي دسالم په زمانه كې دده نه زيات تقوي دار بل څوك نه وو او نه دسلفو سره دده نه زيات مشابه بل څوك وو (تذكرة الحفاظ).

علامه ذهبي وائي سالم فقيه او حجت دى او دهغه مخصوصو علماؤ نه دى دچا ذات چي علم او عمل لره جمع كونكي دي (تذكرة الحفاظ).

امام نووي وائي چي دسالم په امامت او جلالت زهد او ورع دټولو اتفاق دى (تهذيب الاسماء).

دانتهائي ساده ژوند مالك وو دتكلف او تصنع خلاف وو حافظ ذهبي ليكلي دي چي دوړۍ لباس به يي استعمالولو چي دټولو لباس قيمت به يي د دوه درهمو نه زيات نه وو او دخوراك دپاره به يي صرف ډوډۍ او زيتون استعمالول.

۱۰۷ هجري ذي الحجه كې په مدينه كې وفات شو هشام بن عبدالملك چي دحج نه فارغ شو او مدينه ته راغلى نو په ده باندي يي جنازه اوكړه په جنازه كې دخلقو ډير هجوم وو نو په دي وجه په ده باندي په جنة البقيع كې جنازه اوشوه (طبقات ابن سعد).

ابن خلكان وغيره دده مزيد تفصيلات ليكلي دي.

****

۴۹۳ـ وَرُوِي عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ. عَنِ ابْنِ شِهَابٍ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. عَنْ أَبِيهِ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: وَحَدِيثُ الزُّهْرِيِّ. عَنْ سَالِمٍ. عَنْ أَبِيهِ. وَحَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. عَنْ أَبِيهِ كِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحٌ. وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِ الزُّهْرِيِّ. عَنِ الزُّهْرِيِّ. قَالَ: حَدَّثَنِي آلُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. عَنْ عُمَرَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَيْضًا. وَهُوَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

---

[1] ـ انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۲۲۷)

ترجمه : دا رنګې دا حديث په سند دزهري عن عبدالله بن عبدالله بن عمر عن ابيه عن النبي صلى الله عليه وسلم سره هم مروي دي، امام بخاري وائي دزهري کوم حديث چې په سند دسالم عن ابيه عبدالله بن عمر مروي دي او چې کوم حديث په سند د عبدالله بن عمر عن ابيه عبدالله بن عمر مروي دي دواړه صحيح دي او دزهري بعضې شاګردانو دا په سند د زهري عن ال عبدالله بن عمر عن عبدالله بن عمر نه نقل کړي دي او کوم حديث چې هغوئ عن ال عبدالله بن عمر عن عبدالله بن عمر نقل کړي دي، امام ترمذي وائي دجمعې دورځې دغسل په سلسله کې په سند دابن عمر عن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم سره مرفوعا مروي دي چې وروسته به راشي او دا حديث حسن صحيح دي.

****

٤٩٤ـ وَرَوَاهُ يُونُسُ، وَمَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، بَيْنَمَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَيَّةُ سَاعَةٍ هَذِهِ؟ فَقَالَ: مَا هُوَ إِلَّا أَنْ سَمِعْتُ النِّدَاءَ وَمَا زِدْتُ عَلَى أَنْ تَوَضَّأْتُ، قَالَ: "وَالْوُضُوءُ أَيْضًا، وَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِالْغُسْلِ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ.[1]

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي چې عمر رضي الله عنه دجمعې په ورځ خطبه ورکوله چې په دې دوران کې په صحابه کرامو کې يو کس مسجد ته داخل شو عمر رضي الله عنه ورنه تپوس اوکړو چې دا دراتلو کوم يو وخت دي هغوئ اووئيل ما خو صرف دومره ناوخته کړو او اذان مې واوريدو او بس اودس مې اوکړو او راغلم عمر رضي الله عنه اووئيل تا صرف په اودس باندې اکتفاء کړې ده او حال دادې تاته معلومه ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دغسل حکم هم کړې دي

****

٤٩٥ـ قَالَ: وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا أَبُو صَالِحٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَرَوَى مَالِكٌ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ

---

1 ـ صحيح البخاري في الجمعة ٢ (٨٧٨). صحيح مسلم في الجمعة (٨٣٥). (تحفة الأشراف: ١٠٥١٩) صحيح البخاري في الجمعة ٢ (٨٧٨). صحيح مسلم في الجمعة (٨٣٥). (تحفة الأشراف: ١٠٥١٩)

سَالِمٍ، قَالَ: بَيْنَمَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا، فَقَالَ: الصَّحِيحُ حَدِيثُ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مَالِكٍ أَيْضًا، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ نَحْوُ هَذَا الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه : په دي سند سره هم دا حديث مروي دي او ابو مالك هم دا حديث په سند دزهري عن سالم نقل كړي دي سالم بن عمر وائي چي عمر فاروق رضي الله عنه دجمعي په ورځ خطبه وركوله او بيا يي پوره حديث ذكر كړو.

امام ترمذي وائي ما په دي سلسله كي دامام بخاري نه تپوس اوكړو نو هغوئ اووئيل صحيح حديث دزهري دي كوم چي هغه په سند دسالم عن ابيه نه نقل كړي دي امام بخاري وائي چي دمالك نه هم داسي حديث مروي دي هغوئ په سند دزهري عن سالم عن ابيه نقل كړي دي.

****

٤_ باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

دجمعي په ورځ دغسل كولو فضيلت

٤٩٦_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، وَأَبُو جَنَابٍ يَحْيَى بْنُ أَبِي حَيَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَغَسَّلَ وَبَكَّرَ وَابْتَكَرَ وَدَنَا وَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا أَجْرُ سَنَةٍ صِيَامُهَا وَقِيَامُهَا". قَالَ مَحْمُودٌ: قَالَ وَكِيعٌ: اغْتَسَلَ هُوَ وَغَسَّلَ امْرَأَتَهُ. قَالَ: وَيُرْوَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: مَنْ غَسَّلَ وَاغْتَسَلَ، يَعْنِي غَسَلَ رَأْسَهُ وَاغْتَسَلَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَسَلْمَانَ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي أَيُّوبَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو الْأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيُّ اسْمُهُ شَرَاحِيلُ بْنُ آدَةَ. وَأَبُو جَنَابٍ يَحْيَى بْنُ حَبِيبٍ الْقَصَّابُ الْكُوفِيُّ.

(2)

---

1 صحيح البخاري في الجمعة ٢ (٨٧٨). صحيح مسلم في الجمعة (٨٤٥). (تحفة الأشراف: ١٠٥١٩)

2 سنن ابي داود في الطهارة ١٢٩ (٣٤٥). سنن النسائي في الجمعة ١٠ (١٣٨٢). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٠ (١٠٨٧) (تحفة الأشراف: ١٧٣٥). مسند احمد ٤ في ٨، ٩، ١٠). والدارمي في سننه.

ترجمه : داوس بن اوس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دجمعي په ورځ غسل اوكړو او غسل يي وركړو او وختي ورسيدو او دشروع نه په خطبه كي شريك شو امام سره نژدي كيناستو او په غور سره يي خطبه واوريدله او خاموش ناست وو نو ده ته به دده دهر قدم په بدل كي ديو كال دروژو او دشپو دقيام ثواب ملاويږي، دوكيع قول دي او ددي معني داده چي پخپله يي غسل اوكړو او خپلي ښځي ته يي هم دغسل كولو حكم اوكړو.

امام ترمذي وائي داوس بن اوس حديث حسن دي عبدالله بن مبارك ددي حديث په سلسله كي وئيلي دي د "من غَسَّلَ واغتسل" معني داده چي خپل سر يي اووينځلو او غسل يي اوكړو، په دي باب كي دابوبكر، عمران بن حصين، سلمان، ابوذر، ابوسعيد، ابن عمر او ابو ايوب رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. اود ابو الاشعث صنعاني نوم شراحيل بن اداة دی. او ابو جناب يحي بن حبيب قصاب د كوفي اوسيدونكي دي.

تشريح : په دي حديث كي څلور امور ذكر شول چاچه ددي لحاظ اوساتلو دهغه دپاره په هر قدم دسل كالو دروژو او ديو كال دنفلو ثواب ملاويږي دا په هغه صورت كي دي چي كله دڅلورو كارونو پابندي كوي.

(۱) دامام سره نژدي كيناستل (۲) تازه غسل كول او پاكي جامي اغوستل (۳) سحر وختي تلل (۴) دخطبي اوريدو دپاره خاموش كيناستل او په يوه جمعه دوو كي ددي عمل په كولو دا ثواب نه ملاويږي په دائمي كولو ملاويږي.

داوس بن اوس رضي الله عنه حالات:

نوم اوس دقبيله بني ثقيف سره يي تعلق دی په دمشق (بيروت) كي يي رهائش كولو او هلته يي يوكور اويو مسجد جوړ كړی وو ۲۴ روايات ورنه مروي دي په بخاري او مسلم كي ورنه كوم روايت نشته ترمذي او ابن ماجه وغيره ورنه روأيت نقل كړی دی.

****

٥_ باب مَا جَاءَ فِي الْوُضُوءِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

دجمعي په ورځ داودس كولو بيان

٤٩٧_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُفْيَانَ الْجَحْدَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ، وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،

وَعَائِشَةَ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُ أَصْحَابِ قَتَادَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ. وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ، اخْتَارُوا الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَرَأَوْا أَنْ يُجْزِئَ الْوُضُوءُ مِنَ الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَمِمَّا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ أَمْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَنَّهُ عَلَى الِاخْتِيَارِ لَا عَلَى الْوُجُوبِ: حَدِيثُ عُمَرَ حَيْثُ قَالَ لِعُثْمَانَ: وَالْوُضُوءُ أَيْضًا. وَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِالْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَلَوْ عَلِمَا أَنَّ أَمْرَهُ عَلَى الْوُجُوبِ لَا عَلَى الِاخْتِيَارِ لَمْ يَتْرُكْ عُمَرُ، عُثْمَانَ حَتَّى يَرُدَّهُ، وَيَقُولَ لَهُ: ارْجِعْ فَاغْتَسِلْ. وَلَمَا خَفِيَ عَلَى عُثْمَانَ ذَلِكَ مَعَ عِلْمِهِ. وَلَكِنْ دَلَّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِيهِ فَضْلٌ مِنْ غَيْرِ وُجُوبٍ يَجِبُ عَلَى الْمَرْءِ فِي ذَلِكَ.[1]

ترجمه : دسمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دجمعي په ورځ جمعي مانځه ته اودس اوکړو هم ښه دی اوچاچه غسل اوکړو نو دا ډير بهتر دی.

امام ترمذي وائي دسمره حديث حسن دي، دقتاده بعضي شاګردانو دا حديث دقتاده نه او قتاده دحسن بصري نه او حسن بصري دسمره نه مرفوعا نقل کړي دي او دده نورو شاګردانو دقتاده نه او قتاده دحسن نه او حسن درسول الله نه مرسلا نقل کړي دي. او په دي باب کي د ابوهريره، عائشه، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دصحابه کرامو او ددوئ نه پس داهل علمو په همدي باندي عمل دي او هغوئ دجمعي په ورځ غسل کول خوښ کړي دي دهغوئ دا خيال دي چي دغسل په بدل کي اودس هم پاتي کيږي، امام شافعي وائي دجمعي په ورځ درسول الله صلي الله عليه وسلم دغسل دحکم وجوبي کيدو په ځاي په اختياري کيدو باندي چي کوم څيزونه دلالت کوي يو په هغوئ کي دعمر رضي الله عنه حديث هم دي په کوم کي چي هغوئ عثمان رضي الله عنه ته اووئيل چي تا خو صرف په اودس باندي اکتفاء کړي ده او حال دادي تاته معلومه ده چي رسول الله دجمعي په ورځ دغسل کولو حکم کړي دي. که هغوئ ته دا معلومه وي چي دا حکم واجبي دي او اختياري نه دي نو عمر رضي الله عنه به عثمان لره دواپس کولو نه بغير نه پريخودلو او ورته به يي وئيلي وو چي ورشه او غسل اوکړه

[1] ـ سنن ابي داود في الطهارة ١٣٠ (٣٥٤). سنن النسائي في الجمعة ٩ (١٣٨١). (تحفة الأشراف: ٤٥٨٧). مسند احمد (٥ في ١٥، ١٦، ٢٢)

او نه به دعثمان رضي الله عنه نه په دي باندي دپوهيدوباوجود دجمعي دغسل وجوب مخفي پاتي كيدو بلكه په دي حديث كي په وضاحت سره په دي خبره دلالت دي چي دجمعي غسل افضل دي او واجب نه دي.

لغات : نعمت: نعم دافعال مدحه نه دي او غير منصرف دي لكه نعم رجل زيد او نعم رجلا زيد دتثنيه او جمع استعمال يي نادر دي، نعما نعموا نعمتا او نعمن اوكله كله ى په اخر كي ما لاحق كيږي او پدغه وخت كي دصلي نه مستغني وي.

اغتسل: اغتسل يغتسل اغتسالا معني غسل كول ، غسل يغسل غسلا وينځل مغتسل معني غسل خانه ، غسيل وينځلي شوي ، غاسل معني دوبي.

تشريح : پورتني حديث نه معلومه شوه چي دجمعي په ورځ اودس كول جائز دي او غسل كول بهتردي همدادجمهور علماؤ مذهب دى دپورتني حديث مضمون په ډيرو رواياتو كي راغلى دى دابوهريره په روايت كي داسي دى "من توضأ فأحسن الوضوء ثم اتي الجمعة فدنا واستمع وانصت غفر له مابينه وبين الجمعة وزيادة ثلاثة الايام.

****

٤٩٨ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَدَنَا وَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ، وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه اودس اوكړو او په ښه شان سره يي اودس اوكړو او بيا دجمعي دپاره روان شو او امام ته نژدي كيناستو او په غور سره يي په خاموشئ كي خطبه واوريده نو دده ددي جمعي نه واخله تر بلي جمعي پوري او ددينه علاوه مزيد د دريو ورځو ګناهونه به دده اوبخلي شي او چاچه ګيټئ دخاي نه لري كړي نو هغه لغو يعني بي فائدي كار اوكړو

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي

لغات: مسّ : مس مسا دنصر او ضرب نه په معني دمسه كولو دي.

---

1 ـ صحيح مسلم في الجمعة ٨ (٨٥٧) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٠٩ (١٠٥٠) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٢ (١٠٢٥) ، و٨١ (١٠٩٠) . (تحفة الأشراف: ١٢٤٠٥) . مسند احمد (٢ في ٤٢٤)

الحصي: حصي حصيا د ضرب نه په معني دګيتيئ ويشتلو دي.

تشريح : داحديث داعلي درجي صحت والا دي او دلالت يي هم واضح دي چي دجمعي غسل واجب نه دي او په دي حديث كي دمواظبت شرط هم نشته يعني په كومه جمعه كي چي دا ټول خبري جمع شي نو دا ثواب به ورته ملاويږي او دا ثواب د "الحسنة بعشرة امثالها" دقانون مطابق دي.

"فاحسن الوضوء" يعني ښائسته اودس دي اوكړي په دي حديث كي داسي اودس كولو ته ترغيب وركړی شوی دی په كوم كي چي دسنن او ادابو خيال ساتلی شوی وي.

"اتي الجمعة" يعني چي دجمعي دمونځ دپاره مسجد ته لاړ شي ددينه معلومه شوه چي دجمعي دجماعت اهميت دنورو مونځونو په نسبت زيات دی او هغه داچه نور مونځونه خو په انفرادي طور هم ادا كيدی شي مګر جمعه دجماعت نه بغير نشي ادا كيدی.

"فاستمع وانصت" يعني په خاموشئ دامام خطبه اوريدل دامام ابو حنيفه په نزد ضروري دي ددينې ضرورت په بنا امام په قدر دضرورت خبري كولی شي مګر اوريدونكو ته ددي اجازه نشته لكه چي په يو روايت كي راغلي دي من قال يوم الجمعة والامام يخطب انصت فقد لغا. يعني دجمعي په ورځ چي كله امام خطبه وركوي اوڅوك چاته اووائي چپ شه نو هم ګنهګار شو.

غفر له مابينه وبين الجمعة وزيادة ثلاثة ايام. يعني هغه ته ديوي جمعي نه دبلي جمعي پوري دګناهونو مغفرت اوشو او د دزيو ورځو نورو ځكه چي دشريعت قاعده داده "من جاء بالحسنة فله عشر امثاله" يعني څوك چي يوه نيكي اوكړي نو الله تعالي دهغي لس چنده اجر وركوي.

ومن مس الحصا فقد لغا. يعني كه چا په لاس دسجدي په ځاي نه ګيتيئ لري كړ نو هم يي لغوه كار اوكړو. رسول الله په مباركه زمانه كي په مسجد كي كانړي خواره كړی شوي وو ليكن په دي حديث كي اوفرمائيلی شول چي دا كانړي به هم دخطبي په دوران كي نه لري كوئ.

****

٦_ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّبْكِيرِ إِلَى الْجُمُعَةِ

د جمعي مونځ دپاره په اول وخت كي مسجد ته دتلو فضيلت

٤٩٩_ حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ

الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَسَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.
([1])

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دجمعى په ورځ غسل اوكړو، لكه دجنابت دغسل په شان بيا په اول ساعت كي جامع مسجد ته لاړو، نو (دومره ثواب يې دى) لكه يو اوښ چي دالله په رضا خيرات كړي. څوك چي دويم ساعت كي لاړو، داسى دى لكه چي غوايي خيرات كړي، او څوك چي دريم ساعت كي لاړو داسى دى لكه چي دغټو ښكرو والا ګډ خيرات كړي، او څوك چي څلورم ساعت كي لاړو داسى دى لكه چرګ چي خيرات كړي او څوك چي پنځم ساعت كي لاړو داسى دى لكه دچرګى هګۍ چي خيرات كړي ، اوچه امام خطبى ته اودريږي نو فرشتى د نوم ليكلو رجستر بند كړي اوخطبى اوريدو ته كيني.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعبدالله بن عمر او سمره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات : قرّب: قرباني دي وكړي

تشريح : ثم راح في الساعة الاولي: يعني بياد ورځي په اول وخت كي روان شي، ددينه علاوه په دي روايت كي دجمعي دمونځ دپاره په جلتۍ سره تلو ته ترغيب وركړى شوى دى چي كه څوك په څومره جلتۍ سره ځان ورسوي نو ددومره زيات اجر مستحق به وي چي داجر تناسب يي ذكر كړي دى.

يستمعون الذكر: دذكر نه مراد خطبه ده ځكه چي فرشتي هم خطبه اوري نو نورو خلقو ته هم ترغيب دي چي دوئ دي هم خطبه په توجه سره واوري.

****

[1] صحيح البخاري في الجمعة ٤ (٨٨١)، و٣١ (٩٢٩)، وبدء الخلق ٦ (٣٢١١). صحيح مسلم في الجمعة ٧ (٨٥٠). سنن ابي داود في الطهارة ١٢٩ (٣٥١). سنن النسائي في الإمامة ٥٩ (٨٦٥)، والجمعة ١٣ (١٣٨٦)، و١٤ (١٣٨٩). سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٢ (١٠٩٢). (تحفة الأشراف: ١٢٥٦٩). موطا امام مالک في الجمعة ١ (١). مسند احمد (٢ في ٢٣٩، ٢٥٩، ٢٨٠، ٥٠٥، ٥١٢) سنن الدارمي في الصلاة ١٩٣ (١٥٨٥)

٧_ باب مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الْجُمُعَةِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ

بغير د عذر نه د جمعي ترکولو د وعيد بيان

٥٠٠_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَبِيدَةَ بْنِ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الْجَعْدِ يَعْنِي الضَّمْرِيَّ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ فِيمَا زَعَمَ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَسَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي الْجَعْدِ حَدِيثٌ حَسَنٌ. قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنِ اسْمِ أَبِي الْجَعْدِ الضَّمْرِيِّ، فَلَمْ يَعْرِفِ اسْمَهُ، وَقَالَ: لَا أَعْرِفُ لَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو. [1]

ترجمه : د ابو الجعد ضمري رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي جمعي لره دري ييري دسستئ په وجه او دسپك ګڼړلو په وجه پريږدي نو الله تعالي دده په زړه مهر لګوي.

امام ترمذي وائي دابو الجعد حديث حسن دي ، دمحمد بن اسماعيل بخاري نه مي دابو الجعد ضمري دنوم تپوس اوکړو نو هغه ته معلوم نه وو، ددي حديث نه علاوه ماته دده کوم بل حديث معلوم نه دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي نقل کړي وي او مونږ ته دا حديث صرف دمحمد بن عمرو په سند معلوم دي.

تشريح : جُمعه د اجتماع نه ده، لکه څنګه چي فرقت د افتراق نه دی . لفظ دجُمعي په ضمه د ميم دی ، او په سکون سره هم ونيلي شوی دی ، بعضي حضراتو د ميم په فتحه سره هم نقل کړی دی ، جُمعي ته جُمعه ځکه وائی، چی خلق په دی ورځ کي راجمع کيږی

دجمعي دمونځ فرضيت په کتاب، سنت، اجماع او په دليل عقلی څلورو واړو سره ثابت دی .

(١) دکتاب الله نه خوځکه ثابت دی چی الله تعالی فرمائيلی دی.

يا ايها الذين امنوا اذا نودي للصلاة من يوم الجمعة فاسعوا الي ذكر الله وذروا البيع.

---

[1] _ سنن ابي داود في الصلاة ٢١٠ (١٠٥٢) . سنن النسائي في الجمعة ١ (١٣٦٩) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٣ (١١٢٥) . (تحفة الأشراف : ١١٨٨٣) . مسند احمد (٣ في ٤٢٤) . سنن الدارمي في الصلاة ٢٠٥ (١٦١٢)

د ذکر نه څه مراد دي په دي کي دري اقوال دي (۱) د مشهورقول مطابق د ذکرالله نه مراد خطبه ده، او د " فاسعوا "دامرصیغه د وجوب دپاره ده، نود ایت نه خطبي ته دسعی وجوب ثابت شو، اود خطبي ته سعی دجمعي د مونځ په شرائطوکي ده، نوهرکله چی د جوازجُمعه شرط یعنی د خطبي ته د سعی وجوب ثابت شو، نو د جُمعي مونځ چی مقصود دی ، په درجه اولی سره به واجب (فرض) وی، ددی وجوب موکد کولو دپاره ئی اوفرمائیل. [وذروا البیع] یعنی دجُمعي د اذان نه پس اخستل خرڅول حرام کړی شو، حالانکه اخستل خرڅول مباح دی، اودا اُصول دی چی الله تعالی امرمباح د یو امرواجب په وجه حراموی، نو ثابته شوه، چی جمعه (چی ددی په وجه اذان نه پس بیع حرام کړی شوه) واجب (فرض)ده، (۲) علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائیلی دی ظاهره داده ، چی د ذکرالله نه مونځ مراد دی . په دی صورت کي براه راست دجُمعي مونځ فرض کیدل ثابتیږی ، دریم مفسرینودذکرالله تفسیر په مونځ اوخطبی دواړو سره کړی دی ، علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائیلی دی، چی دا زیاته مناسب ده، ځکه چی په دی صورت کي ایت په مونځ اوخطبه دواړو باندی صادق راځی ،

(۱)حدیث چی تري د جُمعي دمونځ فضیلت ثابتیږی دادی:

[اعلموا ان الله کتب علیکم الجمعة فی یومی هذا فی شهری هذا فی مقامی هذا]

پوهه شئ ، چی الله تعالی په تاسو باندی جمعه فرض کړی ده زما په دی ورځ کي زما په دی میاشت کي زما په دی مقام کنبي.

(۲) دویم حدیث:

[الجمعة حق واجب علی کل مسلم فی جماعة الا اربعة مملوك اوامرأة اوصبی اومریض] (رواه ابوداؤد)

دجُمعي مونځ په هرمسلمان باندی په جماعت سره کول حق واجب یعنی فرض دی خوپه څلورو کسانو باندی په غلام، ښځه نا بالغ ماشوم او په مریض باندي.

(۳) دریم حدیث

[قال رسول الله ﷺ من ترك ثلاث جماعات من غیر عذر کتب من المنافقین]

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، چا چی دري جُمعي بغیر د عذر نه پریخودی ، په منافقانوکي به شمار شي.

(۴) څلورم حدیث

[من ترك الجمعة ثلاث جمع متوالیات فقد نبذ الاسلام وراء ظهره]

چاچې مسلسل دري جُمعې پريخودلې ده اسلام شاته اوغورځولو، په دې دواړو حديثونو کې په ترك جمعه باندې سخت وعيد بيان شوی دی ، او ظاهره ده چې وعيد د فرضو په پريخودلو باندې راځي ، نو ددې دواړو حديثونو نه هم د جُمعې فرضيت ثابت شو ،

ثبوت الجمعة بالإجماع

چونکه پوره امت مسلمه د جُمعې په فرضيت باندې متفق دی ، ځکه په اجماع سره هم دجُمعې د مونځ فرضيت ثابت شو ، د جُمعې په فرضيت باندې عقلي دليل دادی چې مونږ ته دجمعې قائمولو دپاره د ماسپخين دمونځ پريخودلو امرکړی شوی دی ، او د ماسپخين مونځ په يقين سره فرض دی .

د جمعې دفرضيت تاريخ

کله چې نبي ﷺ د مکې نه هجرت اوکړلو، او مدينې منورې طرف ته ئې تشريف يوړلو، نو هغوی په قباء کې دننه د عمرو بن عوف رضي الله عنه په محله کې څوارلس شپې قيام کړی وو، هم په دې دوران کې هغوی ﷺ ديو جومات بنياد کيخودو، چې ورته په اسلام کې د ټولونه اولنی جومات وئيلې شی، چې قران حکيم تري نه په لمسجد اسس علي التقوي الاية سره تعبير کړی دی ، بيا کله چې نبي ﷺ د قباء نه د مدينې په طرف دجُمعې په ورځ روان شو، نو په لاره کې د سالم بن عوف په محله کې د جُمعې د مانځه وخت راغی ، نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم د سورلۍ نه راکوز شو ، په دې جومات کې ئې دجُمعې مونځ ادا کړو، او دا د خوږ په مينځ کې وو ، دا په اسلام کې د ټولونه اولنۍ ادا کړی شوې جُمعه وه، په دې جُمعه کې په سوونو مسلمانان شريك شول، په اسلام کې د ټولونه د اولنۍ جُمعې ، اوخطبې پوره تفصيل اصح السير، سيرت مصطفی شرح سيرکبير کې اوګورئ

دجمعې د مونځ شرائط

دجُمعې د فرضيت دولس شرطونه دي، شپږ شرطونه خو داسې دي، چې د هغې په ذات د مونځ ګذار کې وجود ضروري دی :

(۱) ازاد وی، په غلام جُمعه فرض نه ده
(۲) سړی وی، په ښځه فرض نه ده
(۳) مقيم وی، په مسافر فرض نه ده.
(۴) تندرست وی، يعنی داسې بيمارنه وی چې په جُمعه کې شرکت د تکليف سبب وی
(۵) د پښو سلامتيا په شل فرض نه ده
(۶) د سترګو سلامتيا ، نابينا باندې فرض نه ده،

شپږ شرطونه داسې دی، چې د هغې تعلق د مونځ کونکی د ذات سره نه وی.

(۱) بنار ، په بانډه کي فرض نه ده.
(۲) جومات، په کورونو کي فرض نه ده.
(۳)بادشاه ، يعني د باد شاه يا قاضي يادشاه د مقرر کړي کس د اجازت نه بغير جمعه نشي قائميدي.
(۴) وخت، يعني د وخت نه مخکي يا وروسته جمعه نشي قائميدي
(۵) خطبه يعني د خطبي نه بغير د جمعي مونځ درست نه دی
(۶) عام اجازت. يعني په داسي طريقه جمعه نشي قائميدي چي عامو خلقو ته د راتلو اجازت نه وي. (معراج الصالحين شرح رياج الصالحين. فتح القدير ابن همام).

****

۸ـ بَابُ مَا جَاءَ مِنْ كَمْ تُؤْتَى الْجُمُعَةُ

د څومره مسافي نه جمعي ته حاضريدل ضروري دي

۵۰۱ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مَدُّوَيْهِ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ ثُوَيْرٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ قُبَاءَ، عَنْ أَبِيهِ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْهَدَ الْجُمُعَةَ مِنْ قُبَاءَ ". وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا وَلَا يَصِحُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَلَا يَصِحُّ فِي هَذَا الْبَابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّهُ قَالَ: " الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ ". وَهَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ. إِنَّمَا يُرْوَى مِنْ حَدِيثِ مُعَارِكِ بْنِ عَبَّادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، وَضَعَّفَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيَّ فِي الْحَدِيثِ. فَقَالَ: وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ عَلَى مَنْ تَجِبُ الْجُمُعَةُ. قَالَ بَعْضُهُمْ: تَجِبُ الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى مَنْزِلِهِ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ إِلَّا عَلَى مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ. وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. ([1])

ترجمه : اهل قباء والانه يو کس دخپل پلار نه روايت کوي او دده پلار دصحابه کرامو دجملي نه دي وائي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم مونږ ته حکم اوکړو چي تاسو به دقباء نه مسجد نبوي ته دجمعي دمونځ دپاره راځئ، په دي سلسله کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۵۶۹)

يو روايت منقول دي او هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت كوي ليكن دا روايت صحيح نه دي.

امام ترمذي وائي دا حديث مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او په دي باب كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په مروي روايتونو كي يو هم صحيح نه دي، دابوهريره نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جمعه په هر هغه چا باندي فرض ده څوك چي دمونځ نه پس خپل كور ته شپه رسولي شي ددي حديث سند ضعيف دي دا حديث دمعارك بن عباد نه نقل دي او معارك دسعيد مقبري نه روايت.كوي يحي بن سعيد القطان دعبدالله بن سعيد مقبري دحديث تضعيف كړي دي ، داهل علمو په دي كي اختلاف دي چي جمعه په چا باندي واجب ده دبعضو قول دي جمعه په هغه چا واجب ده څوك چي دشپي دپاره كور ته رسيدي شي او بعضي وائي جمعه صرف په هغه چا واجب ده چي اذان يي اوريدلي وي دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي.

****

٥٠٢_ سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ الْحَسَنِ، يَقُولُ: كُنَّا عِنْدَ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ فَذَكَرُوا عَلَى مَنْ تَجِبُ الْجُمُعَةُ، فَلَمْ يَذْكُرْ أَحْمَدُ فِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ: فَقُلْتُ لِأَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ فِيهِ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ أَحْمَدُ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ: حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ نُصَيْرٍ، حَدَّثَنَا مُعَارِكُ بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: " الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ ". قَالَ: فَغَضِبَ عَلَيَّ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَقَالَ لِي: اسْتَغْفِرْ، رَبَّكَ اسْتَغْفِرْ رَبَّكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: إِنَّمَا فَعَلَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ هَذَا لِأَنَّهُ لَمْ يَعُدَّ هَذَا الْحَدِيثَ شَيْئًا، وَضَعَّفَهُ لِحَالِ إِسْنَادِهِ. (١)

ترجمه داحمد بن حسن نه مي اوريدلي دي فرمائي چي مونږ داحمد بن حنبل سره موجود وو او چا ددي خبري ذكر اوكړو چي جمعه په چا باندي واجب ده نو امام احمد په دي سلسله كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه هيڅ ذكر نكړل احمد بن حسن وائي ما احمد بن حنبل ته اووئيل په دي سلسله كي دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي كوم چي هغه د نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي نو امام احمد تپوس اوكړو ايا درسول الله صلي الله عليه وسلم

---

١ _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٩٦٥)

نه يي نقل كړي دي؟ ما اوونيل هو، او بيا احمد بن حسن دحجاج بن نصير نه حديث بيان كړو حدثنا معارك بن عباد عن عبدالله بن سعيد المقبري عن ابيه عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم چي رسول الله فرمائيلي دي جمعه په هغه چا واجب ده څوك چي دمونځ نه پس شپه خپل كور ته رسولي شي احمد بن حسن وائي چي احمد بن حنبل ماته غصه شو او ماته يي اوونيل دخپل رب نه بخنه اوغواړه او دخپل رب نه بخنه اوغواړه.

امام ترمذي وائي احمد بن حنبل داسي ځكه اوكړل چي هغه دي حديث ته هيڅ حيثيت ورنكړو او دسند په وجه يي ضعيف اوګڼړلو.

****

٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي وَقْتِ الْجُمُعَةِ

د جمعي مونځ د وخت بيان

٥٠٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُصَلِّي الْجُمُعَةَ حِينَ تَمِيلُ الشَّمْسُ".[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دجمعي مونځ هغه وخت كولو كله چي به نمر ستون شو.

****

٥٠٤ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ، وَجَابِرٍ، وَالزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَهُوَ الَّذِي أَجْمَعَ عَلَيْهِ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ: أَنَّ وَقْتَ الْجُمُعَةِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ كَوَقْتِ الظُّهْرِ، وَهُوَ قَوْلُ:

---

[1] ـ صحيح البخاري في الجمعة ١٦ (٩٠٣)، سنن ابي داود في الصلاة ٢٢٤ (١٠٨٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٩)، مسند احمد (٣ في ١٢٨، ٢٢٨)

الشَّافِعِيّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق. وَرَأَى بَعْضُهُمْ أَنَّ صَلَاةَ الْجُمُعَةِ إِذَا صُلِّيَتْ قَبْلَ الزَّوَالِ أَنَّهَا تَجُوزُ أَيْضًا. وقَالَ أَحْمَدُ: وَمَنْ صَلَّاهَا قَبْلَ الزَّوَالِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرَ عَلَيْهِ إِعَادَةً. (1)

ترجمه : په دي سند سره هم دانس رضي الله عنه نه په سابقه روايت هم معني حديث مروي دي.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د سلمه بن الاكوع ، جابر، او زبير بن عوام رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او په همدي داكثرو اهل علمو اتفاق دی چي دجمعي وخت دماسپخين دوخت پشان هغه وخت شروع كيږي كله چي دنمر سوري واوړي او همدا دامام شافعي، احمد، او اسحاق قول دي دبعضو قول دادي چي چه دجمعي مونځ كه دزوال نه مخكي اوكړي شي نو دا هم جائز دي. دامام احمد قول دي چاچه دجمعي مونځ دزوال نه مخكي اوكړو نو په هغه باندي ددي راګرځول ضروري نه دي

تشريح : تمام اهل علم په دي متفق دي چي دماسپخين پشان دجمعي وخت هم دزوال تيريدو نه پس شروع كيږي مګر امام احمد ددي قائل دي چي دزوال نه مخكي هم كه په هغه وخت كي دجمعي مونځ اوكړي شي څه وخت چي داختر مونځ كيږي يعني تقريبا لس بجي نو دا هم جائزدي ليكن دزوال نه وروسته دجمعي مونځ كول افضل دي، او دجمهور اهل علمو په نزد دجمعي مونځ د ماسپخين په وخت كي صحيح دی ، دليل دادی چی نبی ﷺ مصعب بن عمير رضي الله عنه كله مدينی منوري ته اوليګلو نوفرمائيلی ئی وو:

[اذا مالت الشمس فصل بالناس الجمعة]

يعنی هركله چی نمر زائله شی نوخلقو ته دجُمعي مونځ اوكړه، د بخاری روايت دی

[عن انس كان النبی ﷺ يصلی الجمعة حين تميل الشمس]

د انس رضي الله عنه نه مروی دی چی رسول الله ﷺ چی به كله نمر زوال اوكړو دجُمعي مونځ به ئی كولو

دويم(2) په مسلم كي دی

[عن سلمة بن الاكوع رضي الله عنه كنا نجمع مع رسول الله ﷺ اذا زالت الشمس]

يعنی مونږ خلقو به دجُمعي مونځ كولو كله چی به نمرزائله شو

---

1 - صحيح البخاری في الجمعة ١٦(٩٠٣) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٢٤(١٠٨٣) . (تحفة الأشراف : ١٠٨٩) . مسند احمد (٣ في ١٢٨، ٢٢٨)

که د ماسپخین د مونځ وخت په دی حال کي اووتلو چی امام دجُمعي په مانځه کي مشغول وو، نو د جمعي مونځ فاسد شو، اوس به د سر نه د ماسپخين مونځ کوی، په جُمعي باندی د ماسپخين د مونځ بناء کول جائز نه دی،

(۲) د امام شافعی اود امام زفر په نزد بناء کول جائزدی، ددی حضراتو دلیل دادی چی جُمعه د ماسپخين قصر مونځ دی، نوکوم وخت چی د ماسپخين وو، هم هغه وخت دجُمعي دی، پس جُمعه هم ماسپخين دی، نو د جمعي په مونځ باندی د ماسپخين بناء کول درست دي

زمونږ دلیل دادی چی د جُمعي او ماسپخين په مينځ کي اسماً، کماً، کیفاً، اودشرائطو په اعتبارسره اختلاف او تغایردی:

(۱) اسماً خوځکه چی د یو نوم جُمعه ده اود دویم نوم ماسپخين دی.

(۲) کماً ځکه چی د ماسپخين څلور رکعته دی، او د جُمعي دوه رکعته دی.

(۳) کيفاً ځکه چی په جُمعه کي قرأت جهری دی، او په ماسپخين کي سری، اودشرائطو په اعتبارسره ځکه اختلاف دی، چی دجُمعي ادا کولو دپاره څه شرائط مخصوص دی، کوم چی په ماسپخين کي نشته، بهر حال د جُمعي او ماسپخين په مينځ کي مغایرت اواختلاف دی، اوتغاير بناء منع کوی، لکه څنګه چی اقتداء منع کوی، په دی وجه مونږ وایو، چی د ماسپخين بناء په جُمعه باندی کول درست نه دی.

****

١٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْخُطْبَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ

د جمعي خطبه په منبر ونيل مسنون دي

٥٠٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ الْفَلَّاسُ الصَّيْرَفِيُّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، وَيَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ أَبُو غسان العنبري، قَالَا: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ الْعَلَاءِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَخْطُبُ إِلَى جِذْعٍ فَلَمَّا اتَّخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ حَنَّ الْجِذْعُ حَتَّى أَتَاهُ فَالْتَزَمَهُ فَسَكَنَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَجَابِرٍ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَمُعَاذُ بْنُ الْعَلَاءِ هُوَ بَصْرِيٌّ، وَهُوَ أَخُو أَبِي عَمْرِو بْنِ الْعَلَاءِ.[1]

---

[1] ـ صحيح البخاري في المناقب ٢٥ (٣٥٨٣). (تحفة الأشراف: ٨٤٤٩)

ترجمه : دعبدالله بن عمر بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دکجوري په يوي تني اودريدو او خطبه به يي ورکوله مگر چي کله يي منبر جوړ کړو نو تني دومره اوژړل چي ددي خواته رسول الله راغلو او خان پوري يي راجوخته کړو نو هغه خاموش شوه.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح غريب دي، او په دي باب کي دانس، جابر، سهل بن سعد، ابئ بن کعب، ابن عباس، او ام سلمه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : په دي خبره هم تمام اهل علم متفق دي چي په منبر خطبه ورکول سنت دي او که منبر نه وي نو لاتدي اودريدلو په حالت کي خطبه ورکول هم جائز دي په مسجد نبوي کي به اول رسول الله صلي الله عليه وسلم لاتدي دولاړي په حالت کي خطبه ورکوله او دمنبر نه مراد هر لوړ څيز دي لکه کرسئ يا ميز وغيره پشان که په هر لوړ څيز خطبه ورکړي شي نو سنت اداء کيږي او مقصد سامعينو ته اواز رسول دي چونکه جمعه کي گڼړه زياته وي نو په دي وجه که په لوړ ځاي خطبه ورکړي شي نو هر چاته به اواز اورسيږي او ټول خلق به خطيب هم ليدلي شي او د مقرر حالات او اشارات به هم ملاحظه کولي شي.

****

١١_ باب مَا جَاءَ فِي الْجُلُوسِ بَيْنَ الْخُطْبَتَيْنِ

د دوه خطبو مينځ کي د کيناستو بيان

٥٠٦_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ". قَالَ: مِثْلَ مَا تَفْعَلُونَ الْيَوْمَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ الَّذِي رَآهُ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنْ يَفْصِلَ بَيْنَ الْخُطْبَتَيْنِ بِجُلُوسٍ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دجمعي په ورځ خطبه ورکوله او بيا به کيناستلو او بيا به دوباره اودريدو او خطبه به يي ورکوله راوي وائي لکه ځنگه چي نن سبا تاسو کوئ.

---

(١) ـ صحيح البخاري في الجمعة ٢٧ (٩٢٠)، و٣٠ (٩٢٨). صحيح مسلم في الجمعة ١٠ (٨٦١). (تحفة الأشراف: ٧٨٤٩)

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د ابن عباس، جابر بن عبدالله، او جابر بن سمره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي چي په دواړو خطبو كي به په جلسي جدائي راولي

تشريح : په دي كي هم داهل علمو اختلاف دي چي د دوه خطبو مينځ كي دكيناستلو څه حكم دي دامام شافعي او امام احمد مشهور روايت دادي چي دخطبو په مينځ كي كيناستل فرض دي او كه چا دا پريخودل نو مونځ يي نه كيږي.

مګر دامام ابو حنيفه او امام مالك په نزد دخطبو مينځ كي كيناستل سنت دي يعني ددوی په نزد دجمعي دصحت دپاره صرف خطبه وئيل شرط دي او دوه خطبي ضروري نه دي.

****

١٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي قَصْدِ الْخُطْبَةِ

په خطبي كي د اعتدال اختيارولو بيان

٥٠٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كُنْتُ أُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، وَابْنِ أَبِي أَوْفَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه نه مروي دي چي ما به دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره مونځ كولو او دهغه مونځ به متوسط يعني درميانه حالت والا وو او خطبه به يي هم درميانه وه.

امام ترمذي وائي دجابر بن سمره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعمار بن ياسر، او ابن ابي اوفي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : **دخطبي مقدار**

دخطبي په مقدار كي په خپله د احنافو عالمان مختلف دي:

---

1 _ صحيح مسلم في الجمعة ١٣ (٨٦٦). سنن ابي داود في الصلاة ٢٢٩ (١١٠١). سنن النسائي في العيدين ٢٦ (١٥٨٥). سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٥ (١١٠٦). (تحفة الأشراف: ٢١٦٧). مسند احمد (٥ في ٩١. ٩٣، ٩٥. ٩٨. ١٠٠. ١٠٢). سنن الدارمي في الصلاة ١٩٩ (١٥٩٨)

(۱) د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد که دخطبي په اراده صرف "الحمدلله" اووائی یا "سبحان الله" اووائی، یا "لا اله الا الله" اووائی، نو جائز ده، او که د پرنجي په وجه خطیب "الحمدلله" اووائی یا د تعجب په وجه "سبحان الله" اووائی، نو په اتفاق سره خطبه جائز نه ده.

(۲) صاحبین فرمائی چې دومره قدري اوږدوالي ضروري دی چې عادةً عرفًا ورته خطبه وئیلی شي . متعارفه خطبه داده چې خطیب د الله حمد بیان کړی، په رسول ﷺ باندی درود اووائی، اودټولو مسلمانانو دپاره دخیردعا اوکړی.

(۳) د امام کرخی رحمه الله په نزد د متعارف خطبي مقدار دري ایاتونه دی

(۴) اود بعضو په نزد د تشهد مقدار دی ، یعنی د "التحیات" نه د "عبده ورسوله" پورې.

دصاحبینو دلیل دادی چې واجب خو هغه دی . چې ورته خطبه اووئیلي شی او "الحمدلله" وئیل یا "سبحان الله" وئیل یا "لااله الاالله" وئیلو نوم خطبه نه دی ، که خطیب صرف دا کلمه اووائی ، نوواجب خطبه ادا نشوه.

امام شافعی رحمه الله فرمائی، چې دوه خطبی واجب دی، وړومبئ خطبه د الله حمد ، صلوٰة علی النبیﷺ، د تقوی وصیت، اوکم نه کم چې په یو ایت باندی مشتمل وی، او په دویمه خطبه کي د ایت په ځایي د مسلمانانو سرو او ښځو دپاره دعا وی.

د امام شافعی رحمه الله دلیل: عرف او دخلقو عادت دی ، یعنی ددی نه کم ته د خلقو په عادت اوعرف کي خطبه نشی وئیلی ، او عام طور خطیبان صاحبان ددی نه کمه خطبه نه وائی.

د احنافو مستدل : د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل د باری تعالی قول: فاسعوا الي ذکر الله الآیة‌دی ، په دی طریقه چې دټولومفسرینوپه نزد د ذکرالله نه خطبه مراد ده، او په دی کي دقلیل اوکثیر څه تفصیل هم نشته، دا ثابته نشوه، چې مطلقاً به په ذکرالله سره خواه که قلیل وی اوکه کثیر واجبه خطبه ادا شی

دامام صاحب دمسلک دتائید دپاره مندرجه ذیل دلائل دي:

(۱) د عثمان رضي الله عنه حال مروی دی ، دخلیفه جوړیدلو نه پس چې کله په وړومبی ځل دجُمعي ادا کولو دپاره منبر ته اوختلو اوالحمدلله ئې اووئیله، نو ددوی ژبه بنده شوه، دوی د منبر نه راکوز شو، اوخلقو ته ئې دجُمعي مونځ ورکړو، په دغه وخت صحابه عالمان هم موجود وو، خو چا هم د عثمان رضي الله عنه په دی فعل باندی نکیر او نه اوکړلو ، نو د صحابو د سکوتی اجماع نه هم ثابت شو، چې د الله په ذکر باندی اکتفاء کولوسره خطبه جائز ده ، پاتې شوه دصاحبینو دا قول چې لفظ د "الحمدلله" ته عرفًا خطبه نشی وئیلی ، بیشکه دی ته عرفًا خطبه نشی وئیلی ، خولغة ورته خطبه وئیلي شی

(۲) هم دغه وجه ده، چی نبیﷺ هغه سړی ته چاچی من یطع الله ورسوله فقد رشد ومن یعصهما فقد غوی] اوئیل. [بئس الخطیب انت فرمائیلی وو. اوکوری په دومره مقدار کلام کولوسره ئی ده ته خطیب وئیلی، دی نه معلومه شوه، چی دخطبی دپاره طویل ذکر ضروری نه دی

****

١٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ

په منبر د قراءت کولو بیان

٥٠٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ. عَنْ عَطَاءٍ. عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ. قَالَ: "سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَهُوَ حَدِيثُ ابْنِ عُيَيْنَةَ. وَقَدِ اخْتَارَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يَقْرَأَ الإِمَامُ فِي الْخُطْبَةِ آيًا مِنَ الْقُرْآنِ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَإِذَا خَطَبَ الإِمَامُ فَلَمْ يَقْرَأْ فِي خُطْبَتِهِ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ أَعَادَ الْخُطْبَةَ. (1)

ترجمه: ديعلي بن اميه نه مروي دي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په منبر باندي دا اوريدلي دي "ونادوا يا مالك". يعني مالك فرشته يي راوبلله.

امام ترمذي وائي ديعلي بن اميه حديث حسن غريب دي او همدا دابن عيينه حديث دي.او په دي باب كي دابوهريره او جابر بن سمره رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي. داهل علمو يو جماعت امام دپاره په خطبه كي څه ايتونه لوستل خوښ كړي دي. امام شافعي وائي كه امام خطبه وركوي او په دي كي دقران څه حصه اونه لولي نو خطبه دي راوګرځوي.

****

١٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي اسْتِقْبَالِ الإِمَامِ إِذَا خَطَبَ

د خطبي وخت كي امام ته دمخامخ كيناستو بيان

---

1 ـ صحيح البخاري في بدء الخلق ٧ (٣٢٣٠) . و١٠ (٣٢٦٦) . وتفسير الزخرف ١ (٤٨١٩) . صحيح مسلم في الجمعة ١٣ (٨٧١) . (تحفة الأشراف : ١١٨٣٨)

٥٠٩_ حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ يَعْقُوبَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَوَى عَلَى الْمِنْبَرِ اسْتَقْبَلْنَاهُ بِوُجُوهِنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. وَحَدِيثُ مَنْصُورٍ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ الْفَضْلِ بْنِ عَطِيَّةَ. وَمُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ بْنِ عَطِيَّةَ ضَعِيفٌ ذَاهِبُ الْحَدِيثِ عِنْدَ أَصْحَابِنَا. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ يَسْتَحِبُّونَ اسْتِقْبَالَ الْإِمَامِ إِذَا خَطَبَ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَا يَصِحُّ فِي هَذَا الْبَابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ. [1]

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به كله په منبر كيناستو نو موږ به خپل مخونه هغه ته مخامخ كړل.

امام ترمذي وائي دمنصور حديث موږ صرف دمحمد بن فضل بن عطيه په سند پيژنو. محمد بن فضل بن عطيه زموږ دعلماؤ په نزد ضعيف دي او هغه ذاهب الحديث دي. په دي باب كي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه څومره روايات نقل كړي شوي دي په هغي كي هيڅ يو روايت درست نه دي دصحابه كرامو اهل علمو عمل هم په دي باندي دي چي هغوئ دخطبي په وخت كي امام ته مخامخ كيناستل خوښوي او مستحب يي گڼري او همدادسفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه قول هم دي او په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

****

١٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ إِذَا جَاءَ الرَّجُلُ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ

د خطبي وخت كي ددوه ركعتونو كولو بيان

٥١٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، إِذْ جَاءَ رَجُلٌ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "

---

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٤٥٧)

أَصَلَّيْتَ ؟ " قَالَ: لَا ، قَالَ: " قُمْ فَارْكَعْ " . قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَابِ . (1)

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه مروي دي چي يو ځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم دجمعي په ورځ خطبه وركوله او په دي دوران كي يو كس راغي رسول الله ورنه تپوس اوكړو چي ايا تا مونځ كړي دي هغه اووئيل نه، ورته يي اوفرمائيل پاځه مونځ اوكړه.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او ددي باب په وارد شوو رواياتو كي دټولونه زيات صحيح دي.

****

٥١١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُمَرَ ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ ، أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ دَخَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَمَرْوَانُ يَخْطُبُ ، فَقَامَ يُصَلِّي ، فَجَاءَ الْحَرَسُ لِيُجْلِسُوهُ فَأَبَى حَتَّى صَلَّى ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَتَيْنَاهُ ، فَقُلْنَا: رَحِمَكَ اللهُ إِنْ كَادُوا لَيَقَعُوا بِكَ ، فَقَالَ: مَا كُنْتُ لِأَتْرُكَهُمَا بَعْدَ شَيْءٍ رَأَيْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، ثُمَّ ذَكَرَ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي هَيْئَةٍ بَذَّةٍ ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، " فَأَمَرَهُ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ " . قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ: كَانَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ إِذَا جَاءَ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ ، وَكَانَ يَأْمُرُ بِهِ ، وَكَانَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُقْرِئُ يَرَاهُ . قَالَ أَبُو عِيسَى: وسَمِعْت ابْنَ أَبِي عُمَرَ ، يَقُولُ: قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: كَانَ مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ ثِقَةً مَأْمُونًا فِي الْحَدِيثِ . قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ . قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ . وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ ، وَأَحْمَدُ ، وَإِسْحَاق . وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا دَخَلَ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ ، فَإِنَّهُ يَجْلِسُ وَلَا يُصَلِّي ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ ، وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ . حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ ، حَدَّثَنَا الْعَلَاءُ بْنُ خَالِدٍ الْقُرَشِيُّ ، قَالَ: رَأَيْتُ الْحَسَنَ الْبَصْرِيَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ، ثُمَّ جَلَسَ ، إِنَّمَا

---

1 ـ صحيح البخاري في التهجد ٢٥ (١١٢٦) . والجمعة ٣٢ (٩٣٠) ، و ٣٣ (٩٣١) . صحيح مسلم في الجمعة ١٤ (٨٧٥) . سنن النسائي في الجمعة ٢١ (١٣٠١) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٧ (١١١٢) . (تحفة الأشراف : ٢٥١١) . مسند احمد (٣ في ٢٩٤، ٣٠٨، ٣٦٩) . سنن الدارمي في الصلاة ١٩٦ (١٣٠٦)

فَعَلَ الْحَسَنُ اتِّبَاعًا لِلْحَدِيثِ. وَهُوَ رَوَى عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْحَدِيثَ.

([1])

ترجمه : دعياض بن عبدالله بن ابي سرح نه روايت دي چي ابو سعيد خدري رضي الله عنه دجمعي په ورځ مسجد ته داخل شو او مروان بن حكم خطبه وركوله دي پاڅيدو او مونځ يي شروع كړو پيره دار ددي دپاره راغلو چي دي كينوي ليكن هغه نه منل او مونځ يي اوكړو هر كله چي دمونځ نه فارغ شو نو مونږ ورته ورغلو او ورته مو اووئيل الله دي درباندي رحم اوكړي نږدي وه چي دي خلقو وهلي وي هغه اووئيل زه خو هيڅ كله ددي دوه ركعاتونو پريخودونكي نه يم پس دهغه نه چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي په كولو ليدلي دي او بيا يې اوفرمائيل چي يو كس دجمعي په ورځ په ګډ وډ حالت كي راغي او رسول الله صلي الله عليه وسلم دجمعي خطبه وركوله نو رسول الله ورته د دوه ركعاته كولو حكم اوكړو او هغه دوه ركعاتونه شروع كړل او رسول الله صلي الله عليه وسلم خطبه وركوله، دابن ابي عمر رضي الله عنه بيان دي سفيان بن عيينه به مسجد ته راتلو او امام به خطبه وركوله او هغه به دوه ركعاته مونځ كولو او خلقو ته به يي ددي حكم هم كولو او ابو عبدالرحمن المقري به هم دا عمل درست ګڼړلو

امام ترمذي وائي دابوسعيد خدري حديث حسن صحيح دي مادابن ابي عمر نه اوريدلي دي سفيان بن عيينه به وئيل چي محمد بن عجلان ثقه دي او دحديث په باب كي معتبر دي، او په دي باب كي دجابر، ابوهريره، او سهل بن سعد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي، امام شافعي، احمد او اسحاق هم ددي قائل دي، او بعضي اهل علم وائي چي كله څوك مسجد ته داخل شي او امام خطبه وركوي نو دي دي په ناسته مونځ نه كوي همدا دسفيان ثوري او اهل كوفه قول دي، اولني قول زيات صحيح دي، علاء بن خالد قريشي وائي ما حسن بصري ليدلي وو چي دجمعي په ورځ مسجد ته داخل شو او امام خطبه وركوله او هغه دوه ركعاته مونځ اوكړو بيا كيناستو او حسن بصري دا عمل دحديث په اتباع كي اوكړو دا حديث هغه دجابر نه او جابر دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي

---

[1] ـ سنن ابي داود في الزكاة ٣٩ (١٦٧٥) . (مختصرا) . سنن النسائي في الجمعة ٢٦ (١٤٠٩) . والزكاة ٥٥ (٢٥٣٧) . (تحفة الأشراف : ٤٢٧٢) . مسند احمد (٣ف/٢٥)

تشريح : په دي مسئله کي اختلاف دي چي دخطبي په دوران کي تحية المسجد پکار دي او کنه په دي کي دوه مذاهب دي دامام ابو حنيفه او امام مالك په نزد دخطبي په دوران کي هيڅ قسم مونځ کول جائز نه دي تحية المسجد وي او که ددينه علاوه وي.
مګر دامام شافعي او امام احمد په نزد دخطبي په دوران کي تحية المسجد مونځ کول جائز او مندوب دي.

****

١٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْكَلَامِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ

د خطبي دوران کي د خبرو کولو د کراهت بيان

٥١٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَالَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ: أَنْصِتْ فَقَدْ لَغَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ: كَرِهُوا لِلرَّجُلِ أَنْ يَتَكَلَّمَ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، وَقَالُوا: إِنْ تَكَلَّمَ غَيْرُهُ فَلَا يُنْكِرْ عَلَيْهِ إِلَّا بِالْإِشَارَةِ. وَاخْتَلَفُوا فِي رَدِّ السَّلَامِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَرَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي رَدِّ السَّلَامِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَكَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ وَغَيْرِهِمْ ذَلِكَ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چا دجمعي په ورځ دامام دخطبي په دوران کي بل چاته اووئيل چي چپ شه نو ده هم لغو کار اوکړو او يا يي خپله جمعه لغو کړه.
امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي . او په دي باب کي د ابن ابي اوفي، او جابر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي علماؤ دبنده دپاره دخطبي په دوران کي خبري کول مکروه ګڼرلي دي او دا قول يي کړي دي که بل

---

1 ـ صحيح البخاري في الجمعة ٣٦ (٩٣٤) . صحيح مسلم في الجمعة ٣ (٨٥١) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٣٥ (١١١٢) . سنن النسائي في الجمعة ٢٢ (١٤٠٢) . والعيدين ٢١ (١٥٧٨) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٦ (١١١٠) . (تحفة الأشراف : ١٣٢٠٦) . موطا امام مالک في الجمعة ٢ (٦) . مسند احمد (٢ في ٢٤٤، ٢٧٢، ٢٨٠، ٣٩٣، ٣٩٦، ٤٨٥، ٥١٨، ٥٣٢) . سنن الدارمي في الصلاة ١٩٥ (١٥٨٩)

څوك خبري كوي نو هغه لره په اشاري سره منع كول پكار دي البته د خطبي په دوران كي دسلام جواب وركول او دپرنجي والا په جواب كي يرحمك الله وئيلو كي اختلاف دي بعضي اهل علمو اجازت وركړي دي دامام احمد او اسحاق هم دا قول دي او بعضي تابعينو مكروه ګڼړلي دي دامام شافعي رحمهم الله هم دا قول دي.

****

١٧_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّخَطِّي يَوْمَ الْجُمُعَةِ

د جمعي په ورځ د خلقو په څټونو د تيريدو د كراهت بيان

٥١٣_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَبَّانَ بْنِ فَائِدٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اتَّخَذَ جِسْرًا إِلَى جَهَنَّمَ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ جَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا أَنْ يَتَخَطَّى الرَّجُلُ رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَشَدَّدُوا فِي ذَلِكَ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ وَضَعَّفَهُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (1)

ترجمه: دمعاذ بن انس جهني رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجمعي په ورځ كه چا دخلقو په څټونو توپونه اووهل او تيريدل يي اوكړل نو هغه جهنم ته درسيدلو دپاره ځان دپاره پل جوړ كړو.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دجابر نه هم روايت وارد دي، او دسهل بن معاذ بن انس حديث غريب دي مونږ يي صرف درشدين بن سعد په روايت پيژنو البته داهل علمو عمل په دي باندي دي هغوئ دا مكروه ګڼړي چي څوك دجمعي په ورځ دخلقو دڅټونو دپاسه تير شي او هغوئ په دي كار كي دسختئ نه كار اخستلي دي او دحفظ په اعتبار يي دده تضعيف كړي دي بعضي اهل علمو په رشدين بن سعد كلام كړي دي

****

١٨_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الِاحْتِبَاءِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ

د خطبي وخت د احتباء هنيت جوړولو د كراهت بيان

---

1 _ سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٨ (١١١٦). (تحفة الأشراف: ١١٢٩٢). مسند احمد (٣/ف/٤٣٧)

٥١٤_ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُقْرِئُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي أَبُو مَرْحُومٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الْحِبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو مَرْحُومٍ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مَيْمُونٍ، وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ الْحِبْوَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، وَرَخَّصَ فِي ذَلِكَ بَعْضُهُمْ مِنْهُمْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو وَغَيْرُهُ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ: لَا يَرَيَانِ بِالْحِبْوَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ بَأْسًا.[1]

ترجمه : دمعاذ بن انس رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجمعي په ورځ کله چي امام خطبه ورکوي نو د زنګنونه په خيتي پوري جوختولويه حالت کي يي کيناستو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي عامو اهل علمو دجمعي په ورځ احتباء مکروه ګڼړلي ده او بعضو اجازت ورکړي دي چي يو دهغوئ نه عبدالله بن عمرو هم دي، امام احمد او اسحاق هم په دي باندي قول کړي دي دوئ دواړه دامام دخطبي په وخت کي په احتباء کي څه حرج نه ګڼړي.

تخريج : سنن ابي داود في الصلاة ٢٣٣ (١١١٠). (تحفة الأشراف: ١١٢٩٩). مسند احمد (٣ في ٤٣٩)

دمعاذ بن انس رضي الله عنه حالات

نوم معاذ دپلار نوم انس قبيله جهينه سره تعلق لري، دي په مصريانو کي شميرلي شي چي مرويات يي ډير موندلي شي اکثر ورنه دده خوي سهل نقل دروايت کوي.

****

١٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ رَفْعِ الْأَيْدِي عَلَى الْمِنْبَرِ

په منبر د لاسونو پورته کولو بيان

٥١٥_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَارَةَ بْنَ رُوَيْبَةَ الثَّقَفِيَّ، وَبِشْرُ بْنُ مَرْوَانَ يَخْطُبُ، فَرَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ، فَقَالَ عُمَارَةُ: "قَبَّحَ اللَّهُ هَاتَيْنِ الْيُدَيَّتَيْنِ

---

1 _ سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٨ (١١٢٦). (تحفة الأشراف: ١١٢٩٢). مسند احمد (٣ف/٤٢٨)

الْقُصَيِّرَتَيْنِ، لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ هَكَذَا، وَأَشَارَ هُشَيْمٌ بِالسَّبَّابَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دحصين بيان دي چي بشر بن مروان خطبه وركوله او ددعا دپاره يي لاسونه پورته كړي وو دي وخت كي ما دعماره بن رويبه نه دا واوريدل چي الله تعالي دي دده دا دواړه لندي لاسونه برباد كړي مارسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چي هغه به صرف داسي كول او ددينه يي زيات نور هيڅ نه كول او هشيم راوي په دي وخت كي دخپلي شهادت په ګوتي اشاره اوكړه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

دابوزهير عماره بن رويبه رضي الله عنه حالات

نوم عماره كنيه ابو زهير دپلار نوم رويبه دقبيله ثقيف سره تعلق لري او دكوفي اوسيدونكى دى دده نه دده تمام ځامن ابوبكر او ابو اسحاق روايت نقل كوي ټول ورنه نهه احاديث مروي دي چي دوه په مسلم كي هم موجود دي.

****

٢٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي أَذَانِ الْجُمُعَةِ

دجمعي دپاره د اذان كولو د وخت بيان

٥١٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ الْخَيَّاطُ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: "كَانَ الْأَذَانُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ إِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ وَإِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ. فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دسائب بن يزيد رضي الله عنه نه مروي دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبكر او عمر رضي الله عنه په زمانه كي به اولني اذان هغه وخت كيدو كله چي به امام خطبي

---

1 ـ صحيح مسلم في الجمعة ١٣ (٨٧٣). سنن ابي داود في الصلاة ٢٣٠ (١١٠٢). سنن النسائي في الجمعة ٢٩ (١٣١٣). (تحفة الأشراف: ١٠٣٧٧). مسند احمد (٣ في ١٣٥، ١٣٦، ٢٦١). سنن الدارمي في الصلاة ٢٠١ (١٦٠١)

2 ـ صحيح البخاري في الجمعة ٢١ (٩١٢). و٢٢ (٩١٣). و٢٤ (٩١٥). و٢٥ (٩١٦). سنن ابي داود في الصلاة ٢٢٥ (١٠٨٧). سنن النسائي في الجمعة ١٥ (١٣٩٣). سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٧ (١١٣٥). (تحفة الأشراف: ٣٧٩٩). مسند احمد (٣ في ٤٥٠)

ته راووتلو او دويم اذان به هغه وخت كيدو كله چي به مونځ اودريدو مګر كله چي عثمان رضي الله عنه خليفه شو نو هغوئ په زوراء كي د دريم اذان اضافه اوكړه امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح : " زوراء " مسجد نبوي ته متصل په بازار كي ديو لوړ ځاي نوم دي، دا اذان به دلته كيدو ددي دپاره چي خلق خبر شي او راشي او بيا به د لړ شان وقفي نه پس عثمان رضي الله عنه راوتلو او دويم اذان به دمنبر په مخامخ په مسجد كي كيدو.

دسائب بن يزيد رضي الله عنه حالات:

نوم سائب دپلار نوم يزيد بن سعيد بن ثمامه كندي، امام زهري وائي چي كندي په يمن كي د ازد قبيلي يو شاخ دى مګر په بنوكنانه كي شميرلى شي سائب دعمر كندي خوريى دى، دهجرت په شلم كال پيدا شوى دى او داوه كالو په عمر كي دخپل پلار سره په حجة الوداع كي شريك شوى دى دده نه عموما زهري او محمد بن يوسف نقل دروايت كوي چي ګڼړ شمير روايات ورنه منقول دي او دهجرت په ۸۰ كال وفات شوى دى.

****

۲۱_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكَلَامِ بَعْدَ نُزُولِ الإِمَامِ مِنَ الْمِنْبَرِ

د منبر نه د امام د كوزيدو وخت كي د خبرو كولو بيان

۵۱۷_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَلَّمُ بِالْحَاجَةِ إِذَا نَزَلَ عَنِ الْمِنْبَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ. قَالَ: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدًا، يَقُولُ: وَهِمَ جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَأَخَذَ رَجُلٌ بِيَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَا زَالَ يُكَلِّمُهُ حَتَّى نَعَسَ بَعْضُ الْقَوْمِ". قَالَ مُحَمَّدٌ: وَالْحَدِيثُ هُوَ هَذَا. وَجَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ رُبَّمَا يَهِمُ فِي الشَّيْءِ، وَهُوَ صَدُوقٌ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَهِمَ جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ فِي حَدِيثِ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي". قَالَ مُحَمَّدٌ: وَيُرْوَى عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ فَحَدَّثَ حَجَّاجٌ الصَّوَّافُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي" فَوَهِمَ جَرِيرٌ فَظَنَّ أَنَّ ثَابِتًا حَدَّثَهُمْ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به د ضرورت خبري هغه وخت كولي كله چي به دمنبر نه راكوز شو.

امام ترمذي وائي مونږ دا حديث صرف دجرير بن حازم په سند پيژنو او ما د امام بخاري نه اوريدلي وو چي جرير بن حازن په دي حديث كي په وهم كي مبتلا شوي وو او صحيح هغه روايت دي كوم چي په سند دثابت دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي مونځ قائم شو او يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم لاس اونيولو او هغه ورسره برابر خبري شروع كړي تردي پوري چي بعضي خلقو پيرشاني راغله امام بخاري وائي دا هم هغه حديث دي خو جرير كله كله په وهم كي مبتلا كيږي او حال دادي چي دا صدوق دي. امام بخاري وائي جرير بن حازم دثابت په حديث كي كوم چي هغه دانس نه نقل كړي دي او انس درسول الله نه نقل كړي دي په وهم كي واقع شوي دي چي انس رضي الله عنه فرمائيل كله چي مونځ قائم شي نو تاسو هغه وخته پوري مه اودريږئ تر څو چي مو زه ليدلي نه يم، امام بخاري وائي همدا رنګي دحماد بن زيد نه مروي دي چي مونږ دثابت بناني سره موجود وو او حجاج صواف ديحي بن ابي كثير په واسطه حديث بيان كړو كوم چي يحي دعبدالله بن ابي قتاده نه او عبدالله دخپل پلار ابوقتاده نه او ابوقتاده دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كله چي مونځ اودريږي نو تر هغه وخته پوري مه اودريږئ څو پوري چي مو زه ليدلي نه يم چنانچه جرير په وهم كي واقع شو او دا ګمان يي اوكړو چي ثابت دانس رضي الله عنه نه بيان كړي دي او انس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي

****

٥١٨ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: لَقَدْ "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا تُقَامُ الصَّلَاةُ يُكَلِّمُهُ الرَّجُلُ يَقُومُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ

---

1 ـ سنن ابي داود في الصلاة ٢٤٠ (١١٢٠). سنن النسائي في الجمعة ٣٦ (١٤٢٠). سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٩ (١١١٧). (تحفة الأشراف: ٢٦٠). مسند احمد (٣ في ١٢٧)

الْقِبْلَةِ، فَمَا يَزَالُ يُكَلِّمُهُ، فَلَقَدْ رَأَيْتُ بَعْضَنَا يَنْعَسُ مِنْ طُولِ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي چي دمونځ اودريدو نه پس ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چي يو كس ورسره خبري كولي او رسول الله دهغه او دقبلي په مينځ كي ولاړ وو چي ګفتګو برابر جاري وه ما اوليدل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د طول قيام په وجه د بعضي خلقو ستر ګي پټي كيدلي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي. او دا حديث سفيان ثوري او شعبه وغيره دمخول نه هم نقل كړى دى.

****

٢٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ

د جمعي مونځ كوم كوم سورتونه لوستل پكار دي

٥١٩ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ، أَبَا هُرَيْرَةَ عَلَى الْمَدِينَةِ وَخَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى بِنَا أَبُو هُرَيْرَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَرَأَ سُورَةَ الْجُمُعَةِ، وَفِي السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ. قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ: فَأَدْرَكْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ. فَقُلْتُ لَهُ: تَقْرَأُ بِسُورَتَيْنِ كَانَ عَلِيٌّ يَقْرَأُ بِهِمَا بِالْكُوفَةِ، قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهِمَا. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، وَأَبِي عِنَبَةَ الْخَوْلَانِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرُوِي عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ "يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ بِ: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ. عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي رَافِعٍ: كَاتِبُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. (٢)

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٦٨)

2 صحيح مسلم في الجمعة ١٦ (٨٧٧) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٤٢ (١١٢٤) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٠ (١١١٨) . (تحفة الأشراف : ١٤١٠٢)

ترجمه : دعبيدالله بن ابي رافع بيان دي چي مروان ابوهريره رضي الله عنه لره په مدينه کي خپل نائب مقرر کړو او دي پخپله مکي ته لاړو ابو هريره رضي الله عنه مونږ ته دجمعي په ورځ مونځ راکړو او په اولني رکعات کي يي سورة الجمعه اولوستله او په دويم کي يي سورة المنافقون اولوستلو، عبيدالله وائي زه دابوهريره رضي الله عنه سره ملاؤ شوم او ورته مي اووئيل تاخو داسي دوه سورتونه اولوستل کوم چي به علي رضي الله عنه په کوفه کي لوستل دي وخت کي ابوهريره رضي الله عنه اووئيل ما دا دوه سورتونه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دجمعي په مونځ کي د لوستلو په حال کي اوريدلي دي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي، په دي باب کي دابن عباس، نعمان بن بشير، او ابو عنبه خولاني رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي ، درسول الله نه دا هم مروي دي چي دجمعي په مونځ کي به يي "سبح اسم ربك الاعلي" او "هل اتاك حديث الغاشيه" لوستل.او عبيد الله بن ابي رافع د د علي رضي الله عنه کاتب وو.

****

٢٣_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَا يَقْرَأُ بِهِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

د جمعي په ورځ د سحر په مونځ څه لوستل پکار دي

٥٢٠_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ مُخَوَّلِ بْنِ رَاشِدٍ، عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ: الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةَ وَ هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ سَعْدٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَشُعْبَةُ وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ مُخَوَّلٍ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دجمعي په ورځ دسحر په مونځ کي "الم تنزيل السجده " او "هل اتي علي الانسان" لوستل.

---

[1] _ صحيح مسلم في الجمعة ١٦ (٨٧٩) . سنن ابي داود في الصلاة ٢١٨ (١٠٧٤) . سنن النسائي في الافتتاح ٤٧ (٩٥٧) . والجمعة ٣٨ (١٤٢٠) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦ (٨٢١) . (تحفة الأشراف : ٥٦١٣) . مسند احمد (١في ٢٢٦، ٢٠٧، ٢١٦، ٣٢٨، ٣٣٤، ٣٥٤)

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د سعد ، ابن مسعود او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، سفيان ثوري او شعبه اوبعضي نورو محدثينو هم داحديث د مخول بن راشد نه نقل كړي دي.

****

٢٤_باب مَا جَاءَ فِي الصَّلاَةِ قَبْلَ الْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا

د جمعي د مونځ نه مخكي د (نفلي او سنت) مونځ كولو بيان

٥٢١_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ. عَنِ الزُّهْرِيِّ. عَنْ سَالِمٍ. عَنْ أَبِيهِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ نَافِعٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَيْضًا. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ. وَأَحْمَدُ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به د جمعي دمونځ نه پس دوه ركعاته سنت كول.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دجابر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، دا حديث په سند دنافع عن ابن عمر مروي دي او په همدي باندي دبعضي اهل علمو عمل دي او په همدي باندي امام شافعي او امام احمد هم قول كړي دي.

دسالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حالات:

نوم سالم كنيه ابو عمر، واقعه داسي وه چي دعمر رضي الله عنه په زمانه كي دايران دشاهنشاه كومي جينكۍ گرفتار شوي وي په هغي كي يوه عبدالله رضي الله عنه ته وركړی شوه او سالم دهغي نه پيدا شو (تهذيب التهذيب).

په فقه حديث او تفسير كي يي مثال نه وو دامام مالك قول دی چي دسالم په زمانه كي دده نه زيات تقوي دار بل څوك نه وو او نه دسلفو سره دده نه زيات مشابه بل څوك وو (تذكرة الحفاظ).

علامه ذهبي وائي سالم فقيه او حجت دی او دهغه مخصوصو علماؤ نه دی دچا ذات چي علم او عمل لره جمع كونكي دي (تذكرة الحفاظ).

---

[1] _ صحيح مسلم في الجمعة ١٨ (٨٨٢) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٤٤ (١١٣٢) . سنن النسائي في الجمعة ٤٣ (١٤٢٨) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٥ (١١٣١) . (تحفة الأشراف : ٦٩٠١) . وكذا (٦٩٢٨) . مسند احمد (٢ في ١١. ٣٥. ٧٥. ٧٧).

امام نووي وائي چي دسالم په امامت او جلالت زهد او ورع دټولو اتفاق دی (تهذيب الاسماء).
داتهائي ساده ژوند مالك وو دتكلف او تصنع خلاف وو حافظ ذهبي ليكلي دي چي دوړې
لباس به يې استعمالولو چي دټولو لباس قيمت به يې د دوه درهمو نه زيات نه وو او دخوراك
دپاره به يې صرف ډوډۍ او زيتون استعمالول.
۱۰۶ هجري ذي الحجه كي په مدينه كي وفات شو هشام بن عبدالملك چي دحج نه فارغ شو او
مدينه ته راغى نو په ده باندي يې جنازه اوكړه په جنازه كي دخلقو ډير هجوم وو نو په دي وجه
په ده باندي په جنة البقيع كي جنازه اوشوه (طبقات ابن سعد).
ابن خلكان وغيره دده مزيد تفصيلات ليكلي دي.

****

٥٢٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ كَانَ إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ انْصَرَفَ فَصَلَّى سَجْدَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ، ثُمَّ قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دنافع نه روايت دي چي ابن عمر رضي الله عنهما به كله دجمعي مونځ كولو نو كور ته به واپس راغلو او دوه ركعاته به يې په كور كي كول او بيا به يې وئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به همداسي كول.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٥٢٣_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ، قَالَ: كُنَّا نَعُدُّ سُهَيْلَ بْنَ أَبِي صَالِحٍ ثَبْتًا فِي الْحَدِيثِ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَرُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ أَمَرَ أَنْ يُصَلَّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَرْبَعًا. وَذَهَبَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ إِلَى قَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ. وَقَالَ إِسْحَاقُ: إِنْ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ يَوْمَ

---

[1] _ انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ٨٣٤٦)

الْجُمُعَةِ صَلَّى أَرْبَعًا، وَإِنْ صَلَّى فِي بَيْتِهِ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، وَاحْتَجَّ بِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ، وَحَدِيثُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَابْنُ عُمَرَ هُوَ الَّذِي رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ "يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ" وَابْنُ عُمَرَ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ، وَصَلَّى بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ أَرْبَعًا. [1]

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ صَلَّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى بَعْدَ ذَلِكَ أَرْبَعًا.

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، قَالَ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَنَصَّ لِلْحَدِيثِ مِنَ الزُّهْرِيِّ، وَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا الدَّنَانِيرُ وَالدَّرَاهِمُ أَهْوَنُ عَلَيْهِ مِنْهُ، إِنْ كَانَتِ الدَّنَانِيرُ وَالدَّرَاهِمُ عِنْدَهُ بِمَنْزِلَةِ الْبَعْرِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ سُفْيَانَ بْنَ عُيَيْنَةَ، يَقُولُ: كَانَ عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ أَسَنَّ مِنَ الزُّهْرِيِّ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي په تاسو کي دجمعي دمونځ نه پس مونځ کوي نو پکار ده چي څلور رکعاته اوکړي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او بعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي، دا رنګي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه هم مروي دي چي هغه به دجمعي دمونځ نه مخکي څلور رکعاتونه او ددينه پس هم څور رکعاتونه کول، او دعلي رضي الله عنه نه هم مروي دي چي هغه حکم کړي دي چي دجمعي دمونځ نه مخکي دوه رکعاتونه دي او روسته څلور رکعاتونه کول پکار دي، سفيان ثوري او ابن مبارك هم دابن مسعود قول اختيار کړي دي، اسحاق بن راهويه وائي که څوك دجمعي په ورځ په مسجد کي مونځ کوي نو څلور رکعاتونه دي اوکړي او که په کور کي يي کوي نو دوه دي اوکړي، دهغوئ دليل دادي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم د جمعي دمونځ نه پس دوه رکعاتونه پخپل کور کي کول، او درسول الله نه دا هم مروي دي چي په تاسو کي که څوك دجمعي نه پس مونځ کوي نو څلور رکعاته دي کوي، دابن عمر نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دجمعي دمونځ نه پس دوه

---

1 _ صحيح مسلم في الجمعة ١٨ (٨٨١). سنن ابي داود في الصلاة ٢٤ (١١٣١). سنن النسائي في الجمعة ٢٢ (١٤٢٠). سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٥ (١١٣٢). (تحفة الأشراف: ١٢٦٦٧). (وكذا: ١٢٦٦٢)

ركعاتونه پخپل کور کي کول او ابن عمر پخپله دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په مسجد کي د جمعي دمونځ نه پس دوه ركعاتونه اوکړل او د دوه ركعاتونو نه پس يي څلور ركعاتونه اوکړل، دعطاء نه روايت دي فرمائي چي ما ابن عمر رضي الله عنهما اوليدلو چي دجمعي دمونځ نه پس يي دوه ركعاتونه اوکړل او بيا يي وروسته څلور ركعاتونه اوکړل.

امام ترمذي وائي ابن ابي عمر پخپل سند دعطاء نه روايت نقل کړي دي چي وئيل يي ما ابن عمر رضي الله عنهما ليدلي وو چي دجمعي دمونځ نه پس يي دوه ركعتونه وکړل او بيا يي وروسته څلور ركعاتونه اوکړل.

امام ترمذي وائي د عمرو بن دينار قول دي ما د زهري نه زيات يادونکي د حديث بل څوک ندي ليدلي اوما دهغه زيات پيسي لره سپک څيزونکي نه دي ليدلي پيسي به هغه ته د پچو پشان ښکاريدلي ، سفيان بن عيينه به وئيل عمرو بن دينار د زهري نه مشر وو.

تشريح : په دي کي اختلاف دي چي د جمعي دمونځ نه مخکي او روسته څومره سنت کول پکار دي په دي مسئله کي دعلماؤ دري مذاهب دي.

(١) دجمعي دمونځ نه مخکي داحنافو په نزد بالاتفاق څلور ركعاته سنت دي او په دي باندي دزير بحث حديث نه استدلال کوي او دويم دليل يي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه عمل دي "انه كان يصلي قبل الجمعة اربعا وبعدها اربعا".

(٢) دصاحبينو په نزد دجمعي نه مخکي څلور سنت دي او دجمعي نه پس شپږ سنت دي او دامام ابوحنيفه په نزد دجمعي نه پس څلور سنت دي.

(٣) دامام شافعي او امام احمد په نزد دجمعي مخکي او روسته سنت دوه دوه ركعاته دي.

****

٢٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ أَدْرَكَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً

بيان دهغه چا چي د جمعي د مونځ يو ركعت ورسوي

٥٢٤_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَدْرَكَ مِنَ الصَّلَاةِ رَكْعَةً فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، قَالُوا: مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ

الْجُمُعَةِ صَلَّى إِلَيْهَا أُخْرَى، وَمَنْ أَدْرَكَهُمْ جُلُوسًا صَلَّى أَرْبَعًا. وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه په مونځ كي يو ركعات اوموندلو نو هغه ګويا كي پوره مونځ اوموندلو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، صحابه كرامو او اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي دوئ وائي چاچه دجمعي يو ركعات اوموندلو نو هغه دي دويم ركعات پخپله اوكړي او چاچه خلق په سجده كي اوموندل نو هغه دي څلور ركعاته (دماسپخين مونځ) اوكړي او همدا دسفيان ثوري او ابن مبارك او شافعي او احمد او اسحاق قول دي.

تشريح:

دجمعي مسبوق

كه چا دجُمعي په ورځ امام دجُمعي په مانځه كي بياموندلو اوددويم ركعت په ركوع كي امام سره شريك شو، نو په اتفاق سره دي سړى د امام سره دجُمعي مونځ ادا كړو، او يو ركعت كوم چي فوت شو، دادى د امام دسلام ګرځولونه پس پوره كړى، دده دا مونځ به دجُمعي مونځ شمارلي شى، د ماسپخين نشى شمارلى.

دليل دادى چي نبىﷺ فرمائى [ما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاقضوا] په حديث كي دننه دصاحب حديث مراددادى: [مافاتكم من صلوة الامام] ځكه چي د [ما ادركتم فصلوا] معنى ده [من صلوة الامام]يعنى د امام دمونځ چي كومه حصه بيامومئ هغه كوئ، اوچي كومه حصه فوت شوه دهغي قضاء راوړئ، يعنى د امام دسلام اړولو نه پس ئى كوئ، دا خبره ښكاره ده چي د امام د مونځ كومه حصه فوت شوى ده، هغه جمعه ده، نو مقتدى به هم جُمعه كوى، بل مونځ به نه كوى. (هدايه)

****

٢٦_ باب مَا جَاءَ فِي الْقَائِلَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

د جمعي په ورځ د قيلولي كولو بيان

---

[1] _ صحيح البخارى في المواقيت ٢٩ (٥٨٠) . صحيح مسلم في المساجد ٣٠ (٦٠٧) . سنن ابى داود في الصلاة ٢٢١ (١١٢١) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٩١ (١١٢٢) . مسند احمد (٢ في ٢٤١، ٢٦٥، ٢٧١، ٢٨٠، ٣٧٥، ٣٧٦) . سنن الدارمى في الصلاة ٢٢ (١٢٥٨)

٥٢٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "مَا كُنَّا نَتَغَدَّى فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَقِيلُ إِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دسهل بن سعد رضي الله عنه بيان دي چي مونږ به درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي دجمعي دمونځ نه پس خوراك كول او قيلوله به مو كوله.

امام ترمذي وائي دسهل بن سعد حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دانس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه حالات:

نوم سهل كنيه ابو العباس ، ابو مالك، ابو يحيي، دهجرت نبوي نه پنځه كاله مخكي پيدا شوي وو پلار ورله حزن نوم ايخودلي وو ليكن رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي نوم بدل كړو او سهل نوم يي ورباندي كيخودو ، دده پلارغزوه بدر ته دتلو اراده كړي وه ليكن دتلو نه مخكي وفات شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دتمامو مجاهدينو پشان دده دپاره هم حصه مقرره كړه سهل داكابر صحابه كرامو دوفات كيدو نه پس دخلقو مرجع اوګرځيدو دلري لري علاقو خلق به دده د درس حلقي ته راتلل سهل يو ځل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دپاره دبډيني دمشهور كوهي بير بضاعه نه دځكلو دپاره اوبه هم راويستلي وي (مسند امام احمد بن حنبل).

وفات: دهجرت په ٩١كي دشپږ نوي كالو په عمر كي وفات شو او دده دمرواياتو شمير ١٨٨دي چي ٢٨متفق عليه دي.

****

٢٧_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ نَعَسَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَنَّهُ يَتَحَوَّلُ مِنْ مَجْلِسِهِ

دجمعي په ورځ د پركالي په وجه جوتي وهونكونكي دپاره د ځاي بدلولو بيان

---

1 - صحيح البخاري في الجمعة ٤٠ (٩٣٩) ، والحرث ٢١ (٢٣٤٩) ، والاطعمة ١٧ (٥٤٠٣) ، والاستئذان ١٦ (٦٢٤٨) ، و٣٩ (٦٢٧٩) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ٨٤ (١٠٩٩) ، (تحفة الأشراف : ٤٦٩٨) ، مسند احمد (٥ في ٣٣٦)

٥٢٦_ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ. حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، وَأَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَلْيَتَحَوَّلْ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي په چا دجمعي په ورځ دخوب جوتي راشي نو هغه دي خپل خاي بدل كړي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِي السَّفَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

دجمعي په ورځ د سفر كولو بيان

٥٢٧_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللهِ بْنَ رَوَاحَةَ فِي سَرِيَّةٍ، فَوَافَقَ ذَلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَغَدَا أَصْحَابُهُ. فَقَالَ: أَتَخَلَّفُ فَأُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ فَلَمَّا صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآهُ. فَقَالَ: "مَا مَنَعَكَ أَنْ تَغْدُوَ مَعَ أَصْحَابِكَ". فَقَالَ: أَرَدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ مَعَكَ ثُمَّ أَلْحَقَهُمْ. قَالَ: "لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَدْرَكْتَ فَضْلَ غَدْوَتِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: وَقَالَ شُعْبَةُ: لَمْ يَسْمَعِ الْحَكَمُ مِنْ مِقْسَمٍ إِلَّا خَمْسَةَ أَحَادِيثَ. وَعَدَّهَا شُعْبَةُ. وَلَيْسَ هَذَا الْحَدِيثُ فِيمَا عَدَّ شُعْبَةُ. فَكَأَنَّ هَذَا الْحَدِيثَ لَمْ يَسْمَعْهُ الْحَكَمُ مِنْ مِقْسَمٍ. وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي السَّفَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. فَلَمْ يَرَ بَعْضُهُمْ بَأْسًا بِأَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي السَّفَرِ مَا لَمْ تَحْضُرِ الصَّلَاةُ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا أَصْبَحَ فَلَا يَخْرُجْ حَتَّى يُصَلِّيَ الْجُمُعَةَ.[2]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په يوه سريه كي ليږلو او اتفاقا هغه ورځ دجمعي وي، دهغه

---

[1] _ سنن ابي داود في الصلاة ٢٣٩ (١١١٩) . (تحفة الأشراف : ٨٣٠٦) . مسند احمد (٢ في ٢٢، ١٣٥)

[2] _ تفرد به المؤلف. وانظر مسند احمد (١ في ٢٨٢، ٢٨٣) (تحفة الأشراف : ٦٤٨٧)

ملګري سحر وختي روان شول او هغه پخپل زړه کي اوويل چي زه به ددوئ نه پاتي شم او درسول الله سره به مونځ اوکړم او بيا به په دوئ پسي ځان اورسوم چنانچه کله هغه درسول الله سره مونځ اوکړو نو چي کله رسول الله اوليدلو ورته يي اوفرمائيل ته کوم څيز خپلو ملګرو سره دتلو نه حصار کړي يې؟ ابن رواحه عرض اوکړو ما غوښتل چي تاسو سره به مونځ اوکړم او بيا به په دوئ پسي ځان اورسوم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هر څه چي په زمکه کي دي که ته دا ټول خرچ هم کړي خو دهغوئ دسحر وخت کي دتلو ثواب نشي موندلي

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، ديحي بن سعيد قول دي چي شعبه به وئيل چي حكم صرف دمقسم نه پنځه احاديث اوريدلي دي او شعبه هغه احاديث په شمير ذكر شو نو دا حديث په شميرلي شوو احاديثو كي نه وو ګويا كي حكم دا حديث دمقسم نه اوريدلي نه دي، دجمعي په ورځ دسفر په سلسله كي داهل علمو اختلاف دي دبعضي خلقو په نزد دجمعي په ورځ په سفر كولو كي څه حرج نشته مګر چي د مونځ وخت رارسيدلي وي، او دبعضو قول دي كله چي دجمعي ورځ سحر راوخيژي نو دجمعي دمونځ كولو نه بغير په سفر تلل پكار نه دي.

تخريج : تفرد به المؤلف وانظر: مسند احمد (١ في ٢٢٤) . (تحفة الأشراف : ٦٣٤١)

****

٢٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي السِّوَاكِ وَالطِّيبِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

د جمعي په ورځ د مسواك او خوشبو داستعمال بيان

٥٢٨_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " حَقٌّ عَلَى الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَغْتَسِلُوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَلْيَمَسَّ أَحَدُهُمْ مِنْ طِيبِ أَهْلِهِ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَالْمَاءُ لَهُ طِيبٌ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَشَيْخٍ مِنَ الأَنْصَارِ. (١)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په مسلمان باندي لازم دي چي دجمعي په ورځ غسل اوكړي او هر كس دخپل كور په خوشبويانو كي كومه خوشبو اولګوي او كه خوشبو ورسره نه وي نو اوبه دده دپاره خوشبو ده په دي باب كي دابوسعيد خدري رضي الله عنه او ديو انصاري شيخ نه هم روايتونه مروي دي.

١ _ تفرد به المؤلف. وانظر مسند احمد (٣ في ٢٨٢، ٢٨٣) (تحفة الأشراف : ١٨٨٤)

****

٥٢٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْبَرَاءِ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرِوَايَةُ هُشَيْمٍ أَحْسَنُ مِنْ رِوَايَةِ إِسْمَاعِيل بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، وَإِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ. [1]

ترجمه : په همدي سند همدا مضمون مروي دي امام ترمذي وائي دبراء رضي الله عنه حديث حسن دي، او دهشيم روايت (رقم ٥٢٩) داسماعيل بن ابراهيم تيمي دروايت نه زيات بهتر دي اسماعيل بن ابراهيم تيمي دحديث په سلسله كي ضعيف گڼرلي شوي دي.

****

أبواب العيدين عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د وروكي او لوي اختر د احكامو بيان

دجُمعى اوداخترونوپه مونځ كنبې.په دواړو كي جهرى قرات كولى شى. اوهم هغه شان چى كوم شرطونه په جُمعه كي دى.هم هغه شرطونه داخترونو دى.علاوه دخطبى نه.ځكه چى خطبه دجُمعى دمونځ دپاره شرط ده.خود اخترونو دپاره شرط نه ده.او په چاچى جُمعه واجب وى .په هغه باندې د اخترونو مونځ هم واجب دې.

وجوهات دتقديم دجمعي په اخترونو

(١) چونكه جُمعه د فرضيت په وجي قوى ده.او د اخترونو مونځ د عدم فرضيت په وجه ددى په مقابله كي اضعف دې نوپه دى وجه دجُمعى احكام مخكي ذكرشول.اود اخترونو احكام روسته.

(٢) يا دا چى جُمعه كثيرالوقوع ده.په دى وجه جُمعه د اخترونو د باب نه مقدم كړې شوې ده.

وجوهات دتسمية العيد بالعيد

(١) داختر نوم عيد په دى وجه كيخودى شو.چى په دى كي الله تعالى په خپلو بنده گانو باندې د احسان اعاده فرمائى.

---

[1] _ تفرد به المؤلف. وانظر مسند احمد (٤ في ٢٨٢. ٢٨٣) (تحفة الأشراف: ١٨٤٧)

(۲) دویمه وجه داچی دعاد یعود معنی عود کول او واپس کیدل دی.چونکه دا مقدسه ورځ هرکال عود کوی او راواپس کیږی.په دی وجه ددی نوم "عید" کیخودی شو
دوړوکی اخترمونځ د ټولونه اول په اوله هجرئ کي شوی دی.(شرح نقایه) داخترونو دمونځ په مشروعیت کي دلیل د ابوداؤد روایت دی
" عن انس رضي الله عنه قال قدم رسول الله ﷺ المدینة ولهم یومان یلعبون فیهما فقال ما هذان الیومان قالوا کنا نلعب فیهما في الجاهلیة فقال رسول الله ﷺ ان الله قد ابدلکم بهما خیرا منهما یوم الأضحی ویوم الفطر"
انس رضي الله عنه فرمائی چی دمدینی خلقو دپاره دوه ورځي دلوبو وي. چی کله رسول الله ﷺ مدینی منوری ته تشریف راوړلو.نو وئي فرمائیل الله تعالی ستاسو دپاره ددی دواړو نه بهتری دوه ورځي په بدل کي درکړي. یو لوی اختر او بل وړوکی اختر.په هر قوم کي یوه نه یوه ورځ داسي ضرور وي چی په هغي کي عموما خوشحالي کولي شي . خائسته جامي اغوستلي شي .او ښه خوراکونه خوړلی شی.لکه چی په حدیث کي دی "الکل قوم عید وهذا عیدنا" د هرقوم یو اختر وی او دا زمونږ اختر دي.
دویم داهغه ورځ ده چی کله خلق دخپلو روژو نه فارغ شی او یو قسم زکاة إدا کوی.نو په دغه ورځ دوی دپاره دوه قسمه خوشحالئ جمع کیږی.طبعی او عقلی،طبعی خوشحالی خوځکه حاصلیږی.چی د روژی دسخت عبادت نه فارغ شی.اومحتاجو ته صدقه ملاویږی.اوعقلی خوشحالی داده.چی الله تعالی دفرض عبادت اداکولو دوی ته توفیق ورکړو.او ددوی اهل وعیال لره کاله پوري د باقی ساتلو په دوی باندي انعام اوکړو.په دی وجه ددی خوشحالیانو د اظهار حکم دی.
د عباداتو په وختونو مقررکولوکي دا حکمت هم دی چی په هغه وخت کي انبیاء علیهم السلام دالله تعالی کوم طاعت اوعبادت کړی وی.او الله تعالی هغه قبول کړی وی.د هغی وخت په راتلوسره د هغوی د قربانئ یاد تازه کولو دپاره د هغی عبادت طرف ته رغبت او شوق وی.
دلوی اختر ورځ هغه ورځ ده.چی ابراهیم خپل ځوی اسماعیل علیه السلام د الله تعالی په حکم د الله تعالی په دربارکي د ذبح کولو او د پیش کولو اراده کړي وه.اوالله تعالی د اسماعیل د وجود په بدله کي یوه عظیمه ذبیحه ورکړله.په دی وجه په لوی اخترکي قربانی کول ددی مصلحت په بناء مقررکړي شوه.چی په دی کي د ملت ابراهیمی د دپیشوایانو (ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام) حالات اوددوی جان ومال د الله تعالی په فرمانبرداریٔ کي خرچ کولو او دهغوی د انتهائی درجی صبرکولو یاد تازه کولو خلقو ته تلقین ورکړي

شوې دي.اودغه شان د حاجيانو سره تشبيه او ددوی عظمت پيدا شی.اوپه کوم کار کي چې حاجيان مصروف وی.هغه طرف ته نورو خلقو ته ترغيب ورکړې شی.

۳۰_ باب مَا جَاءَ فِي الْمَشْيِ يَوْمَ الْعِيدِ

داختر په ورځ عيدګاه ته پيدل تلل مسنون دي

۵۳۰_ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: "مِنَ السُّنَّةِ أَنْ تَخْرُجَ إِلَى الْعِيدِ مَاشِيًا وَأَنْ تَأْكُلَ شَيْئًا قَبْلَ أَنْ تَخْرُجَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَسْتَحِبُّونَ أَنْ يَخْرُجَ الرَّجُلُ إِلَى الْعِيدِ مَاشِيًا وَأَنْ يَأْكُلَ شَيْئًا قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ لِصَلَاةِ الْفِطْرِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَيُسْتَحَبُّ أَنْ لَا يَرْكَبَ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ. (١)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چې داختر مونځ دپاره عيدګاه ته پياده تلل او دوتلو نه مخکي دخوراك کوم څيز خوړل سنت دي امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او داکثرو اهل علمو په دي باندي عمل دي هغوئ داختر دمونځ دپاره پيدل تلل مستحب ګڼړي او دوتلو نه مخکي دخوراك څه څيز خوړل هم مستحب ګڼړي پس انسان لره بغير دعذر نه سور تلل پکار نه دي.

تشريح : **داختر دمونځ طريقه**

امام به خلقو ته دوه رکعته مونځ داسی ورکړی.چی ړومبی دی تکبيرتحريمه اووائی.بيا دی ثنا اووائی.اود دريو نه زيات تکبيرونه اووائی.بيا دی قرات د فاتحی او ضم دسورت اوکړی.بياد رکوع تکبير اووائی.او رکوع دی اوکړی.اوسجده دی اوکړی.دغه شان به اولنی رکعت پوره شی.په دويم رکعت کي دی اول قرات فاتحه او ضم د سورت اوکړی.بيا دی زياتی تکبيرونه اووائی.اود رکوع تکبيردی اووائی.اورکوع دی اوکړی. ددی تفصيل مطابق په دواړو رکعتوکي نهه تکبيرونه شول.شپږ زوائد دوه د رکوع تکبيرونه او يو تکبير تحريمه،

دلائل: (١) د ابن مسعود(رضي الله عنه) قول دې.ګويا چې د ابن مسعود(رضي الله عنه) په نزدد اختر په دواړو رکعتونو کي ټول نهه تکبيرونه دی.هم دغه د احنافو علماوذهب دې.د ابن مسعود(رضي الله عنه) قول ښکه دې.چی په روايت کي راغلي دې:

١ _ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٦١ (الشق الأول فقط) (تحفة الأشراف: ١٠٠٤٢)

"كان ابن مسعود (رضي الله عنه) جالساً وعنده حذيفة وابو موسى الأشعرى رضى الله عنهما فسألهم سعيد بن العاص (رضي الله عنه) عن التكبير فى صلوة العيد فقال حذيفة (رضي الله عنه) سل الأشعرى (رضي الله عنه) فقال الأشعرى (رضي الله عنه) سل عبدالله (رضي الله عنه) فانه أقدمنا وأعلمنا فسأله فقال ابن مسعود (رضي الله عنه) يكبر أربعا ثم يقرأ ثم يكبر فيركع ثم يقوم فى الثانية فيقرأ ثم يكبر أربعا بعد القراءة"

يعنى ابن مسعود ،حذيفه او ابوموسیٰ اشعری (رضي الله عنه) تشريف فرما وُو.چی ددوی نه سعيد ابن العاص (رضي الله عنه) د اختردمونځ دتکبيرونو په باره کي تپوس اوکړو.حذيفه (رضي الله عنه) اوونيل.داشعری (رضي الله عنه) نه تپوس اوکړه.اشعری (رضي الله عنه) اوونيل.د عبدالله (رضي الله عنه) نه تپوس اوکړه.ځکه چی عبدالله(رضي الله عنه) په مونږکي قديم العهد هم دی.او صاحب دعلم هم.نوهغه د ابن مسعود (رضي الله عنه) نه تپوس اوکړو.نو ابن مسعود(رضي الله عنه) اوفرمائيل.څلور تکبيرونه اووايه.په ړومبی رکعت کي چی دکومو څلورو تکبيرونو ذکر شوی دی.په دی کي يو تکبير تحريمه اودری زوائد دی او په دويم رکعت کي په څلورو تکبيرونو کي يو تکبير د رکوع او دری زوائد دی.بهرحال د ابن مسعود (رضي الله عنه) ددی قول نه د نهو تکبيرونو ثبوت مستفاد ي کيږي .

(۲) دليل: اودمسروق نه مروی دی:

"كان عبدالله بن مسعود يعلمنا التكبير فى العيدين تسع تكبيرات خمس فى الاولى و أربع فى الأخيرة ويوالى بين القراءتين"

يعنى ابن مسعود ﷺ به مونږ ته په اخترونوکي د نهو تکبيرونو تعليم راکولو.پنځه په ړومبی رکعت کي اوڅلورپه دويم رکعت کښې.اود دواړو روايتونو په مينځ کي به ئې وصل کولو.په روايت کي د پنځو تکبيرونو نه مراد تکبير تحريمه ،تکبير د رکوع او دری زوائد دی.اودڅلورو نه مراد دری زوائد اويو د رکوع تکبيردی.دد ی اثر نه هم د اختر تکبيرونه نهه ثابتيږی.شپږ زوائد او دری تکبيرات دمونځ (شرح نقايه).

حاصل دا چی د احنافو دمذهب بنياد دعبدالله بن مسعود ﷺ په قول بنا دی. ابن مسعودﷺ فرمائی.چی په ړومبی رکعت کي دی تکبيرتحريمه اووائی.او پنځه تکبيرونه ددی نه پس اووائی.او په دويم رکعت کي دی پنځه تکبيرونه اووائی.بيا دی قرات اوکړی.او په يو روايت کي دی.چی په دويم رکعت کي دی څلور تکبيرونه اووائی.

دابن مسعود او ابن عباس (رضي الله عنه) دقول په مينځ کي دوه ځايه اختلاف دی.يود تکبيرات زوائدو په تعداد کي دويم ددی په محل کښې.دابن مسعود (رضي الله عنه) په

نزدتكبيرات زوائد شپږدي.دري په اولنى ركعت كي او دري په دويم ركعت كي ، اوداين عباس رضى الله عنهما په نزديو روايت مطابق لس زوائد تكبيرونه دي.پنځه په اولنى ركعت كي او پنځه په دويم ركعت كنبي.اود بل روايت مطابق تكبيرات زوائد نهه دي.پنځه په اولنى ركعت كي اوڅلور په دويم ركعت كي ، ددويمى خبرى په باره كي اختلاف دا دې.چې دابن مسعود (رضي الله عنه) په نزدپه دويم ركعت كي دزوائد تكبيرونو محل د قرات نه د فراغت نه پس دې. اود ابن عباس رضى الله عنهما په نزد قرات نه مخكي دې.

امام شافعى رحمه الله د عبدالله ابن عباس (رضي الله عنهما) قول اختيار كړې دې.او د ابن عباس رضى الله عنهما په قول كي چى د تكبيرنو كوم تعداد نقل كړې شوې دې.دا په زوائد باندې محمول دې.دغه شان د امام شافعى رحمه الله په نزدتكبيرات ټول پنځلس دى يا شپاړس دى.

امام مالك او امام احمد فرمائى. چى دولس يا ديارلس د اصل تكبيرنو سره په جمع كيدو جوړيږى.يعنى تكبير تحريمه او په دواړو ركعتوكي د ركوع تكبير سره چى پيوست شى.نودولس يا ديارلس دى.په دى طريقه چى په اولنى او دويم ركعت كي پنځه پنځه زوائد تكبيرونه او تكبير تحريمه شو.او د دواړو ركعتونو د ركوع دوه تكبيرونه، دغه شان ټول تكبيرونه ديارلس شول.

اود دويم روايت مطابق په اولنى ركعت كي پنځه زوائد اوپه دويم ركعت كي څلور زوائد.او دري اصلى تكبيرونه دى.نواوس ټول تكبيرونه دولس شول.د ابن عباس رضى الله عنهما هم په دى روايتونو باندې په دغه زمانه كي د عامو خلقو عمل وو.

امام شافعى رحمه الله فرمائى چى دا دولس يا ديارلس ټول زوائد تكبيرونه دى.اوس ښكاره ده.چى هركله ددى سره دري اصلى تكبيرونه يعنى تكبيرتحريمه او د دواړو ركعتونو د ركوع دوه تكبيرونه جمع شى. نود دولس تكبيرونو روايت په صورت كي به ټول تكبيرونه پنځلس شى.او د ديارلس تكبيرونو د روايت په صورت كي به ټول تكبيرونه شپاړس شى.نود مروى نه مراد هغه دې.چى كوم د ابن عباس رضى الله عنهما نه نقل شوې دې.

حاصل دمذاهب ثلاثه دا شو.

(۱) چى د احنافو په نزدد اختر په دواړو ركعتونو كي تكبيرات زوائد شپږ دى.

(۲) او د امام مالك او امام احمد په نزدلس دى.

(۳) او د امام شافعى په نزددولس يا ديارلس دى.(شرح نقايه)

دمذاهب ثلاثه بنياد

(۱) د احنافو دمذهب بنياد د ابن مسعود(رضي الله عنه) په قول دې.

(۲) اود امام مالك او امام احمد دمذهب بنياد د ابن عباس رضی الله عنهما د ديارلسو تكبيرونو په روايت دې.څکه چې لس تکبیرونه زوائد دی.او دری اصلی دی.
(۳) اود امام شافعی رحمه الله دمذهب بنياد د ابن عباس رضی الله عنهما په دواړه روايتونو (دولس يا ديارلس) باندې دې.خو دوی دا ټول زوائد ګرځوی.اصلی دری ددی نه علاوه دی.والله اعلم(عین الهدايه)

****

٣١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ

ددواړو اخترو نو مونځونه د خطبي نه مخکي کول پکار دي

٥٣١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ هُوَ ابْنُ عُمَرَ بْنِ حَفْصِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ يُصَلُّونَ فِي الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ يَخْطُبُونَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ أَنَّ صَلَاةَ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ. وَيُقَالُ: إِنَّ أَوَّلَ مَنْ خَطَبَ قَبْلَ الصَّلَاةِ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ. (١)

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوبكر او عمر رضي الله عنهما به داخترونو مونځونه دخطبي نه مخکي اداء کول او روسته به يې ورپسې خطبه وئيله.

امام ترمذي وائي دابن عمر رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دجابر او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي دبعضو په دي باندي عمل دي چي داخترونو مونځونه به دخطبي نه مخکي وي، او وئيلي شوي دي چي دټولو نه مخکي چاچه د اختر دمونځ نه مخکي خطبه وئيلي وه مروان بن حکم دي.

---

1 ـ صحيح البخاري في العيدين ٨ (٩٦٣) . صحيح مسلم في العيدين (٨٨٨) . سنن النسائي في العيدين ٩ (١٥٦٥) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥٥ (١٢٧٦) . (تحفة الأشراف : ٧٨٢٢) . (مسند احمد (٢/ ١٢، ٣٨)

تشريح : اصل مسنون طريقه داده چي خطبه داختر دمونځ نه وروسته وي او همدا دخلفاء راشدينو او ائمه اربعه او دجمهور امت مذهب دي، او داختر دمونځ نه مخکي خطبه ورکول مع الكراهت دجواز په درجه کي دي

****

٣٢ـ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ صَلاَةَ الْعِيدَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلاَ إِقَامَةٍ

داخترونو په مونځونو کي اقامت او اذان نشته

٥٣٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلاَ مَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلاَ إِقَامَةٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّهُ لاَ يُؤَذَّنُ لِصَلاَةِ الْعِيدَيْنِ وَلاَ لِشَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ.[1]

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره داخترونو مونځونه ديو او دوه ځل نه زيات کړي دي يعني ډيري ډيري بغير د اذان او اقامت نه کړي دي.

امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دجابر بن عبدالله او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي دبعضو په دي باندي عمل دي چي داخترونو دمونځونو دپاره اذان نشته او نه په نوافلو کي دکوم نفل دپاره.

****

٣٣ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي الْعِيدَيْنِ

داخترونو په مونځونو کي دکومو سورتونو قرائت کول پکار دي

---

[1] ـ صحيح مسلم في العيدين (٨٨٧) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٥٠ (١١٣٨) . (تحفة الأشراف : ٢١٦٦) . مسند احمد (٥/

٥٣٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِيدَيْنِ وَفِي الْجُمُعَةِ بِ: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ وَرُبَّمَا اجْتَمَعَا فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ فَيَقْرَأُ بِهِمَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي وَاقِدٍ، وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَهَكَذَا رَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَمِسْعَرٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ، وَأَمَّا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ فَيُخْتَلَفُ عَلَيْهِ فِي الرِّوَايَةِ، يُرْوَى عَنْهُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ وَلَا نَعْرِفُ لِحَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ رِوَايَةً عَنْ أَبِيهِ. وَحَبِيبُ بْنُ سَالِمٍ هُوَ مَوْلَى النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ. وَرَوَى عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَحَادِيثَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ نَحْوُ رِوَايَةِ هَؤُلَاءِ، وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ بِ قَافٍ، وَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ" وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ. [1]

ترجمه : دنعمان بن بشير رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به په عيدينو او جمعه كي "سبح اسم ربك الاعلي" او "هل اتاك حديث الغاشيه" لوستل. اوچه كله به دواړه په يوه ورځ كي پيښ شول نو همدا دواړه سورتونه به يي لوستل.

امام ترمذي وائي دنعمان بن بشير حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي د ابو واقد، سمره بن جندب، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا رنګي سفيان ثوري او مصعر هم دابراهيم بن محمد بن منتشر نه دابوعوانه دحديث هم معني روايت نقل كړي دي، او دسفيان بن عيينه نه په روايت كي اختلاف دي دهغه سند داسي دي "عن محمد بن ابراهيم بن المنتشر عن ابيه عن حبيب بن سالم عن ابيه عن النعمان بن بشير" مونږ ته دحبيب بن سالم كوم داسي روايت نه دي معلوم چي هغه دخپل پلار نه نقل كړي وي، حبيب بن سالم د نعمان بن بشير ازاد كړي غلام وو او هغه دنعمان بن بشير نه ډير روايات نقل كړي دي او دابن عيينه نه دابراهيم بن محمد بن منتشر په واسطه د هغه خلقو پشان روايت هم نقل شوي دي، او

[1] ـ صحيح مسلم في الجمعة ١٦ (٨٧٨). سنن ابي داود في الصلاة ٢٢٢ (١١٢٢). سنن النسائي في الجمعة ٤٠ (١٣٢٥). سنن ابن ماجه في الإقامة ٩٠ (١١٢٠)، و١٥٧ (١٢٨١). موطا امام مالك في الجمعة ٩ (١٩). (تحفة الأشراف: ١١٦١٢). مسند احمد (٤ في ٢٧٠، ٢٧١، ٢٧٧). سنن الدارمي في الصلاة ٢٠٣ (١٦٠٩)

درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چي داخترونو په مونځونو كي به يي سورة ق او "اقتربت الساعة" لوستل او همدا دامام شافعي قول هم دي.

د نعمان بن بشير رضي الله عنه حالات:

نوم نعمان كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم يي بشير وو نعمان بلند پايه صحابي وو دده مور دعبدالله بن رواحه خور وه دهجرت نه پس په انصارو كي دټولو نه مخكي دده پيدائش شوى وو او بيا شپږمياشتي پس عبدالله بن زبير پيدا شو چي لږ هوښيار شو نو دمنبر نبوي سره به نژدي كيناستو او وعظ نصيحت به يي اوريدلو (مسند احمد).

دهجرت په ۵۹ كال كي امير معايه دكوفي حاكم مقرر كړو او بيا دحمص امير مقرر شو دده په باره كي صاحب د استيعاب ليكلي دي كان حليما ناسكا يحب العافية. يعني دى ډير صبرناك عابد او عافيت پسند انسان وو.

وفات: دهجرت په ۶۵ كال دحمص علاقه بيران نومي كلي كي وفات شو او پدغه وخت كي دابن زبير او مروان جنګ جاري وو په كوم كي چي دده دزبير ملګرتيا كړي وه نو په دي وجه دمروان كسانو دى قتل كړو او دده سر يي كټ كړو دده ښځي دده سر پخپله غيږ كي كيخودو او پدغه وخت كي دده عمر ۶۴ كلونه وو (استيعاب).

دده دمروياتو شمير ۱۲۴ دى چي پنځه متفق عليه دي يو په بخاري كي او څلور په مسلم كښي.

****

٥٣٤_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ سَعِيدٍ الْمَازِنِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ: "مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهِ فِي الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى؟ قَالَ: كَانَ يَقْرَأُ بِ ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ وَ اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعبيدالله بن عبدالله بن عتبه نه روايت دي چي عمر فاروق رضي الله عنه دابوواقد ليسي حارث بن عمرو رضي الله عنه نه تپوس اوكړو چي په وړوكي او لوي اختر مونځ كي به

1 صحيح مسلم في العيدين ٣ (٨٩١). سنن ابي داود في الصلاة ٢٥٢ (١١٥٤). سنن النسائي في العيدين ١٢ (١٥٦٨). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥٧ (١٢٨٢). (تحفة الأشراف: ١٥٥١٣). مسند احمد (٥ في ٢١٨، ٢١٩)

رسول الله صلي الله عليه وسلم څه څه لوستل نو هغه اووئيل "ق والقران المجيد" او "اقتربت الساعة وانشق القمر" به يي لوستل

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٥٣٥_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ سَعِيدٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو وَاقِدٍ اللَّيْثِيُّ بن عوف. (1)

ترجمه: ماقبل حديث په دي سند باندي هم مروي دي. امام ترمذي وائي دابو واقد ليثي دپلار نوم عوف دي.

****

٣٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّكْبِيرِ فِي الْعِيدَيْنِ

داخترونو مونځونوكي دتكبيراتوونيلوبيان

٥٣٦_ حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ عَمْرٍو أَبُو عَمْرٍو الْحَذَّاءُ الْمَدِينِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ الصَّائِغُ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَبَّرَ فِي الْعِيدَيْنِ فِي الأُولَى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ، وَفِي الآخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَائِشَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَدِّ كَثِيرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَهُوَ أَحْسَنُ شَيْءٍ رُوِيَ فِي هَذَا الْبَابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَاسْمُهُ عَمْرُو بْنُ عَوْفٍ الْمُزَنِيُّ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ صَلَّى بِالْمَدِينَةِ نَحْوَ هَذِهِ الصَّلاَةِ، وَهُوَ قَوْلُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. وَرُوِي عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّهُ قَالَ فِي التَّكْبِيرِ فِي الْعِيدَيْنِ: تِسْعَ تَكْبِيرَاتٍ، فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ، وَفِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ يَبْدَأُ بِالْقِرَاءَةِ، ثُمَّ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا مَعَ تَكْبِيرَةِ

---

1 _ صحيح مسلم في العيدين ٣ (٨٩١). سنن ابي داود في الصلاة ٢٥٢ (١١٥٢). سنن النسائي في العيدين ١٣ (١٥٦٨). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥٧ (١٢٨٢). (تحفة الأشراف: ١٥٥١٣). مسند احمد (٥ في ٢١٨، ٢١٩)

الرُّكُوعِ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا، وَهُوَ قَوْلُ أَهْلِ الْكُوفَةِ. وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ. (1)

ترجمه : دعمرو بن عوف مزني بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په اخترونو کي په اول رکعات کي دقرائت نه مخکي اوه تکبيرونه وئيل او په دويم رکعات کي دقرائت نه پس پنځه تکبيرات وئيل.

امام ترمذي وائي په دي باب کي د عائشه، ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي، د کثير دنيکه حديث حسن دي ، او دا دټولو نه ښه روايت دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دي باب کي نقل کړي شوي دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي دبعضو په دي باندي عمل دي، او دابوهريره رضي الله عنه نه هم ددي هم معني روايت مروي دي چي هغوئ په مدينه کي په دي طريقه دا مونځ ورکړي وو او دا داهل مدينه قول هم دي او همدا دمالك بن انس،شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه قول هم دي، دعبدالله بن مسعود نه مروي دي د عيدين دتکبيراتو باره کي يي وئيل چي دا نهه دي ، پنځه په اولني رکعت کي دقراءت نه مخکي دي اوپه دويم رکعت کي قراءت مقدم کول دي او بيا څلور تکبيرات ويل دي د رکوع دتکبير سره ، د متعددو صحابه کرامو نه هم دا مضمون مروي دي او تمام اهل کوفه او سفيان ثوري هم په دي باندي قول کړی دی.

تشريح : په دي مسئله کي اختلاف دي چي په اخترونو کي تکبيرات زوائد څومره دي په دي کي دوه مذاهب دي.

(۱) دامام ابو حنيفه په نزد تکبيرات زوائد شپږ دي دري په اول رکعات کي دي قبل القرائت او دري په دويم رکعات کي دي بعدالقرائت قبل الرکوع.

(۲) دائمه ثلاثه په نزد تکبيرات زوائد دولس دي ، اوه په اولني رکعات کي قبل القرائت دي، او پنځه په دويم رکعات کي قبل القرائت کي (تعليمات محمدي).

د عمرو بن عوف انصاري رضي الله عنه حالات:

نوم عمرو کنيه ابوعبدالله چي داسلام په ابتداء کي مسلمان شوی وو او بيايي ددينه پس مديني ته هجرت هم کړی وو (استيعاب).

کله چي په عزوه تبوك کي سخت قحط وو نو رسول الله ددي دپاره تياری شروع کړو او عمرو بن عوف په دربارنبوت کي حاضر شو او عرض يي اوکړو که زمونږ دپاره هم څه انتظام اوکړی شي

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥٦ (١٢٧٩) . (تحفة الأشراف : ١٠٧٧٣)

نو مونږ به ددي جهاد نه محروم پاتي نشو غرض داچه ددي دپاره څه انتظام اونه شو ليکن الله تعالى ددا سي خلقو په باره کي دا ايت کريمه :

ولا على الذين اذا ما اتوك لتحملهم قلت لااجد ما احملكم عليه تولوا واعينهم تفيض من الدمع حزنا الا يجدوا ماينفقون (توبه) نازل کړو.

يعني او نه په هغه خلقو الزام شته کوم چي تاته دسورلۍ غوښتلو دپاره راغلل او تا ورته اووئيل زما سره خو هيڅ څيز نشته چي تاسو پري سواره کړم نو ددي ويناپه اوريدو سره دغم په وجه دهغوئ دسترګو نه اوښکي بهيدلي.

وفات: دامير معاويه رضي الله عنه په زمانه کي په مدينه کي وفات شو (استيعاب) دده دمروياتو شمير اوو ته رسيږي.

****

٣٥ـ بَابُ مَا جَاءَ لاَ صَلاَةَ قَبْلَ الْعِيدِ وَلاَ بَعْدَهَا

داختر دمونځ نه مخکي او روسته نفل کول نشته

٥٣٧ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ يَوْمَ الْفِطْرِ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلاَ بَعْدَهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. وَقَدْ رَأَى طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ الصَّلاَةَ بَعْدَ صَلاَةِ الْعِيدَيْنِ، وَقَبْلَهَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. وَالْقَوْلُ الأَوَّلُ أَصَحُّ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داختر په ورځ راووتلو او دوه رکعاته مونځ يي اوکړو او بيا يي نه ددينه مخکي کوم مونځ اوکړو او نه ددينه پس.

---

[1] ـ صحيح البخارى في العيدين ٨ (٩٦٣)، و٢٦ (٩٨٩)، والزكاة ٢١ (٣٢١)، واللباس ٥٧ (٥٨٨١)، و٥٩ (٥٨٨٣). صحيح مسلم في العيدين ٢ (١٣ في ٨٨٤). سنن ابي داود في الصلاة ٢٥٦ (١١٥٩). سنن النسائي في العيدين ٢٩ (١٥٨٨). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٦٠ (١٢٩١). (تحفة الأشراف: ٥٥٥٨). مسند احمد (١ في ٣٥٥). سنن الدارمي في الصلاة ٢١٩ (١٦٣٦)

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعبدالله بن عمر، عبدالله بن عمرو او ابوسعيد نه هم احاديث مروي دي، دبعضي صحابه كرامو او اهل علمو په دي باندي عمل دي. او همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي ديو جماعت خيال چي داختر دمونځ نه مخكي او داختر دمونځ نه پس كه څوك مونځ كول غواري نو كولي يي شي ليكن اولني قول زيات صحيح دي.

په عيدګاه کې دمونځ نه مخکې یاوروسته متصل د نفلو کولو حکم

داخترد مونځ نه مخكي نفل كول مكروه دى په عيدګاه كي هم اود عيدګاه نه علاوه په نوروځايونوكي هم، دامام دپاره هم مكروه دى.اودمقتدى دپاره هم.دليل ددي دابن عباس رضى الله عنهما قول دى:

"ان رسول الله ﷺ خرج فصلى بهم العيد لم يصل قبلها ولا بعدها"

يعنى نبىﷺ د كور نه رابهرشو.خلقو ته ئې د اختر مونځ وركړو.نه ئې د اختر نه مخكي مونځ اوكړو.او نه د اختر نه پس.حالانكه نبىﷺ مونځ ته بيحده ليوال وو.كه د اختر نه مخكي يا روستو د نفلوكولو اجازت وى نو د الله رسول به ضرور كړى وو.صاحب دهدايه فرمائى د بعضى مشائخو په نزدپه عيدګاه او كور دواړه ځايونو كي كراهت عام دي اوبعضو فرمائيلى دى چى داختردمونځ نه پس په عيدګاه كي دننه بى شكه چى مونځ كول مكروه دى.خو د راتلونه پس په كوركي نفل كول بغير دكراهته جائزدى.دابوسعيد خدرى (رضي الله عنه) نه مروي دي.

"قال كان رسول الله ﷺ لا يصلى قبل العيد شَيْئاً فاذا رجع الى منزله صلى ركعتين"

يعنى رسول الله ﷺ د اختر نه مخكي هيڅ مونځ نه كولو.خو كله به چى خپل كورته واپس راغلو.نو دوه ركعته نفل به ئې كول.

****

٥٣٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ أَبَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَفْصٍ وَهُوَ ابْنُ عُمَرَ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ "أَنَّهُ خَرَجَ فِي يَوْمِ عِيدٍ فَلَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا، وَذَكَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٥٤٦)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي هغه داختر په ورځ راووتلو او نه يي داختر دمونځ نه مخکي کوم مونځ اوکړو او نه ددينه پس او ذکر يي کړل چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به هم داسي کول.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح : په دي مسئله کي اختلاف دي چي داختر دمونځ نه مخکي او روسته نوافل جائز دي او کنه په دي کي ځلور مذاهب دي.
(۱) دامام ابو حنيفه په نزد داختر دمونځ نه مخکي نوافل مطلقا ناجائز دي، په عيدگاه کي وي او که په کور کي وي او داختر دمونځ نه پس په عيدگاه کي ناجائز دي او په کور کي جائز دي.
(۲) دامام مالك په نزد دمونځ نه مخکي نوافل مطلقا ناجائز دي په عيدگاه کي وي او که په کور کي وي او دمونځ نه پس مطلقا جائز دي چي په مسجد کي وي او که په کور کي وي.
(۳) دامام احمد په نزد داختر دمونځ نه مخکي او روسته مطلقا نوافل ناجائز دي چي په کور کي وي او که په مسجد کي وي.
(۴) دامام شافعي په نزد داختر دمونځ نه مخکي مطلقا جائز دي په مسجد کي وي او که په کور کي وي. (تعليمات محمدي).

****

٣٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي خُرُوجِ النِّسَاءِ فِي الْعِيدَيْنِ

داخترونو په مونځونو کي دښځو دپاره عيدگاه ته دتلو بيان

٥٣٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا مَنْصُورٌ هُوَ ابْنُ زَاذَانَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُخْرِجُ الأَبْكَارَ وَالْعَوَاتِقَ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضَ فِي الْعِيدَيْنِ، فَأَمَّا الْحُيَّضُ فَيَعْتَزِلْنَ الْمُصَلَّى وَيَشْهَدْنَ دَعْوَةَ الْمُسْلِمِينَ، قَالَتْ إِحْدَاهُنَّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا جِلْبَابٌ؟ قَالَ: "فَلْتُعِرْهَا أُخْتُهَا مِنْ جَلَابِيبِهَا".[1]

---

[1] _ صحيح البخاري في الحيض ٢٣ (٣٢٤)، والصلاة ٢ (٣٥١)، والعيدين ١٥ (٩٨٠)، و٢١ (٩٨١)، والحج ٨١ (١٦٥٢). صحيح مسلم في العيدين ١ (٨٩٠)، والجهاد ٤٨ (١٨١٢). سنن ابي داود في الصلاة ٢٤٧ (١١٣٦). سنن النسائي في الحيض ٢٢ (٣٩٠)، والعيدين ٣ (١٥٥٩). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٦٥ (١٣٠٧). (تحفة الأشراف: ١٨١٠٨). مسند احمد (٥ في ٨٤، ٨٥). سنن الدارمي في الصلاة ٢٢٣ (١٦٥٠)

ترجمه دام عطيه رضي الله عنها بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په اخترونو كي پيغلي جينكۍ او واده شوي ښځي او پرده نشيني ښځي او بالغي ښځي دمونځ دپاره بوتللي البته بيماري ښځي به دعيدگاه نه لري وي مگر دمسلمانانو په دعا كي به شريكيدي، يوي ښځي عرض اوكړو اي دالله رسوله كه ديوي ښځي سره پړوني نه وي نو څه به كوي رسول الله اوفرمائيل دهغي مسلماني خور لره پكار دي چي ديته پخپلو څادرونو كي يو څادر په طور دعاريت وركړي.

تخريج :

دام عطيه رضي الله عنها دژندگۍ مختصر حالات:

نوم نسيبه دپلار نوم حارث دهجرت نه مخكي مسلمانه شوي وه او كله چي رسول الله مديني ته راغی نو دانصاري ښځو نه يي بيعت واخستلو او په دوئ كي دا هم شامله وه ام عطيه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په جنگونو كي هم شريكه شوي وه چي خوراك به يي تيارولو او دسامانونو حفاظت به يي كولو او دزخميانو دمرهم پټئ كاربه يي كولو (مسلم).

دهجرت په اتم كال چي درسول الله صلي الله عليه وسلم زينب لور وفات شوه نو ام عطيه ديو څو ښځو په ملگرتيا كي هغي ته غسل وركړل ددي يو خويي هم وو چي په كومه غزوه كي شريك شوی وو او دبيماريدو نه پس بصري ته تلی وو په دي وخت كي ام عطيه په مدينه كي وه څنگه چي خبر شوه نوسم دست بصري ته روانه شوه ليكن ددي درسيدو نه دوه ورځي مخكي هغه وفات شوی وو په دريمه ورځ يي خوشبو راوغوښتله او استعمال يي كړه او ونيل يي چي دخاوند نه علاوه دهيچا په مرگ د دري ورځو نه زيات ماتم كول جائز نه دي (بخاري).

ددي دوفات تعريف معلوم نه دی داحاديثو شمير يي څلويښت دی چي نهه په دي كي متفق عليه دي.

****

٥٤٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ. عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ. عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ بِنَحْوِهِ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أُمِّ عَطِيَّةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، وَرَخَّصَ لِلنِّسَاءِ فِي الْخُرُوجِ إِلَى الْعِيدَيْنِ وَكَرِهَهُ بَعْضُهُمْ. وَرُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ: أَكْرَهُ الْيَوْمَ الْخُرُوجَ لِلنِّسَاءِ فِي الْعِيدَيْنِ، فَإِنْ أَبَتِ الْمَرْأَةُ إِلَّا أَنْ تَخْرُجَ فَلْيَأْذَنْ لَهَا زَوْجُهَا أَنْ تَخْرُجَ فِي أَطْمَارِهَا الْخُلْقَانِ وَلَا تَتَزَيَّنَ، فَإِنْ أَبَتْ أَنْ تَخْرُجَ كَذَلِكَ فَلِلزَّوْجِ أَنْ يَمْنَعَهَا عَنِ الْخُرُوجِ. وَيُرْوَى عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: لَوْ رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ لَمَنَعَهُنَّ الْمَسْجِدَ كَمَا

مُنِعَتْ نِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ. وَيُرْوَى عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ أَنَّهُ كَرِهَ الْيَوْمَ الْخُرُوجَ لِلنِّسَاءِ إِلَى الْعِيدِ.

([1])

ترجمه : په دي سند باندي هم د ام عطيه رضي الله عنها نه ددي هم معني روايت مروي دي. امام ترمذي وائي دام عطيه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عباس او جابر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي بعضي اهل علم همدي حديث طرف ته مائل شوي دي او په اخترونو کي يي ښځو ته دوتلو اجازت ورکړي دي او بعضي اهل علمو دا مکروه ګنړلي دي دعبدالله بن مبارك بيان دي چي نن سبا په اخترونو کي دښځو وتل مکروه ګنړم او که کومه ښځه نه مني او په وتلو ضد کوي نوپکار ده چي ددي خاوند ديته په زړو او خيرنو جامو کي دوتلو اجازت ورکړي او زينت به نه کوي او که دا په داسي وتلو نه راضي کيږي نو بيا خاوند لره حق دي چي دا دتلو نه منع کړي، دعائشه رضي الله عنها نه منقول دي فرمائي که رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه څيزونه ليدلي وي کوم چي نن سبا ښځو پيدا کړي دي نو دوی به يي مسجدونو ته دتلو نه منع کړي وي لکه څنګه چي دبني اسرائيلو ښځي منع کړي شوي وي. سفيان ثوري نه هم منقول دي چي په نن سبادور کي هغوئ هم عيدګاه ته دښځو وتل مکروه ګرځولي دي.

****

٣٧_ باب مَا جَاءَ فِي خُرُوجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْعِيدِ فِي طَرِيقٍ وَرُجُوعِهِ مِنْ طَرِيقٍ آخَرَ

د اختر د مونځ دپاره د رسول الله د تګ راتګ دپاره د لاري بدلول

٥٤١_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ وَاصِلِ بْنِ عَبْدِ الْأَعْلَى الْكُوفِيُّ، وَأَبُو زُرْعَةَ. قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّلْتِ، عَنْ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيدِ فِي طَرِيقٍ رَجَعَ فِي غَيْرِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ،

---

[1] _ صحيح البخاري في الحيض ٢٣ (٣٢٤)، والصلاة ٢ (٣٥١)، والعيدين ١٥ (٩٨٠)، و٢١ (٩٨١)، والحج ٨١ (١٦٥٢)، صحيح مسلم في العيدين ١ (٨٩٠)، والجهاد ٣٨ (١٨١٢)، سنن ابي داود في الصلاة ٢٤٧ (١١٣٦)، سنن النسائي في الحيض ٢٢ (٣٩٠)، والعيدين ٣ (١٥٥٩)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٦٥ (١٣٠٧)، (تحفة الأشراف : ١٨١٠٨)، مسند احمد (٥ في ٨٤، ٨٥)، سنن الدارمي في الصلاة ٢٢٣ (١٦٥٠)

وَأَبِي رَافِعٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَرَوَى أَبُو تُمَيْلَةَ، وَيُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: وَقَدِ اسْتَحَبَّ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ لِلْإِمَامِ إِذَا خَرَجَ فِي طَرِيقٍ أَنْ يَرْجِعَ فِي غَيْرِهِ اتِّبَاعًا لِهَذَا الْحَدِيثِ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَحَدِيثُ جَابِرٍ كَأَنَّهُ أَصَحُّ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم داختر دمونځ دپاره په يوه لاره لاړو واپس به په بله لار راتلو.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن غريب دي او په دي باب كي دعبدالله بن عمر، او ابورافع رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، ابوتميله او يونس دا حديث په سند د فليح بن سليمان عن سعيد بن الحارث عن جابر بن عبدالله نقل كړي دي او بعضي اهل علمو ددي حديث په متابعت كي دامام دپاره دلاري بدلول مستحب ګنړلي دي چي امام كله په يوه لاره لاړ شي نو په بله لار به واپس راځي دامام شافعي هم دا قول دي او دجابر حديث دابوهريره دحديث په نسبت زيات صحيح دي.يعني دلاري بدلول صرف د امام دپاره ضروري دي.

****

٣٨ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَكْلِ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ الْخُرُوجِ

عيدګاه ته دتلو نه مخكي داختر په ورځ د څه څيز دخوړلو بيان

٥٤٢ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، عَنْ ثَوَابِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَطْعَمَ وَلَا يَطْعَمُ يَوْمَ الْأَضْحَى حَتَّى يُصَلِّيَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ بُرَيْدَةَ بْنِ حُصَيْبٍ الْأَسْلَمِيِّ حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا أَعْرِفُ لِثَوَابِ بْنِ عُتْبَةَ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَدِ اسْتَحَبَّ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ لَا يَخْرُجَ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَطْعَمَ شَيْئًا وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يُفْطِرَ عَلَى تَمْرٍ، وَلَا يَطْعَمَ يَوْمَ الْأَضْحَى حَتَّى يَرْجِعَ. [2]

---

[1] ـ تفرد به المؤلف من حديث ابي بريرة واخرجه في العيدين ٢٢ (٩٨٦) بنفس الطريق لكنه من حديث جابر. وقال حديث جابر أصح (تحفة الأشراف: ١٢٩٣٧)

[2] ـ سنن ابن ماجه في الصيام ٤٩ (١٧٥٤). (تحفة الأشراف: ١٧٥٤)

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به كله دوړوكي اختر په ورځ دكور نه وتلو نو چي څو پوري به يي خوراك نه وو كړي ترهغي پوري به نه وتلو او دلوي اختر په ورځ به يي چي څو پوري مونځ نه وو كړي خوراك به يي نه كولو.

امام ترمذي وائي دبريده بن حصيب اسلمي رضي الله عنه حديث غريب دي، امام بخاري وائي دثواب بن عتبه ددينه علاوه كوم بل حديث مونږ ته معلوم نه دي چي دده نه مروي وي، او په دي باب كي دانس او علي رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي بعضي اهل علمو مستحب گڼلي دي چي بنده به دوړوكي اختر مونځ ته دتلو دپاره دخوراك كولو نه مخكي نه رواني او دهغه دپاره مستحب دي چي كجوري وغيره يا ناشته اوكړي او دلوي اختر په ورځ دواپس راتلو نه مخكي خوراك كول پكار نه دي.

****

٥٤٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق. عَنْ حَفْصِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَنَسٍ. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُفْطِرُ عَلَى تَمَرَاتٍ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الْمُصَلَّى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به دوړوكي اختر په ورځ مونځ ته دوتلو نه مخكي يو څو كجوري اوخوړلي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب صحيح دي.

داخترونو مسنون اعمال

(١)د اختر د ورځې په مستحباتوكي يو دادى.چې عيدګاه ته د تلو نه مخكي څه خوږ څيز وخوري.امام بخارى د انس(رضي الله عنه) نه روايت كړې دې:

"قال كان رسول الله ﷺ لا يغدو يوم الفطر حتى يأكل تمرات ويأكلهن وترا"

انس (رضي الله عنه) فرمائى.چى رسول الله ﷺ به د وړوكى اختريه ورځ (داختر مانځه) دپاره تشريف نه اوړلو.تردى چى طاق شمير كجوري به ئې نه وى خوړلى.

---

[1] تفرد به المؤلف وانظر صحيح البخارى في العيدين ٣ (٩٥٣) . وسنن ابن ماجه في الصوم ٤٩ (١٧٥٣) . (تحفة الأشراف: ٥٢٨)

او په ترمذی اوابن ماجه کي دی "ان رسول الله ﷺ کان لایخرج یوم الفطر حتی یأکل وکان لا یأکل یوم النحر حتی یصلی"یعنی د وړوکی اختر په ورځ به بغیر دڅه خوراك نه نۀ وتلو.او د لوی اختر په ورځ به بغیردمونځ کولو نه څه نه خوړل.

(۲) دویم مستحب عمل غسل دي: ددي دلیل حدیث د ابن ماجه د فاکه ابن سعد حدیث نقل کړي دي.

"ان رسول الله ﷺ کان یغتسل یوم الفطر و یوم النحر و یوم العرفة"

یعنی رسول الله ﷺ د وړوکی اختر په ورځ، د لوی اخترپه ورځ اودعرفی په ورځ غسل کول.(۲) عقلی دلیل دادي.چی د اخترونو ورځ دخلقو د راجمع کیدو ورځ وی.په دی وجه دی کي غسل کول.او خوشبو لګول مسنون دی.لکه څنګه چی دجُمعی په ورځ دا دواړه اعمال مسنون دی.

(۳)دریم مستحب عمل دادي.چی په خپلو موجوده جامو کي چی کومی ښی او نوی وی.هغه دی واغوندی.ځکه چی د نبی کریم ﷺ د فنك یا وړئ چوغه وه، اختر وغیره موقع باندي به دا اغوستله.فنك یو ځناور دي.چی دده د څرمنی پوستکی ډیر ښه وی.په یو بل روایت کي دی.

"عن جابر بن عبدالله (رضي الله عنه) قال کان للنبی ﷺ برد احمر یلبسه فی الجمعة والعید"

جابر بن عبدالله (رضي الله عنه) فرمائی.چی دنبی ﷺ دکرخو والا سُور یمنی څادر وو.چی دا به نبی ﷺ په جُمعه اواختر وغیره کي اغوستلو.

داخترونوپه تکبیرونوکي د رفع یدین حکم

رفع الیدین زمونږ په نزدد اخترونو په تکبیرونوکي د غوږونو پوري لاسونه اوچتولی شی.هم دا د امام شافعی او امام احمد مذهب دي.او دلیل یي دنبی ﷺ قول "لاترفع الأیدی إلا فی سبع مواطن" دي.په دی اوه ځایونوکي د اخترونو زوائد تکبیرونه هم دی.عدم رفع الدین دامام ابویوسف نه مروی دی.چی د اخترونو په تکبیرونوکي به لاسونه نه اوچتوی.دلیل یي دا دي.چی د لاسونو اوچتول د افتتاح سنت دی.چونکه په زوائد تکبیرونو کي دمونځ افتتاح نشته،ددی وجه به رفع یدین هم نه کیږی.لکه چی د رکوع په تکبیرکي رفع یدین نشته.

دامام ابویوسف رحمه الله خلاف حدیث "لاترفع الأیدی" حجت دی پاتي شوه دا خبره چی په زوائدو تکبیرونو کي هیڅ مسنون نه دی.

د امام ابوحنیفه رحمه الله نه مروی دی.چی په هر دوه تکبیرونوکي به د دری تسبیحاتو په مقدار سکوت کوی.ځکه چی د اختر مونځ د جم غفیر سره اداکولی شی.که په تکبیرونو کي موالات او وصل اوکړي شی.نوکوم خلق چی د امام نه لری وي په دوی به د امام حال مشتبه

شي،چې امام کوم يو تکبير وائي.البته په دومره مقدار اودريدلوسره اشتباه لرې کيږي.ددې وجې په تکبيرونوکې ددرې تسبيحاتو په مقدار د خاموش پاتې کيدو حکم ورکړې شوې دې.

****

أبواب السفر

دسفر داحکامو بيان

٣٩_باب مَا جَاءَ فِي التَّقْصِيرِ فِي السَّفَرِ

د سفر کې په مونځ کې دقصر کولو بيان

٥٤٤_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْحَكَمِ الْوَرَّاقُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَافَرْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ "فَكَانُوا يُصَلُّونَ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ لَا يُصَلُّونَ قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا". وقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: لَوْ كُنْتُ مُصَلِّيًا قَبْلَهَا أَوْ بَعْدَهَا لَأَتْمَمْتُهَا. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَنَسٍ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سُلَيْمٍ مِثْلَ هَذَا. قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ آلِ سُرَاقَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَتَطَوَّعُ فِي السَّفَرِ قَبْلَ الصَّلَاةِ وَبَعْدَهَا" وَقَدْ صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ "يَقْصُرُ فِي السَّفَرِ" وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ صَدْرًا مِنْ خِلَافَتِهِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ "أَنَّهَا كَانَتْ تُتِمُّ الصَّلَاةَ فِي السَّفَرِ" وَالْعَمَلُ عَلَى مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ. وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. إِلَّا أَنَّ الشَّافِعِيَّ يَقُولُ: التَّقْصِيرُ رُخْصَةٌ لَهُ فِي السَّفَرِ فَإِنْ أَتَمَّ الصَّلَاةَ أَجْزَأَ عَنْهُ.[1]

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٢٢٣)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم او ابوبكر او عمر او عثمان رضي الله عنه سره سفرونه كړي دي دوئ به دماسپخين او مازيگر مونځونه دوه دوه ركعاته كول نه به يي ددينه مخكي كوم مونځ كولو او نه ددينه وروسته عبدالله بن عمر رضي الله عنه وائي كه چري ما ددينه مخكي يا روسته سنت اداء كولي نو بيا به مي همدا فرائض اداء كړي وو.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن غريب دي اومونږ يي صرف ديحي بن سليم په روايت پيژنو. امام بخاري وائي دا حديث په سند د عبدالله بن عمر عن رجل من ال سراقه عن عبدالله بن عمر هم مروي دي او عطيبه عوفي دابن عمر نه روايت كوي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به په سفر كي دفرضو نه مخكي او روسته نفل كول. په دي باب كي دعمر، علي، دابن عباس، انس، عمران بن حصين، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي درسول الله نه دا هم ثابت دي چي هغه او ابوبكر به په سفر كي قصر كولو او عثمان رضي الله عنه هم دخپل خلافت په شروع كي قصر كولو په صحابه كرامو او اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي او دعائشه رضي الله عنها باره كي مروي دي چي هغي به په سفر كي پوره مونځ كولو او عمل په هغه باندي دي كوم چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دصحابه كرامو نه مروي دي او همدا دامام شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه قول دي البته شافعي وائي په سفر كي قصر كول رخصت دي او كه څوك پوره مونځ اوكړي نو جائز دي.

تشريح : په پورتني مسئله كي اختلاف دمذاهبو:

(۱) **زمونږ په نزد** دمسافر په حق كي قصر اسقاط افضل دی او اتمام رخصت دی، يعنی په څلور ركعته مونځ كي دوه ركعته ساقط شوی دی، اودوه ركعته باقي پاتی دی

(۲) **امام شافعی رحمه الله په نزد:** دمسافرپه حق كي قصر، رخصت دی. او پوره كول افضل دی يعنی دمسافر دسهولت پيش نظرده ته ددوور كعتونو كولواجازت وركړی شوی دی. ګنی په څلور ركعته مونځ كي په ده څلور ركعته فرض دی، اوهم څلورر كعته كول افضل دی، د دی قائل امام محمد رحمه الله هم دی، او داد امام مالك رحمه الله هم يوقول دی.

دلائل دشافعی رحمه الله:

(۱) د امام شافعی رحمه الله دليل په روژه قياس دی، يعنی څنګه چی مسافردپاره په رمضان المبارك كي د افطار اجازت دی، اوروژه نيول افضل دی، هم دغه شان په څلور ركعته مونځ كي د قصراجازت وركړی شوی دی، ګنی تول كول افضل دی.

(۲) دویم دلیل دادی چی الله تعالیٰ فرمائیلی دی واذا ضربتم في الارض فلیس علیکم جناح ان تقصروا من الصلاۃ یعنی دمونځ په قصر کولو کي په تاسوهیڅ حرج نشته. د ایت نه په استدلال داسی وی، الله تعالی قصر په لفظ "لاجناح" سره مشروع کړی دی . اودا لفظ اباحت دپاره ذکرکولی شي، دوجوب دپاره نه، لکه څنګه چی په بل ایت کي دی

﴿لیس علیکم جناح ان طلقتم النساء﴾

نوثابته شوه چی قصرمباح دی ، واجب نه دی ، اوچی د قصر اباحت ثابت شو، نود نورو مباحاتو په شان به قصرکي هم مسافر ته اختیاروی، که قصرکوی اوکه اتمام

(۳) دریم دلیل دعمر رحمه الله نه نقل دی ، فرمائی چی دی ایت په ما مشتبه شو، نوما د درسول الله نه تپوس اوکړو ، ایا مونځ قصراوکړو؟ حالانکه مونږ په امن کي یو . د هیڅ څیز ویره نشته، اوالله تعالی﴿ ان خفتم﴾ فرمائیلی دی، یعنی قصرنی دویري سره مشروط کړی دی رسول پاك ﷺ اوفرمائیل، دا د الله تعالی دطرفه صدقه ده، د الله تعالی صدقه قبوله کړه. په حدیث پاك کي قصر دقبول سره معلق شوی دی . اود قصرنوم صدقه ده. اوقاعده داده په چاچي صدقه کولی شي . هغه ته په صدقه کي اختیار وی قبلول لازم نه وی (فتح القدیر)

(۱) **زمونږ د احنافو دلیل دادی** : که مسافرقصراوکړی، اواخری دري رکعته پاتي شي. نود اقامت نه پس نه ددی قضا شته، اونه ددی په پریخودوګناهګاریږی، اود قضا نه واجبیدل، اونه ګناهګاریدل د دویمي شفع د نفلیت علامت دی ، نو ثابته شوه، چی په مسافرپه څلور رکعته مونځ کي صرف دوه رکعته واجب دی

۲ دویم نقلی دلیل:

[عن عائشة رضی الله عنها قالت فرضت أی الصلوۃ رکعتین رکعتین فأقرت صلوۃ السفر و زیدت فی الحضر] (بخاری ومسلم)

عائشة رضی الله عنها فرمائی. مونځ دوه دوه رکعته فرض شوی دی . نودسفرمونځ ،هم په دی حالت، باقی پاتی شو . اودحضر په مانځه کي اضافه اوکړی شوه

۲_ [عن ابن عباس رضی الله عنهما قال فرض الله الصلوۃ علی لسان نبیکم فی الحضر أربع رکعات وفی السفر رکعتین]

ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی، الله تعالی ستاسود رسول په ژبه په حضرکي څلورر رکعته فرض کړل، او په سفر کي دوه رکعته

۴ د طبرانی روایت دی.

[إفترض رسول الله ﷺ رکعتین فی السفر کما إفترض فی الحضر أربعا]

رسول الله ﷺ په سفر كي دوه ركعته فرض كړي دي، لكه څنګه چي ئې په حضر كي څلور ركعته فرض كړي دي.

۵_ په نسائي اوابن ماجه كي دي

[عن ابن أبي ليلى عن عمر رضي الله عنه قال صلوة السفر ركعتان وصلوة الأضحى ركعتان وصلوة الفطر ركعتان وصلاة الجمعة ركعتان تمام غير قصر على لسان محمد ﷺ]

عمر رضي الله عنه فرمائي، دسفرمونځ دوه ركعته دي ، د لوئي اخترمونځ دوه ركعته دي. د عيد الفطر (وړوكی اختر)مونځ دوه ركعته دي، اودجُمعي مونځ دوه ركعته دي. اودا پوره مونځ دي . بغيرد قصر كولو نه د الله تعالى د پيغمبر ﷺ په ژبه

په بخاري شريف كي د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل دي.

[صحبت رسول الله ﷺ في السفر فلم يزد على ركعتين حتى قبضه الله وصحبت عمر رضي الله عنه فلم يزد على ركعتين حتى قبضه الله وصحبت عثمان فلم يزد على ركعتين حتى قبضه الله وقد قال الله تعالى لقد كان لكم في رسول الله اسوة حسنة]

د ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل دي، چي زه په سفركي د رسول الله ﷺ سره ووم ، هغوی ﷺ په دوو ركعتو زيادت نه ووكړي ، تردې چي رسول پاك ﷺ وفات شو، اوخپل پلارمحترم عمر رضي الله عنه سره په سفركي ووم، هغوی هم په دوو ركعتونو اضافه نه وه كړي ، تردې چي هغوی رضي الله عنه وفات شو، د عثمان رضي الله عنه سره مي سفركړي وو ، هغوی هم دخپل ژوندون پوري په دوو ركعتونواضافه نه وه كړي ، اوالله تعالى د رسول پاك ﷺ ژوند مبارك ته اسوة حسنة فرمائيلی دی ، څكه به ددې اتباع كولي شي. ددې ټولوحديثونونه دسفردمونځ دوه ركعته ثابتيږي ، كه دسفر په مونځ كي څلور ركعته كول افضل وو ، لكه څنګه چي د امام شافعي رحمه الله خيال دی ، نورسول پاك ﷺ اود هغه صحابه كرامو به هيڅ كله دا فضيلت نه وو پريخودی .

د امام شافعي رحمه الله د قياس جواب دادی چي د مسافر قصرمونځ دده په روژو قياس كول درست نه دي، په دې وجه بيشكه مسافرته په رمضان كي د افطار اجازت وركړی شوی دی . خو په دواړو كي فرق دادی چي په مسافر په څلور ركعته مونځ كي د قصركولو په صورت كي د أخيرينوقضا واجب نه ده. اود روژو قضا واجب ده. نوپه دې فرق سره يو په بل قياس كول څنګه درست كيدی شي.

د مالم شافعي رحمه الله دطرفه د پيش كړی ايت جواب دادی چي په ايت كي د اوصافو قصرمراد دی ، يعني د دشمن دويري نه قيام پريخودل، اوقعود اختيارول ، ركوع اوسجدی پريخودل، اشاري سره مونځ كول، اوزمونږ په نزد د ويري په وخت د اوصافو قصر مباح دی .

واجب نه دی ، اوچې په ایت کې د اوصافو قصرمراد دی . نوددی نه د رکعتونو په قصراستدلال نشی کیدی.

د شافعي رحمه الله دمستدل نه دوه جوابونه دي اول جواب:

(۱) د امام شافعي رحمه الله د پيش کړی‌شوی حديث د عمر رضي الله عنه جواب دادی چې دا حديث زمونږ دليل دی ، ستاسونه دی ، ځکه چې په حديث کې "فاقبلوا" د امرصيغه ده، او امرد وجوب دپاره وی، نو قصرچې ورته صدقه ونيلي شوی دي، ددی قبلول واجب شو، مباح نشو.

(۲) دويم جواب دادی چې صدقه په دوه قسمه وی يو د تمليکاتو د قبيلي نه وی. لکه د مال صدقه، دويم د اسقاطاتو د قبيلي نه وی، لکه عتاق (ازادول)اوقصاص معاف کول. قاعده داده ، چې کومه صدقه د تمليکاتو د قبيلي ځخه وی، که دا رد شي نوهغه به رد شي، البته کوم چې د اسقاطاتو د قبيلي ځخه وی، هغه په ردکولو نه ردکيږی ، نوقصرصلاة يوه داسی صدقه ده، چې دادقبيلي د اسقاطاتو نه ده، نو دی په ردکولو نه ردکيږی ، او چې د متصدق عليه په ردکولو نه ردکيږی ، نوګويا واجب شو، نو ثابته شوه چې قصر واجب دی.

****

٥٤٥ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدِ بْنِ جُدْعَانَ الْقُرَشِيُّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، قَالَ: سُئِلَ عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ عَنْ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ، فَقَالَ: " حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، وَحَجَجْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، وَمَعَ عُمَرَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، وَمَعَ عُثْمَانَ سِتَّ سِنِينَ مِنْ خِلَافَتِهِ أَوْ ثَمَانِيَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابو نضره نه روايت دي چې دعمران بن حصين رضي الله عنه نه دمسافرو دمونځ باره کي تپوس اوکړي شو نو هغه اووئيل مادرسول الله صلي الله عليه وسلم سره حج کړي دي او هغه به صرف دوه رکعاتونه کول او دابوبکر سره مي هم حج کړي دي هغه به هم دوه رکعاتونه کول او دعمر سره مي هم حج کړي دي نو هغوئ به هم دوه رکعاتونه کول او دعثمان رضي الله عنه سره دهغه دخلافت په شروع کي مي شپږ ياأته کلونو کي مونځونه کړي دي او هغوئ هم دوه دوه رکعاتونه کول، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف بهذا السياق. وأخرج أبو داود (الصلاة ٢٧٩ في رقم ١٢٢٩) بهذا السند أيضا لكنه بسياق آخر (تحفة الأشراف: ١٠٨٦٢)

****

٥٤٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ. وَإِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ. سمعا أنس بن مالك، قَالَ: صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ بِالْمَدِينَةِ أَرْبَعًا وَبِذِي الْحُلَيْفَةِ الْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په مدينه كي څلور ركعاتونه اوكړل او په ذي الحليفه مقام كي مو دوه ركعاتونه اوكړل. امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٥٤٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. عَنْ مَنْصُورِ بْنِ زَاذَانَ. عَنِ ابْنِ سِيرِينَ. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم دمديني نه مكي ته تلو نو هغه سره به دالله رب العالمين نه علاوه دبل څيز ويره نه وه او ددي باوجود به يي صرف دوه ركعاته مونځ كولو .
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٤٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَمْ تُقْصَرُ الصَّلَاةُ

څومره ورځوپوري قصر كول درست دي

---

1 صحيح البخارى في تقصير الصلاة ٥ (١٠٨٩) ، والحج ٢٣ (١٥٥٦) ، و٢٥ (١٥٤٨) و١٠٦ (١٧١٤) ، والجهاد ١٠٢ (٢٩٥١) . صحيح مسلم في المسافرين ١ (٦٩٠) . سنن ابى داود في الصلاة ٢٧١ (١٢٠٢) . والحج ٢١ (١٧٧٣) . سنن النسائى في الصلاة ١١ (٤٧٠) ، و١٧ (٤٧٨) . (تحفة الأشراف : ١٥٧٣١٦٦) . مسند احمد (٣ في ١١٠ ، ١١١ ، ١٧٧ ، ١٨٦ ، ٢٣٧ ، ٢٦٨ ، ٣٧٨) . سنن الدارمي في الصلاة ١٧٩ (١٥٣٨)

2 سنن النسائى في تقصير الصلاة ١ (١٤٣٦) . (تحفة الأشراف : ٦٤٣٦) . مسند احمد (١ في ٢١٥ ، ٢٢٦ ، ٢٣٥ ، ٢٦٢)

٥٤٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ. قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ: كَمْ أَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ؟ قَالَ: عَشْرًا. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "أَقَامَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ تِسْعَ عَشْرَةَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ" قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَنَحْنُ إِذَا أَقَمْنَا مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ تِسْعَ عَشْرَةَ صَلَّيْنَا رَكْعَتَيْنِ، وَإِنْ زِدْنَا عَلَى ذَلِكَ أَتْمَمْنَا الصَّلَاةَ. وَرُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّهُ قَالَ: مَنْ أَقَامَ عَشْرَةَ أَيَّامٍ أَتَمَّ الصَّلَاةَ. وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ: مَنْ أَقَامَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا أَتَمَّ الصَّلَاةَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ. وَرُوِيَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، أَنَّهُ قَالَ: إِذَا أَقَامَ أَرْبَعًا صَلَّى أَرْبَعًا، وَرَوَى عَنْهُ ذَلِكَ قَتَادَةُ، وَعَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ، وَرَوَى عَنْهُ دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ خِلَافَ هَذَا، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ بَعْدُ فِي ذَلِكَ، فَأَمَّا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَأَهْلُ الْكُوفَةِ فَذَهَبُوا إِلَى تَوْقِيتِ خَمْسَ عَشْرَةَ، وَقَالُوا: إِذَا أَجْمَعَ عَلَى إِقَامَةِ خَمْسَ عَشْرَةَ أَتَمَّ الصَّلَاةَ. وَقَالَ الْأَوْزَاعِيُّ: إِذَا أَجْمَعَ عَلَى إِقَامَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أَتَمَّ الصَّلَاةَ، وَقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ: إِذَا أَجْمَعَ عَلَى إِقَامَةِ أَرْبَعَةٍ أَتَمَّ الصَّلَاةَ. وَأَمَّا إِسْحَاقُ فَرَأَى أَقْوَى الْمَذَاهِبِ فِيهِ حَدِيثَ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لِأَنَّهُ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ تَأَوَّلَهُ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَجْمَعَ عَلَى إِقَامَةِ تِسْعَ عَشْرَةَ أَتَمَّ الصَّلَاةَ، ثُمَّ أَجْمَعَ أَهْلُ الْعِلْمِ عَلَى أَنَّ الْمُسَافِرَ يَقْصُرُ مَا لَمْ يُجْمِعْ إِقَامَةً وَإِنْ أَتَى عَلَيْهِ سِنُونَ. (1)

ترجمه دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دمديني نه مكي ته روان شو او هغوئ دوه ركعاتونه اوكړل. يحي بن اسحاق وائي ما دانس رضي الله عنه نه تپوس اوكړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مكه كي څو ورځي تيري كړي وي نو هغوئ اوفرمائيل لس ورځي.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عباس، او جابر رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي. او ابن عباس رضي الله عنهما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كړي دي چي رسول الله پخپل سفر كي نولس ورځي تيري كړي وي

---

1 ـ صحيح البخاری في تقصير الصلاة ١ (١٠٨١) . والمغازي ٥٢ (٤٢٩٩) . صحيح مسلم في المسافرين ١ (٦٩٣) . سنن ابی داود في الصلاة ٢٧٩ (١٢٣٣) . سنن النسائي في تقصير الصلاة ١ (١٤٣٩) . و ٣ (١٤٥٣) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٧٦ (... (تحفة الأشراف : ١٦٥٢) . مسند احمد (٣ في ١٨١ ١٩٠) . سنن الدارمی في الصلاة ١٨٠ ١٥٥٠)

او دوه دوه رکعاتونه به يي کول ، ابن عباس وائي کله چي به مونږ نولس ورځي يا ددينه کمي په سفر کي تيرولي نو دوه رکعاتونه به مو کول او که ددينه به مو زياتي ورځي تيرولي بيا به مو پوره مونځ کولو . دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي څوك په سفر کي لس ورځي تيروي هغه دي پوره مونځ کوي دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي څوك په سفر کي پنځلس ورځي قيام کوي دي به پوره مونځ کوي، او دده نه د دولسو ورځو قول هم مروي دي ، دسعيد بن مسيب نه مروي دي فرمائيل يي چي کله چي څوك څلور ورځي قيام کوي نو څلور رکعاته دي کوي او دده نه دا روايت قتاده، او عطا خراساني نقل کړي دي، او داود بن ابي هند دهغه نه ددي په خلاف روايت نقل کړي دي

ددينه پس په دي مسئله کي داهل علمو اختلاف بيانيږي سفيان ثوري او اهل کوفه پنځلس ورځو حد مقرر کړي دي دوئ وائي کله چي مسافر دپنځلو ورځو تيرولو نيت اوکړي نو پوره مونځ به کوي، اوزاعي وائي کله چي مسافر د دولسو ورځو تيرولو نيت کړي وي دي به پوره مونځ کوي مالك بن انس شافعي او امام احمد وائي کله چي مسافر دڅلورو ورځو تيرولو نيت اوکړي نو پوره مونځ به کوي، او اسحاق بن راهويه وائي چي په ټولو کي قوي مذهب حديث دابن عباس دي څکه چي هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل کړي دي بيا دا چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه پس هغه په دي باندي عمل کړي دي کله چي به هغه نولس ورځي تيرولي نو پوره مونځ به يي کولو بيا داهل علمو په دي اجماع منعقد شوه چي مسافر څو پوري دقيام نيت کړي نه وي ترهغي به قصر کوي اګر که په دي باندي ډير کلونه هم تير شي.

تشريح : موده دسفر داهل علمو په نزد اختلافي ده :

(۱) په احنافو عالمانو کي امام ابويوسف رحمه الله فرمائي، اقله موده د سفر دوه ورځي پوره اود دريمي ورځي اکثره حصه ده.

(۲) د امام شافعي رحمه الله په نزد د يوقول مطابق يوه ورځ اويوه شپه کم نه کم دسفر موده ده

(۳) امام مالك اوامام احمد فرمائي ، څلور فرسخه اقله موده دسفرده، هم دی يوقول د امام شافعي رحمه الله دی . صاحب دهدايه وائي، زمونږ پيش کړی حديث ددواړو مخالفو اقوالو خلاف حجت دی .

****

٥٤٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "سَافَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَفَرًا فَصَلَّى تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا رَكْعَتَيْنِ

". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَنَحْنُ نُصَلِّي فِيمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ تِسْعَ عَشْرَةَ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ. فَإِذَا أَقَمْنَا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ صَلَّيْنَا أَرْبَعًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم سفر اوکړو او دنولسو ورځو پورې يي دوه دوه رکعاتونه اوکړل دابن عباس بيان دي چي مونږ به هم ددينه په کمو ورځو کي په سفر کي دوه رکعاتي مونځونه کول او کله چي به مونږ ددينه زيات قيام کولو نو څلور رکعاته به مو کول امام ترمذي وائي دا حديث غريب حسن صحيح دي

* * * * * * * * * * * * * * * * * * *

٤١_ باب مَا جَاءَ فِي التَّطَوُّعِ فِي السَّفَرِ

په سفر کي د نفلو کولو بيان

٥٥٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ أَبِي بُسْرَةَ الْغِفَارِيِّ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "صَحِبْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَهْرًا فَمَا رَأَيْتُهُ تَرَكَ الرَّكْعَتَيْنِ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْبَرَاءِ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْهُ فَلَمْ يَعْرِفْهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَلَمْ يَعْرِفِ اسْمَ أَبِي بُسْرَةَ الْغِفَارِيِّ وَرَآهُ حَسَنًا، وَرُوِي عَنِ ابْنِ عُمَرَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "لَا يَتَطَوَّعُ فِي السَّفَرِ قَبْلَ الصَّلَاةِ وَلَا بَعْدَهَا" وَرُوِيَ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ "يَتَطَوَّعُ فِي السَّفَرِ" ثُمَّ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَرَأَى بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَطَوَّعَ الرَّجُلُ فِي السَّفَرِ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ، وَلَمْ تَرَ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يُصَلَّى قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا. وَمَعْنَى مَنْ لَمْ يَتَطَوَّعْ فِي السَّفَرِ قَبُولُ الرُّخْصَةِ وَمَنْ تَطَوَّعَ فَلَهُ فِي ذَلِكَ فَضْلٌ كَثِيرٌ، وَهُوَ قَوْلُ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَخْتَارُونَ التَّطَوُّعَ فِي السَّفَرِ. (2)

---

1 _ صحيح البخاري في تقصير الصلاة (١٠٨٠) . والمغازي ٥٣ (٤٢٩٨) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٧٩ (١٢٣٠)

2 _ سنن ابي داود في الصلاة ٢٧٦ (١٢٢٢) (تحفة الأشراف : ١٩٢٢)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره اتلس مياشتې تيري كړي ليكن ما دماسپخين دمونځ نه مخكې دنمر ګرځيدلو نه پس دوخت په دوه ركعاتونو پريخودلو هيڅ كله نه دي ليدلي.

امام ترمذي وائي دبراء حديث غريب دي ما ددي حديث باره كي دامام بخاري نه تپوس اوكړو نو هغه ته صرف دليث بن سعد په روايت معلوم وو او هغه ته دابو بسره غفاري نوم معلوم نه وو او هغه دا حسن اوګڼړلو، په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

دابن عمر نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په سفر كي نه دمونځ نه مخكي نفل كول او نه وروسته او دا هم دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت كوي چي رسول الله به په سفر كي نفل كول ، بيا درسول الله نه پس په اهل علمو كي اختلاف پيدا شو دبعضي صحابه كرامو رائي دا وه چي په سفر كي سړي نفل كولي شي او همدا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي، او داهل علمو يوي ډلي رائي داده چي په سفر كي نه دمونځ نه مخكي نفل شته او نه روسته په سفر كي چي څوك دنفل كولو قائل نه دي دهغوئ مقصود رخصت قبلول دي او څوك چي دنفل كولو قائل دي ددي ډير لوي فضيلت دي او همدا داكثرو اهل علمو قول دي چي هغوئ په سفر كي نفل كول خوښول.

****

٥٥١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ فِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَاهُ ابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطِيَّةَ، وَنَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره مي په سفر كي دوه ركعاتونه اوكړل او بيا مي ددينه پس دوه ركعاتونه اوكړل.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او ابن ابي ليلي دا حديث دعطيه نه او دنافع نه نقل كړي دي او هغوئ دواړو دابن عمر نه نقل كړي دي.

****

٥٥٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ يَعْنِي الْكُوفِيَّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ هَاشِمٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطِيَّةَ، وَنَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧٣٢٦)

نَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي الْحَضَرِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُصَلِّ بَعْدَهَا شَيْئًا. وَالْمَغْرِبَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ سَوَاءً ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ لَا تَنْقُصُ فِي الْحَضَرِ وَلَا فِي السَّفَرِ هِيَ وِتْرُ النَّهَارِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. سَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: مَا رَوَى ابْنُ أَبِي لَيْلَى حَدِيثًا أَعْجَبَ إِلَيَّ مِنْ هَذَا، وَلَا أَرْوِي عَنْهُ شَيْئًا. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي ما په سفر او حضر دواړو كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره مونځونه كړي دي ، ما ورسره په حضر كي دماسپخين څلور ركعاتونه اوكړل او بيا مي ددينه پس دوه ركعاتونه اوكړل او په سفر كي مي ورسره دوه ركعاتونه اوكړل او بيا مي ددينه پس دوه ركعاتونه اوكړل، او په مازيگر كي مي ورسره دوه ركعاتونه اوكړل او ددينه پس مي بيا هيڅ اونكړل او په ماښام كي مي په سفر او حضر دواړو كي دري ركعاتونه اوكړل نه مي په حضر كي كمي اوكړو او نه په سفر كي ځكه چي دا دورځي وتر دي او بيا مي ددينه پس دوه ركعاتونه اوكړل.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چي ابن ابي ليلي كوم داسي حديث نه دي نقل كړي كوم چي زما په نزد ددينه زيات په تعجب كي اچونكي وي نو زه دهغه نه هيڅ يو روايت نه اخلم.

تشريح : **دوطن اقسام**

عامو مشائخو د وطن دري قسمونه بيان كړی دی(۱)، وطن اصلی(۲)، وطن اقامت (۳)، دريم وطن سكني.

(۱) وطن اصلی د انسان خپل پيدائشی ځاي دی . يا هغه ښار چی په هغي كي دده اهل وعيال اوسيږی، اوددی نه دمنتقل كيدواراده نه لری

(۲) وطن اقامت هغه ښار ياكلي دی ، چی په هغي كي مسافرد پنځلسو ورځوقيام اراده كړی وی، ددی دويم نوم وطن سفرهم دی.

(۳) دريم وطن سكني هغه ښاردی چی په هغي كي مسافر د پنځلسوورځونه كم قيام اراده كړی وی محققينودوطن دوه قسمونه بيان كړی دی، وطن اصلی اووطن اقامت، دی كسانو وطن سكنی لره اعتبار نه دی وركړی . ځكه چی په وطن سكنی كي اقامت نه ثابتيږی . بلكه دسفرحكم باقی پاتی وی.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۷۳۳۷ و۸۴۲۸)

****

٤٢_ باب مَا جَاءَ فِي الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ

دوه مونځونه په يوځاي كول

٥٥٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ هُوَ عَامِرُ بْنُ وَاثِلَةَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ " فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ زَيْغِ الشَّمْسِ أَخَّرَ الظُّهْرَ إِلَى أَنْ يَجْمَعَهَا إِلَى الْعَصْرِ فَيُصَلِّيَهُمَا جَمِيعًا، وَإِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ زَيْغِ الشَّمْسِ عَجَّلَ الْعَصْرَ إِلَى الظُّهْرِ وَصَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا ثُمَّ سَارَ، وَكَانَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْعِشَاءِ، وَإِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ الْمَغْرِبِ عَجَّلَ الْعِشَاءَ فَصَلَّاهَا مَعَ الْمَغْرِبِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالصَّحِيحُ عَنْ أُسَامَةَ، وَرَوَى عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، عَنْ قُتَيْبَةَ هَذَا الْحَدِيثَ. (1)

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په غزوه تبوك كي كله دنمر كرځيدو نه مخكي سفر كولو نو دماسپخين مونځ به يي مؤخر كولو تردي چي دا به يي دمازيگر دمونځ سره يوځاي كړو او دواړه به يي په يوځاي كول او چي كله به يي دنمر كرځيدونه پس سفر كولو مازيگر به يي رامخكي كړو او دماسپخين سره به يي يوځاي كړو دماسپخين او مازيگر مونځونه به يي يوځاي اوكړو او بيا به روان شو او چي كله به يي دماښام نه مخكي سفر شروع كولو دماښام مونځ به يي دخپل وخت نه مؤخر كړو تردي چي دماخوستن سره به يي يوځاي كړو او بيا به يي اداء كړو او چي كله به يي دماښام نه پس سفر كولو نو دماخوستن مونځ به يي رامخكي كړو او دماښام دمونځ سره به يي يوځاي اوكړو.
امام ترمذي وائي صحيح خبره داده چي دا روايت داسامه نه مروي دي، دارنگي داحديث علي بن مديني داحمد بن حنبل نه او احمد دقتيبه نه نقل كړي د او په دي باب كي د علي، ابن

---

1. صحيح مسلم في المسافرين ٦ (٧٠٦) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٧٤ (١٢٠٦، ١٢٢٠) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٧٤ (١٠٧٠) . (تحفة الأشراف : ١١٣٢٠) . موطا امام مالک في قصر الصلاة ١ (٢) . مسند احمد (٥ في ٢٢٩، ٢٣٠، ٢٣٣، ٢٣٦، ٢٣٧، ٢٤١) . سنن الدارمي في الصلاة ١٨٢ (١٥٥٦)

عمر، انس، عبدالله بن عمرو، عائشه، ابن عباس، اسامه بن زید، او جابر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٥٥٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ سُلَيْمَانَ. حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا اللُّؤْلُؤِيُّ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْأَعْيَنُ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ. حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. بِهَذَا الْحَدِيثِ يَعْنِي حَدِيثَ مُعَاذٍ. وَحَدِيثُ مُعَاذٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ تَفَرَّدَ بِهِ قُتَيْبَةُ. لَا نَعْرِفُ أَحَدًا رَوَاهُ. عَنِ اللَّيْثِ غَيْرَهُ وَحَدِيثُ اللَّيْثِ. عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ. عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ. عَنْ مُعَاذٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَالْمَعْرُوفُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ حَدِيثُ مُعَاذٍ مِنْ حَدِيثِ أَبِي الزُّبَيْرِ. عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ. عَنْ مُعَاذٍ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " جَمَعَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَبَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ ". رَوَاهُ قُرَّةُ بْنُ خَالِدٍ. وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ. ومالك. وغير واحد. عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ. وَبِهَذَا الْحَدِيثِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ. وَأَحْمَدُ. وَإِسْحَاقَ. يقولان: لا بأس أن يجمع بين الصلاتين في السفر في وقت إحداهما.[1]

ترجمه: په دي سند سره هم دا حديث يعني دمعاذ رضي الله عنه حديث مروي دي امام ترمذي وائي دمعاذ حديث حسن غريب دي، قتيبه ددي په نقل کولو کي منفرد دي مونږ ته دده نه علاوه بل څوك نه دي معلوم چي دليث نه يي نقل کړي دي، او ليث چي کوم حديث ديزيد بن ابي حبيب نه او يزيد دابوطفيل نه او ابوطفيل دمعاذ نه نقل کړي وي هغه غريب دي، داهل علمو په نزد مشهور حديث دمعاذ هغه حديث دي کوم چي هغه دابو الزبير نه او هغه دابوطفيل نه او هغه دمعاذ نه نقل کړي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم په غزوه تبوك کي دماسپخين او مازيگر په يوځاي اوکړل او دماښام او ماخوستن مونځونه يي په يوځاي اوکړل دا مضمون قره بن خالد، سفيان ثوري، مالك، او بعضي نورو محدثينو هم دابو الزبير مکي نه نقل کړي دي او همدي حديث مطابق دامام شافعي قول هم دي امام احمد او اسحاق بن راهويه وائي په سفر کي دوه مونځونه په يو وخت کي جمع کولو او په يوځاي اداء کولو کي هيڅ قباحت نشته.

****

[1] ـ صحيح مسلم في المسافرين ٦ (٧٠٦). سنن ابي داود في الصلاة ٢٧٤ (١٢٠٦، ١٢٢٠). سنن ابن ماجه في الإقامة ٧٤ (١٠٧٠). (تحفة الأشراف: ١١٣٢٠). موطأ امام مالك في قصر الصلاة ١ (٢). مسند احمد (٥ في ٢٢٩، ٢٣٠، ٢٣٣، ٢٣٦، ٢٣٧، ٢٤١). سنن الدارمي في الصلاة ١٨٢ (١٥٥٦)

٥٥٥_ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ "اسْتُغِيثَ عَلَى بَعْضِ أَهْلِهِ فَجَدَّ بِهِ السَّيْرُ فَأَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتَّى غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا ثُمَّ أَخْبَرَهُمْ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَحَدِيثُ اللَّيْثِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي هغه ته د هغه ديوي ښځي دزنکدن شروع کيدو خبر ورکړي شو نو هغه باندي په تلو کي توندي جوړه شوه چنانچه دماښام مونځ يي مؤخر کړو تردي چي شفق غائب شو او دسورلئ نه راکوز شو دماښام او ماخوستن مونځونه يي دواړه په يوځاي اوکړل او بيا يي خلقو ته اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به کله په تلو کي جلتي وه نو هغوئ به هم داسي کول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي دليث حديث (رقم ۵۵۴) کوم چي هغه ديزيد بن ابي حبيب نه نقل کړي دي حسن صحيح دي.

تشريح :

****

٤٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الِاسْتِسْقَاءِ

دصلاة استسقاء بيان

٥٥٦_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ بِالنَّاسِ يَسْتَسْقِي فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ بِالْقِرَاءَةِ فِيهَا وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَاسْتَسْقَى وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَآبِي اللَّحْمِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ

---

[1] صحيح البخاري في تقصير الصلاة ٦ (١٠٩١) . والعمرة ٢٠ (١٨٠٥) . والجهاد ١٣٦ (٣٠٠٠) . صحيح مسلم في المسافرين ٥ (٧٠٣) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٧٤ (١٢٠٧) . سنن النسائي في المواقيت ٤٣ (٥٨٩) . و٤٥ (٥٩٢ . ٥٩٦ . ٥٩٧) . (تحفة الأشراف : ٨٠٥٦) . موطا امام مالک في قصر الصلاة ١ (٣) . مسند احمد (٢ في ٨٠٣)

صَحِيحٌ. وَعَلَى هَذَا الْعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَعَمُّ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ هُوَ: عَبْدُ اللهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ الْمَازِنِيُّ.[1]

ترجمه : دعباد بن تميم دتره عبدالله بن زيد بن عاصم مازني رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دباران طلب كولو دپاره خلق دخان سره روان كړل او بهر لاړو او دوه ركعاته مونځ يي خلقو ته وركړو چي په جهري اواز يي قرائت اوكړو خپل څادر يي الته كړو او دواړه لاسونه يي پورته كړل او قبلي ته مخامخ اودريدو او دباران دپاره يي دعا اوغوښتله امام ترمذي وائي دعبدالله بن زيد حديث حسن صحيح دي اوپه دي باب كي دابن عباس، ابوهريره، انس، او ابي اللحم رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي . او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي او امام شافعي، احمد، اواسحاق هم ددي قائل دي.

تشريح : **په استسقاء كي دمونځ نه پس مسنون اعمال**

په دعا كي مستحب طريقه دا ده.چي د قبلې په طرف مخ كړي، دليل يي دادى چي دنبي ﷺ نه په دعا كي استقبال قبله او د څادر اړول مروى دى.

خپل څادر دى اُلټه كړى.اوددى طريقه دا ده.كه څادر څلور ګوټه وى.نو پورتنۍ حصه دى لاندې كړى.او لاندينۍ حصه دى پورته كړى .اوكه مدور وى لكه جُبه،نوښۍ حصه دى ګس طرف ته كړى.او ګسه حصه دى ښى طرف ته كړى.

د قلب رداء حكم د امام محمد رحمه الله مذهب دې.هم ددى قائل امام مالك امام شافعى او امام احمد دى.

د امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب ددوى په نزدبه څادر اړول نه كوى.هم دا د امام ابويوسف رحمه الله مذهب دې.

استسقاء كي دى ذميان خلق نه حاضريږى.ځكه چي د مسلمانانو وتل د رحمت د نازليدو په غرض د دعا دپاره وى.اود كافرانو په باره كي الله تعالى فرمائى: وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ يعنى د كافرانو دعا ضائع او په تاوان كي .

---

[1] ـ صحيح البخارى في الاستسقاء ١ (١٠٠٥) ، و٣ (١٠١٢) ، والدعوات ٢٥ (٦٣٤٣) . صحيح مسلم في الاستسقاء ١ (٨٩٤) . سنن ابى داود في الصلاة ٢٥٨ (١١٦١-١١٦٤) ، و٢٥٩ (١١٦٦، ١١٦٧) . سنن النسائي في الاستسقاء ٢ (١٥٠٦) ، و٣ (١٥٠٨) ، و٥ (١٥١٠) ، و٦ (١٥١١) ، و٧ (٥١٢) ، و٨ (١٥١٣) ، و١٢ (١٥٢١) ، و١٣ (١٥٢٢) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥٣ (١٢٦٧) . (تحفة الأشراف : ٥٢٩٧ ، موطأ امام مالك في الاستسقاء (١-) . مسند احمد (٤/ ٣٩، ٤٠، ٤١، ٤٢) . سنن الدارمي في الصلاة ١٨٨ (١٥٣١)

دامام مالك ،امام شافعي او امام محمد فرمائي.چي ذميانو ته به د استسقاء دپاره د وتلو حكم نشي كولې.اوكه دوى په خپله راوخي.نو منع كولى به هم نشي.

دعبدالله بن زيد رضي الله عنه حالات:

نوم عبدالله كنيه ابو محمد قبيله خزرج دپلار نوم يي زيد دى او دمور نوم يي ام عماره وو دهجرت نه پس مسلمان شوى وو او دبدر نه علاوه په تمامو غزواتو كي شريك شوى وو او هم ده مسليمه الكذاب دتوري په وار قتل كړى وو كله چي وحشي وهلى وو.

په ٦٣هجري كي وفات شوى دى چي عمر يي په دغه وخت كي ٧٥كلونه وو په كتابونو كي دده يو دوه نور نومونه هم راغلي دي اول خلاد . دويم علي يو څو روايات ورنه منقول دي او دده نه نقل دروايت كونكي عباد بن تميم. سعيد بن مسيب. يحيي بن عماره. واسع بن حبان. عباده بن حبيب وغيره دي.

****

٥٥٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ، عَنْ آبِي اللَّحْمِ، أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عِنْدَ أَحْجَارِ الزَّيْتِ يَسْتَسْقِي وَهُوَ مُقْنِعٌ بِكَفَّيْهِ يَدْعُو". قَالَ أَبُو عِيسَى: كَذَا قَالَ قُتَيْبَةُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، عَنْ آبِي اللَّحْمِ وَلَا نَعْرِفُ لَهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ الْوَاحِدَ، وَعُمَيْرٌ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ، قَدْ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَادِيثَ وَلَهُ صُحْبَةٌ.[1]

ترجمه : دابواللحم نه روايت دي فرمائي چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په احجار زيت مقام كي دالله تعال نه دباران غوښتلو په حال كي اوليدو چي دواړه لاسونه يي پورته كړي وو او دعا يي غوښتله.

امام ترمذي وائي قتيبه ددي حديث په سند كي داسي وئيلي دي "عن ابي اللحم" او مونږ ته ددي حديث نه علاوه دده كوم بل حديث معلوم نه دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل كړي وي عمير دابواللحم مولي(ازاد كړي غلام) دي، او هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يو څو احاديث نقل كړي دي او پخپله ورته هم شرف دصحابيت حاصل دي.

****

---

[1] سنن النسائي في الاستسقاء ٩ (١٥١٥) . (وهو عند أبي داود في الصلاة ٢٦٠ (١١٦٨) . واحمد (٥ في ٢٢٣) من حديث عمير نفسه في التحفة: ١٠٩٠٠) (تحفة الأشراف : ٥)

٥٥٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ هِشَامِ بْنِ إِسْحَاق وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كِنَانَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَرْسَلَنِي الْوَلِيدُ بْنُ عُقْبَةَ وَهُوَ: أَمِيرُ الْمَدِينَةِ، إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَسْأَلُهُ عَنِ اسْتِسْقَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْتُهُ، فَقَالَ: "إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مُتَبَذِّلًا مُتَوَاضِعًا مُتَضَرِّعًا حَتَّى أَتَى الْمُصَلَّى فَلَمْ يَخْطُبْ خُطْبَتَكُمْ هَذِهِ وَلَكِنْ لَمْ يَزَلْ فِي الدُّعَاءِ وَالتَّضَرُّعِ وَالتَّكْبِيرِ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَمَا كَانَ يُصَلِّي فِي الْعِيدِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : اسحاق بن عبدالله بن کنانه وائي چي زه وليد بن عقبه ابن عباس رضي الله عنهما ته اوليږلم (وليد دمديني امير وو) تردي چي زه دابن عباس نه داستثقاء په باره کي تپوس اوکړم. زه ورغلم او تپوس مي ورنه اوکړو راته يي اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم په زوړ او شليدلي لباس کي دعاجزئ په حال کي اووتلو تردي چي عيدګاه ته راغلو او ستاسو دخطبي پشان خطبه يي ورنکړه بلکه په مسلسل دعا کولو کي او په ژړا کولو کي دالله تعالي په لويي بيانولو کي مشغول وو او بيا يي دوه رکعاته مونځ اوکړو داسي مونځ څنګه چي تاسو په اختر کي کوئ.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي

****

٥٥٩_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ إِسْحَاق بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كِنَانَةَ، عَنْ أَبِيهِ فَذَكَرَ نَحْوَهُ، وَزَادَ فِيهِ مُتَخَشِّعًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. قَالَ: يُصَلِّي صَلَاةَ الِاسْتِسْقَاءِ نَحْوَ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ، يُكَبِّرُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى سَبْعًا، وَفِي الثَّانِيَةِ خَمْسًا، وَاحْتَجَّ بِحَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرُوِي عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، أَنَّهُ قَالَ: لَا يُكَبِّرُ فِي صَلَاةِ الِاسْتِسْقَاءِ كَمَا يُكَبِّرُ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ، وقَالَ النُّعْمَانُ أَبُو حَنِيفَةَ: لَا تُصَلَّى صَلَاةُ

---

1 سنن ابي داود في الصلاة ٢٥٨ (١١٦٥) . سنن النسائي في الاستسقاء ٣ (١٥٠٤) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥٣ (١٢٦٦) .

(تحفة الأشراف : ٥٣٥٩) . مسند احمد (١/ ٢٣٠، ٢٦٩، ٣٥٥)

الِاسْتِسْقَاءِ وَلَا آمُرُهُمْ بِتَحْوِيلِ الرِّدَاءِ وَلَكِنْ يَدْعُونَ وَيَرْجِعُونَ بِجُمْلَتِهِمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: خَالَفَ السُّنَّةَ.[1]

ترجمه : داسحاق بن عبدالله بن كنانه نه روايت دي باقي حديث دسابقه حديث پشان دي البته په دي روايت كي د "متخشعا" (عاجزي ظاهرونكي) لفظ اضافه ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او همدا دامام شافعي قول دي امام شافعي وائي داستسقاء مونځ به داخترونو دمونځ پشان كولي شي په اولني ركعات كي به اوه تكبيرونه كوي او په دويم كي به پنځه تكبيرونه وي او دابن عباس دحديث نه يي استدلال كړي دي. دامام مالك نه مروي دي چي هغوئ به په استسقاء كي داخترونو دتكبيرونو پشان تكبيرونه نه وئيل، ابوحنيفه نعمان وائي چي په استسقاء كي هيڅ قسم مونځ كول نشته او نه زه خلقو ته دڅادر التيه كولو حكم كوم بلكه تمام خلق به په يوځاي دعا غواړي او واپس به روانيږي مگر دده دا قول خلاف دسنت دي.

تشريح : په صلاة استسقاء كي دعلماؤ دوه مذاهب دي:

(١) دامام ابو حنيفه رحمه الله قول دادي تحويل د رداء صرف دامام كار دي.

(٢) ائمه ثلاثه وائي تحويل د رداء دامام او مقتديانو ټولو دپاره ضروري دي. دجانبينو دلائل دعلم فقه په مطولاتو كي كتلي شئ.

****

٤٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ

د نمر دتندر نيولو په وخت كي دمونځ كولو بيان

٥٦٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ صَلَّى فِي كُسُوفٍ فَقَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، وَالْأُخْرَى مِثْلُهَا". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، وَالْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، وَأَبِي مَسْعُودٍ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَسَمُرَةَ، وَأَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَابْنِ عُمَرَ،

---

[1] _ سنن النسائي في الاستسقاء ٩ (١٥١٥) . أبو داود في الصلاة ٢٦٠ (١١٦٨) : واحمد (٥ في ٢٢٣) من حديث عمير نفسه في التحفة: ١٠٩٠٠) (تحفة الأشراف : ٥)

وَقَبِيصَةَ الْهِلَالِيِّ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ صَلَّى فِي كُسُوفٍ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ". وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ. قَالَ: وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ، فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يُسِرَّ بِالْقِرَاءَةِ فِيهَا بِالنَّهَارِ. وَرَأَى بَعْضُهُمْ أَنْ يَجْهَرَ بِالْقِرَاءَةِ فِيهَا كَنَحْوِ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ وَالْجُمُعَةِ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ يَرَوْنَ الْجَهْرَ فِيهَا. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجْهَرُ فِيهَا. وَقَدْ صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِلْتَا الرِّوَايَتَيْنِ. صَحَّ عَنْهُ أَنَّهُ "صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ". وَصَحَّ عَنْهُ أَيْضًا أَنَّهُ "صَلَّى سِتَّ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ". وَهَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ جَائِزٌ عَلَى قَدْرِ الْكُسُوفِ، إِنْ تَطَاوَلَ الْكُسُوفُ فَصَلَّى سِتَّ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ فَهُوَ جَائِزٌ، وَإِنْ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ وَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ فَهُوَ جَائِزٌ. وَيَرَى أَصْحَابُنَا أَنْ تُصَلَّى صَلَاةُ الْكُسُوفِ فِي جَمَاعَةٍ فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ.(1)

ترجمه : دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دکسوف مونځ اوکړو او قرائت يي اولوستلو بيا يي رکوع اوکړه او بيا يي قرائت اوکړو او بيا يي رکوع اوکړه، بيا يي قرائت اوکړو او بيا يي رکوع اوکړه غرض دا چي دري پيري يي قرائت اوکړو او دري پيري يي رکوع اوکړه بيا يي دواړه سجدي اوکړي او دويم رکعات يي هم داسي اوکړو.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي، عائشه، عبدالله بن عمر، نعمان بن بشير، مغيره بن شعبه، ابو مسعود انصاري، ابوبکره، سمره، ابوموسي اشعري، ابن مسعود، اسماء بنت ابي بکر، ابن عمر، قبيصه هلالي، جابر بن عبدالله، عبدالرحمن بن سمره، او ابئ بن کعب رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. ابن عباس دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دا هم نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په صلاة کسوف کي په څلورو سجدو کي څلور رکوع ګاني اوکړي، امام شافعي، احمد، او اسحاق هم ددي قائل دي په صلاة کسوف کي داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دادي دورځي به قرائت سري کوي او دبعضو قول دادي چي د عيدينو دمونځ پشان به په دي کي هم

---

1 ـ صحيح مسلم في الكسوف ٣ (٩٠٩). سنن ابي داود في الصلاة ٢٦٢ (١١٨٣). سنن النسائي في الكسوف ٨ (١٤٦٨، ١٤٦٩). (تحفة الأشراف: ٥٦٩٧). مسند احمد (١/ ٢١٦، ٢٩٨، ٣٤٦، ٣٥٨). سنن الدارمي في الصلاة ١٨٧ (١٥٢٣)

جهري قرائت كوي او همدا دامام مالك او احمد او اسحاق قول هم دي چي په دي كي به جهري مونځ كوي امام شافعي وائي جهر به نه كوي او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په دواړو قسمونو احاديث مروي او ثابت دي درسول الله نه دا هم ثابت ده چي په څلور سجدو كي يي څلور ركوع ګاني اوكړي، او دا اهل علمو په نزد دكسوف دمقدار مطابق دي كه چري كسوف اوږد شي نو په څلورو سجدو كي يي شپږ ركوع ګاني اوكړي دا هم جائز دي او كه په څلورو سجدو كي څلور ركوع ګاني اوكړي او قرائت اوږد كړي نو دا هم جائز دي. بعضي محدثين وائي صلاة كسوف به په جماعت سره اداء كولي شئ برابره خبره ده چي خړوالي په سپوږمئ كي راغلي وي او كه په نمر كي.

تشريح : ربط دماقبل سره : داخترمونځ،دكسوف مونځ او د استسقاء مونځ په دري واړه مونځونو كي مناسبت ښكاره دي چي دري واړه مونځونه په ورځ كي بغيرد اذان او اقامت نه ادا كولى شي.په دى كي د اختر مونځ چونكه واجب دي.او دكسوف مونځ د جمهورو په نزدمسنون دي.او د استسقاء د مونځ مسنونيت مختلف فيه دي.په دى وجه ددرى واړو بابونو مناسب ترتيب واضح شو.

دكسوف معنى ده نمر توريدلو طرف ته مائل كيدل.په دى كي يو لغت خسوف دي.امام منذري رحمه الله فرمائيلى دى چى دكسوف مونځ د١٩ راويانو نه مروى دي.

(١) بعضو په كاف سره كسوف اوبعضو په خاء سره خسوف ذكر كړي دي . معلومه شوه چي دا دواړه لفظونه مترادف دى.

(٢) يا كسوف د نمر سره مخصوص دي.اوخسوف عام دى . نمر اوسپوږمئ دواړوته شامل دي.

(٣) بعضو وئيلى دى.چى د نمرد تندر نيولو دپاره كسوف اود سپوږمئ د تندر نيولو دپاره خسوف استعماليږي.داد فقهاوٗ هم دا اصطلاح ده ، هم ددى تائيد د الله تعالى قول:(فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ (٧) وَخَسَفَ الْقَمَرُ (٨) وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ) كوى.دكسوف دمونځ سبب كسوف يعنى د نمر تندر نيول دى.اوددى شرطونه هم هغه دى.كوم چى د نورو مونځونو دى.دكسوف د مونځ په مشروعيت باندي د پوره امت اجماع ده.چاهم ددى نه انكار نه دى كړي.

الله تعالي خپلوبند ګانوته دوعظ اوتنبيه په غرض علامات اونشاني ښائي دنمر دغه معامله هم ددي نشاناتونه ده ددي په ذريعه الله تعالي خپلوبند ګانوته داتنبيه وركول غواړي چي دقيامت په ورځ نمرداسي بي نوره شي نوپدي وخت كي صدقات اوخيراتونه اوتوبه اواستغفار اوذكر اودعاكي مشغوليدوسره سره په جمع سره صلاة كسوف اداكول پكاردي،په كوم كي چي دوه ركعته دي اودصحيح حديث مطابق ددي دوه ركعتونوپه هرركعت كي دوه دوه قيامه

اودوه دوه رکوع کاني دي او دامونځ اوږد کول پکاردي، ترڅو چه دنمر اودسپوږمۍ دغه حالت درست شي او ددي نه پس خطبه ده، چونکه داهل جاهلیت په عقیده کي دنمر اوسپوږمۍ دتندر نیولو سبب دچا مرګ یا پیدائش وو، او اتفاقا د رسول الله صلي الله علیه وسلم مشرخوي ابراهیم دوفات په ورځ نمر تندر نیولي وو نو خلقوو ئیل چي داشاید د رسول الله صلي الله علیه وسلم دخوي دوفات په وجه وي، نوځکه رسول الله صلي الله علیه وسلم ددي تردید وکړو اووي فرمائیل چي دانمر اوسپوږمۍ دالله دنښونه دي دادچا دمرګ اوژوند په وجه نه متغیر کیږي، نوکله چي تاسو دا پداسي حالت کي ووینئ په ذکر اودعا اوعبادت کي مشغول اوسئ. (فضائل اعمال ابو عبد الله مغربي)

* * * * * * * * * * * * * * * * *

٥٦١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: " خَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ، فَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ ثُمَّ رَكَعَ، فَأَطَالَ الرُّكُوعَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ هِيَ دُونَ الْأُولَى، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ وَهُوَ دُونَ الْأَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَسَجَدَ، ثُمَّ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَبِهَذَا الْحَدِيثِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: يَرَوْنَ صَلَاةَ الْكُسُوفِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ، قَالَ الشَّافِعِيُّ: يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى بِأُمِّ الْقُرْآنِ، وَنَحْوًا مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ سِرًّا إِنْ كَانَ بِالنَّهَارِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا نَحْوًا مِنْ قِرَاءَتِهِ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ بِتَكْبِيرٍ، وَثَبَتَ قَائِمًا كَمَا هُوَ، وَقَرَأَ أَيْضًا بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَنَحْوًا مِنْ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا نَحْوًا مِنْ قِرَاءَتِهِ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ قَالَ: " سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ "، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ تَامَّتَيْنِ وَيُقِيمُ فِي كُلِّ سَجْدَةٍ نَحْوًا مِمَّا أَقَامَ فِي رُكُوعِهِ، ثُمَّ قَامَ فَقَرَأَ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَنَحْوًا مِنْ سُورَةِ النِّسَاءِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا نَحْوًا مِنْ قِرَاءَتِهِ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ بِتَكْبِيرٍ وَثَبَتَ قَائِمًا، ثُمَّ قَرَأَ نَحْوًا مِنْ سُورَةِ الْمَائِدَةِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا نَحْوًا مِنْ قِرَاءَتِهِ، ثُمَّ رَفَعَ فَقَالَ: " سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ "، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ تَشَهَّدَ وَسَلَّمَ. ([1])

---

[1] صحيح البخاري في الكسوف ٢ (١٠٤٦)، و٥ (١٠٤٧)، و١٣ (١٠٥٨)، والعمل في الصلاة ١١ (١٢١٢)، وبدء الخلق ٣ (٣٢٠٣)، صحيح مسلم في الكسوف ١ (٩٠١)، سنن ابي داود في الصلاة ٢٦٢ (١١٨٠)، سنن النسائي في الكسوف ١١ (١٤٧٢)، سنن ابن

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي نمر تندر اونيولو.نو رسول الله صلي الله عليه وسلم خلقو ته مونځ ورکړو او اوږد قرائت يي اوکړو بيا يي رکوع اوکړه او رکوع يي هم اوږده کړه بيا يي سر پورته کړو او اوږد قرائت يي اوکړو مگر دويم قرائت داولني قرائت نه کم وو بيا يي رکوع اوکړه او اوږد قرائت يي اوکړو مگر دا قرائت دمخکني قرائت نه کم وو بيا يي سر پورته کړو او سجده يي اوکړه او بيا يي په دي طريقه دويم رکعات اوکړو. امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي. امام شافعي او احمد او اسحاق هم ددي حديث په بناء وائي چي په صلاة کسوف کي په ځلورو سجدو کي ځلور رکوع ګاني دي، امام شافعي وائي په اولني رکعات کي به سورة فاتحه لولي او دسورة بقري په مقدار قرائت به کوي که ورځ وي نو قرائت به سري وي او بيا به دقرائت برابر اوږده رکوع کوي بيا به الله اکبر وائي او سر به پورته کوي او برابر به اودريږي څنګه چي مخکي اودريدلي وو او بيا به سورة فاتحه وائي او دسورة ال عمران په مقدار قرائت به کوي او بيا به دخپل قرائت برابر اوږده رکوع کوي بيا به سر پورته کوي بيا به سمع الله لمن حمده وائي بيا به په ښه شان سره دوه سجدي کوي او په هره سجده کي به دومره وخت تيروي څومره چي يي په رکوع کي تير کړي وو بيا به اودريږي او سورة فاتحه به وائي او دسورة نساء په مقدار قرائت به کوي بيا به دخپل قرائت برابر اوږده رکوع کوي بيا به الله اکبر وائي او سر به پورته کوي او نيغ به اودريږي بيا به دسورة مائدي برابر قرائت اوکړي او بيا به دخپل قرائت برابر اوږده رکوع اوکړي بيا به سر پورته کړي او سمع الله لمن حمده به اووائي بيا دي دوه سجدي اوکړي بيا دي تشهد اووائي او سلام دي اوګرځوي.

تشريح : که نمر تندر اونيولو.نو دجُمعي امام دی په جامع مسجد يا عيدګاه کي خلقو ته دنفل په شان دوه رکعته نفل مونځ ورکړی.يعني څنګه چی نفل د اذان اواقامت نه بغيرکيږی.هم دغه شان د اذان او اقامت نه بغير دکسوف مونځ ادا کيږی.

په کسوف مونځ کي څو رکوع دي په کي دوه قولونه دي:

(۱) د احنافو په نزد په يورکعت کي يوه رکوع ده.

(۲) امام مالك امام شافعی او امام احمد فرمائيلی دی.چی دکسوف په مونځ کي په يو رکعت کي دوه رکوع ګانی دی.ددوی دليل د عائشی رضی الله عنهاحديث دی.دحديث الفاظ دی:

ماجه في الإقامة ۱۵۲ (۱۲۶۳) . (تحفة الأشراف : ۱۶۲۳۹) . مسند احمد (٦ في ٤٦، ٤٨، ١٦٤) . سنن الدارمي في الصلاة ١٩٤ (١٥٣٥)

"قالت خسفت الشمس فی حیاة رسول الله ﷺ فخرج الی المسجد فقام وصف الناس وراءه فکبر فقرأ قراءة طویلة ثم کبر فرکع رکوعاً طویلاً ثم رفع رأسه فقال سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد ثم قام فقرأ قراءة طویلة هی ادنی من القراءة الأولی ثم کبر فرکع رکوعاً طویلاً ثم رفع رأسه فقال سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد ثم سجد وفعل فی الرکعة الأخری مثل ذلك فاستکمل أربع رکعات بأربع سجدات وانجلت الشمس قبل أن ینصرف ثم قام فخطب الناس فأثنی علی الله بما هو أهله ثم قال إن الشمس والقمر ایتان من ایات الله تعالی لا ینخسفان لموت أحد ولا لحیاته فإذا رأیتم ذالك فافزعوا إلی الصلاة"

یعنی عائشه صدیقه فرمائی.چی د رسول الله ﷺ په ژوند کي یو ځل نمر تندر اونیولو . نو نبی ﷺ جومات ته تشریف یوړلو. او اودریدلو.دخان شاته ئې دخلقو صفونه جوړ کړل.بیا ئې تکبیر تحریمه اووئیلو.او اوږد قراءت ئې او لوستلو.بیا ئې تکبیراووئیلو.او اوږده رکوع ئې اوکړله.بیا ئې خپل سر د رکوع نه اوچت کړو.او " سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد" ئې اووئیل.بیا نبی ﷺ اودریدلو.او اوږد قرات ئې اوکړلو.خو دا قرات د اولنی قرات نه کم وو.بیا ئې تکبیر اووئیل.یوه اوږده رکوع ئې اوکړله.خو دا رکوع د اولنۍ رکوع نه کمه وه.بیا دوی سر اوچت کړو.او" سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد" ئې اووئیل.بیا ئې سجده اوکړه.او په دویم رکعت کي ئې هم هغه عمل اوکړو.نو نبي کریم صلي الله علیه وسلم څلور رکعته (رکوع ګانی) او څلور سجدي پوره کړي.اود نبی ﷺ د فراغت نه مخکي نمر روښانه شو.بیا پاځیدو.خلقو ته ئې خطبه اووئیله.حمد او ثناء ئې د الله دشان مناسب بیان کړه.اووی فرمائیل.چی نمراو سپوږمۍ د الله تعالی د نښو نه دوه نښی دی.دوی ته د چا په مرګ یا ژوند باندې تندر نه لګی.چی کله تاسو دا اووینۍ.نومونځ طرف ته متوجه شئ . ددي حدیث نه معلومه شوه.چی نبی ﷺ د کسوف په مونځ کي په یو رکعت کي دوه رکوع ګانی کړی دی.

زمونږ دلیل دعبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهم روایت دې.

" قال انکسفت الشمس علی عهد رسول الله ﷺ فقام رسول الله ﷺ فلم یکد یرکع ثم رکع فلم یکد یرفع ثم رفع فلم یکد یسجد ثم سجد فلم یکد یرفع ثم رفع فلم یکد یسجد ثم سجد فلم یکد یرفع ثم رفع وفعل فی الرکعة الأخری مثل ذلك"

یعنی په عهد رسالت کي نمر تندر اونیولو.نورسول الله ﷺ دومره اوږد قیام اوکړو.چی لکه نبی ﷺ رکوع نه کوی.بیا نبی ﷺ دومره اوږده رکوع اوکړله.، معلومیدله چی نبی ﷺ سرنه اوچتوی.بیا ئی اوچت کړلو.نو معلومیده چی نبی ﷺ سجده نه کوی.بیا ئې سجده اوکړه.نو د سجدی نه د سر اوچتولو امکان په نظر نه راتلو.بیا ئې سراوچت کړو.نود دویمی سجدی

امكان په نظر نه راتلو.بيا هغوی ﷺ سجده اوکړه.نو داسی ښکاريده چی سر نه اوچتوی.خو نبیﷺ سر اوچت کړو.هم دا عمل نبیﷺ په دويم رکعت کي اوکړلو.د دی حديث نه داخبره معلومه شوه.چی نبیﷺ په يو رکعت کي يوه رکوع کړې ده.اګر چی رکوع اوسجده ډيره اوږده وه.

اوس دحديث عائشی رضی الله عنها او دعبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهم حديثونه متعارض شو.نود ابن عمر رضی الله عنهما روايت ته به ترجيح وی.ځکه چی سړی چونکه د امام سره نزدی وی.نوځکه ده ته د امام حال زيات ښکاره وی.

****

٤٥_ بَاب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْقِرَاءَةِ فِي الْكُسُوفِ

په صلاة کسوف کي دقرائت کولو طريقه

٥٦٢_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عِبَادٍ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: " صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كُسُوفٍ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ.[1]

ترجمه : دسمره بن جندب رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته صلاة کسوف مونځ راکړو او مونږ دهغه اواز نه اوريدلو، امام ترمذي وائي دسمره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه هم حديث وارد دي بعضي اهل علمو همدا قول اختيار کړي دي او دا دمام شافعي قول هم دي.

تشريح :

په صلاة کسوف کي دقراءت طريقه

دکسوف دمونځ په دواړو رکعتونو کي به اوږد قرات کوی.په بعضي احاديثو کي وارد دی.چی اول رکعت به په اندازه دسورة بقري او دويم رکعت کي په اندازه د آل عمران وی.

په دی کي اختلاف دې چی قرات جهری اوکړی يا سری؟

(١) امام صاحب فرمائی.چی دکسوف په مانځه کي به سری قرات کوی.ددی قائل امام مالك امام شافعی او جمهورفقهاء هم دی.

---

[1] سنن ابي داود في الصلاة ٢٦٢ (١١٨٤) . سنن النسائي في الكسوف ١٥ (١٤٨٥) ، و١٩ (١٤٩٦) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥٢ (١٢٦٤) . (تحفة الأشراف : ٤٥٧٣)

(۲) صاحبين فرمائی.چی جهربه کوی.دا قول د امام احمد هم دي. دا امام طحاوی هم اختيار کړي دي.
د امام محمد رحمه الله نه يو روايت د امام ابوحنيفه رحمه الله په شان دي.په دی صورت کي طرفين د اخفاء او دسری قرات قائل دی .
او ابويوسف د جهری قرات قائل دي.
قرات اوږدول خو افضل دی.ځکه چی دا ثابت دی.چی په اولنی رکعت کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم قيام په اندازه د سورة بقري او په دويم رکعت کي په اندازه د آل عمران وو .
علامه ابن همام رحمه الله فرمائيلی دی" والحق ان السنة التطويل والمندوب مجرد استيعاب الوقت" يعنی حق دا دي. چی قرات اوږدول مسنون دی.اودکسوف د وخت استيعاب کول مستحب دي. لکه چی په حديث مغيره بن شعبه(رضي الله عنه) کي دی.
"فاذا رأيتموها فادعوا الله وصلوا حتى تنجلي" (صحيحين)
يعني کله چي نمر د خړيدو په حالت کي ووينئ نو د الله نه دعا اوغواړئ اود روښانه کيدو پوري مونځ جاري وساتئ.

****

٥٦٣_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ صَدَقَةَ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " صَلَّى صَلَاةَ الْكُسُوفِ وَجَهَرَ بِالْقِرَاءَةِ فِيهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَاهُ أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ نَحْوَهُ. وَبِهَذَا الْحَدِيثِ يَقُولُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ. [1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دکسوف مونځ ورکړو او په دي کي يي په جهري اواز سره قرائت اوکړو امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او ابو اسحاق فزاري هم دا روايت دسفيان بن حسين نه دسابقه روايت پشان نقل کړي دي او ددي حديث مطابق مالك بن انس، احمد، او اسحاق بن راهويه هم قول کړي دي .

---

[1] ـ تفرد به المؤلف. (تحفة الأشراف : ١٦٤٢٨) . وأخرجه البخاري (في الكسوف ١٩. تعليقا) . و سنن ابي داود في الصلاة ٢٦٣ (١١٨٨) نحوه من طريق الأوزاعي عن الزهري .

تشريح : په دي مسئله کي اختلاف دي چي په کسوف کي به قرائت جهري وي او که سري وي په دي کي دوه مذاهب دي.
(١) دامام احمد او صاحبينو په نزد په صلاة کسوف کي جهري قراءت کول دي.
(٢) دامام ابو حنيفه او امام شافعي په نزد په صلاة کسوف کي سري قرائت کول دي.

****

٤٦_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الْخَوْفِ

دصلاة خوف بيان

٥٦٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " صَلَّى صَلَاةَ الْخَوْفِ بِإِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ رَكْعَةً وَالطَّائِفَةُ الْأُخْرَى مُوَاجِهَةُ الْعَدُوِّ، ثُمَّ انْصَرَفُوا فَقَامُوا فِي مَقَامِ أُولَئِكَ وَجَاءَ أُولَئِكَ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً أُخْرَى، ثُمَّ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ، فَقَامَ هَؤُلَاءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ، وَقَامَ هَؤُلَاءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ مِثْلَ هَذَا. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ جَابِرٍ، وَحُذَيْفَةَ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَسَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، وَأَبِي عَيَّاشٍ الزُّرَقِيِّ وَاسْمُهُ زَيْدُ بْنُ صَامِتٍ، وَأَبِي بَكْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ ذَهَبَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ فِي صَلَاةِ الْخَوْفِ إِلَى حَدِيثِ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. وقَالَ أَحْمَدُ: قَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الْخَوْفِ عَلَى أَوْجُهٍ وَمَا أَعْلَمُ فِي هَذَا الْبَاب إِلَّا حَدِيثًا صَحِيحًا، وَأَخْتَارُ حَدِيثَ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، وَهَكَذَا قَالَ إِسْحَاق بْنُ إِبْرَاهِيمَ. قَالَ: ثَبَتَتِ الرِّوَايَاتُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْخَوْفِ، وَرَأَى أَنَّ كُلَّ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْخَوْفِ فَهُوَ جَائِزٌ، وَهَذَا عَلَى قَدْرِ الْخَوْفِ. قَالَ إِسْحَاق: وَلَسْنَا نَخْتَارُ حَدِيثَ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ عَلَى غَيْرِهِ مِنَ الرِّوَايَاتِ. [1]

---

[1] _ صحيح البخاري في الخوف ١ (٩٤٢) ، والمغازي ٣١ (٤١٣٢) ، صحيح مسلم في المسافرين ٥٧ (٨٣٩) ، سنن ابي داود في الصلاة ٢٨٥ (١٢٤٣) ، سنن النسائي في الخوف (١٥٣٩) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥١ (١٢٥٨) ، (تحفة الأشراف : ٦٩٣١) ، مسند احمد (٢ في ١٤٧)

ترجمه : دابن عمررضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دوه ډلو كي يوي ډلي ته دصلاة خوف مونځ يو ركعات وركړو او دويمه ډله ددشمن مخي ته ولاړه وه بيا دا خلق اوګرځيدل او دهغه چا په ځاي اودريدل څوك چي ددشمن مخي ته ولاړ وو او څوك چي ددشمن مخي ته ولاړ وو هغوئ راغلل او رسول الله صلي الله عليه وسلم دويم ركعات مونځ هغوئ ته وركړو او بيا يي سلام اوګرځولو بيا دا خلق پورته شول او خپل ركعات يي پوره كړو. او كومو كسانو چي يو ركعات كړي وو او ددشمن مخي ته اودريدلو بيا هغوئ اودريدل او هغوئ هم خپل يو ركعات پوره كړو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او موسي بن عقبه دنافع نه او نافع دابن عمر رضي الله عنهما نه هم داسي روايت نقل كړي دي، په دي باب كي دجابر، حذيفه، زيد بن ثابت، ابن عباس، ابوهريره، ابن مسعود، سهل بن ابي حثمه ابوعياش، ذرقي (دده نوم زيد بن صامت دي) او ابوبكر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او مالك بن انس دصلاة خوف باره كي دسهل بن ابي حثمه په حديث عمل كړي دي او همدا دامام شافعي قول هم دي، امام احمد وائي صلاة خوف دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په يو څو طريقو مروي دي او په دي باب كي صرف ماته يو صحيح حديث معلوم دي او زما په دي باره كي دسهل بن ابي حثمه حديث خوښ دي، دا رنګي اسحاق بن ابراهيم بن راهويه هم وئيلي دي چي دصلاة خوف باره كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايات ثابت دي دده خيال دادي دصلاة خوف باره كي چي څه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي هغه ټول جائز دي او دا ټول صورتونه دخوف په مقدار جائز دي، اسحاق بن راهويه وائي چي مونږ دسهل بن ابي حثمه حديث ته په نورو احاديثو فوقيت نه وركوو.

تشريح : **د صلاة الخوف كولو طريقه اوددي متعلق دعلماؤ اقوال**

د ويرې دمونځ طريقه دا ده.چې وخت امام دی خلق په دوو ډلو كې وويشي.يوه ډله دی د دښمن مخامخ اُودروی.او بله ډلی ته دی يو ركعت اوكړی.نوكله چې امام د اول ركعت د دويمې سجدی نه سر راپورته كړی.دا ډله دی پيدل د دښمن مقابلی له لاړه شی .اوهغه ډله كومه چې دښمن ته مخامخ وی.هغه دی د امام شاته اُودريږی.امام به دی خلقو ته يوركعت اوكړی.سلام به واړوی.خو خلق به سلام نه اړوی.بلكه د دښمن مقابلی ته به لاړشی.اوس اولنئ ډله به څانله څانله خپل ركعت پوره كړی.دا ركعت بغير د قرات نه شو.ځكه چې دا خلق د تحريمې نه د امام سره د شركت په وجه لاحقين دی.او په لاحق قرات نشته.ددی ډلی مونځ پوره شو.نودا ډله دی سلام واړوی.ددښمن مقابلی ته دی ورشي او دويمه ډله دی خپل ركعت پوره كړی سلام دی واړوی.د دوی يوركعت قرات سره دې.ځكه چې دا خلق په اولنی

رکعت کي د امام سره د عدم شرکت په وجه مسبوقين دی.اوپه مسبوق قرات واجب وی.ځکه به دا خلق قرات کوی.

ددي دپاره دليل : په صلاة الخوف کي اصل دعبدالله بن مسعود(رضي الله عنه) حديث دی. الفاظ د حديث دا دی:

" عن ابن مسعود(رضي الله عنه) صلى رسول الله صلي الله عليه وسلم صلوة الخوف فقاموا صفاً خلفه وصفا مستقبل العدوّ فصلى بهم ﷺ ركعة ثم جاء الاخرون فقاموا فى مقامهم واستقبل هولاء العدوّ فصلى بهم ﷺ ركعة ثم سلم فقام هؤلاء للى العدوّ فصلوا لأنفسهم ركعة وسلموا. ثم ذهبوا. فقاموا مقام اولئك مستقبلى العدوّ. ورجع اولئك إلى مقامهم فصلوا لانفسهم ركعةً ثم سلموا"

دابن مسعود(رضي الله عنه) نه منقول دی.چې رسول الله ﷺ صلاة الخوف اوکړواو يوه ډله د نبی کريمﷺ شاته اودريدله.اوبله د دښمن په مقابله کي ،نبی کريمﷺ دوی ته يو رکعت اوکړو.بيا دويمه ډله راغله.اود دوی په ځائې اودريدله.اودا د دښمن مقابلی ته لاړله.نبی کريمﷺ دوی ته هم يو رکعت اوکړو.بيا، نبی کريمﷺ سلام واړولو.بيا دی خلقو په خپله يو رکعت اوکړو، اوسلام ئې واړولو.اولاړل.د هغوی په ځائې د دښمن په مقابله کي اودريدل.او هغوی ددوی ځائي ته راغلل.او ځانله ځانله ئې يو رکعت اوکړو.نو سلام ئې اوګرځولو.

صاحب د عنايه رحمه الله ليکلی دی.چې د داسی صلوة الخوف اجازت په هغه وخت کي دې.چې کله يو امام وی.د ده نه سوا خلق بل چا پسې مونځ کولو ته تيار نه وی.اوکه څو امامان وی.اوپه دوی کي د چا اختلاف هم نه وی.نو بيا صلات خوف ته ضرورت نشته.

دصاحب هدايه د قول مطابق امام ابويوسف رحمه الله د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د صلاة الخوف د مشروعيت نه انکار کړې دې.امام ابويوسف رحمه الله په ابتداء کي د طرفينو په شان قائل وو.بيا ئې دخپل دی قول نه رجوع اوکړله. فرمائی چې د صلوة الخوف مشروعيت د نبی کريم ﷺ د ژوند سره خاص دې.(العنايه)

****

٦٦٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، أَنَّهُ قَالَ فِي صَلَاةِ الْخَوْفِ، قَالَ: " يَقُومُ الْإِمَامُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَتَقُومُ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَهُ وَطَائِفَةٌ مِنْ قِبَلِ الْعَدُوِّ وَوُجُوهُهُمْ إِلَى الْعَدُوِّ، فَيَرْكَعُ بِهِمْ رَكْعَةً، وَيَرْكَعُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَيَسْجُدُونَ لِأَنْفُسِهِمْ سَجْدَتَيْنِ فِي

مَكَانِهِمْ. ثُمَّ يَذْهَبُونَ إِلَى مَقَامِ أُولَئِكَ وَيَجِيءُ أُولَئِكَ فَيَرْكَعُ بِهِمْ رَكْعَةً وَيَسْجُدُ بِهِمْ سَجْدَتَيْنِ فَهِيَ لَهُ ثِنْتَانِ وَلَهُمْ وَاحِدَةٌ. ثُمَّ يَرْكَعُونَ رَكْعَةً وَيَسْجُدُونَ سَجْدَتَيْنِ ".([1])

ترجمه : دسهل بن ابي حثمه رضي الله عنه نه روايت دي چي هغه دصلاة خوف باره کي اوونيل امام به قبلي ته مخامخ ولاړ وي او دخلقو يو جماعت دي ورسره اودريږي او بل جماعت دي ددشمن مخي ته ولاړ وي او ددوئ مخه به دشمن طرف ته وي امام دي دوئ ته يو رکعات مونځ ورکړي او دويم يو رکعات دي هغوئ پخپله پخپل ځاي اوکړي او پخپله به سجده کوي، بيا دي دوئ دهغه چا ځاي ته راشي او دوئ دي دهغوئ ځاي ته لاړ شي او امام دي ورته يو رکعات مونځ ورکړي او ددوئ سره دي دوه سجدي اوکړي په دي طريقه به دامام دوه رکعاتونه پوره شي اودخلقو به يو يو رکعات اوشي بيا به يو رکعات بل اوکړي او سجدي به اوکړي.

سهل بن ابو حثمه انصاري رضي الله عنه حالات:

نوم سهيل کنيه ابو محمد يا ابو يحيي دپلار نوم ابو حثمه عبدالله بن ساعده چي د هجرت په دريم کال پيداشوی وو اول په مدينه کي اوسيدو بيا کوفي ته منتقل شو درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات په وخت کي دده عمر اته کاله وو.

وفات: دمصعب بن زبير په زمانه کي په مدينه کي وفات شوی دی او دمروياتو شمير يي ۲۵ دی چي بخاري او مسلم ورباندي اتفاق کړی دی.

****

٥٦٦ـ قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَحَدَّثَنِي عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ، وَقَالَ لِي يَحْيَى: اكْتُبْهُ إِلَى جَنْبِهِ وَلَسْتُ أَحْفَظُ الحَدِيثَ، وَلَكِنَّهُ مِثْلُ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. لَمْ يَرْفَعْهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيُّ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، وَهَكَذَا رَوَى

---

[1] ـ صحيح البخاري في الخوف ١ (٩٤٢)، والمغازي ٣١ (٤١٣٢). صحيح مسلم في المسافرين ٥٧ (٨٣٩). سنن ابي داود في الصلاة ٢٨٥ (١٢٤٣). سنن النسائي في الخوف (١٥٣٩). سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥١ (١٢٥٨). (تحفة الأشراف: ٦٩٣١). مسند احمد (٢ في ١٤٧)

أَصْحَابُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ مَوْقُوفًا، وَرَفَعَهُ شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ.(1)

ترجمه امام ترمذي وائي دمحمد بن بشار قول دي فرمائي چي ديحي بن سعيد نه مي ددې حديث باره کي تپوس اوکړو نو هغه راته دشعبه نه او شعبه دعبدالرحمن بن قاسم نه او هغه دخپل پلار نه او هغه دصالح بن خوات نه او هغه دسهل بن ابي حثمه نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ديحي بن سعيد دروايت پشان روايت بيان کړو، ماته يحي بن سعيد اووئيل دا حديث دده په تشي اوليکه ماته دا حديث ياد نه دي ليکن دا د يحي بن سعيد انصاري دحديث پشان دي

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي، او دا حديث يحي بن سعيد دقاسم بن محمد په واسطه مرفوع نه دي بيان کړي دقاسم بن محمد په واسطه ديحي بن سعيد شاګردانو دا موقوف نقل کړي دي البته شعبه دا حديث دعبدالرحمن بن قاسم بن محمد په واسطه مرفوع نقل کړي دي.

****

٥٦٧ــ وَرَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَنْ مَنْ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ فَذَكَرَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ، وَرُوِيَ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " صَلَّى بِإِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ رَكْعَةً رَكْعَةً، فَكَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَانِ وَلَهُمْ رَكْعَةٌ رَكْعَةٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: أَبُو عَيَّاشٍ الزُّرَقِيُّ اسْمُهُ زَيْدُ بْنُ صَامِتٍ.(2)

ترجمه : صالح بن خوات ديو داسي کس نه روايت کوي چاچه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره صلاة خوف اداء کړي دي او بيا يي دسابقه حديث پشان حديث ذکر کړو.

---

1 ـ صحيح البخاري في الخوف ١ (٩٤٢) . والمغازي ٣١ (٤١٣٣) . صحيح مسلم في المسافرين ٥٧ (٨٣٩) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٨٥ (١٢٤٣) . سنن النسائي في الخوف (١٥٣٩) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥١ (١٢٥٨) . (تحفة الأشراف : ٦٩٣١) . مسند احمد (٢ في ١٤٧)

2 ـ صحيح البخاري في الخوف ١ (٩٤٢) . والمغازي ٣١ (٤١٣٣) . صحيح مسلم في المسافرين ٥٧ (٨٣٩) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٨٥ (١٢٤٣) . سنن النسائي في الخوف (١٥٣٩) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٥١ (١٢٥٨) . (تحفة الأشراف : ٦٩٣١) . مسند احمد (٢ في ١٤٧)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او دامام مالك شافعي، احمد ، او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي دا رنګي ددي اهل علمو قول دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دوارو جماعتونو ته يو يو ركعات مونځ وركړي دي نو درسول الله صلي الله عليه وسلم دوه ركعاتونه شول او دنورو خلقو دامام سره يو يو ركعات شو

امام ترمذي وائي دابوعياش الزرقي نوم زيد بن صامت دي.

****

٤٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ

په قران كي دسجدو د ايتونو بيان

٥٦٨_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ عُمَرَ الدِّمَشْقِيِّ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: "سَجَدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِحْدَى عَشْرَةَ سَجْدَةً مِنْهَا الَّتِي فِي النَّجْمِ".(١)

ترجمه : دابو الدرداء رضي الله عنه بيان دي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يولس سجدي كړي وي او يوه په دي كي هغه وه كومه چي په سورة النجم كي ده.

تشريح : **په قران كريم كي د سجدو د ايتونو تعداد**

په قران كريم كي د سجدي ايتونه څوارلس دی.

[١] إِنَّ الَّذِينَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ (الاعراف:٢٠٦)

[٢] وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَالُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ (الرعد:١٥)

[٣] يَخَافُونَ رَبَّهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (النحل:٥٠)

[٤] وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا (الاسراء:١٠٩)

[٥] إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا (مريم:٥٨)

[٦] إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا (الفرقان: ٥٨)

[٧] وَمَنْ يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ مُكْرِمٍ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ (الحج:١٨)

---

1 - سنن ابن ماجه في الإقامة ٧١ (١٠٥٥) . (تحفة الأشراف : ١٠٩٩٣) . مسند احمد (٥ في ١٩٣)

[۸] وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَٰنِ قَالُوا وَمَا الرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا (الفرقان:۶۰)

[۹] لا اله الا هو رب العرش العظيم (النمل)

[۱۰] إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ (السجدة:۱۵)

[۱۱] فَغَفَرْنَا لَهُ ذَٰلِكَ وَإِنَّ لَهُ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَآبٍ (ص:۲۵)

[۱۲] فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا فَالَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ (حم السجدة:۳۸)

[۱۳] فاسجدوا لله واعبدوه. (النجم)

[۱۴] وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ (الانشقاق:۲۱)

[۱۵] واسجد واقترب (العلق)

د امام شافعي رحمه الله په نزد هم ايات د سجدې څوارلس دي. خودوی په نزد په سورة حج کې دوارہ سجدې سجدې د تلاوت دي. او په سورة صٓ کې سجده د تلاوت نشته. بلکه سجده د شکر ده.

او زمونږ د احنافو علماؤ په نزد د سورة حج ړومبۍ سجده. سجده تلاوت ده. د دويمې سجدې نه د مانځه سجده مرادده، د تلاوت سجده مراد نه ده. او په سورة صٓ کې زمونږ په نزد سجده تلاوت ده.

(۱) د احنافو په ذکرشوی څوارلسو مقاماتو سجده کول په قاری اوسامع دواړوواجب دي که سامع د اوريدو قصد کړی وی او که نه.

(۲) امام مالك امام شافعي او دحنابله په نزد سجده تلاوت سنت ده

د مالکيانو او شوافعو دليل دادی ، زيد بن ثابت رضي الله عنه د رسول پاك ﷺ په وړاندی د سورة النجم تلاوت اوکړو، خونه زيد بن ثابت رضي الله عنه سجده او کړه . اونه رسول پاك ﷺ. ددی واقعې نه ثابته شوه، چې سجده تلاوت واجب نه ده. بلکه سنت ده. ځکه که واجب وی نو نه به رسول پاك ﷺ پريخودی وه، اونه زيد بن ثابت رضي الله عنه .

من اراد البسط في المسئله فليراجع الي شروح الهدايه.

****

٥٦٩_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ عُمَرَ وَهُوَ ابْنُ حَيَّانَ الدِّمَشْقِيُّ قَالَ: سَمِعْتُ مُخْبِرًا يُخْبِرُ عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِلَفْظِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ بْنِ وَكِيعٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ وَهْبٍ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَعَمْرِو بْنِ الْعَاصِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي الدَّرْدَاءِ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ عُمَرَ الدِّمَشْقِيِّ. [1]

ترجمه : په پورتني سند سره هم ابو الدرداء رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دسابقه روايت پشان الفاظ نقل كړي دي. او په دي باب كي دعلي، ابن عباس، ابوهريره، ابن مسعود، زيد بن ثابت، عمرو بن العاص رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. او دابو الدرداء حديث غريب دي مونږ ته صرف دسعيد بن ابي هلال په روايت معلوم دي اوسعيد دعمر دمشقي نه نقل كړي دي.

****

٤٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِي خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ

مسجدونو ته دښځو تللو بيان

٥٧٠_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ، فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ائْذَنُوا لِلنِّسَاءِ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسَاجِدِ". فَقَالَ ابْنُهُ: وَاللهِ لَا نَأْذَنُ لَهُنَّ يَتَّخِذْنَهُ دَغَلًا، فَقَالَ: فَعَلَ اللهُ بِكَ وَفَعَلَ، أَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَقُولُ: لَا نَأْذَنُ لَهُنَّ؟! قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَزَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

---

1. سنن ابن ماجه في الإقامة ٤١ (١٠٥٥). (تحفة الأشراف: ١٠٩٩٣). مسند احمد (٥ في ١٩٢)
2. صحيح البخاري في الأذان ١٦٦ (٨٦٥). (متابعةً) صحيح مسلم في الصلاة ٣٠ (٤٤٢). سنن ابي داود في الصلاة ٥٣ (٥٦٨). سنن النسائي في المساجد ١٥ (٧٠٦). سنن ابن ماجه في المقدمة ٢ (١٦). (تحفة الأشراف: ٧٣٨٥). مسند احمد (٢ في_ ٩، ١٦، ٣٦، ٤٩، ٤٣، ٩٠، ١٢٧، ١٤٠، ١٤٣، ١٥١)

ترجمه دمجاهد بيان دي فرمائي چي مونږ دابن عمررضي الله عنهما سره موجود وو چي هغوئ اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ښخو ته دشپي مسجد ته دتللو اجازت ورکوئ په دي وخت کي دهغوئ ځوي بلال اوونيل په الله قسم چي مونږ ورته اجازت نه ورکوو هغوئ به داجازت په سبب دفساد ذريعه اوګرځي. ابن عمر رضي الله عنهما اوونيل الله تعالي دي تا داسي کړي زه درته وايم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي او ته وائي چي مونږ ورته اجازت نه ورکوو «دا درتلو الفاظ دي»

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي. او په دي باب کي دابو هريره عبدالله ابن مسعود دښځي زينب او زيد بن خالد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٤٩ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْبُزَاقِ فِي الْمَسْجِدِ

په مسجد کي دلاړو توکلو دکراهت بيان

٥٧١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمُحَارِبِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كُنْتَ فِي الصَّلَاةِ فَلَا تَبْزُقْ عَنْ يَمِينِكَ، وَلَكِنْ خَلْفَكَ أَوْ تِلْقَاءَ شِمَالِكَ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِكَ الْيُسْرَى". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ طَارِقٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. قَالَ: وسَمِعْت الْجَارُودَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا، يَقُولُ: لَمْ يَكْذِبْ رِبْعِيُّ بْنُ حِرَاشٍ فِي الْإِسْلَامِ كِذْبَةً. قَالَ: وقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ: أَثْبَتُ أَهْلِ الْكُوفَةِ مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ. (1)

ترجمه دطارق بن عبدالله محاربي بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي تاسو په مونځ ولاړ يئ نو خپل ښي طرف ته توکل مه کوئ، دخان نه شاته يا دچپي خپي لاندي او يا چپ طرف ته اوتوکئ

---

1 ـ سنن ابي داود في الصلاة ٢٢ (٤٧٨). سنن النسائي في المساجد ٣٣ (٧٢٤). سنن ابن ماجه في الإقامة ٦١ (١٠٢١). (تحفة الأشراف: ٤٩٨٧). مسند احمد (٦ في ٣٩٦)

امام ترمذي وائي دطارق رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي. او په دي باب کي دابوسعيد، ابن عمر، انس، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي

امام ترمذي وائي د جارود نه مي اوريدلي دي چي وكيع يي ماد وكيع نه اوريدلي دي چي ربعي بن حراش د كله نه په اسلام كي داخل شوي دي. بيا يي چرته دروغ نه دي ونيلي وكيع د عبد الرحمن بن مهدي قول نقل كوي چي منصور بن معتمر په كوفي راويانو كي زيات ثقه او معتمد راوي دي

تشريح : انسان طبعا نفاست پسند وي او تمنا يي داوي چي دي پخپله هم پاك ستره وي او كور وغيره يي هم پاك او ستره وي نو تاسو ددينه اندازه ولګوئ چي دالله تعالي دپاك كور او دربار صفايي به څومره ضروري وي ، چرته انسانان دخپل حقيقي مالك عبادت دپاره راجمع كيږي ، امام شعراني وايي چي داحاديثو نه معلوميږي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ نه عهد اخستلي دي چي مونږ به مساجد دهر قسم ګندګئ او غلاظت نه پاك ساتو . په يو بل روايت كي هم راغلي دي: ان النبي صلي الله عليه وسلم كان يتبع غبار المسجد بجريدة.

يعني رسول الله دمسجد ګردونه دكهجورونو جارو كوئ علامه محمد يوسف بنوري فرمايي وفي العمدة وقد ورد عن النبي صلي الله عليه وسلم انه كنس المسجد الخ.

كچير په مسجد كي توكلو ته ضرورت راشي مثلا دچا په خوله كي ماشي ننوځي او توكل ضروري شي نو چپ طرف ته يا دچپي خپي لاندي توكل جائز دي او په همدي وجه په حديث كي راغلي دي چي مخامخ طرف الله تعالي سره دمخامخ كيدو طرف نه او ښخي طرف ته دنيكئ ليكونكي فرشتي ولاړي وي د مغوئ احترام كول پكار دي

* * * * * * * * * * * * * * * *

٥٧٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

---

١ صحيح البخاري في الصلاة ٣٧ (٤١٥) . صحيح مسلم في المساجد ١٣ (٥٥٢) . سنن ابي داود في الصلاة ٢٢ (٤٧٣) . سنن النسائي في المساجد ٣٠ (٧٢٣) . (تحفة الأشراف : ١٤٢٨) . مسند احمد (٣ في ١٧٣، ٢٣٢، ٢٧٣، ٢٧٧) سنن الدارمي في الصلاة ١١٦ (١٤٣٥)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مسجد کي توکانړي توکول غلطي ده او کفاره يې داده چي دفن کړی شي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح : امام نووي فرمائي ددفن کولو نه مراد دادي چي مسجد کچه وي يعني خاورې ياشګي پکي وي نو بيا خښول ممکن دي او دا خبره زمونږ په اصحابو کي (شوافع) ابو العباس روياني پخپل کتاب البحر کي ليکلي ده دبعضو قول دادی چي د دفن کولو نه مراد دمسجد نه ويستل دي ليکن هله چي مسجد دکانړوجوړ وي يا چونه شوی وي نو بيا په پيزار وغيره مږل پکار نه دي لکه چي اکثر جاهلان يي کوي نو دا دفن کول نه دي بلکه دا خو په ګناه کي زياتوالی دی او په مسجد کي ګندګي خورول دي او څوك چي مسجد داسي ګنده کړي په هغه باندي واجب دي چي بيا يي په کپړه يا په لاس يا په کوم بل څيز پاك کړي او يايي په اوبو اووينځي (رياض الصالحين)
دفن کولو مطلب دادی که جومات کچه وي خاورې ياشګی وي پکی نو په خاوره يا شګو کي ديټ کړی شي ابو المحاسن رؤياني په خپل کتاب کي داسی ليکلي دي او که جومات پوخ وي دکانړو يا سنګ مرمرو په فرش يا په چونه وغيره نو بيا ورباندی په جارو مښل لکه چي اکثر جاهلان يی کوي دفن کولو نه دي، بلکه ګندګي زياتول دي چا که پوخ جومات کي توکلي وي نو پکار ده چي په کپړه يا لاس يی پاك کړي او يايی اووينځي
په يو بل روايت کي هم راغلي دي من اخرج اذي من المسجد بني الله له بيتا في الجنة. (معراج الصالحين. شرح رياض الصالحين)

****

٥٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي السَّجْدَةِ فِي (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ) وَ(إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ)

په سورة اقراء او سورة انشقاق کي دسجدو کولو بيان

٥٧٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ عَطَاءِ بْنِ مِينَاءٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "سَجَدْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ".(1)

---

1 صحيح مسلم في المساجد ٢٠ (٥٧٨) ، سنن ابي داود في الصلاة ٣٣١ (١٤٠٧) ، سنن النسائي في الافتتاح ٥٢ (٩٦٨) (تحفة الأشراف : ١٤٢٠٦) ، مسند احمد (٢ في ٢٤٩، ٤٦١) ، وانظر أيضا: صحيح البخاري في الأذان ١٠٠ (٧٦٦) ، و١٠١ (٧٦٨).

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په "اقراء باسم ربك الذي خلق" او په "اذا السماء انشقت" كي سجده اوكړه.

****

٥٧٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ هُوَ ابْنُ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَرَوْنَ السُّجُودَ فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ وَفِي هَذَا الْحَدِيثِ أَرْبَعَةٌ مِنَ التَّابِعِينَ بَعْضُهُمْ عَنْ بَعْضٍ. [1]

ترجمه: په دي سند سره هم دابوهريره رضي الله عنه نه دسابقه حديث هم معني روايت مروي دي چي هغوي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كړي دي

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي ددي په سند كي څلور تابعين دي چي يو دبل نه روايت كوي . داكثرو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي دوي په "اذا السماء انشقت" او "اقراء باسم ربك الذي خلق" كي دسجدو كولو قائل دي.

****

٥١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي السَّجْدَةِ فِي النَّجْمِ

په سورة النجم كي دسجدي كولو بيان

٥٧٥_ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْبَزَّازُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " سَجَدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا يَعْنِي النَّجْمَ وَالْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ

وسجود القرآن ٧ (١٠٧٣) . و١٠ (١٠٧٨) . سنن النسائي في الافتتاح ٥١ (٩٦٣ ٩٦٥) . و ٥٢ (٩٦٧) . وسنن ابن ماجه في الإقامة (٧١: ٨، ١٠٥، ١٥٩) . والموطاء في القرآن ٥ (١٣) . و مسند احمد (٢٤٧، ٢٨١، ٣١٣، ٣٤٩ ٣٥١، ٣٥٣، ٣٦٦، ٣٨٧، ٥٢٩) . وسنن الدارمي في الصلاة ١٦٣

[1] - انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٣٨٦٥)

الْعِلْمِ يَرَوْنَ السُّجُودَ فِي سُورَةِ النَّجْمِ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: لَيْسَ فِي الْمُفَصَّلِ سَجْدَةٌ، وَهُوَ قَوْلُ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ، وَبِهِ يَقُولُ الثَّوْرِيُّ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ. (1)

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي كي يعني په سورة نجم كي سجده اوكړه او مسلمانانو ، مشركانو، جناتو، او انسانانو هم سجده اوكړه.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي د ابن مسعود، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دبعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي ددوى په نزد په سورة النجم كي سجده شته په صحابه كرامو او تابعينو كي دبعضي اهل علمو قول دي چي په مفصل سورتونو كي سجده نشته همدا دامام مالك قول دي ليكن اولني قول زيات صحيح دي، سفيان ثوري او ابن مبارك او شافعي او احمد او اسحاق هم ددي قائل دي.

****

٥٢ـ بَابُ مَا جَاءَ مَنْ لَمْ يَسْجُدْ فِيهِ

بيان دهغه خلقو څوك چي په سورة النجم كي دسجدي كولو قائل نه دي

٥٧٦ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: "قَرَأْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّجْمَ فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَتَأَوَّلَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: "إِنَّمَا تَرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ" لِأَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ حِينَ قَرَأَ فَلَمْ يَسْجُدْ لَمْ يَسْجُدِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالُوا: السَّجْدَةُ وَاجِبَةٌ عَلَى مَنْ سَمِعَهَا فَلَمْ يُرَخِّصُوا فِي تَرْكِهَا، وَقَالُوا: إِنْ سَمِعَ الرَّجُلُ وَهُوَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، فَإِذَا تَوَضَّأَ سَجَدَ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَبِهِ يَقُولُ إِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِنَّمَا السَّجْدَةُ عَلَى مَنْ أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ فِيهَا، وَالْتَمَسَ فَضْلَهَا وَرَخَّصُوا فِي تَرْكِهَا إِنْ أَرَادَ ذَلِكَ، وَاحْتَجُّوا بِالْحَدِيثِ الْمَرْفُوعِ، حَدِيثِ

1 صحيح البخاري في سجود القرآن ٥ (١٠٧١) . وتفسير النجم ٤ (٤٨٦٢) . (تحفة الأشراف : ٥٩٩٦)

زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ. حَيْثُ قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّجْمَ فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا. فَقَالُوا: لَوْ كَانَتِ السَّجْدَةُ وَاجِبَةً لَمْ يَتْرُكِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا حَتَّى كَانَ يَسْجُدَ. وَيَسْجُدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَاحْتَجُّوا بِحَدِيثِ عُمَرَ. أَنَّهُ قَرَأَ سَجْدَةً عَلَى الْمِنْبَرِ فَنَزَلَ فَسَجَدَ. ثُمَّ قَرَأَهَا فِي الْجُمُعَةِ الثَّانِيَةِ فَتَهَيَّأَ النَّاسُ لِلسُّجُودِ. فَقَالَ: إِنَّهَا لَمْ تُكْتَبْ عَلَيْنَا إِلَّا أَنْ نَشَاءَ. فَلَمْ يَسْجُدْ وَلَمْ يَسْجُدُوا. فَذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ. (1)

ترجمه : دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي سورة النجم اولوستلو مګر هغوئ سجده اونکړه.

امام ترمذي وائي دزيد بن ثابت رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي. بعضي اهل علمو په دي حديث كي تاويل كړي دي هغوئ وائي نبي كريم صلي الله عليه وسلم سجده خكه نه ده كړي چي زيد بن ثابت څه وخت دا سورة اولوستلو نو هغه پخپله هم سجده اونكړه نو په دي وجه نبي كريم صلي الله عليه وسلم هم سجده اونكړه دوئ وائي دا سجده په هر هغه چا واجب ده څوك چي دا واوري او دوئ ددي دپريخودو اجازت نه دي وركړي. دوئ وائي كه څوك دا واوري او اودس يي نه وي نو چي كله اودس اوكړي بيا دي دا سجده اوكړي، او همدا دسفيان ثوري او اهل كوفه قول دي، اسحاق بن راهويه هم ددي قائل دي. بعضي اهل علم وائي دا سجده په هغه چا لازم ده څوك چي دسجدي كولو اراده لري او ددي دخير او بركت طلب ګار وي، هغوئ ددي دپريخودلو اجازت وركړي دي كه چري دي يي پريخودل غواړي او دوئ د مرفوع حديث يعني دزيد بن ثابت دحديث نه په كوم كي چي دا راغلي دي "مادرسول الله په وړاندي سورة النجم اولوستلو ليكن هغه په دي كي سجده اونكړه" نه استدلال كړي دي دوئ وائي كه چري دا سجده واجب وي نو رسول الله به زيد لره دسجدي كولو نه بغير نه پريخودلو او رسول الله به پخپله دا سجده كړي وه او دوئ دعمر رضي الله عنه دحديث نه هم استدلال كړي دي چي هغه په منبر دسجدي ايت اولوستلو او بيا راكوز شو او سجده يي اوكړه. دا سورة يي بيا په بله جمعه هم اولوستلو نو خلق سجدي كولو ته تيار شو هغوئ اوفرمائيل دا په مونږ باندي فرض نه ده علاوه ددينه چي مونږ يي اوغواړو چنانچه نه هغوئ سجده اوكړه او نه خلقو

1 صحيح البخاري في سجود القرآن ٦ (١٠٧٢). صحيح مسلم في المساجد ٢٠ (٥٧٧). سنن ابي داود في الصلاة ٣٢٩ (١٤٠٤). سنن النسائي في الافتتاح ٥٠ (٩٦١). (تحفة الأشراف: ٣٧٣٣). مسند احمد (٥ في ١٨٣). سنن الدارمي في الصلاة ١٦٢ (١٥١٣)

بعضي اهل علمو دي طرف ته ميلان اختيار كړي دي او همدا دامام شافعي او امام احمد قول هم دي.

****

٥٣_ باب مَا جَاءَ فِي السَّجْدَةِ فِي "ص"

په سورة ص كي دسجدي كولو بيان

٥٧٧_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِي ص". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَلَيْسَتْ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُودِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي ذَلِكَ، فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ أَنْ يَسْجُدَ فِيهَا، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّهَا تَوْبَةُ نَبِيٍّ وَلَمْ يَرَوْا السُّجُودَ فِيهَا. (١)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم په سورة ص كي په سجدي كولو ليدلي وو دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي دا سجده د واجبي سجدو نه نه ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، داهل علمو په دي كي اختلاف دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي بعضي ددي قائل دي چي په سورة ص كي سجده كول شته. دسفيان ثوري، ابن مبارك، شافعي، احمد او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي او دبعضو قول دادي چي دا ديو نبي توبه ده او سجده په دي كي ضروري نه ده.

تشريح : په دي مسئله كي اختلاف دي چي په سورة ص كي سجده شته او كنه په دي كي داهل علمو دوه مذاهب دي

(١) دامام ابو حنيفه او امام مالك او امام احمد په نزد په سورة ص كي سجده شته.

(٢) او دشوافعو په نزد په سورة ص كي سجده نشته.

****

٥٤_ باب مَا جَاءَ فِي السَّجْدَةِ فِي الْحَجِّ

---

١ صحيح البخاري في سجود القرآن ٣ (١٠٦٩)، سنن ابي داود في الصلاة ٣٣٢ (١٤٠٩)، سنن النسائي في الافتتاح ٤٨ (٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ٥٩٨٨)، سنن الدارمي في الصلاة ١٦١ (١٥٠٨)

په سورة حج کي دسجدي کولو بيان

٥٧٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ مِشْرَحِ بْنِ هَاعَانَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ فُضِّلَتْ سُورَةُ الْحَجِّ بِأَنَّ فِيهَا سَجْدَتَيْنِ، قَالَ: "نَعَمْ، وَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلَا يَقْرَأْهُمَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ الْقَوِيِّ وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا، فَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، وَابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُمَا قَالَا: فُضِّلَتْ سُورَةُ الْحَجِّ بِأَنَّ فِيهَا سَجْدَتَيْنِ، وَبِهِ يَقُولُ ابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَرَأَى بَعْضُهُمْ فِيهَا سَجْدَةً، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكٍ وَأَهْلِ الْكُوفَةِ.[1]

ترجمه : دعقبه بن عامر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله سورة حج ته دا شرف او عزت ورکړي شوي دي چي په دي کي دوه سجدي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو څوك چي دا دواړه سجدي نه کوي هغه دي دا سورة نه لولي

امام ترمذي وائي ددي حديث سند څه خاص قوي نه دي، په دي سلسله کي داهل علمو اختلاف دي عمر بن الخطاب او ابن عمر رضي الله عنهما وائي چي په سورة حج کي دوه سجدي دي ، ابن مبارك ، شافعي، احمد اسحاق هم په دي باندي قول کړي دي او دبعضي اهل علمو قول دادي چي په دي کي يوه سجده ده سفيان ثوري، امام مالك، او اهل کوفه دا قول هم اختيار کړي دي.

تشريح : په دي کي هم اختلاف دي چي په سورة حج کي يوه سجده ده او که دوه دي په دي کي هم دوه مذاهب دي.

(١) داحنافو او امام مالك په نزد په سورة حج کي يوه سجده ده او دليل يي په طحاوي کي دابن عباس رضي الله عنهما اثر دي او په مؤطا دامام محمد کي هم دابن عباس نه منقول دي چي دسورة حج والاسجده اولنئ سجده ده بله خبره داده چرته چي درکوع او سجدي ذکر راشي ددينه مراد سجده دتلاوت نه وي بلکه صلاتي سجده مراد وي

(٢) امام شافعي او امام احمد په نزد په سورة حج کي دوه سجدي دي

****

٥٥_ بَاب مَا يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ

---

[1] - سنن ابي داود في الصلاة ٣٢٨ (١٤٠٢). (تحفة الأشراف: ٩٩٦٥)

دقران په سجدو کي کومه دعا وئيل پکار دي

٥٧٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ بْنِ خُنَيْسٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ جُرَيْجٍ: يَا حَسَنُ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ أَبِي يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ وَأَنَا نَائِمٌ كَأَنِّي أُصَلِّي خَلْفَ شَجَرَةٍ فَسَجَدْتُ فَسَجَدَتِ الشَّجَرَةُ لِسُجُودِي فَسَمِعْتُهَا، وَهِيَ تَقُولُ: اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ قَالَ الْحَسَنُ: قَالَ لِيَ ابْنُ جُرَيْجٍ: قَالَ لِي جَدُّكَ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ، "فَقَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ". قَالَ: فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَقُولُ مِثْلَ مَا أَخْبَرَهُ الرَّجُلُ عَنْ قَوْلِ الشَّجَرَةِ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي يو کس نبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله ما نن شپه خپل ځان په خوب کي اوليدلو او زه اوده وم چي زه ديوي اوني لاندي مونځ کوم نو ما سجده اوکړه نو زما دسجدي سره وني هم سجده اوکړه او بيا ورنه ما واوريدل چي دا دعا يي وئيله:

: اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ.

يعني اي الله ددي په بدل کي ته زما دپاره اجر اوليکي او ددي په بدل کي ته زما نه زما بوج لري کړي او دا زما دپاره دخان سره ذخيره کړي او ته دا زما نه داسي قبوله کړي څنګه چي تا دخپل بنده داود عليه السلام نه دهغه سجده قبوله کړي وه. حسن بن محمد بن عبيدالله بن ابي يزيد واني ماته ابن جريج وئيلي دي چي ماته ستاسو نيکه وئيلي دي چي ابن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسجدي ايت تلاوت کړو او سجده يي اوکړه ابن عباس اووئيل چي ما هم دهغوی نه داسي اوريدلي دي څنګه چي دي کس د وني الفاظ بيان کړي دي.

---

1 سنن ابن ماجه في الإقامة ٧٠ (١٠٥٣) . (تحفة الأشراف : ٥٨٦٤)

امام ترمذي وائي دا حديث دابن عباس په سند حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند باندي پيژنو اوپه دي باب کي د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه هم حديث وارد دی

****

٥٨٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ: " سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دشپي په وخت کي دقران په سجدو کي دا دعا لوستله:

"سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ"

يعني زما مخ هغه ذات ته سجده کړي ده چاچه دا جوړ کړي دي او پخپل قوت او طاقت سره يي دده غوږونه او ستر کي شلولي دي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٥٦_ باب مَا ذُكِرَ فِيمَنْ فَاتَهُ حِزْبُهُ مِنَ اللَّيْلِ فَقَضَاهُ بِالنَّهَارِ

باب دي په بيان دهغه چا کي دچا نه چي دشپي خپله وظيفه پاتي شي نو دورځي به دهغي قضاء راوړي

٥٨١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ، وَعُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَخْبَرَاهُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهُ مَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ، كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ ". قَالَ أَبُو

---

1 ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣٣٢ (١٤١٣)، سنن النسائي في التطبيق ٧٠ (١١٣٠)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨٣)، مسند احمد (٦ في ٣٠، ٢١٧)

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَأَبُو صَفْوَانَ اسْمُهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَعِيدٍ الْمَكِّيُّ. وَرَوَى عَنْهُ الْحُمَيْدِيُّ وَكِبَارُ النَّاسِ.(1)

ترجمه : عبدالرحمن بن قاري وائي چي ما دعمر بن الخطاب رضي الله عنه نه اوريدلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دچا نه خپله پوره وظيفه يا دوظيفي څه حصه بغير لوستلو پاتي شي او دي ورنه اوده شي نو بيا دي دا دسحر نه واخله دماسپخين پوري دوخت په مينځ كي پوره كړي نو دا به دده دپاره داسي اوليكلي شي لكه چي ده دشپي پوره كړي وي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

دسائب بن يزيد رضي الله عنه حالات:

نوم سائب دپلار نوم يزيد بن سعيد بن ثمامه كندي. امام زهري وائي چي كندي په يمن كي داذ قبيلي يو شخ دى مگر په بنوكنانه كي شميرلى شي سائب دعمر كندي خوريى دى . دهجرت په شلم كال پيدا شوى وو او داوه كالو په عمر كي دخپل پلار سره په حجة الوداع كي شريك شوى دى .ده نه عموما زهري او محمد بن يوسف نقل دروايت كوي كنږ شمير روايات ورنه منقول دي او دهجرت په ۸۰ كال وفات شوى دى.

****

٥٧ـ بَابُ مَا جَاءَ مِنَ التَّشْدِيدِ فِي الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الإِمَامِ

دهغه چا دپاره وعيد څوك چي په ركوع كي دامام نه مخكي سر پورته كوي

٥٨٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ وَهُوَ أَبُو الْحَارِثِ الْبَصْرِيُّ ثِقَةٌ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الإِمَامِ أَنْ

1 صحيح مسلم في المسافرين ١٨ (٧٤٧) . سنن ابي داود في الصلاة ٣٠٩ (١٣١٣) سنن النسائي في قيام الليل ٦٥ (١٧٩١) سنن ابن ماجه في الإقامة ١٧٧ (١٣٤٣) . (تحفة الأشراف : ١٠٥٩٢) . مسند احمد (١ في ٣٢) . سنن الدارمي في الصلاة ١٦٧ (١٥١٨)

يُحَوِّلَ اللَّهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ ". قَالَ قُتَيْبَةُ: قَالَ حَمَّادٌ: قَالَ لِي مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ: وَإِنَّمَا قَالَ: أَمَا يَخْشَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ هُوَ بَصْرِيٌّ ثِقَةٌ وَيُكْنَى أَبَا الْحَارِثِ. ( )

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوك چي دامام نه مخكي دركوع ياسجدی نه سر اوچتوي ايا دا نه ويريږي چي دا سربی الله تعالي دخر دسر په شان كړي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي. او محمد بن زياد بصري دي او ثقه دی او اسم كنيه يي ابو الحارث ده.

لغات : الحمار: معني خر ، خره په دوه قسمه دي يو كورني ږي او بل ځنګلي . ځنګلي ته حمار الوحش ويلي شي جمع يي حمير او حمور او حمورات راځي. جمع يي حمير او احمرة وحمر وحمور وحمرات مونث يي حمارة جمع يي حمائر حمارة القدم دځپي شاه . الحمارة خر والا. مفرد حمار دي لكه جمال او بغال

تشريح : ددي مطلب دادی چي دمونځ اركان دامام نه مخكي ادا كړي مثلا په ركوع او سجده كي دامام نه مخكي سر راپورته كړي، ملا علي قاري وائي په دي حديث كي شديد وعيد دی دامام نه په مخكي كيدو باندي

بعضي علماء وائي چي پورتنی حديث پخپله حقيقي معني باندي محمول نه دی چي الله تعالي به ورته حقيقتا خر جوړوي بلكه مطلب دادی چي دخر پشان به يي كم عقل كړي ځكه چي په ټولو ځناورو كي خر ډير كم عقل وي

علامه خطابي رحمة الله عليه وائي كه دا حديث په حقيقي معني حمل كړی شي نو هم صحيح ده او دا خبره امام ابن حجر رحمة الله عليه هم كړي ده چي مسخ به كړی شي او په كومو روايتونو كي چي راځي چي زما په امت كي به مسخ نه وي دهغي مطلب دادی چي عمومي مسخ به نه وي په جزيي طور به وي

عبرتناكه واقعه:

علامه ابن حجر يود عبرتناكه واقعه نقل كړي ده خلاصه يي داده چي يو محدث دعلم زده كولو دپاره د دمشق يو مشهور عالم ته ورغلو ځوك چي په علم او فضل كي مشهور وو ليكن هغه به

---

[1] صحيح البخاري في الأذان ۵۳ (۶۹۱) . صحيح مسلم في الصلاة ۲۵ (۴۲۷) . سنن النسائي في الإمامة ۳۸ (۸۲۹) ، سنن ابن ماجه في الإقامة ۴۱ (۹۶۱) . (تحفة الأشراف : ۱۴۳۶۲) ، (وكذا ۱۴۳۸۰) مسند احمد (۲ في ۲۶۰ ، ۲۷۱ ، ۴۲۵ ، ۴۵۶ ، ۴۶۹ ، ۴۷۲ ، ۵۰۴) . سنن الدارمي في الصلاة ۷۲ (۱۳۵۵)

هميشه دپردي نه اخوا درس ورکولو يو ځل دي صاحب په ډير کوشش سره دهغه مخ اوليدونو چي ويې کتل دخر پشان وو کله چي يي دهغه نه ددي دوجي تپوس اوکړو نو ورته يي اووئيل کله چي ما دا حديث واوريدو ځوك چي دامام نه مخکي سر اوچتوي دهغه سربه دخر پشان کيږي نو ما دتجربي په طور داسي اوکړل نو الله تعالي زما مخ داسي کړو (روضة الصالحين)

****

٥٨ـ باب مَا جَاءَ فِي الَّذِي يُصَلِّي الْفَرِيضَةَ ثُمَّ يَؤُمُّ النَّاسَ بَعْدَ مَا صَلَّى

بيان دهغه چا چي يواځي فرض مونځ اوکړي او بيا دمونځ نه پس نورو خلقوته امامتي ورکوي

٥٨٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ "مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ كَانَ يُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَغْرِبَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى قَوْمِهِ فَيَؤُمُّهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَصْحَابِنَا الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، قَالُوا: إِذَا أَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ فِي الْمَكْتُوبَةِ وَقَدْ كَانَ صَلَّاهَا قَبْلَ ذَلِكَ أَنَّ صَلَاةَ مَنِ ائْتَمَّ بِهِ جَائِزَةٌ. وَاحْتَجُّوا بِحَدِيثِ جَابِرٍ فِي قِصَّةِ مُعَاذٍ، وَهُوَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ جَابِرٍ، وَرُوِي عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَالْقَوْمُ فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ وَهُوَ يَحْسِبُ أَنَّهَا صَلَاةُ الظُّهْرِ فَائْتَمَّ بِهِمْ، قَالَ: صَلَاتُهُ جَائِزَةٌ، وَقَدْ قَالَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ: إِذَا ائْتَمَّ قَوْمٌ بِإِمَامٍ وَهُوَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَهُمْ يَحْسِبُونَ أَنَّهَا الظُّهْرُ فَصَلَّى بِهِمْ وَاقْتَدَوْا بِهِ، فَإِنَّ صَلَاةَ الْمُقْتَدِي فَاسِدَةٌ إِذْ اخْتَلَفَ نِيَّةُ الْإِمَامِ وَنِيَّةُ الْمَأْمُومِ. [1]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي چي معاذ بن جبل رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دماښام مونځ کولو او بيا د خپل قوم خلقو ته واپس ورغلو او هغوئ ته به يي هم امامتي ورکوله.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي زمونږ دعلماؤ يعني دامام شافعي او احمد او اسحاق په دي باندي عمل دي دوئ وائي کله چي څوك په فرض مونځ کي دخپل قوم امامتي کوي او ددينه مخکي يي خپل فرض مونځ کړي وي نوځوك چي په ده پسي اقتداء کوي دهغوئ

---

[1] صحيح البخاری في الأذان ٦٦ (٧١١)، صحيح مسلم في الصلاة ٣٦ (٤٦٥)، سنن ابی داود في الصلاة ٦٨ (٥٩٩، ٦٠٠، و٧٩٠)، سنن النسائي في الإمامة ٣٩ (٨٣٢)، و٤١ (٨٣٣)، والافتتاح ٦٣ (٩٨٥)، و٧٠ (٩٩٨)، سنن ابن ماجه في الإقامة ٤٨ (٩٨٦)، (تحفة الأشراف: ٢٥١٤)، مسند احمد (٣ في ٢٩٩، ٣٠٨، ٣٦٩)، سنن الدارمي في الصلاة ٦٥ (١٣٣٣)

مونځ درست دي دوئ د معاذ رضي الله عنه دقصي نه چي دجابر په حديث كي مروي ده استدلال كړي دي ، دابو الدرداء رضي الله عنه نه مروي دي چي ددوئ نه ديو داسي كس په باره كي تپوس اوكړي شو څوك چي مسجد ته داخل شي او خلق دمازيګر په مونځ كي مشغول وي او هغه دا ګمان اوكړي چي دا ماسپخين دي او هغه دده اقتداء اوكړي (نو ايا مونځ يې جائزدي؟ اوكنه) ابو الدرداء په جواب كي اوونيل دده مونځ درست دي. داهل كوفه دبو جماعت قول دي څوك چي دكوم امام اقتداء كوي او هغه د مازيګر مونځ كوي او خلق دا اوګڼړي چي دي دماسپخين مونځ كوي او هغه دوئ ته مونځ وركړي او خلق دده په اقتداء كي مونځ اوكړي نو په داسي صورت كي دمقتدي مونځ فاسد دي ځكه چي دمقتدي نيت او دامام نيت مختلف شول.

د مقترض دپاره په متنفل پسې اقتداء كول درست نه دي

د احنافو په نزد د مقترض دپاره په متنفل پسې اقتداء كول جائز نه دي. دليل دا دې چي په دی مسئله كي د مقتدی حال اقوی دې.او امام اضعف دې.او وړاندې تير شوی دی چي اضعف الحال اقوی الحال ته امامتی نشی وركولې.

ځكه چي اقتداء نوم دي د بناء كولو.او بناء امر وجودی دې.امر عدمی نه دې.اوښكاره ده چي متابعت مفهوم وجودی دې.مفهوم سلبی نه دې.او د امر وجودی بناء په امر عدمی باندې صحيح نه ده.اوچونكه په ذكر شوې مسئله كي د امام په حق كي د فرضيت وصف معدوم دې.نوځكه بناء نه متحقق كيږی.او كله چي بناء كول نه متحقق كيږی.نو اقتداء به څنګه صحيح شی.

****

٥٩_ بَاب مَا ذُكِرَ مِنَ الرُّخْصَةِ فِي السُّجُودِ عَلَى الثَّوْبِ فِي الْحَرِّ وَالْبَرْدِ

په ګرمئ او يخنئ كي په كپړي دسجدي كولو داجازت بيان

٥٨٤- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: حَدَّثَنِي غَالِبٌ الْقَطَّانُ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالظَّهَائِرِ سَجَدْنَا عَلَى ثِيَابِنَا اتِّقَاءَ الْحَرِّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَدْ رَوَى وَكِيعٌ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. ([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي مونږ به كله په ماسپخين كي په نبي كريم صلي الله عليه وسلم پسي مونځ كولو نو دګرمۍ نه دبچ كيدو دپاره به مو پخپلو كپړو سجده كوله.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دجابر بن عبدالله او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٦٠_ باب ذِكْرِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الْجُلُوسِ فِي الْمَسْجِدِ بَعْدَ صَلاَةِ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ

دسهر دمونځ نه پس په مسجد كي د نمر ختلو پوري كيناستل مستحب دي

٥٨٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ قَعَدَ فِي مُصَلاَّهُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به كله دسحر مونځ اوكړو نو پخپله مسئله به ناست پاتي شو تردي چي نمر به راوختلو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

---

[1] _ صحيح البخاري في الصلاة ٢٢ (٣٨٥) . والمواقيت ١١ (٥٢٢) . والعمل في الصلاة ٩ (١٢٠٨) . صحيح مسلم في المساجد ٣٣ (٦٢٠) . سنن ابي داود في الصلاة ٩٣ (٦٦٠) . سنن النسائي في التطبيق ٥٩ (١١١٧) . سنن ابن ماجه في الإقامة ٦٤ (١٠٣٣) . (تحفة الأشراف : ٢٥٠) . سنن الدارمي في الصلاة ٨٢ (١٣٦)

[2] _ مسلم في المساجد ٥٢ (٢٨٦) . والفضائل ١٧ (٢٣٢٢) . سنن ابي داود في الصلاة ٣٠١ (١٢٩٤) . سنن النسائي في السهو ٩٩ (١٣٥٨) . (تحفة الأشراف : ٢١٦٨) . مسند احمد (٥ في ٩١، ٩٧، ١٠٠)

٥٨٦_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو ظِلَالٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى الْغَدَاةَ فِي جَمَاعَةٍ ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ" قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أَبِي ظِلَالٍ، فَقَالَ: هُوَ مُقَارِبُ الْحَدِيثِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَاسْمُهُ هِلَالٌ. ([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دسحر مونځ دجماعت سره اداء كړي او بيا كيني دالله ذكر جاري اوساتي تردي چي نمر ورباندي راوخيژي او بيا دهغي نه پس دوه ركعاتونه اوكړي نو ده ته به ديو حج او يوي عمري ثواب ملاؤ شي، انس بن مالك وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل پوره پوره يعني دحج او عمري پوره پوره ثواب به ورته وركړي شي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، ما دمحمد بن اسماعيل بخاري نه د ابو ظلال راوي باره كي تپوس اوكړو نو راته يي اوفرمائيل چي ابو ظلال مقارب الحديث دي محمد بن اسماعيل بخاري وائي دده نوم هلال دي.

تشريح : ددينه علماؤ استدلال كړى دى چي داشراق پوري په مسجد كي كيناستل كه چري څه عذر نه وي نو مستحب دي لكه چي درسول الله او دصحابه كرامو معمول نقل شوى دى علماء وائي دا ډير بركتي وخت دى په دي وخت كي دانسان دماغ حاضر وي او دا قيمتي وخت په ذكر او دعا او تلاوت كي تير شي نو ډيره بهتره خبره ده.

****

٦١_ باب مَا ذُكِرَ فِي الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ كي دا خوا ديخوا د كتلو د جواز او عدم جواز بيان

٥٨٧_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٤٣)

وَسَلَّمَ كَانَ "يَلْحَظُ فِي الصَّلَاةِ يَمِينًا وَشِمَالًا وَلَا يَلْوِي عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ خَالَفَ وَكِيعٌ، الْفَضْلَ بْنَ مُوسَى فِي رِوَايَتِهِ. (1)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله به د ځټ اړولو نه بغير په مونځ کي ښي او ګس طرف ته د سترګو په ګوټونو کي کتل

امام ترمذي وايي حديث حسن غريب دی.او وكيع راوي پخپل روايت کي د فضل بن موسي نه مخالفت کړی دی.

****

٥٨٨_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ عِكْرِمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْحَظُ فِي الصَّلَاةِ فَذَكَرَ نَحْوَهُ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَعَائِشَةَ. (2)

ترجمه : عكرمه وايي چي رسول الله به د ځټ اړولو نه بغير په مونځ کي ښي او ګس طرف ته د سترګو په ګوټونو کي کتل.

امام ترمذي وايي په دي باب کي د انس او عائشه نه هم احاديث مروي دي.

****

٥٨٩_ حَدَّثَنَا أَبُو حَاتِمٍ مُسْلِمُ بْنُ حَاتِمٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، قَالَ: قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا بُنَيَّ إِيَّاكَ وَالِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ، فَإِنَّ الِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ هَلَكَةٌ. فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَفِي التَّطَوُّعِ لَا فِي الْفَرِيضَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (3)

ترجمه : انس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم راته اوفرمائيل.اي بچيه مانځه کي اخو اديخوا کتو نه خان ساته ځکه چي په مانځه کي اخوا

---

1 _ سنن النسائي في السهو ١٠(١٢٠٢). (تحفة الأشراف: ٦٠١٢). مسند احمد (١/ في ٢٧٥، ٣٠٣)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٠١٢)

3 أخرجه: الترمذي ابواب الصلاة باب ما ذكر في الالتفات في الصلاة (٥٨٩). وقال: ((حديث حسن غريب)) وفي اسناده علي بن زيد بن جدعان ضعفوه ولكن للحديث شواهد.

دیخوا کتل تباهي ده که کتل ضروري وي نو په نفلو کي خير دی خو په فرضو کي هرګز مه کوری

امام ترمذي وايي حديث حسن غريب دی

لغات : هلك هلك هلاکا د ضرب او فتح او سمع نه معني پناه کيدل او هلاکيدل نيست نابود کيدل

تشريح : علماء وائي په مونځ کي يو طرف او بل طرف ته د کتو په وجه د مونځ په خشوع کي نقصان راځي ځکه چي دا کار په دي مونځ ګذار باندي شيطان کوي او شيطان خو انسان لره ضرور دبربادئ طرف ته بوتلل غواړي

اوکه داکار ضرور کول غواړئ يعني که صبر نشئ کولی نو په نفلي مونځونو کي يي کولی شئ خو په فرضي کي يي نشئ کولی علماء وائي چي په مونځ کي اخوا ديخوا کتل دمونځ خشوع ختموي دلته ترغيب ورکولی شي چي په مونځ کي اخوا ديخوا کتل پکار نه دي او که مجبورا کتلو ته ضرورت پيښ شي نو په فرض مونځ کي کتل نه دي پکار ځکه چي په دي کي زيات اهتمام او خشوع او خضوع پکار ده ځکه چي په قيامت کي به اول ددي تپوس کيږي په نفلي مونځ کي هم اخوا ديخوا کتل نه دي پکار مکروه دي مګر دفرض په مقابله کي کم دي نو په دي وجه په قدر دمجبوری په نوافلو کي اجازت شته

****

٥٩٠_ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ أَبِي الشَّعْثَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ: " هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه عائشي رضي الله عنها نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي دمانځه په حالت دسترګو په ګوټونو کي اخوا کتو تپوس اوکړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا دشيطان يوه پټه غوټه ده چي دبنده په مانځه يي وهي

امام ترمذي وايي چي دا حديث حسن غريب دی

---

1 ـ صحيح البخاري في الأذان ٩٣ (٧٥١) . وبدء الخلق ١١ (٣٢٩١) . سنن ابي داود في الصلاة ١٦٥ (٩١٠) . سنن النسائي في السهو ١٠ (١١٩٧) . (تحفة الأشراف : ١٧٦٦١) . مسند احمد (٦ في ١٠٦،٧٠)

لغات : الشيطان: شطنه شطنا معني مخالفت كول ، لري ، په رسئ تړل ، شطن في الارض معني داخليدل ، تشيطن معني شيطاني فعل كول جمع يي شياطين راځي.

تشريح : علماء وائي په مونځ كي يو طرف او بل طرف ته دكتو په وجه دمونځ په خشوع كي نقصان راځي او كه دكتو په وخت كي مخ دقبلي نه واړولى شي نو مونځ مكروه كيږي او كه سينه واړولى شي نو مونځ يي فاسديږي.

هو اختلاس يختلسه الشيطان: دا تختول دي چي تختوي يي دي لره شيطان مطلب دادى چي دچا په غفلت او ناخبرئ كي په انتهائي تيزئ سره دده څيز اوړي.كله چي څوك په مانځه كي اخوا ديخوا ګوري نو په دي وخت كي شيطان دمونځ كونكي دمونځ خشوع او خضوع تختوي او دده مونځ لره بي اثره ګرځوي.

****

٦٢ـ بَاب مَا ذُكِرَ فِي الرَّجُلِ يُدْرِكُ الإِمَامَ وَهُوَ سَاجِدٌ كَيْفَ يَصْنَعُ

كه يوكس امام په سجده كي ومومي نو څه به كوي

٥٩١ـ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُونُسَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هُبَيْرَةَ بْنِ يَرِيمَ، عَنْ عَلِيٍّ، وَعَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَا: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ وَالإِمَامُ عَلَى حَالٍ فَلْيَصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الإِمَامُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ، إِلَّا مَا رُوِيَ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. قَالُوا: إِذَا جَاءَ الرَّجُلُ وَالإِمَامُ سَاجِدٌ فَلْيَسْجُدْ وَلَا تُجْزِئْهُ تِلْكَ الرَّكْعَةُ إِذَا فَاتَهُ الرُّكُوعُ مَعَ الإِمَامِ. وَاخْتَارَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ أَنْ يَسْجُدَ مَعَ الإِمَامِ. وَذَكَرَ عَنْ بَعْضِهِمْ، فَقَالَ: لَعَلَّهُ لَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ فِي تِلْكَ السَّجْدَةِ حَتَّى يُغْفَرَ لَهُ. (١)

ترجمه : دعلي او معاذ بن جبل رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي څوك مونځ كولو دپاره راشي نوچه امام په كوم حالت كي بيامومي هم هغه عمل دي دي كوي چي كوم امام كوي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او مونږ هيڅوك داسي نه دي ليدلي چي دا يي مسند بيان كړي وي علاوه ددي سند نه، او په دي باندي داهل علمو عمل دي دوئ وائي كله

---

١ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٣٠٦، ١١٣٢٥)

چي څوك راشي او امام په سجده کي وي نو دي به ورسره هم سجده کوي ليکن کله چي دامام سره دده نه رکوع تيره شي نو رکعات به يي کافي نه وي. عبدالله بن مبارك هم دا قول خوښ کړي دي چي دامام سره به سجده کوي او دبعضي خلقو نه يي نقل کړي دي چي شايد هغوئ به ددي سجدي نه سر نه پورته کولو تردي چي مغفرت ورته اوشي

****

٦٣ـ بَاب كَرَاهِيَةِ أَنْ يَنْتَظِرَ النَّاسُ الإِمَامَ وَهُمْ قِيَامٌ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلاَةِ

دمونځ شروع کولو وخت د اودريدو نه پس دامام دا نتظار کولو دکراهت بيان

٥٩٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي خَرَجْتُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَنَسٍ وَحَدِيثُ أَنَسٍ غَيْرُ مَحْفُوظٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ أَنْ يَنْتَظِرَ النَّاسُ الإِمَامَ وَهُمْ قِيَامٌ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا كَانَ الإِمَامُ فِي الْمَسْجِدِ فَأُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَإِنَّمَا يَقُومُونَ إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ: قَدْ قَامَتِ الصَّلاَةُ. قَدْ قَامَتِ الصَّلاَةُ، وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ الْمُبَارَكِ.(1)

ترجمه : دابوقتاده رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي دمونځ دپاره اقامت اوکړي شي نو تاسو به هغه وخته پوري نه اودريږئ ترڅو پوري چي مو زه په راوتو ليدلي نه يم

امام ترمذي وائي دابوقتاده حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دانس رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي ليکن دهغه حديث غير محفوظ دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي يو جماعت دخلقو په ولاړه دامام انتظار کول مکروه ګڼرلي دي دبعضي علماؤ قول دي چي کله امام په مسجد کي وي او دمونځ دپاره اقامت اوکړي شي نو خلق به هله اودريږي کله چي مؤذن قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة اووائي . دابن مبارك هم دا قول دي

1 ـ صحيح البخاري في الأذان ٢٢ (٦٣٧)، و ٢٣ (٦٣٨)، والجمعة ١٨ (٩٠٩)، صحيح مسلم في المساجد ٢٩ (٦٠٣)، سنن ابي داود في الصلاة ٤٦ (٥٣٩)، سنن النسائي في الأذان ٤٢ (٦٨٨)، والإمامة ١٢ (٧٩١)، (تحفة الأشراف: ١٢١٠٦)، مسند احمد (٥ في ٣٠٤، ٣٠٧، ٣٠٨)، سنن الدارمي في الصلاة ٤٧ (١٢٩٦)

* * * * * * * * * * * * * * * *

٦٤ــ بَابُ مَا ذُكِرَ فِي الثَّنَاءِ عَلَى اللهِ وَالصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ الدُّعَاءِ

ددعا نه مخکې د الله تعالی حمد او په رسول الله صلاة او سلام وئیل

٥٩٣ــ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّي وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ مَعَهُ. فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ ثُمَّ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَلْ تُعْطَهْ، سَلْ تُعْطَهْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا الْحَدِيثُ رَوَاهُ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ آدَمَ مُخْتَصَرًا.[1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي چي ما مونځ کولو او نبي کريم صلي الله عليه وسلم موجود وو او ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم ورسره وو کله چي زه په قعده کيناستم نو اول ما دالله تعالي تعريف اوکړو او بيا مي په نبي کريم صلي الله عليه وسلم درود اووئيلو او بيا مي دخان دپاره دعا اوغوښتله نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اوغواړه تاته به درکولي شي ، اوغواړه تاته به درکولي شي

امام ترمذي وائي دعبدالله بن مسعود حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دفضاله بن عبيد رضي الله عنه نه هم يو روايت مروي دي. دا حديث احمد بن حنبل ديحي بن ادم نه مختصر نقل کړي دي

* * * * * * * * * * * * * * *

٦٥ــ بَابُ مَا ذُكِرَ فِي تَطْيِيبِ الْمَسَاجِدِ

دمسجدونو دخوشبويه کولو بيان

---

1 تفرد به المؤلف. (تحفة الأشراف: ٩٢٠٩). وانظر: مسند احمد (١/ في ٤٢٥، ٤٥٢)

٥٩٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُؤَدِّبُ الْبَغْدَادِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَامِرُ بْنُ صَالِحٍ الزُّبَيْرِيُّ هُوَ مِنْ وَلَدِ الزُّبَيْرِ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَاءِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ وَأَنْ تُنَظَّفَ وَتُطَيَّبَ". (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په محلو او كوڅو كي دمسجدونو جوړولو او ددي دپاك ساتلو او خوشبويه كولو حكم كړي دي

تشريح : مسلم روايت نقل كړى دى چي مساجد د الله په نزد احب البلاد مقامات دي:

عن ابي هريرة عن النبي ﷺ قال: ((أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا، وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا))

.رواه مسلم.

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ښارونو كي الله تعالي ته محبوب ځايونه ددوى مسجدونه دي او مبغوض ځايونه يې بازارونه دي

"احب البلاد الي الله مساجدها" يعني الله تعالي ته په تمامو ښارو او تمامو ځايونو كي بهترين ځايونه مسجدونه دي، ددي جملي مطلب دادى ځوك چي مسجد ته راتلل كوي نو الله تعالي ورباندي دخپل رحمت سورى كوي او ده ته دخير او هدايت رهنمائي كوي، همدا وجه ده چي په يو روايت كي راغلي دي "المساجد بيوت الله في الارض تضيء لاهل السماء كما تضيء نجوم السماء لاهل الارض" يعني مسجدونه په زمكه كي دالله تعالي كورونه دي دا اسمان والا ته داس پرقيږي لكه ځرنګه چي زمكي والا ته داسمان ستوري پرقيږي، ددينه علاوه په نورو ډيرو روايتونو كي هم دمسجدونو فضائل راغلي دي ليكن ددي په مقابل كي بازار هغه ځاي دى چرته چي دشيطان تسلط ډير زيات وي ليكن علماء وائي ددينه مراد هغه خلق دي ځوك چي بغير دكوم ضرورت او مقصد نه په بازار كي اوسيږي ليكن دضرورت په قدر بازار ته تلونكي په دي وعيد كي داخل نه دي

سوال په دنيا كي بد ځايونه نور هم ډير شته مثلا بت خانه ، شراب خانه وغيره ددوى تولو نه په بدو ځايونو تعبير ولي نه دى شوى

---

1 سنن ابي داود في الصلاة ١٣ (٣٥٥) . سنن ابن ماجه في المساجد ٩ (٧٥٨، ٧٥٩) . (تحفة الأشراف : ١٦٩٦٣) . مسند احمد (٦ في ١٢، ٢٧١)

جواب: شريعت چي دكومو مقاماتو جوړولو حكم كړى دى په دي كي بازار ناخوښه مقام دى پاتي شو بت خانه او شراب خانه وغيره نو ددي دجوړولو خو شريعت خو بالكل حكم نه دى كړى.

دعروه بن زبير رضي الله عنه حالات:

نوم عروه كنيه ابوعبدالله دپلار نوم زبير بن عوام دمور نوم اسماء بنت ابي بكر، دعروه ولادت عمر فاروق دخلافت په اخر يا دعثمان دخلافت په ابتداء كښ شوى وو (تهذيب التهذيب).

دده ورور عبدالله بن زبير دده په وينا عبدالملك دعبدالله بن زبير د دفن كولو حكم اوكړو عروه دعلم او عمل مجمع البحرين وو خكه چي دده پلار زبير بن عوام حواري رسول وو او دده نيكه ابوبكر صديق رضي الله عنه وو او دده ترور ام المومنين عائشه رضي الله عنها وه او دده مور اسماء ذات النطاقين وه دده ورور عبدالله هم داهل علمو صحابه كرامو نه وو. په ده كښ يو څو خصوصيات وو مثلا صبر او استقامت، عبادت او رياضت، صبر او شكر، ددنيا نه بي رغبتي او سخاوت وغيره دده ضرب المثل وو.

داحاديثو سره يي ډيره مينه وه چي دعائشه رضي الله عنها نه يي اكثر اوريدلي وو او هغه اعلم الناس وه (تهذيب التهذيب).

دام المومنين تمام علمي ذخيره يي محفوظ كړي وه پخپله فرمائي چي زما دترور دوفات نه څلور پنځه كاله مخكښ ما دهغي ټول علم حاصل كړى وو كه چري دا په دي وخت كښ مره وى نو ما به دهغي دكوم حديث په باقي پاتي كيدو افسوس نه وو كړى (تهذيب التهذيب).

په كال ۹۴ هجري كښ په مدينه كښ وفات شو (طبقات ابن سعد).

دده مزيد حالاتو دپاره لاندېني كتابونه مفيد دي ابن اسير، طبقات ابن سعد، تهذيب الاسماء، تذكرة الحفاظ ابن خلكان.

* *

٥٩٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، وَوَكِيعٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الحَدِيثِ الأَوَّلِ. (1)

ترجمه: عروه دخپل پلار نه روايت كوي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم باقي حديث دسابقه روايت پشان دي. امام ترمذي وائي دا حديث داولني حديث نه زيات صحيح دي.

---

1 ـ سنن ابي داود في الصلاة ۱۳ (۴۵۵). سنن ابن ماجه في المساجد ۹ (۷۵۸، ۷۵۹). (تحفة الأشراف: ۱۶۹۶۲). مسند احمد (٦ في ۱۲، ۲۷۱).

****

٥٩٦_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ. وقَالَ سُفْيَانُ: قَوْلُهُ بِبِنَاءِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ يَعْنِي الْقَبَائِلَ. (1)

ترجمه : په دي سند سره هم هشام بن عروه دخپل پلار نه روايت نقل کړي دي چه، باقي حديث يي دسابقه حديث پشان بيان کړو، سفيان وائي په کورونو يامحلو کي مسجدونو جوړولو نه مراد په قبائلو کي مسجدونه جوړول دي.

****

٦٦_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ صَلَاةَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنَى مَثْنَى

دشپي او د ورځي نفلي مونځونه دوه دوه رکعاته کولو بيان

٥٩٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَلِيٍّ الْأَزْدِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " صَلَاةُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنَى مَثْنَى ". قَالَ أَبُو عِيسَى: اخْتَلَفَ أَصْحَابُ شُعْبَةَ فِي حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ فَرَفَعَهُ بَعْضُهُمْ وَأَوْقَفَهُ بَعْضُهُمْ. وَرُوِي عَنْ عَبْدِ اللهِ الْعُمَرِيِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا، وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى " وَرَوَى الثِّقَاتُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ صَلَاةَ النَّهَارِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ كَانَ " يُصَلِّي بِاللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى وَبِالنَّهَارِ أَرْبَعًا " وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي ذَلِكَ فَرَأَى بَعْضُهُمْ أَنَّ صَلَاةَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنَى مَثْنَى، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، وَرَأَوْا صَلَاةَ التَّطَوُّعِ بِالنَّهَارِ أَرْبَعًا مِثْلَ الْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَغَيْرِهَا مِنْ صَلَاةِ التَّطَوُّعِ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَإِسْحَاق. (2)

---

[1] - سنن ابي داود في الصلاة ١٣ (٣٥٥) . سنن ابن ماجه في المساجد ٩ (٧٥٨، ٧٥٩) . (تحفة الأشراف : ١٦٩٦٣) . مسند احمد (٦ في ١٢، ٢٧١)

[2] - سنن ابي داود في الصلاة ٣٠٢ (١٢٩٥) . سنن النسائي في قيام الليل ٢٦ (١٦٦٧) . سنن ابن ماجه في الإقامة ١٧٢ (١٣٢٢) . (تحفة الأشراف : ٧٣٤٩) . مسند احمد (٢ في ٢٦، ٥١) . سنن الدارمي في الصلاة ١٥٥ (١٥٠٠)

ترجمه : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دشپې او د ورځې مونځونه دوه دوه ركعاته دي.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث كي دشعبه په شاګردانو كي اختلاف دي بعضو دا حديث مرفوع بيان كړي دي او بعضو موقوفا فرمائيلي دي، عبدالله عمري په سند دنافع عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي صحيح هغه دي كوم چي دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دشپې مونځ دوه دوه ركعاته دي، دا روايت ثقاتو د عبدالله بن عمر په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي په دي كي دوئ دورځي دمونځ ذكر نه دي كړي، دعبيدالله نه مروي دي هغوئ دنافع نه او نافع دابن عمر نه روايت نقل كړي دي چي هغه به دشپې دوه دوه ركعاتونه كول او دورځې به يي څلور څلور ركعاتونه كول په دي مسئله كي داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دي چي دشپې او دورځي دواړو نفلي مونځونه دوه دوه ركعاته دي همدا دامام شافعي او امام احمد قول دي او بعضي وائي چي دشپې مونځ دوه ركعاتي دي او دهغوئ په خيال دورځې نفلي مونځونه څلور ركعاتي دي مثلا دماسپخين نه مخكي څلور نفل ركعاتونه دي ، سفيان ثوري ابن مبارك او اسحاق هم دا قول اختيار كړي دي.

****

٦٧ـ بَاب كَيْفَ كَانَ تَطَوُّعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّهَارِ

د ورځې به د رسول الله (ص) نفلونه څنګه وو؟

٥٩٨ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، قَالَ: سَأَلْنَا عَلِيًّا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النَّهَارِ. فَقَالَ: إِنَّكُمْ لَا تُطِيقُونَ ذَاكَ. فَقُلْنَا: مَنْ أَطَاقَ ذَاكَ مِنَّا. فَقَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَاهُنَا كَهَيْئَتِهَا مِنْ هَاهُنَا عِنْدَ الْعَصْرِ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، وَإِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَاهُنَا كَهَيْئَتِهَا مِنْ هَاهُنَا عِنْدَ الظُّهْرِ صَلَّى أَرْبَعًا، وَصَلَّى أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَقَبْلَ الْعَصْرِ

أَرْبَعًا يَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَالنَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ".[1]

ترجمه : دعاصم بن ضمره رضي الله عنه نه مروي دي چي مونږ دعلي رضي الله عنه نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دورځي دمونځ باره کي تپوس اوکړو نو ويي فرمائيل تاسو ددي طاقت نه لرئ مونږ اوونيل په مونږ کي به څوك ددي طاقت لري؟ هغه اوفرمائيل کله چي به نمر دي طرف ته يعني مشرق طرف ته اوګرځيدو لکه مازيګر کي چي څنګه دي طرف يعني د مغرب طرف ته ګرځي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به دوه رکعاتونه اوکړل او کله چي به نمر مشرق طرف ته مائل شو لکه چي دي طرف (مغرب کي) دماسپخين وخت کي مائل کيږي نو څلور رکعاتونه به يي اوکړل او څلور رکعاتونه به يي دماسپخين دمونځ نه مخکي کول او دوه به يي وروسته کول او دمازيګر دمونځ نه مخکي به يي څلور رکعاتونه کول دهغو دوه رکعاتونو په مينځ کي به يي په مقربو فرشتو او په انبياؤ او رسولانو او په مومنانو او په مسلمانانو کي چي چا دده پيروي کړي وي دسلام نيت اوکړو او په دي سلام به يي فصل راوستلو.

****

٥٩٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: أَحْسَنُ شَيْءٍ رُوِيَ فِي تَطَوُّعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّهَارِ هَذَا. وَرُوِي عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ كَانَ يُضَعِّفُ هَذَا الْحَدِيثَ. وَإِنَّمَا ضَعَّفَهُ عِنْدَنَا وَاللَّهُ أَعْلَمُ. لِأَنَّهُ لَا يُرْوَى مِثْلُ هَذَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، وَعَاصِمُ بْنُ ضَمْرَةَ هُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ: قَالَ سُفْيَانُ: كُنَّا نَعْرِفُ فَضْلَ حَدِيثِ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ عَلَى حَدِيثِ الْحَارِثِ.[2]

---

1 سنن النسائي في الإمامة ٦٥ (٨٧٤، ٨٧٥). (تحفة الأشراف: ١٠١٣٤). مسند احمد (١ في ٨٥، ١٤٢، ١٦٠). وانظر أيضاما تقدم برقم ٤٢٤، و٤٢٩)

2 ـ سنن النسائي في الإمامة ٦٥ (٨٧٤، ٨٧٥). (تحفة الأشراف: ١٠١٣٤). مسند احمد (١ في ٨٥، ١٤٢، ١٦٠). وانظر أيضاما تقدم برقم ٤٢٤، و٤٢٩)

ترجمه : په دي سند سره هم دعلي رضي الله عنه نه دسابقه روايت هم معني روايت مروي دي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي، داسحاق بن ابراهيم بن راهويه قول دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دورځي د نفلو په سلسله كي په مروي روايتونو كي دټولو نه بهتر روايت همدا دي او عبدالله بن مبارك ددي حديث تضعيف كولو او زمونږ په خيال كي هغه صرف په دي وجه ددي حديث تضعيف كړي دي چي ددي پشان حديث دنبي كريم سلي الله عليه وسلم نه صرف په همدي سند (يعني دعاصم بن ضمره په واسطه دعلي رضي الله عنه نه) مروي دي، سفيان ثوري وائي مونږ دعاصم بن ضمره حديث صرف دحارث اعور په روايت پيژنو.

****

٦٨ــ بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّلاَةِ فِي لُحُفِ النِّسَاءِ

دسرو دپاره دښځو په څادرونو كي دمونځ كولو دكراهت بيان

٦٠٠ــ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ أَشْعَثَ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يُصَلِّي فِي لُحُفِ نِسَائِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُخْصَةٌ فِي ذَلِكَ. (1)

ترجمه : ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به دخپلو بيبيانو په څادرونو كي مونځ نه كولو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي اجازت هم مروي دي.

****

٦٩ــ بَابُ ذِكْرِ مَا يَجُوزُ مِنَ الْمَشْيِ وَالْعَمَلِ فِي صَلاَةِ التَّطَوُّعِ

په نفلي مونځ كي دګرځيدلو او كار كولو دجواز بيان

---

1 ــ سنن ابي داود في الطهارة ١٣٢ (٢٦٧) . والصلاة ٨٨ (٦٣٥) . سنن النسائي في الزينة ١١٥ (٥٣٦٨) . (تحفة الأشراف : ١٦٢٢١)

٦٠١_ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ بُرْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " جِئْتُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي الْبَيْتِ، وَالْبَابُ عَلَيْهِ مُغْلَقٌ، فَمَشَى حَتَّى فَتَحَ لِي ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مَكَانِهِ ". وَوَصَفَتِ الْبَابَ فِي الْقِبْلَةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي زه كور ته راغلم او رسول الله صلي الله عليه وسلم مونځ كولو او دروازه بنده وه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم راغلو او ماته يي دروازه پرانيستله او بيا خپل ځاي ته واپس لاړو. دام المؤمنين بيان دي چي ددوئ دروازه قبلي طرف ته وه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي.

تشريح : په دي مسئله دتمامو اهل علمو اتفاق دي چي عمل كثير مفسد دصلات دي او عمل قليل مفسد دصلات نه دي مگر دقليل او كثير په تعريف كي اختلاف دي يو قول دادي چي دقلت او كثرت دار مدار په رائي دمبتلا به بناء دي چي هغه ته كوم قليل ښكاري هغه قليل دي او چي كوم ورته كثير ښكاري هغه كثير دي ددي مزيد نور جوابات هم شته چي فقهاؤ ذكر كړي دي.

****

٧٠_ بَابُ مَا ذُكِرَ فِي قِرَاءَةِ سُورَتَيْنِ فِي رَكْعَةٍ

په يو ركعات كي د دوه سورتونو لوستلو بيان

٦٠٢_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ، قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ عَبْدَ اللَّهِ عَنْ هَذَا الْحَرْفِ غَيْرِ آسِنٍ أَوْ يَاسِنٍ، قَالَ: كُلَّ الْقُرْآنِ قَرَأْتَ غَيْرَ هَذَا الْحَرْفِ، قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: إِنَّ قَوْمًا يَقْرَءُونَهُ يَنْثُرُونَهُ نَثْرَ الدَّقَلِ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ، إِنِّي لَأَعْرِفُ السُّوَرَ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرُنُ بَيْنَهُنَّ، قَالَ: فَأَمَرْنَا عَلْقَمَةَ فَسَأَلَهُ،

---

1 _ سنن ابي داود في الصلاة ١٦٩ (٩٢٢) . سنن النسائي في السهو ١٣ (١٢٠٧) . (تحفة الأشراف : ١٦٤١٧) . مسند احمد (٦ في ١٨٣، ٢٣٤٠)

فَقَالَ: "عِشْرُونَ سُورَةً مِنَ الْمُفَصَّلِ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرُنُ بَيْنَ كُلِّ سُورَتَيْنِ فِي رَكْعَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه دابو وائل شقيق بن سلمه بيان دي فرمائي چي يو كس دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه د "غير اسن" لفظ او يا د "ياسن" لفظ په باره كي تپوس اوكړو نو هغوئ اوونيل ايا تا ددينه علاوه پوره قران لوستلي دي؟ هغه اوونيل هو، ابن مسعود رضي الله عنه اوونيل يو قوم داسي لوستلو لكه چي ځوك خرابي كجوري تيروي او دمرئ نه يي نه تيريږي، ما ته هغه متشابه سورتونه معلوم دي كوم چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم متصل لوستل. ابووائل وائي مونږ دعلقمه نه دتپوس كولو دپاره اوونيل نو هغه دابن مسعود رضي الله عنه نه تپوس اوكړو هغه اوونيل چي مفصل شل سورتونه دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په هر ركعات كي دوه دوه يوځاي كول او لوستل به يي، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٧١ـ بَاب مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْمَشْيِ إِلَى الْمَسْجِدِ وَمَا يُكْتَبُ لَهُ مِنَ الأَجْرِ فِي خُطَاهُ

مسجد ته دپيدل تلو او په هرقدم داجر ملاويدو بيان

٦٠٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ، سَمِعَ ذَكْوَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا تَوَضَّأَ الرَّجُلُ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ لَا يُخْرِجُهُ أَوْ قَالَ: لَا يَنْهَزُهُ إِلَّا إِيَّاهَا، لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رَفَعَهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَةً أَوْ حَطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي يو كس اودس اوكړي او په ښه شان سره اودس اوكړي او بيا دمونځ دپاره روان شي او ده لره صرف مونځ روان كړي وي او كه داسي يي اوونيل صرف مونځ ده لره پورته كړي وي نو هر يو قدم چي دي اخلي الله تعالي به دهغي په بدل كي دده درجه لوړوي او كه داسي يي اوونيل چي الله تعالي به دهر قدم په بدل كي دده يوه گناه محوه كوي

---

1 ـ صحيح البخاري في الأذان ١٠٦ (٧٧٥)، وفضائل القرآن ٦ (٤٩٩٦)، صحيح مسلم في المسافرين ٤٩ (٨٢٢)، سنن النسائي في الافتتاح ٧٥ (١٠٠٥، ١٠٠٦، ١٠٠٧) (تحفة الأشراف: ٩٢٤٨)، مسند احمد (١/ في ٣٨٠، ٤٢١، ٤٢٧، ٤٣٦، ٤٦٢، ٤٥٥)

2 ـ سنن ابن ماجه في المساجد ١٤ (٧٧٤) (تحفة الأشراف: ١٢٣٠٥)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٧٢ـ بَاب مَا ذُكِرَ فِي الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ أَنَّهُ فِي الْبَيْتِ أَفْضَلُ

دماښام دمونځ نه پس په كور كي نفل كول افضل دي

٦٠٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ الْبَصْرِيُّ ثِقَةٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ الْمَغْرِبَ، فَقَامَ نَاسٌ يَتَنَفَّلُونَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكُمْ بِهَذِهِ الصَّلَاةِ فِي الْبُيُوتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ حُذَيْفَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الْمَغْرِبَ فَمَا زَالَ يُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ حَتَّى صَلَّى الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ" فَفِي الْحَدِيثِ دِلَالَةٌ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي الْمَسْجِدِ.[1]

ترجمه : دكعب بن عجره رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دبني عبدالاشهل په مسجد كي دماښام مونځ اوكړو او څه كسان په نفلو اودريدل نورسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو دا مونځ په كور كي كول په خان باندي لازم كړئ.

امام ترمذي وائي دا حديث دكعب بن عجره په روايت غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او صحيح هغه روايت دي كوم چي دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دماښام دمونځ نه پس دوه ركعاتونه پخپل كور كي كول، دحذيفه رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دماښام مونځ اوكړو او بيا يي برابر په مسجد كي مونځ كول جاري اوساتل تر څو چي يي دماخوستن مونځ نه وو كړي تر هغه وخته پوري ، په دي حديث كي په دي خبره دلالت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دماښام دمونځ نه پس دوه ركعاتونه په مسجد كي اداء كړي وو.

كعب ابن عجره رضي الله عنه حالات

نوم كعب كنيه ابو محمد په يوه غزوه كي يي لاس كټ شوى وو او دسر ويخته يي ګنړ وو

[1] ـ سنن ابي داود في الصلاة ٣٠٤ (١٣٠٠) . سنن النسائي في قيام الليل ١ (١٦٠١) . (تحفة الأشراف : ١١١٠٧)

(طبقات ابن سعد).
دهجرت نه پس مسلمان شوی وو او دمسلمانیدو نه پس یې په تمامو غزواتو کې شرکت کړی دی په غزوه حدیبیه کې هم درسول الله صلي سره موجود وو دویختو دګنړوالي په وجه یې په سر کې دومره ډیري سپږي شوي وي چې په مخ به یې راروانې وې نو رسول الله ورته دویختو کټ کولو مشوره ورکړه نو بیا یې ددینه پس کټ کړل دده په سیرت کې دحق حمایت او حب رسول سر پهرست دي دکعب رضي الله عنه په اخلاقو کې دا دوه څیزونه ډیر روښانه دي چې یو ځل درسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو چې درسول الله رنګ دلوږې په وجه تغیر شوی وو نو دی فورا پوهه شو او دیهودي اوښ یې اوبه کولو ده به اوښ ته یوه بوکه اوبه په یوه کجوره اچولې کله چې یو څو کجوري ورسره جمع شوي نو هغه یې درسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کې حاضري کړي (الاصابه).
دهجرت په ۵۱ کال کې کله چې دده عمر ۷۵ کلونه وو په مدینه کې وفات شو او دروایتونو تعداد یې ۴۷ دی.

****

۷۳_ بَابُ مَا ذُكِرَ فِي الِاغْتِسَالِ عِنْدَ مَا يُسْلِمُ الرَّجُلُ

د اسلام قبلولو وخت کې د غسل کولو بیان

۶۰۵_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَغَرِّ بْنِ الصَّبَّاحِ، عَنْ خَلِيفَةَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ أَنَّهُ أَسْلَمَ. فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَالعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ يَسْتَحِبُّونَ لِلرَّجُلِ إِذَا أَسْلَمَ أَنْ يَغْتَسِلَ وَيَغْسِلَ ثِيَابَهُ. (۱)

ترجمه : دقیس بن عاصم رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چې ما اسلام قبول کړو او نبي کریم صلي الله علیه وسلم ما ته دبیرو په پاڼو کې په دخوټکیدلو اوبو دغسل کولو حکم اوکړو.
امام ترمذي وائي دا حدیث حسن دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او په دي باندي داهل علمو عمل دي دوئ وائي مستحب داده چې څوک په اسلام کې داخلیږي نو غسل

۱ _ سنن ابي داود في الصلاة ۳۰۴ (۳۵۵). سنن النسائي في قيام الليل ۱ (۱۸۸) (تحفة الأشراف : ۱۱۱۰۷)

دي اوکړي او خپلي جامي دي اووينځي، په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

تشريح : په اسلام کي د داخليدونکي دپاره دغسل په حکم کي دفقهاؤ دوه مذاهب دي

(۱) دامام ابو حنيفه او امام شافعي په نزد په اسلام کي د داخليدونکي دپاره غسل کول مستحب او مسنون دي

(۲) دامام مالك او امام احمد په نزد باندي امر دوجوب دپاره دي

او همدا مسئله مړي ته دغسل ورکولو باره کي هم ده چي مړي ته په غسل ورکولو کي دصابن داستعمال څه حکم دي واجب دي او که مسنون دي مذکوره اختلاف په دي کي هم دي

****

۷۴_ باب مَا ذُكِرَ مِنَ التَّسْمِيَةِ عِنْدَ دُخُولِ الْخَلَاءِ

بيت الخلاء ته د داخليدو وخت کي دبسم الله ونيلو بيان

۶۰۶_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ بَشِيرِ بْنِ سَلْمَانَ. حَدَّثَنَا خَلَّادٌ الصَّفَّارُ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ النَّصْرِيِّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " سَتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُهُمُ الْخَلَاءَ أَنْ يَقُولَ: بِسْمِ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِذَاكَ الْقَوِيِّ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْيَاءُ فِي هَذَا. (۱).

ترجمه دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دجناتو دسترګو او دانسانانو دشرمګاهونو په مينځ کي پرده داده چي کله په دوئ کي څوك اودس ماتي ته لاړ شي نو بسم الله دي اووائي

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي چي سند يي قوي نه دي. او په دي سلسله کي ډير څيزونه دانس رضي الله عنه په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

---

۱ _ سنن ابي داود في الطهارة ۱۳۱ (۳۵۵). سنن النسائي في الطهارة ۱۲۶ (۱۸۸). سنن ابن ماجه في الطهارة ۹ (۲۹۷). (تحفة الأشراف: ۱۰۰۱۱)

****

٧٥ــ بَابُ مَا ذُكِرَ مِنْ سِيمَا هَذِهِ الأُمَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ آثَارِ السُّجُودِ وَالطُّهُورِ

دقيامت په ورځ دامت محمدي پيژندګلي دسجدو او داودس په نشا ناتو کيږي

٦٠٧ــ حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ أَحْمَدُ بْنُ بَكَّارٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، قَالَ: قَالَ صَفْوَانُ بْنُ عَمْرٍو، أَخْبَرَنِي يَزِيدُ بْنُ خُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرٌّ مِنَ السُّجُودِ مُحَجَّلُونَ مِنَ الْوُضُوءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن بسررضي الله عنه نه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دقيامت په ورځ به زما دامت دخلقو تندي دسجدو کولو په وجه او لاسونو خپو دوينځلو په وجه پرقيږي.

امام ترمذي وائي عبدالله بن بسر په روايت دا حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي

دعبدالله بن بسر رضي الله عنه حالات:

نوم عبدالله دپلار نوم بسر او د مازن قبيلي سره يي تعلق وو دده مور او پلار او ورور چي علي دی او دده خور صحماء ټولو ته رسول الله صلي الله عليه وسلم دملاقات شرف حاصل شوی دی رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوئ دپاره دعمر د اوږدوالي دعا غوښتلي وه ٥٠ روايات ورنه منقول دي چي په بخاري او مسلم کي يو يو ذکر شوي دي.

اصحاب سير ليکلي دي چي دده مرګ ناڅاپي داودس په وخت کي واقع شو دده دپاره نبي کريم صلي الله عليه وسلم دعمر داوږدوالي دپاره دعا غوښتلي وه نو ځکه يي عمر ډير اوږد وو چي په شام ياحمص کي په ٨٨هجري کي وفات شو او عمر يي ٩٤ کلونو ته رسيدو او دبعضو په نزد دده عمر سل کاله وو (تهذيب التهذيب).

٧٦ــ بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ التَّيَمُّنِ فِي الطُّهُورِ

اودس دښي طرف اندامونو وينځلو نه شروع کول مستحب دي

٦٠٨ــ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ أَبِي الشَّعْثَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُحِبُّ التَّيَمُّنَ فِي طُهُورِهِ إِذَا تَطَهَّرَ، وَفِي تَرَجُّلِهِ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٢٠٤)

إِذَا تَرَجَّلَ وَفِي انْتِعَالِهِ إِذَا انْتَعَلَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الشَّعْثَاءِ اسْمُهُ سُلَيْمُ بْنُ أَسْوَدَ الْمُحَارِبِيُّ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به كله اودس كولو نو پخپل اودس كي او چي كله به يي ويخته گومنزول نو په گومنزولو كي به يي او چي كله به يي پيزار پخپو كول نو په پيزار خپو كولو كي به يي دښي طرف نه شروع كول خوښول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.اود ابو الشعثاء نوم سليم بن اسود محاربي دی.

****

٧٧- باب قَدْرِ مَا يُجْزِئُ مِنَ الْمَاءِ فِي الْوُضُوءِ

داودس دپاره دځومره اوبو استعمال كافي دي

٦٠٩_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، عَنِ ابْنِ جَبْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " يُجْزِئُ فِي الْوُضُوءِ رِطْلَانِ مِنْ مَاءٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ عَلَى هَذَا اللَّفْظِ، وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَبْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ " يَتَوَضَّأُ بِالْمَكُّوكِ وَيَغْتَسِلُ بِخَمْسَةِ مَكَاكِيَّ " وَرُوِيَ عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَبْرٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ " يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ " وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ. (2)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اودس كي دوه رطله اوبو استعمال كافي دي.

---

1 ـ صحيح البخاری في الوضوء ٣١ (١٦٨) ، والصلاة ٤٧ (٤٢٦) ، والأطعمة ٥ (٥٣٨٠) ، واللباس ٣٨ (٥٨٥٣) ، و٧٧ (٥٩٢٦) . صحيح مسلم في الطهارة ١٩ (٢٦٨) ، واللباس ٢٢ (٢٠٩٧) . سنن ابی داود في اللباس ٤٣ (٤١٤٠) . سنن النسائی في الطهارة ٨٩ (١١٢) ، والغسل ١٧ (٤١٩) ، والزينة ٦٢ (٥٠٦٣) . سنن ابن ماجه في الطهارة ٤٢ (٤٠١) . (تحفة الأشراف : ١٧٦٥٧) . مسند احمد (٦ في ٩٤، ١٣٠، ١٤٧، ١٨٨، ٢٠٢، ٢١٠) . والمؤلف في الشمائل ١٠ (٨٠)

2 ـ تفرد بهذا اللفظ (تحفة الأشراف : ٩٦٣)

امام ترمذي وائي دا حديث په دي الفاظو غريب دي مونږ ته صرف دشريك په سند معلوم دي. شعبه دعبدالله بن عبدالله نه او هغه دانس بن مالك نه نقل كړي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم په يو مكوك اوبو اودس او په پنځه مكوك اوبو غسل كول.

سفيان ثوري په سند دعبدالله بن عيسي عن عبدالله بن جبير عن انس روايت نقل كړي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم به په يو مد اوبو اودس او په يو صاع اوبو غسل كولو دا روايت دشريك دروايت نه زيات صحيح دي.

تشريح : مكوك د دوه رطلونو په مقدار د يوي خاص پيمانې نوم دی.

* *

٧٨_ باب مَا ذُكِرَ فِي نَضْحِ بَوْلِ الْغُلَامِ الرَّضِيعِ

دپئ خوړونكي ماشوم دمتيازو داوبو پونه كول كافي دي

٦١٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ. حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي حَرْبِ بْنِ أَبِي الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ فِي بَوْلِ الْغُلَامِ الرَّضِيعِ: "يُنْضَحُ بَوْلُ الْغُلَامِ، وَيُغْسَلُ بَوْلُ الْجَارِيَةِ". قَالَ قَتَادَةُ: وَهَذَا مَا لَمْ يَطْعَمَا فَإِذَا طَعِمَا غُسِلَا جَمِيعًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، رَفَعَ هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ قَتَادَةَ، وَأَوْقَفَهُ سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (١)

ترجمه : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دپئ خوړونكي ماشوم دمتيازو باره كي اوفرمائيل دهلك په متيازو دي داوبو پونه اوكړي شي او دجينئ متيازي دي اووينځلي شي، قتاده وائي دا حكم هغه وخت كي دي كله چې دواړه خوراك شروع كړي نه وي مګر چې خوراك شروع كړي بيا به ددواړو متيازي وينځلي شي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، هشام دستوايي دا حديث دقتاده نه نقل كړي دي او سعيد بن ابو عروبه دقتاده نه موقوفا نقل كړي دي او هغوئ دا مرفوع كړي نه دي

* *

٧٩_ باب مَا ذُكِرَ فِي مَسْحِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ نُزُولِ الْمَائِدَةِ

---

1 سنن ابي داود في الطهارة ١٣٤ (٣٧٧) . سنن ابن ماجه في الطهارة ٧٧ (٥٢٥) . (تحفة الأشراف : ١٠١٣١) . مسند احمد ا في٩٧)

دسورة مائدي د نزول نه پس هم د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په موزو با ندي دمسح كولو بيان

٦١١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ مُقَاتِلِ بْنِ حَيَّانَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، قَالَ: رَأَيْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ، قَالَ: فَقُلْتُ لَهُ فِي ذَلِكَ، فَقَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ". فَقُلْتُ لَهُ: أَقَبْلَ الْمَائِدَةِ أَمْ بَعْدَ الْمَائِدَةِ، قَالَ: مَا أَسْلَمْتُ إِلَّا بَعْدَ الْمَائِدَةِ.(1)

ترجمه: شهر بن حوشب وائي ما جرير بن عبدالله رضي الله عنه اوليدو چي اودس يي اوكړو او په موزو يي مسح اوكړه چنانچه ما ورنه په دي باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چي اودس يي اوكړو او پخپلو دواړو موزو يي مسح اوكړه ما ورنه تپوس اوكړو چي دا دسورة المائده دنزول نه دمخكي وخت خبره ده او كه ددي دنزول نه پس؟ هغوئ اوفرمائيل ما خو دسورة مائدي دنزول نه پس اسلام قبول كړي دي.

دشهر بن حوشب رضي الله عنه حالات:

نوم شهر دپلار نوم حوشب دی او مشهور تابعي دی دخپلي زماني دلويو علماؤ دجملي نه دی دعثمان بن عفان رضي الله عنه دخلافت په زمانه كي پيدا شوی وو او انتهائي متقي انسان وو. وئيلی شوي دي چي يو واده ته تلی وو او هلته ګاني وئيلی كيدي نو فورا روان شو. امام احمد بن حنبل وائي چي پخپل ښار كي ثقه دی دده روايات صحيح دي هغه همدا خبره معاويه بن صالح، احمد بن زبيرپه باره كي هم كړي ده،او يحيي بن معين هم دده په باره كي كړی ده په ١١٢ هجري كي وفات شوی دی صرف دوه روايتونه ورنه منقول دي

****

٦١٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا نُعَيْمُ بْنُ مَيْسَرَةَ النَّحْوِيُّ، عَنْ خَالِدِ بْنِ زِيَادٍ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُقَاتِلِ بْنِ حَيَّانَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ.(2)

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٢١٣)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٢١٣)

ترجمه : په دي سند سره هم دخالد بن زياد نه دسابقه روايت هم معني روايت مروي دي.
امام ترمذي وايئ دا حديث غريب دي مونږ يي صرف په دي مضمون دمقاتل بن حيان په سند پيژنو چي هغوئ دا د شهر بن حوشب نه نقل کړي دي.

****

٨٠ـ باب مَا ذُكِرَ فِي الرُّخْصَةِ لِلْجُنُبِ فِي الأَكْلِ وَالنَّوْمِ إِذَا تَوَضَّأَ

جنب چي اودس اوکړي نوهغه ته دخوراک کولو او اوده کيدلو اجازت دي

٦١٣ ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ عَمَّارٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَخَّصَ لِلْجُنُبِ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَشْرَبَ أَوْ يَنَامَ أَنْ يَتَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعمار رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم جنب ته چي کله خوراک څښاک يا اوده کيدل غواړي ددي خبري اجازت ورکړي دي چي دي دي د مونځ دپاره د اودس پشان اودس اوکړي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٨١ـ باب مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ

دمونځ دفضائلو بيان

٦١٤ ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْقَطَوَانِيُّ الْكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى. حَدَّثَنَا غَالِبٌ أَبُو بِشْرٍ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ عَائِذٍ الطَّائِيِّ، عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُعِيذُكَ بِاللَّهِ يَا كَعْبَ بْنَ عُجْرَةَ مِنْ أُمَرَاءَ يَكُونُونَ مِنْ بَعْدِي، فَمَنْ غَشِيَ أَبْوَابَهُمْ فَصَدَّقَهُمْ فِي كَذِبِهِمْ وَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ. فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ وَلَا يَرِدُ عَلَيَّ الْحَوْضَ، وَمَنْ غَشِيَ أَبْوَابَهُمْ أَوْ لَمْ يَغْشَ فَلَمْ يُصَدِّقْهُمْ فِي كَذِبِهِمْ وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ فَهُوَ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ وَسَيَرِدُ عَلَيَّ الْحَوْضَ. يَا كَعْبَ بْنَ عُجْرَةَ الصَّلَاةُ بُرْهَانٌ وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ حَصِينَةٌ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ. يَا كَعْبَ بْنَ عُجْرَةَ إِنَّهُ لَا يَرْبُو لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ

---

[1] سنن ابي داود في الطهارة ٨٩ (٢٢٣). (تحفة الأشراف: ١٠٣٤١)

سُحْتٍ إِلَّا كَانَتِ النَّارُ أَوْلَى بِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، مِنْ هَذَا الْوَجْهِ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُوسَى، وَأَيُّوبُ بْنُ عَائِذٍ الطَّائِيُّ يُضَعَّفُ، وَيُقَالُ: كَانَ يَرَى رَأْيَ الْإِرْجَاءِ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَلَمْ يَعْرِفْهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُوسَى وَاسْتَغْرَبَهُ جِدًّا.

([1])

ترجمه : دكعب بن عجره رضي الله عنه نه مروي دي چي ماته نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي كعب زه تا لره په الله تعالي باندي دداسي اميرانو او حاكمانو نه پناه غواړم كوم چي به زما نه پس راځي څوك چي ددوئ دروازو ته لاړو او ددوئ د دروغو تصديق يي اوكړو او ددوئ سره يي ددوئ په ظلم كي تعاون اوكړو نو هغه به زما د امت نه نه وي او نه زه ددوئ ډلي نه يم او نه به هغوئ په حوض كوثر كي ماته راځي او كه څوك ددوئ دروازي ته لانړو او نه يي ددوئ د دروغو تصديق اوكړو او نه يي دظلم په معامله كي ددوئ مدد اوكړو داسي كسان زمانه دي او زه ددوئ نه يم او ډيره نژدي ده چي هغوئ به په حوض كوثر كي ماته راشي. او اي كعب! مونځ دليل دي او روژه مضبوط ډال دي او صدقه ګناهونو لره داسي مړه كوي څنګه چي اوبه اور لره مړكوي او اي كعب كومه غوښه چي دحرامو نه جوړه شوي وي اور دهغي دپاره زيات مناسب دي.

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند حسن غريب دي او مونږ يي صرف دعبيدالله بن موسي په سند پيژنو، ايوب بن عائذ طائي ضعيف دي او وئيلي شوي دي چي دهغه خيالات او عقائد دمرجئه قبيلي سره برابريدل ،ما دامام بخاري نه ددي حديث باره كي تپوس اوكړو نو هغه ته صرف دعبيدالله بن موسي سند معلوم وو او هغه دا روايت ډير غريب اوګڼړلو

****

٦١٥ـ وقَالَ مُحَمَّدٌ: حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُوسَى، عَنْ غَالِبٍ بِهَذَا. ([2])

ترجمه : امام بخاري وائي مونږ دا روايت صرف دابن نمير په سند پيژنو چي هغه دعبيدالله بن موسي نه نقل كړي دي او عبيدالله دغالب نه نقل كړي دي.

****

٨٢ـ باب مِنْهُ

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١١٠٩)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١١٠٩)

دمونځ دفضائلو متعلق يو بل باب

٦١٦ ـ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الكِنْدِيُّ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الحُبَابِ، أَخْبَرَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنِي سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ، فَقَالَ: "اتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ وَصَلُّوا خَمْسَكُمْ وَصُومُوا شَهْرَكُمْ وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ". قَالَ: فَقُلْتُ لِأَبِي أُمَامَةَ مُنْذُ كَمْ سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الحَدِيثِ، قَالَ: سَمِعْتُهُ وَأَنَا ابْنُ ثَلَاثِينَ سَنَةً. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دسليم بن عامر بيان دي فرمائي چي ما دابو امامه رضي الله عنه نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دحجة الوداع دخطبي په موقع اوريدلي دي فرمائيل يي چي "تاسو دخپل رب نه په ويره کي اوسئ او پنځه وخته مونځ کوئ او درمضان دمياشتي روژي نيسئ او دخپل مال زکوة اداء کوئ او دامير اطاعت کوئ ددي عملونو په کولو به تاسو دخپل رب په جنت کي داخل شئ" ما دابو امامه رضي الله عنه نه تپوس اوکړو تا دڅو کالو په عمر کي دا حديث درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي وو؟ ابو امامه اوفرمائيل ما دهغوئ نه دا حديث هغه وخت اوريدلي وو کله چي زما عمر ديرش کاله وو. امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

لغات: يخطب: خطب يخطب دنصر نه په معني دوعظ او تقرير او نصيح کولو اوخطبي ورکولو دي. ادّوا: ادي اديا د ضرب نه په معني د ادا کولو او رسيدلو دي.

امراء: جمع دامير ده په معني دحکم کونکي او سردار دقوم.

تشريح: يخطب في حجة الوداع، يعني رسول الله په حجة الوداع کي خطبه ورکوله حجة الوداع ورته ځکه وائي چي دودع معني رخصتول دي او رسول الله صلي الله عليه وسلم هم ددي حج نه پس ددنيا نه رخصت شوي دي دي حج ته حجة الاسلام هم وئيلي شي.

اتقوا الله دالله نه ويريږئ ځکه چي تقوي دتمامو اوامرو ادا کولو او نواهي نه دمنع کيدلو دپاره

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٨٦٨)

يو اکسیر دي
واطيعوا امرائكم تدخلوا جنة ربكم ، يعني دخپلو اميرانو اطاعت اوکړئ نو دخپل رب جنت ته په داخل شئ علماؤ ليکلي دي کله چي دامير اطاعت په شرعي طريقه نافذ شي نو په جائزو کارونو کي به يي اطاعت ضروري وي البته که دناجائز کار حکم اوکړي نو دهغي منل به جائز نه وي او په دي خبره امام نووي اجماع نقل کړي ده ددي حديث نه دا هم معلومه شوه چي کله امير دامارت دشرائطو سره منتخب کړي شي نو بيابه دده دامارت نه بغاوت کول جائز نه وي ترڅو چي ددي امير نه دکفر بواح ظهور نه وي شوي

****

كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

عبادات په درې قسمه دی (۱) بدنی لکه مونځ. روژه (۲) مالی: لکه زکاة (۳) ددې دواړو نه مرکب لکه حج. مګر د کتاب الصلاه نه پس کتاب الزکاة ځکه ذکرکړې شو چی په دې ترتیب کي د الله تعالی د کلام اود رسول اللهﷺ د کلام د دواړو اقتداء کیږی لکه: اقيموا الصلاة واتوا الزكوٰة . ورکوی.

او "بنى الاسلام على خمس شهادة أن لاإله إلا الله وأن محمدًا رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة. ألحديث"

د زکاة لغوی معنی د طهارت ده.

د شریعت په اصطلاح کي زکاة وائی د نصاب حولی یو جزء فقیر او دده په شان د بل په ملك کي ورکولو ته.اوبعض وائی چی زکاة د مال د هغه مقدار نوم دې.کوم چی د فقیر دپاره اوبنکلې شوې وی.

دزکاة فرضیت په کتاب الله.د رسول اللهﷺ په احادیثو .او په اجماع امت درې واړو سره ثابت دي.کتاب الله مثلاً الله تعالی فرمائیلي دی: واتوا الزكاة.زكواة

او په سنت نبوي سره هم ثابت دي او متعدد احاديث وربانديِ دلالت کوي مثلا:

(۱) "عن سليم بن عامر قال سمعت أبا امامة(رضي الله عنه) يقول سمعت رسول اللهﷺ يقول فى حجة الوداع إتقوا الله وصلوا خمسكم وصوموا شهركم وأدوا زكاة أموالكم وأطيعوا إذا امرتم تدخلوا جنة ربكم قال قلت لأبي امامة منذ كم سمعت هذا من رسول اللهﷺ فقال سمعته وأنا إبن ثلاثين سنة" (رواه الترمذى)

سليم بن عامر(رضي الله عنه) فرمائی چی ما د ابوامامه(رضي الله عنه) نه واورېدل.فرمائيل ئې چی ماد رسول اللهﷺ نه دحجة الوداع په موقع باندې دا واورېدل چی فرمائيل يې چی د الله تعالى نه او يرېږئ.اوخپل پنځه واړه مونځونه اداکوئ.اود رمضان روژې نيسئ.اود خپلو مالونو زکاة ورکوئ.اوکله چی تاسوته حکم اوکړئ شی.نواطاعت کوئ د خپل رب.جنت ته به داخل شئ.سليم وائی چی ما ابوامامه(رضي الله عنه) ته اووئيل.تاسو دا د رسول اللهﷺ نه په څومره عمرکي اوريدلی دی؟ ابوامامه(رضي الله عنه) اووئيل چی ما دا د ديرشو کالو په عمرکي اوريدلی دی.

(۲) عن ابن عمر (رضي الله عنه مرفوعاً بني الإسلام على خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله وأقام الصلاة وإيتاء الزكاة وحج البيت وصوم رمضان (رواه احمد والشيخان والترمذي والنسائي)

دذكات شرائط:

(۱) د زكاة د وجوب سبب د نصاب نامی مالك كيدل دی.اوددې شرطونه

(۲) د صاحب نصاب ازادکيدل.

(۳) بالغ کيدل

(۴)عاقل کيدل

(۵)مسلمان کيدل

(۶)د قرض نه فارغ کيدل

(۷)اوپه مال نصاب باندې د کال تيريدل دی.

****

١ــ بَاب مَا جَاءَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَنْعِ الزَّكَاةِ مِنَ التَّشْدِيدِ

دزکواة په نه ورکولو وعيد

٦١٧ــ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ التَّمِيمِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: جِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ، قَالَ: فَرَآنِي مُقْبِلًا، فَقَالَ: " هُمُ الأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ " قَالَ: فَقُلْتُ: مَا لِي لَعَلَّهُ أُنْزِلَ فِيَّ شَيْءٌ، قَالَ: قُلْتُ: مَنْ هُمْ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هُمُ الأَكْثَرُونَ إِلَّا مَنْ قَالَ: هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا "، فَحَثَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ، ثُمَّ قَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَا يَمُوتُ رَجُلٌ فَيَدَعُ إِبِلًا أَوْ بَقَرًا لَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهَا، إِلَّا جَاءَتْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا كَانَتْ

وَأَسْمَنَهُ، تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا، كُلَّمَا نَفِدَتْ أُخْرَاهَا عَادَتْ عَلَيْهِ أُولاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مِثْلُهُ، وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "لُعِنَ مَانِعُ الصَّدَقَةِ" وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ، عَنْ أَبِيهِ وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَاسْمُ أَبِي ذَرٍّ جُنْدَبُ بْنُ السَّكَنِ وَيُقَالُ ابْنُ جُنَادَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُنِيرٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ مُوسَى عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ عَنْ حَكِيمِ بْنِ الدَّيْلَمِ عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ مُزَاحِمٍ، قَالَ: "الأَكْثَرُونَ أَصْحَابُ عَشَرَةِ آلَافٍ"، قَالَ: وَعَبْدُ اللهِ بْنُ مُنِيرٍ مَرْوَزِيٌّ رَجُلٌ صَالِحٌ.

([1])

ترجمه : د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او هغه دكعبي د ديوال سوري ته ناست وو زه چي يي دراتلو په حال كي اوليدلم نو ويي فرمائيل دكعبي په رب مي دي قسم وي دقيامت په ورځ به همدا خلق په خساره كي وي ما په زړه كي اووئيل شايد زما باره كي به څه نازل شوي وي ما عرض اوكړو چي كوم خلق زما مور او پلار دي په تا قربان شي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل همدا خلق څوك چي ډير مال والا دي مگر علاوه دهغه خلقو نه څوك چي داسي داسي اوكړي، او پخپلو دواړو لاسونو يي د ځان په مخامخ او گس او ښي طرف ته دلپي ډكولو اشاره اوكړه او بيا يي اوفرمائيل په هغه ذات مي دي قسم وي دچا په اختيار كي چي زما روح دي هر څوك چي اوښه او غوا پريږدي او مړ شي او زكوة يي اداء كړي نه وي نو دقيامت په ورځ به دا د خپل مخكني حالت نه په زيات دروند حالت كي راشي او پخپلو ښكرو به ده لره اووهي او په خپو به ورباندي اوگرځي هر كله چي اخري څاروي هم په ده باندي تير شي نو اولني به ورباندي دوباره راوگرځي تردي چي دخلقو مينځ كي به فيصله اوكړي شي.

امام ترمذي وائي دابوذر رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم ددي روايت هم معني روايت مروي دي او دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي په زكواة منع كونكي باندي لعنت شوي دي، دا حديث قبيسه بن حلف دخپل پلار نه او هغه دده دنيكه نه نقل كړي دي، دارنگي دجابر بن عبدالله او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه

---

[1] ـ صحيح البخاري في الزكاة ٣٢ (١٣٦٠). الأيمان والنذور ٣ (٦٦٣٨). سنن النسائي في الزكاة ٢ (٢٤٤٢). و١١ (٢٤٥٨). سنن ابن ماجه في الزكاة ٢ (١٧٨٥). (تحفة الأشراف: ١١٩٨١). وأخرجه صحيح مسلم في الزكاة ٩ (٣٢ في ٩٣).

نه هم په دي باب کي احاديث مروي دي، ضحاك بن مزاحم وائي د "الاكثرون" نه مراد هغه خلق دي دچا سره چي لس زره درهم يا ديناروي.

تشريح : په قران کريم کي د زکاة ذکر په ۳۳ مقاماتو کي راغلی دی ، د زکاة د فرضيت نه منکر کافر دی، او زکاة نه ادا کونکی فاسق او فاجر دی، د زکاة شرائط مونږ په ماقبل صفحاتو کي ذکر کړل.

د زکاة بعضي رموز او اسرار په ورکونکي پوري خاص دي او بعضي په اخستونکي پوري خاص دي ، او خصوصيات د زکاة په اخستونکي او ورکونکي کي مشترك دي.

په زکاة کي د د زکاة ورکونکي متعلق اسرار دادي:

(۱) په زکاة ورکولو سره انسان کي بخل کميږي.

(۲) په زکاة ورکولو سره د الله تعالي قرب حاصليږي

(۳)په زکاة ورکولو سره د الله د توحيد اقرار کيږي

(۴)په زکاة ورکولو سره په مال کي برکت پيدا کيږي. او ددي په سبب په مال کي کمي نه راځي

(۵)په زکاة ورکولو سره باقي پاتي شوی مال حلاليږي او پاکيږي.

په زکاة کي د د زکاة اخستونکي متعلق اسرار دادي:

(۱)په زکاة ورکولو سره د فقيرانو او مسکينانو اعانت کيږي

(۲)په زکاة ورکولو سره خلق اسلام قبلولو ته راغب کيږي، وغيره.

طبراني په الاوسط کي او ابن عدي په الکامل کي اوابن مردويه اوبيهقي په سنن کي دابن عمر رضي الله عنهما په روايت سره درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان نقل کړي دي چي دکوم مال زکاة ادا کړي شي هغه کنز نه دي يعني په کوم کنز چي دعذاب وعيد راغلي دي هغه نه دي.

بغوي ليکلي دي چي مجاهد دابن عباس رضي الله عنهما بيان نقل کړي دي چي کله ايت کريمه يکنزون الذهب والفضة نازل شو نومسلمانانوته داحکم مشکل ښکاره شو او ويي وئيل داسي څوك کولي شي چي خپلو بچوته څه پري نږدي نو ددي تذکره عمرفاروق رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوکړه نورسول الله اوفرمائيل زکاة خو الله تعالي هم ددي دپاره فرض کړي دي چي ستاسوباقي مال پاك شي (يعني دزکاة اداکوا و نه پس باقي مال جمع کول ممنوع نه دي اوبغير دذينه مال ناپاك دي) داحديث ابوداود ، ابويعلي، ابن ابي حاتم، حاکم، ابن مردويه، اوبيهقي هم دابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړي دي مګر پدي کي دومره اضافه ده چي دميراث دحصو فرضيت خو شوي دي ددي دپاره چي ستاسو دپاتي شوو وارثانودپاره دا مال ترکه شي ، بغوي ليکلي دي چي ابن عمر رضي الله عنهما فرمائيلي دي

زه ددي خبري پرواه نه ساتم چي که زماسره داحد دغر برابر سره زر وي خوښدي شرط چي زه يي اوشميرم اوزکاة يي ادا کړم اودالله تعالي په اطاعت عمل اوکړم.

ابن ابي حاتم اوابن حبان او ابوشيخ دعلي رضي الله عنه قول نقل کړي دي چي دترکي کوم مال دڅلورزره درهمو نه زيات وي هغه کنز دي اوزکاة يي اداشوي وي اوکه نه وي ادا شوي او کوم مال چي ددي مقدار نه کم وي هغه نفقه ده.

دابوذر رضي الله عنه نه مرفوع حديث مروي دي چي چاسره اوسپين زر په ترکه کي پريخودل نوپه همدي باندي به دي دقيامت په ورځ داغلي کيږي (اخرجه البخاري في تاريخه وابن جرير وابن مردويه).

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چي دسرو اوسپينو مالك وي اوددي حق (زکاة) ادانکړي نودقيامت په ورځ به ددي سپينو اوسرو زرو نه لوي کمرونه جوړ کړي شي اوددوزخ په اور کي به ګرم کړي شي او ددي کس تندي اوډډي به پدي داغلي کيږي اوهرکله چي يخيږي نودوباره به دداغلو دپاره ګرمولي شي اوداعمل به دده سره تمامه ورځ جاري وي چي مقدار يي پنځوس زره کاله دي اخرداچه کله دبنده فيصله اوشي نوده ته به دده لار اوښودلي شي يابه جنت ته دتلو وي يابه دوزخ ته دتلو وي، عرض اوکړي شو اي دالله رسوله داوښانوڅه حکم دي نو ويي فرمائيل اوکه داوښانو والا داوښانو حق (زکاة ادانکړي) اوداوبو ورکولو په ورځ يي لوشي اومسکينانو ته تري نه ورکوي نوداهم داوښانو دحقونو نه دي دقيامت په ورځ به په يو اوار ميدان کي به دي داوښانو په وړاندي څملولي شي او اوښان به يي ټول موجود وي يوبچي به يي هم ورك نه وي اودا اوښان به پده باندي اوګرځي اودل به يي کړي اوپه خوله به يي اوچيچي او دا سلسله به نه ختميږي اوتمامه ورځ به جاري وي اوهغه داسي ورځ ده چي مقدار به يي پنځوس زره کاله وي اخر داچه کله دبنده فيصله اوشي نوده ته به دده لار اوښودلي شي يابه جنت ته دتلو وي يابه دوزخ ته دتلو وي، عرض اوکړي شو اي دالله رسوله دغواګ او ميښو اوچيلو ګډوڅه حکم دي نو ويي فرمائيل که چري ددي مالك ددي حق ادا نکړي نو په اوار ميدان کي به ددي څاروو په وړاندي زوړند کړي شي اوټول څاروي به يي موجود وي يوبه پکي هم غير حاضر نه وي اوپه دوي کي به هيڅ يوداسي نه وي چي په ښکرو به يي نه وهي اونه به په دي څاروو کي کوم يو بغير ښکرو والاوي اونه به پکي دماتو ښکرونووالاوي دا تمام څاروي به دغه کس لره په ښکرونو وهي اوپه خپو کي به يي دل کړي اوله حصه به يي ختمه شي نو وروستۍ حصه به يي رامخکي شي اودا عذاب به پوره ورځ جاري وي چي مقدار يي دپنځوسو زرو کالو سره برابر دي اخر چي کله فيصله اوشي نوده ته به دده دجنت يادوزخ لار اوښودلي شي(رواه مسلم). (تفسير مظهري سورة التوبة:۳۴)

د ابوذر رضي الله عنه د ژوندکۍ حالات:

نوم جندب كنيه ابو ذر د پلار نوم جناده او د مور نوم يي رمله وو چي د بني غفار قبيلي سره يي تعلق وو . په شروع كي مشهور ډاكو وو خو يك دم يي په ژوندكۍ كي انقلاب راغى پخپله دابوذر رضي الله عنه بيان دى چي داسلام راوړونه دري كاله مخكي هم ما مونځونه كول (طبقات ابن سعد).

كله چي درسول الله ددعوت نه خبر شو نو خپل ورور انيس يي دتحقيق كولو دپاره اوليږلو او پخپله دعلي رضي الله عنه سره ملاؤ شو او درسول الله په خدمت كي حاضر شو او اسلام يي قبول كړو نو رسول الله دى دده قوم ته دتبليغ دپاره اوليږلو ددينه پس به يي خپل ټول وخت په تبليغ او دعوت كي خرچ كولو تردي چي نيمه قبيله په همدي وخت مسلمانه شوه او نيمه قبيله يي دهجرت نه پس مسلمانه شوه (مسند احمد).

درسول الله دهجرت نه پس هغوئ مديني ته هجرت كړى دى (طبقات ابن سعد).

ابوذر يوتارك الدنيا او زاهد انسان وو درسول الله او ابوبكر په زمانه كي په مدينه كي پاتي شوى وو او بيا يي شام ته هجرت كړى وو.

وفات: كله چي دده طبعيت خراب شو نو ښځي يي ژړل چي په دي صحرا كي به څوك زمونږه انتظام كوي هغه ورته اووئيل زه تاسو ته زيرى دركوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي په تاسو كي به يو تن په صحرا كي مري او هلته به دمسلمانانو يو جماعت راځي او هغوئ به دده تدفين كوي زما نه چي علاوه كوم خلق وو هغوئ په ابادئ كي مړه شوي دي چنانچه همداسي اوشول عبدالله بن مسعود ديوي ډلي سره راغى او هغه عراق ته روان وو په دي باندي يي جنازه اوكړه او هم دلته يي دفن كړو (مستدرك حاكم).

مرويات: دده درواياتو شمير ٢٨١ دي چي دولس متفق عليه دي او دوه په بخاري كي دي او اوه په مسلم كي دي (تهذيب الكمال ٤٤٩).

****

٢ـ باب مَا جَاءَ إِذَا أَدَّيْتَ الزَّكَاةَ فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ

كله چي دي اداء كړو زكواة نو يقينا چي اداء كړه تا فريضه

٦١٨ـ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ الشَّيْبَانِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ. أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنِ ابْنِ حُجَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَدَّيْتَ زَكَاةَ مَالِكَ فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ أَنَّهُ ذَكَرَ الزَّكَاةَ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ فَقَالَ: "لَا إِلَّا أَنْ تَتَطَوَّعَ". وَابْنُ حُجَيْرَةَ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ حُجَيْرَةَ الْمِصْرِيُّ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي تا زكواة اداء كړو نو ستا په ذمه چي كومه فريضه وه دا ستا نه اداء شوه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په نورو سندونو هم مروي دي چي رسول الله دزكواة ذكر اوكړو نو يو كس عرض اوكړو اي دالله رسوله ايا په ما باندي ددينه علاوه هم نور څه شي فرض شته ورته يي اوفرمائيل نه علاوه ددينه چي ته په نفلي طور چاته څه وركړي (حديث وړاندي راروان دي).

****

٦١٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كُنَّا نَتَمَنَّى أَنْ يَأْتِيَ الْأَعْرَابِيُّ الْعَاقِلُ، فَيَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ، فَبَيْنَا نَحْنُ كَذَلِكَ إِذْ أَتَاهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَثَا بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ رَسُولَكَ أَتَانَا فَزَعَمَ لَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ اللهَ أَرْسَلَكَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَبِالَّذِي رَفَعَ السَّمَاءَ وَبَسَطَ الْأَرْضَ وَنَصَبَ الْجِبَالَ آللهُ أَرْسَلَكَ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَإِنَّ رَسُولَكَ زَعَمَ لَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ عَلَيْنَا خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا؟ قَالَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَإِنَّ رَسُولَكَ زَعَمَ لَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ عَلَيْنَا صَوْمَ شَهْرٍ فِي السَّنَةِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَدَقَ"، قَالَ: فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا؟ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَإِنَّ رَسُولَكَ زَعَمَ لَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ عَلَيْنَا فِي أَمْوَالِنَا الزَّكَاةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَدَقَ"، قَالَ: فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا؟ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَإِنَّ رَسُولَكَ زَعَمَ لَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ عَلَيْنَا الْحَجَّ إِلَى الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، فَقَالَ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَدَعُ مِنْهُنَّ شَيْئًا وَلَا أُجَاوِزُهُنَّ، ثُمَّ وَثَبَ، فَقَالَ

---

[1] سنن ابن ماجه في الزكاة ٣ (١٧٨٨). (تحفة الأشراف: ١٣٥٩١)

2/26

النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ صَدَقَ الْأَعْرَابِيُّ دَخَلَ الْجَنَّةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، يَقُولُ: قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: فِقْهُ هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ الْقِرَاءَةَ عَلَى الْعَالِمِ وَالْعَرْضَ عَلَيْهِ جَائِزٌ مِثْلُ السَّمَاعِ. وَاحْتَجَّ بِأَنَّ الْأَعْرَابِيَّ عَرَضَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَقَرَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زمونږ دا خواهش وو چي څوك عقلمند اعرابي راشي او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دمسئلي سوال اوكړي او مونږ ورسره موجود يو مونږ په دغه ورځ درسول الله سره موجود وو چي په دي دوران كي يو اعرابي راغلو او درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي دپرلت وهلو په طريقه كيناستو او تپوس يي اوكړو اي محمد ستاسو قاصد مونږ ته راغلي وو هغه مونږ ته اووئيل چي تاسو دا وائي چي ته الله تعالي په طور درسول رااليږلي يي (ايا دا خبره صحيح ده) نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو دا صحيح ده اعرابي بيا اووئيل قسم دي په هغه ذات چاچه اسمانونه پورته كړي دي زمكه او غرونه يي غوړولي دي ايا الله تعالي ته په طور درسالت رااليږلي يي؟ نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو، اعرابي اووئيل ستاسر قاصد وائي چي تاسو دا خبره كړي ده چي په مونږ باندي په شپه او ورځ كي پنځه مونځونه فرض دي (ايا دا خبره درسته ده؟) رسول الله اوفرمائيل هو، اعرابي اووئيل په هغه ذات قسم چاچه ته په طور درسالت رااليږلي يي ايا الله تعالي تاته ددي حكم كړي دي رسول الله اوفرمائيل هو، اعرابي اووئيل ستاسو قاصد وائي چي تاسو دا وائي چي په مونږ باندي په كال كي يوه مياشت روژي نيول فرض دي رسول الله اوفرمائيل هو هم داسي ده (رښتيا وائي) اعرابي بيا اووئيل قسم دي په هغه ذات چاچه ته په طور درسالت رااليږلي يي ايا الله تعالي درته ددي حكم كړي دي؟رسول الله اوفرمائيل هو، اعرابي اووئيل ستاسو قاصد وائي چي تاسو دا حكم كوئ چي په مونږ باندي په مالونو كي زكواة واجب دي (ايادا خبره درسته ده) رسول الله اوفرمائيل هو (رښتيا يي وئيلي دي) اعرابي اووئيل په هغه ذات قسم دي چاچه ته په طور درسالت رااليږلي يي ايا الله تعالي درته ددي حكم كړي دي رسول الله اوفرمائيل هو ، اعرابي اووئيل ستاسو قاصد وائي چي تاسو دا حكم كوئ چي په مونږ باندي په هر يو كس حج كول دبيت الله فرض دي چي څوك هلته درسيدو طاقت

---

1 ـ صحيح البخاری في العلم ٦ (تعليقاً عقب حديث رقم: ٦٣). صحيح مسلم في الإيمان ٣ (١٢). سنن النسائي في الزكاة ١ (٢٠٩٣). (تحفة الأشراف: ٤٠٢). مسند احمد (٣ في ١٤٣، ١٩٣). سنن الدارمي في الطهارة ١ (٦٥٦)

لري (ايا دا رښتيا دي) رسول الله اوفرمائيل هو حج فرض دي اعرابي اووئيل قسم دي په هغه ذات چاچه ته په حق سره راليږلي يي چي زه به په دي څيزونو کي يو هم نه پريږدم او نه به په دي کي دکوم څيز اضافه کوم او ددي خبري په کولو سره واپس لاړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که اعرابي رښتيا وئيلي وي نو جنت ته به داخل شي.
امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند حسن غريب دي او ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم د انس رضي الله عنه نه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم ارشاد مروي دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي دبعضي اهل علمو قول دي ددي حديث نه دا خبره مستفاد کيږي چي دشاګرد استاذ ته اورول د استاذ نه داوريدو پشان دي هغوئ استدلال داسي کړي دي چي اعرابي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته معلومات پيش کړل نو رسول الله دهغوئ تصديق اوکړو.

تشريح : د زکاة نه ورکونکو دپاره وعيد:
دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چي الله تعالي مال ورکړي وي اوده ورنه زکاة نه وي ورکړي نودقيامت په ورځ به دده دغه مال دګنجي مار په شکل کړي شي چي دسترګودپاسه به يي تور ټکي وي اودامار به په طور دطوق دده په څټ کي واچولي شي او ورنه به تاؤ شي او وائي به زه ستا مال يم اوزه ستا خزانه يم بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ايت کريمه "ولا يحسبن الذين يبخلون الايه" تلاوت کړو رواه البخاري.
دابوذر رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچاسره چي اوښان، غواګاني ، ميښي، ګډي ياچيلئ وي اودي ورنه زکاة ادا نکړي نودقيامت په ورځ به دوئ ته لوي جثي ورکړي شي اورابه وستلي شي اودا څاروي به ده لره پخپلو کي دل کړي اوپه ښکرو به يي وهي کله چي دڅارو اولنئ ډله لاړه شي نوبله ډله به راشي اوده لره به دل کوي اوداسي به دهغه وخته پوري کيږي ترڅوچه دخلقو فيصله نه وي شوي (بخاري ومسلم). (تفسير مظهري سورة التوبة: ۳۴)

****

۳_ باب مَا جَاءَ فِي زَكَاةِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ

دسرو زرو او دسپينو زرو دزکواة بيان

۶۲۰_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَدْ عَفَوْتُ عَنْ صَدَقَةِ الْخَيْلِ

وَالرَّقِيقِ، فَهَاتُوا صَدَقَةَ الرِّقَةِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمًا، وَلَيْسَ فِي تِسْعِينَ وَمِائَةٍ شَيْءٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَتَيْنِ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ". وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَعَمْرِو بْنِ حَزْمٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الْأَعْمَشُ، وَأَبُو عَوَانَةَ وَغَيْرُهُمَا، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، وَرَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: كِلَاهُمَا عِنْدِي صَحِيحٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ رُوِيَ عَنْهُمَا جَمِيعًا. [1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ما داسونو او د غلامانو زكواة معاف كړي دي نو اوس تاسو دسپينو زرو زكواة اداء كوئ او په هر څلويښتو درهمو كي يو درهم دي او په يو كم دوه سوو كي هيڅ نشته ترڅو پوري چي دوه سوه پوره شوي نه وي دوه سوه چي پوره شي نو پنځه درهمه زكواة به لازم شي.

امام ترمذي وائي اعمش او ابو عوانه وغيره هم دا حديث په سند دابي اسحاق عن عاصم بن ضمره عن علي نقل كړي دي او سفيان ثوري، سفيان بن عيينه او بعضي نورو اهل علمو په سند دابي اسحاق عن الحارث عن علي نقل كړي دي ما دامام بخاري نه په دي حديث باره كي تپوس اوكړو نو ويي وئيل دابو اسحاق سبيعي نه مروي دا دواړه احاديث زما په نزد صحيح دي احتمال دادي چي د حارث او عاصم دواړو نه په يو ځاي نقل كړي شوي وي او بيا ابو اسحاق ددواړو نه روايت كړي وي په دي باب كي دابوبكر او عمرو بن حزم نه هم احاديث مروي دي.

تشريح : **د دوو سوو درهمو په زياتوكي زكاة**

په نصاب دزوائدو كي داهل علمو دوه مسلكونه دي:

(١)د امام ابوحنيفه مذهب په نزد كه په دوه سوه درهمو باندې زياتوالى اوشى.نوپه زياتوالى كي به زكاة واجب نه وى.خوكه دزياتوالى مقدار څلويښتو درهموته اورسى. (نوبيا به پكي زكاة واجب وى)نوكه دوه سوه څلويښت درهمه شى.نوپه دې كي به شپږ درهمه واجب وى.بيابه په هرڅلويښتوباندې يو درهم واجب وى.

---

1 ـ سنن ابي داود في الزكاة ٥ (١٥٧١، ١٥٧٤) . سنن النسائي في الزكاة ١٨ (٢٤٧٩، ٢٤٨٠) . (تحفة الأشراف : ١٠١٣٦) . مسند احمد (١١٣١، ١٤٨) . سنن الدارمي في الزكاة ٧ (١٦٦٩) وأخرجة: سنن ابن ماجه في الزكاة ٤ (١٧٩٠) . مسند احمد (١في١٢١، ١٣٢، ١٣٦من طريق الحارث عنه (تحفة الأشراف : ١٠٠٣٩) .

(۲) اوصاحبين فرمائی چی مطلقاً په زياتوالی کي زکاة واجب دي.که دا زياتوالی کم وی اوکه ډير.نوکه په دوه سوه درهمو باندې يو درهم زياتی شو.نود پنځو درهمو نه علاوه به ديو درهم په څلويښتوحصوکي يوه حصه بله هم واجب وی.او دا دامام شافعی قول هم دي.(العنايه علي الهدايه).

****

٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي زَكَاةِ الإِبِلِ وَالْغَنَمِ

داوښانو او دچيلو ګډو د زکواة بيان

٦٢١_ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْهَرَوِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ كَامِلٍ الْمَرْوَزِيُّ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَتَبَ كِتَابَ الصَّدَقَةِ، فَلَمْ يُخْرِجْهُ إِلَى عُمَّالِهِ حَتَّى قُبِضَ فَقَرَنَهُ بِسَيْفِهِ" فَلَمَّا قُبِضَ، عَمِلَ بِهِ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى قُبِضَ، وَعُمَرُ حَتَّى قُبِضَ، وَكَانَ فِيهِ " فِي خَمْسٍ مِنَ الإِبِلِ شَاةٌ، وَفِي عَشْرٍ شَاتَانِ، وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلَاثُ شِيَاهٍ، وَفِي عِشْرِينَ أَرْبَعُ شِيَاهٍ، وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ بِنْتُ مَخَاضٍ إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ، فَإِذَا زَادَتْ فَفِيهَا ابْنَةُ لَبُونٍ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ، فَإِذَا زَادَتْ فَفِيهَا حِقَّةٌ إِلَى سِتِّينَ، فَإِذَا زَادَتْ فَجَذَعَةٌ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ، فَإِذَا زَادَتْ فَفِيهَا ابْنَتَا لَبُونٍ إِلَى تِسْعِينَ، فَإِذَا زَادَتْ فَفِيهَا حِقَّتَانِ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ وَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ ابْنَةُ لَبُونٍ، وَفِي الشَّاءِ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، فَإِذَا زَادَتْ فَشَاتَانِ إِلَى مِائَتَيْنِ، فَإِذَا زَادَتْ فَثَلَاثُ شِيَاهٍ إِلَى ثَلَاثِ مِائَةِ شَاةٍ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِ مِائَةِ شَاةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةِ شَاةٍ شَاةٌ، ثُمَّ لَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ حَتَّى تَبْلُغَ أَرْبَعَ مِائَةٍ وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ مَخَافَةَ الصَّدَقَةِ، وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بِالسَّوِيَّةِ، وَلَا يُؤْخَذُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ وَلَا ذَاتُ عَيْبٍ. وَقَالَ الزُّهْرِيُّ: إِذَا جَاءَ الْمُصَدِّقُ قَسَمَ الشَّاءَ أَثْلَاثًا: ثُلُثٌ خِيَارٌ وَثُلُثٌ أَوْسَاطٌ وَثُلُثٌ شِرَارٌ، وَأَخَذَ الْمُصَدِّقُ مِنَ الْوَسَطِ وَلَمْ يَذْكُرِ الزُّهْرِيُّ الْبَقَرَ. وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَبَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ وَأَبِي ذَرٍّ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ عَامَّةِ الْفُقَهَاءِ، وَقَدْ رَوَى

يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَلَمْ يَرْفَعُوهُ، وَإِنَّمَا رَفَعَهُ سُفْيَانُ بْنُ حُسَيْنٍ. ([1])

ترجمه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دزكواة احكامو متعلق تحرير مرتب كړو او عاملانو ته يي ليږلي نه وو چي ددنيا نه رخصت شو او دا يي دخپلي توري سره كيخودلو رسول الله چې وفات شو نو ابوبكر په دي باندي عمل جاري اوساتلو تردي چي دي هم وفات شو او دده نه پس وربانديي عمر رضي الله عنه عمل جاري اوساتلو تردي چي دي هم وفات شو په دي كتاب كي دا تحرير وو په پنځه اوښانو كي يوه چيلۍ زكواة دي او په لسو كي دوه چيلۍ زكواة دي او په پنځلسو كي دري چيلۍ زكواة دي او په شلو كي څلور چيلۍ زكواة دي د پنځه ويشتو نه واخله تر پنځه دیرشو پوري داوښي يو كلن بچي دي كله چي ددينه زيات شي نو تر څلويښتو پوري داوښي دوه كلن بچي دي او كله چي ددينه زيات شي تر شپيتو پوري داوښي دري كلن بچي دي او كله چي ددينه زيات شي تر پنځه اويا پوري په دي كي څلور كلن بچي داوښي په زكواة كي واجب دي او كله چي ددينه زيات شي نو تر نوي پوري دوه دوه كلن بچي زكواة دي او كله چي ددينه زيات شي نو په دي كي تر يو سل شلو پوري د اوښ دري دري كلن بچي زكواة دي او كله چي ديو سلو شلو نه زيات شي نو په هر پنځوسو كي داوښي يو دري كلن بچي زكواة دي او په هر څلويښتو كي يو دوه كلن بچي زكواة لازم كيږي، دچيلو په باره كي داسي حكم چې په څلويښتو چيلو كي يو چيلۍ زكواة دي تر يو سلو شلو پوري او كله چي ددينه زياتي شي تر دوه سوو پوري په هرو شلو كي يوه چيلۍ زكواة دي او بيا په دي كي تر څلور سوو پوري هيڅ نشته او دزكواة دپاره متفق مال راجمع نكړي دپاو چي كوم مال جمع دي دا دي دزكواة دخوف په وجه متفرق نكړي شي او په كوم كي چي دوه كسان شريكان وي نو هغوئ به دخپلي خپلي حصي دشراكت په حساب زكواة وركوي او په زكواة كي دزور او نقصاني ځاروي وركول پكار نه دي.

زهري وائي كله چي صدقه وصول كونكي راشي نو دي به چيلۍ په دري حصو تقسيموي اولني ثلث به بهتر وي دويم ثلث به درميانه وي او دريم ثلث به خراب وي نو صدقه وصول كونكي به د اوسط درجي والا چيلۍ اخلي او زهري راوي دغواؤ ذكر نه دي كړي.

---

[1] _ صحيح البخاري في الزكاة ۳۴ تعليقا عقب الحديث (رقم: ۱۴۵۰). سنن ابي داود في الزكاة ۴ (۱۵۶۸). سنن ابن ماجه في الزكاة ۹ (۱۷۹۸). (تحفة الأشراف: ۶۸۱۳). سنن الدارمي في الزكاة ۶ /(۱۶۶۶)

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن دي ، يونس بن زيد او بعضي نورو محدثينو هم دا حديث دزهري نه او زهري دسالم نه نقل کړي دي او دوئ مرفوع نه دي بيان کړي. صرف سفيان بن حصين دا مرفوع نقل کړي دي او په همدي باندي دعامو فقهاؤ عمل دي په دي باب کي دابو بکر صديق، بهز بن حکيم ، عن ابيه عن جده معاويه بن حيده قشيري او ابو ذر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح: **داوښانو دزکاة د نصاب بيان**

اوښانو د زکاة نصاب پنځه اوښان دی.ددې نه په کموکي زکاة واجب نه دې. د زکاة د وجوب شرائط دادي :

(۱) دابه سائمه وی.

(۲) اوپه دې کال تيرشوې وی.

(۱) نوکه په دې شرطونو سره پنځه اوښان وی.نوپه دې کي به يوه چيلۍ واجب وی.د پنځونه پس تر نهو پورې عفوه دی.

هم دغه يوه چيلۍ به وی.کومه چيلۍ چی د زکاة په حساب کي اخستې شی.ماده به وی.او د پوره يوکال به وی چی دويم کال ئې شروع وی.

(۲) اوکه په ذکرشوی شرطونوسره دچا په ملك کي لس اوښان وی.نوپه دې کي دوه چيلۍ دی.او د لسو اوښانونه پس تر څوارلسو پورې عفوه دی.په څوارلسوکي هم دغه دوه چيلۍ واجب دی.

(۳) اوکه اوښان پنځلس وی.نوپه دې کي به درې چيلۍ واجب وی.اود پنځلسونه نولسو پورې عفوه دی.

(۴) که دچا شل اوښان وی نوپه دې کښې څلورچيلۍ دی.اود شلونه پس څليريشتوپورې عفوه دی.

(۵) بياچی کله اوښان پنځويشت شی.نوپه دې کي يو بنت مخاض واجب دې.د پنځه ويشتو نه پس ترد پنځه ديرشو پورې عفوه دی.

(۶) اوکله چی شپږديرش شی.نوپه دې کي يو بنت لبون واجب دې.اود شپږديرشو نه پس د پنځه څلويښتو پورې عفوه دی.

(۷) خوچی کله شپږڅلويښت پوره شی.نوپه دې کي يوحقه واجب ده.اود شپږڅلويښتونه تر شپيتو پورې عفوه دی.

(۸) اوکله چی يوشپيته شی.نوپه دې کي يوجذعه واجب ده.او يوشپيتونه پس د پنځه اويا پورې عفوه دی.

(۹) اوکله چی شپږاويا شی.نوپه دې کي دوه بنت لبون دی.د شپږاويا نه تر نوی پورې عفوه دی.

(۱۰) اوکله چی يونوی شی.نوپه دې کي دوه حقه دی.د يونوی نه پس د شپږشلو پورې عفوه دی.

او دليل ددي حديث دانس دي چي صديق(رضي الله عنه) د انس(رضي الله عنه) په نوم ليکلي وو کوم چي امام بخاری رحمه الله نقل کړي دي:

إن أنسًا حدثه أن أبابكر الصديق (رضي الله عنه) كتب له هذا الكتاب لما وجهه إلى البحرين. بسم الله الرحمن الرحيم. هذه فريضة الصدقة التى فرض رسول الله ﷺ على المسلمين والتى أمر الله بها رساله فمن سئلها من المسلمين فليعطها على وجهها ومن سئل فوقه فلا يعطه فى أربع وعشرين من الإبل فما دونها من الغنم فى خمس ذود شاة. فإذا بلغت خمساً وعشرين إلى خمس وثلاثين ففيها بنت مخاض انثى. فإذا بلغت ستاً و ثلاثين إلى خمس وأربعين ففيها بنت لبون انثى. فإذا بلغت ستاً وأربعين إلى ستين ففيها حقه طروقة الجمل. فإذا بلغت إحدى وستين إلى خمس وسبعين ففيها جذعة فإذا بلغت ستاً وسبعين إلى تسعين ففيها بنتا لبون فإذا بلغت إحدى وتسعين إلى عشرين و مائة ففيها حقتان طروقة الجمل. فإذا زادت على عشرين ومائة ففى كل أربعين إبنة لبون وفى كل خمسين حقة ثم ساق بقية الحديث فى الغنم (فتح القدير)

فوائد :د ښاورو نصاب دزكاة او مقدار دزكاة توقيفي دي.په دي كي د عقل او قياس هيڅ د خل نشته.

اوكه دا سوال اوكړي شي چي په هرقسمه څاروكي هم د هغي نه زكاة اخستي شي نو د اوښانوپه زكاة كي چيلۍ ولي واجبيږي. ددي اعتراض دوه جوابونه دي:

(۱) ددي يوجواب خو دادي چي داخبره خلاف قياس په نص سره ثابت ده.په دي وجه دي باره كي د كلام كولو هيڅ گنجائش نشته.

(۲) دويم جواب دادي چي د اوښ نصاب پنځه اوښان دي.اوس كه يو اوښ د زكاة دپاره مقررشي.نودا د نصاب خُمس يعني پنځمه حصه ده.حالانكه زكاة د نصاب د مال څلويښتمه حصه وي.اوكه يواوښ حصي كړي شي.اوددي اتمه حصه وركړي شي ځكه چي د يو اوښ اتمه حصه د پنځو اوښانوڅلويښتمه جوړيږي.نوپه دي صورت كي په دي اوښ كي د شركت عيب پيدا كيږي.اودا هم مناسب نه دي.نوپه پنځه اوښانوكي يوه چيلۍ واجب شوي ده

د چيلو د نصاب بيان

غنم لفظ اسم جنس دي چي نر او ماده ټولوته وئيلي شي. د چيلونصاب څلويښت چيلۍ دي.د څلويښتونه په كموكي هيڅ زكاة نشته.البته څلويښتوچيلوكي يوه چيلۍ واجب ده.په دي شرط چي دا سائمه وي.اوپه دي كال هم تير شو. نود شپږشلو پوري به هم دغه يوه چيلۍ واجب وي.خوچي كله په شپږشلو باندي يوه هم زياتي شوه.يعني يوسل يوويشت چيلۍ شي.نوپه دي كي به دوه چيلۍ واجب وي.تردوه سوه پوري به هم دغه دوه چيلۍ واجب

وي.بياچي كله په دوه سوه باندې يوه چيلۍ زياتي شوه.يعني يو دپاسه دوه سوه شي.نوپه دې كي به درې چيلۍ واجب وي.بياچي كله څلورسوه شي.نوپه دې كي به څلورچيلۍ واجب وي.بياپه هرسلو باندې يوه چيلۍ زياتيږي.تردې چي په پنځه سوه باندې پنځه اوپه شپږسوه باندې شپږ چيلۍ واجب دى.ددې دپاره دليل د خليفه اول ابوبكر(رضي الله عنه) كوم فرمان چي د انس(رضي الله عنه) په نوم تلى وو:

وفي صدقة الغنم في سائمتها إذاكانت أربعين إلى عشرين ومأة شاة. فإذا زادت على عشرين ومأة إلى مأتين شاتان. فما زادت على مأتين إلى ثلاث مأة ففيها ثلاث شياه. فإذا زادت على ثلاث مأة ففي كل مأة شاة. فإذا كانت سائمة الرجل ناقصة. من أربعين شاة واحدة. فليس فيها صدقة إلا أن يشاء ربها.

دويم دليل دا دې چي د چيلۍ د زكاة كوم تفصيل بيان كړې شوې دې. په دې اجماع هم منعقد شوي ده.اوهم دا د سلفو اوخلفو فقهاؤ او دآئمه اربعه مذهب دې.

****

٥_ باب مَا جَاءَ فِي زَكَاةِ الْبَقَرِ

دغواو دزكواة بيان

٦٢٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، وَأَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فِي ثَلَاثِينَ مِنَ الْبَقَرِ تَبِيعٌ أَوْ تَبِيعَةٌ وَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ مُسِنَّةٌ". وَفِي الْبَابِ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَاهُ عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ خُصَيْفٍ، وَعَبْدُ السَّلَامِ ثِقَةٌ حَافِظٌ، وَرَوَى شَرِيكٌ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ أُمِّهِ عَبْدِ اللهِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ عَبْدِ اللهِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عَبْدِ اللهِ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ديرشو غواګانو كي يو كلن سخي يا يو كلنه سخئ زكواة دي امام ترمذي وائي عبدالسلام بن حرب هم دا رنګي دا حديث دحصيف نه نقل كړي دي او عبدالسلام ثقه او

1 سنن ابن ماجه في الزكاة ١٢(١٨٠٣) . (تحفة الأشراف : ٩٦٠٦)

حافظ دي، شريك هم دا سند په سند دخصيف عن ابي عبيده عن امه عن عبدالله نقل كړي دي او دابو عبيده بن عبدالله سماع دخپل پلار عبدالله نه ثابت نه ده، او په دي باب كي دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٦٢٣_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ "فَأَمَرَنِي أَنْ آخُذَ مِنْ كُلِّ ثَلَاثِينَ بَقَرَةً تَبِيعًا أَوْ تَبِيعَةً، وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ مُسِنَّةً، وَمِنْ كُلِّ حَالِمٍ دِينَارًا أَوْ عِدْلَهُ مَعَافِرَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ وَهَذَا أَصَحُّ. (1)

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم زه يمن ته اوليږلم او ماته يي حكم اوكړو چي په هرو ديرشو غواؤ كي يو كلن سخي يا يو كلنه سخۍ زكواة اخلم او په هر څلوېښتو غواګانو كي به دوه كلن سخي يا سخۍ اخلم او دهربالغ ذمي نه به يو دينار يا ديو دينار برابر معافري كپړي په طور دجزيه او ټكس اخلم.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي، بعضي محدثينو دا په سند دسفيان عن الاعمش عن ابي وائي عن مسروق مرسل نقل كړي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم معاذ يمن ته اوليږلو او په دي حديث كي د "فامرني ان اخذ" په ځاي باندي "فامره ان ياخذ" راغلي دي او دا زيات صحيح دي.

****

٦٢٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ: هَلْ تَذْكُرُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ شَيْئًا؟ قَالَ: لَا. (2)

---

1 _ سنن ابي داود في الزكاة ٤ (١٥٧٧، ١٥٧٨). سنن النسائي في الزكاة ٨ (٢٤٥٥). سنن ابن ماجه في الزكاة ١٢ (١٨٠٣). (تحفة الأشراف: ١١٣٦٣). مسند احمد (٥ في ٢٣٠). سنن الدارمي في الزكاة ٥ (١٦٦٣)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٥٨٩)

ترجمه : دعمرو بن مره نه روايت دي فرمائي چي ما دابو عبيده بن عبدالله نه تپوس اوکړو چي ايا تاته دخپل پلار عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه کوم څيز ياد دي او کنه؟ هغه اووئيل نه.

تشريح : البقر،د بقرنه مشتق دې. معنی يي ده شلول.او د جنس بقر نوم بقرڅکه کيخودې شو چي دا زمکه شلوی.په البقره کښې" ة "دوحدت دپاره ده.د تانيث دپاره نه ده نو البقربه په نر او ماده دواړو باندې واقع کيږي.تبيع د غوا يوکلن نربچي ،اوتبيعه يوکلن ماده بچی ،دې ته تبيع يا تبيعه ځکه وائی چي دا دخپل مور تابع وی.هم دې پسی شاته شاته گرځی.او مسن نر دوه کلن بچی ،اومسنه ماده دوه کلن بچی ،د بقر په زکاة کي په مذکراو موئنث کي اختيار ورکړې شوي دې ځکه چی په بقرکي موئنث غوره نه شمارلې کيږی.

نشته په کمو د ديرشوغواګانوکي زکاة، نوکله چی شی ديرش غواګانی ،څريدونکی ،او تير شی په دي باندې کال،نو(واجب دی) په دې کي يو تبيع يا تبيعه، اودا(تبيع يا تبيعه)هغه بچی دې چی دويم کال ئې شروع وی.او په څلويښتو(غواګانو)کي يومسن يا مسنه (واجب)ده.اودا (مسن يامسنه) هغه بچی دې چی په دريم کال کي شروع وی.هم په دې حکم کړې وو، رسول الله ﷺ معاذ(رضي الله عنه) ته.

دڅلويښتو نه زياتو غواګانو زکاة

ديرشوغواګانوکي به يوتبيعه واجب وی.اوپه څلويښتوکي يوه مسنه واجب وی.خوکه په څلويښتوغواګانو باندې زيات شی.نوپه دې کي دامام ابوحنيفه نه درې روايتونه دی، اولنی روايت کوم چی ،مبسوط،نه نقل کړی دې.دا دې چی د څلويښتونه زيات ترشپيتو پورې به دحساب په اندازه زکاة واجب وی.

نوکه په څلويښتوباندې يوه غوازياتی شوه.نوپه دې کي به يوه مسنه واجب وی.اوپه يوزياتی کي به دمسنه څلويښتمه حصه واجب وی.

دويم روايت په سند د حسن بن زياد عن ابی حنيفه دې.چي دڅلويښتونه په زياتی کي هيڅ څيزواجب نه دې.

دريم روايت دا دې چی د څلويښتونه په زياتی کي ترشپيتو پورې هيڅ زکاة واجب نه دې.هم ددې قائل صاحبين دی.اوهم داقول دامام مالك، امام شافعی،اود امام احمد رحمه الله دې.

****

٦_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ أَخْذِ خِيَارِ الْمَالِ فِي الصَّدَقَةِ

په زکاة کي دغوره مال اخستل مکروه دي

٦٢٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاقَ الْمَكِّيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ لَهُ: "إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ". وَفِي الْبَاب عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ اسْمُهُ: نَافِذٌ.[1]

ترجمه : د ابن عباس نه روايت دی فرمائي چي رسول الله (ص) معاذ بن جبل رضي الله عنه د (حاکمانو جوړولو او) ليږلو په وخت رسول الله صلي الله عليه وسلم دا هدايت اوفرمائيلو چي ته به داهل کتابو نه يوي ډلي ته ورځي نو ته ورته اووايه چي هغوي دالله تعالي دمعبود کيدلو او څما د رسول الله صلي الله عليه وسلم کيدلو اقرار اوکړي، که دايي اومنلو نو بيا ورته اووايه چي الله تعالي تاسو باندي شپه او ورځ کې پنځه مونځونه فرض کړي دي او چي کله دا هم اومني نو بيايي په دي پوهه کړه چي الله تعالي په تاسو زکواة هم فرض کړی دی چي ستاسو دمالدارانو نه به اخستلی شي او مسکينانو او غريبانو باندي به تقسيمولی شي چي کله دا خبره هم اومنئ نو ته دعمده او غوره مال اخستلو نه ځان اوساته او د مظلوم دخيرونه او ويريږه ځکه چي دهغه دخيرو او دالله تعالي مينځ کې هيڅ څيز پرده نه جوړيږي.

امام ترمذي وايي په دي باب کي د صنابحي نه هم روايت وارد دي ، امام ترمذي وايي دابن عباس رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دی ، او ابو معبد د ابن عباس ازاد کړی غلام دي او نوم يي نافذ وو.

لغات: فتردّ: ردّ ردّاً دنصر نه په معني دواپس کولو.

حجاب: الحجاب مصدر دي معني پرده او حائل کيدونکي څيز.

---

[1] _ صحيح البخاری في الزكاة ۱ (۱۳۹۵)، و۳۱ (۱۴۵۸)، والمظالم ۱۰ (۲۴۴۸)، والمغازی ۶۰ (۴۳۴۷)، والتوحيد ۱ (۲-۷۳)، صحيح مسلم في الإيمان ۷ (۱۹)، سنن ابي داود في الزكاة ۴ (۱۵۸۴)، سنن النسائي في الزكاة ۱ (۲۴۳۷)، و۴۶ (۲۵۲۳)، سنن ابن ماجه في الزكاة ۱ (۱۷۸۳)، (تحفة الأشراف: (۶۵۱۱)، مسند احمد (۱/ ۲۳۳)، سنن الدارمی في الزكاة ۱ (۱۶۵۵)، ويأتي آخره عند المؤلف في البر والصلة ۶۸ (۲۰۱۴)

تشريح : بعثني رسول الله صلي الله عليه وسلم، يعني رسول الله زه يمن ته ليږلي وم،

معاذ رضي الله عنه يمن ته كله ليږلي شوي وو؟

دابن سعد دقول مطابق دمعاذ رضي الله عنه ليږل دفتح مكي په كال په ربيع الثاني كې دهجرت په اتم كال شوي وو او ابن حجر لسم هجري بيان كړي دي.

فادعهم الي شهادة ان لا اله الا الله، يعني اول ورته دتوحيد دعوت وركړئ نو كه قبول يي كړي نو بيا ورته داسلامي شريعت تعليم وركړئ

فترد الي فقرائهم. ددي جملي نه امام شافعي او مالك استدلال كوي چي ديو ښار نه بل ښار ته زكواة منتقل كول جائز نه دي ، په خلاف دامام ابوحنيفه څكه چي هغه وايي ديوښار نه بل ښار ته زكواة منتقل كول بغير دكراهيت نه جائز دي.

فترد الي فقرائهم، احناف وايي د هم ضمير نه فقراء المسلمين مراد دي چي فقيران به هم ددي ښار وي يا دبل ښار وي، طيبي فرمائي چي په دي خبره دتمامو علماؤ اتفاق دي چي زكواة كه دبل ښار فقراؤ ته وركړي شو نو فرضيت ساقط شو.

پدي حديث كې دحج او روژي ذكر نشته

سوال پدي حديث كې دحج او روژي ذكر ولي نشته؟

جواب: په حديث كې يو اعتقادي جزء ذكر دی چي كلمه دشهادت ده او دويم دبدني عبادت يعني مونځ دی او دريم دمالي عبادت بيان دی چي زكواة دی بهر حال تمام عبادات په دي كې داخل دي.

علامه شبير احمد عثماني وائي د تمامو اركانو داسلام شميرل مقصود نه وو هغه خو معاذ رضي الله عنه ته معلوم وو صرف يو حد يي ذكر كړو او دعوت الي الاسلام ته يي تنبيه وركړه يعني تمام اسلام طرف ته به په يو ځل دعوت نه وركوئ بلكه لږ لږ او په تدريجي طور.

واتق دعوة المظلوم. بله دا چي دمظلوم دخيرو نه ځان ساته دمظلوم دخيرو په وجه دالله غضب او عذاب نازليږي څكه چي دمظلوم او دالله په مينځ كې هيڅ پرده نشته.

****

٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَدَقَةِ الزَّرْعِ وَالتَّمْرِ وَالْحُبُوبِ

دفصل او ميوو دانو د زكاة بيان

٦٢٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ

فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. ([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دپنځو نه په كمو اوښانو كي زكواة نشته او دپنځه اوقيو نه په كمو سپينو زرو كي زكواة نشته او دپنځو وسق نه په كمه غله كي زكواة نشته.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابوهريره، ابن عمر، جابر او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

تشريح : **د زمكې په پيداواركې د عشر نصاب**

د عشر د وجوب په سلسله كي د امام ابوحنيفه رحمه الله او صاحبينو اختلاف دې..

(۱) امام صاحب فرمائي چي مطلقاً د زمكې په پيداوار كي عشر واجب دې.پيداوار كم وی اوكه زيات وی چي بغيرد تدبير اختيارولونه د يوكاله پورې باقي پاتې كيدونكې وی.زمكه په نهری وغيره جاری اوبوسره اوبه كرې وی.يا د باران په اوبوسره اوبه شوې وی.په هرصورت كي به عشر واجب وی.علاوه د نلو،د سوزلو لرګو اود ګيا نه چی په دې ځيزونوكي دامام صاحب په نزد عشر واجب نه دې.

(۲) صاحبين فرمائي چي د زمكې په پيداوار كي په دوه شرطونو عشر واجب وی.

يوداچي هغه ځيزكوم چی د زمكې نه پيداكيږی.بغير دځه علاجه د يوكال پورې باقي پاتې كيدې شی.لكه غنم،اوربشې اوريجې وغيره.كه د يو كال پورې باقي نه پاتې كيږی.نوپه دې كي به عشر واجب نه وی.لكه انګور،خربوزه، تربوزه، سيب وغيره.

دويم شرط داچي پيداوار د پنځه وسقو په مقدار وی.ددې نه په كم كي به عشر واجب نه وی او يو وسق د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په صاع شپيته صاعه جوړيږی نو پنځه وسق د درې سوه صاع برابر وی او يوصاع څلور منه وی.نوګويا پنځه وسق دولس سوه منه وی.

د صاحبينو په نزدسبزيانو كي عشر واجب نه دې ځكه چی ددې د يوكال پورې باقي پاتې كيدل بغير د علاجه ممكن نه دی.

---

[1] _ صحيح البخاري في الزكاة ۳ (۱۴۰۵)، و ۳۲ (۱۴۴۷)، و ۴۲ (۱۴۵۹)، و ۵۶ (۱۴۸۴)، صحيح مسلم في الزكاة ۱ (۹۷۹)، سنن ابي داود في الزكاة ۱ (۱۵۵۸)، سنن النسائي في الزكاة ۵ (۲۴۴۷)، و ۱۸ (۲۴۷۵)، و ۲۱ (۲۴۸۵)، و ۲۴ (۲۴۸۹)، سنن ابن ماجه في الزكاة ۶ (۱۷۹۳)، (تحفة الأشراف : ۴۴۰۲)، موطا امام مالک في الزكاة ۱ (۱)، مسند احمد (۳ في ۶، ۳۵، ۶۰، ۷۴، ۷۴، ۷۹)، سنن الدارمي في الزكاة ۱۱ (۱۶۷۳)

حاصل دادي چې د امام صاحب او د صاحبينو اختلاف دوه خبرو كي دې.
(۱) يودا چې امام صاحب په نزدد عشر وجوب دپاره د نصاب مقدارنصاب كيدل شرط نه دې، اود صاحبينو په نزدشرط دې.
(۲) دويم دا چې د امام صاحب رحمه الله په نزدد يو كال پورې باقي پاتې كيدل شرط نه دې او دصاحبينو په نزدشرط دې.

د صاحبينو (۱) رومبې دليل د نبی كريم صلي الله عليه وسلم قول "ليس فيما دون خمسة أوسق صدقة" دې.په حديث كي د صدقة نه مراد عشر دې ځكه چې زكاة خو پنځه وسق نه په كم كي هم واجب وي.په شرط ددې چې د دې قيمت دوه سوه درهمه ته رسي.
(۲) دويم دليل دادې چې عشرهم د صدقه (زكاة) په شان دې ځكه چې دعشر تعلق هم د زمكې د نماء سره دې.لكه څنګه چې د وجوب زكاة دپاره نماء شرط ده.
(۳) او د زكاة په شان عشرهم په كافر نه واجب كيږي او د عشر مستحق هم هغه دې. كوم چې دصدقاتو مستحق دې.نوثابته شوه چې عشر د زكاة په شان دې او د وجوب زكاة دپاره د نصاب كيدل شرط دی چې غناء متحقق شي.نودغه شان د وجوب عشر دپاره به هم نصاب كيدل شرط وي چې مالداری اوغناء متحقق شي.
د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل په عدم شرطيت دنصاب كي د الله تعالى د قول :
يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ (الايه)
عموم دې.په دې طريقه چې د زمكې مطلقاً پيداوار كي د انفاق حكم شوې دې.د قليل او كثير هيڅ تفصيل نشته.

د صاحبينو پيش شوی حديث "فيما دون خمسة أوسق صدقة" تاويل دادې چې په دې كي د تجارت زكاة مراددې.يعني په مال تجارت كي د زكاة د وجوب دپاره پنځه وسق ضروری دی او وجه ددې داده چې دصحابو(رضي الله عنهم) په زمانه كي به خلقو د وسق په حساب سره ا. خستل خرڅول كول اود يو وسق كجورو قيمت څلويښت درهمه وو.نود پنځه وسق قيمت به دوه سوه درهمه وو او دوه سوه درهمه د زكاة نصاب دې.

دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا حديث "ما أخرجت الأرض ففيه العشر" دې ځكه چې دا حديث مطلق دې.د باقي پاتي كيدلو او دنه پاتې كيدلوهيڅ قيدنشته نو مطلقاً به د زمكې په پيداواركي عشرواجب وي.كه پوره كال باقي پاتې كيدې شي اوكه نشي.
د امام صاحب رحمه الله مذهب ذكركولو كي چې د خشاكو د لرګو،نلونو اود ګيا استثناء شوې وه.يعني په دې څيزونوكي عشرواجب نه دې ځكه چې عادةً دا څيزونه په باغونوكي نه راخيژی.بلكه ددې څيزونو نه باغونه صفا كولې شی.(۲) خوكه د پټی مالك زمكه د خشاكو

د ونو باغ يا د كيا لګولو ځائي جوړ كړي اوددې څيزونوحاصلول مقصود كړى نو په دې كې به عشر واجب وى.

****

٦٢٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، وَشُعْبَةُ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْهُ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ، وَالْوَسْقُ سِتُّونَ صَاعًا، وَخَمْسَةُ أَوْسُقٍ ثَلَاثُ مِائَةِ صَاعٍ، وَصَاعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَةُ أَرْطَالٍ وَثُلُثٌ، وَصَاعُ أَهْلِ الْكُوفَةِ ثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَالْأُوقِيَّةُ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا وَخَمْسُ أَوَاقٍ مِائَتَا دِرْهَمٍ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ يَعْنِي لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسٍ مِنَ الْإِبِلِ، فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ مِنَ الْإِبِلِ فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ، وَفِيمَا دُونَ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ مِنَ الْإِبِلِ فِي كُلِّ خَمْسٍ مِنَ الْإِبِلِ شَاةٌ. [1]

ترجمه : په دې سند هم دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دا حديث دمخكني حديث پشان مروي دي كوم چي دعبدالعزيز بن محمد حديث دي او هغه دعمرو بن يحي نه نقل كړي دي (كوم چي په ماقبل كي تير شو).

امام ترمذي وائي دابوسعيد خدري حسن صحيح دي او دهغه نه دا روايت په نورو سندونو هم مروي دي ، داهل علمو په همدې باندې عمل دې چي دپنځو وسقو نه په كمه غله كي زكواة نشته او يو وسق شپيته صاعه وي او په پنځه وسقو كي دري سوه صاعه دي او درسول الله صلي الله عليه وسلم صاع پنځه رطله وو او داهل كوفه صاع اته رطله دي، او دپنځو اوقيو نه په كمو سپينو زرو كي زكواة نشته، يوه اوقيه دڅلويښتو درهمو وي او پنځه اوقي د دوه سوه درهمو وي دا رنګي دپنځو نه په كمو اوښانو كي زكواة نشته اوښان چي كله پنځه ويشتو ته

---

1 ـ صحيح البخارى في الزكاة ٣ (١٤٠٥) ، و ٣٢ (١٤٤٧) ، و ٤٢ (١٤٥٩) ، و ٥٦ (١٤٨٤) ، ومسلم في الزكاة ١ (٩٧٩) ، سنن ابى داود في الزكاة ١ (١٥٥٨) ، و النسائى في الزكاة ٥ (٢٤٤٧) ، و ١٨ (٢٤٧٥) ، و ٢١ (٢٤٨٥) ، و ٢٤ (٢٤٨٩) ، و ابن ماجه في الزكاة ٦ (١٧٩٣) ، (تحفة الأشراف : ٤٤٠٢) ، موطا امام مالك في الزكاة ١ (١) ، مسند احمد (٣/ ٦ ، ٣٥ ، ٦٠ ، ٧٣ ، ٧٤ ، ٧٩) ، و الدارمى في الزكاة ١١ (١٦٧٣)

ورسيږي نو په دوئ کي يو يو کلن بچي زکواة دي او دپنځويشتو اوښانو نه په کمو کي په هر پنځه اوښانو کي يوه چيلۍ زکواة وي.

تشريح : دزمکي دپيداوار په نصاب کي دفقهاؤ اختلاف دي او په دي باره کي داهل علمو دوه مذاهب دي.

(۱) دامام ابو حنيفه په نزد دزمکي دپيداوار دپاره کوم نصاب نشته دده په نزد په قليل او کثير کي عشر واجب دي.

(۲) دائمه ثلاثه او صاحبينو په نزد د زمکي دپيدا وار دعشر دپاره نصاب مقرر دي او هغه پنځه وسقه دي او د وسق تشريح په ماقبل کي دامام ترمذي په قول کي تيره شوه.

****

۸_ بَابُ مَا جَاءَ لَيْسَ فِي الْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ صَدَقَةٌ

په اس او غلام کي زکاة نشته

۶۲۸_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، وَشُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي فَرَسِهِ وَلَا فِي عَبْدِهِ صَدَقَةٌ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الْخَيْلِ السَّائِمَةِ صَدَقَةٌ وَلَا فِي الرَّقِيقِ، إِذَا كَانُوا لِلْخِدْمَةِ صَدَقَةٌ إِلَّا أَنْ يَكُونُوا لِلتِّجَارَةِ، فَإِذَا كَانُوا لِلتِّجَارَةِ فَفِي أَثْمَانِهِمُ الزَّكَاةُ إِذَا حَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په مسلمان باندي نه دهغه په اس کي زکواة شته او نه دهغه په غلامانو کي.

امام ترمذي وائي دابو هريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او په همدي داهل علمو عمل دي چي په څريدونکو اسونو کي کوم چي په موکي کيااو دانه نه خوري زکواة نشته او په غلامانو کي هم

---

[1] _ صحيح البخارى في الزكاة ۴۵ (۱۴۶۳) . و۴۶ (۱۴۶۴) . صحيح مسلم في الزكاة ۲ (۹۸۲) . سنن ابى داود في الزكاة ۱۰ (۱۵۹۴) . سنن النسائى في الزكاة ۱۶ (۲۴۷۰) . سنن ابن ماجه في الزكاة ۱۵ (۱۸۱۲) . (تحفة الأشراف : ۱۴۱۵۳) . مسند احمد (۲ في ۲۴۲، ۲۵۴، ۲۷۹، ۴۱۰، ۴۳۲، ۴۶۹، ۴۷۰، ۴۷۷) . سنن الدارمى في الزكاة ۱۰ (۱۶۷۲)

زكواة نشته خو چي دخدمت دپاره وي او كه دتجارت دپاره وي نو بيا به په دي كي زكواة واجب وي خو چي كال ورباندي تير شي.

تشريح : په دي مسئله دعلماؤاتفاق دي چي دسورلئ په اس كي زكواة نشته او په دي مسئله هم اتفاق دي چي دتجارت په اسونو كي زكواة واجب دي اختلاف په دي كي دي چي نسل وركونكو اسونو كي زكواة واجب دي او كنه په دي كي دوه مذاهب دي.

(۱) دامام ابوحنيفه په نزد په تناسل والاخريدونكو اسونو كي زكواة واجب دي.

(۲) او دائمه ثلاثه په نزد په تناسل والاخريدونكو اسونو كي زكواة واجب نه دي، ددي دلائل دعلم فقه په كتابونو كي كتلي شي.

****

۹ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي زَكَاةِ الْعَسَلِ

په شهدو كي د زكاة بيان

۶۲۹ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي سَلَمَةَ التِّنِّيسِيُّ، عَنْ صَدَقَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ مُوسَى بْنِ يَسَارٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فِي الْعَسَلِ فِي كُلِّ عَشَرَةِ أَزُقٍّ زِقٌّ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَيَّارَةَ الْمُتَعِيِّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ فِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، وَلَا يَصِحُّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْبَابِ كَبِيرُ شَيْءٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَيْسَ فِي الْعَسَلِ شَيْءٌ. وَصَدَقَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ لَيْسَ بِحَافِظٍ، وَقَدْ خُولِفَ صَدَقَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ فِي رِوَايَةِ هَذَا الْحَدِيثِ عَنْ نَافِعٍ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په شهدو كي په هر لسو مشكونو كي يو مشك زكواة دي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابوهريره، ابو سياره متعي، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، دابن عمر رضي الله عنهما دحديث په سند محدثينو كلام كړي دي او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دي باب كي كوم زيات صحيح څيز مروي نه دي او په همدي باندي داهل علمو عمل دي امام احمد او اسحاق هم په دي باندي قول كړي دي،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۸۵۰۹)

دبعضي اهل علمو قول دادي چي په شهدو کي هيڅ قسم زکواة نشته، صدقه بن عبدالله حافظ نه دي دنافع نه ددي حديث په نقل کولو کي دصدقه بن عبدالله مخالفت شوي دي.

****

٦٣٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: سَأَلَنِي عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ صَدَقَةِ الْعَسَلِ، قَالَ: قُلْتُ: مَا عِنْدَنَا عَسَلٌ نَتَصَدَّقُ مِنْهُ، وَلَكِنْ أَخْبَرَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ حَكِيمٍ، أَنَّهُ قَالَ: " لَيْسَ فِي الْعَسَلِ صَدَقَةٌ ". فَقَالَ عُمَرُ: عَدْلٌ مَرْضِيٌّ فَكَتَبَ إِلَى النَّاسِ أَنْ تُوضَعَ يَعْنِي عَنْهُمْ. ([1])

ترجمه : دنافع بيان دي چي زما نه عمر بن عبدالعزيز دشهدو دزکواة باره کي تپوس اوکړو نو ما اووئيل مونږ سره خو شهد نشته چي زکواة يي ورکړو ليکن مونږ ته مغيره بن حکيم خبر راکړي دي چي په شهدو کي زکواة نشته عمر بن عبدالعزيز اووئيل دا خو په عدل بناء او درسته خبره ده چنانچه هغوئ خلقو ته اوليکل چي تاسو ته دي دشهدو زکواة معاف کړي شي.

دعشري زمکي په شهدو کې دزکاة حکم

په مذکوره مسئله کي د اهل علمو اختلاف دی:

(۱) امام ابو حنيفه رحمه الله وايي که چري شهد د عشري زمکي نه حاصل کړي شو نو په دې کي به عشرواجب وی.

(۲) او امام شافعی رحمه الله فرمائی چی په شهدوکي عشرواجب نه دې.هم دا قول د امام مالك رحمه الله دې.

د امام شافعی رحمه الله دليل دادې چی شهد د ځناورو يعنی د مچو نه پيداکيږی. نو دا د ريښمو په شان شو ځکه چی ريښم هم د ځناور يعنی د چينجو نه پيداکيږی اوپه ريښموکي په اتفاق سره عشرنشته.نوپه شهدوکي به هم عشرنه وی.

زمونږ دليل د رسول الله صلي الله عليه وسلم حديث

"عن أبي هريرة(رضي الله عنه) أن رسول الله صلي الله عليه وسلم كتب إلى أهل اليمن أن في العسل ألعشر" دې.يعنی نبی کريم صلي الله عليه وسلم يمن والوته اوليکل چی په شهدو کي عشر واجب دې.

(۲) دويم دليل دادې چی دشهدو مچئ ګلونه او ميوې خوری.لکه چی د الله تعالی ارشاد دې

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٥٠٩)

:ثم كلي من كل الثمرات (الايه)

او په ګلونو او میووکي عشرواجب دې.نوکوم څیز چی ددې نه پیدا کیږی. یعنی شهد.په دې کي به هم عشرواجب وی.په خلاف د ریښمو د چینجو،چی د شهتوتانو پانړې خوری او په پانړوکي عشر واجب نه وی.نوکوم څیز چی ددې نه پیدا کیږی.یعنی ریښم، په دې کي به هم عشر واجب نه وی.

په شهدو کي به عشر واجب وی.که شهد کم وی اوکه زیات ځکه چی امام صاحب رحمه الله په وجوب عشر کي د نصاب اعتبار نه کوی.

د امام ابویوسف رحمه الله دویم قول دادي: دهغه نه په دې باره کي درې روایتونه منقول دی.

(۱) یودا که شهد د پنځو وسق قیمت برابروی نو په دې کي به عشرواجب وی.هم دا د ابویوسف دویم داکه دشهدو مقدار د لسومشکونو په اندازه وی.نوپه دې کي به عشرواجب وی.

ددویم دلیل د بنی شبابه حدیث دې.په عنایه کي دا حدیث داسې دې چی د بنی جرهم یو قوم بنوشبابه سره د شهدو مچۍ وې.دې خلقوبه په هرلسو مشکونوکي یو مشك رسول الله صلي الله علیه وسلم ته ورکولو او رسول الله صلي الله علیه وسلم به ددوی د علاقې حفاظت کولو.بیاهرکله چی د امیرالمؤمنین عمربن الخطاب(رضي الله عنه) د خلاقت زمانه راغله اودوی سفیان بن عبدالله ثقفی(رضي الله عنه) عامل مقرر کړو.نودې خلقو د عشر ورکولو نه انکاراوکړو.سفیان بن عبدالله ثقفی(رضي الله عنه) عمر(رضي الله عنه) ته اولیکل نو عمر(رضي الله عنه) په جواب کي اولیکل چی د شهدومچۍ خو د باران مچۍ دی الله تعالی چی کوم ځائي اوغواړی هلته کې ئې بوځی.که دغه خلق تاله عشر درکړی.کوم ئې چی رسول الله صلي الله علیه وسلم ته ورکولو.نوتاسو ددوی د علاقې حفاظت کوئ.ګنی د دوی دعلاقه او دخلقو په مینځ کي لارخالی کړئ.ددې جواب نه پس دغه خلق عشر ورکول شروع کړل. د عمر(رضي الله عنه) د جواب حاصل داوو چی که دغه خلق عشرورکړی.نوددوی د علاقې ددوی دپاره حفاظت کوه.ګنی چی څوك غواړی شهد دې اوباسی او اوړی دې.بهرحال ددې حدیث نه معلومه شوه چی د بنوشبابه خلقو په لسومشکونوکي یومشك عشر ورکولو.یومشك لس رطله وی.

(۳) دریم روایت دا دې.که شهد پنځه منه وی.نوپه دې کي به عشر واجب وی.

د امام محمد رحمه الله نه نقل دی چی پنځه فرق نصاب دې.یعنی په پنځه فرق شهدوکي عشر واجب دې او یو فرق شپږ دیرش رطله وی ځکه په کومو پیمانوسره چی د شهدو اندازه کیږی.په دې کي د ټولو نه اعلی پیمانه فرق دې.

****

١٠_ باب مَا جَاءَ لاَ زَكَاةَ عَلَى الْمَالِ الْمُسْتَفَادِ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ

دكال په مينځ كي هغه وخته پوري په حاصل شوي مال كي زكواة نشته څو پوري چي په دي باندي كال تير شوي نه وي

٦٣١_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ صَالِحٍ الطَّلْحِيُّ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ عَلَيْهِ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ عِنْدَ رَبِّهِ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ سَرَّاءَ بِنْتِ نَبْهَانَ الْغَنَوِيَّةِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چي كوم مال حاصل شي په هغي كي ترهغه وخته زكواة نشته تر څو پوري چي دمالك سره په دي باندي كال تير نشي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دسراء بنت نبهان غنويه رضي الله عنها نه هم روايت مروي دي.

****

٦٣٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: " مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ فِيهِ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ عِنْدَ رَبِّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى أَيُّوبُ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ مَوْقُوفًا، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ، ضَعَّفَهُ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ وَغَيْرُهُمَا مِنْ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَهُوَ كَثِيرُ الْغَلَطِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنْ لَا زَكَاةَ فِي الْمَالِ الْمُسْتَفَادِ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا كَانَ عِنْدَهُ مَالٌ تَجِبُ فِيهِ الزَّكَاةُ فَفِيهِ الزَّكَاةُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ سِوَى الْمَالِ الْمُسْتَفَادِ مَا تَجِبُ فِيهِ الزَّكَاةُ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ الْمُسْتَفَادِ زَكَاةٌ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ، فَإِنِ اسْتَفَادَ مَالًا قَبْلَ أَنْ

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٤٣١)

يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ فَإِنَّهُ يُزَكِّي الْمَالَ الْمُسْتَفَادَ مَعَ مَالِهِ الَّذِي وَجَبَتْ فِيهِ الزَّكَاةُ، وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَأَهْلُ الْكُوفَةِ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي چاته کوم مال حاصل شي نو په هغي کي تر هغه وخته زکواة نشته ترڅو پوري چي دده سره په دي باندي يو کال تير نشي.

امام ترمذي وائي دا موقوف حديث د عبدالرحمن بن زيد بن اسلم دمرفوع حديث نه زيات صحيح دي، ايوب، عبيدالله بن عمر، او بعضي نورو محدثينو دنافع نه او هغه د ابن عمر نه موقوفا نقل کړي دي، عبدالرحمن بن زيد بن اسلم دحديث په باب کي ضعيف دي احمد بن حنبل، علي بن مديني، او نورو محدثينو دده تضعيف کړي دي عبدالرحمن به په کثرت سره غلطياني کولي په صحابه کرامو کي داکثرو نه مروي دي چي په حاصل شوي مال کي هغه وخته پوري زکواة نشته څو پوري چي کالورباندي تير شوي نه وي، امام مالك ، شافعي، احمد، او داسحاق هم ددي قائل دي، دبعضي اهل علمو قول دي کله چي ديو سړي سره دمخکي نه دومره مال وي چي زکواة پکي واجب کيږي نو په حاصل شوي مال کي به هم زکواة واجب وي او که دده سره حاصل شوي مال نه علاوه نور مال نه وي چي زکواة پکي واجب شوي وي نو په ګټلي شوي مال کي به هيڅ قسم زکواة واجب نه وي څو پوري چي کال ورباندي تير نشي او که ددي سره دکال تيريدو نه مخکي نور مال يوځاي شي نو دا به ددي مال سره په کوم کي چي زکواة واجب شوي دي په حکم کي شامل شي او دمستفاد مال نه به هم زکواة اوباسي سفيان ثوري او اهل کوفه هم ددي قائل دي.

تشريح : دکال په مينځ کې د ،مستفاد مال، دزکاة بيان

مستفاد(حاصل شوی"مال دوه قسمونه دی:

(۱) ياخوبه دا داصلی يعنی داوښانوجنس وی.(۲) اويابه دغيرجنس نه وی.مثلاً دده سره د اوښانونصاب دې.اودکال په مينځ کي غواګانی ياچيلۍ حاصلی شوې.په دې دويم صورت کي په اتفاق سره مال مستفاد اصل سره نشی ملاويدلې .بلکه په مال مستفاد به ځانله د سرنه دحولان حول معتبروي.

اوکه اولنی صورت وې.يعنی مال مستفاد د اصل مال د جنس نه وې.نوددې هم دوه صورتونه دی:

(۱) څکه چی مال مستفاد به ياهم اصل حاصل شوې وی.مثلاً بچی اومنافع

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۷۵۹۵)

(۲) او یابه دسبب مقصود نه حاصل شوې وی.نوپه اول صورت کې بالاجماع مال مستفاد داصل سره ملاوولې شی.اود اصل نصاب حول به دمال مستفاد حول شمارلی شی.دمال مستفاد دپاره دوباره دسرنه دحولان حول ضرورت نشته .
اوکه دویم صورت وې.مثلاًدچا سره داوښانونصاب وې.اودکال په مینځ کې څه نور اوښان مستفاد شو.لیکن ددې دحاصلولوسبب اخستل دی،یاهبه ده،یامیراث دې.یعنی ده په مینځ کې نوراوښان واخستل،یاچا ده ته هبه کړل،یاپه میراث کې ملاؤشو.نوپه دې صورت کې زمونږ په نزد مال مستفاد داصل نصاب سره ملاوولې شی.اوپه اصل نصاب چی کال تیرشی.نود(اصل نصاب اومال مستفاد)پوره مال زکاة به واجب وی.په مال مستفاد باندې دسرنه حولان حول شرط نه دې.
بلکه په اصل مال باندې دکال تیریدل کافی دی.
(۲) اوامام شافعی رحمه الله فرمائی چی په مال مستفاد کې دزکاة د وجوب دپاره په مال مستفاد باندې دسرنه کال تیریدل شرط دی.اوددې ابتداء دمالك کیدلو د وخت نه کیږی.نوکله چی په مال مستفاد باندې پوره یوکال تیرشی.نوپه دې کې به زکاة واجب وی.مال مستفاد که دنصاب په اندازه وی اوکه نه وی. د جانبینو دلائل د علم فقه په مطولاتو کې کتلی شئ. (العنایه علي الهدایه)

****

۱۱_ بَابُ مَا جَاءَ لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ جِزْيَةٌ

په مسلمانانو جزیه اوټکس نشته

٦٣٢_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَكْثَمَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ قَابُوسَ بْنِ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَصْلُحُ قِبْلَتَانِ فِي أَرْضٍ وَاحِدَةٍ وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ جِزْيَةٌ".[1]

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په یوه زمکه باندې د دوه قبیلو موجود کیدل درست نه دي او نه په مسلمانانو باندې جزیه مقررول درست دي.

****

1 _ ابي داود في الخراج ٢٨ (٣٠٣٢). (تحفة الأشراف: ٥٣٩٩). مسند أحمد (١/ ٢٨٥)

٦٣٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ قَابُوسَ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، وَجَدِّ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ قَدْ رُوِيَ، عَنْ قَابُوسَ بْنِ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّ النَّصْرَانِيَّ إِذَا أَسْلَمَ وُضِعَتْ عَنْهُ جِزْيَةُ رَقَبَتِهِ، وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ" إِنَّمَا يَعْنِي بِهِ جِزْيَةَ الرَّقَبَةِ، وَفِي الْحَدِيثِ مَا يُفَسِّرُ هَذَا حَيْثُ، قَالَ: إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ، وَالنَّصَارَى وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ. (١)

ترجمه په دې سند سره هم دقابوس نه دسابقه روايت هم معنى حديث مروي دی

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث دقابوس بن ابي ظبيان نه مروي دي كوم چي هغه دخپل پلار نه او دهغه پلار درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي . او په دي باب كي دسعيد بن زيد او حرب بن عبيدالله ثقفي دنيكه نه هم احاديث مروي دي داهل علمو عمل هم په دي باندي دي چي يو نصراني كله اسلام قبول كړي نو هغه ته به دخپل څټ جزيه معاف كولي شي او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمان "ليس علي المسلمين عشور" مطلب هم دادي چي په څټ باندي جزيه نشته .او په حديث كي هم ددي وضاحت شوي دي لكه چي ارشاد نبوي دي "عشر صرف په يهود او نصاري دي او په مسلمانانو باندي عشر نشته.

****

١٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي زَكَاةِ الْحُلِيِّ

دزيوراتو دزكواة بيان

٦٣٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الْمُصْطَلِقِ، عَنِ ابْنِ أَخِي زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَتْ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ، فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". (٢)

ترجمه : عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دبي بي زينب ثقفيه رضي الله عنهما نه روايت دي

---

1 سنن ابي داود في الخراج ٢٨ (٣٠٣٢) . (تحفة الأشراف : ٥٣٩٩) . مسند احمد (١ في ٢٨٥)

2 تفرد به المؤلف (بهذا السياق وبهذا المناسبة (تحفة الأشراف : ١٥٨٨٤) وانظر: مسند احمد (٦ في ٢٦٣)

چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته د وعظ كولو په حال كي اوفرمائيل اى د ښځو ډلي صدقه او خيرات وركوئ اګركه په شكل زيوراتو وي. ځكه چي د قيامت په ورځ په جهنم كي اكثر تاسو يئ.

لغات : تصدّقن: تصدق: باب تفعل نه په معني دخيرات وركولو دي، تصدق علي الفقير بكذا يعني فقير ته يي فلاني شي صدقه كړو.

د زينب ثقفيه رضي الله عنهما حالات:

نوم زينب عرف رائطه قبيله ثقيف سره يي تعلق وو او دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه سره يي نكاح شوي وه، چونكه دابن مسعود دمعاش څه ذريعه نه وه نو زينب رضي الله عنها به د دستكارئ په ګټي ګذاره كوله ددينه چي به كوم امدن راتلو هغه به يي پخپل خاوند او خپلو بچو خرچ كولو يو ځل يي اووئيل زه چي څه ګټم نو په تاسو يي خورم زما په دي كي څه فائده ده ابن مسعود رضي الله عنه جواب وركړو ته دخپلي فائدي صورت پيدا كړه زما ستا نقصان خوښ نه دى په دي وجه تالره پكار دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه معلومات حاصل كړي چنانچه زينب خپله مسئله په دربار نبوت كي بيان كړه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل پخپل خاوند او اولاد چي خرچ كوي تاته به ددي اجر ملاويږي (مسلم).
دزينب دوفات باره كي تحقيق معلومات حاصل نه دى ، او دمروياتو شمير يي اتو ته رسيږي چي دوه متفق عليه دي.

****

٦٣٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الحَارِثِ ابْنِ أَخِي زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ وَهِمَ فِي حَدِيثِهِ، فَقَالَ: عَنْ عَمْرِو بْنِ الحَارِثِ، عَنِ ابْنِ أَخِي زَيْنَبَ، وَالصَّحِيحُ إِنَّمَا هُوَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الحَارِثِ ابْنِ أَخِي زَيْنَبَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَنَّهُ رَأَى فِي الحُلِيِّ زَكَاةً " وَفِي إِسْنَادِ هَذَا الحَدِيثِ مَقَالٌ. وَاخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي ذَلِكَ، فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالتَّابِعِينَ فِي الحُلِيِّ زَكَاةَ مَا كَانَ مِنْهُ ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ. وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ المُبَارَكِ، وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مِنْهُمْ ابْنُ عُمَرَ، وَعَائِشَةُ، وَجَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ لَيْسَ فِي الْحُلِيِّ زَكَاةٌ، وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ بَعْضِ فُقَهَاءِ التَّابِعِينَ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ.(1)

ترجمه : په دي سند سره هم دعبدالله بن مسعود د بي بي زينب رضي الله عنهاپه واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل حديث هم معني روايت مروي دي.

امام ترمذي وائي دا روايت دابومعاويه دحديث نه زيات صحيح دي هغه ته پخپل حديث كي وهم پيدا شوي دي ابو معاويه وائي دعمرو بن الحارث نه روايت دي او هغه دعبدالله بن مسعود دښځي دوراره نه روايت كوي او صحيح روايت دي دزينب دوراره عمرو بن حارث نه روايت دي، همدارنګي دعمرو بن شعيب نه په سند د عن ابيه عن جده عبدالله بن عمرو العاص عن النبي صلي الله عليه وسلم روايت مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په زيوراتو كي زكواة واجب كړي دي ددي حديث په سند محدثينو كلام كړي دي، داهل علمو په دي سلسله كي اختلاف دي په صحابه كرامو او تابعينوكي دبعضو په كومو كي چي ابن عمر، عائشه، جابر بن عبدالله، او انس بن مالك رضي الله عنهم شامل دي دا قول دي چي په زيوراتو كي زكواة نشته ، دبعضي تابعينو او فقهاؤ نه هم داسي مروي دي او دا دامام مالك، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي.

****

٦٣٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ امْرَأَتَيْنِ أَتَتَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي أَيْدِيهِمَا سُوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ لَهُمَا: "أَتُؤَدِّيَانِ زَكَاتَهُ؟" قَالَتَا: لَا، قَالَ: فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتُحِبَّانِ أَنْ يُسَوِّرَكُمَا اللَّهُ بِسُوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ؟" قَالَتَا: لَا، قَالَ: "فَأَدِّيَا زَكَاتَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ قَدْ رَوَاهُ الْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ نَحْوَ هَذَا، وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ، وَابْنُ لَهِيعَةَ يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ، وَلَا يَصِحُّ فِي هَذَا الْبَابِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ.(2)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي دوه زنانه په خدمت نبوي كي حاضر شوي او ددوئ په لاسونو كي دسرو زرو بنګړي وو رسول الله صلي الله عليه

---

1 ـ صحيح البخاري في الزكاة ٤٨ (١٤٦٦). صحيح مسلم في الزكاة ١٤ (١٠٠٠). سنن النسائي في الزكاة ٨٢ (٢٥٨٣). (تحفة الأشراف: أيضا: ١٥٨٨٤). مسند احمد (٣ في ٥٠٢). سنن الدارمي في الزكاة ٢٣ (١٦٩٤)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٦٣٠)

وسلم ورته اوفرمائيل ايا تاسو دواړه ددي زكواة اداء كوئ ؟ هغوئ عرض اوكړو . رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ ته اوفرمائيل ايا تاسو دا خوښوئ چي الله تعالي درته د اور دوه بنګړي واچوي هغوئ عرض اوكړو هرګز نه، نو رسول الله ورته اوفرمائيل تاسو به ددي دواړو زكواة ضرور اداء كوئ.

امام ترمذي وائي دا حديث مثني بن صباح هم دعمرو بن شعيب نه په دي طريقه نقل كړي دي او مثني بن صباح او ابن لهيعه دواړه دحديث په باب كي ضعيف دي ، درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دي باب كي هيڅ يو صحيح څيز ثابت نه دي.

تشريح : په دي مسئله كي اختلاف دي چي په زيوراتو كي زكواة واجب دي او كنه په دي كي دوه مذاهب دي.

(١) دامام ابو حنيفه په نزد دښځو داستعمال په زيوراتو كي زكواة واجب دي.

(٢) او دائمه ثلاثه په نزد داستعمال په زيوراتو كي زكواة نشته او دائمه ثلاثه په مذهب كوم صريح حديث نشته صرف قياسي استدلال كوي چي زيور د استعمال څيز وي او داستعمال په څيزونو كي زكواة نه وي ليكن زمونږد فقهاؤ اصول دادي چي قياس دنص په مقابله كي مقبول نه دي.

****

١٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي زَكَاةِ الْخُضْرَوَاتِ

په شينكواوسبزيانوكي دزكاة بيان

٦٣٨_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ. أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ. عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عُمَارَةَ. عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُبَيْدٍ. عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ. عَنْ مُعَاذٍ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ عَنِ الْخَضْرَاوَاتِ وَهِيَ الْبُقُولُ. فَقَالَ: "لَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: إِسْنَادُ هَذَا الْحَدِيثِ لَيْسَ بِصَحِيحٍ. وَلَيْسَ يَصِحُّ فِي هَذَا الْبَابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ. وَإِنَّمَا يُرْوَى هَذَا عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْحَسَنُ هُوَ ابْنُ عُمَارَةَ. وَهُوَ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ ضَعَّفَهُ شُعْبَةُ وَغَيْرُهُ وَتَرَكَهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ. (١)

---

١ _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٥٢)

ترجمه دمعاذ رضي الله عنه نه روايت دي چي ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته خط اوليكو او دسبزيانو دزكواة باره كي مي ورنه تپوس اوكړو نو جواب يي راوليږلوچه په دي كي هيڅ قسم زكواة نشته.

امام ترمذي وائي ددي حديث سند صحيح نه دي او په دي باب كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه هيڅ څيز صحيح ثابت نه دي او دا صرف دموسي بن طلحه نه مروي دي او هغه درسول الله نه مرسلا نقل كړي دي، په همدي داهل علمو عمل دي چي په سبزيانو كي زكواة نشته، حسن دعماره څوي دي او دا دمحدثينو په نزد ضعيف دي شعبه وغيره دده تضعيف كړي دي او دابن مبارك متروكينو كي شميرلي دي.

تشريح : د سبزياتو او تركاريانو د زكات متعلق د احنافو اهل علمو دا مسلك دی چي سبزي به د دوه حالاتو نه خالي نه وي يا به د تجارت دپاره وي او يابه د خپل ذاتي ضرورت پوره كولو دپاره كرلی شوي وي، كه د تجارت دپاره وي نو په دي كي بالاتفاق عشر واجب دی، اوكه د خپل ذاتي ضرورت پوره كولو دپاره كرلی شوي وي نو په دي كي اختلاف دی اويه دي مسئله دوه اقوال دي:

(۱) امام ابو حنيفه رحمه الله په دي كي د زكات د وجوب قائل دی .

(۲) دويم قول د صاحبينو دی دوئ وايي چي په سبزيانو كي زكات نشته .

د صاحبينو دليل د نبی كريم صلي الله عليه وسلم قول "ليس في الخضروات صدقة" دې اودا روايت په،دارقطني،كي داسې دې. "أن رسول الله صلي الله عليه وسلم نهى أن يؤخذ من الخضروات صدقة" په حديث كي د صدقه نه مرادعشر دې ځكه چی سبزيانې كه دتجارت دپاره وی.نوپه دې كي بالاتفاق زكاة واجبيږی.نومعلومه شوه چی په حديث كي د زكاة نفی نه ده شوې. اوهركله چی زكاة غيرمنفی دې.نوعشربه متعين وی اود حديث مطلب به داوی چی نبی كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلې دی. چی په سبزيانوكي عشر واجب نه دې اوپه سبزيانوكي د عشرد عدم وجوب علت ددې باقی نه پاتې كيدل دی.نوكوم څيزونه چی پوره كال بغيرد څه علاجه باقی نه پاتې كيږی.په دې كي به عشر واجب نه وی.

دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل ذكرشوې حديث "ما أخرجت الأرض ففيه العشر" دې ځكه چی دا حديث مطلق دې.د باقی پاتي كيدلو او دنه پاتې كيدلوهيڅ قيدنشته نو مطلقاً به د زمكې په پيداواركي عشرواجب وی.كه پوره كال باقی پاتې كيدې شي.وكه نشي.

دصاحبينو ددليل نه جواب دادی چی د "ليس في الخضروات صدقة"مطلب دادې چی كه څوك تركاريانې او سبزيانې دخان سره واخلی اود عاشر په خواكي تيرشی اومالك د قيمت وركولونه انكار اوكړی.نوعاشر به د تركاريانو عشر نه وصول كوی ځكه چی عاشر بالعموم

د ښار نه لرې اوسيږي. اوهلته کې فقيران موجود نه وي.نوپه داسې صورت کې که په سبزيانوکې عشروصول کړی. نو د دې دخرابيدو امکان دې.په دې وجه او وئيلې شو چې عاشر به د سبزيانو عشر نه اخلی.بلکه مالك به يې په خپله فقيرانو ته ورکړی اوهرکله چې ئې مالك پخپله فقيرانو ته ورکړی.نودوی به دا اوخوری اوس به ددې د خرابيدو هيڅ امکان پاتې نشی. امام ابوحنيفه ددې حديث هم په دې محمل باندې عمل کوی.دامطلب نه دې چې په سبزيانو کې بالکل عشرواجب نه دې.

د امام صاحب رحمه الله په مذهب باندې عقلی دليل دادې چې د عشر دوجوب سبب د زمکې نامی کيدل دی اوکله دزمکې نه په داسې څيز سره هم نماء حاصليږی چې هغه باقی پاتې کيدونکې نه وی.نوکه د زمکې نه ترکاريانې او سبزيانې پيداکړې شې اوعشر واجب نکړې شی.نود سبب نه بغير به دحکم نه موجود کيدل لازم شی اودا درست نه دی.په دې وجه ترکاريانو او سبزيانوکې هم عشرواجب کړې شو.

هم دغه وجه ده چې په خراجی زمکه کې که ترکاريانې او سبزيانې وکرلی شوې نو په دې کې به خراج واجب وی.څنګه چې په باقی نه پاتې کيدونکوڅيزونوکې خراج واجبيږی.دغه شان عشر به هم واجب وی.

(۱) د امام صاحب رحمه الله مذهب ذکرکولو کې چې د خشاکو د لرګو.نلونو اود ګيا استثناء شوې وه.يعنی په دې څيزونوکې عشرواجب نه دې ځکه چې عادةً دا څيزونه په باغونوکې نه راخيژی.بلکه ددې څيزونو نه باغونه صفا کولې شی.

(۲) خوکه د پټی مالك زمکه د درمو يا د خشاکو د ونو باغ يا د ګيا کرلو ځائې جوړ کړی اوددې څيزونو حاصلول يې مقصود وي نو په دې کې به عشر واجب وی.(احسن الهدايه، عنايه شرح هدايه).

****

١٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّدَقَةِ فِيمَا يُسْقَى بِالأَنْهَارِ وَغَيْرِهِ

په نهرونو وغيره اوبه شوو زمکوپه فصل کې دزکواة بيان

٦٣٩_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، وَبُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ الْعُشْرُ، وَفِيمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الأَشَجِّ، وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، وَبُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَكَأَنَّ هَذَا أَصَحُّ وَقَدْ صَحَّ حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْبَابِ، وَعَلَيْهِ الْعَمَلُ عِنْدَ عَامَّةِ الْفُقَهَاءِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دكوم فصل سيرابي چي دباران يا دنهر په اوبو شوي وي په هغي كي زكواة لسمه حصه ده او دكوم فصل سيرابي چي په بوكه شوي وي په هغي كي زكواة دلسمي حصي نيمه ده يعني شلمه حصه ده .

امام ترمذي وائي په دي باب كي دانس بن مالك، ابن عمر، عن جابر رضي الله عنه نه هم احاديث مروي دي، دا حديث دبكير بن عبدالله بن اشج سليمان بن يسار او بسر بن سعيد نه هم مروي دي او دوئ ټولو دا رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي ګويا كي چي دا زيات صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر حديث هم صحيح دي كوم چي هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي او په همدي داكثرو فقهاؤ عمل دي .

تشريح : دزمكي په پيداوار كي زكواة په دوه قسمه دي لسمه حصه او شلمه حصه كه دزمكي سيرابي په خاروو يا په بوكه يا موټر وغيره په ذريعه كيږي او يا يي سيرابي په محنت باندي كيږي نو ددي په پيداوار كي نصف عشر يعني شلمه حصه زكواة واجب دي او كه نه يي خرچه كړي وي او نه يي محنت كړي وي په نهر يا په چينه يا په باران سيراب شوي وي نو دئ كي پوره عشر يعني لسمه حصه زكواة واجب دي او په عرف كي دواړو ته عشر وئيلي شي او دا مسئله دټولو فقهاؤ په نزد اجماعي ده.

****

٦٤٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ سَنَّ فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ أَوْ كَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرَ وَفِيمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفَ الْعُشْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الزكاة ١٧ (١٨١٦). (تحفة الأشراف: ١٢٢٠٨ و ١٣٤٨٣)

2 ـ صحيح البخاري في الزكاة ٥٥ (١٤٨٣). سنن ابي داود في الزكاة ١١ (١٥٩٦). سنن النسائي في الزكاة ٢٥ (٢٤٩٠). سنن ابن ماجه في الزكاة ١٧ (١٨١٢). (تحفة الأشراف: ٦٩٧٧)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا طريقه جاري كړي ده چي كومه زمكه چينو يا باران سيراب كړي وي او يا رطوبت والا زمكه وي چي اوبو ته ضرورت نه لري نو په دي كي لسمه حصه زكواة دي او چي كومه زمكه په بوكه سيراب كيږي په هغي كي لسمي حصي نيمه يعني شلمه حصه زكواة دي ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح : كه پټي په لوې ډول يا آرټ ياد اوښي په ذريعه خړوب كړې شوې وي.نود امام صاحب رحمه الله او صاحبين دواړو په نزد په دې كي نصف عشرواجب دې خوددې اختلاف سره د امام صاحب رحمه الله په نزد نه نصاب شرط دې اونه بقاء اود صاحبينو په نزدبه د دواړو شرطونو لحاظ ساتلې شي.

ددي دليل دادې چي په دې صورتونوكي زيات مشقت اوچتولې شي.په نسبت د باران يا د درياب نه د اوبه كولو،چونكه په باران يا درياب سره اوبه كولوكي مشقت كم وي.په دې وجه به په دي كي عشرواجب وي اوپه آرټ وغيره سره خړوبولوكي مشقت زيات وي.په دې وجه په دې صورتونوكي به دعشر نيمه يعني شلمه حصه واجب وي.

اوكه پټي د درياب په اوبوسره هم سيراب كړې شوې وي اوپه ډول سره هم اوبه راوښكلې شوې وي اوسيراب كړې شوې وي.نود كال د اكثر اعتبار به كولې شي.يعني كه اكثركال په درياب سره سيراب كړې شو اوڅه ورځې په ډول سره سيراب كړې شو نو عشر به واجب وي اوكه ددې په عكس دې نونصف به واجب وي.

دصاحبينو په مذهب كي يو اشكال دی.هغه داچې د صاحبينو په نزد زمكې په پيداوار كي د عشر د وجوب دپاره ددې پنځه وسق مقدار كيدل ضروری دې.ددې نه په كم كي به عشر واجب نه وی.خوپه كومو ځيزونوكي چې په وسق سره د كاروبارمعمول نه وی اوددې اخستل خرڅول په وسق سره نه كيږی.لكه زعفران او مالوچ شو.نوآيا په دې كي به عشرواجب نه وی؟

د داسې ځيزونو باره كي د امام ابويوسف رحمه الله قول دادې چې زعفران وغيره غېر وسقی ځيزونو قيمت كه د ادنی درجه وسقی ځيزونو سره پنځه وسق پوره كيدې شی.نوپه دې كي به عشرواجب وی.مثلاً دوه سوه گرامه زعفرانو قيمت د پنځه وسق جوارو قيمت ته رسی.نوپه دوه سوه گرامه زعفرانو كي به عشرواجب وی اگرچې د زعفرانو اخستل خرڅول په وسق سره نه كيږی.

د امام ابو يوسف دليل دادې چې په غير وسقی ځيزونو كي شرعی نصاب يعنی د پنځه وسقو اندازه كول ممكن نه دی.په دې وجه به ددې د قيمت اعتباركولې شی.لكه څنگه چې د تجارت په سامان كي شرعی نصاب يعنی دوه سوه درهمو اندازه كول ناممكن دی. ددې

قيمت معتبر دی.یعنی سامان تجارت که دوه سوه درهمومقدار ته اورسیږی.نوپه دې کې به زکاة واجب وی.

د امام محمد رحمه الله قول دادې چی په غیر وسقی څیزونو کې د اعلی درجه معیار معتبر دې، یعنی په کوم معیار سره چی اندازه کولې شی.کوم چی د ټولونه اعلی وې.که دا د پنځوتعداد ته اورسی.نوپه دې کې به عشر واجب وی.ګنی واجب به نه وی.لکه چی په مالوچو کې د ټولو نه اعلیٰ او لویه اندازه کولو والا آله اومعیار حِمل (بکسرالحاء) دې.حِمل د یوې اوښې بوجھ نوکه مالوچ پنځه حِمله وی.نود امام محمد رحمه الله په نزدبه په دې کې عشر واجب وی.یوحِمل تقریباً درې سوه منه وی اوپه زعفرانو کې د ټولونه اعلیٰ معیار ،مَن، وی نو که زعفران پنځه منه مقدار ته اورسی. نو په دې کې به عشرواجب وی.

****

١٥ ـ بَاب مَا جَاءَ فِي زَكَاةِ مَالِ الْيَتِيمِ

د یتیم دمال نه د زکاة ویستلو بیان

٦٤١ ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ الْمُثَنَّى بْنِ الصَّبَّاحِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ، فَقَالَ: " أَلَا مَنْ وَلِيَ يَتِيمًا لَهُ مَالٌ فَلْيَتَّجِرْ فِيهِ وَلَا يَتْرُكْهُ حَتَّى تَأْكُلَهُ الصَّدَقَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، لِأَنَّ الْمُثَنَّى بْنَ الصَّبَّاحِ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا الْبَابِ، فَرَأَى غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَالِ الْيَتِيمِ زَكَاةً، مِنْهُمْ عُمَرُ، وَعَلِيٌّ، وَعَائِشَةُ، وَابْنُ عُمَرَ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَقَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَيْسَ فِي مَالِ الْيَتِيمِ زَكَاةٌ، وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَعَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ هُوَ ابْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، وَشُعَيْبٌ قَدْ سَمِعَ مِنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَقَدْ تَكَلَّمَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ فِي حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، وَقَالَ: هُوَ عِنْدَنَا وَاهٍ، وَمَنْ ضَعَّفَهُ فَإِنَّمَا ضَعَّفَهُ مِنْ قِبَلِ أَنَّهُ يُحَدِّثُ مِنْ صَحِيفَةِ جَدِّهِ عَبْدِ

اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَمَّا أَكْثَرُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فَيَحْتَجُّونَ بِحَدِيثِ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ فَيُثْبِتُونَهُ، مِنْهُمْ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ وَغَيْرُهُمَا. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم خلقو ته خطاب اوكړو او ويې فرمائيل څوك چي دداسي يتيم متولي او سرپرست وي دچا سره چي څه مال وي نو دده په مال دي تجارت اوكړي او بغير دتجارته دي دي لره نه پريږدي دي دپاره چي صدقه يې په خوړلو ختم نكړي.

امام ترمذي وائي دا حديث صرف په همدي سند مروي دي او په دي سند محدثينو كلام كړي دي ځكه چي مثني بن صباح ضعيف دي ، بعضي محدثينو دا حديث دعمرو بن شعيب نه نقل كړي دي چي عمر رضي الله عنه اوفرمائيل ....او دماقبل حديث پشان حديث يې ذكر كړو، عمرو دشعيب ځوي دي او شعيب دمحمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص ځوي دي ، شعيب دخپل نيكه عبدالله بن عمر نه اوريدل كړي دي ، يحي بن سعيد دعمرو بن شعيب په حديث كلام كړي دي او دا يې وئيلي دي چي دي زمونږ په نزد ضعيف دي او چاچه دده تضعيف كړي دي دا يې صرف په دي وجه كړي دي چي هغه دخپل نيكه عبدالله بن عمرو دصحيفي نه حديث بيان كړي دي لېكن اكثر محدثينو دعمرو بن شعيب حديث قابل داستدلال ګنړي او دا ثابت ګنړي په كومو كي چي احمد او اسحاق بن راهويه وغيره هم شامل دي، په دي باب كي داهل علمو اختلاف دي دبعضي صحابه كرامو رائي داده چي ديتيم په مال كي زكواة شته يو دهغوئ نه عمر ، علي، عائشه، او ابن عمر رضي الله عنهم دي او همدا دامام مالك ، شافعي، احمد ، او اسحاق بن راهويه قول هم دي او داهل علمو ديو جماعت قول دادي چي ديتيم په مال كي زكواة نشته سفيان ثوري او عبدالله بن مبارك هم په دي باندي قول كړي دي.

اود عمرو بن شعيب نوم محمد بن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه دي اود شعيب سماع د خپل نيكه عمرو نه ثابت ده او يحي بن سعيد د عمرو بن شعيب په حديث كلام كړي دي ويل چي زمونږ په نزد ددي هيڅ بنياد نشته، او دده تضعيف په دي وجه شوي دي چي ده به د خپل نيكه عبد الله بن عمرو د صحيفي نه احاديث بيانول مګر اكثر محدثين دده روايت قبلوي او حجت يې ګڼي چي يو دهغوي نه امام احمد او اسحاق وغيره هم دي.

تشريح : د يتيم د متولي دپاره د يتيم د مال نه زكواة ويستل او وركول واجب دي او كنه په دي مسئله كي د فقهاؤ دوه مذاهب دي:

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٧٤٤)

(۱) د احنافو په نزد واجب نه دي.
(۲) د باقي ائمه په نزد د نابالغ په مال کي هم زکاة واجب دي:

احنافو د ابو داود او نسائي د مشهور روایت رفع القلم عن الثلاث عن النائم حتي يستيقظ وعن الصغير حتي يكبر وعن المجنون حتي يعقل او يفيق نه استدلال کړي دي.

دويم دليل امام محمد په کتاب الاثار کي د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دا قول نقل کړی دی: ليس في مال اليتيم زكاة.

او جمهورو علماؤ په دي باب کي د حديث الباب نه استدلال کړی دی چي شارحينو د هدايه ورته مفصل جوابات کړي دي، دلته يي د طوالت د خوف په وجه نشو نقل کولی.

دعبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه حالات:

نوم عبد الله کنيه ابومحمد يا ابوعبدالرحمان دپلار نوم يي عمرو بن العاص وو او دمور نوم يي ريطه بنت مبني وو دخپل پلار عمرو سره په اسلام کي داخل شوی وو (اسد الغابه).

درسول الله صلي الله عليه وسلم مجلس ته به راتلو او چي څه به يي اوريدل هغه به يي ليکل.

پخپله ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چي ده ته زما نه زيات احاديث ياد دي ځکه چي ده به ليکل کول او ما نه کول (تذكرة الحفاظ).

درسول الله سره په بعضي غزواتو کي هم شريك شوی دی او په جنګ يرموك کي عمرو بن العاص رضي الله عنه ده ته دخپل لاس جهنډه ورکړي ده.

ددرس حلقه يي ډيره وسيعه ده او دخپلو شاګردانو سره يي ډير محبت وو په هره دويمه ورځ به يي روژه نيوله او دشپي اکثره حصه به يي په عبادت کي تيروله او په دري ورځو کي به يي قران ختمولو.

وفات: عمرو بن العاص رضي الله عنه په ۶۵ هجري کي وفات شوی دی او په دغه زمانه کي دمروان بن حکم او عبدالله بن زبير جنګ جاري وو نو په دي وجه ده لره خلقو په کور کي دفن کړو ځکه چي جنازه عام قبرستان ته رسول مشکل وو.

دده نه اوه سوه روايات منقول دي چي ۱۷ متفق عليه دي اته په بخاري کي او شل په مسلم کي (تهذيب الكمال).

****

۱۶ـ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْعَجْمَاءَ جُرْحُهَا جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ

د څارويُ وهلي انسان وينه ويريا ده اود زمکي په مدفون مال کي خمس دی

٦٤٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، وَأَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، وَعَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دځاروي جوړ کړي زخم ويريا دي يعني معاف دي غوړ معاف دي او کوهي ته غورځيدل معاف دي او په رکاز يعني دزمکي په دفينه کي به پنځمه حصه ورکولي شي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دانس بن مالك، عبدالله بن عمرو، عباده بن الصامت، عمرو بن عوف مزني او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : په عام طور سره رواج دا دي چي پتبي والادورخي دخپل پتبي خيال ساتي او ځاروي هم دورخي سريږي او دشپي واپس کورته راځي نويدي وجه دورخي د فصل دبربادېدو په صورت کي ذمه داري دپتي دمالك ده او دشپي چي فصل برباد شي ددي ذمه واري دځاروو په مالك ده او وجه يي داده چي دشپي يي خپل ځاروي ولي تړلي نه دي ساتلي ځکه چي درسول الله صلي الله عليه وسلم فرمان دي "العجماء جرحها جبارا" (متفق عليه واحمد واصحاب سنن من حديث ابي هريره).

صاحب دهدايه ليکلي دي چي امام محمد بن حسن فرمائيلي دي دعجماء نه مراد پريخودلي شوي ځاروي دي يعني که پريخودلي ځاروي څوك زخمي کړي نو ددي څه معاوضه نشته، جمهورو د حرام بن سعد بن محيصه دروايت نه استدلال کړي دي چي دبراء بن عازب رضي الله عنه اوښه دچا باغ ته داخله شوه او څه نقصان يي اوکړو او مقدمه يي رسول الله ته پيش کړي شوه نو رسول الله فيصله اوکړه چي دورخي دپتو دحفاظت ذمه واري دپتو په مالك ده او دشپي

---

[1] ـ صحيح البخارى في الديات ٢٨ (٦٩١٢)، ومسلم في الحدود ١١ (١٧١٠). (تحفة الأشراف: ١٣٢٢٧، و١٥٢٢٨) وأخرجه: البخارى في الزكاة ٦٦ (١٤٩٩)، والمساقاة ٣ (٢٣٥٥)، والديات ٢٩ (٦٩١٣)، وابى داود في الخراج ٤٠ (٣٠٨٥)، والديات ٣٠ (٤٥٩٣)، والنسائى في الزكاة ٢٨ (٢٤٩٧)، سنن ابن ماجه في الأحكام ٤ (٢٦٧٣)، موطا مالك في الزكاة ٤ (٩)، العقول ١٨ (١٢)، مسند احمد (٢ في ٢٢٨، ٢٥٤، ٢٧٤، ٢٨٥، ٣١٩، ٣٨٢، ٣٨٦، ٤٠٦، ٤١١، ٤٥٤، ٤٥٦، ٤٦٧، ٤٧٥، ٤٨٢، ٤٩٥، ٥٠١، ٥٠٧)، والدارمى في الزكاة ٣٠ (١٧١٠)، والمؤلف في الأحكام ٣٧ (١٣٧٧)

چي څاروي نقصان اوکړي نو ددي ذمه وار دڅاروو مالك دي (رواه مالك في المؤطاء والشافعي واصحاب السنن الاربعه والدارقطني وابن حبان والحاكم والبيهقي في السنن).

امام شافعي وائي ددي حديث نه مونږ هم استدلال کړي دي داحديث متصل دي او راويان يي معروف دي .

حافظ ابن حجر ليکلي دي ددي روايت مدار په زهري دي اودزهري په الفاظو کي دبل سند په اعتبار سره اختلاف دي ، دمؤطا روايت خو هغه دي کوم چي ذکر کړي شو او په کوم سند کي چي ليث دزهري نه نقل کړي دي په هغي کي عن ابي محيصه نوم نشته او معن بن عيسي چي کوم روايت دمالك نه بيان کړي دي په هغي کي عن جده محيصه راغلي دي او دمعمر عن الزهير په روايت کي عن حرام عن ابيه راغلي دي او دده هيڅ څوك متابع نشته (اخرجه ابو داود وابن حبان) ليکن اوزاعي او اسماعيل بن اميه او عبدالله بن عيسي چي دزهري کوم حديث نقل کړي دي په هغي کي عن حرام عن البراء راغلي دي زه وايم ابن جوزي په تحقيق التعليق کي داحمد په سند سره داسي بيان کړي دي حافظ ابن حجر ليکلي دي حرام دبراء نه اوريدل نه دي کړي ، عبدالحق دابن حزم په اتباع کي هم داسي وئيلي دي نسائي من طريق محمد بن ابي حفصه عن الزهري ، زهري قول دي ابواسامه بن سهل خبر راکړي دي چي دبراء رضي الله عنه اوښي (الحديث).

دابن ذئب په روايت کي دي دزهري قول دي چي ماته چي دبراء رضي الله عنه اوښه الخ. پس د دري واړو امامانو په نزد العجماء جرحها جبار دعموم دپاره ناقة البراء والاحديث مخصص دي او وئيلي يي دي دالعجماء جبارا حکم هم په ورځ پوري مخصوص دي ، مونږ وايو عام هم دخاص پشان قطعي وي ترڅو چي ددواړو په يو وخت کي کيدل ظاهر نشي ترهغي به دي لره منسوخ ګرځولي شي او که اقتران زماني يا تاخر زماني هم ثابت نه وي نو تعارض به قائم شي اوچونکه د العجماء جبارا او ناقة البراء والاحديثونو ظهور په يوه زمانه کي شوي دي ترديچي عام لره په خاص محمول کړي شي او نه تاخر او تقدم ثابت دي چي سابقه جمله منسوخ اوګنړلي شي نوپدي وجه په دواړو کي تعارض باقي دي پس دشك په حالت کي د تاوان عائد کيدو فتوه نشي جاري کيدي ، ددينه علاوه قاعده داده که چري ددواړو حديثو تعارض ختم نکړي شي نو دقياس طرف ته رجوع ضروري ده او قياس دا تقاضا کوي چي ضمان دتاوان دي عائدنکړي شي ځکه چي دڅاروو مالك هيڅ قصور نه لري دي بالکل موجود نه وو او څاروي ازاد وو نه ده پخپله څاروي پريخي دي او نه يي شړلي وو او نه يي راوستلي وو دهيڅ قسم ضمان دموجب نسبت ده ته نشي کيدي پدي بنا باندي مونږ وايو که چري چا څاروي په لار کي پريخودلي وي او څاروو چاته ضرر ورسولو نو دڅاروو پريخودونکي به دتاوان ذمه دار وي داځکه ترڅو چي دا څاروي پدي لاره روان وي نو ددي دپريخودو نسبت به پريخودونکي ته

کیږي مګر که څاروي کوم طرف ته ستانه شوي وي ښي یاچپ طرف ته یا ودریدلي وي او بیا یې ددینه پس چاته تاوان رسولي وي نو ددي مالك ته به ددي فعل نسبت نه کوي اوپه لاره دپریخودو حکم به منقطع وي.

مسئله: که چرې داس والا په اس سور وي او یایي واګي نیولي وي او روان کړي یې وي او یایي دوروستونه شړي او اس څوك په لته اووهي او یایي اوچیچي او یایي په سر اووهي او یایي په خوله اوچیچي او یایي دخپو لاندي کړي یادچاسره ټکراؤ شي او یاپه ولاړه دچا سره اوجنګیږي او دغه خاي داس والاملکیت وي یادتیکي وغیره په ذریعه دده په تیکه کي وي نو داولني صورت نه علاوه په باقي ټولو صورتونو کي به داس والادتاوان ذمه واري نه وي صرف په اولني صورت کي به تاوان ورکوي ځکه چي دسوریدو په حالت کي دده بوج دده په شاپروت وي پداسي حالت کي که اس چالره دخپو لاندي کړي نو ګویاکي سور هم داس سره دلاندي کولو په عمل کي شریك دي. پس پدي حالت کي به سور مرتکب دبربادئ ګرځولي شي

په باقي صورتونو کي مونږ دنقصان رسولو او دضرر ورکولو سبب اخرني ګرځولي دي او په مسبب تاوان په هغه وخت کي عائد دي کله چي دده دطرف نه بغیر دارادي ددي فعل ظهور اوشي او په ذکر شوو صورتونو کي بغیر دارادي نه دضرر رسولو سبب پیدا کول ثابت نه دي لیکن که دغه ځاي داس دمالك ملکیت نه وي او نه دده په قبضه کي وي بلکه صرف ده ته دلته دتلو اجازت وي او داودریدو اجازت ورته نه وي لکه عامه لاره . یا ودریدل او تللو دواړو اجازت ورته وي نوپدي حالت کي به په ټولو ذکر شوو صورتونو کي په مالك تاوان عائد وي برابره خبره ده چي سور وي او که واګي یي نیولي وي او روان کړي یې وي او که دوروستو نه یې شړي لیکن پدي حالاتو کي هم که چرې اس چالره په لته اووهي او یا ورته په لکئ کوم ضرر اورسوي نو په اس والابه دکوم تاوان ذمه واري نه وي ځکه چي په عامه لاره په سلامتئ سره نورو ته دتاوان رسولو نه بغیر تیریدل دهر مسلمان حق دي او لاره خو دټولو مشترکه وي او دلاري نه فائده اخستل هم دهر چاحق دي لیکن دا اباحت ددي شرط سره مقید دي چي نورو ته به ضرر نه رسوي مګر تردي حده سلامتي ضروري ده دکومه حده پوري چي دتیریدونکي په اختیار کي حدود وي او دسور دپاره دا ممکن وي چي چالره داس دخپو نه لاندي نکړي او چالره دخپو نه لاندي کول دتلو دحق تقاضا نه ده مګر په تلو کي دلکئ وهلو او لتي وهلو نه خلق محفوظ کول دسور داختیار نه بهر دي پس که چرې په روانه روانه دلاري په مینځ کي دمسلمانانو په لار کي اس ودروي اوپدي حالت کي اس چالره په لته یالکئ اووهي نوداامام مالك بیان دي که چرې اس والاواګي نیولي وي او بوتلو یاشړلو والادطرف نه اس ته څه ترغیب نه وي یایي اس وهلي نه وي نو په ذکر شوو صورتونو کي په هیڅ یو صورت کي داس والا دتاوان ذمه وار نه دي.

دامام شافعي بيان دي که چري اس په خوله ياپه لته ياپه لکۍ کوم ځيز تـه ضـرر ورسوي نو اس والابه دتاوان ذمه وار وي اگر کـه دده دطرف نـه کـوم ضـرر پيداشوي وي اوکـه نـه وي او برابره خبره ده چي پدغه وخت کي په اس سور وي اوکه شړي يي او که هيڅ هم نـه کـوي صـرف ورسره وي.

دامام احمد بيان دي که چري داس مالك په اس سور وي او اس پخپله خوله ياپه خپه چاتـه ضـرر اورسوي نو مالك به يي دتاوان ذمه وار وي اوکه په لته څوك اووهي نومالـك بـه دتـاوان ذمـه وار نه وي ځکه چي رسول الله فرمائيلي دي الرجل جبار يعني دلتـي تـاوان نشتـه (رواه الـدارقطني عن سعيد بن المسيب مرسلا). (تفسير مظهري في تفسير سورة الانبياء).

****

١٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْخَرْصِ

د پيداوارد اټکلي مقدار مقررولو بيان

٦٤٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ. أَخْبَرَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ مَسْعُودِ بْنِ نِيَارٍ، يَقُولُ: جَاءَ سَهْلُ بْنُ أَبِي حَثْمَةَ إِلَى مَجْلِسِنَا، فَحَدَّثَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "إِذَا خَرَصْتُمْ فَخُذُوا وَدَعُوا الثُّلُثَ فَإِنْ لَمْ تَدَعُوا الثُّلُثَ فَدَعُوا الرُّبُعَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَعَتَّابِ بْنِ أَسِيدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الْخَرْصِ. وَبِحَدِيثِ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ: وَالْخَرْصُ: إِذَا أَدْرَكَتِ الثِّمَارُ مِنَ الرُّطَبِ وَالْعِنَبِ مِمَّا فِيهِ الزَّكَاةُ بَعَثَ السُّلْطَانُ خَارِصًا يَخْرُصُ عَلَيْهِمْ. وَالْخَرْصُ أَنْ يَنْظُرَ مَنْ يُبْصِرُ ذَلِكَ. فَيَقُولُ: يَخْرُجُ مِنْ هَذَا الزَّبِيبِ كَذَا وَكَذَا وَمِنَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا فَيُحْصِي عَلَيْهِمْ وَيَنْظُرُ مَبْلَغَ الْعُشْرِ مِنْ ذَلِكَ فَيُثْبِتُ عَلَيْهِمْ. ثُمَّ يُخَلِّي بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الثِّمَارِ فَيَصْنَعُونَ مَا أَحَبُّوا. فَإِذَا أَدْرَكَتِ الثِّمَارُ أُخِذَ مِنْهُمُ الْعُشْرُ. هَكَذَا فَسَّرَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهَذَا يَقُولُ مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. (١)

---

١ ـ سنن ابي داود في الزكاة ١٤ (١٦٠٥) . سنن النسائي في الزكاة ١٤ (١٦٠٥) . سنن النسائي في الزكاة ٢٦ (٢٤٩٣) . (تحفة الأشراف : ٤٦٤٧) . مسند احمد (٣ في ٣)

ترجمه: دعبدالرحمن بن مسعود بن نيار بيان دي چي سهل بن ابي حثمه رضي الله عنه زمونږ مجلس ته راغي او دا بيان يي اوکړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل کله چي تاسو اټکلي اندازه لګوئ نو دا ټکل اندازي مطابق زکواة به اخلئ او يو ثلث به پريږدئ او که يو ثلث نشئ پريخودلي نو يوه ربع خو به ضرور پريږدئ.

امام ترمذي وائي په دي باب کي به عائشه، عتاب بن اسيد، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دا ټکلي اندازي لګولو په سلسله کي دسهل بن ابي حثمه په حديث کي داکثرو اهل علمو عمل دي او دسهل بن ابي جثمه دحديث مطابق امام احمد اوشافعي هم قول کړي دي چي تخمينه لګول دادي چي کله دکجورو يا دانګورو دکومي ميوو زکواة ورکولي شي او دا پخي شوي وي انتظاميه والا دي يو تخمينه لګونکي اوليږي چي اندازه اولګوي او اووائي چي په دي کي به دومره غله يا ميوه وي او تخمينه لګول داسي وي چي يو تجربه کار سړي به ورته اوګوري او داسي به اووائي چي په دي ونه کي دومره دومره انګور پراته دي او په دي کي دومره دومره کجوري پرتي دي نو ددينه به دزکواة اندازه معلومه شي او په دي باندي به هم هغه کس عشر مقرروي او دميوو دپخيدو پوري به مهلت ورکوي بيا به دميوو دپخيدو په وخت کي خپل عشر ورکوي او مالك ته به اختيار وي چي په باقي کي څنګه کوي هغه شان دي اوکړي بعضي علماؤ دتخميني تشريح همداسي کړي ده او همدا دامام مالك او احمد او اسحاق قول هم دي.

****

٦٤٤_ حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو مُسْلِمُ بْنُ عَمْرٍو الْحَذَّاءُ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نَافِعٍ الصَّائِغُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ صَالِحٍ التَّمَّارِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَتَّابِ بْنِ أَسِيدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَبْعَثُ عَلَى النَّاسِ مَنْ يَخْرُصُ عَلَيْهِمْ كُرُومَهُمْ وَثِمَارَهُمْ" وَبِهَذَا الإِسْنَادِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي زَكَاةِ الْكُرُومِ: "إِنَّهَا تُخْرَصُ كَمَا يُخْرَصُ النَّخْلُ ثُمَّ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ زَبِيبًا كَمَا تُؤَدَّى زَكَاةُ النَّخْلِ تَمْرًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى ابْنُ جُرَيْجٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا

الْحَدِيثِ، فَقَالَ: حَدِيثُ ابْنِ جُرَيْجٍ غَيْرُ مَحْفُوظٍ وَحَدِيثُ ابْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَتَّابِ بْنِ أَسِيدٍ أَثْبَتُ وَأَصَحُّ.[1]

ترجمه : دعتاب بن اسيد بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به خلقو ته يو كس ورليږلو چي ددوئ دانګورو او دنورو ميوو تخمينه به يي لګوله. په همدي سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دانګورو دزكواة په باره كي ارشاد مروي دي چي په دي كي به هم تخمينه لګولي شي لكه څنګه چي په كجورو كي تخمينه لګولي شي او بيا دپخيدو نه پس به ددينه زكواة ويستلي شي لكه دكجورو نه چي زكواة دپخيدو نه پس ويستلي كيږي (يعني دوچيدو نه پس)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او ابن جريج دا حديث په سند دابن شهاب عن عروه عن عائشه نقل كړي شي ما دامام بخاري نه ددي حديث باره كي تپوس اوكړو نو هغوئ اوفرمائيل دابن جريج حديث محفوظ نه دي او دابن مسيب حديث كوم چي هغه دعتاب بن اسيد نه نقل كړي ي زيات ثابت او زيات صحيح دي.

****

١٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْعَامِلِ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ

دزكواة دصحيح وصول كونكي عامل فضيلت

٦٤٥ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ عِيَاضٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ ح. وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، قَالَ: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " الْعَامِلُ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ كَالْغَازِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى بَيْتِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَيَزِيدُ بْنُ عِيَاضٍ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَحَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق أَصَحُّ.[2]

---

1 ـ سنن ابي داود في الزكاة ١٣ (١٦٠٣) . سنن النسائي في الزكاة ١٠٠ (٢٦١٩) . سنن ابن ماجه في الزكاة ١٨ (١٨٩١) . (تحفة الأشراف: ٩٧٤٨)

2 ابي داود في الخراج ٧ (٢٩٣٦) سنن ابن ماجه في الزكاة ١٤ (١٨٠٩) (تحفة الأشراف: ٣٥٨٣)

ترجمه : درافع بن خديج رضي الله عنه بيان دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي په صحيح طريقه صدقه وصول كونكي دالله په لاره كي دجنگيدونكي غازي پشان دي چي څو پوري كور ته واپس نه وي راگرځيدلي.
امام ترمذي وائي درافع بن خديج حديث حسن دي او يزيد بن عياض دمحدثينو په نزد ضعيف دي او محمد بن اسحاق دا حديث دټولو نه زيات صحيح دي.

****

١٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُعْتَدِي فِي الصَّدَقَةِ

دزكواة په وصول كولو كي دظلم او زياتي كولو بيان

٦٤٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمُعْتَدِي فِي الصَّدَقَةِ كَمَانِعِهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ تَكَلَّمَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ فِي سَعْدِ بْنِ سِنَانٍ، وَهَكَذَا يَقُولُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. وَيَقُولُ عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، وَابْنُ لَهِيعَةَ: عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سِنَانِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: وَسَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: وَالصَّحِيحُ سِنَانُ بْنُ سَعْدٍ. وَقَوْلُهُ: "الْمُعْتَدِي فِي الصَّدَقَةِ كَمَانِعِهَا"، يَقُولُ: عَلَى الْمُعْتَدِي مِنَ الْإِثْمِ كَمَا عَلَى الْمَانِعِ إِذَا مَنَعَ.[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زكواة وصول كولو كي ظلم او زياتي كونكي دزكواة نه وركونكي پشان دي.
امام ترمذي وائي په دي باب كي دابن عمر، ابن سلمه، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دانس حديث په دي سند غريب دي احمد بن حنبل، په سعد بن سنان راوي باندي كلام كړي دي دارنگي ليث بن سعد هم وائي عن يزيد بن حبيب عن سعد بن سنان عن انس بن مالك او عمرو بن حارث او ابن لهيعه عن يزيد بن حبيب عن سنان بن سعد عن انس بن مالك سند ذكر كړي دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چي صحيح په دي كي سنان بن سعد

---

[1] _ سنن ابي داود في الزكاة ٤ (١٥٨٥). سنن ابن ماجه في الزكاة ١٤ (١٨٠٨). (تحفة الأشراف: ٨٤٧)

دي، او دزكواة په وصول كولو كي ظلم او زياتي كونكي دزكواة نه وركونكي پشان دي ددي مطلب دادي چي په زياتي كولو كي دومره گناه ده څومره گناه چي دزكواة په نه وركولو كي

****

٢٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي رِضَا الْمُصَدِّقِ

دزكواة وصول كونكي درضامندئ بيان

٦٤٧ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ فَلَا يُفَارِقَنَّكُمْ إِلَّا عَنْ رِضًا".[1]

ترجمه : دجرير رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي زكواة وصولونكي تاسو ته درشي نو پكار داده چي هغه ستاسو نه خوشحاله او راضي جدا شي.

****

٦٤٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ دَاوُدَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَرِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ دَاوُدَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مُجَالِدٍ، وَقَدْ ضَعَّفَ مُجَالِدًا بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ وَهُوَ كَثِيرُ الْغَلَطِ.[2]

ترجمه : په دي سند هم دجرير په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دمخكني حديث هم معني روايت مروي دي.

امام ترمذي وائي كوم حديث چي داود دشعبي د نقل كړي هغه دمجالد دحديث نه زيات صحيح دي بعضي محدثينو دمجالد تضعيف كړي دي چي هغه كثيرالغلط دي يعني غلطياني به يي ډيري كولي.

****

٢١ـ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الصَّدَقَةَ تُؤْخَذُ مِنَ الأَغْنِيَاءِ فَتُرَدُّ فِي الْفُقَرَاءِ

---

1 ـ صحيح مسلم في الزكاة ٥٥ (٩٨٩) . سنن النسائي في الزكاة ١٣ (٢٤٦٢) . سنن ابن ماجه في الزكاة ١١ (١٨٠٢) . (تحفة الأشراف : ٣٢١٥) . مسند احمد (٤/في ٣٦٠، ٣٦١، ٣٦٤، ٣٦٥)

2 ـ صحيح مسلم في الزكاة ٥٥ (٩٨٩) . سنن النسائي في الزكاة ١٣ (٢٤٦٣) . سنن ابن ماجه في الزكاة ١١ (١٨٠٢) . (تحفة الأشراف : ٣٢١٥) . مسند احمد (٤/في ٣٦٠، ٣٦١، ٣٦٤، ٣٦٥)

زكواة به دمالدارانو نه اخستلي شي او واپس به په فقيرانو تقسيمولي شي

٦٤٩ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ أَشْعَثَ، عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَدِمَ عَلَيْنَا مُصَدِّقُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَخَذَ الصَّدَقَةَ مِنْ أَغْنِيَائِنَا فَجَعَلَهَا فِي فُقَرَائِنَا وَكُنْتُ غُلَامًا يَتِيمًا فَأَعْطَانِي مِنْهَا قَلُوصًا. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي جُحَيْفَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه : دابوجحيفه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي مونږ ته درسول الله صلي الله عليه وسلم مصدق (دزكواة وصولولو عامل) راغي او هغه زمونږ دمالدارانو نه زكواة وصول كړو او زمونږ فقيرانو ته يي وركړو زه په دغه وخت كي يو يتيم هلك وم نو ماته يي هم په دغه مال كي يوه اوښه راكړه.

امام ترمذي وائي دجحيفه حديث حسن دي، او په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

٢٢ـ بَاب مَا جَاءَ مَنْ تَحِلُّ لَهُ الزَّكَاةُ

زكواة اخستل دچا دپاره جائز دي

٦٥٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَ قُتَيْبَةُ: حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، وَقَالَ عَلِيٌّ: أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ سَأَلَ النَّاسَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَسْأَلَتُهُ فِي وَجْهِهِ خُمُوشٌ أَوْ خُدُوشٌ أَوْ كُدُوحٌ " قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا يُغْنِيهِ، قَالَ: " خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْ قِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ تَكَلَّمَ شُعْبَةُ فِي حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ مِنْ أَجْلِ هَذَا الْحَدِيثِ. (٢)

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٨٠٢).

2 ـ سنن ابي داود في الزكاة ٢٣ (١٦٢٦) . سنن النسائي في الزكاة ٨٧ (٢٥٩٣) . سنن ابن ماجه في الزكاة ٢٦ (١٨٤٠) . (تحفة الأشراف : ٩٣٨٧)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دخلقو نه سوال كوي او دده سره خپل دومره مال موجود وي چي دده سوال كولو ته ضرورت نه راځي دا كس به دقيامت په ورځ په داسي حالت كي راشي چي دده سوال به دده په مخ دبلغم په شكل انختلي وي عرض اوكړي شو چي اي دالله رسوله بنده په څومره مال دسوال كولو نه بي نيازه كيدي شي ويي فرمائيل پنځوس درهمه اويا ددي د قيمت په مقدار سره زر .

امام ترمذي وائي ابن مسعود حديث حسن دي او په دي باب كي دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او شعبه همدي حديث په وجه په حكيم بن جبير كلام كړي دي

****

٦٥١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُثْمَانَ صَاحِبُ شُعْبَةَ: لَوْ غَيْرُ حَكِيمٍ حَدَّثَ بِهَذَا الْحَدِيثِ. فَقَالَ لَهُ سُفْيَانُ: وَمَا لِحَكِيمٍ لَا يُحَدِّثُ عَنْهُ شُعْبَةُ. قَالَ: نَعَمْ. قَالَ سُفْيَانُ: زُبَيْدًا يُحَدِّثُ بِهَذَا، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَصْحَابِنَا. وَبِهِ يَقُولُ الثَّوْرِيُّ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. قَالُوا: إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ خَمْسُونَ دِرْهَمًا لَمْ تَحِلَّ لَهُ الصَّدَقَةُ. قَالَ: وَلَمْ يَذْهَبْ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى حَدِيثِ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ وَوَسَّعُوا فِي هَذَا. وَقَالُوا: إِذَا كَانَ عِنْدَهُ خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْ أَكْثَرُ وَهُوَ مُحْتَاجٌ فَلَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنَ الزَّكَاةِ. وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ وَغَيْرِهِ مِنْ أَهْلِ الْفِقْهِ وَالْعِلْمِ. [1]

ترجمه : سفيان هم دحكيم بن جبير نه دا حديث په همدي سند نقل كړي دي كله چي سفيان دا حديث نقل كړو نو ده ته دشعبه شاګرد عبدالله بن عثمان اووئيل كاش چي دحكيم نه علاوه بل چا دا حديث بيان كړي وي سفيان ورنه تپوس اوكړو څه خبره ده چي شعبه به دحكيم نه روايت دحديث نه كوي؟ هغوئ اووئيل هو، چي دوئ نه وي كړي نو بنه به وه سفيان اووئيل دا حديث زبيد د محمد بن عبد الرحمن بن يزيد نه اوريدلي دي ، او په همدي باندي زمونږ دعلماؤ عمل دي او په همدي باندي سفيان ثوري، عبدالله بن مبارك، احمد ، او اسحاق بن راهويه هم قول كړي دي دوئ وائي چي كله دچا سره پنځوس درهم وي نو دده دپاره زكواة

[1] سنن ابي داود في الزكاة ٢٣ (١٦٢٦) . سنن النسائي في الزكاة ٨٧ (٢٥٩٣) . سنن ابن ماجه في الزكاة ٢٦ (١٨٤٠) . (تحفة الأشراف: ٩٣٨٧)

اخستل جائز نه دي او بعضي اهل علمو دحكيم بن جبيرحديث نه دي اختيار بلكه هغوئ په دي كي مزيد گنجائش پريخودلي دي دوئ وائي كله چي دچا سره پنځوس درهم يا ددينه زيات مال وي او دي پخپله ضرورت مند وي نو دده دپاره زكواة اخستل جائز دي فقهاؤ محدثينو كي امام شافعي وغيره هم په دي باندي قول كړي دي.

تشريح : په دي مسئله كي يو څو صورتونه دي:

(۱) كه دچا سره نصاب موجود وي او دا نصاب مال نامي وي او حولان حول موجود شي نو په ده باندي زكواة واجب دي او دبل چا نه زكواة اخستلي نشي.

(۲) كه دچا سره نصاب موجود وي او حولان حول هم اوشي ليكن مال نامي نه وي نو په ده باندي زكواة وركول واجب نه دي او دبل چا نه زكواة هم نشي اخستلي.

(۳) كه دچا سره دنصاب نه كم مال موجود وي نو زكواة ورباندي واجب نه دي او دبل چا نه زكواة اخستلي شي خو سوال كول دده دپاره جائز نه دي.

سوال: سوال كول په كوم وخت كي جائز دي.

جواب: په دي مسئله كي اختلاف دي او په دي كي دعلماؤ دوه مذاهب دي.

(۱) امام ابو حنيفه وائي دچاسره چي د يوي ورځي او دشپي دخوراك انتظام هم موجود نه وي نو دده دپاره به هم سوال كول جائز نه وي او دليل يي روايت دابوداود دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړي شو غني څه شي دي دكوم په وجه چي سوال كول حراميږي، رسول الله دسوال په جواب كي اوفرمانيل "مايغذيه ويشغيه" يعني چا سره چي ديو سحر او يو مابنام خوراك موجود وي.

(۲) دامام احمد قول دي دچا سره چي دپنځوس درهمو نه كم مال وي دهغه دپاره سوال كول جائز دي او دحديث الباب نه يي استدلال كړي دي.

****

۲۳ـ بَابُ مَا جَاءَ مَنْ لَا تَحِلُّ لَهُ الصَّدَقَةُ

زكواة اخستل دچا دپاره جائز نه دي

۶۵۲ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ سَعِيدٍ ح. وحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ رَيْحَانَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَحُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ، وَقَبِيصَةَ بْنِ

مُخَارِقٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ. عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ هَذَا الْحَدِيثَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَقَدْ رُوِيَ فِي غَيْرِ هَذَا الْحَدِيثِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَحِلُّ الْمَسْأَلَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ وَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ قَوِيًّا مُحْتَاجًا وَلَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ شَيْءٌ فَتُصُدِّقَ عَلَيْهِ أَجْزَأَ عَنِ الْمُتَصَدِّقِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ" وَوَجْهُ هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ عَلَى الْمَسْأَلَةِ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيڅ يو مالدار دپاره سوال كول جائز نه دي او نه ديو طاقت ور او روغ جوړ سړي دپاره.

امام ترمذي وائي دعبدالله بن عمرو حديث حسن دي، او شعبه دا حديث په همدي سند دسعد بن ابراهيم نه نقل كړي دي ليكن هغوئ مرفوع نه دي بيان كړي. او په دي باب كي دابوهريره، حبشي بن جناده ، او قبيسه بن مخارق رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او ددي حديث نه په علاوه كي د نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي دهيڅ يومالدار دپاره سوا ل كول جائز نه دي او نه ديو تندرست سړي دپاره غوښتل جائز دي كله چي يو سړي روغ او جوړ او تندرست وي ليكن محتاج وي او هيڅ ورسره نه وي نو ده ته دي زكواة وركړي شي داهل علمو په نزد داسي كس ته دوركونكي زكواة اداء كيږي ، بعضي محدثينو په دي حديث كي توجيه كړي ده چي د "لاتحل لكم الصدقة" مطلب دادي چي دده دپاره غوښتل او سوال كول جائز نه دي.

****

٦٥٣ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ سُلَيْمَانَ. عَنْ مُجَالِدٍ. عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ. عَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ السَّلُولِيِّ. قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ. أَتَاهُ أَعْرَابِيٌّ فَأَخَذَ بِطَرَفِ رِدَائِهِ فَسَأَلَهُ إِيَّاهُ فَأَعْطَاهُ وَذَهَبَ فَعِنْدَ ذَلِكَ حَرُمَتِ الْمَسْأَلَةُ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ

---

1 سنن ابي داود في الزكاة ٢٣ (١٦٣٤) . (تحفة الأشراف : ٨٦٢٦) . مسند احمد (٢ في ١٦٣) . سنن الدارمي في الزكاة ١٥ (١٦٧٩)

سَوِيٍّ إِلَّا لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ غُرْمٍ مُفْظِعٍ، وَمَنْ سَأَلَ النَّاسَ لِيُثْرِيَ بِهِ مَالَهُ كَانَ خُمُوشًا فِي وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَرَضْفًا يَأْكُلُهُ مِنْ جَهَنَّمَ، وَمَنْ شَاءَ فَلْيُقِلَّ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُكْثِرْ ".(1)

ترجمه : دحبشي بن جناده سلولي رضي الله عنه نه روايت دي چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه په حجة الوداع كي دفرمائيلو په حال كي واوريدل او هغه په عرفه كي ولاړ وو چي يو اعرابي ورته راغي او درسول الله صلي الله عليه وسلم دڅادر يو ګوټ يي اونيولو او دهغه نه يي اوغوښتلو رسول الله ورته وركړو او هغه لاړو او په دغه وخت كي سوال كول حرام شوي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ديومالدار دپاره سوال كول جائز نه دي او نه ديو روغ جوړ سړي دپاره علاوه دهغه چانه چي هلاكونكي فقر ورباندي راغلي وي او دكوم درروند تاوان دلاندي ګير وي او څوك چي دخلقو نه ددي دپاره سوال كوي چي دد امدن زيات شي نو دا مال به دقيامت په ورځ دده په مخ دتوكلي شوو بلغمو پشان انختلي وي او دا به دجهنم يو ګرم كاڼړي وي چي دي به ورباندي داغلي شي نو كه څوك غواړي دا دي كم كړي او كه دچا خوښه وي دي لره دي زيات كړي (يعني مال).

****

٦٥٤ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحِيمِ بْنِ سُلَيْمَانَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.

ترجمه : په دي سند باندي هم دعبدالرحيم بن سليمان نه دسابقه حديث هم معني روايت مروي دي ليكن په دي سند دا حديث غريب دي.

****

٢٤ـ بَابُ مَا جَاءَ مَنْ تَحِلُّ لَهُ الصَّدَقَةُ مِنَ الْغَارِمِينَ وَغَيْرِهِمْ

په قرضدارو او نورو خلقو كي دچا دپاره زكواة اخستل حلال دي

٦٥٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: أُصِيبَ رَجُلٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا فَكَثُرَ دَيْنُهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ" فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ. فَلَمْ يَبْلُغْ ذَلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِغُرَمَائِهِ: " خُذُوا مَا وَجَدْتُمْ وَلَيْسَ

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٢٩١)

لَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَجُوَيْرِيَةَ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي ديو كس په ميوو كي كومي چي ده اخستلي وي دكوم افت په وجه نقصان او مرض پيدا شو او قرض ورباندي واوړيدو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ده ته زكواة وركړئ چنانچه خلقو ورته زكواة وركړو مگر دا زكواة دده دقرض مقدار ته نه رسيدو رسول الله صلي الله عليه وسلم دده قرضدارو ته اوفرمائيل څومره چي درته ملاويږي دا واخلئ او ددينه علاوه ستاسو دپاره هيڅ نشته.

امام ترمذي وائي دابوسعيد حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعائشه، جويره، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٥ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّدَقَةِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلِ بَيْتِهِ وَمَوَالِيهِ

درسول الله صلي الله عليه وسلم او داهل بيتو دپاره دزكواة اخستلو دحرمت بيان

٦٥٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَيُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ الضُّبَعِيُّ السَّدُوسِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِشَيْءٍ سَأَلَ أَصَدَقَةٌ هِيَ أَمْ هَدِيَّةٌ؟ فَإِنْ قَالُوا: صَدَقَةٌ لَمْ يَأْكُلْ، وَإِنْ قَالُوا: هَدِيَّةٌ أَكَلَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ سَلْمَانَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، وَأَبِي عَمِيرَةَ جَدِّ مُعَرِّفِ بْنِ وَاصِلٍ وَاسْمُهُ رُشَيْدُ بْنُ مَالِكٍ، وَمَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي رَافِعٍ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَلْقَمَةَ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٢٩١)

بْنِ أَبِي عَقِيلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَجَدُّ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ اسْمُهُ مُعَاوِيَةُ بْنُ حَيْدَةَ الْقُشَيْرِيُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : دمعاويه بن حيده رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته كوم څيز راوړلي شو نو تپوس به يي كولو چي دا صدقه ده او كه تحفه ده كه چا به اووئيل چي صدقه ده نو رسول الله به نه خوړل او كه اوبه يي وئيل چي تحفه ده نو بيا به يي خوړله.

امام ترمذي وائي دبهز بن حكيم دا حديث حسن غريب دي ، او په دي باب كي دسلمان ، ابوهريره ، انس، حسن بن علي ابو عميره (دمعرف بن واسل نيكه دي او نوم يي رشيد بن مالك) او ميمون او ابن عباس، عبدالله بن عمرو، ابورافع، عبدالرحمن بن علقمه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دارنګي دا حديث دعبدالرحمن بن علقمه په سند هم مروي دي هغوئ دا حديث دعبدالرحمن بن ابي عقيل نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

تخريج : سنن النسائي في الزكاة ٩٨ (٢٦١٣) . (تحفة الأشراف : ١١٣٨٦) . مسند احمد (٥ في ٥)

تشريح : په دي مسئله ډير احاديث وارد دي چي د نبوت د خاندان دپاره صداقه حلاله نه ده:

عن أبي هريرة ﷺ . قَالَ : أخذ الحسن بن علي رضي الله عنهما تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : ((كَخْ كَخْ إِرْمِ بِهَا . أَمَا عَلِمْتَ أَنَّا لا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ !؟)) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

وفي رواية : ((أَنَّا لا تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ)) .

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي يو ځل حسن بن علي رضي الله عنهما دصدقى دكهجورو نه يوه كهجوره پورته كړه خلى ته يى واچوله رسول الله صلي الله عليه وسلم چي دا اوليدل نو ويى فرمائيل نه ، نه، دا راوباسه ويى غورځوه، ايا تاته پته نشته چي مونږ دصدقي مال نه خورو . (بخاري ومسلم) په يو روايت كي داسي دي چي زمونږ دپاره دصدقى مال حلال نه دى.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم الفاظ كخ كخ تلفظ دكاف پيش او دخاء جزم سره دى او بعضو وئيلي دي چي دكاف زير اودخاء تنوين سره دى دا لفظ دناخوښه كارنه دمنع كولو په

---

[1] صحيح مسلم في المساقاة (١٥٥٦) . سنن ابي داود في البيوع ٦٠ (٣٤٦٩) . سنن النسائي في البيوع ٣٠ (٤٥٣٢، ٤٥٣٤) ، و٩٣ (٤٦٨٢) . سنن ابن ماجه في الأحكام ٢٥ (٢٣٥٦) . (تحفة الأشراف : ٤٢٧٠) . مسند احمد (٣ في ٣٦)

طور وئيلى شي ماشومانو ته او حسن رضي الله عنه دغه وخت ماشوم وو.

"كخ كخ ارم بها" كخ لفظ په هغه وخت كي استعماليږي كله چي ماشوم په خوله كي څه څيز نيولى وي او خوړل يي دهغه دپاره مضر وي نو پدغه وخت كي خلق كخ كخ وائي يعني ويى غورځوه.

"اما علمت انا لاناكل الصدقة" يعني ايا تاته معلومه نه ده چي مونږ صدقه نه خورو، دنه خوړلو وجه په دويم روايت كي راځي چي دا دخلقو دمالونو خيري دي، او اما علمت لفظ په هغه وخت كي استعماليږي كله چي مخاطب دكوم واضح كار خلاف عمل كوي ددي روايت نه علماؤ استدلال كړى دى چي د والدينو او سرپرست ذمه واري داده چي خپل ماشومان دغلطو كارونو نه منع كړي او پوهه يي كړي.

****

٦٥٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ ابْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَقَالَ لِأَبِي رَافِعٍ: اصْحَبْنِي كَيْمَا تُصِيبَ مِنْهَا، فَقَالَ: لَا حَتَّى آتِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْأَلَهُ، فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: "إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لَنَا وَإِنَّ مَوَالِيَ الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو رَافِعٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمُهُ: أَسْلَمُ، وَابْنُ أَبِي رَافِعٍ هُوَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي رَافِعٍ، كَاتِبُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. (1)

ترجمه : ابورافع وائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دبني مخذوم يو كس ته دصدقي وصول كولو حكم اوكړو نو هغه ابو رافع ته اووئيل ته به هم زما سره لاړ شي تردي چي تاته هم په دي كي حصه ملاؤ شي مګر ابو رافع انكار اوكړو او ده ته يي اووئيل زه درسره هغه وخته پوري نشم تلي تر څو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دتپوس كولو او اجازت غوښتلو دپاره ورغلي نه يم چنانچه ابو رافع دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زمونږ دپاره صدقه حلاله نه ده او ديو قوم موالي (غلامان) هم دهغوئ دجملي نه وي.

---

1 ـ سنن ابي داود في الزكاة ٢٩ (١٦٥٠) . سنن النسائي في الزكاة ٩٧ (٢٦١٣) . (تحفة الأشراف : ١٢٠١٨) . مسند احمد (٦ في ١٠)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او ابورافع درسول الله صلي الله عليه وسلم ازاد کړي غلام دي دده نوم اسلم دي او دابن ابي رافع نوم عبيدالله بن ابي رافع دي او دي د علي بن ابي طالب رضي الله عنه منشي وو.

دمعاويه بن حيده رضي الله عنه حالات:

نوم معاويه دبصري اوسيدونكى وو بيا خراسان ته منتقل شو دده نه عموما دده خوي حكم بن معاويه نقل دروايت كوي دده دوفات تاريخ او دمروياتو دشمير باره كي څه معلومات نشته.

****

٢٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّدَقَةِ عَلَى ذِي الْقَرَابَةِ

رشته دارا نوته د صدقي وركولو بيان

٦٥٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ عَمِّهَا سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ، فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ تَمْرًا فَالْمَاءُ فَإِنَّهُ طَهُورٌ" وقَالَ: "الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ وَهِيَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَالرَّبَابُ هِيَ أُمُّ الرَّائِحِ بِنْتُ صُلَيْعٍ، وَهَكَذَا رَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ الرَّبَابِ، وَحَدِيثُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ عُيَيْنَةَ أَصَحُّ، وَهَكَذَا رَوَى ابْنُ عَوْنٍ، وَهِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ. [1]

ترجمه : دسلمان بن عامر رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائل چي كله تاسو روژه ماتوئ نو په كهجورو يى ماتوئ ځكه چي دي كي بركت دى، كه چري كهجوره نه ملاويږي نو بيا په اوبو سره افطار كوئ ځكه چي دا پاكونكي دي او مسكين ته صدقه وركول دنيكئ كار دى او رشته دارته صدقه وركولو كي دوه ثوابونه دي يو دصدقى كولو دويم دصله رحمئ.

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصوم ٢١ (٢٣٥٥)، سنن النسائي في الزكاة ٨٢ (٢٥٨٢). سنن ابن ماجه في الصيام ٢٥ (١٦٩٩).

امام ترمذي وايي چي په دي باب كي د عبدالله بن مسعود د ببي زينب ، جابر، او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، اود سلمان بن عامر حديث حسن دی، اود رباب نوم ام الرائح بنت صليع دی، رباب د سليمان بن عامر او هغه د نبي صلي الله عليه وسلم نه د سابقه حديث پشان روايت نقل كړی دی. دارنګي سفيان ثوري د عاصم او هغه د حفصه بنت سيرين نه او هغه د سليمان بن عامر او هغه د نبي صلي الله عليه وسلم نه د سابقه حديث پشان روايت نقل كړی دی، دارنګي شعبه د عاصم او هغه د حفصه بنت سيرين نه او هغه د سلمان بن عامر نه نقل كړی دی، او د رباب ذكر يي نه دی كړي، او حديث د ثوري او ابن عيينه زيات صحيح دی، دارنګي ابن عون او هشام بن حسان د حفصه بنت سيرين نه او هغه درباب نه او هغه د سلمان بن عامر نه روايت نقل كړی دی.

لغات : افطر: خوړل او څكل ، فطر دنصر او ضرب نه معني يي روژه دار ته خوراك وركول دي.

تشريح : "فليفطر علي تمر" يعني څوك چي روژه ماتوي نو په كجورو ماتول پكار دي او كه نور څه نه ملاويږي نو پكار ده چي په اوبو يي ماته كړي ددي وجه حافظ ابن قيم په طب نبوي كي بيان كړي ده چي "وفي فطر النبي صلي الله عليه وسلم من الصوم علي التمر او الماء تدبير لطيف جدا فان الصوم يخلي المعدة من الغذاء فلا يجد الكبد فيها ما يجذ به وترسله الي القوي والاعضا والحلو اسرع شيء وصولا الي الكبد واحبه اليها ولا سيما ان كان رطبا قبولها له فنفع به هي، والقوي فان لم يكن التمر محلا انه وتوذيته فان لم يكن محسرات الماء تطفي لهيب المعدة وحرارة الصوم فتنة المعدة للطعام وما جده بشهوة.

يعني په كجورو او په اوبو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پري روژه ماتوله په دي كي يو لفيط تدبير دی ځكه چي دروژي په حالت كي معده دغذا نه خالي وي او جګر ته داسي غذا نه ملاويږي چي جذب يي كړي او اعضاء ته يي وليږي په داسي وخت كي خواږه په تيزئ سره جګر ته ور رسيږي او جګر يي هم خوښوي خصوصا چي كله لمدي كجوري وي نو جګر يي ډير خوښوي او دنورو څيزونو په نسبت زياته فائده وركوي ليكن كه دا نه وي نو بيا داوبو يو څو ګوټونه كول پكار دي كوم چي دجګر دحرارت دپاره مفيد دي ددي دپاره چي بيادډينه پس انسان خوراك ته تيار شي اوددينه علاوه مسكين ته صدقه وركول او درشته دار سره صله رحمي كول هم دي، په احاديثو كي زيات زيات ترغيب راغلی دی كه څوك دزيات ثواب طلب ګار وي نو رشته داروته دي صدقه وركړي چي يو طرف ته په دي باندي دصدقي ثواب حاصليږي او بل طرف ته دصله رحمئ كولو.

دسلمان بن عامر رضي الله عنه حالات:

نوم سلمان دپلار نوم عامر بن عوس بن جعد چي ضبي قبيلي سره يي تعلق وو او په بسريانو كي شميرلى شي دبعضي اسماء الرجال والاخيال دى چي په ضبي قبيله كي دده نه علاوه بل كوم روايت كونكى صحابي نشته ديارلس روايات ورنه منقول دي چي صرف يو په بخاري كي موجود دى.

****

٢٧_ باب مَا جَاءَ أَنَّ فِي الْمَالِ حَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ

په مال كي د زكاة نه علاوه هم واجبي حقوق شته

٦٥٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ مَدُّوَيْهِ، حَدَّثَنَا الأَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، قَالَتْ: سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الزَّكَاةِ، فَقَالَ: "إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ"، ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الآيَةَ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ. (البقرة: ١٧٧) ([1])

ترجمه : د فاطمه بنت قيس رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي د زكاة متعلق تپوس وكړو او كه تپوس ورنه وكړى شو (د راوي شك دى) نو په جواب كي يي وفرمائيل يقينا په مال كي د فرض زكاة نه علاوه هم بعضي نور واجبي حقوق شته او بيا يي دا ايت كريمه: ليس البر ان تولوا وجوهكم. الاية ولوستلو.

لغات : تلا: تلا يتلو د نصر ينصر باب نه په معني د لوستلو دى.

تشريح : په دي باب كي د زكاة نه علاوه بعضي نور حقوق مذكور دي چي درجه په درجه لازميږي مثلا:

(١) په موسر اولاد د محتاج مور پلار نفقه واجب ده.

(٢) د ښځي نفقه واجب ده.

(٣) دصغير اولاد نفقه.

(۴) په حالت د ايسار كي دمعذور اقرباؤ نفقه په قدر دميراث واجب ده.

(۵) حق دمضطر يا د مړي دتكفين انتظام كول.

(٦) د عام مصيبت وخت كي لكه ددشمن د حملي وخت كي يا دقحط وخت كي ياد ناگهاني حادثي وخت كي په چا خرچ كول.

---

[1] _ سنن ابن ماجه في الزكاة ٣ (١٧٨٩)، سنن الدارمي في الزكاة ١٣ (١٦٧٧)

(۷) حق د ضیافت.

(۸) حق د ماعون.

(۹) حق د حصاد یعني د میوي د شوکولو وخت کي چي فقیران راشي هغوئ ته يو څه ورکول.

(۱۰) د مساجدو او مکاتبو سره تعاون کول.

دفاطمه بنت قیس حالات

نوم فاطمه دپلار نوم قیس بن خالد اکبر بن وهب وو او دمور نوم يي اميمه بنت ربیعه وو دبني کنانه قبیلي سره يي تعلق وو او اولنئ نکاح يي دابوعمرو بن حفص سره شوي وه، داسلام په ابتدائي زمانه کي مسلمانه شوي وه او خاوند ورته دهجرت په لسم کال طلاق ورکړل او بيايي دعبدالله بن ام مکتوم په کور کي عدت تير کړو او ددينه پس يي دويمه نکاح رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه بن زيد سره اوکړه، دفاطمه بيان دی چي زمونږ په مينځ کي دومره محبت وو کوم چي دکيني قابل وو دهجرت په ۲۳ کال چي کله عمر رضي الله عنه وفات شو نو دمجلس شوري اجلاس به ددي په کور کي کيدو صاحب داسد الغابه ليکلي دي لها عقل وكمال، يعني فاطمه انتهائي قابله او عقلمنده اومالکه دکمال وه، دهجرت په ۵۴ کال اسامه وفات شو او بيايي بله نکاح اونکړه او دخپل ورور ضحاك سره به اوسيده کله چي يزيد ضحاك دعراق والي مقرر کړو او هلته منتقل شو نو فاطمه هم ورسره منتقل شوه، دمروياتو شمير يي ۳۴ احاديث دی مزيد حالات يي اسد الغابه ليکلي دي.

****

٦٦٠ ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الطُّفَيْلِ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ فِي الْمَالِ حَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِذَاكَ، وَأَبُو حَمْزَةَ مَيْمُونٌ الْأَعْوَرُ يُضَعَّفُ، وَرَوَى بَيَانٌ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ سَالِمٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ هَذَا الْحَدِيثَ قَوْلَهُ وَهَذَا أَصَحُّ. [1]

ترجمه : د فاطمه بنت قیس رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: يقينا په مال کي د فرض زکاة نه علاوه هم بعضي نور واجبي حقوق شته.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الزكاة ۳ (۱۷۸۹) .سنن الدارمي في الزكاة ۱۳ (۱٦٧٧)

امام ترمذي وايي چي ددي حديث سند قوي نه دی، او ابو حمزه چي نوم ميمون اعور دی دمحدثينو په نزد ضعيف دی، دارنګي دا روايت بيان او اسماعيل بن سالم هم د شعبي نه نقل کړی دی مګر دا حديث د سابقه حديث نه زيات صحيح دی.

تشريح : تشريح په ما قبل حديث کي تيره شوه.

****

٢٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّدَقَةِ

دصدقي دفضيلت بيان

٦٦١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا تَصَدَّقَ أَحَدٌ بِصَدَقَةٍ مِنْ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ إِلَّا أَخَذَهَا الرَّحْمَنُ بِيَمِينِهِ، وَإِنْ كَانَتْ تَمْرَةً تَرْبُو فِي كَفِّ الرَّحْمَنِ حَتَّى تَكُونَ أَعْظَمَ مِنَ الْجَبَلِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فُلُوَّهُ أَوْ فَصِيلَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَائِشَةَ، وَعَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، وَحَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَبُرَيْدَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١).

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه هر يو پاك شي صدقه کړو او الله تعالي پاك څيز لره صدقه کول خوښوي نو رحمان ذات هغي لره په ښي لاس نيسي اګر که دا دکجوري يوه دانه ولي نه وي، او دا دصدقي مال درحمان ذات په ورغوي کي زياتيږي تردي پوري چي دغر نه زياته شي، لکه په تاسو کي چي يو کس دخپل اس يا دغوا بچي اوساتي او لوي شي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دام المؤمنين، عائشه، عدي بن حاتم، انس، عبدالله بن ابي اوفي، حارثه بن وهب، عبدالرحمن بن عوف، او بريده رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

---

١ _ صحيح البخاری في الزكاة ٨ (تعليقاً عقب حديث رقم: ١٤١٠). والتوحيد ٢٣ (تعليقاً عقب حديث رقم: ٧٤٣٠). و مسلم / الزكاة ١٩ (١٠١٤). و النسائي في الزكاة ٤٨ (٢٥٢٦). سنن ابن ماجه في الزكاة ٢٨ (١٨٤٢). (تحفة الأشراف: ١٣٣٧٩). مسند احمد (٢ / ٣٣١، ٤١٨، ٥٣٨). سنن الدارمي في الزكاة ٣٥ (١٦٧٤) وأخرجه: البخاري في الزكاة ٨ (١٤١٠). والتوحيد ٢٣ (٧٤٣٠). ومسلم في الزكاة. و مسند احمد (٢ في ٣٨١، ٤١٩، ٤٣١، ٤٧١، ٥٤١) من غير هذا الطريق.

تشريح : دصدقي پاك كيدل په دوه قسمه دي يو حسي پاك كيدل دي او بل معنوي پاكيدل دي ، حسي پاك كيدل داسي دي چي دا دكوم څيز لائق وو مثلا تركاري بدبويه شي او غريب ته يي وركړي نو داسي صدقه درسته نه ده ځكه چي دا د هيڅ دپاره پكار راتلي نشي بلكه دا چي هغه به يي څنګه خوري؟ او دمعنوي پاك كيدو مطلب دادي چي صدقه به دحلال مال نه وي او دحرام نه به نه وي، او دقبوليت دوه معني دي يو په معني دصحت دي او دويم په معني درضا دي دلته ورنه دويمه معني مراد ده.

****

٦٦٢ــ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ يَقْبَلُ الصَّدَقَةَ وَيَأْخُذُهَا بِيَمِينِهِ، فَيُرَبِّيهَا لِأَحَدِكُمْ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ مُهْرَهُ، حَتَّى إِنَّ اللُّقْمَةَ لَتَصِيرُ مِثْلَ أُحُدٍ". وَتَصْدِيقُ ذَلِكَ فِي كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ (التوبة) ، وَيَأْخُذُ الصَّدَقَاتِ (التوبة) و يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ (البقرة) قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. وَقَدْ قَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: وَمَا يُشْبِهُ هَذَا مِنَ الرِّوَايَاتِ مِنَ الصِّفَاتِ، وَنُزُولِ الرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، قَالُوا: قَدْ تَثْبُتُ الرِّوَايَاتُ فِي هَذَا وَيُؤْمَنُ بِهَا وَلَا يُتَوَهَّمُ وَلَا يُقَالُ كَيْفَ. هَكَذَا رُوِيَ عَنْ مَالِكٍ، وَسُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُمْ قَالُوا فِي هَذِهِ الْأَحَادِيثِ: أَمِرُّوهَا بِلَا كَيْفٍ، وَهَكَذَا قَوْلُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ، وَأَمَّا الْجَهْمِيَّةُ فَأَنْكَرَتْ هَذِهِ الرِّوَايَاتِ، وَقَالُوا: هَذَا تَشْبِيهٌ وَقَدْ ذَكَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي غَيْرِ مَوْضِعٍ مِنْ كِتَابِهِ الْيَدَ وَالسَّمْعَ وَالْبَصَرَ، فَتَأَوَّلَتِ الْجَهْمِيَّةُ هَذِهِ الْآيَاتِ فَفَسَّرُوهَا عَلَى غَيْرِ مَا فَسَّرَ أَهْلُ الْعِلْمِ، وَقَالُوا: إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَخْلُقْ آدَمَ بِيَدِهِ، وَقَالُوا: إِنَّ مَعْنَى الْيَدِ هَاهُنَا الْقُوَّةُ، وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: إِنَّمَا يَكُونُ التَّشْبِيهُ إِذَا قَالَ: يَدٌ كَيَدٍ أَوْ مِثْلُ يَدٍ أَوْ سَمْعٌ كَسَمْعٍ أَوْ مِثْلُ سَمْعٍ، فَإِذَا قَالَ: سَمْعٌ كَسَمْعٍ أَوْ مِثْلُ سَمْعٍ فَهَذَا التَّشْبِيهُ، وَأَمَّا إِذَا قَالَ: كَمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: "يَدٌ وَسَمْعٌ وَبَصَرٌ" وَلَا يَقُولُ كَيْفَ، وَلَا يَقُولُ

مِثْلُ سَمْعٍ وَلَا كَسَمْعٍ. فَهَذَا لَا يَكُونُ تَشْبِيهًا، وَهُوَ كَمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى فِي كِتَابِهِ: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ (الشورى)[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي صدقي لره قبلوي او پخپل ښي لاس يي اخلي او بيا ددي پالنه كوي لكه چي په تاسو كي څوك دخپل اس يا دغوا بچي اوپالي تردي پوري چي يوه لقمه داحد دغر برابر لويه شي او ددي تصديق دالله تعالي په كتاب كيږي فرمان الهي دي "الم يعلموا ان الله هو يقبل التوبة عن عباده ويأخذ الصدقات" يعني الله تعالي دخپلو بندګانو توبه قبولي او صدقات اخلي، دا رنګي ارشاد الهي دي "يمحق الله الربوي ويربي الصدقات" يعني الله تعالي سود ختموي او صدقات زياتوي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي هغي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي اكثرو اهل علمو ددي حديث باره كي او ددي پشان نورو رواياتو باره كي او دبعضي صفاتو باره كي چي الله تعالي هره شپه اسمان ددنيا ته راكوزيږي وئيلي دي چي په دي سلسله كي روايات ثابت دي او ايمان راوړل ورباندي پكار دي او په داسي قسم څيزونو كي وهم كول پكار نه دي او نه ددي دكيفيت دمعلومولو كوشش پكار دي ، دارنګي دامام مالك ، سفيان بن عيينه، او عبدالله بن مبارك نه مروي دي چي دا احاديث بغير دكيف نه جاري كړئ او ددي مشابه قول داهل سنت والجماعت داهل علمو دي البته جهميه ددي رواياتو نه انكار كړي دي هغوئ وائي چي بيا تشبيه لازميږي، الله تعالي پخپل كتاب كي په ډيرو مقاماتو كي دلاس، غوږ، ستركي ذكركړي دي او جهميه په دي كي تاويل كړي دي او په دي كي يي داسي تشريح كړي ده كومه چي داهل تفسير دمنشاء او عقيدي خلاف ده دوئ وائي چي الله تعالي ادم عليه السلام پخپل لاس نه دي پيدا كړي په حقيقت كي لاس په معني دقوت دي، اسحاق بن ابراهيم وائي تشبيه به هله وي كله چي څوك اووائي "يد كيد او مثل يد" يا "سمع كسمع او مثل سمع" يعني دالله تعالي لاس زمونږ دلاس پشان دي يا زمونږ دلاس په مثل دي ، يا د هغه غوږ زمونږ دغوږ پشان دي يا زمونږ دغوږ مثل دي، نو دا تشبيه ده نه صرف دا چي دالله تعالي لاس دي څكه چي دي سره تشبيه نه لازميږي او كله چي څوك اووائي څنګه چي الله تعالي وئيلي دي چي دهغه دپاره لاس او ستركه ده او دا اونه وائي چي څنګه دي او نه دا اووائي چي دفلاني دغوږ په مثل يا دفلاني غوږ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٢٨٧) . وانظر: مسند احمد (٢ في ٢٦٨، ٤٠٤)

پشان دي نو دا تشبيه نشوه ذا داسي ده لكه الله تعالي چي پخپل كتاب كي فرمائيلي دي "ليس كمثله شيئ وهو السميع البصير". يعني نشته دهغه په مثل هيڅ شي او هغه اوريدونكي او ليدونكي دي.

****

۶۶۳ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ مُوسَى، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الصَّوْمِ أَفْضَلُ بَعْدَ رَمَضَانَ؟ فَقَالَ: " شَعْبَانُ لِتَعْظِيمِ رَمَضَانَ "، قِيلَ: فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: " صَدَقَةٌ فِي رَمَضَانَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَصَدَقَةُ بْنُ مُوسَى لَيْسَ عِنْدَهُمْ بِذَاكَ الْقَوِيِّ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړي شو چي درمضان نه پس كومه روژه افضل ده نو ويي فرمائيل دشعبان روژي كومي چي درمضان دتعظيم دپاره دي بيا تپوس اوكړي شو چي كومه يوه صدقه افضل ده نو ويي فرمائيل چي په رمضان كي صدقه وركول.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي، صدقه بن موسي د محدثينو په نزد څه خاص زيات قوي راوي نه دي.

****

۶۶۴ـ حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الْعَمِّيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عِيسَى الْخَزَّازُ الْبَصْرِيُّ، عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ عَنْ مِيتَةِ السُّوءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي صدقه درب غضب لره مړ كوي او بد مرګ نه بچ كول كوي.

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند حسن غريب دي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۴۴۹)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۵۲۹)

تشريح : د صدقي په فضائلو کي بې شميره احاديث وارد دي چنانچي ترمذي هم دمعاذ بن جبل نه يومرفوع روايت نقل کړی دی:
عن مُعَاذٍ ﷺ قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ، أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِي مِنَ النَّارِ ؟.... قَالَ : ((أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوابِ الخَيْرِ ؟ الصَّوْمُ جُنَّةٌ ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الخَطِيئَةَ كَما يُطْفِئُ المَاءُ النَّارَ.
(الحديث).
په دي روايت کي د غضب الرب په ځاي الخطيئة لفظ مذکور دي يعني صدقه ورکول د الله د ګناهو د مغفرت داسي ذريعه ده څنګه اوبه د اور دمړ کولو ذريعه ده.

****

٢٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ السَّائِلِ

په سوال دغوښتونکي دحق بيان

٦٦٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بُجَيْدٍ، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ بُجَيْدٍ، وَكَانَتْ مِمَّنْ بَايَعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ الْمِسْكِينَ لَيَقُومُ عَلَى بَابِي فَمَا أَجِدُ لَهُ شَيْئًا أُعْطِيهِ إِيَّاهُ. فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ لَمْ تَجِدِي شَيْئًا تُعْطِينَهُ إِيَّاهُ إِلَّا ظِلْفًا مُحْرَقًا فَادْفَعِيهِ إِلَيْهِ فِي يَدِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أُمِّ بُجَيْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعبدالرحمن بن بجيد دنيا حواء رضي الله عنها (چه درسول الله سره دبيعت کونکو نه ده) نه روايت دي فرمائي چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله کله کله مسکين زما دروازي ته راشي او ده ته زما سره دورکولو دپاره هيڅ نه وي (نو داسي وخت کي به زه څه کوم) رسول الله اوفرمائيل که تاسره ده ته دورکولو دپاره دڅاروي کوم سوزيدلي نوك وي نو هم هغه ورته په لاس کي ورکړه (مګر تش لاس يي واپس تلو ته مه پريږده).
امام ترمذي وائي ام بجيد حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي ، حسن بن علي، ابوهريره، او ابو امامه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

---

[1] _ سنن ابي داود في الزكاة ٣٢ (١٦٦٧) . سنن النسائي في الزكاة ٧٠ (٢٥٦٦) . (تحفة الأشراف : ١٨٣٥) . مسند احمد (٦ في ٣٨٢ ٣٨٣) . وأخرجه موطا امام مالک في صفة النبي ﷺ ٥ (٨) . ومسند احمد (٤٠٣) . و (٦ في ٤٣٥) .

تشريح : محدثينو ليکلي دي چي ددي حديث مطلب دادي چي دروازي ته مو کوم مسکين راشي نو نه به يي رټئ ځکه چي تاسوهم په يووخت کي ناداران اومفلسان وئ ، ياخو ورته څه ورکړئ اويا يي په خوش اخلاقئ سره واپس کړئ ، ددي حديث دتفسير په ضمن کي حسن بصري فرمائيلي دي که دعلم زده کونکي چرته درنه څه تپوس وکړي نو مه يي رټئ.
دابن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي چاچه دعلم زده کونکو نه دعلم څه خبره پټه کړله نودقيامت په ورځ به ورته داور واګي واچولي شي.
امام بخاري او مسلم هم په دي باب کي د ابو هريره رضي الله عنه په دي الفاظو يو مرفوع روايت نقل کوي:

عن ابي هريرة :قَالَ : قَالَ رَسُول الله ﷺ : ((يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ ، لاَ تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِن شَاةٍ)) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ای مسلمانانو ښځو تاسو سپکه مه ګڼرئ څه هديه چي يوه ګاونډئ بلي ګاونډئ ته وليګي اګر چي دبيزي سوزيدلي سوئ ولي نه وي (بخاري او مسلم).

"يانساء المسلمات" ای مسلمانانو ښځو، په يو بل روايت کي داسي الفاظ راغلي دي "يانساء المومنين " ددينه معلومه شوه چي په دي کي ښه زنانه او نارينه دواړه شامل دي چي دوئ دي دچا دهديي تحقير نه کوي او په حديث کي چي صرف ښځي مخاطبي کړی شوي دي ددي وجه داده چي دا عادت په ښځو کي اکثر زيات موندلی شي.

"لاتحقرن جارة لجارتها" يعني يوه ګاونډئ دي بلي ګاونډئ لره سپکه نه ګڼري، محدثينو ددي حديث دوه مطلبونه بيان کړي دي (١) اول دا چي په دي کي تحفي او هدي ته اشاره ده يعني څوك دي دچا هديه سپکه اومعمولي نه ګڼري يعني هغه به په نظر کي معمولي ښکاري خو چي په اخلاص سره وي نو دالله تعالي په نزد ددي قيمت زيات دی (٢) په دي کي ورکونکي ته اشاره ده چي چا دا تحفه تاسو ته راليږلي وي ددي راليږونکی معمولي او سپك په ګڼرئ ، په دي کي ديته هم اشاره ده چي تحفي يو بل ته ورکوئ او که زياته نشئ ورکولی او لږه وي نو هم خير دی دا هم دنه ورکولو نه بهتر دي.

"ولو فرس شاة" اګر چي دچيلي سوزيدلي خپه ولي نه وي ، دعلماؤ قول دی چي خلق خو چاته دچيلي سوزيدلي خپه په تحفه کي نه ورکوي ځکه چي دا په تحفه کي دورکولو قابل نه دی ددي جواب دادی چي په دي حديث کي مبالغة ددي ذکر راغلی دی چي هديه که هر څومره حقيره ولي نه وي تردي چي دچيلي سوزيدلي خپه وي نو هم به يي قبلوئ.
د ابو ذر رضي الله عنه په متفق عليه روايت کي د صدقي يو بل اعلي ترين قسم مذکور دی:

عن أبي ذر جُنْدبِ بنِ جُنَادَةَ ﷺ ....قَالَ : ((تَكُفُّ شَرَّكَ عَنِ النَّاسِ ؛ فإنَّهَا صَدَقَةٌ مِنْكَ عَلَى نَفْسِكَ)) مُتَّفَقٌ عليه .

أخرجه : البخاري ١٨٨/٣ (٢٥١٨) كتاب العتق باب اي الرقاب افضل . ومسلم ٦٢/١ (٨٤) كتاب الايمان باب بيان كون الايمان بالله افضل الاعمال واحمد ٢١٣٨٩/٨ والنسائي ٣١٢٩ وابن ماجه والدارمي . ابن حبان ١٥٢ . عبد الرزاق والبيهقي ٢٧٧/٢ .

د حديث دراوي ام بجيد حالات

د ام بجيد رضي الله تعالى عنها نوم حواء بنت زيد وو ، داد كبار صحابه كرامو د جملي نه يوه انصاريه زنانه ده او د رسول الله صلي الله عليه وسلم په لاس مبارك يې د بيعت شرف هم حاصل كړى وو.

****

٣٠ــ بابُ مَا جَاءَ فِي إِعْطَاءِ الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ

دتاليف قلب دپاره چاته دزكواة وركولو بيان

٦٦٦ــ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: "أَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ، وَإِنَّهُ لَأَبْغَضُ الخَلْقِ إِلَيَّ فَمَا زَالَ يُعْطِينِي حَتَّى إِنَّهُ لَأَحَبُّ الخَلْقِ إِلَيَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدَّثَنِي الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ بِهَذَا أَوْ شِبْهِهِ فِي المُذَاكَرَةِ، قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ صَفْوَانَ رَوَاهُ مَعْمَرٌ، وَغَيْرُهُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّبِ، أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ، قَالَ: "أَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" وَكَأَنَّ هَذَا الحَدِيثَ أَصَحُّ وَأَشْبَهُ، إِنَّمَا هُوَ: سَعِيدُ بْنُ المُسَيِّبِ، أَنَّ صَفْوَانَ، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي إِعْطَاءِ المُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ. فَرَأَى أَكْثَرُ أَهْلِ العِلْمِ أَنْ لَا يُعْطَوْا، وَقَالُوا: إِنَّمَا كَانُوا قَوْمًا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَأَلَّفُهُمْ عَلَى الإِسْلَامِ حَتَّى أَسْلَمُوا، وَلَمْ يَرَوْا أَنْ يُعْطَوْا اليَوْمَ مِنَ الزَّكَاةِ عَلَى مِثْلِ هَذَا المَعْنَى، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الكُوفَةِ وَغَيْرِهِمْ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: مَنْ كَانَ

الْيَوْمَ عَلَى مِثْلِ حَالِ هَؤُلَاءِ وَرَأَى الْإِمَامُ أَنْ يَتَأَلَّفَهُمْ عَلَى الْإِسْلَامِ فَأَعْطَاهُمْ جَازَ ذَلِكَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. (١)

ترجمه : دصفوان بن اميه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته دحنين په ورځ څه راكړل او هغه ماته دفتح مكي دورځي نه مخكي په تمامو خلقو كي زيات مبغوض وو او مسلسل يي ماته څه راكول تردي پوري چي هغه ماته په مخلوق كي دهر چانه زيات محبوب شو.

امام ترمذي وائي حسن بن علي ماته دا حديث يا ددي پشان حديث په مذاكره كي بيان كړو. په دي باب كي دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، دصفوان حديث معمر وغيره دزهري نه او زهري دسعيد بن مسيب نه نقل كړي دي په كوم كي چي د "عن صفوان بن امية" په ځاي باندي "ان صفوان بن اميه قال اعطاني رسول الله صلي الله عليه وسلم" الفاظ راغلي دي ، دچا زړه مائل كول او نزدي كول چي مقصود نه وي داسي كسانو ته دوركولو په باره كي داهل علمو اختلاف دي اكثر اهل علم وائي چي داسي كسانو ته وركول نه دي پكار ددوئ قول دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي بعضي كسان داسي وو دچا زړونه چي هغوئ اسلام ته مائل كول غوښتل تردي چي دوئ اسلام راوړي ليكن اوس په دي طريقه چاته دزكواة مال وركول جائز نه دي، سفيان ثوري او اهل كوفه وغيره ددي قول قائلين دي احمد او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول كړي دي، او دبعضي اهل علمو قول دي كه دچا نن هم ددوئ پشان حالت وي او امام اسلام ته ددوئ دزړونو مائل كول غواړي او دوئ ته څه وركړي نو دا جائز دي، امام شافعي هم په دي باندي قول كړي دي.

تشريح : امام مسلم هم په دي سلسله كي د انس رضي عنه موقوف تفصيلي روايت نقل كړي دي:

عن أنسٍ ﷺ، قَالَ: مَا سُئِلَ رسول الله ﷺ عَلَى الإِسْلَامِ شَيْئاً إِلاَّ أَعْطَاهُ، وَلَقَدْ جَاءَهُ رَجُلٌ، فَأَعْطَاهُ غَنَماً بَيْنَ جَبَلَيْنِ، فَرَجَعَ إِلَى قَوْمِهِ، فَقَالَ: يَا قَوْمِ، أَسْلِمُوا فَإِنَّ مُحَمَّداً يُعطِي عَطَاءَ مَن لا يَخْشَى الفَقْرَ، وَإِنْ كَانَ الرَّجُلُ لَيُسْلِمُ مَا يُرِيدُ إِلاَّ الدُّنْيَا، فَمَا يَلْبَثُ إِلاَّ يَسِيراً حَتَّى يَكُونَ الإِسْلَامُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا. رواه مسلم.

انس بن مالك رضي الله عنه بيان كوي چي داسلام په نوم چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

١ _ صحيح مسلم في الفضائل ١٢(٢٣١٢). (تحفة الأشراف: ٩٢٢). مسند احمد (٣ في ١٠٣) و (٦ في ٣٦٥)

نه څه اوغوښتلی شو نو هغوئ ورکړل يو کس په خدمت کي حاضر شو، رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته دچيلو هغه رمه ورکړه کومه چي د دوو غرونو مينځ کي وه هغه کس خپلی قبيلی ته لاړو او ويی وئيل ای خلقو اسلام قبول کړئ ځکه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دومره ورکړه کوي چي دلوږی او محتاجئ ويره نه پاتی کيږي او که چا به ددنيا دطلب دپاره اسلام قبول کړو نو څو ورځی به هغه په عام حالت کي اوسيدو خو لږه موده پس به دهغه حالت داسی بدل شو چي اسلام به يی زيات محبوب اوګرځيده (مسلم).

"جاءه رجل فاعطاه غنماً بين جبلين" يعني يو کس رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغی او ددوه غرونو په مينځ کي چي څومره چيلئ وي هغه ته يي ورکړي، علماؤ ليکلي دي چي دا کس نوی مسلمان شوی وو دنوو مسلمان شوو دپاره په اسلام کي د قوي کيدو دپاره هغوئ ته صدقه او زکواة وغيره ورکولی شي او هم ددوئ نه اسلام په "مؤلفة القلوب" سره تعبير کړی دی اوپه دي کي هم ددوئ دپاره تاليف قلب وي په دي شان سره ډير مسلمانان په اسلام کي مضبوط شول ليکن وروسته عمر رضي الله عنه دصحابه کرامو سره مشوره اوکړه او دا کار يي ختم کړو اوس هيچاته په دي نيت مال ورکول پکار نه دي او که چا ورکړی وي نو دوباره دي دي لره واپس کړي.

****

٣١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُتَصَدِّقِ يَرِثُ صَدَقَتَهُ

صدقه ورکونکي دخپلي صدقي وارث ګرځيدي شي اوکنه

٦٦٧_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِجَارِيَةٍ وَإِنَّهَا مَاتَتْ، قَالَ: "وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيرَاثُ" قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا كَانَ عَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَصُومُ عَنْهَا؟ قَالَ: "صُومِي عَنْهَا" قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا لَمْ تَحُجَّ قَطُّ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ قَالَ: "نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا يُعْرَفُ هَذَا مِنْ حَدِيثِ بُرَيْدَةَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَطَاءٍ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ ثُمَّ وَرِثَهَا حَلَّتْ لَهُ، وَقَالَ

بَعْضُهُمْ: إِنَّمَا الصَّدَقَةُ شَيْءٌ جَعَلَهَا لِلّٰهِ، فَإِذَا وَرِثَهَا فَيَجِبُ أَنْ يَصْرِفَهَا فِي مِثْلِهِ، وَرَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَزُهَيْرٌ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَطَاءٍ. [1]

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره ناست وم او په دي دوران كي يوه ښځه راغله او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ما خپلي مور ته يوه وينځه په صدقه كي وركړي وه او اوس هغه وفات شوي ده (نو دوينځي به څه كيږي) رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ثواب دي هم حاصل كړو او وينځه درته هم ميراث واپس كړه هغي بيا تپوس اوكړو اي دالله رسوله زما په مور ديوي مياشتي روژي هم وي ايا زه دهغي دطرفه دا روژي نيولي شم ورته يي اوفرمائيل ته دهغي دطرفه روژي اونيسه هغي بيا عرض اوكړو اي دالله رسوله زما مور حج هم نه وو كړي ايا زه دهغي دطرفه حج كولي شم ورته يي اوفرمائيل هو، دهغي دطرفه حج اوكړه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او د بريده رضي الله عنه دا حديث صرف په همدي سند متعارف دي، او په دي باندي داكثرو اهل علمو عمل دي چي يو بنده كله صدقه وركړي او بيا دخپلي صدقي وارث اوګرځي نو دهغه دپاره دا جائز ده ، دبعضو قول دي چي صدقه خو دي دالله دپاره كړي وه لهذا كله چي څوك دخپلي صدقي وارث اوګرځي نو لازم ده په هغه باندي چي بيا دي لره دالله په لاره كي خرچ كړي (دا زياته افضله ده).

تشريح : ....دا مسئله اختلافي ده چي په عباداتو كي نيابت جاري كيدي شي او كنه په دي كي دوه مذاهب دي.

(۱) داحنافو محققينو په نزد په دي مسئله كي تفصيل دي چي عبادات په دري قسمه دي :

(۱) محض بدني عبادت لكه صوم او صلاة (۲) محض مالي عبادت لكه زكواة (۳) مركب عبادت لكه حج په بدني عباداتو كي نيابت مطلقا ناجائز دي او په مالي عباداتو كي نيابت مطلقا جائز دي او په مركب عباداتو كي نيابت دعجز په وخت كي جائز دي.

(۲) دامام احمد په نزد په بدني عبادت كي هم نيابت جائز دي او همدا دامام شافعي يو قول هم دي ، دجانبينو دلائل په مطولاتو كي كتلي شئ.

****

۳۲_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْعَوْدِ فِي الصَّدَقَةِ

[1] _ صحيح مسلم في الصوم ۲۷ (۱۱۴۹) . سنن ابي داود في الزكاة ۳۱ (۱۶۵۶) . سنن ابن ماجه في الصدقات ۳ (۲۳۹۴) . (تحفة الأشراف : ۱۹۸۰) . مسند احمد (۵ في ۳۵۱، ۳۶۱)

دصدقې واپس اخستلو دکراهت بیان

٦٦٨ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ: أَنَّهُ حَمَلَ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ رَآهَا تُبَاعُ فَأَرَادَ أَنْ يَشْتَرِيَهَا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

ترجمه : مروي دي چي عمر رضي الله عنه چاته یو اس دالله په لاره کي ورکړو او بیا يي اوليدل چي دغه اس خرخيږي نو ددي اخستل يي اوغوښتل نبي کريم صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل خپله صدقه واپس مه اخله.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او داکثرو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي.

تشريح : د پورتني حديث وضاحت په لاتديني حديث کي داسي شوي دي:

عن ابن عباس رضي الله عنهما : أنَّ رسول الله ﷺ. قَالَ : ((الَّذِي يَعُودُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَرْجِعُ فِي قَيْئِهِ)). متفق عَلَيْهِ . وفي رواية : ((مَثَلُ الَّذِي يَرْجِعُ فِي صَدَقَتِهِ . كَمَثَلِ الكَلْبِ يَقِيءُ . ثُمَّ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ فَيَأْكُلُهُ)).

وفي روايةٍ : ((العائِدُ فِي هِبَتِهِ كالعائِدِ في قَيْئِهِ)).

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي بخښلی شي واپس اخلي داسی دی لکه سپی چي خپل قی بياخلي.

أخرجه : البخاري كتاب الهبة ٢١٥/٣ (٢٦٢١) و(٢٦٢٢) . ومسلم كتاب البيوع باب تحريم الرجوع في الصدقة والهبة ٦٣/٥ (١٦٢٢) (٥) و(٨) واحمد وابوداود والترمذي والنسائي وابن ماجه وعبد الرزاق والحميدي وابن حبان والبيهقي١٨٠/٦ .

او يو روايت په دی الفاظو دی مثال دهغه چاچه خپل خيرات کړی شی واپس کوي داسی دی لکه سپی چي قی اوکړي، بيا ورته رااوګرځي او ويی خوري او په يو روايت کي بخښلی شي

---

1 ـ سنن النسائي في الزكاة ١٠٠ (٢٦١٧) . (تحفة الأشراف : ١٠٥٢٦) . و البخاری في الزكاة ٥٩ (١٣٩٠) . والهبة ٣٠ (٢٦٢٣) . و٣٧ (٢٦٣٦) . والوصايا ٣١ (٢٧٧٥) . والجهاد ١١٩ (٢٩٧٠) . و١٣٧ (٣٠٠٣) . صحيح مسلم في الهبات ١ (١٦٢٠) . سنن النسائي في الزكاة ١٠٠ (٢٦١٦) . سنن ابن ماجه في الصدقات ١ (٢٣٩٠) . موطا امام مالک في الزكاة ٢٦ (٤٩) . مسند احمد (١ / ٢٠، ٥٤) . من غير هذا الطريق كما أخرجه صحيح البخاری في الزكاة ٥٩ (١٣٨٩) . وسنن النسائي في الزكاة ١٠٠ (٢٦١١) .

واپس کوونکی داسی دی لکه خپل قی چي بیا اوخوري (مطلب د دری واړو یو دی).
ورکړي صدقه واپس اخستل دابن ملك په نزد حرامه ده لیکن دجمهورو علماؤ په نزد مکروه ده په حدیث کي ددي مثال داسي راغلی دی لکه سپی چي خپله قی واپس ځتي په دي جمله کي دصدقي واپس اخستلو قباحت بیان شوی دی چي مثال یي داسي دی لکه دسپي پشان او دده د صدقي مثال دسپي دقی پشان دی ددینه انسانان سخته کرکه کوي علامه طیبي وائي ددینه زیات نه زیات کراهت تنزیهي ثابتیدی شي تحریمي نشي ثابتیدی. (التعلیق الصبیح، عمدة القاري)

عن عمر بن الخطاب ﷺ قَالَ : حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ ، فَأَرَدْتُ أن أَشْتَرِيَهُ ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ ، فَقَالَ : ((لاَ تَشْتَرِهِ وَلاَ تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ وإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ ؛ فَإِنَّ العَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالعَائِدِ فِي قَيْئِهِ)) . متفق عَلَيْهِ .
قَوْله : ((حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ الله)) مَعنَاهُ : تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَى بَعْضِ المُجَاهِدِينَ .

عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روایت دی چي ما یو سړي ته جهاد دپاره یو اس خیراتي ورکړی وو، نو دهغه نه خراب شو ځما دا خیال وو چي دی به یی اوس ارزانه خرڅوي نو زه به یی تری په بیا واخلم، رسول الله صلي الله علیه وسلم نه می تپوس اوکړو نو هغوئ راته اوفرمائیل که په یو درهم یی دربانذی خرڅوي هم یی مه اخله خپله صدقه واپس اخستل داسی دي لکه خپل قی بیا خوړل.

حملت علي فرس في سبیل الله: یعني ما دا کوم مجاهد ته دجهاد دپاره ورکړو په طور دصدقي.

"لاتعد في صدقتك" یعني خپله صدقه واپس مه اخله مطلب دادی چي خپله ورکړي صدقه په قیمت واپس اخستل جائز نه دي او بعضي علماؤ حرام ګنړلي دي مګر اکثر علماء وائي چي مکروه تنزیهي دي مکروه په دي وجه دي کیدی شي چي په چا یي احسان کړی وي دهغه نه یي په ارزان قیمت واخلي، نو داسي کس به دصدقي په واپس غوښتونکي کي شمیرلي شي چي په واپس کولو یي په شریعت کي ډیر وعیدونه راغلي دي.

****

٣٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّدَقَةِ عَنِ الْمَيِّتِ

دمړي دطرفه دصدقي ورکولو بیان

٦٦٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاق، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ "أُمِّي تُوُفِّيَتْ أَفَيَنْفَعُهَا إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَإِنَّ لِي مَخْرَفًا فَأُشْهِدُكَ أَنِّي قَدْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَنْهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَبِهِ يَقُولُ أَهْلُ الْعِلْمِ، يَقُولُونَ: لَيْسَ شَيْءٌ يَصِلُ إِلَى الْمَيِّتِ إِلَّا الصَّدَقَةُ وَالدُّعَاءُ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، قَالَ: وَمَعْنَى قَوْلِهِ إِنَّ لِي مَخْرَفًا يَعْنِي: بُسْتَانًا.[1]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي يو كس عرض اوكړو اي دالله رسوله زما مور وفات شوي ده كه چري زه دهغي دطرفه صدقه وركوم نو ايا دا به هغي ته فائده ورسوي رسول الله اوفرمائيل هو، سوال كونكي اووئيل زما يو باغ دي او ته ګواه اوسه چي ما خپل دا باغ دخپلي مور دطرفه په صدقه كي وركړو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي بعضي محدثينو دا حديث په سند د عمرو بن دينار عن عكرمه عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسل نقل كړي دي.

او په همدي داهل علمو عمل هم دي چي هيڅ يو شي داسي نشته كوم چي مړي ته فائده رسولي شي مګر علاوه دصدقي او ددعا نه، او د "مخرفا" لفظ نه باغ مراد دي.

تشريح : د ايصال ثواب د مسئلي تحقيق د اجاديثو په رڼا كي:

عن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ رجلاً قَالَ للنبيِّ ﷺ: إِنَّ أُمِّي افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَأُرَاهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟ قَالَ: ((نَعَمْ)) متفقٌ عَلَيْهِ.

ام المومنين عائشه رضي الله عنها فرمائي چي يو كس د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو چي خما مور ناڅاپه وفات شوه او خما خيال دى چي كه چرى هغى ته دڅه وئيلو يادكولو مهلت ملاؤ شوى وى نو هغى به ضرور څه خيرخيرات كړى وى اوس كه چرى زه دهغى دطرف نه څه خيرات اوكړم نو ايا هغى ته به ددى اجر اوثواب ملاو شي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل او ولى نه.

دايصال ثواب طريقه

---

[1] _ صحيح البخاري في الوصايا ٢٠ (٢٧٦٢). سنن ابي داود في الوصايا ١٥ (٢٨٨٢). سنن النسائي في الوصايا ٨ (٣٦٨٥).

(تحفة الأشراف: ٦١٦٣)

فهل لها اجر ان تصدقت قال نعم: يعني که دا ددوئ دطرفه صدقه وکړي نو ایا ددي دپاره به اجر وي؟ نو ويې فرمائيل هو.
علماء وائي که څوك کوم نيك عمل اوکړي مثلا په چا خوراك اوکړي يا پيسي ياکپړي وغيره ورکړي يانفلي مونځونه او روژي اونيسي يانفلي حج اوعمره اوکړي يا دقران تلاوت اوکړي ياتسبيحات وغيره اولولي يامسجد اوديني مدرسه جوړه کړي يا مذهبي کتاب شايع کړي نوددي دکولو نه پس دي داسي دعا اوکړي چي اى الله ددي نيك کار ثواب فلاني کس ته ورسوي.

عن أَبِي هريرة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: ((إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاثٍ: صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ)) رواه مسلم.

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي کله انسان مړ شي نو دهغه دعملونو سلسله ختمه شي ليکن درى خبرى چي دهغى داجر سلسله جاري وي يوه صدقه جاريه، دويم علم چي دهغى نه فائده اخستلى شي، او دريم نيك او صالح اولاد چي هغه دپاره دعا کوي.

اولني هغه څيز چي ثواب يې انسان ته دمرګ نه پس ملاويږي په دي کي عموم دي، په دي کي دا هم داخل دي چي چاته دلوستلو دپاره قران کريم ورکړى او هغه يې لولي نو ده ته به ثواب ملاويږي همدا رنګي که څوك جومات جوړ کړي يا کوهى اوکني يا نهر جاري کړي ځکه چي "الدال علي الخير کفاعله" نيکئ طرف ته رهنمائي کونکى دنيکئ کونکي پشان دى.

دويم هغه څيز دکوم ثواب چي انسان ته دمرګ نه پس ملاويږي علم دى او خصوصا هغه علم کوم چي يې په خلقو کي خور کړى وي او هم ددينه په يو بل حديث کي په علم نافع سره تعبير شوى دى.

دريم څيز ولد صالح يعنيي نيك اولاد دى ابن حجر مکي وائي چي دصالح نه مراد مومن دى علماء وائي دولد سره صالح قيد ځکه لګولى شوى دى چي خلقو ته ترغيب ورکړى شي ترڅو چي بيا هر يو انسان نيك جوړ شي، علماء وائي که ولد غير صالح هم وي او دعا اوغواړي نو فائده به يې وي علماؤ په ولد صالح کي يوي عجيبي نکتي ته اشاره کړي ده او هغه داده چي والدينو لره پکار دي چي خپل اولاد ته دنيکئ تعليم ورکړي نو هله به دوئ ته فائده رسيږي.

مطلب دادي که څوك مړ شي او ده په ذمه روژي واجب وي نو دده متعلق دفقهاؤ اختلاف دي:
جمهور فقهاء امام ابوحنيفه مالك، شافعي وغيره وايي دده دمرګ نه پس بل څوك دده دطرفه روژي نشي نيولي بلکه فديه به ورکولي شي.
ليکن د امام احمد قول دادي چي وارثان به دده دطرفه روژي نيسي او ددي دپاره دپورتني

حديث نه استدلال كوي.
ددي جواب دادي چي فديه وركول دروژو نيولو قائم مقام دي .
دويم جواب دادي چي پورتني حديث منسوخ دي .
دريم جواب شاه انورشاه وايي ولي روژې نيولي شي خو په طريقه د نيابت يي نشي بلكه په طور دايصال ثواب .
څلورم جواب چي په ژوند كي څوك دچا دطرفه بدني عبادت په بدل كي نشي كولي نو دمرګ نه پس يي څنګه كولي شي؟

****

٣٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي نَفَقَةِ الْمَرْأَةِ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا

دښځي دپاره دخپل خاوند دكور نه خرچ كولو څه حكم دي

٦٧٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا شُرَحْبِيلُ بْنُ مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيُّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَقُولُ: "لَا تُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا"، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلَا الطَّعَامُ؟ قَالَ: "ذَاكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا". وَفِي الْبَاب عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَأَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي أُمَامَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. [1]

ترجمه : دابو امامه رضي الله عنه بيان دي چي ما په حجة الوداع كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په خطبه كي واوريدل چي يوه ښځه دي دخپل خاوند دكور نه دهغه داجازت نه بغير څه شي نه خرچ كوي عرض اوكړي شو اي دالله رسوله كه خوراك او ډوډئ وركړي نو څه حكم دي رسول الله اوفرمائيل دا خو زمونږ په مالونو كي دټولو نه افضل څيز دي.
امام ترمذي وائي دابو امامه حديث حسن دي ، او په دي باب كي دسعد بن ابي وقاص، اسماء بنت ابي بكر ، ابو هريره، عبدالله بن عمرو، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي اود امامه حديث د حسن درجي دي.

****

[1] ـ ابن ماجه في التجارات ٦٥ (٢٢٩٥) . (تحفة الأشراف : ٤٨٨٣) . مسند احمد (٥ في ٢٦٧)

٦٧١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِذَا تَصَدَّقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا كَانَ لَهَا بِهِ أَجْرٌ، وَلِلزَّوْجِ مِثْلُ ذَلِكَ وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ، وَلَا يَنْقُصُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ مِنْ أَجْرِ صَاحِبِهِ شَيْئًا لَهُ بِمَا كَسَبَ وَلَهَا بِمَا أَنْفَقَتْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي يوه ښځه دخپل خاوند دكور نه صدقه وركړي نو په دي باندي ديته اجر ملاويږي او ددي داجر هومره اجر ددي خاوند ته هم ملاويږي او ددي جمع كونكي ته هم ددي اجر ملاويږي او په دوئ كي به يو كس اجر دبل كس د اجر په وجه كم نشي ، خاوند ته ددي دګټلو اجر ملاويږي او ښځي ته به ددي دخرچ كولو اجر ملاويږي.

امام ترمذي وائي دا حديث دحسن درجي دي.

****

٦٧٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا الْمُؤَمَّلُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَعْطَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا بِطِيبِ نَفْسٍ غَيْرَ مُفْسِدَةٍ كَانَ لَهَا مِثْلُ أَجْرِهِ لَهَا مَا نَوَتْ حَسَنًا وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، وَعَمْرُو بْنُ مُرَّةَ، لَا يَذْكُرُ فِي حَدِيثِهِ عَنْ مَسْرُوقٍ. (2)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي يوه ښځه دخپل خاوند دكور نه په خوشحالئ سره بغير دفساد دنيت نه كوم څيز چاته وركړي نو دي لره به دسړي برابر ثواب وركولي شي ديته به دخپل نيك نيت ثواب ملاويږي او ددي جمع كونكي ته به هم دارنګي ثواب ملاويږي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٦١٥٢)

2 ـ صحيح البخاري في الزكاة ١٧ (١٤٢٥) ، و٢٥ (١٤٣٧) ، و٢٦ (١٤٣٩) ، والبيوع ١٢ (٢٠٦٥) . صحيح مسلم في الزكاة ٢٥ (١٠٢٤) . سنن ابي داود في الزكاة ٤٤ (١٦٨٥) . سنن النسائي في الزكاة ٥٧ (٢٥٤٠) . سنن ابن ماجه في التجارات ٦٥ (٢٢٩٤) . (تحفة الأشراف : ١٧٦٠٨) . مسند احمد (٦ في ٤٤، ٩٩، ٢٧٨)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دا حديث دعمرو بن مره دحديث نه کوم چي يي دابووائل نه نقل کړي دي زيات صحيح دي، عمرو بن مره پخپل روايت کي دمسروق په واسطه نه ذکر کوي.

امام ترمذي وائي دا حديث د عمرو بن مره د حديث نه چي د ابو وائل نه يي نقل کوي زيات صحيح دی مګر عمرو بن مره پخپل سند کي د مسروق واسطه نه ذکر کوي.

تشريح : ښځه دخاوند دمال نه دضرورت په قدر اخستلي شي

عن عائشة رَضِيَ اللهُ عنها ، قالت : قالت هِنْدُ امْرَأَةُ أَبِي سفْيَانَ للنَّبِيِّ ﷺ : إنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وولَدِي إلاَّ مَا أَخَذْتُ مِنْهُ، وَهُوَ لا يَعْلَمُ ؟ قَالَ : ((خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوفِ)) . متفق عَلَيْهِ.

عائشی رضي الله عنها نه روايت دی چي دابوسفيان ښځی هندی د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي عرض اوکړو ابو سفيان ډير زيات کنجوس سړي دی ماته دومره څه نه راکوي، چي ماته او خما خوئ ته کافي شي، مګر دا چي په پټه تری نه څه واخلم، نو ايا دا په پټه اخستل ماته جائز دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل دومره تری اخله چي تاسو دواړو ته کافي کيږي درواج مطابق يعني زياتی داسی مه کوه او څه چي دکورونو دخرچ عام رواج دی هغه هومره تری په پټه اخله چي په رضا نه کيږي.

علماؤ ددي روايت نه ډير مسائل معلوم کړي دي:

اول په سړي باندي دښځي او نابالغو سړو خرچه واجب ده.

دويم نفقه په قدر دضرورت پکار ده.

دريم دضرورت په وخت کي دپردئ ښځي سره خبري کول جائز دي.

څلورم دمسئلي معلومولو په وخت که څوك دغيبت کومه خبره اوکړي نو دا به غيبت نه وي.

پنځم که دښځي خرچه پوره نه وي نو هغه دخاوند دمال نه په قدر دضرورت اخستلی شي.

شپږم ښځه دضرورت په بنا دکورنه بهر وتلی شي.

****

٣٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ

داختر کي دسرسايه ورکولو بيان

٦٧٣_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الْفِطْرِ، إِذْ كَانَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ، صَاعًا مِنْ طَعَامٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ، فَلَمْ نَزَلْ نُخْرِجُهُ حَتَّى قَدِمَ مُعَاوِيَةُ الْمَدِينَةَ، فَتَكَلَّمَ فَكَانَ فِيمَا كَلَّمَ بِهِ النَّاسَ: إِنِّي لَأَرَى مُدَّيْنِ مِنْ سَمْرَاءِ الشَّامِ تَعْدِلُ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، قَالَ: فَأَخَذَ النَّاسُ بِذَلِكَ، قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَلَا أَزَالُ أُخْرِجُهُ كَمَا كُنْتُ أُخْرِجُهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَرَوْنَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ صَاعًا، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: مِنْ كُلِّ شَيْءٍ صَاعٌ إِلَّا مِنَ الْبُرِّ، فَإِنَّهُ يُجْزِئُ نِصْفُ صَاعٍ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَأَهْلُ الْكُوفَةِ يَرَوْنَ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ.[1]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ په مينځ كي موجود وو نو مونږ به داختر په سرسايه كي يو صاع دغنمو يا يو صاع دوربشو يا يو صاع دكجورو يا يو صاع داوچو انګورو يا يو صاع دپنير وركولو، مونږ په همدي طريقه سرسايه وركول جاري ساتل تردي چي معاويه رضي الله عنه مديني ته راغي نو خلقو ته يي خطاب اوكړو او په هغه خطاب كي دا خبره هم وه چي ماته دشام دوه مده غنم ديو صاع سره برابر ښكاري نو خلقو دده خبره اختيار كړه يعني دوه مده يعني نيم صاع غنم وركول يي شروع كړل.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او دبعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي ددوئ خيال دادي چي په هر يو څيز كي يو يو صاع سرسايه ده همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي په صحابه كرامو او ددوئ نه پس دبعضي اهل علمو قول دي چي په هر يو څيز كي يو يو صاع دي مګر علاوه دغنمو نه ځكه چي په دي كي نيم صاع كافي دي او همدا دسفيان ثوري او ابن مبارك قول دي او داهل كوفه رائي هم داده چي دغنمو نه نيم صاع وركول كافي دي.

تشريح : **دصدقة الفطر (سرسايه) وركولو وخت**

داخترد مونځ نه مخكي صدقة فطر اداكول واجب دي.ځكه چي په صحيحينو كي د ابن عمر رضي الله عنهما حديث مروي دي:

---

[1] صحيح البخارى في الزكاة ۷۲ (۱۵۰۵)، و ۷۳ (۱۵۰۶)، و ۷۵ (۱۵۰۸)، و ۷۶ (۱۵۱۰). صحيح مسلم في الزكاة ۴ (۹۸۵). سنن ابى داود في الزكاة ۱۹ (۱۶۱۶). سنن النسائى في الزكاة ۳۸ (۲۵۱۵). سنن ابن ماجه في الزكاة ۲۱ (۱۸۲۹). (تحفة الأشراف: ۴۲۶۹). مسند احمد (۳ في ۲۳، ۷۳، ۹۸). سنن الدارمى في الزكاة ۲۷ (۱۶۰۴)

"ان النبی ﷺ أمر بزكاة الفطر ان يؤدی قبل خروج الناس الی الصلوة وكان هو يؤدی قبل خروج الناس الی الصلوة وكان هو يؤديها قبل ذالك بيوم او بيومين (رواه ابوداود)

یعنی نبی ﷺ د زکاة فطر (یعنی دصدقهٔ فطر) حکم فرمائی.چی دا به د خلقو مانځه ته دتګ نه وړاندې ورکولی شی.اونبی ﷺ به په خپله د اختر نه یوه ورځ یا دوه ورځې مخکې اداکوله.

(۲) دویم دلیل دادې.چی په دی کې نیکئ طرف ته وړاندې والي دي اود فقیر زړه مونځ دپاره فارغ کول دی.اونبی ﷺ فرمائیلی دی "أغنوهم عن المسالة" یعني بی نیازه کړئ دوئ له یعني محتاجان د سوال کولو نه.اودا به هغه وخت وی.چی کله خلق صدقهٔ فطر وغیره ادا کړی.اودالله تعالی فرمان دې.

" قد افلح من تزكى.. أي أعطى زكوة الفطر ..وذكر اسم الله ربه.. بتكبير العيد في الطريق ..فصلى.. صلوة العيد"

یعنی هغه سړې کامیاب شو چاچی صدقه فطر اداکړه.اوداختر تکبیرات ئې اووئیل د خپل رب ذکر ئې اوکړو.بیائې داختر مونځ اوکړو.

د صدقه فطر اداکولو نه پس دی عیدګاه طرف ته متوجه شی او دا مستحب دی . ښکاره دی وی.چی عیدګاه ته پیدل تلل مستحب دی.ځکه چی عمر(رضي الله عنه) فرمائیلی دی. عیدګاه ته پیدل تلل سنت دی.اوکه څه خلق دخپل ضعف د وجې عیدګاه ته د تلو نه معذوروی.نو د وخت امام دی څوك مقررکړی.چی په ښار کې دننه دوی ته په جومات کې مونځ ورکړی.ځکه چی مروي دي:

" ان علياً لما قدم الكوفة استخلف من يصلي بالضعفاء صلوة العيدين في الجامع وخرج إلى الجبانة مع خمسين شيخاً يمشي ويمشون"

یعنی علی (رضي الله عنه) چی کله کوفی ته تشریف یوړلو.نویو داسی سړې ئې خپل خلیفه مقرر کړو.چی کمزورو خلقو ته په جومات کې د اخترونو مونځ ورکړی.او هغه په خپله ماشومانو او بوډاګانو سره صحرا طرف ته اووتل.دوی په خپله هم پیاده وو.او پنځوس ورسره سړی هم پیاده روان وو.

په دی مسئله کې اختلاف دې.چی د وړوکی اختر په ورځ عیدګاه ته د تلو په وخت په لاره کې تکبیر په اوچت آواز سره وائی او که په ورو آواز

(۱) امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی.چی په اوچت آواز سره دی نه وائی.

(۲) او صاحبین فرمائی.چی په اوچت آواز دی وائی.د صاحبینو دلیل په لوی اختر باندې قیاس دې.یعنی څنګه چی په لوی اختر کې تکبیر په اوچت آوازسره مشروع دې.دغه شان په وړوکی اختر کې هم په اوچت آواز سره مشروع دې.

دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادي.چی په ذکر کي دننه خو اصل اخفاء ده.لکه چی د باری تعالی ارشاد دی:

وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ(اعراف:۲۰۵)

ارشاد نبوي دی: "خير الذكر الخفي وخير الرزق مايكفي"

ښه ذکر ،پټ ذکر دی او ښه رزق هغه دی چی دکفايت په مقدار وی.نه د ضرورت نه زيات او نه کم وی.

په هرحال کي په ذکر کي اصل اخفاء ده.خو دلوی اختر په ورځو کي په جهر سره تکبير خلاف قياس نص وارد دي.الله تعالی فرمائی:

"اذكروا الله في ايام معدودات" دمفسرينو قول دی .چی دلته د لوی اختر په ورځو کي تکبير جهری مراد دي.او وړوکی اختر د لوی اختر په معنی کي هم نه دي.ځکه چی لوی اختر د حج په ارکانو کي يو رکن سره مخصوص دي. يعنی په دغه ورځ کي بعضی د حج ارکان اداکولی شی.او په وړوکی اختر کي دا خبره نشته.نوهرکله چی وړوکی اختر د لوی اختر په معنی کي نه دي.نو وړوکی اختر په لوی اختر باندي قياس کول هم مناسب نه دی.

دلته يواعتراض واردکيدی شی.چی د امام صاحب دا فرمائی چی په وړوکی اختر کي په تکبير جهری باندي شريعت نه دی وارد.

دا خبره قابل د تسليم نه ده.ځکه الله تعالی فرمائيلی دی:

لتكملوا العدة ولتكبروا الله علي ما هدا كم، په دی آيت کي ئې د رمضان المبارك روژی پوره کولو نه پس د تکبيرخبر ورکړي دي.او د تکبير علم به هغه وخت وی.چی په اوچت آواز سره تکبير اووئيلی شی.اودابن عمر(رضي الله عنه) نه مروی دی.

"ان رسول الله ﷺ كان يخرج يوم الفطر و يوم الاضحى رافعا صوته بالتكبير" يعنی رسول الله ﷺ د وړوکی او لوی اختر په ورځ په تکبير باندي خپل آواز اوچتولو سره وتلو.نوثابته شوه.چی د وړوکی اختر په ورځ هم په تکبير جهری باندي نص وارد دي.

ددي جواب دادی په آيت کي په مونځ کي دننه تکبير مراد دي.د آيت معنی به داسی وی "صلوا صلوة العيد وكبروا الله فيها" يعنی د وړوکی اختر مونځ اداکړئ.او په دی کي په اوچت آواز سره تکبير وائي.پاتي شوحديث ددی جواب دادي.چی ددی حديث په سند کي "وليد بن محمد عن الزهری" دی او وليد متروك الحديث دي.ځکه داحديث قابل د استدلال نه دي.

****

٦٧٤_ حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا سَالِمُ بْنُ نُوحٍ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بَعَثَ مُنَادِيًا فِي فِجَاجِ مَكَّةَ. أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ، صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ، مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ أَوْ سِوَاهُ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى عُمَرُ بْنُ هَارُونَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، وَقَالَ: عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ مِينَاءَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ بَعْضَ هَذَا الْحَدِيثِ. حَدَّثَنَا جَارُودُ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ هَارُونَ هَذَا الْحَدِيثَ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله علي وسلم يو كس لره دمديني په كوڅو كي داعلان كولو دپاره اوليږلو او دا اعلان يي كولو واورئ صدقه دفطر په هر مسلمان نارينه او زنانه ازاد او په غلام په ماشوم او په لوي باندي دغنمو نه دوه مده او دغنمو نه علاوه دنورو غلو نه يو صاع واجب ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، عمر بن هارون دا حديث د ابن جريج نه نقل كړي دي او وئيلي يي دي "العباس بن ميناء عن النبي صلي الله عليه وسلم" او بيا يي وړاندي ددي حديث څه حصه ذكر كړه.

****

٦٧٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَةَ الْفِطْرِ عَلَى الذَّكَرِ وَالْأُنْثَى وَالْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ، صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ". قَالَ: فَعَدَلَ النَّاسُ إِلَى نِصْفِ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَدِّ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ، وَثَعْلَبَةَ بْنِ أَبِي صُعَيْرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. ([2])

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤٣٨).

[2] _ صحيح البخاري في الزكاة ٧٧ (١٥١١). صحيح مسلم في الزكاة ٤ (٩٨٤). سنن النسائي في الزكاة ٣٠ (٢٥٠٢). و٣١ (٢٥٠٣). (تحفة الأشراف: ٧٥١٠). مسند احمد (٢ في ٥) وأخرجه: صحيح البخاري في الزكاة ٧٠ (١٥٠٣). و٧١ (١٥٠٤). و٧٤ (١٥٠٧). و٧٧ (١٥٠٧). و٧٨ (١٥١٢). وصحيح مسلم في الزكاة (المصدر السابق). وسنن ابي داود في الزكاة ١٩ (١٦١١). وسنن النسائي في الزكاة ٣٢ (٢٥٠٣). و٣٣ (٢٥٠٥). وسنن ابن ماجه في الزكاة ٢١ (١٨٢٥، و١٨٢٦). (٥٢). ومسند احمد (٢ في ٥٥، ٦٣، ٦٦، ١٠٢، ١١٤، ١٣٧). وسنن الدارمي في الزكاة ٢٧ (١٦٦٨).

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم صدقه دفطر په نارينه او زنانه په ازاد او په غلام باندي يو صاع دكجورو يايوصاع دوربشو مقرر كړي دي راوي وائي چي بيا خلقو نيم صاع دغنمو ددي سره برابري كافي اوګڼرلو.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي ، په دي باب كي دابوسعيد ، ابن عباس، حارث بن عبدالرحمن بن ابي ذباب نيكه يعني ابو ذباب، ثعلبه بن ابي صعير او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٦٧٦ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَرَضَ زَكَاةَ الْفِطْرِ مِنْ رَمَضَانَ، صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى مِنَ الْمُسْلِمِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرَوَى مَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ أَيُّوبَ، وَزَادَ فِيهِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَرَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ نَافِعٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا كَانَ لِلرَّجُلِ عَبِيدٌ غَيْرُ مُسْلِمِينَ لَمْ يُؤَدِّ عَنْهُمْ صَدَقَةَ الْفِطْرِ، وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: يُؤَدِّي عَنْهُمْ وَإِنْ كَانُوا غَيْرَ مُسْلِمِينَ، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَإِسْحَاق. (1)

ترجمه : دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم درمضان په صدقه دفطر كي يو صاع دكجورو يا يو صاع دوربشو په مسلمانانو كي په هر ازاد او غلام باندي او په هر نر او ښځه باندي فرض كړي دي.
امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي، مالك په سند دنافع عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم روايت نقل كړي دي او دايوب دحديث پشان حديث يي بيان كړي دي البته په دي روايت كي د "من المسلمين" لفظ اضافه ده او د وئ نه علاوه نورو محدثينو دنافع نه نقل كړي دي په دي كي د من المسلمين ذكر نشته داهل علمو په دي سلسله كي اختلاف دي بعضي وائي كله چي ديو كس سره غير مسلم غلام وي نو دي به دهغه سرسايه نه اداء كوي همدا دامام مالك شافعي او احمد قول دي او بعضي وائي چي مالك به دغلامانو

1 ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٨٣٢١)

صدقه اداء كوي مسلمان وي او كه غير مسلم وي سفيان ثوري، ابن مبارك، او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول كړي دي.

تشريح : په دي باب كي څلور اختلافي مسائل معلومول ضروري دي:

(۱) اوله اختلافي مسئله داده چي د صدقة الفطر شرعي حيثيت څه دی ؟

(۱) د امام ابو حنيفه په نزد واجب ده.(۲) اود ائمه ثلاثه په نزد فرض ده.

(۲) دويمه اختلافي مسئله داده چي د صدقة الفطر دوجوب دپاره نصاب شرط دی اوكه نه؟

(۱)د امام ابو حنيفه په نزد د صدقة الفطر دوجوب دپاره نصاب شرط دی (۲)اود ائمه ثلاثه په نزد ددي دپاره هيڅ قسم نصاب مقرر نه دی.

(۳)دريمه اختلافي مسئله داده چي په ښځه صدقة الفطر واجب ده او كه نه؟

(۱)د امام ابو حنيفه په نزد په ښځي هم صدقة الفطر واجب ده (۲)اود ائمه ثلاثه په نزد په ښځي هم صدقة الفطر واجب نده بلكه ددي په خاوند باندي واجب ده.

(۴) څلورمه اختلافي مسئله د صدقة الفطر د غنمو په مقدار كي ده چي پوره صاع دی او كه نيم صاع؟.

(۱)د امام ابو حنيفه په نزدنيم صاع دی او په نوره غله كي پوره صاع دی، (۲)اود ائمه ثلاثه په نزد په غنمو كي هم د نوري غلي پشان پوره صاع دی.

ددي دلائل د هدايه شارحينو په مفصل طور سره د جواباتو ليكلي دي.

****

۳٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَقْدِيمِهَا قَبْلَ الصَّلَاةِ

داختر دمونځ نه مخكي دسرسايه وركولو بيان

٦٧٧_ حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ أَبُو عَمْرٍو الْحَذَّاءُ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ نَافِعٍ الصَّائِغُ، عَنِ ابْنِ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ "يَأْمُرُ بِإِخْرَاجِ الزَّكَاةِ قَبْلَ الْغُدُوِّ لِلصَّلَاةِ يَوْمَ الْفِطْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَهُوَ الَّذِي يَسْتَحِبُّهُ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنْ يُخْرِجَ الرَّجُلُ صَدَقَةَ الْفِطْرِ قَبْلَ الْغُدُوِّ إِلَى الصَّلَاةِ. (1)

ترجمه : دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د واړه اختر په ورځ مونځ ته دوتلو نه مخكي دصدقة الفطر ويستلو حكم كړي دي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او اهل علمو دا مستحب ګڼړلي چي صدقة الفطر مونځ ته دتلو نه مخكي اوويستلي شي.

تشريح : صدقة الفطر باره كي دتمامو اهل علمو اتفاق دي چي مونځ ته دتلو نه مخكي ددي اداء كول مستحب دي مګر اختلاف په دي كي دي چي دمونځ نه څومره مخكي اداء كول پكار دي په دي باره كي دري مذاهب دي:

(۱) دامام ابو حنيفه په نزد يو كال يا دوه كاله مخكي هم سرسايه او صدقة الفطر وركول جائز دي.

دويم قول دادي درمضان دشروع كيدو سره اختر دمونځه پوري چي هر وخت كي صدقة الفطر وركړي ادائيګي يي صحيح ده.

(۳) دامام احمد په نزد داختر د مونځ نه يوه ورځ يا دوه ورځي مخكي ددي اداء كول صحيح دي او ډير مخكي صحيح نه دي.

د صدقة الفطر ادا كولو د وخت متعلق د فقهاؤ اختلاف دى اوپه دي كي د اهل علمو دوه مذاهب دي:

(۱) د احنافو په نزد وړوكى اختر د صبا نه د صدقة الفطر اداكول واجبيږى.هم دا قول د امام مالك رحمه الله دي.

(۲) او امام شافعى رحمه الله فرمائى چى د رمضان په آخرى ورځ د نمر د پريوتلو نه پس اداكول واجبيږى.

حاصل دا چى د اختريه شپه د شوافعو په نزدد واجب صدقة الفطر اداكولو وخت د نمر پريوتلو نه پس شروع كيږى او زمونږ په نزدد صباصادق په راختلوسره شروع كيږى.

---

1 _ صحيح البخارى في الزكاة ٧٦ (١٥٠٩) . صحيح مسلم في الزكاة ٥ (٩٨٦) . سنن ابى داود في الزكاة ١٨ (١٦١٠) . سنن النسائى في الزكاة ٣٥ (٢٥٢٢) . (تحفة الأشراف : ٨٣٥٢) . مسند احمد (٢ في ١٥١. ١٥٥) وأخرجه: سنن النسائى في الزكاة ٣٣ (٢٥٠٦)

فائده داختلاف داده چې داخترپه شپه کي د صباصادق نه مخکي كه كافر مسلمان شو.يا ماشوم پيدا شو نو زمونږ په نزدبه دده فطرانه واجب وی اود امام شافعی رحمه الله په نزدبه واجب نه وی اوکه د اخترپه شپه کي د صباصاذق نه مخکي د چاغلام مړ شو.يا دده ماشوم مړشو نو زمونږ په نزدبه دده فطره واجب نه وی ځکه چې د اداکولو د وخت شروع كيدو نه مخکنبې مړ شو اود امام شافعی رحمه الله په نزدبه واجب وی ځکه ددوی په نزدد اداکولو د وخت نه پس مړ شوې دې.

د احنافو دليل دادې چې په صدقة الفطرکي د صدقه اضافت فطر طرف ته د اختصاص دپاره دې.يعنی صدقه فطر پوري مختص ده اود فطر نه مراد د صوم ضد دې اود صوم تعلق د ورځ سره وی.دشپې سره نه وی.نود فطر تعلق به هم ورځ سره وی.شپې سره به نه وی اودا معلومه شوې ده چې صدقه د فطرسره خاص ده اود فطر نه مراد ورځ ده نو صدقه به ورځ پوري مختص وی او ورځ د صباصادق نه شروع كيږي.په دې وجه د صدقة الفطر وجوب اداکول به هم د اختر د شپې د صباصادق سره متعلق وی.(العنايه، فتح القدير)

****

۳۷_ باب مَا جَاءَ فِي تَعْجِيلِ الزَّكَاةِ

دوخت نه مخکي دزکواة ورکولو بيان

٦٧٨_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّا، عَنِ الحَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ الحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ حُجَيَّةَ بْنِ عَدِيٍّ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ العَبَّاسَ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي "تَعْجِيلِ صَدَقَتِهِ قَبْلَ أَنْ تَحِلَّ، فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذَلِكَ".[1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي چي عباس رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دوخت نه مخکي دزکواة ورکولو باره کي تپوس اوکړو نو رسول الله ورته ددي اجازت ورکړو.

****

٦٧٩_ حَدَّثَنَا القَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ الحَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ الحَكَمِ بْنِ جَحْلٍ، عَنْ حُجْرٍ العَدَوِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

---

[1] _ سنن ابي داود في الزكاة ۲۱ (۱۶۲۴) . سنن ابن ماجه في الزكاة ۷ (۱۷۹۵) . (تحفة الأشراف : ۱۰۰۶۳) . سنن الدارمي في الزكاة ۱۲ (۱۶۷۶)

لِعُمَرَ: " إِنَّا قَدْ أَخَذْنَا زَكَاةَ الْعَبَّاسِ عَامَ الْأَوَّلِ لِلْعَامِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: لَا أَعْرِفُ حَدِيثَ تَعْجِيلِ الزَّكَاةِ مِنْ حَدِيثِ إِسْرَائِيلَ. عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَحَدِيثُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ زَكَرِيَّا. عَنِ الْحَجَّاجِ عِنْدِي أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ إِسْرَائِيلَ عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي تَعْجِيلِ الزَّكَاةِ قَبْلَ مَحِلِّهَا. فَرَأَى طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ لَا يُعَجِّلَهَا. وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، قَالَ: أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ لَا يُعَجِّلَهَا، وَقَالَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِنْ عَجَّلَهَا قَبْلَ مَحِلِّهَا أَجْزَأَتْ عَنْهُ، وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. (1)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم عمر فاروق ته اوفرمائيل موږ دعباس نه ددي كال زكواة په تير شوي كال اخستلي دي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي، داسرائيل مخكي دزكواة ويستلو والا حديث كوم چي هغه دحجاج بن دينار نه نقل كړي دي موږ ته صرف په همدي سند معلوم دي، او داسماعيل بن زكريا حديث كوم چي يي دحجاج نه نقل كړي دي زما په نزد داسرائيل دحديث نه كوم چي هغه د حجاج بن دينار نه نقل كړي دي زيات صحيح دي، دا رنګي دا حديث دحكم بن عتيبه نه هم مروي دي او هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي، دوخت نه مخكي دزكواة وركولو باره كي داهل علمو اختلاف دي دعلماؤ ديو جماعت خيال دادي چي اډوانس زكواة وركول درست نه دي سفيان ثوري ددي قول قائل دي دي وائي زما په نزد بهتره داده چي دوخت نه مخكي ورنكړي شي مګر داكثروفقهاؤ او اهل علمو قول دادي كه ذوخت نه مخكي چا زكواة وركړو نو جائز ده امام شافعي ، احمد ، او اسحاق بن راهويه هم ددي قائل دي.

****

٣٨ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ الْمَسْأَلَةِ

دسوال كولو دمما نعت بيان

1 ـ سنن ابي داود في الزكاة ٢١ (١٦٢٤) . سنن ابن ماجه في الزكاة ٧ (١٧٩٥) . (تحفة الأشراف : ١٠٠٦٣) . سنن الدارمي في الزكاة ١٢ (١٦٧٦)

٦٨٠ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ بَيَانِ بْنِ بِشْرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لأَنْ يَغْدُوَ أَحَدُكُمْ فَيَحْتَطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَتَصَدَّقَ مِنْهُ فَيَسْتَغْنِيَ بِهِ عَنِ النَّاسِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ رَجُلاً أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ ذَلِكَ، فَإِنَّ الْيَدَ الْعُلْيَا أَفْضَلُ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَالزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ، وَعَطِيَّةَ السَّعْدِيِّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَمَسْعُودِ بْنِ عَمْرٍو، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَثَوْبَانَ، وَزِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ، وَأَنَسٍ، وَحُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ، وَقَبِيصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ، وَسَمُرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ بَيَانٍ، عَنْ قَيْسٍ.[1]

ترجمه : ابو هريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي چي فرمائيل يي په تاسو كي چي څوك سحر وختي لاړ شي او دلرګو ګيډي په شا راوړي او بيا ددي دقيمت نه صدقه اوكړي او په دي طريقه دخلقو نه بي پرواه او بي احتياجه شي (يعني دچا نه څه اونه غواړي) دا دده دپاره ددينه زياته بهتره ده چي دخلقو نه په سوال يو شي او بل شي غواړي او هغوئ يي ورته وركړي او يا يي ورنكړي ځكه چي پورتني لاس دلاندېني لاس نه افضل دي او اول به تاسو صدقه هغه چاته وركوئ دچاچه تاسو كفالت كوي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح غريب دي او په دي باب كي دحكيم بن حزام، ابو سعيد خدري، زبير بن عوام، عطيه سعدي، عبدالله بن مسعود، مسعود بن عمرو، ابن عباس، ثوبان، زياد بن الحارث، انس بن مالك، حبشي بن جناده، قبيصه بن مخارق، سمره، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث دبيان په روايت كوم چي هغه دقيس نه نقل كړي دي غريب ګڼرلي كيږي.

تشريح : امام بخاري هم په دي مسئله كي د ابو هريره رضي الله عنه روايت نقل كړى دى:

عن ابي هريرة عن النبيّ ﷺ، قَالَ: ((الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ، وَخَيْرُ

---

[1] ـ صحيح مسلم في الزكاة ٣٥ (١٠٤٢). (تحفة الأشراف: ١٣٤٩٣) أخرجه: صحيح البخاري في الزكاة ٥٠ (١٤٧٠)، و٥٣ (١٤٨٠)، والبيوع ١٥ (٢٠٧٤)، والمساقاة ١٣ (٢٣٧٤)، وسنن النسائي في الزكاة ٨٣ (٢٥٨٥)، و٨٥ (٢٥٩٠)، وسنن ابن ماجه في الزكاة ٢٥ (١٨٣٦)، والموطأ في الصدقة ٢ (١٠)، ومسند احمد (٢ في ٢٤٣، ٢٥٧، ٣٠٠، ٤١٨، ٤٧٥، ٤٩٦)

الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ)) رواه البخاري.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اوچت لاس دټيټ لاس نه ښه دی، يعني ورکوونکی لاس داخستونکي لاس نه بهتر دی او دخيرات شروع دهغه چانه کوه چي پرورش يی ستا په ذمه وي (يعني بال بچ) او بهتر خيرات هغه دی چي دغني نه پس وي او څوك چي دسوال نه بچ کيدل غواړي الله به يی بچ کړي او څوك چي دالله تعالي نه غني کيدل غواړي الله به يي غني کړي (بخاري).

"اليد العليا" يعني پورتنی لاس ددينه مراد دويم لاس دی، په روايت کي د اليد العليا نه مراد اليد المنفقة دي يعني خرچ کونکی لاس دی اوداليد السفلي نه مراد سوال کونکی لاس دی.

"خير الصدقة ماكان عن ظهر غني" يعني بهترينه صدقه هغه ده په کومه کي چي دنفس غني موجوده وي مطلب دادی چي ټول مال مه خرچ کوئ چي بيا پخپله فقيران شئ بلکه دومره خرچ اوکړئ چي دهغي نه پس هم تاسو غنيان پاتي شئ او دټولو نه اول به پخپل اهل او عيال خرچه کوئ او په هغه چا به کوئ دچا نفقه چي په تاسو باندي واجب وي.

سوال: دحديث نه معلوميږي چي سړی به دومره خرچ کوي څومره چي ورسره موجود وي ليکن ابوبکر رضي الله عنه خو په تبوك کي هر څه درسول الله په خدمت کي پيش کړل او هغه ورنه قبول هم کړل ؟

جواب، علماء وائي که چري خرچ کونکي دالله تعالي په ذات دومره اعتماد وي چي الله تعالي راته نن دا څيزونه راکړي دي سبا به يي هم راکوي نو داسي کس ټول مال خرچ کولی شي او دچا په ايمان او يقين کي چي کمی وي هغه به يو څه ناڅه مال دځان سره پريږدي ددي دپاره چي سبا بيا دخلقو په وړاندي لاس اونه غوړوي.

****

٦٨١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَسْأَلَةَ كَدٌّ يَكُدُّ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ إِلاَّ أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ سُلْطَانًا أَوْ فِي أَمْرٍ لاَ بُدَّ مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

---

[1] ـ سنن ابي داود في الزكاة ٢٦ (١٦٣٩)، سنن النسائي في الزكاة ٩٢ (٢٦٠٠)، (تحفة الأشراف: ٤٦١٢)

ترجمه : دسمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي غوښتل او سوال كول يو زخم دي چي انسان وربانديي خپل مخ زخمي كوي مگر علاوه دهغه چانه چي څوك دحاكم نه څه اوغواړي او يادیو داسي كار دپاره سوال اوكړي كوم چي ضروري وي او دهغي نه بغير څه چاره نه وي، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح : لكه څرنگه چي انسان په كار كولو ستړي كيږي دارنگي انسان په سوال كولو هم ستړي كيږي فرق صرف دومره دي چي په كار كولو بدن ستړي كيږي او په سوال كولو مخ ستړي كيږي يعني ددي په ذريعه دانسان عزت كميږي البته په دوه صورتونو كي دسوال كولو اجازت شته كله چي څوك دخپل تنظيم نه څه اوغواړي نو جائز دي خو په دي شرط چي مستحق وي، دويم ديو ضروري څيز دپاره غوښتل دي په دي باندي هم څوك نه بي عزته كيږي مثلا په يو كلي كي مسجد جوړيږي نو دهغي دپاره په غوښتلو كي حرج نشته

****

كتاب الصيام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د روژو احكام

د روژي تعريف او ددي د فرضيت شان نزول او تاريخ:

په لغت كي د صوم معنىٰ مطلقاً امساك (بنديدل) دي كه د څه څيزنه هم بندشى، لكه "صام عن الكلام" د كلام او خبرو اترو نه د بنديدلو نوم صوم دي.

اوپه اصطلاح داهل شرع صوم عبارت دى د اجتناب د مفطرات ثلاثه نه نهارا په نيت د عبادت چي اكل، شرب اوجماع دي.

دروژي دفرضيت تاريخ: روژه د كلمه توحيد نه پس د اسلام دريم ركن دي اود رمضان د روژو فرضيت دهجرت په دويم كال د شعبان په مياشت كي اوشو، يعنى د هجرت نه اتلس مياشتې پس د شعبان په مياشت كي د قبلې د تحويل نه پس د رمضان روژې فرض شوى وو، اوددې نه وړاندې به رسول اكرم صلي الله عليه وسلم اوصحابه كرامو د عاشوري اود ايام بيض(د قمرى مياشتې ديارلسم، څوارلسم، پنځلسم تاريخ) روژې نيولې.

د روژي په فضيلت كي متعدد احاديث وارد دي: مونږ ورنه يو څو په طور دنموني د مقام دتقاضا په مناسبت ذكر كوو:

دروژو دفرضیت متعلق دوه اقوال دي چې د عاشوري او ایام بیض روژې هغه وخت فرض وې اوکه نه؟ اول قول دادي حنفیه وائی چې دا روژې هغه وخت فرض وې،خو شوافع ددې قائل دی چې د رمضان روژو نه مخکي هیڅ روژه فرض نه وه،بلکه د عاشوره وغیره روژې مخکي هم سنت وې،او اوس هم سنت دی.

اود سلمان رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم په ۳۰ شعبان خطبه بیان کړه چې اي خلقو یوه عظیم الشان میاشت راغله دا ډیره مبارکه میاشت ده اوپدې میاشت کي لیلة القدر دي کوم چې دزرو میاشتو نه بهتردي الله تعالي ددې روژې فرض کړي دي اوپدې کې ئې قیام نفل کړي دي نوڅوك چې پدې میاشت کي دنیکۍ کوم عمل وکړي نوده ته دومره ثواب ملاویږي لکه څومره چې په نورو میاشتو کي دفرضو ملاویږي اوڅوك چې پدې میاشت کي کوم فرض ادا کړي نوده ته دومره ثواب ملاویږي لکه څوك چې په نورو میاشتو کي اویا فرائض ادا کړي، دادصبر میاشت ده اودصبر ثواب جنت دي داد همدردۍ میاشت ده او پدې کي رزق زیاتیږي نوڅوك چې پدې کي کوم روژه دارته خوراك مهیا کړي نودده ګناهونه به وبخښلي شي اودیوغلام ازادولو په مقدار اجر به حاصل کړي اودده به دروژه دار داجر هومره اجروي اودهغه داجر نه به هم څه شي نه کمیږي ، ضحابه کرامو عرض وکړو چې اي دالله رسوله الله تعالي خوهرچاته دومره وس ندي ورکړي چې روژه دار ته خوراك ورکړي ، رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل څوك چې یوګوټ شوده یا یوه کهجوره یا یوګوټ اوبه چاته ورکړي نو الله تعالي به ده ته هم دومره ثواب ورکړي اوڅوك چې روژه دار ته دمړي خیتې په مقدار خوراك ورکړي نو الله تعالي به زما دحوض کوثر نه ورباندي وڅکوي اوبیابه جنت ته دتلو پوري تږي نشي.

ددي میاشتي په شروع کي رحمت وي اوپه مینځ کي مغفرت وي اوپه اخر کي داور نه نجات دي خو په دي وجه چې دڅلورو خصلتونو پابندي اوکړي شي دوه خصلتونه خو داسي دي چې په هغي باندي تاسو خپل پروردګار راضي کړئ او باقي نور دوه په دي کي داسي دي چې دهغي نه تاسو لاپرواهي نشي کولي دالله تعالي دراضي کولو دپاره دوه خصلتونه دادي اول خو چې ددي خبري ګواهي ورکړئ چې دالله تعالي نه علاوه بل څوك حقدار دبندګۍ نشته او دویم دا چې دالله تعالي نه مغفرت اوغواړئ اودوه هغه خصلتونه دکومو نه چې بې پرواهي نشي کولي نو اول په هغوي کي دادي چې دجنت سوال به کوئ اودویم دادي چې داور نه به پناه غواړئ (شرح السنة للبغوي).

اودابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي بني ادم ته دهري نیکۍ ثواب دلسو نیکو نه واخله تر اوه سوو پوري ملاویږي او دا ثواب دروژي نه علاوه دنورو نیکو عملونو دي دروژي متعلق الله تعالي فرمائي چې روژه زما دپاره ده او هم زه

به ددي ثواب ورکوم ځکه چي ده خپل خوراك اوڅښاك اوشهوت زما دپاره پريښودلي دي، او دا يي هم فرمائيلي دي دروژه دار دپاره دوه قسمه خوشحالياني وي يوه خوشحالي خودافطار په وخت کي او بله خوشحالي دخپل پروردگار سره دملاقات په وخت کښي، دروژه دار دخولي بوئ دالله تعالى په نزد باندي دمشکو دخوشبونه بهتر دي ، واوري روژه ډال دي نويه دي وجه روژه دار لره پکار دي چي کله دده روژه وي چي دعبثو خبرو اوشور شرغب نه ځان اوساتي او که څوك ده ته رد بد اووائي يا درسره جګړه اوکړي نو دي ورته اووايه وروره زه روژه دار يم (بخاري او مسلم).

اوعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي روژه او قران دواړه به دقيامت په ورځ دبنده شفاعت کوي، روژه به وائي اي پروردګاره ما دده خوراك اوخواهشونه دورځي بند کړي وو اوس دده په باره کي زما شفاعت قبول کړه ، اوقران کريم به وائي چي اي پروردګاره ما دشپي دده خوب ختم کړي وو نو په دي وجه زما سفارش دده په حق کي قبول کړي نولهذا ددواړو شفاعت به قبول کړي شي (بيهقي شعب الايمان).

اودابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي درمضان په اخري شپه کي زما امت ته مغفرت کيږي، چاپوس اوکړو اي دالله رسوله ايا دغه شپه دليلة القدر ده رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نه ، ليلة القدر خو نه ده ليکن قاعده داده چي کله کار کونکي دخپل کار نه فارغيږي نوهغه ته مزدوري پوره ورکولي شي(نويه دي شان سره په دي شپه کي بندګانو دالله فرض ادا کړي وي نو ځکه دوئ ته مغفرت کيږي) (مسند احمد).

١_ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ

د رمضان دمياشتي فضيلت

٦٨٢_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ بْنِ كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، صُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ وَمَرَدَةُ الجِنِّ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ، وَفُتِّحَتْ أَبْوَابُ الجَنَّةِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ، وَيُنَادِي مُنَادٍ يَا بَاغِيَ الخَيْرِ أَقْبِلْ، وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ، وَلِلَّهِ

عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ وَذَلِكَ كُلُّ لَيْلَةٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَسَلْمَانَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي درمضان مياشت راشي نوشيطانان او سركشه جنات وتړلي شي اودجهنم دروازي بندي كړي شي اوهيڅ يوه دروازه ددينه نه كولاو پاتي نشي ، اودجنت دروازي كولاوي كړي شي اوهيڅ يوه دروازه ددي نه بنده پاتي نشي او يو اوازكونكي اواز وكړي چي اي د كاميابئ طلبګارانورامخكي شئ او اي دشر طلبګارانوبس كړئ، دالله تعالي دطرف نه نن دجهنم نه ډير خلق نجات موندونكي دي او دا اواز هره شپه كيږي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دعبدالرحمن بن عوف اوابن مسعود او سلمان رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات : "صفدت" صفده صفده صفدا وصفودا معني قيد كول صفد معني هتكړئ جمع يي اصفدة راخي معني بد دماغه كيدل الشيء عليه مخفي پاتي كيدل غم عليكم غم عليه الامر معني مشتبه كيدل، غمه غما پټيدل.

تشريح : "صفدت الشياطين" مطلب دادي چي ددي مياشتي په شروع كيدو سره دالله درحمت نزول شروع كيږي او په دي مياشت كي بنده ته جنت ته دتلو والا عملونو توفيق وركولي شي، په دي مياشت كي ددوزخ دروازي بندي كړي شي مطلب دادي چي روژه دار به دداسي كارونو نه بند كړي شي كوم چي دوزخ ته دتلو ذريعه ده او څوك چي دګناهونو نه منع شي نو پخپله به دوئ ته معافي اوشي.

شيطانان به اوتړلي شي، ددي جملي مطلب دادي چي سركشه شيطانان او دشيطانانو سرداران به په زنځيرونو اوتړلي شي.

****

1 - ابن ماجه في الصوم ٢ (١٦٤٢). (تحفة الأشراف: ١٢٤٩) وأخرج الشق الأول صحيح البخارى في الصوم ٥ (١٨٩٨، ١٨٩٩) . وبدء الخلق ١١ (٣٢٧٧) . و مسلم في الصوم ١ (١٠٧٩) . وسنن النسائي في الصوم ٣ (٢٠٩٩، ٢١٠٠) . و ٣ (٢١٠١، ٢١٠٢، ٢١٠٣، ٢١٠٣) . و ٥ (٢١٠٦، ٢١٠٧) . والمؤطاء في الصوم ٢٢ (٥٩) . و مسند احمد (٢ في ٢٨١، ٣٥٧، ٣٧٨، ٤٠١) . وسنن الدارمي في الصوم ٥٣ (١٨١٦).

٦٨٣_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، وَالْمُحَارِبِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَامَ رَمَضَانَ وَقَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ الَّذِي رَوَاهُ أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ رِوَايَةِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ قَوْلَهُ: إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَهَذَا أَصَحُّ عِنْدِي مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوك چي دايمان په حالت كي اودثواب په اراده روژي اونيسي نو دده مخكني گناهونه به اوبخښلي شي اوځوك چي په ليلة القدر كي په اخلاص سره اودثواب په اراده قيام وكړي نو دده مخكني گناهونه به هم اوبخښلي شي امام ترمذي وائي دابوهريره مخكني حديث كوم چي دابوبكر بن عياش نه نقل دي غريب دي او مونږ ته صرف دابوبكر بن عياش په روايت عن الاعمش عن ابي صالح عن ابي هريرة سند سره معلوم دي، ما دامام بخاري نه ددي حديث متعلق تپوس اوكړو نو هغه راته په سند د حس بن ربيع عن ابي الاحوص عن الاعمش سند سره بيان كړو او دمجاهد قول يي نقل كړو چي كله درمضان اولنۍ شپه راشي ......او بيا يي دپورتني حديث پشان حديث بيان كړو، امام بخاري وائي دا حديث زما په نزد دابوبكر بن عياش دحديث نه زيات صحيح دي.

تشريح : په دي حديث كي دروژي دفضيلت بيان دي چي ځوك روژي نيسي نو ددي په بركت به دده تمام گناهونه معاف كيږي او كه دچا واړه گناهونه نه وي نو روژي به دده دپاره ددرجو دلوړيدو سبب گرځي.

---

١ _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٠٣٨ و١٥٠٥١) وأخرجه صحيح البخاري في الإيمان ٢٧ (٣٧)، و٢٨ (٣٨)، والصوم ٦ (١٩٠١)، والتراويح ١ (٢٠٠٨، ٢٠٠٩)، صحيح مسلم في المسافرين ٢٥ (٧٥٩)، سنن ابي داود في الصلاة ٣١٨ (١٣٧١)، سنن النسائي في قيام الليل ٣ (١٦٠٣)، والصوم ٣٩ (٢١٩٣)، والإيمان ٢١ (٥٠٢٧-٥٠٢٩)، و٢٢ (٥٠٣٠)، سنن ابن ماجه في الإقامة ١٧٣ (١٣٢٦)، موطا امام مالك في رمضان ١ (٢)، مسند احمد (٢ في ٢٣٢، ٢٤١، ٢٨٥، ٤٧٣، ٥٠٣)، سنن الدارمي في الصوم ٥٤ (١٨١٧).

امام نووي وائي چي دلته دګناهوو دمغفرت نه مراد صغيره ګناهونه دي او دکبيره ګناهونو دپاره توبه ويستل او استغفار وئيل ضروري دي او کچرته څوك داسي خوش نصيب انسان وي دچا په عمل نامه کي چي ګناه نه وي نو دا دشپي قيام به دده دپاره په جنت کي ددرجو دلوړيدو ذريعه اوګرځي.

****

٢ـ بَابِ مَا جَاءَ لَا تَقَدَّمُوا الشَّهْرَ بِصَوْمٍ

درمضان داستقبال په نيت يوه ورځ دوه مخکي دروژو نيولو دمما نعت بيان

٦٨٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقَدَّمُوا الشَّهْرَ بِيَوْمٍ وَلَا بِيَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يُوَافِقَ ذَلِكَ صَوْمًا كَانَ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ، صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَعُدُّوا ثَلَاثِينَ ثُمَّ أَفْطِرُوا". رَوَى مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم بِنَحْوِ هَذَا، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا أَنْ يَتَعَجَّلَ الرَّجُلُ بِصِيَامٍ قَبْلَ دُخُولِ شَهْرِ رَمَضَانَ لِمَعْنَى رَمَضَانَ، وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يَصُومُ صَوْمًا فَوَافَقَ صِيَامُهُ ذَلِكَ فَلَا بَأْسَ بِهِ عِنْدَهُمْ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درمضان دمياشتي نه يوه ورځ يا دوه ورځي مخکي داستقبال په نيت روژي مه نيسئ علاوه دهغي ورځ نه په کومه ورځ چي روژه راشي او تاسو دمخکي نه دروژي په نيولو کي راروان يئ او دمياشتي په ليدو درمضان روژه اونيسئ او دشوال دمياشتو په ليدو يي ماته کړئ او که په اسمان کي وريځ وي نو دمياشتي ديرش ورځي پوره کړئ او بيا روژي بندي کړئ. امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دبعضي صحابه کرامو نه هم احاديث وارد دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي هغوئ دا مکروه ګڼري چي يو

---

1 ـ أخرجه صحيح البخاري في الصوم ١٣ (١٩١٣). صحيح مسلم في الصيام ٣ (١٠٨٢). سنن ابي داود في الصيام ١١ (٢٣٣٥). سنن النسائي في الصيام ٣١ (٢١٧٣). و٣٨ (٢١٨٩). سنن ابن ماجه في الصيام ٥ (١٦٥٠). مسند احمد (٢ في ٢٣٤، ٢٨٧، ٤٠٨، ٤٣٨، ٤٧٧، ٤٩٧، ٥١٣). سنن الدارمي في الصوم ٣ (١٦٣١).

انسان درمضان دراتلو نه مخكي درمضان په استقبال كي روژي اونيسي او كه ديو بنده دروژو نيولو معمول جاري راروان وي او هغه معمول درمضان رارسيدو پوري راورسيږي نو دده دپاره په دغه ورځ په روژه نيولو كي څه قباحت نشته.

تشريح : "لا تقدموا الشهر بيوم" درمضان دشروع كيدو نه يوه يا دوه ورځي مخكي درمضان په نيت روژه نيول ممنوع دي ليكن كه څوك داسي وي چي دزيارت او دوشنبي په ورځ دروژي نيولو عادت لري يا دصوم داودي عادت لري يوه ورځ روژه نيسي او يوه ورځ افطار كوي دداسي كس درمضان نه يوه يا دوه ورځي مخكي روژه نيولي شي ځكه چي دده دا روژه درمضان داستقبال دپاره نه ده بلكه دا دده دمعمول يوه حصه ده.

درمضان نه يوه يا دوه ورځي مخكي روژه كيدل ممنوع دي ځكه چي ددي په سبب درمضان په روژو كي اضافه راځي.

صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته: دمياشت په ليدو به روژه كيږئ او دمياشت په ليدو به يي ماتوئ مطلب دادي چي ترڅوپوري مو مياشت ليدلي نه وي يا په معتبر شهادت سره دمياشت ليدل ثابت شوي نه وي هغه وخته پوري به روژه نه شروع كوئ او نه به اختر كوئ.

فان غم عليكم : غم نه په لغت كي يوه معني ده يعني دوريځو راخوريدل په دي صورت كي به حكم دا وي چي دشعبان ديرش ورځي به پوره كوي او روژي به پوره كوي همدا رنګي كه په نهه ويشتم رمضان مياشت ښكاره نشي نو ديرش روژي به پوره كوي او اختر به كوي

****

٦٨٥_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقَدَّمُوا شَهْرَ رَمَضَانَ بِصِيَامٍ قَبْلَهُ بِيَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمًا فَلْيَصُمْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درمضان نه يوه ورځ يا دوه ورځي مخكي درمضان په استقبال كي روژي مه نيسئ مګر علاوه دهغه چا نه څوك چي دمخكي نه تردغي ورځي روژو نيولو كي راروان وي امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

---

[1] _ انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٥٤٠٦)

تشريح : شريعت چي هر څومره عبادت مشروع کړي دي هم دومره کول پکار دي نه کمي کول پکار دي او نه زيادت دکمي نقصان خو ظاهر دي مګر په زيادت کولو کي دا خرابي ده چي کله په يو عبادت کي داحتياط په نوم اضافه اوکړي شي نو دا اضافه وخت تيريدو سره لړه لړه زياتيږي او بيا دومره حد ته ورسيږي چي دبرداشت نه بهر شي نو خلق ددي هغه اصل هم پريږدي.

وئيلي شوي دي چي په بني اسرائيلو صرف دري روژې فرض وي هغوئ داحتياط په نوم په دي کي وخت په وخت راضافي کولي تردي پوري چي په دوئ باندي شپږ روژې مقرر شوي او بيا ټولي ختمي شوي نن سبا عيسايان روژې نيسي او هندوان هم روژې نيسي مګر يهوديان روژې نه نيسي همدا وجه ده چي شريعت درمضان شروع کيدو نه مخکي روژې نيول منع کړي دي او دارنګي درمضان په اخر کي هم اضافه منع کړي ده بلکه دشوال په اوله ورځ يي روژه حرامه کړي ده ځکه چي دروژو په نيولو زړه منور کيږي نو په دي وجه درمضان په اخر کي داضافي کولو زيات احتمال وو نو ځکه يي دشوال په اوله ورځ روژه حرامه کړه او درمضان په ابتداء کي دا احتمال کم وو نو په دي وجه يي صرف دممانعت حکم صادر کړو.

****

٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ صَوْمِ يَوْمِ الشَّكِّ

دشک په ورځ دروژې نيولو دکراهت بيان

٦٨٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ الْمُلَائِيِّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ صِلَةَ بْنِ زُفَرَ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ فَأُتِيَ بِشَاةٍ مَصْلِيَّةٍ. فَقَالَ: كُلُوا، فَتَنَحَّى بَعْضُ الْقَوْمِ، فَقَالَ: إِنِّي صَائِمٌ. فَقَالَ عَمَّارٌ: "مَنْ صَامَ الْيَوْمَ الَّذِي يَشُكُّ فِيهِ النَّاسُ، فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَمَّارٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنَ التَّابِعِينَ، وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ

بْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: كَرِهُوا أَنْ يَصُومَ الرَّجُلُ الْيَوْمَ الَّذِي يُشَكُّ فِيهِ، وَرَأَى أَكْثَرُهُمْ إِنْ صَامَهُ فَكَانَ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ أَنْ يَقْضِيَ يَوْمًا مَكَانَهُ. (1)

ترجمه : صله بن زفر وائي چي مونږ د عمار بن ياسر رضي الله عنه سره موجود وو او په دغه وخت كي يوه سره كړي شوي چيلۍ راوړلي شوه عمار اووئيل خورئ ددي خبري په اوريدو سره يو كس وړاندي شو او يو گوټ كي كيناستو او مونږ ته يي اووئيل زما روژه ده عمار رضي الله عنه اووئيل كه چا په داسي ورځ روژه اونيوله په كومه كي چي دخلقو شك وي (چه درمضان مياشت شروع شوي ده يا نه ده) نو هغه دابو القاسم صلي الله عليه وسلم نافرماني اوكړه.

امام ترمذي وائي دعمار حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوهريره، انس رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي، دصحابه كرامو او ددوئ نه پس په تابعينو كي داكثرو اهل علمو په دي باندي عمل دي او همدا دسفيان ثوري ، مالك بن انس، عبدالله بن مبارك، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه قول هم دي دي اهل علمو په دغه ورځ روژه نيول مكروه گنړلي دي يعني دشك په ورځ او داكثرو علماؤ خيال دي كه څوك دشك په ورځ روژه اونيسي او هغه په حقيقت كي درمضان دمياشتي ورځ وي نو هغه به ددي ورځي په بدل كي يوه ورځ قضاء راوړي.

تشريح : عام شارحين د هدايه وايي چي د يوم الشك،نه مراد د شعبان آخره ورځ ده چي ددې باره كي دا احتمال هم دې چې دا د رمضان اوله ورځ وی،اودا هم احتمال دې چې د شعبان آخرى ورځ وی، يعنى د شعبان ۳۰ تاريخ وی،ليكن دا خبره دې ښكاره وی چې د شعبان آخرى ورځ يعنى ۳۰ شعبان به يوم الشك په دې صورت كي وی چې په ۲۹ شعبان مطلع صفا نه وی چې ددې په وجه د مياشت په راختلو اوپه نه راختلوكي شك وی،اوكه مطلع صفا وی نو راروانه ورځ به يوم الشك نه شمارلې كيږی.

په دې مسئله كي پنځه صورتونه كيدی شي:

(۱) اول صورت دادی كه چا په يوم الشك كي د رمضان د روژې نيت اوكړو نودا صورت مكروه دي.

(۲) دويم صورت دادی چې دواجب آخر نيت اوكړی داهم مكروه دی.

(۳)دريم صررت دادی دنفلو نيت اوكړی دا مكروه نه دې.

---

1 صحيح البخاري في الصيام ۲۷ (۲۱۹۰) ، سنن ابن ماجه في الصيام ۳ (۱۶۴۵) ، (تحفة الأشراف : ۱۰۳۵۴) ، سنن الدارمي في الصوم ۱ (۱۶۸۲)

(۴) څلورم صورت دادی اصل نیت کي دې تردید کوی داسې چې نیت اوکړی چې صبا به روژه نیسم که رمضان وو،اوروژه به نه نیسم که شعبان وو،اوپدې صورت کي به دغه روژه دار نه وی ځکه چې ده قطعی عزم نه دې کړې نوداسې شو لکه داسې نیت اوکړی چې که صبا مې خوراك اوموندلو نو افطار به اوکړم اوکه اومې نه موندلو روژه به کوم.

(۵) پنځم صورت دادی چې په وصف دنیت کي تردد اوکړی داسې نیت اوکړی چې که صبا رمضان وو نو درمضان روژه به نیسم اوکه شعبان وو نودبل واجب روژه به نیسم نو دا مکروه دی دوجې د تردد د ده نه په دوه کارونو مکروهو کنبې،بیا که ظاهره شوه چې دا رمضان وو نو روا دی دده دپاره دوجې دعدم تردد نه په نیت کنبې،اوکه ظاهر شو چې دغه شعبان دې نودبل واجب نه به کافی نه وی ځکه چې جهت ثابت نه شو پدې کي د تردد کیدو په وجه سره،او اصل نیت ددې واجبودپاره کافی نه دې لیکن دانفل شو داسې چې دقضا راوړو ذمه واری ئې اغستلې نه ده د وجې د شروع دده په دې کي ساقطوئنکې اوکه نیت ئې اوکړودرمضان که صبا رمضان وو او دنفلو صبا شعبان نو مکروه دی ځکه چې دې نیت کوئنکې د فرضو دې من وجه،بیاکه ظاهره شوه چې دغه رمضان نو درمضان نه به کافی شی لکه چې تیرشو،اوکه ظاهر شو چې شعبان دې نه نفل به ئې روا شی ځکه چې نفلی روژه په اصل نیت سره اداکیږی اوکه فاسد ئې کړه نو لازه ده قضا ئې راو نړی ځکه چې دده په نیت کي دفرضو ساقط کیدل من وجه داخل شو.(الهدایه)

ددي تحقیق دلائل او وجوهات د ترجیح د علم فقه په مطولاتو کي مفصل مذکور دي چي دلته يي د طوالت د خوف په وجه نشو نقل کولی.

****

٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي إِحْصَاءِ هِلَالِ شَعْبَانَ لِرَمَضَانَ

درمضان ددا خلیدو دپاره دشعبان دمیاشتي شمیرلو بیان

٦٨٧ـ حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ حَجَّاجٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلي الله عليه وسلم: "أَحْصُوا هِلَالَ شَعْبَانَ لِرَمَضَانَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ، وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَقَدَّمُوا شَهْرَ رَمَضَانَ بِيَوْمٍ وَلَا يَوْمَيْنِ". وَهٰكَذَا رُوِيَ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نَحْوَ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو اللَّيْثِيِّ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درمضان دپاره دشعبان مياشت اوشميرئ.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث غريب دي مونږ يي صرف دابو معاويه په سند پيژنو او صحيح هغه روايت دي كوم چي عبده بن سليمان په سند د محمد بن عمرو عن ابي سلمة عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم نقل كړي دي چي رسول الله فرمائيلي دي درمضان په استقبال كي يوه يا دوه ورځي مخكي روژه مه شروع كوئ دارنګي په سند د يحي بن ابي كثير عن ابي سلمة عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره هم دا روايت دمحمد بن عمرو ليثي د حديث پشان مروي دي.

****

٥ـ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الصَّوْمَ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ وَالْإِفْطَارَ لَهُ

دمياشت په ليدو دروژي شروع كولو او دمياشت په ليدو دروژي ختمولو بيان

٦٨٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَصُومُوا قَبْلَ رَمَضَانَ، صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ، وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ حَالَتْ دُونَهُ غَيَايَةٌ فَأَكْمِلُوا ثَلَاثِينَ يَوْمًا". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درمضان نه مخكي مه روژه كوئ دمياشتي په ليدو سره روژه شروع كړئ او دمياشتي په ليدو يي بنده كړئ او كه وريځ رالوتلي وي نو دمياشتي ديرش ورځي به پوره كوئ.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥١٢٣)

[2] ـ سنن ابي داود في الصيام ٧ (٢٣٢٧) . سنن النسائي في الصيام ١٢ (٢١٢٦) . (تحفة الأشراف : ٦١٠٥) . وأخرجه موطأ امام مالک في الصيام ١ (٣) . و مسند احمد (١ في ٢٢١) . وسنن الدارمي في الصوم ١ (١٧٢٥)

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په نورو يو څو سندونو هم دا حديث مروي دي او په دي باب کي دابوهريره، ابوبکره، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : ددي روايت تحقيق ما قبل ابوابو کي تير شوی دی.

****

٦_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ

مياشت کله کله د٢٩ ورځو هم وي

٦٨٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، أَخْبَرَنِي عِيسَى بْنُ دِينَارٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ بْنِ أَبِي ضِرَارٍ، عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "مَا صُمْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ أَكْثَرُ مِمَّا صُمْنَا ثَلَاثِينَ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، وَجَابِرٍ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَأَبِي بَكْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الشَّهْرُ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ".[1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره د ٣٠ روژو نه ٢٩ روژي زياتي نيولي دي.

امام ترمذي وائي په دي باب کي دعمر، ابوهريره، عائشه، سعد بن ابي وقاص، ابن عباس، ابن عمر، انس، جابر، ام سلمه، او ابوبکره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مياشت کله کله د ٢٩ ورځو هم وي.

تشريح : علامه ابن الهمام په فتح القديرکي ليکلی دی چی په ٢٩ شعبان د رمضان المبارک مياشت(سپوږمۍ)کتل واجب على الکفايه دی ځکه چی مياشت کله د ٢٩ ورځو وی،اوکله د ديرشو وی نوکه په ٢٩ شعبان مياشت په نظر راغله نو روژه به نيولې شي،اوکه مياشت په نظر رانغله نود شعبان ٣٠ ديرش ورځې به پوره کولې شي،اوبه راروانه ورځ به روژه نيولې شي.

****

[1] _ سنن ابي داود في الصوم ٣ (٢٣٢٢). (تحفة الأشراف: ٩٤٢٨). مسند احمد (١/ ٤٢١)

٦٩٠_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّهُ قَالَ: آلَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نِسَائِهِ شَهْرًا، فَأَقَامَ فِي مَشْرُبَةٍ تِسْعًا وَعِشْرِينَ يَوْمًا، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ آلَيْتَ شَهْرًا، فَقَالَ: "الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپلو بيبيانو سره يوه مياشت ايلاء اوكړو (يعني ددوئ سره يي د نه ملاويدو قسم اوكړو) او بيا يي پخپله بالاخانه كي ۲۹ ورځي قيام اوكړو (او بيا خپلو بيبيانو ته ورغلو) خلقو ورته اووئيل اي دالله رسوله تاخو ديوي مياشتي ايلاء كړي وه؟ نو ويي فرمائيل مياشت كله كله د ۲۹ ورځو هم وي. امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّوْمِ بِالشَّهَادَةِ

دمياشتي دراتلو په ګواهي كيدو با ندي دروژي نيولو بيان

٦٩١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ أَبِي ثَوْرٍ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ الْهِلَالَ، قَالَ: "أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ" قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: يَا بِلَالُ "أَذِّنْ فِي النَّاسِ أَنْ يَصُومُوا غَدًا". حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْجُعْفِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ سِمَاكٍ نَحْوَهُ بِهَذَا الْإِسْنَادِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيهِ اخْتِلَافٌ، وَرَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَغَيْرُهُ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَأَكْثَرُ أَصْحَابِ سِمَاكٍ رَوَوْا عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: تُقْبَلُ شَهَادَةُ رَجُلٍ وَاحِدٍ فِي الصِّيَامِ، وَبِهِ يَقُولُ: ابْنُ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٨٣) وأخرجه صحيح البخارى في الصلاة ١٨ (٣٧٨). والصوم ١١ (١٩١١). والمظالم ٢٥ (٢٤٦٩). والنكاح ٩١ (٥٢٠١). والأيمان والنذور ٣٠ (٦٦٨٣). سنن النسائي في الطلاق ٣٢ (٣٤٨٦). مسند احمد (٣ في ٢٠٠) من غير هذا الطريق عنه

الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَأَهْلُ الْكُوفَةِ. قَالَ إِسْحَاق: لَا يُصَامُ إِلَّا بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ وَلَمْ يَخْتَلِفْ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْإِفْطَارِ، أَنَّهُ لَا يُقْبَلُ فِيهِ إِلَّا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي يو اعرابي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او عرض يي اوکړو چي ما مياشت ليدلي ده رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ايا ته ګواهي ورکوي چي دالله نه علاوه بل معبود برحق نشته او ايا ته دا ګواهي ورکوي چي محمد (صلي الله عليه وسلم) دالله رسول دي؟ هغه اووئيل هو، ګواهي ورکوم بيا رسول الله اوفرمائيل اي بلال په خلقو کي اعلان اوکړه چي سبا روژه اونيسئ.

امام ترمذي وائي دابن عباس په حديث کي اختلاف دي سفيان ثوري وغيره په سند دسماك عن عکرمه عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسل نقل کړي دي او دسماك شاګردانو دا روايت په سند د سماك عن عكرمة عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسل نقل کړي دي داکثر اهل علمو عمل هم په دي حديث دي دوئ وائي چي درمضان دمياشتي په سلسله کي ديو کس ګواهي قابل قبول ده، ابن مبارك ، امام شافعي، احمد، او اهل کوفه ددي قول قائلين دي، اسحاق بن راهويه وائي چي روژه د دوه کسانو ګواهئ نه بغير نه ثابتيږي يعني نه نيولي کيږي ليکن دروژي بندولو په سلسله کي په اهل علمو کي اختلاف نشته چي په دي کي به د دوه کسانو ګواهي قابل قبول وي.

تشريح : که چري په اسمان وريځ وي يا ګرد او غبار وي او بيا لړه راخوره شوي وي نو داسي صورت کي ديو کس په شهادت هم رمضان ثابتيږي خو شرط به دا وي چي ګواهي ورکونکي به اهل دشهادت وي او دشهادت داهليت دپاره اته شرطونه دي.

(۱) مسلمان کيدل، معلومه شوه چي په روئيت دهلال کي دغير مسلم شهادت مقبول نه دي.

(۲) عاقل کيدل ، يعني دليوني شهادت معتبر نه دي.

(۳) بالغ کيدل ، او دماشوم شهادت مقبول نه دي.

(۴) بناء کيدل، دړوند شهادت قبول نه دي.

(۵) عادل کيدل دغير عادل شهادت مقبول نه دي.

(۶) پخپلو سترګو ليدل، معلومه شوه چي صرف اوريدلو باندي شهادت ورکول معتبر نه دي.

---

1 _ سنن ابي داود في الصيام ۱۴ (۲۳۴۰) . سنن النسائي في الصوم ۸ (۲۱۱۵) . سنن ابن ماجه في الصيام ۶ (۱۶۵۲) . سنن الدارمي في الصوم ۶ (۱۶۹۳)

(۷) شهادت لفظ استعمالول خكه چي په دي كښ دتاكيد او حلف معني موندلي كيږي او مشاهدي او اقرار لره هم مستلزم دي .
(۸) په مجلس دقاضي كي گواهي وركول ، معلومه شوه چي په بل خاي كي گواهي وركول معتبر نه دي.
(۹)او كه چري وريخ نه وي اسمان صفا وي نو بيا دډيرو كسانو شهادت ضروري دي په داسي صورت كي به ددوه كسانو شهادت هم معتبر نه وي.

****

۸ـ بَابُ مَا جَاءَ شَهْرَا عِيدٍ لاَ يَنْقُصَانِ

داختر دواړه مياشتي كمي نشي كيدي

۶۹۲ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "شَهْرَا عِيدٍ لَا يَنْقُصَانِ رَمَضَانُ وَذُو الْحِجَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي بَكْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. قَالَ أَحْمَدُ: مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ شَهْرَا عِيدٍ لَا يَنْقُصَانِ، يَقُولُ: لَا يَنْقُصَانِ مَعًا فِي سَنَةٍ وَاحِدَةٍ شَهْرُ رَمَضَانَ وَذُو الْحِجَّةِ، إِنْ نَقَصَ أَحَدُهُمَا تَمَّ الْآخَرُ، وقَالَ إِسْحَاق: مَعْنَاهُ لَا يَنْقُصَانِ، يَقُولُ: وَإِنْ كَانَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ فَهُوَ تَمَامٌ غَيْرُ نُقْصَانٍ، وَعَلَى مَذْهَبِ إِسْحَاق يَكُونُ يَنْقُصُ الشَّهْرَانِ مَعًا فِي سَنَةٍ وَاحِدَةٍ. ([1])

ترجمه : دابوبكره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي داختر دواړه مياشتي يعني رمضان او ذي الحجه كمي نه وي (يعني دواړه د ۲۹ ورځو نه وي).
امام ترمذي وائي دابو بكره حديث حسن دي دا حديث دعبدالرحمن بن ابي بكره نه مروي دي هغوئ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كري دي ، احمد بن حنبل وائي ددي حديث "چه داختر دواړه مياشتي كمي نه وي" مطلب دادي چي درمضان او ذي الحجه دواړه په يو كال كي دننه كمي نه وي كه په دي دواړو كي يو كم وي يعني ۲۹ ورځو وي نو دويم به

---

[1] ـ صحيح البخاري في الصوم ۱۲ (۱۹۱۲) . صحيح مسلم في الصوم ۷ (۱۰۸۹) . سنن ابي داود في الصوم ۴ (۲۳۲۳) . سنن ابن ماجه في الصيام ۹ (۱۶۵۹) . (تحفة الأشراف : ۱۱۶۷۷) . مسند احمد (۵ في ۳۸)

دپوره ۳۰ ورځو وي ، اسحاق بن راهويه دا مطلب بيان کړي دي که چرې دا د ۲۹ ورځو وي نو بيا به هم دثواب په اعتبار کمه نه وي يا داسحاق دمذهب په اعتبار دواړه مياشتې په يو کال کې کميدې شي يعني ۲۹ ۲۹ ورځې کيدې شي.

****

۹ـ بَابُ مَا جَاءَ لِكُلِّ أَهْلِ بَلَدٍ رُؤْيَتُهُمْ

دهر ښار والا دپاره دسپوږمۍ دليدو دخپلې علاقې اعتبار وي

۶۸۳ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حَرْمَلَةَ، أَخْبَرَنِي كُرَيْبٌ، أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ بَعَثَتْهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بِالشَّامِ، قَالَ: فَقَدِمْتُ الشَّامَ فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا وَاسْتُهِلَّ عَلَيَّ هِلَالُ رَمَضَانَ وَأَنَا بِالشَّامِ، فَرَأَيْنَا الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ، فَسَأَلَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ، فَقَالَ: مَتَى رَأَيْتُمُ الْهِلَالَ؟ فَقُلْتُ: رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، فَقَالَ: أَأَنْتَ رَأَيْتَهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ؟ فَقُلْتُ: رَآهُ النَّاسُ وَصَامُوا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ، قَالَ: لَكِنْ رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ فَلَا نَزَالُ نَصُومُ حَتَّى نُكْمِلَ ثَلَاثِينَ يَوْمًا أَوْ نَرَاهُ، فَقُلْتُ: أَلَا تَكْتَفِي بِرُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ؟ قَالَ: لَا، هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ لِكُلِّ أَهْلِ بَلَدٍ رُؤْيَتَهُمْ. ([1])

ترجمه : دکريب بيان دي فرمائي چې زه ام فضل بنت حارث معاويه رضي الله عنه ته اوليږلم نو زه شام ته راغلم او ما دهغوئ ضرورت پوره کړو او په دې دوران کې درمضان مياشت اوختله اوزه په شام کې موجود وم چې مونږ دجمعې په شپه سپوږمۍ اوليدله بيا زه مدينې ته دمياشتې په اخر کې راغلم ابن عباس زما نه د شام دحالاتو باره کې تپوسونه کول او بيا يې دسپوږمۍ ذکر اوکړو او ويې وئيل تاسو سپوږمۍ په کومه ورځ او کله ليدلې وه؟ ما اووئيل مونږ خو دجمعې په شپه ليدلې وه هغه اووئيل ايا تا هم دجمعې په شپه ليدلې وه؟ ما اووئيل خلقو ليدلې وه او هغوئ روژې اونيولې او معاويه رضي الله عنه هم روژه او نيوله ددې په اوريدو ابن عباس اووئيل مونږ خو دهفتې په ورځ ليدلې وه او مسلسل مو روژې جارې ساتلې

---

[1] . صحيح مسلم في الصوم ۵ (۱۰۸۷) . سنن ابي داود في الصيام ۹ (۲۳۳۲) . سنن النسائي في الصيام ۷ (۲۱۱۳) . (تحفة الأشراف : ۶۳۵۷) . مسند احمد (۱/ ۳۰۶)

وي تردي چي ۳۰روژي مو پوره كړي او يا دا چي مونږ د ۲۹ ورځو سپوږمۍ اووينو ما ورته اووئيل ايا ته دمعاويه رضي الله عنه دمياشت په ليدو او په روژي نيولو اكتفاء نه كوئ؟ هغوئ اووئيل نه مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي حكم كړي دي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن غريب دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي چي دهر ښار والادپاره به پخپله ددوئ سپوږمۍ ليدل معتبر وي.

تشريح : په دي مسئله كي اختلاف دي چي اختلاف دمطالع معتبر دي او كنه.

دائمه ثلاثه په نزد اختلاف دمطالع معتبر دي يعني هر ښار والابه پخپله سپوږمۍ وينې ديو ښار والاليدل به دبل ښار والادپاره دليل نه وي.

او دمتقدمينو احنافو په نزد اختلاف دمطالع معتبر نه دي ديو ښار ليدل به دبل ښار دپاره كافي كيږي خو شرط به دا وي چي په كوم ښار كي مياشت ليدلي شوي وي دهغي ثبوت به دشرعي طريقي مطابق وي.

****

١٠_ بَابُ مَا جَاءَ مَا يُسْتَحَبُّ عَلَيْهِ الإِفْطَارُ

روژه په څه ماتول مستحب دي

٦٩٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ وَجَدَ تَمْرًا فَلْيُفْطِرْ عَلَيْهِ وَمَنْ لَا فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ، فَإِنَّ الْمَاءَ طَهُورٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ لَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَوَاهُ عَنْ شُعْبَةَ مِثْلَ هَذَا غَيْرَ سَعِيدِ بْنِ عَامِرٍ، وَهُوَ حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ وَلَا نَعْلَمُ لَهُ أَصْلًا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ، وَقَدْ رَوَى أَصْحَابُ شُعْبَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ عَامِرٍ، وَهَكَذَا رَوَوْا عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنْ سَلْمَانَ وَلَمْ يُذْكَرْ فِيهِ شُعْبَةُ عَنِ الرَّبَابِ، وَالصَّحِيحُ مَا رَوَاهُ. وَابْنُ عُيَيْنَةَ وغير واحد، سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ

حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، وَابْنُ عَوْنٍ، يَقُولُ: عَنْ أُمِّ الرَّائِحِ بِنْتِ صُلَيْعٍ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، وَالرَّبَابُ هي أم الرائح. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچا سره چي كجوري موجود وي پكار ده چي روژه ورباندي ماته كړي او دچا سره چي موجود نه وي پكار ده چي هغه په اوبو روژه ماته كړي ځكه چي اوبه يو پاك څيز دي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دسلمان بن عامر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، مونږ ته نه ده معلومه چي دانس حديث د سعيد بن عامر نه علاوه بل چا دشعبه نه نقل كړي وي دا حديث غير محفوظ دي او مونږ ته ددي كوم اصل عبدالعزيز په روايت چي هغوئ دانس نه نقل كړي وي معلوم نه دي ، او دشعبه شاګردانو دا حديث په سند د شعبه عن عاصم الاحول عن حفصة بنت سيرين عن الرباب عن سلمان بن عامر عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او په دي سند كي يي درباب نه دشعبه قول نقل كول نه دي ذكر كړي او صحيح هغه سند دي كوم چي سفيان ثوري او ابن عيينه او نورو محدثينو په سند د عاصم الاحول عن حفصة بنت سيرين عن الرباب عن سلمان بن عامر سره نقل كړي دي. ابن عون وائي عن ام الرائح بنت سليم عن سلمان بن عامر او رباب په حقيقت كي ام الرائح دي.

****

٦٩٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ ح. وَحَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ. وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، قَالَ: أَنْبَأَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ الضَّبِّيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ زَادَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ فَإِنَّهُ طَهُورٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دسلمان ابن عامر صحابي نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو كي چي څوك روژه ماتوي نو په كجوره يى ماتوئ كه كجوره نه مومئ نو په اوبو يى ماتوئ ځكه چي اوبه پاكونكي دي.

---

1 تفرد به المؤلف (وأخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٠٣٦)

2 سنن ابي داود في الصوم ٢١ (٢٣٥٥) . سنن ابن ماجه في الصيام ٢٥ (١٦٩٩) . (تحفة الأشراف: ٤٤٨٦) . مسند احمد (٤/ في . ١٧، ١٩، ٢١٣، ٢١٥) . سنن الدارمي في الصوم ١٢ (١٧٤٣) .

دا حديث امام ترمذيٰ روايت کړی دی او حديث حسن يی ورته وئيلی دی .

تشريح : علماء وائي شريعت په کجورو دروژو ماتولو حکم ځکه کړي دي چي کله معده خالي وي او په دغه وخت کي خواږه معدي ته ورسيږي نو ددي په سبب بدن ته فائده رسيږي او قوت زياتيږي او که کجوري نه وي نو بيا په اوبو روژه ماتول پکار دي ځکه چي دا دظاهري او باطني طهارت سبب دي.

دسلمان بن عامر رضي الله عنه حالات

نوم سلمان دپلار نوم عامر بن عوس بن جعد چي ضبي قبيلي سره يي تعلق وو او په بسريانو کي شميرلی شي دبعضي اسماء الرجال والا خيال دی چي په ضبي قبيله کي دده نه علاوه بل کوم روايت کونکی صحابي نشته ديارلس روايات ورنه منقول دي چي صرف يو په بخاري کي موجود دی.

****

٦٩٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَى رُطَبَاتٍ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَتُمَيْرَاتٌ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تُمَيْرَاتٌ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرُوِيَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُفْطِرُ فِي الشِّتَاءِ عَلَى تَمَرَاتٍ، وَفِي الصَّيْفِ عَلَى الْمَاءِ".[1]

ترجمه : انس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به د مابنام نه مخکي په يو څو تازه کجورو روژه ماتوله، که تازه به نه وی په يو څو اوچو کجورو به يی ماته کړه که دا به هم نه وی نو يو څو ګوټه اوبه به يی اوڅکلی .

داحديث امام ترمذي نقل کړی دی او حديث حسن غريب يی ورته وئيلی دی .

امام ترمذي وايي د رسول الله متعلق مروي دي چي د ژمي به يي په کهجورو روژه ماتوله او د اوړي به يي په اوبو روژه ماتوله.

****

١١ـ بَاب مَا جَاءَ الصَّوْمُ يَوْمَ تَصُومُونَ وَالْفِطْرُ يَوْمَ تُفْطِرُونَ وَالأَضْحَى يَوْمَ تُضَحُّونَ

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصيام ٢١ (٢٣٥٦) . (تحفة الأشراف : ٢٦٥)

دروژي ورځ هغه ده كله چي دټولو روژه وي او داختر ورځ هغه ده كله چي دټولو اختر وي او دلوي اختر ورځ هغه ده كله چي ټول داختر خوشحالي ښكاره كوي

٦٩٧ـ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ، حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُحَمَّدٍ الْأَخْنَسِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " الصَّوْمُ يَوْمَ تَصُومُونَ وَالْفِطْرُ يَوْمَ تُفْطِرُونَ وَالْأَضْحَى يَوْمَ تُضَحُّونَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَفَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: إِنَّمَا مَعْنَى هَذَا أَنَّ الصَّوْمَ وَالْفِطْرَ مَعَ الْجَمَاعَةِ وَعُظْمِ النَّاسِ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دروژي ورځ هغه ده كله چي هر چا روژه نيولي وي او دافطار ورځ هغه ده كله چي ټول خلق د اختر خوشحالي كوي او دلوي اختر ورځ هغه ده كله چي تاسو قرباني كوئ.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي بعضي علماؤ ددي حديث داسي تشريح كړي ده چي صوم او عيدالفطر داجتماعيت او سوادالاعظم ښكاره كول پكار دي.

تشريح : مطلب دادي چي كله رمضان په شرعي طريقه ثابت شي نو روژه اونيسئ او چي كله اختر په شرعي طريقه ثابت شي نو روژه ماته كړئ او دا رنګي لوي اختر هم دي چي كله په شرعي طريقه ثابت شي نو اختر اوكړئ او قرباني اوكړئ دشرعي ثبوت نه پس په شكوك او اوهام كي مبتلا كيدل نه دي پكار.

****

١٢ـ باب مَا جَاءَ إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ وَأَدْبَرَ النَّهَارُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ

كله چي شپه راشي او ورځ لاړه شي يعني نمر غائب شي نو روژه دار دي روژه ماته كړي

٦٩٨ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاق الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٩٩٦) وأخرجه سنن ابي داود في الصوم ٥ (٢٣٢٤) وسنن ابن ماجه في الصيام ٩

(١٦٦٠)

إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ وَأَدْبَرَ النَّهَارُ وَغَابَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرْتَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي شپه راشي او ورځ لاړه شي او نمر ډوب شي نو تاسو افطار اوكړئ.

امام ترمذي وائي دعمر حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن ابي اوفي او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

١٣_ باب مَا جَاءَ فِي تَعْجِيلِ الإِفْطَارِ

په روژه ماتي كي دجلتئ كولو بيان

٦٩٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ ح. قَالَ: وأَخْبَرَنَا أَبُو مُصْعَبٍ قِرَاءَةً، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ الَّذِي اخْتَارَهُ أَهْلُ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ اسْتَحَبُّوا تَعْجِيلَ الْفِطْرِ، وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. (2)

ترجمه : دسهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلق به ترهغی پوری هميشه په بهترئ كي وي تر څو چي روژه ماتولو كي تلوار كوي.

امام ترمذي وائي دسهل بن سعد حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دابوهريره ، ابن عباس، عائشه، او انس بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او صحابه كرامو او

---

1 صحيح البخاری في الصوم ٣٣ (١٩٥٤). صحيح مسلم في الصيام ١٠ (١١٠٠). سنن ابی داود في الصيام ١٩ (٢٣٥١). ٢٨. ٣٥. (تحفة الأشراف: ١٠٤٧٤). مسند احمد (١/ في ٢٨). سنن الدارمی في الصوم ١١ (١٧٤٢)

2 _ صحيح البخاری في الصوم ٣٥ (١٩٥٧). (تحفة الأشراف: ٤٧٤٦). موطا امام مالک في الصيام ٣ (٦). مسند احمد (٥ في ٣٣٧. ٣٣٩) وأخرجه و مسلم في الصيام ٩ (١٠٩٨). وسنن ابن ماجه في الصيام ٢٣ (١٦٩٧). مسند احمد (٥ في ٣٣١. ٣٣٣. ٣٣٦). و الدارمی في الصوم ١١ (١٧٤١)

ددوئ نه پس اهل علمو هم دا قول اختيار كړي دي چي هغوئ په روژه ماتي كي جلتي كول مستحب ګڼي. امام شافعي، احمد، اسحاق هم ددي قائل دي.

لغات : عجّلوا: عجّل يعجل تعجيلا معني جلتي كول، لايزال: معني هميشه خير اسم تفضيل دي داخير نه مخفف دي.

تشريح : مطلب دادي چي دغروب نه فورا پس په افطار كولو كي تاخير نه دي پكار په دي حديث كي دداسي كار كولو په وجه بشارت بيان شوي دي او بل طرف ته په دي كي داهل كتابو مخالفت هم دي ځكه چي دوئ په افطار كي تاخير كوي تردي چي ستوري راوخيژي رافضيان هم په دي كي تاخير كوي.

دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه حالات

نوم سهل كنيه ابو العباس، ابو مالك، ابو يحيي، دهجرت نبوي نه پنځه كاله مخكي پيدا شوي وه پلار ورنه حزن نوم ايخودلی وو ليكن رسول الله صلي الله عليه وسلم وربانديي نوم بدل كړو او سهل نوم يي ورباندي كيخودو، دده پلارغزوه بدر ته دتلو اراده كړي وه ليكن دتلو نه مخكي وفات شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دتمامو مجاهدينو پشان دده دپاره هم حصه مقرره كړه سهل داكابر صحابه كرامو دوفات كيدو نه پس دخلقو مرجع اوګرځيدو دلري لري علاقو خلق به دده د درس حلقي ته راتلل سهل يو ځل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دپاره دمديني دمشهور كوهي بير بضاعه نه دځكلو دپاره اوبه هم راويستلي وي (مسند احمد).

وفات: دهجرت په ۹۱كي دشپږ نوي كالو په عمر كي وفات شو او دده دمرواياتو شمير ۱۸۸دی چي ۲۸متفق عليه دي.

****

۷۰۰ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ قُرَّةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: "أَحَبُّ عِبَادِي إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا".[1]

ترجمه : ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي فرمائي ځما په بنديانو كي ماته ډير محبوب هغه دی چي افطار كي تلوار كوي.

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۵۲۳۵) . وانظر: مسند احمد (۲ في ۲۳۸، ۳۲۹)

لغات : عزّ: عزّ يعز عزا دضرب نه معني غالب كيدل، اوصفت عزيز راځي

تشريح : احب عبادي الي اعجلهم فطرا: يعني زما محبوب بنده هغه دي چي په افطار كي جلتي كوي، په پورتني حديث كي دا بيان شوي دي چي په افطار كي جلتي كونكي دالله په نزد فضيلت والادي او همدا رنګكي په جلتئ كولو سره دسنت اتباع هم كيږي او داهل روافض مخالفت هم كيږي

****

٧٠١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَاصِمٍ، وَأَبُو الْمُغِيرَةِ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : ابو المغيره هم داوزاعي نه په سابقه سند باندي دماقبل حديث هم معني روايت بيان كړي دي. امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي

****

٧٠٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي عَطِيَّةَ، قَالَ: دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ عَلَى عَائِشَةَ، فَقُلْنَا: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ الإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ، وَالآخَرُ يُؤَخِّرُ الإِفْطَارَ وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ، قَالَتْ: أَيُّهُمَا يُعَجِّلُ الإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ؟ قُلْنَا: عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ، قَالَتْ: هَكَذَا صَنَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَالآخَرُ أَبُو مُوسَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو عَطِيَّةَ اسْمُهُ مَالِكُ بْنُ أَبِي عَامِرٍ الْهَمْدَانِيُّ وَيُقَالُ ابْنُ عَامِرٍ الْهَمْدَانِيُّ، وَابْنُ عَامِرٍ أَصَحُّ. [2]

ترجمه : د ابو عطيه رضي الله عنه نه روايت دى چي زه او مسروق دواړه ام المومنين عائشي رضي الله عنها ته ورغلو مسروق عرض اوكړو د رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه اصحاب دي او دواړه دخير په كار كي كوتاهي نه كوي په دوي كي يو كس مابنام مونځ كولو كي او روژه ماتولو كي تلوار كوي او بل د مابنام مونځ كولو او روژه ماتولو كي تاخير كوي نو

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٢٣٥) . وانظر: مسند احمد (٢ في ٢٣٨، ٣٢٩)

2 ـ صحيح مسلم في الصوم ٩ (١٠٩٩) . سنن ابي داود في الصوم ٢٠ (٢٣٥٤) . سنن النسائي في الصيام ٢٣ (٢١٦٠) . (تحفة الأشراف: ١٧٧٤٩) . مسند احمد (٦ في ٤٨) و (٦ في ١٧٣)

دی دواړو کي کوم کار بهتر دی ؟ عائشی رضي الله عنها تپوس اوکړو کوم یو تلوار کوي هغه ورته اووئیل عبدالله یعنی عبدالله ابن مسعود عائشی رضي الله عنها ورته اووئیل رسول الله صلي الله علیه وسلم به هم دغه شان کولو یعني تلوار بهتر دی د رسول الله صلي الله علیه وسلم هم دا طریقه وه.

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي او دابوعطیه نوم مالك بن ابي عامر الهمداني دي او ابن عامر همداني او ابن عامر ورته هم وئیلي شي. او دا صحیح تر قول دي.

لغات : یالوا : الاالوا دنصر نه معني کوتاهي او سستي نه کول.

تشریح : په پورتني حدیث کي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په باره کي راغلي دي چي هغه به پیشمني په تاخیر سره کولو او په روژه ماتي کي به یي جلتي کوله نو په دي باره کي عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چي رسول الله صلي الله علیه وسلم به هم داسي کول او ددي بالمقابل دابوموسي اشعري رضي الله عنه په باره کي راغلي دي چي هغه به په روژه ماتي کي تاخیر کولو.

علماء وائي چي ابو موسي اشعري هم یو جلیل القدر صحابي دي ممکن ده چي دهغه دا عمل دجواز دبیان دپاره وي یا یي د کوم عذر او څه مصلحت په بنا داسي کړي وي یا دا مطلب دي چي یو ځل نیم یي داسي کړي وي او مسروق ورنه نقل کړي وي.

****

١٤ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَأْخِيرِ السُّحُورِ

په پیشمني کي دتاخیر کولو بیان

٧٠٣ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: "تَسَحَّرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قُمْنَا إِلَى الصَّلَاةِ"، قَالَ: قُلْتُ: كَمْ كَانَ قَدْرُ ذَلِكَ؟ قَالَ: "قَدْرُ خَمْسِينَ آيَةً".[1]

ترجمه : دزید بن ثابت رضي الله عنه نه روایت دی چي مونږ رسول الله صلي الله علیه وسلم سره پیشمنی اوکړو او بیا ورسره سحر مانځه ته اودریدو چا ورته اووئیل د پیشمني او سحر

[1] صحیح البخاری في المواقیت ٢٨ (٥٧٥)، والصوم ١٩ (١٩٢١). صحیح مسلم في الصیام ٩ (١٠٩٧). سنن النسائي في الصیام ٢١ (٢١٥٤). سنن ابن ماجه في الصوم ٢٣ (١٦٩٤). (تحفة الأشراف: ٣٦٩٦). مسند احمد (٥/ ١٨٢، ١٨٥، ١٨٦، ١٨٨، ١٩٢). سنن الدارمي في الصوم ٨ (١٧٠٣)

ترمينځه څومره فاصله وه؟ هغه اوونيل چي پنځوس ايتونه پكي او ونيلي شي.

لغات : تسحروا : معني پيشمني كول سحره يعني جادو يي وربانديي وكړو : كم معني څومره كم خبري هم وي او استفهامي هم وي.

تشريح : دپورتني روايت نه دسحر دمونځ او دپيشمني وخت معلوم شوي دي چي تقريبا دپنځوس ايتونو دلوستلو په مقدار وقفه به كيدله ددينه معلومه شوه چي دپيشمني په بالكل اخري وخت كي خوراك كول پكار دي او پنځوس ايتونه عموما خلق په لسو مينټو كي ونيلي شي نو دصبح صادق نه يولس منټه مخكي خوراك كول زيات فضيلت لري.

پنځوس ايتونه عموما سړي په پنځلس منټه كي ويلي شي نو دسبا كيدو لس پنځلس منټه مخكي دپيشمني خوراك كول فضيلت لري.

****

٧٠٤ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ هِشَامٍ بِنَحْوِهِ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: قَدْرُ قِرَاءَةِ خَمْسِينَ آيَةً. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ حُذَيْفَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ: اسْتَحَبُّوا تَأْخِيرَ السُّحُورِ. [1]

ترجمه : په دي سند دهشام نه هم روايت مروي دي البته په دي روايت كي داسي دي "دپنځوس ايتونو دلوستلو په مقدار".

امام ترمذي وائي دزيد بن ثابت حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دحذيفه رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي ، او همدا دامام شافعي، احمد ، او اسحاق قول دي دوئ په تاخير سره پيشمني كول خوښوي.

****

١٥ـ باب مَا جَاءَ فِي بَيَانِ الْفَجْرِ

دصبح صادق دواضح كيدو بيان

---

[1] ـ صحيح البخارى في المواقيت ٢٨ (٥٧٥) . والصوم ١٩ (١٩٢١) . صحيح مسلم في الصيام ٩ (١٠٩٧) . سنن النسائى في الصيام ٢١ (٢١٥٧) . سنن ابن ماجه في الصوم ٢٣ (١٦٩٤) . (تحفة الأشراف : ٣٦٩٦) . مسند احمد (٥ في ١٨٢. ١٨٥. ١٨٦. ١٨٨. ١٩٢) . سنن الدارمى في الصوم ٨ (١٧٠٢)

۷۰۵_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا مُلَازِمُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ النُّعْمَانِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ، حَدَّثَنِي أَبِي طَلْقُ بْنُ عَلِيٍّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا يَهِيدَنَّكُمُ السَّاطِعُ الْمُصْعِدُ، وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَعْتَرِضَ لَكُمُ الْأَحْمَرُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَسَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّهُ لَا يَحْرُمُ عَلَى الصَّائِمِ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ حَتَّى يَكُونَ الْفَجْرُ الْأَحْمَرُ الْمُعْتَرِضُ. وَبِهِ يَقُولُ عَامَّةُ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

ترجمه : دقيس بن طلق نه روايت دي فرمائي چي ماته زما پلار طلق بن علي حديث بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خورئ څكئ او منع دي نكړي تاسو لره صبح كاذب تر څو پوري چي سور نمر ختلي نه وي.

امام ترمذي وائي دطلق بن علي حديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب كي د عدي بن حاكم ، ابوذر، او سمره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي چي په صائم باندي خوراك څښاك نه حراميږي تر څو پوري چي دسحر سورخي او رنړا ښكاره شوي نه وي او همدا داكثرو اهل علمو قول دي.

دطلق بن علي رضي الله عنه حالات

نوم طلق دپلار نوم علي كنيه ابو علي حنفي يمامي طلق بن ثمامه ورته وئيلي شي دمسلمانيدو دپاره ديمامي دوفد سره راغلي وو څوارلس روايات ورنه منقول دي چي په دوئ كي يو هم په صحيحينو كي نشته.

****

۷۰۶_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَيُوسُفُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ سَوَادَةَ بْنِ حَنْظَلَةَ هُوَ الْقُشَيْرِيُّ، عن سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُورِكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيلُ، وَلَكِنِ الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيرُ فِي الْأُفُقِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (2)

---

1 _ سنن ابي داود في الصيام ١٧ (٢٣٤٨) (تحفة الأشراف: ٥٠٢٥)

2 صحيح مسلم في الصوم ٨ (١٠٩٤). سنن ابي داود في الصيام ١٧ (٢٣٤٦). سنن النسائي في الصيام ٣٠ (٢١٧٣). (تحفة الأشراف: ٤٦٢٤). مسند احمد (٥ في ٧، ٩، ١٣، ١٨)

ترجمه : دسمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو لره دي اذان دبلال دپيشمني دخوراك نه منع نكړي او نه دي منع نكړي تاسو لره اوږد سحر مګر هغه سحر دي تاسو لره منع كړي كوم چي داسمان په كنارو كي راخوريږي امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي.

****

١٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّشْدِيدِ فِي الْغِيبَةِ لِلصَّائِمِ

دروژه دار دپاره دغيبت كولو دوعيد بيان

٧٠٧_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، قَالَ: وَأَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ، فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ بِأَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كوم روژه دار چي دروغ وئيل او په دي باندي عمل كول پري نږدي نو الله تعالي ته دده دخوراك او څښاك پريخودلو هيڅ ضرورت نشته.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

١٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ السُّحُورِ

دپيشمني كولو دفضيلت بيان

٧٠٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، وَعَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ

---

1 صحيح البخاري في الصوم ٨ (١٩٠٣)، والأدب ٥١ (٦٠٥٧)، سنن ابن ماجه في الصيام ٢١ (١٦٨٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٣٢١)

اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، وَالْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، وَعُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : انس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي پيشمنی کوئ دی کي برکت دی.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دابوهريره، عبدالله بن مسعود، جابر بن عبدالله، ابن عباس، عمرو بن العاص ، عرباض بن ساريه، عتبه بن عبدالله، او ابو الدرداء رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي فرمائيل يي زمونږ په روژو او داهل کتابو په روژو کي فرق دپيشمني خوراك كول دي.

تشريح : "دپيشمني په خوراك كي بركت دي مطلب دادي چي په پيشمني كي پاڅيدل او خوراك كول پكار دي او كه څوك لږ خوراك هم اوكړي نو هم بهتره ده ځكه چي ددي وخت په خوراك كي بركت دي په خلاف دهغه كس چي د اوده كيدو نه مخكي ځان ښه ډك كړي او پريوځي نو په دي كي څه فائده نشته دي په اسلامي تعليماتو كي دانسان دكمزورئ خيال ساتلي شوي دي. په پيشمني كي بركت په دي وجه دي چي ددي په وجه روژه دار ته طاقت ملاويږي.

****

٧٠٩ــ وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُ السَّحَرِ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ. قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَهْلُ مِصْرَ يَقُولُونَ: مُوسَى بْنُ عَلِيٍّ، وَأَهْلُ الْعِرَاقِ يَقُولُونَ: مُوسَى بْنُ عُلَيٍّ وَهُوَ مُوسَى بْنُ عُلَيِّ بْنِ رَبَاحٍ اللَّخْمِيُّ. (2)

---

1 _ صحيح مسلم في الصوم ٩ (١٠٩٥). سنن النسائي في الصيام ١٨ (٢١٤٨). (تحفة الأشراف: ١٠٦٨، و ١٣٣٣) (صحيح) وأخرجه صحيح البخاري في الصوم ٢٠ (١٩٢٣). وسنن ابن ماجه في الصيام ٢٢ (١٦٩٢). و مسند احمد (٣ في ٩٩، ٢١٥، ٢٥٨، ٢٨١). وسنن الدارمي في الصوم ٩ (١٧٣٨).

2 _ مسلم في الصوم ٩ (١٠٩٦). و ابي داود في الصيام ١٥ (٢٣٤٣). و النسائي في الصيام ٢٧ (٢١٦٨). (تحفة الأشراف: ١٠٧٤٩). مسند احمد (٣ في ١٩٧). سنن الدارمي في الصوم ٩ (١٧٣٨)

ترجمه : عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زمونږ او داهل كتابو په مينځ كي فرق پيشمنى دى .
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي اهل مصر موسي بن علي وائي عين په فتح سره او اهل عراق موسي بن عليؔ دعين په ضمي سره لولي او دا موسي بن علي بن رباح اللخمي دي.

لغات : فصل: فصل يفصل فصلا معني جدا كيدل. فصل الخصومات هم ددي نه اخستلي شوي دي يعني دجګړو فيصلي كول فصل الشيء جدا كول فاصله يافرق كيدل.

تشريح : يعني زمونږ دروژو او داهل كتابو روژو په مينځ كي فرق دپيشمني خوراك دي داهل كتابو يعني ديهودو او نصاري په مذهب كي د اوده كيدو پوري خوراك كولي شي او داوده كيدو نه پس خوراك بنديږي د اسلام په ابتداء كي هم دا حكم وو ليكن وروسته په پيشمني كي بركت او فضيلت واچولي شو او ددي پيشمني په وجه داهل كتابو نه مخالفت هم لازم شو.

****

١٨_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ

په سفر كي دروژو نيولو دكراهت بيان

٧١٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ، فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ كُرَاعَ الْغَمِيمِ وَصَامَ النَّاسُ مَعَهُ، فَقِيلَ لَهُ: إِنَّ النَّاسَ قَدْ شَقَّ عَلَيْهِمُ الصِّيَامُ، وَإِنَّ النَّاسَ يَنْظُرُونَ فِيمَا فَعَلْتَ، فَدَعَا بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ بَعْدَ الْعَصْرِ، فَشَرِبَ وَالنَّاسُ يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، فَأَفْطَرَ بَعْضُهُمْ وَصَامَ بَعْضُهُمْ، فَبَلَغَهُ أَنَّ نَاسًا صَامُوا، فَقَالَ: "أُولَئِكَ الْعُصَاةُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ كَعْبِ بْنِ عَاصِمٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصِّيَامُ فِي السَّفَرِ" وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ، فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الْفِطْرَ فِي السَّفَرِ أَفْضَلُ، حَتَّى رَأَى بَعْضُهُمْ عَلَيْهِ الْإِعَادَةَ إِذَا صَامَ فِي السَّفَرِ. وَاخْتَارَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ الْفِطْرَ فِي السَّفَرِ. وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: إِنْ وَجَدَ قُوَّةً فَصَامَ فَحَسَنٌ، وَهُوَ أَفْضَلُ، وَإِنْ أَفْطَرَ فَحَسَنٌ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: وَإِنَّمَا مَعْنَى قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ

الصِّيَامُ فِي السَّفَرِ "، وَقَوْلِهِ حِينَ بَلَغَهُ أَنَّ نَاسًا صَامُوا، فَقَالَ: " أُولَئِكَ الْعُصَاةُ ". فَوَجْهُ هَذَا إِذَا لَمْ يَحْتَمِلْ قَلْبُهُ قَبُولَ رُخْصَةِ اللَّهِ، فَأَمَّا مَنْ رَأَى الْفِطْرَ مُبَاحًا وَصَامَ وَقَوِيَ عَلَى ذَلِكَ فَهُوَ أَعْجَبُ إِلَيَّ.[1]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دفتح مكه په كال مكې ته روان شو او روژه يې نيولې وه او ورسره خلقو هم روژه نيولې وه تردې چې كراع الغميم مقام ته ورسيدو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكړې شو چې روژه نيول خلقو ته ډير مشكل شو او تاسو خو دخلقو عمل وينئ (يعني ددې خبرې انتظار كوي چې تاسو څه اوكړئ) نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دمازيگر نه پس يوه پياله اوبه راوغوښتلې او خلقو ورته كتل په دوئ كې بعضو روژه ماته كړه او بعضو نيولې وه رسول الله ته معلومه شوه چې څه كسانو اوس هم روژه نيولې ده نو ويې فرمائيل هم دوئ نافرماني كونكي دي.

امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي او په دې باب كې دكعب بن عاصم، ابن عباس، او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چې فرمائيل يې په سفر كې روژه نيول كوم دنيكۍ كار نه دي، كه سفر كې دروژې نيولو په سلسله كې داهل علمو اختلاف دي په صحابه كرامواو ددوئ نه پس په اهل علمو كې دبعضو خيال دي چې په سفر كې روژه نيول افضل دي تردې پورې چې دبعضو خلقو رائې داده چې چا به په سفر كې روژه نيوله نو چې كله به دسفر نه واپس شو واپسۍ نه پس به يې دوباره نيسي احمد او اسحاق هم په سفر كې روژې نه نيولو ته ترجيح وركړې وه په صحابه كرامو او اهل علمو كې دبعضو قول دادې كه څوك دروژې نيولو طاقت لري او روژه اونيسي نو دا مستحسن او افضل دي سفيان ثوري ، مالك بن انس، او عبدالله بن مبارك هم ددې قول قائل دي . امام شافعي وائي درسول الله صلي الله عليه وسلم قول "په سفر كې روژه نيول كوم دنيكۍ كار نه دي" او په كوم وخت كې چې هغوئ ته معلومه شوه چې بعضې كسانو اوس هم روژه نيولې ده نو دهغوئ دا قول چې هم دوئ نافرماني كونكي دي دا ددې كس دپاره دي دچا زړه چې دالله تعالي نازل كړې رخصت او اجازت نه قبلوي ليكن څوك چې په سفر كې روژه نه نيول مباح گڼړي هغوئ دي روژه اونيسي او هغوئ ددې طاقت هم لري نو دا ماته ډير بهتر ښكاري.

تشريح : د مسافر دپاره افطار كول افضل دي او كه روژه نيول؟ په دې سلسله كې د اهل علمو دوه مذاهب دي:

---

1 مسلم في الصوم ١٥(١١٢١) . و النسائي في الصيام ٤٩ (٢٢٦٥) . (تحفة الأشراف : ٢٥٩٨)

(۱) احناف فقهاء وايي كه مسافر په روژه نيولوكي تكليف نه محسوسوى نو دده دپاره روژه نيول افضل دى،خوكه افطار ئې اوكړو نو روا دى

(۲) د امام شافعي (رحمه الله) په نزددمسافر دپاره مطلقاً افطار افضل دې.

د امام شافعي (رحمه الله) په نزدكه مسافر ته روژه مشكله نه معلوميږى نوهم روژه افضله ده، افطار افضل نه دي هم دا د امام مالك (رحمه الله) مذهب دي. ددي مسئلي مفصل او مدلل بحث په راتلونكي باب كي راروان دى.

****

۱۹ـ بَابُ مَا جَاءَ مِنَ الرُّخْصَةِ فِي الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ

په سفر كي دروژو نيولو داجازت بيان

۷۱۱ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ عَبْدَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيَّ، سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ وَكَانَ يَسْرُدُ الصَّوْمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَحَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ، أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو، سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي حمزه بن عمرو اسلمي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه په سفر كي دروژي نيولو متعلق تپوس اوكړو او پخپله به يي مسلسل روژي نيولي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه خوښه دي وي نو نيسه يي اوكه خوښه دي وي نو مه يي نيسه.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حديث دي چي حمزه بن عمرو دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو حسن صحيح دي، په دي باب كي دانس بن مالك، ابوسعيد

---

[1] ـ النسائي في الصوم ۵۸ (۲۳۱۰) . (تحفة الأشراف : ۱۷۰۷۱) (صحيح) وأخرجه والبخارى في الصوم ۳۳ (۱۹۴۲، ۱۹۴۳) و مسلم في الصيام ۱۷ (۱۱۲۱) . و ابي داود في الصوم ۴۲ (۲۴۰۲) . والنسائي في الصيام ۵۸ (۲۳۰۸-۲۳۱۰) . و ۷۳ (۲۳۸۶) . وسنن ابن ماجه في الصوم ۱۰ (۱۶۶۲) . موطا امام مالك في الصيام ۷ (۲۴) و مسند احمد (۶ في ۴۶، ۱۹۳، ۲۰۲، ۲۰۷) . وسنن الدارمي في الصوم ۱۵ (۱۷۴۸) .

خدري، عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عمرو، ابو الدرداء او حمزه بن عمرو اسلمي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٧١٢ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ أَبِي مَسْلَمَةَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "كُنَّا نُسَافِرُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ، فَمَا يَعِيبُ عَلَى الصَّائِمِ صَوْمَهُ وَلَا عَلَى الْمُفْطِرِ إِفْطَارَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : ابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ به درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په رمضان کي سفر کولو نو نه به يي روژه نيونکي بد ګڼړل او نه به يي نه نيونکي بد ګڼړل په وجه دنه نيولو دروژي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٧١٣ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ ح. قَالَ: وحَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: "كُنَّا نُسَافِرُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ فَلَا يَجِدُ الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ، وَلَا الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ، فَكَانُوا يَرَوْنَ أَنَّهُ مَنْ وَجَدَ قُوَّةً فَصَامَ فَحَسَنٌ، وَمَنْ وَجَدَ ضَعْفًا فَأَفْطَرَ فَحَسَنٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه : ابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ به درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په سفر کي وو او په مونږ کي به بعضي خلقوروژي نيولي او بعضو به نه نيولي نو نه به روژي نيولو والا نه نيونکي بد ګڼړل او نه به نه نيونکو روژه نيونکو د روژي نيولول په وجه بد ګڼړل هغوئ به ديته کتل چي په چا کي به دروژو نيولو طاقت وو هغوئ به نيولي او په چا کي به کمزوري وه هغوئ به نه نيولي.

---

1 ـ مسلم في الصوم ١٥ (١١١٦). والنسائي في الصيام ٥٩ (٢٣١٣). (تحفة الأشراف: ٤٣٢٣)

2 صحيح مسلم في الصوم ١٥ (١١١٦). سنن النسائي في الصيام ٥٩ (٢٣١١). (تحفة الأشراف: ٤٣٢٥) (صحيح) وأخرجه مسند احمد (٣ في ٣٥، ٤٣، ٨٤)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح : په سفر کې د روژې حکم

په سفر کې د روژې نيولو متعلق د فقهاو دوه اقوال دي:

(۱) د احنافو په نزد که مسافر په روژه نيولو کې تکليف نه محسوسوی نو دده دپاره روژه نيول افضل دی،خوکه افطار ئې اوکړو نو روا دی.

(۲)د امام شافعی (رحمه الله) په نزددمسافر دپاره مطلقاً افطار افضل دې.

د امام شافعی (رحمه الله) دليل د جابربن عبدالله(رضي الله عنه) حديث دي:

"قال كان رسول الله صلي الله عليه وسلم فى سفر فرأى زحاما ورجلاً قد ظلل عليه فقال ما هذا قالوا صائم . فقال ليس من البر ألصيام فى السفر"

يعنی رسول الله صلي الله عليه وسلم په يوسفر کې وو،رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه گنړه اوکتله،او يوکس ئې اوکتلو چی په هغه باندې سورې شوې وو،نبی کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل،داڅه دی؟ خلقو اووئيل چی دا روژه دار دي نبی کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چی په سفر کې روژه نيول د نيکئ خبره نه ده.

زمونږ دليل دا ارشاد الهي دی: ان تصوموا خير لكم، يعنی په رمضان کې روژه نيول،د نه نيولو نه افضل دی،دا دهغه وخت حکم دي کله چی په رمضان کې په فديه ورکولوسره د افطار اجازت وو. عنايه.

****

۲۰ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ لِلْمُحَارِبِ فِي الإِفْطَارِ

دمجاهد او غازي دپاره د روژو نه نيولو درخصت بيان

۷۱۴ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مَعْمَرِ بْنِ أَبِي حُيَيَّةَ، عَنْ ابْنِ الْمُسَيَّبِ، أَنَّهُ سَأَلَهُ عَنِ الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ، فَحَدَّثَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، قَالَ: " غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ غَزْوَتَيْنِ يَوْمَ بَدْرٍ، وَالْفَتْحِ، فَأَفْطَرْنَا فِيهِمَا ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُمَرَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ

النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ أَمَرَ بِالْفِطْرِ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا". وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ نَحْوُ هَذَا، إِلَّا أَنَّهُ رَخَّصَ فِي الْإِفْطَارِ عِنْدَ لِقَاءِ الْعَدُوِّ، وَبِهِ يَقُولُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

ترجمه : دمعمر بن ابي حبيبه نه روايت دي فرمائي چي ما دسعيد بن مسيب نه په سفر كي دروژو نيولو باره كي تپوس اوكرو هغه اووئيل عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمائي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ډيري غزاګاني كړي دي په غزوه بدر فتح مكه كي شريك وو مونږ په دي دواړو غزاګانو كي روژي نه وي نيولي

امام ترمذي وائي دعمر رضي الله عنه حديث مونږ صرف په دي يو سند پيژنو، په دي باب كي دابوسعيد خدري نه هم روايت وارد دي، دابوسعيد خدري نه مروي دي هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل كوي چي رسول الله خلقو ته په يو غزا كي دافطار حكم اوكړو، دعمر بن خطاب نه هم داسي مروي دي البته هغوئ دروژي نه نيولو رخصت ددشمن سره دمخامخ كيدو په صورت كي وركړي دي او بعضي اهل علم هم ددي قائل دي.

****

٢١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي الْإِفْطَارِ لِلْحُبْلَى وَالْمُرْضِعِ

په روژو كي دحبلي او مرضعي دپاره درخصت بيان

٧١٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَيُوسُفُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا أَبُو هِلَالٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَوَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: أَغَارَتْ عَلَيْنَا خَيْلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدْتُهُ يَتَغَدَّى، فَقَالَ: "ادْنُ فَكُلْ" فَقُلْتُ: إِنِّي صَائِمٌ، فَقَالَ: "ادْنُ أُحَدِّثْكَ عَنِ الصَّوْمِ أَوِ الصِّيَامِ، إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى وَضَعَ عَنِ الْمُسَافِرِ الصَّوْمَ وَشَطْرَ الصَّلَاةِ، وَعَنِ الْحَامِلِ أَوِ الْمُرْضِعِ الصَّوْمَ أَوِ الصِّيَامَ". وَاللَّهِ لَقَدْ قَالَهُمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِلْتَيْهِمَا أَوْ إِحْدَاهُمَا، فَيَا لَهْفَ نَفْسِي أَنْ لَا أَكُونَ طَعِمْتُ مِنْ طَعَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ الْكَعْبِيِّ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَلَا نَعْرِفُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ هَذَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ الْوَاحِدِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: الْحَامِلُ وَالْمُرْضِعُ تُفْطِرَانِ وَتَقْضِيَانِ وَتُطْعِمَانِ.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٤٥٠)

وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ، وَمَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: تُفْطِرَانِ وَتُطْعِمَانِ وَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ شَاءَتَا قَضَتَا وَلَا إِطْعَامَ عَلَيْهِمَا، وَبِهِ يَقُولُ إِسْحَاق. ([1])

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه چي د بني عبد الله بن كعب نه يو كس دى وائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم اس سوارانو په مونږ باندي دشپي حمله اوكړه نو زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلم او ما هغه په داسي حالت كي اوليدو چي دماسپخين ډوډئ يي خوړله ماته يي اوفرمائيل راشه اوخوره ما عرض اوكړو زما خو روژه ده راته يي اوفرمائيل رانزدي شه زه به درته دروژي باره كي اووايم الله تعالي مسافر ته روژه او نيم لمونځ معاف كړي دي حامله او مرضعه ښځو ته يي هم روژه معاف كړي ده، په الله قسم نبي كريم صلي الله عليه وسلم حامله او مرضعه دواړه الفاظ اوونيل او كه په دي دواړو كي يي يو اوونيلو خو زه پخپل ځان ډير افسوس كوم چي ما په دغه وخت كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره خوراك ولي اونكړو امام ترمذي وائي دانس بن مالك كعبي حديث حسن دي او دانس بن مالك ددينه علاوه كوم بل حديث مونږ ته نه دي معلوم كوم چي هغوئ د نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي وي، او په دي باب كي دامية نه هم روايت وارد دي او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي، بعضي اهل علم وائي چي حامله او مرضعه ښځه به روژي نه نيسي روسته به قضاء راوړي فقيرانو او مسكينانو ته به خوراك وركوي، سفيان ثوري ، مالك، شافعي، احمد هم ددي قائل دي دبعضو قول دي چي حامله او مرضعه به روژي نه نيسي بلكه فقيرانو او مسكينانو لره به خوراك وركوي او په دوئ باندي قضاء نشته او كه چري دوئ قضاء راوړل غواړي نو بيا به په دوئ باندي فقيران او مسكينانو ته خوراك وركول واجب نه وي اسحاق بن راهويه هم ددي قول قائل دي.

تشريح : كه حامله او مرضعه افطار وكړي نو ددي دپاره څه حكم دى ايا وروسته به د عذر ختميدو نه پس ددي كفاره ادا كوي او كه قضا به راوړي . په دي سلسله كي د فقهاؤ دوه مذاهب دي:

(۱) احناف علماء وايي كه چري حاملي ښځي يا پئ وركونكي ښځي ته كه د روژي په وجه د خپلوځانونو خطره وي،يا دخپلو بچو ويره وي،يعنى حاملي ته د خيټي د بچي ويره وي،او پئ وركونكي ښځي ته د پئ څكونكى بچى ويره وي نودا دواړه دي افطار اوكړي،او

---

[1] ـ ابي داود في الصيام ۴۳ (۲۴۰۸) . سنن النسائي في الصيام ۵۱ (۲۲۷۶) . و ۶۲ (۲۳۱۷) . ابن ماجه في الصيام ۱۲ (۱۶۶۷) . (تحفة الأشراف : ۱۷۳۲) . مسند احمد (۴ في ۳۴۷) . و (۵ في ۲۹)

وروسته دې ددې روژو قضاء راوړي.خوپه دوی به کفاره واجب نه وی.د افطار اجازت خود حرج لرې کولو دپاره ورکړې شوې دي اوكفاره ځكه واجب نه ده چې ددې دواړو افطار كول د عذر په وجه دی.اود عذر په وجه افطار کول جنايت نه دي نو هرکله چې افطار جنايت نشو نو ددې په وجه به كفاره هم واجب نه وی.ليكن زمونږ په نزدبه په دې دواړو باندې فديه هم واجب نه وی.

(۲) امام شافعی (رحمه الله) فرمائی،که حامله یا مرضعه د خپل بچی ضائع کیدلو په وجه روژه افطار کړی نو په دوی به د قضاء سره فديه هم واجب وی.

(۱) امام شافعي (رحمه الله) دا په شيخ فانی باندې قياس کوی،يعنی لکه څنګه چې په شيخ فانی باندې فديه واجب وی،دغه شان په دوی به هم فديه واجب وی،

(۲) صاحب د عنايه د امام شافعي (رحمه الله) د طرفه يو دليل دا بيان كړې دې چې د حامله او مرضعه د روژو په افطاركولو كي پخپله ددوی هم فائده ده.اوددوی د بچو هم فائده ده نو ددوی ذاتی فائدې په لحاظ خو په دوی قضاء واجب كړې شوې ده.او ددوی د بچو د فائدې په لحاظ سره فديه واجب كړې شوې ده،

زمونږ دليل دادې چې د شيخ فانی په حق کې فديه د نص نه خلاف قياس ثابت ده.په دې وجه به په دې باندې د بل څه صورت قياس كول درست نه دی،اود بچی په وجه د حامله یا مرضعه افطار کول د شيخ فانی په معنیٰ کې هم نه دی ځکه چې شيخ فانی د روژو د وجوب نه پس عاجز شوې دې اوپه بچی د سره وجوب نشته نو هرکله چې د بچی په وجه افطار كول د شيخ فانی په معنیٰ کې نه دی نود شيخ فانی حكم به د حاملې او مرضعې په حق کې دلالةً هم ثابت نه وی.(العنايه شرح هدايه)

****

۲۲_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّوْمِ عَنِ الْمَيِّتِ

دمړي دطرفه دروژو نيولو بيان

۷۱۶_ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، وَمُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَعَطَاءٍ، وَمُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنَّ أُخْتِي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ، قَالَ: "أَرَأَيْتِ

لَوْ كَانَ عَلَى أُخْتِكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ تَقْضِينَهُ؟ " قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: " فَحَقُّ اللهِ أَحَقُّ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ بُرَيْدَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چي يوه ښځه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضره شوه او عرض يي اوكړو زما خور مړه شوي ده او په هغي باندي مسلسل دوه مياشتي روژي وي تاسو راته اووايئ چي زه څه اوكړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا راته اووايه كه چري ستا په خور دچا قرض وي نو ايا دا به تا اداء كولو؟ هغي اووئيل هو، ما به اداء كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دالله تعالي حق خو ددينه هم ډير زيات لوي دي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي د بريده، ابن عمر، عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : وارث دمړي دطرفه نيابتي روژي نيولي شي او كنه په دي باره كي دفقهاو دوه اقوال دي.

(۱) دامام احمد په نزد وارث دمړي دطرفه صرف دنذر روژي نيولي شي.

(۲) او دائمه ثلاثه په نزد وارث دمړي دطرفه نه دنذر روژي نيولي نشي اونه دنذر نه علاوه نوري روژي ځكه چي په عبادات بدنيه كي نيابت جائز نه دي (تحفة الالمعي).

****

۷۱۷_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَسَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: جَوَّدَ أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الْأَعْمَشِ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَقَدْ رَوَى غَيْرُ أَبِي خَالِدٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ مِثْلَ رِوَايَةِ أَبِي خَالِدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى أَبُو مُعَاوِيَةَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ

---

1 _ صحيح البخاري في الصوم ۴۲ (۱۹۵۳) . صحيح مسلم في الصيام ۲۷ (۱۱۴۸) . . و ابي داود في الأيمان ۲۶ (۳۳۱۰) . .

(تحفة الأشراف : ۵۶۱۲ و۵۶۱ و۵۹۶۱ و ۶۳۲۲)

يَذْكُرُوا فِيهِ سَلَمَةَ بْنَ كُهَيْلٍ، وَلَا عَنْ عَطَاءٍ، وَلَا عَنْ مُجَاهِدٍ، وَاسْمُ أَبِي خَالِدٍ سُلَيْمَانُ بْنُ حَبَّانَ. ([1])

ترجمه : په دي سند هم داعمش حديث هم معني روايت مروي دي.
امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، ما دمحمد بن اسماعيل بخاري نه اوريدلي دي چي دا حديث ابوخالد احمر داعمش نه په بهتر سند نقل كړي دي، دابو خالد الاخمر نه علاوه نورو محدثينو هم داعمش نه دابو خالد د حديث هم معني روايت نقل كړي دي، ابو معاويه او نورو محدثينو دا حديث په سند د الاعمش عن مسلم البطين عن سعيد بن جبير عن ابن عباس عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او په دي سند كي دوئ د سلمه بن كهيل ذكر نه دي كړي او نه يي په دي كي دعطاء او مجاهد واسطي ذكر كړي دي او دابوخالد نوم سليمان بن حيان دي.

****

٢٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْكَفَّارَةِ فِي الصَّوْمِ

دمړي نه د قضا شوو روژو دكفاري بيان

٧١٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْثَرُ بْنُ الْقَاسِمِ، عَنْ أَشْعَثَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرٍ فَلْيُطْعَمْ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالصَّحِيحُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ مَوْقُوفٌ قَوْلُهُ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا الْبَابِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: يُصَامُ عَنِ الْمَيِّتِ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، قَالَا: إِذَا كَانَ عَلَى الْمَيِّتِ نَذْرُ صِيَامٍ يَصُومُ عَنْهُ، وَإِذَا كَانَ عَلَيْهِ قَضَاءُ رَمَضَانَ أَطْعَمَ عَنْهُ، وقَالَ مَالِكٌ، وَسُفْيَانُ، وَالشَّافِعِيُّ: لَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ، قَالَ: وَأَشْعَثُ هُوَ ابْنُ سَوَّارٍ، وَمُحَمَّدٌ هُوَ عِنْدِي ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى. ([2])

---

1 ـ صحيح البخاري في الصوم ٤٢ (١٩٥٢). صحيح مسلم في الصيام ٢٧ (١١٤٨).. و ابی داود في الأيمان ٢٦ (٣٣١٠)..
(تحفة الأشراف: ٥٦١٢ و٥٩٦١ و٦٣٢٢)

2 ـ سنن ابن ماجه في الصيام ٥٠ (١٧٥٧) (تحفة الأشراف: ٨٤٢٣)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي په داسي حالت كي مړ شي چي په هغه باندي ديوي مياشتي روژي باقي وي نو دده دطرفه به دهري ورځي په بدل كي يو مسكين ته خوراك وركولي شي.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث مونږ ته صرف په دي يو سند مرفوع معلوم دي صحيح خبره داده چي دا دابن عمر قول دي اوپه هغوئ باندي موقوف دي، په دي باره كي داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دي چي دمړي دطرفه به روژي نيولي شي دا قول دامام احمد او اسحاق بن راهويه دي دوئ وائي كله چي په مړي دنذر روژي وي نو دهغه دطرفه به روژي نيولي كيږي او چي كله ورباندي درمضان قضاء واجب وي نو دهغه دطرفه به مسكينانو او فقيرانو ته خوراك وركولي شي، امام مالك، سفيان، او شافعي وائي چي هيڅوك دهيچا دطرفه روژي نشي نيولي.

****

٢٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّائِمِ يَذْرَعُهُ الْقَيْءُ

كله چي روژه دار پخپله قي اوكړي

٧١٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثٌ لَا يُفْطِرْنَ: الصَّائِمَ، الْحِجَامَةُ، وَالْقَيْءُ، وَالِاحْتِلَامُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، قَالَ: سَمِعْت أَبَا دَاوُدَ السِّجْزِيَّ، يَقُولُ: سَأَلْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، فَقَالَ: أَخُوهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ لَا بَأْسَ بِهِ، قَالَ: وَسَمِعْت مُحَمَّدًا يَذْكُرُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمَدِينِيِّ، قَالَ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ ثِقَةٌ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ ضَعِيفٌ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَلَا أَرْوِي عَنْهُ شَيْئًا.[1]

---

1 _ سنن ابن ماجه في الصيام ٥٠ (١٦٥٧) (تحفة الأشراف : ٤٢٢٣)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په دري څيزونو دروژه دار روژه نه ماتيږي يو په ښكر لګولو، او دويم په قي راتللو، او دريم په احتلام كيدو.

امام ترمذي وائي دابوسعيد خدري حديث محفوظ نه دي، عبدالله بن زيد بن اسلم او عبدالعزيز بن محمد او بعضي نورو راويانو دا حديث دزيد بن اسلم نه مرسل نقل كړي دي او په دي روايت كي دوئ دابوسعيد خدري واسطه نه ده ذكر كړي، عبدالرحمن بن زيد بن اسلم په باب دحديث كي ضعيف ګڼرلي كيږي، ما دابوداود سجزي نه اوريدلي دي وئيل يي چي ما داحمد بن حنبل نه عبدالرحمن بن زيد بن اسلم باره كي تپوس اوكړو نو هغه اووئيل دهغه په ورور عبدالله بن زيد بن اسلم كي څه قباحت نشته، او ما د محمد بن اسماعيل بخاري نه اوريدلي دي چي علي بن عبدالله المديني وئيلي دي چي عبدالله بن زيد بن اسلم ثقه ي او عبدالرحمن بن زيد بن اسلم ضعيف دي، امام بخاري وائي زه دده نه نقل دروايت نه كوم.

****

٢٥_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنِ اسْتَقَاءَ عَمْدًا

قصدا په روژه كي دقي كولو بيان

٧٢٠_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَمَنِ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَثَوْبَانَ، وَفَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ هِشَامٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِيسَى بْنِ يُونُسَ، وقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا أُرَاهُ مَحْفُوظًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا يَصِحُّ إِسْنَادُهُ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَثَوْبَانَ، وَفَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " قَاءَ فَأَفْطَرَ " وَإِنَّمَا مَعْنَى هَذَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ صَائِمًا مُتَطَوِّعًا، فَقَاءَ فَضَعُفَ فَأَفْطَرَ، لِذَلِكَ هَكَذَا رُوِيَ فِي بَعْضِ الْحَدِيثِ مُفَسَّرًا. وَالْعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ عَلَى

حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ الصَّائِمَ إِذَا ذَرَعَهُ الْقَيْءُ فَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ، وَإِذَا اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ" وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاله چي قي راشي په هغه دروژي قضاء لازم نه ده او څوك چي قصدا قي اوكړي ده لره دروژي قضاء راوړل پكار دي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن غريب دي موبږ ته دا صرف په سند دهشام عن ابن سيرين عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم باندي معلوم دي، او صرف دعيسي بن يونس په سند يي پيژنو، محمد بن اسماعيل بخاري وائي زه دا غير محفوظ نه ګنړم، دا حديث په نورو سندونو هم دابوهريره نه مروي دي او هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي ليكن سند يي صحيح نه دي، په دي باب كي دابو الدرداء ، ثوبان، او فضاله بن عبيد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، دابو الدرداء ، ثوبان ، او فضاله بن عبيد نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم قي اوكړو او روژه يي ماته كړه، ددي مطلب دادي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دغه وخت كي نفلي روژه نيولي وه، قي كولو سره يي كمزوري محسوس كړه نو ځكه يي ماته كړه، په بعضي رواياتو كي ددي تفسير داسي مروي دي، او داهل علمو عمل دابو هريره په حديث دي كوم چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي چي روژه دار ته كله قي راشي نو قضاء ورباندي لازم نه ده او چي كله قصدا قي اوكړي نو قضاء راوړل ورله پكاردي، سفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق هم ددي قول قائلين دي.

تشريح : كه چري قئ پخپله اوشو نو روژه به فاسد نه وى،قئ كه قليل وى،اوكه كثير وى.

كوم كس چى قصداً قئ اوكړو،په هغه قضاء واجب ده،د ترمذى الفاظ دى چي "من ذرعه القئ وهو صائم فليس عليه القضاء ومن استقاء عمداً فليقض"

يعنى روژه دار له كه پخپله قئ راغلو نوپه ده باندې قضاء واجب نه ده،او كوم كس چى په قصد سره قئ اوكړو،هغه به قضاء راوړى.

صاحب د هدايه وائى چى هم په دې حكم كي په ډكه خوله قئ ، اود ډكې خولې نه كم دواړه برابردى، يعنى كه قئ بغير د اراده نه پخپله اوشو نوكه دا په ډكه خوله وى،اوكه د ډكې

---

1 - سنن ابي داود في الصيام ٣٢ (٢٣٨٠) . سنن ابن ماجه في الصيام ١٦ (١٦٧٦) . (تحفة الأشراف : ١٣٥٤٣) . مسند احمد (٢ في ٤٩٨) . سنن الدارمي في الصوم ٢٥ (١٧٧٠)

خولې نه کم وی،په دواړو صورتونوکي به روژه فاسد نه وی ځکه چی حدیث مطلق دي په دې کي د قلیل اوکثیر هیڅ تفصیل نشته.

که په ډکه خوله قئ په خپله راوُوتلو،او بیا په پخپله دننه واپس لاړلو نوپه دي کي دفقهاو دوه اقوال دي:

(۱) د امام ابویوسف په نزدروژه فاسد شوه.

(۲) اود امام محمد (رحمه الله) په نزدبه فاسد نه وی.

دروژي په فساد اوعدم فساد کي دري صورتونه:

اول: که قئ د ډکه خوله په مقدار په خپله اووتلو،بیا ئې داپه خپله اراده دننه واپس کړلو نو په اتفاق سره به روژه فاسد شی ځکه چی په دې صورت کي د خروج نه پس داخلول اوموندلې شو او په دې صورت کي افطار متحقق شو،اوهرکله چی د افطار صورت متحقق شو نو روژه به هم فاسد وی.

(۲) اوکه په خپله وتلې شوې قئ د ډکه خولې نه کم وی،او هغه بیا په خپله واپس شو نود امام ابویوسف او امام محمد (رحمه الله) دواړو په نزدبه روژه فاسد نه وی ځکه چی دا خونه شرعاً د خارجولو په حکم کې دي اونه د روژه دار څه اختیاری فعل ددې په داخلولوکي دي

(۳) اوکه د ډکې خولې نه کم وتلې شوې قئ ئې په خپله اراده دننه واپس کړو نود امام ابویوسف رحمه الله په نزدبه روژه فاسد نه وی، ځکه چی خروج اونه موندي شو،اود امام محمد (رحمه الله) په نزدبه فاسد وی ځکه چی قئ دننه داخلولوکي د روژه دار اختیاری فعل اوموندلې شو. (فتح القدیر)

****

٢٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّائِمِ يَأْكُلُ أَوْ يَشْرَبُ نَاسِيًا

په هیره خوړلو څکلو سره دروژې څه حکم دي

٧٢١ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ نَاسِيًا فَلَا يُفْطِرْ، فَإِنَّمَا هُوَ رِزْقٌ رَزَقَهُ اللَّهُ ".[1]

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٤٤٩٨)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي په روژه کي په هيره خوراك وكړو نو روژه دي جاري وساتي(يعني روژه يي ماته نه ده) او دا خو يو رزق وو چي الله تعالي ده ته نصيب كړو.

****

٧٢٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عَوْفٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، وَخَلَّاسٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ أَوْ نَحْوَهُ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأُمِّ إِسْحَاقَ الْغَنَوِيَّةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ. وقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ: إِذَا أَكَلَ فِي رَمَضَانَ نَاسِيًا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ، وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ. [1]

ترجمه : په دي سند سره هم دابو هريره نه مروي دي او باقي حديث دسابقه روايت هم معني دي ، امام ترمذي وائي دابو هريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي د ابوسعيد خدري، او ام اسحاق غنويه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او داكثرو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي، سفيان ثوري ، شافعي، احمد ، او اسحاق بن راهويه هم ددي قائل دي، مالك بن انس وائي كله چي څوك په رمضان کي په هيره خوراك اوكړي نو په هغه باندي دروژو قضاء لازم ده مګر اولني قول زيات صحيح دي.

تشريح : كه چري روژه دار په هيره خوراك ،ياڅكاك ،يا جماع اوكړى نو په دي کي فقهاؤ دوه مذاهب دي :

(١) د احنافو په نزد دده روژه نه ماتيږي.

(٢) او د امام مالك (رحمه الله) په قول روژه يي ماته شوه.امام مالك ددي دپاره قياسي استدلال كوي:

اود احنافو دلائل دادي:

"عن أبي هريره(رضي الله عنه) عن النبى صلي الله عليه وسلم قال من نسى وهو صائم فأكل او شرب فليتم صومه فإنما أطعمه الله وسقاه"

---

[1] ـ صحيح البخاري في الأيمان والنذور ١٥ (٦٦٦٩) . سنن ابن ماجه في الصيام ١٥ (١٦٧٣) . و (تحفة الأشراف : ١٣٣٠٣ و١٣٤٧)) وأخرجه سنن ابي داود في الصيام ٣٩ (٢٣٩٨)

که چا په هیره خوراك وکړو، حالانکه دې روژه داردي بیا ده اوخوړل، یا اوڅکل نو خپله روژه دې پوره کړی څکه چی الله تعالی په ده خوراك کړې دي اوڅکاك کړې دې.

(۲) دارقطنی کي دی:

"أن رجلاً سأل رسول الله صلي الله عليه وسلم فقال إني كنت صائماً فأكلت وشربت ناسياً. فقال أتم صومك فإن الله أطعمك وسقاك"

یعنی یوکس د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو، او ویې وئیل چی زما روژه وه، ماپه هیره خوراك څکاك اوکړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائیل چی ته خپله روژه پوره کړه څکه چی الله تعالی په تا خوراك څکاك کړې دي.

(۳) "أن من أفطر في شهر رمضان ناسياً فلا قضاء عليه ولا كفارة" (الحديث)

****

۲۷_ بَاب مَا جَاءَ فِي الإِفْطَارِ مُتَعَمِّدًا

قصدا دروژي خوړلو بيان

۷۲۳_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُطَوِّسِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ، لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ وَإِنْ صَامَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وسَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: أَبُو الْمُطَوِّسِ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ الْمُطَوِّسِ، وَلَا أَعْرِفُ لَهُ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه بغير دكوم شرعي رخصت نه او بغير دكومي بيماري نه درمضان روژه اونه نيوله نو كه دا كس پوره كال روژي اونيسي دده دا روژه به پوره نكري اگر كه دي ټول كال روژي هم اونيسي، امام ترمذي وائي دابوهريره حديث موږ صرف په همدي سند پيژنو، امام بخاري به فرمائيل د ابو المطوس نوم يزيد بن مطوس دي او ددي روايت نه علاوه دده كوم بل سند ماته معلوم نه دي.

****

[1] _ سنن ابي داود في الصيام ۳۸ (۲۳۹۶، ۲۳۹۷) . سنن ابن ماجه في الصيام ۱۵ (۱۶۷۲) . مسند احمد (۲ في ۳۵۸، ۴۷۰).

سنن الدارمي في الصوم ۱۸ (۱۷۵۶)

٢٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَفَّارَةِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَانَ

د رمضان دروژي خوړلو په صورت کي د کفاري بيان

٧٢٤_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، وَأَبُو عَمَّارٍ، وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ وَاللَّفْظُ لَفْظُ أَبِي عَمَّارٍ، قَالَا: أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ هَلَكْتُ، قَالَ: "وَمَا أَهْلَكَكَ؟" قَالَ: وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي فِي رَمَضَانَ، قَالَ: "هَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تُعْتِقَ رَقَبَةً؟" قَالَ: لَا، قَالَ: "فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ؟" قَالَ: لَا، قَالَ: "فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا؟" قَالَ: لَا، قَالَ: "اجْلِسْ" فَجَلَسَ، فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ الضَّخْمُ، قَالَ: "تَصَدَّقْ بِهِ" فَقَالَ: مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا أَحَدٌ أَفْقَرَ مِنَّا، قَالَ: فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ، قَالَ: "فَخُذْهُ فَأَطْعِمْهُ أَهْلَكَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي مَنْ أَفْطَرَ فِي رَمَضَانَ مُتَعَمِّدًا مِنْ جِمَاعٍ، وَأَمَّا مَنْ أَفْطَرَ مُتَعَمِّدًا مِنْ أَكْلٍ أَوْ شُرْبٍ، فَإِنَّ أَهْلَ الْعِلْمِ قَدِ اخْتَلَفُوا فِي ذَلِكَ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ، وَشَبَّهُوا الْأَكْلَ وَالشُّرْبَ بِالْجِمَاعِ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُهُمْ: عَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ، لِأَنَّهُ إِنَّمَا ذُكِرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَفَّارَةُ فِي الْجِمَاعِ وَلَمْ تُذْكَرْ عَنْهُ فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ، وَقَالُوا: لَا يُشْبِهُ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ الْجِمَاعَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلرَّجُلِ الَّذِي أَفْطَرَ فَتَصَدَّقَ عَلَيْهِ خُذْهُ فَأَطْعِمْهُ أَهْلَكَ، يَحْتَمِلُ هَذَا مَعَانِيَ: يَحْتَمِلُ أَنْ تَكُونَ الْكَفَّارَةُ عَلَى مَنْ قَدَرَ عَلَيْهَا، وَهَذَا رَجُلٌ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْكَفَّارَةِ، فَلَمَّا أَعْطَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا وَمَلَكَهُ، فَقَالَ الرَّجُلُ: مَا أَحَدٌ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مِنَّا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُذْهُ

فَأَطْعِمْهُ أَهْلَكَ " لِأَنَّ الْكَفَّارَةَ إِنَّمَا تَكُونُ بَعْدَ الْفَضْلِ عَنْ قُوتِهِ، وَاخْتَارَ الشَّافِعِيُّ لِمَنْ كَانَ عَلَى مِثْلِ هَذَا الْحَالِ أَنْ يَأْكُلَهُ، وَتَكُونَ الْكَفَّارَةُ عَلَيْهِ دَيْنًا فَمَتَى مَا مَلَكَ يَوْمًا مَا كَفَّرَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يو كس راغلو او عرض يې اوكړو اي دالله رسوله زه هلاك شوم، رسول الله ورته تپوس اوكړو څه څيز هلاك كړي؟ ويې فرمائيل په رمضان كي مي صحبت اوكړو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ايا ته يو غلام يا وينځه ازادولي شي؟ هغه اووئيل نه رسول الله تپوس اوكړو ايا مسلسل دوه مياشتي روژي نيولي شي؟ هغه اووئيل نه، بيا يي ورته تپوس اوكړو ايا شپيته مسكينانو ته خوراك وركولي شي؟ هغه اووئيل نه، ورته يي اوفرمائيل كينه نو دي كيناستو په دي دوران كي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته دكجورو يوه لويه ټكرئ راوړلي شوه او دي كس ته يي اوفرمائيل دا واخله او صدقه يي كړه هغه عرض اوكړو په دي علاقه كي زما نه بل زيات محتاج نشته ، رسول الله صلي الله عليه وسلم دي وخت كي په خندا شو تردي چي مخامخ غاښونه يي ښكاره شول او ويي فرمائيل دا واخله او پخپل بال بچ يي اوخوروه.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر، عائشه، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، داهل علمو په دي باره كي په همدي حديث باندي عمل دي، او څوك چي قصدا په خوړلو څكلو روژه ماته كړي دداسي كس باره كي داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دي په ده باندي دروژو قضاء او كفاره دواړه لازم دي او دوئ خوراك څښاك دجماع سره مشابه ګرځولي دي، دسفيان ثوري ، ابن مبارك او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي بعضي اهل علم وائي په ده باندي صرف دروژي قضاء لازم ده او كفاره ورباندي نشته او دا ځكه درسول الله نه چي كومه كفاره مروي ده هغه دجماع متعلق ده او دخوړلو څكلو باره كي دهغوئ نه كفاره مروي نه ده دوئ وائي چي خوړل څكل دجماع سره مشابه نه دي دا قول دامام شافعي او امام احمد دي، امام شافعي ته دا قول هم منسوب دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم قول "حديث الباب" ديو څو خبرو احتمال لري يو احتمال دا هم دي چي كفاره به په هغه چا باندي وي څوك چي په دي باندي قادر وي او دا داسي كس وو چي په كفاره باندي قادر نه وو هر كله چي ورته رسول الله څه وركړل او دي دهغي مالك جوړ

1 صحيح البخاري في الصوم ٣٠ (١٩٣٦) . صحيح مسلم في الصيام ١٤ (١١١١) . و ابي داود في الصيام ٣٧ (٢٣٩٠) . و ابن ماجه في الصيام ١٤ (١٦٧١) . (تحفة الأشراف : ١٢٢٧٥) . موطا امام مالك في الصيام ٩ (٢٨) . مسند احمد (٢ في ٢٤١) . سنن الدارمي في الصوم ١٩ (١٧٥٧)

شو نو دي وخت کي دي کس عرض اوکړو دي څيز ته زمونږ نه زيات حاجت مند بل څوك نشته نو رسول الله اوفرمائيل دا واخله او پخپل بال بچ يي اوخوروه ځکه چي دروزانه خوراك نه چي کوم څيز زياتي شي هله به کفاره لازميږي نو دچاچه داسي حال وي هغه دپاره امام شافعي همدا خبره خوښه کړي ده چي همدي دي دا اوخوري او کفاره به ورباندي فرض پرته وي هرکله چي دي مالداره شي نو کفاره به اداء کوي.

****

۲۹_ بَابُ مَا جَاءَ فِي السِّوَاكِ لِلصَّائِمِ

روژه دار دپاره دمسواك وهلو بيان

۷۲۵_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَا أُحْصِي يَتَسَوَّكُ وَهُوَ صَائِمٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ بِالسِّوَاكِ لِلصَّائِمِ بَأْسًا، إِلَّا أَنَّ بَعْضَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا السِّوَاكَ لِلصَّائِمِ بِالْعُودِ وَالرُّطَبِ، وَكَرِهُوا لَهُ السِّوَاكَ آخِرَ النَّهَارِ، وَلَمْ يَرَ الشَّافِعِيُّ بِالسِّوَاكِ بَأْسًا أَوَّلَ النَّهَارِ وَلَا آخِرَهُ، وَكَرِهَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ السِّوَاكَ آخِرَ النَّهَارِ. [1]

ترجمه: دعامر بن ربيعه رضي الله عنه بيان دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دروژي په حالت کي دومره ډير مسواك استعمالولو او ما به په دي باندي ليدلو چي زه يي شميرلي نشم.

امام ترمذي وائي دعامر بن ربيعه حديث حسن دي، او په دي باب کي دعائشه رضي الله عنها نه هم روايت مروي دي، او په همدي حديث داهل علمو عمل دي اهل علم وائي دروژه دار دمسواك په استعمال کي څه قباحت نشته البته بعضي علماؤ دروژه دار دپاره دتازه لرګي مسواك استعمال مکروه ګنړلي دي او دورځي په اخري حصه کي يي هم مسواك مکروه ګنړلي دي ليکن امام شافعي دورځي په شروع او اخري حصه کي بلکه په هره حصه کي په مسواك وهلو کي حرج نه ګنړي، امام احمد او اسحاق بن راهويه دورځي په اخري حصه کي مسواك وهل مکروه ګنړلي دي.

تشريح: **د روژه دار دپاره د مسواك حکم**

---

[1] _ سنن ابي داود في الصيام ۲۶ (۲۳۶۴). (تحفة الأشراف: ۵۰۳۴)

2/34

په دي باره کي دفقهاو دوه مذاهب دي:
(۱) د احنافو په نزدد روژه دار دپاره لوند او په اوبوکي خوشت شوې مسواك كول د صبا په وخت كي هم اود ماښام په وخت كي هم بغير د كراهته روا دي.
اود امام شافعی (رحمه الله) په نزد ماښام په وخت روژه دار دپاره مسواك كول مكروه دی.
(۲) د امام شافعی (رحمه الله) دليل حديث د طبراني او دارقطني دي:
"أنه(۱) قال إذا صمتم فاستاكوا بالغداة ولا تستاكوا بالعشي فإن الصائم إذا يبست شفتاه كانت له نوراً يوم القيامة"
يعنى كله چى تاسو روژه اونيسئ نود صباپه وخت مسواك كوئ،اود ماښام په وخت مسواك مه كوئ ځكه چى كله د روژه دار شونډې اوچې شى نود قيامت په ورځ به دده دپاره يو نور وى،
دويم دليل دادې چى د روژه دار د خولې بدبوئى كومې ته چى په حديث كي د الله تعالى په نزد مشكو دخوشبوئى نه بهتر وئيلى شوى دى،په مسواك كولو سره ددې ختميدل لازميږى ، ددې د باقى ساتلو دپاره د ماښام په وخت د مسواك كولو نه منع شوې ده،اودا بوئى د شهيد د وينې سره مشابه دي لكه څنګه چې، د شهيد وينه نشى لرې كولې،بلكه بغير د غسل نه د فن كولې شى،دغه شان به د روژه دار د خولې بدبوئى هم نشى ختمولې.
زمونږ دليل د ابن ماجه حديث دى:
"خير خلال الصائم السواك"يعنى د روژه دار ښه خصلت مسواك كول دى،په دې حديث كي نه د صبا او ماښام تفصيل شته،اونه د لوند او اوچ څه تفصيل شته،په دې وجه د روژې په حالت كي هرقسمه مسواك كول، او هر وخت كول روا دى.
دويم دليل : نبى كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلى دى:
"لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك عند كل صلاة"يعنى كه ما په خپل امت باندې مشكل او ګران نه محسوسولو نودوى ته به مې د هر مانځه په وخت كي د مسواك كولوحكم فرمائيلې وو.
داحديث اګرچى د مسواك په عدم وجوب باندې دلالت كوى، خود هرمانځه په وخت كي د مسواك مسنونيت هم ثابتيږى،او په هرمونځ كي عموم دي ماسپښين، ماذيګر، ماښام ټولوته شامل دي او په وخت كي هم عموم دي يعنى د روژې وختونو اود روژو نه بغير وختونو ټولو ته شامل دي په دې وجه ددې حديث نه د رمضان په موده كي د ماذيګر او ماښام په وخت كي هم مسواك كولو حكم ثابتيږى نو ثابته شوه چى د روژه دار دپاره د ماښام په وخت كي هم مسواك كولوكي هيڅ باك نشته.
دريم دليل د مسند احمد حديث دې رسول اكرم صلي الله عليه وسلم فرمائيلى دى:

،"صلاة بسواك افضل عندالله تعالى من سبعين صلاة بغير سواك" يعني مسواك كولوسره مونځ كول د الله تعالى په نزدبغير دمسواك د اويامونځونو نه افضل دي داحديث د روژه دار د ماذيګر په مونځ باندې هم صادق راځي،په شرط ددې چې ده په مسواك سره ادا كړې وي،ددې نه معلوميږي چې د روژه دار دپاره د ماښام په وخت مسواك كول بغير دكراهته روا دي.

څلورم :د ترمذى او ابوداوُد روايت دي:

"عن عبدالله بن عامر بن ربيعه عن أبيه قال رأيت رسول الله صلي الله عليه وسلم يستاك وهو صائم ما لا أعده ولا أحصي"يعنې عبدالله د خپل پلار عامربن ربيعه نه روايت كوى چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم د روژې په حالت كې بې شميره ځل په مسواك كولو باندې ليدلې دې.

پنځم: "عن عبدالرحمن بن غنم قال سألت معاذ بن جبل أتسوك وأناصائم قال نعم قلت أى ألنهار أتسوك قال أى ألنهار شئت غدوة وعشية قلت أن الناس يكرهونه عشية ويقولون أن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال لخلوف فم الصائم أطيب عندالله من ريح المسك فقال سبحان الله لقد أمرهم بالسواك وهو يعلم أنه لابد بفي الصائم لخلوف وإن إستاك وماكان بالذى يأمرهم أن ينتهوا أفواههم عمداً ماف ذالك من الخير شئ بل فيه شر إلا من إبتلى ببلاء لايجد منه بداً"

عبدالرحمٰن بن غنم فرمائى چې ماد معاذبن جبل(رضي الله عنه) نه تپوس اوكړو چې آيا زه د روژې په حالت كې مسواك كوم؟ معاذ(رضي الله عنه) اوفرمائيل،هو،ما اووئيل چې د ورځ په كوم وخت كې مسواك كوم؟ وې فرمائيل چې كوم وخت ستازړه غواړى،صبا او ماښام،ما اووئيل چې خلق خود زوال نه پس په روژه كې مسواك وهل مكروه ګڼړى،او وائى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلى دى چې د روژه دار د خولې بدبوئى د الله تعالى په نزد مشكو د خوشبوئى نه زياته محبوبه ده،وې فرمائيل، سبحان الله! نبى كريم صلي الله عليه وسلم خلقوته د مسواك كولو حكم فرمائيلې دي حالاتكه هغه ته معلومه وه چې د روژه دار په خوله كې خلوف(بدبوئى)ضرورى ده،اګرچې مسواك اوكړى، اونبى كريم صلي الله عليه وسلم داسې نه وو چې خلقو ته به ئې حكم فرمائيلو چې په قصد سره خپلې خولې بدبويه كړى،په دې كې خوهيڅ بهترى نشته،بلكه بدوالې دي علاوه ددې نه چې څوك په مصيبت كې مبتلاشى،اوخلاصې ترې نه بيامومى،ددې تفصيلى واقعې نه هم معلوميږى چې دروژې په حالت كې صبا او ماښام مسواك كول بغير د كراهته روا دى.

****

٣٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكُحْلِ لِلصَّائِمِ

دروژه دار دپاره درانجو داستعمال بيان

٧٢٦_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ وَاصِلٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَطِيَّةَ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاتِكَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: اشْتَكَتْ عَيْنِي، "أَفَأَكْتَحِلُ وَأَنَا صَائِمٌ؟ قَالَ: نَعَمْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي رَافِعٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَلَا يَصِحُّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْبَابِ شَيْءٌ، وَأَبُو عَاتِكَةَ يُضَعَّفُ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْكُحْلِ لِلصَّائِمِ فَكَرِهَهُ بَعْضُهُمْ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَرَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الْكُحْلِ لِلصَّائِمِ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او تپوس يي اوكړو زما سترګي خوږ شوي دي ايا زه رانجه استعمالولي شم او زما روژه ده رسول الله اوفرمائيل هو، جائز دي.

امام ترمذي وائي دانس دحديث سند قوي نه دي، او په دي باب كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په مروي څيزونو كي هيڅ يو صحيح څيز نشته، ابو عاتكه راوي ضعيف دي، په دي باب كي دابو رافع نه هم روايت مروي دي، دصائم په رانجو لګولو كي داهل علمو اختلاف دي بعضو مكروه ګڼړلي دي دسفيان ثوري او ابن مبارك او احمد او اسحاق هم دا قول دي او بعضو ورته اجازت وركړي دي او امام شافعي هم په دي باندي قول كړي دي.

****

٣١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقُبْلَةِ لِلصَّائِمِ

د روژه دار د ښكلولو شرعي حكم

٧٢٧_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَقُتَيْبَةُ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُقَبِّلُ فِي شَهْرِ الصَّوْمِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، وَحَفْصَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٢٢)

فِي الْقُبْلَةِ لِلصَّائِمِ. فَرَخَّصَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقُبْلَةِ لِلشَّيْخِ. وَلَمْ يُرَخِّصُوا لِلشَّابِّ مَخَافَةَ أَنْ لَا يَسْلَمَ لَهُ صَوْمُهُ وَالْمُبَاشَرَةُ عِنْدَهُمْ أَشَدُّ. وَقَدْ قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: الْقُبْلَةُ تُنْقِصُ الْأَجْرَ، وَلَا تُفْطِرُ الصَّائِمَ. وَرَأَوْا أَنَّ لِلصَّائِمِ إِذَا مَلَكَ نَفْسَهُ أَنْ يُقَبِّلَ. وَإِذَا لَمْ يَأْمَنْ عَلَى نَفْسِهِ تَرَكَ الْقُبْلَةَ لِيَسْلَمَ لَهُ صَوْمُهُ. وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ. وَالشَّافِعِيِّ. ([1])

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په رمضان کي ښکلول کول.

امام ترمذي وايي په دي باب کي د عمر فاروق، حفصه، ابي سعيد، ام سلمه، ابن عباس، انس او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي، امام ترمذي وايي د عائشه حديث حسن صحيح دي، د صحابه کرامو اوددوئ نه پس په اهل علمو د روژه دار په ښکولو کي اختلاف دی، بعضي صحابه کرامو نه د بوډا دپاره ددي اجازت مروي دي، او د ځوانانو دپاره اجازت نشته، ددي ويري په وجه چي د روژي حفاظت به ونکړی شي، او مباشرت ددوی په نزد سخت خطرناک دی، او بعضي علماء وايي چي مباشرت د روژي اجر کموي، او روژه نه ماتوي ، دوئ وايي چي که روژه دار پخپل ځان باندي اختيار لري د روژي د حفاظت نو ښکول کولی شي، اوکه ځان په قابو کي نشي ساتلی نو ښکلول ورله جائز نه دي، اوداد سفيان ثوري او شافعي قول هم دی.

****

٣٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي مُبَاشَرَةِ الصَّائِمِ

د روژه دار دپاره دمباشرت کولو څه حکم دی؟

٧٢٨_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي مَيْسَرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَاشِرُنِي وَهُوَ صَائِمٌ، وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ". ([2])

---

1 _ صحيح مسلم في الصيام ١٢ (١١١٠) . سنن ابي داود في الصيام ٣٢ (٢٣٨٣) . سنن ابن ماجه في الصيام ١٩ (١٦٨٣) . (تحفة الأشراف : ١٦٤٢٣)

2 _ تفرد به المؤلف وانظر ما بعده (تحفة الأشراف : ١٦٤١٨)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به ما سره مباشرت كولو او زما به روژه وه، اوهغه پخپل جنسي خواهش باندي ستاسو نه زيات كنټرول راوستونكى وو.

****

۷۲۹ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ، وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو مَيْسَرَةَ اسْمُهُ عَمْرُو بْنُ شُرَحْبِيلَ، وَمَعْنَى لِإِرْبِهِ لِنَفْسِهِ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به ښكلول او مباشرت كولو او دهغه به روژه وه ، اوهغه پخپل جنسي خواهش باندي ستاسو نه زيات كنټرول راوستونكى وو.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی، او "لاربه" د لنفسه په معني دی.

****

۳۳ـ بَاب مَا جَاءَ لَا صِيَامَ لِمَنْ لَمْ يَعْزِمْ مِنَ اللَّيْلِ

څوك چي دشپي نه دروژي نيت اونكړي نو دهغه روژه درسته نه ده

۷۳۰ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَفْصَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَا صِيَامَ لَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ حَفْصَةَ حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَوْلُهُ وَهُوَ أَصَحُّ، وَهَكَذَا أَيْضًا رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ الزُّهْرِيِّ مَوْقُوفًا، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَفَعَهُ إِلَّا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، وَإِنَّمَا مَعْنَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا صِيَامَ لِمَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ فِي رَمَضَانَ أَوْ فِي قَضَاءِ

---

1 صحيح مسلم في الصيام ١٢ (١١٠٦) . سنن ابي داود في الصيام ٣٣ (٢٣٨٢) . (تحفة الأشراف : ١٥٩٥ و١٦٣٠٧) وأخرجه صحيح البخاري في الصوم ٢٣ (١٩٢٧) . و مسلم في الصيام . وسنن ابن ماجه في الصيام ١٩ (١٦٨٣) . و الدارمي في الصوم ٢١ (١٧٦٣)

رَمَضَانَ أَوْ فِي صِيَامِ نَذْرٍ، إِذَا لَمْ يَنْوِهِ مِنَ اللَّيْلِ لَمْ يُجْزِهِ، وَأَمَّا صِيَامُ التَّطَوُّعِ فَمُبَاحٌ لَهُ أَنْ يَنْوِيَهُ بَعْدَ مَا أَصْبَحَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين حفصه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي چاچه دروژي نيت دسحر نه مخكي نه وي كړي نو هغه روژه اونه شوه.

امام ترمذي وائي دحفصه رضي الله عنها حديث مونږ صرف په همدي سند مرفوع پيژنو دارنګي دا روايت نافع هم نقل كړي دي او هغه دابن عمر نه نقل كړي دي او دا يي دابن عمر قول ګرځولي دي، او ددي موقوف كيدل زيات صحيح دي . او دا رنګي دا حديث دزهري نه هم موقوفا مروي دي او مونږ ته نه ده معلومه چي چا دا مرفوع ذكر كړي وي مګر علاوه ديحي بن ايوب نه، ددي معني داهل علمو په نزد صرف داده چي دده روژه نه كيږي، څوك چي په رمضان كي يا درمضان په قضاء كي يا دنذر په روژو كي نيت دطلوع فجرنه مخكي ونكړي او دشپي نه يي هم نيت نه وي كړي نو دده روژه معتبره نه ده البته په نفلي روژه كي دده دپاره دسبا كيدو نه پس هم دروژي نيت كول مباح دي همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق قول هم دي.

تشريح : په دي مسئله كي اختلاف دي چي دشپي نه نيت كول ضروري دي او كنه په دي كي دفقهاو دوه مذاهب دي:

(۱) دامام ابو حنيفه په نزد دقضاء او نذر غير معين دپاره دشپي نه نيت كول واجب دي ځكه چي ددي وخت متعين نه دي پاتي شو فرض او نفل روژي دپاره دشپي نه نيت كول واجب نه دي بلكه دورځي دنيمي نه مخكي مخكي هم نيت كولي شي.

(۲) دامام مالك په نزد دهري روژي دپاره دشپي نه نيت كول ضروري دي فرض وي او كه نفل وي اودامام شافعي او امام احمد په نزد هم دفرض او واجب روژو نيت دشپي نه كول ضروري دي البته دنفلي نيت دنصف النهار نه مخكي كولي شي.

****

۳۴_ باب مَا جَاءَ فِي إِفْطَارِ الصَّائِمِ الْمُتَطَوِّعِ

---

1 _ ابي داود في الصيام ۷۱ (۲۴۵۴) . و النسائي في الصيام ۶۸ (۲۳۳۳) . و ابن ماجه في الصيام ۲۶ (۱۷۰۰) . (تحفة الأشراف: ۱۵۸۰۲) . مسند احمد (۶ في ۲۸۷) . و الدارمي في الصوم ۱۰ (۱۷۴۰)

د نفلي روژو د ماتولو بيان

٧٣١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنِ ابْنِ أُمِّ هَانِئٍ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، قَالَتْ: كُنْتُ قَاعِدَةً عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُتِيَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَ مِنْهُ، ثُمَّ نَاوَلَنِي فَشَرِبْتُ مِنْهُ، فَقُلْتُ: إِنِّي أَذْنَبْتُ فَاسْتَغْفِرْ لِي، فَقَالَ: "وَمَا ذَاكِ؟" قَالَتْ: كُنْتُ صَائِمَةً فَأَفْطَرْتُ، فَقَالَ: "أَمِنْ قَضَاءٍ كُنْتِ تَقْضِينَهُ"، قَالَتْ: لَا، قَالَ: "فَلَا يَضُرُّكِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَعَائِشَةَ. (١)

ترجمه : دام هاني رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خوا كي ناسته وم او په دي دوران كي هغوئ ته دڅکلو کوم څيز راوړلي شو او هغوئ ددينه اوڅکل او باقي يي ماته راكړل ما هم اوڅکل بيا ما عرض اوكړو چي ما خو دګناه كار اوكړو تاسو زما دپاره دمغفرت دعا اوغواړئ رسول الله تپوس اوكړو څه خبره ده ما اوونيل زما روژه وه او ماخو روژه ماته كړه رسول الله تپوس اوكړو ايا كومه قضاء روژه دي نيولي وه كومه چي تا مخكي قضاء كړي وه ما عرض اوكړو نه راته يي اوفرمائيل هيڅ خبره نشته او تا هيڅ دنقصان كار نه دي كړي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابوسعيد خدري او عائشه رضي الله عنها نه هم احاديث مروي دي.

****

٧٣٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: كُنْتُ أَسْمَعُ سِمَاكَ بْنَ حَرْبٍ، يَقُولُ: أَحَدُ ابْنَيْ أُمِّ هَانِئٍ، حَدَّثَنِي فَلَقِيتُ أَنَا أَفْضَلَهُمَا، وكانت أم هانئ جدته. فَحَدَّثَنِي، عَنْ جَدَّتِهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَدَعَا بِشَرَابٍ فَشَرِبَ، ثُمَّ نَاوَلَهَا فَشَرِبَتْ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَمَا إِنِّي كُنْتُ صَائِمَةً، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الصَّائِمُ الْمُتَطَوِّعُ أَمِينُ نَفْسِهِ، إِنْ شَاءَ صَامَ وَإِنْ شَاءَ أَفْطَرَ". قَالَ شُعْبَةُ: فَقُلْتُ لَهُ: أَأَنْتَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ أُمِّ هَانِئٍ، قَالَ: لَا، أَخْبَرَنِي أَبُو صَالِحٍ وَأَهْلُنَا، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ. وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، فَقَالَ: عَنْ هَارُونَ بْنِ بِنْتِ أُمِّ هَانِئٍ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، وَرِوَايَةُ شُعْبَةَ أَحْسَنُ، هَكَذَا حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، عَنْ أَبِي دَاوُدَ، فَقَالَ: أَمِينُ نَفْسِهِ، وحَدَّثَنَا غَيْرُ مَحْمُودٍ، عَنْ أَبِي دَاوُدَ، فَقَالَ: أَمِيرُ نَفْسِهِ أَوْ أَمِينُ نَفْسِهِ عَلَى الشَّكِّ، وَهَكَذَا رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ شُعْبَةَ أَمِينُ أَوْ أَمِيرُ نَفْسِهِ عَلَى الشَّكِّ. قَالَ:

---

١ ـ تفرد به المؤلف (وأخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٨٠١٥)

وَحَدِيثُ أُمِّ هَانِئٍ فِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الصَّائِمَ الْمُتَطَوِّعَ إِذَا أَفْطَرَ فَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ إِلَّا أَنْ يُحِبَّ أَنْ يَقْضِيَهُ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَالشَّافِعِيِّ. (1)

ترجمه : شعبه وائي دسماك بن حرب نه مي اوريدلي دي چي دام هاني په دوه ځامنو كي يو ماته حديث بيان كړو نو زه په دوئ دواړو كي چي كوم يو ډير افضل وو دهغه سره ملاؤ شوم او ام هاني دده نيا وه هغه ماته دا بيان كړل چي دده نيا به فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته تشريف راوړو او د څكلو كوم څيز يي راوغوښتلو اوهغه يي اوڅكلو او بيا يي هغه ماته راكړو او ماهم اوڅكلو بيا ام هاني تپوس اوكړو اي دالله رسوله زما خو روژه وه رسول الله اوفرمائيل نفلي روژي نيونكي دخپل نفس امين وي كه خوښه يي وي روژه دي اونيسي اوكه خوښه يي وي نه دي نيسي شعبه وائي ما دسماك نه تپوس اوكړو ايا تا دا دام هاني نه اوريدلي دي؟ هغه اووئيل نه ماته ابوصالح او زمونږ په كور والا كي چا خبر راكړي دي او هغوئ دام هاني نه اوريدلي دي، حماد بن سلمه هم دا حديث دسماك بن حرب نه نقل كړي دي او په دي كي دام هاني دلور ځوي هارون نه روايت دي او هغه دام هاني نه روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وائي دشعبه روايت دټولو نه بهتر دي دا رنګي روايت مونږ ته محمود بن غيلان هم بيان كړي دي او محمود دابوداود نه روايت كړي دي دهغه په روايت كي "امين نفسه" لفظ دي البته دابوداود نه دمحمود نه علاوه نورو خلقو چي روايت نقل كړي دي هغوئ په دي كي د "امين نفسه" په ځاي باندي "امير نفسه او امين نفسه" په شك سره ذكر كړي دي او دا رنګي دشعبه نه په متعدد سندونو سره هم امين او امير لفظ په شك سره وارد دي، دام هاني دحديث په سند باندي محدثينو كلام كړي دي، دصحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي چي نفلي روژي والا كه خپله روژه ماته كړي نو هيڅ قسم قضاءورباندي نه لازميږي مګر دا كه پخپله يي قضاء كول غواړي، همدا دسفيان ثوري، احمد، او اسحاق بن راهويه او شافعي قول هم دي.

تشريح : د نفلي روژي د قضا راوړلو او نه راوړلو باره كي د فقهاؤ دري اقوال دي.

(١) احناف وايي كه چري يوكس نفلى روژه شروع كړه، بيا ئې دا فاسد كړه نو په ده باندې ددې قضاء راوړل واجب دى.

---

1 ـ انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٨٠٠١)

(۲) او امام شافعي او امام احمد (رحمه الله) فرمائي چي په ده باندې مطلقاً قضاء واجب نه ده.
(۳) او امام مالك (رحمه الله) فرمائيلي دي،که فساد دځه عذر په وجه شوې دي نو قضاء به ورباندي لازم نه وي،او که بغير د عذره وي نوقضاء به ورباندي واجب وي.
زمونږ اود شوافعو په مينځ کي د اختلاف بنياد دا دي چي د روژه شروع کولو نه پس بغير د عذره افطار کول،زمونږ په نزد روا نه دي،اود شوافعو په نزد روا دي
نو هرکله چي زمونږ په نزدافطار مباح نه دي نودې به د افطار کولو په وجه د جنايت مرتکب ګرځولې شي،او په جنايت کونکي باندې قضاء واجب وي،په دې وجه نفلي روژه ماتولو په وجه به زمونږ په نزدقضاء واجب وي،اود شوافعو په نزدچونکه روا دي ځکه به افطار کول جنايت نه وي،اوچي جنايت نشو نو ددوی په نزدبه قضاء هم لازم نه وي.
امام شافعي (رحمه الله) نفل مونځ او نفلي روژه ماتولو باوجود په قضاء نه واجب کولو باندې ددې نه استدلال کوي چي نفلي روژه يا نفل مونځ چي هرکله شروع کړي،اوددې يوه حصه ئې ادا کړه نوددې حصې په اداکولوکي داکس متبرع اود يونيك كار كونكې شو نود کومې باقي حصې سره چي ده تراوسه پورې تبرع نه ده کړې هغه به په ده باندې لازم نه وي،ګني نود آيت، ما علي المحسنين من سبيل، خلاف به لازم شي،يعني محسنين(تبرع کونکي)باندې د ګرفت (نيولو) هيڅ لاره نشته،بهرحال د نفلو باقي حصه چي کله په ده باندې لازم نشوه نوددې په پريخودلو باندې به قضاء هم واجب نه وي ځکه چي قضاء هم دهغه واجبيږي چي دهغې ادا لازم وي،اود کوم چي ادا ضروري نه وي،دهغې قضاء راوړل به هم لازم نه وي ،ددې مثال داسې دي لکه چي يوکس د صدقې په اراده سره دوه درهمه په جيب کي واچولې،بيا ده يو درهم صدقه ورکړه نود بلې صدقه کول به لازم نه وي ځکه،که دې يوه هم صدقه نکړي نو په ده هيڅ لازم نه دي
(۲) د امام شافعي (رحمه الله) مستدل د ام هاني رضي الله عنها هغه حديث هم دي کوم چي ابوداوُد او ترمذي نقل کړې دي:
"أن النّبي صلي الله عليه وسلم قال ألصّائم ألمتطوّع أمير نفسه إن شاء صام وإن شاء أفطر"
يعني نفلي روژه دار د خپل نفس حاکم دي که غواړي روژه دې اونيسي،اوکه غواړي افطار دې اوکړي. ددې حديث نه معلومه شوه چي نفلي روژه بغير د عذره ماتول روا دي.
او هرکله چي ماتول روا دي نو د ده د طرفه هيڅ جنايت نشو،اوچي جنايت موجود نشو نو قضاء به هم واجب نه وي.
(۳) او په صحيح مسلم کي دي:

"عن عائشة رضي الله عنها قالت دخل علیّ النبي صلي الله عليه وسلم يومًا فقال هل عندكم شئ فقلنا لا. قال فإني إذا صائم. ثمّ أتانا يومًا اخر. فقلنا يارسول الله صلي الله عليه وسلم أهدي لنا حيس. قال أرنيه فلقد أصبحت صائمًا فأكل"

عائشه رضی الله عنها فرمائی چی یوه ورځ زما خواله رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف راوړلو، او ويي فرمائيل چی تاسو سره څه شته؟ مونږ اووئيل نه.دوی صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چی ښه نو زه اوس په روژې سره یم،بیا دویمه ورځ نبی کریم صلي الله عليه وسلم مونږ له تشريف راوړلو،مونږ اووئيل،ائ د الله تعالى رسوله صلي الله عليه وسلم ! مونږ له د حيس حلوا په هديه کي راغلي ده،نبی کریم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل،ښه ده ماله ئې راوړئ،اوماخو د روژې په حالت کي صبا کړې وو.بيا نبی کريم صلي الله عليه وسلم اوخوړله،ددې حديث نه هم معلوميږی چی د روژې پوره کول واجب نه دی،اود قضاء لزوم، د اتمام په وجوب باندې مرتب وی نوچی د صوم اتمام واجب نشو نوددې قضاء به هم لازم نه وی،

زمونږ دليل دادې چی نفلی روژه شروع کړې شی،هغه عبادت اوعمل وي او اعمال د باطليدلو نه بچ كول واجب دی لکه چی د الله تعالى ارشاد دې:

لا تبطلوا اعمالكم. او اعمال د باطليدلونه بچ کول داسې كيدې شی چی دا پوره کړې شی،بهرحال د شروع كولو نه پس عمل پوره کول واجب دی،او هرکله چی عمل پوره کول واجب دی نود فساد په صورت کي به ددې قضاء راوړل هم واجب وی.

(۲) زمونږ د مذهب تائيد ددې حديث نه هم کيږی،کوم چی په نسائی،ترمذی او موّطاامام مالك کي بيان شوې دې:

"عن عائشة رضي الله عنها أنها قالت أصبحت أنا وحفصة صائمتين متطوّعتين فأهدی إلينا طعام فأفطرنا عليه فدخل علينا رسول الله صلي الله عليه وسلم فبدرتنی حفصة رضي الله عنها وكانت إبنة أبيها فسألته عن ذالك فقال اقضيا يومًا مكانه"

عائشه رضی الله عنها فرمائی چی زه اوحفصه رضی الله عنها په نفلی روژه کي وو چی مونږ له خوراك راغئ نو مونږه روژه ماته کړه نو مونږ له رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف راوړلو، حفصه رضی الله عنها زمانه مخکي شوه،اود رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ئې ددې واقعی په باره کي تپوس اوکړو،نبی کریم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چی ددې په ځائې يوه ورځ قضاء راوړلئ؛دا حديث صفا دلالت کوی چی دنفلی روژې فاسد کولو په صورت کي ددې قضاء راوړل واجب دی،په دې حديث کي د "وكانت إبنة أبيها" لفظ

د عائشه رضی الله عنها دي په دې لفظ کې د حفصه رضی الله عنها جرات او زړه ورتيا ذکر شوي ده، عائشه رضی الله عنها د حفصه رضی الله عنها د وړاندې کيدلو په وجه اوفرمائيل چې آخر دا دخپل پلار لور ده،مراد دادې چې حفصه رضی الله عنها د عمر(رضي الله عنه) لور ده،او عمر(رضي الله عنه) ډير بهادر او زړه ور انسان وو نودده لور هم دغه شان زړه وره ده.

د امام شافعی (رحمه الله) د طرفه د پيش کړې د ام هانی رضی الله عنها د حديث جواب دادې چې په حديث کښې د افطار معنیٰ د روژې ماتولو نه ده،بلکه د روژه نه ساتلو ده،يعنی کوم کس چې د نفلی روژې اراده اوکړی،هغه د خپل ځان پخپله حاکم وی،که غواړی روژه اونيسی،اوکه غواړی نونه ئې نيسی.

د امام شافعی (رحمه الله) د طرفه د پيش کړې د عائشه رضی الله عنها د حديث جواب دادې چې په حديث کې صرف دومره ذکر دی چې دحيس حلوا په راتلو باندې نبی کريم صلي الله عليه وسلم روژه ماته کړه،اود ضيافت د عذر په وجه روژه ماتول روا دی،ددې نه زياتی د قضاء وجوب ياد قضاء عدم وجوب ددې روايت نه نه ثابتيږي(اشرف الهدايه، العنايه).

****

٣٥_ بَابُ صِيَامِ الْمُتَطَوِّعِ بِغَيْرِ تَبْيِيتٍ

دشپې نه د نيت کولو نه بغير د نفلي روژو نيولو بيان

٧٣٣_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى، عَنْ عَمَّتِهِ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا. فَقَالَ: " هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ". قَالَتْ: قُلْتُ: لَا، قَالَ: "فَإِنِّي صَائِمٌ".([1])

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي يوه ورځ نبي کريم صلي الله عليه وسلم ماته راغلو او تپوس يي وکړو ايا تا سره دخوراك دپاره څه شته؟ ما عرض اوکړو نه،نو ويي فرمائيل زه روژه دار يم.

****

[1] _ مسلم في الصيام ٣٢ (١١٥٤)، و ابي داود في الصيام ٧٢ (٢٤٥٥)، و النسائي في الصيام ٦٧ (٢٣٢٤)، و ابن ماجه في الصيام ٢٦ (١٧٠١)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٧٢)، مسند احمد (٦ في ٤٩، ٢٠٧).

٧٣٤_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِينِي، فَيَقُولُ: "أَعِنْدَكِ غَدَاءٌ" فَأَقُولُ: لَا. فَيَقُولُ: "إِنِّي صَائِمٌ". قَالَتْ: فَأَتَانِي يَوْمًا، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ قَدْ أُهْدِيَتْ لَنَا هَدِيَّةٌ. قَالَ: "وَمَا هِيَ؟" قَالَتْ: قُلْتُ: حَيْسٌ. قَالَ: "أَمَا إِنِّي قَدْ أَصْبَحْتُ صَائِمًا" قَالَتْ: ثُمَّ أَكَلَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته راتلو نو تپوس به يي كولو ايا تاسره خوراك شته ماچه به نه اوونيل نو هغوئ به اوفرمائيل "اني صائم" يوه ورځ يي زمونږ خواته تشريف راوړو نو ما عرض اوكړو اي دالله رسوله مونږ ته يوه هديه رالیږلي شوي ده تپوس يي اوكړو څه دي ما عرض اوكړو "حيس" (حلوا) نو ويي فرمائيل زما دسحر نه روژه ده او بيا يي هغه اوخوړله ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي.

****

٣٦_ بَاب مَا جَاءَ فِي إِيجَابِ الْقَضَاءِ عَلَيْهِ

د نفلي روژي ماتولو په وجه په ماتونكي باندي قضاء لازم ده

٧٣٥_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ بُرْقَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كُنْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ صَائِمَتَيْنِ، فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ، فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَدَرَتْنِي إِلَيْهِ حَفْصَةُ، وَكَانَتِ ابْنَةَ أَبِيهَا، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا كُنَّا صَائِمَتَيْنِ، فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ، قَالَ: "اقْضِيَا يَوْمًا آخَرَ مَكَانَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى صَالِحُ بْنُ أَبِي الأَخْضَرِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حَفْصَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ مِثْلَ هَذَا، وَرَوَاهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَمَعْمَرٌ، وَعُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، وَزِيَادُ بْنُ سَعْدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْحُفَّاظِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ عُرْوَةَ، وَهَذَا أَصَحُّ لِأَنَّهُ رُوِيَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: سَأَلْتُ الزُّهْرِيَّ، قُلْتُ لَهُ: أَحَدَّثَكَ عُرْوَةُ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ: لَمْ أَسْمَعْ مِنْ عُرْوَةَ فِي هَذَا شَيْئًا، وَلَكِنِّي سَمِعْتُ فِي خِلَافَةِ سُلَيْمَانَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ مِنْ نَاسٍ،

---

١ _ مسلم في الصيام ٣٢ (١١٥٤) . و ابي داود في الصيام ٧٢ (٢٤٥٥) . و النسائي في الصيام ٦٧ (٢٣٢٤) . و ابن ماجه في الصيام ٢٦ (١٧٠١) . (تحفة الأشراف : ١٧٨٧٢) . مسند احمد (٦ في ٤٩، ٢٠٧)

عَنْ بَعْضِ مَنْ سَأَلَ عَائِشَةَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ ٩٤ عَلِيُّ بْنُ عِيسَى بْنِ يَزِيدَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ. وَقَدْ ذَهَبَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، فَرَأَوْا عَلَيْهِ الْقَضَاءَ إِذَا أَفْطَرَ، وَهُوَ قَوْلُ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ. (١)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي زما او دحفصي دواړو روژه وه او مونږ ته دخوراك كوم څيز راوړلي شو چي زمونږ ورته رغبت پيدا شو نو مونږ ددينه خوراك اوكړو په دي دوران كي رسول الله صلي لله عليه وسلم راغلو نو حفصه ورته په حال وئيلو كي زما نه مخكي شوه ځكه چي هغه خو دپلار لور وه تپوس يي اوكړو چي اي دالله رسوله زمونږ روژه وه او مونږ ته خوراك راوړلي شو چي زمونږ ورته خواهش پيدا شو نو مونږ اوخوړلو رسول الله اوفرمائيل تاسو دواړه په كومه بله ورځ ددي قضاء راوړئ.

امام ترمذي وائي صالح بن ابي اخضر او محمد بن ابي حفصه دا حديث په سند د زهري عن عروه عن عائشه نقل كړي دي او دسابقه روايت هم معني روايت يي بيان كړي دي او دا روايت مالك بن انس، معمرو، عبيدالله بن عمر، زياد بن سعد، او بعضي نورو حافظانو په سند د الزهري عن عائشه مرسل نقل كړي دي او دوئ په دي كي دعروه واسطه نه ده ذكر كړي او همدا زيات صحيح روايت دي ، ځكه چي دابن جريرج نه مروي دي ما دزهري نه تپوس اوكړو ايا دا روايت تاسو ته عروه بيان كړي دي او عروه دعائشه نه نقل كړي دي ، هغوئ اووئيل ما په دي باره كي دعروه نه هيڅ نه دي اوريدلي ما دسليمان بن عبدالملك دخلافت په زمانه كي دبعضي داسي خلقو نه اوريدلي دي چاچه دداسي شخص نه روايت كړي دي چي دعائشه نه يي ددي حديث باره كي تپوس كړي دي په صحابه كرامو او اهل علموكي يو جماعت دي حديث طرف ته ميلان كړي دي ددوئ قول دي كه څوك نفلي روژه ماته كړي نو قضاء ورباندي لازم ده امام مالك بن انس هم په دي باندي قول كړي دي.

تشريح : ددي مسئلي مدلل تحقيق په ما قبل باب كي تير شو.

****

٣٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي وِصَالِ شَعْبَانَ بِرَمَضَانَ

روژي نيولو سره شعبان په رمضان پوري دمتصل كولو بيان

١ _ تفرد به المؤلف (وأخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٦٤١٩)

٧٣٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ إِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أُمِّ سَلَمَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ صِيَامًا مِنْهُ فِي شَعْبَانَ، كَانَ يَصُومُهُ إِلَّا قَلِيلًا بَلْ كَانَ يَصُومُهُ كُلَّهُ".(1)

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها فرمائي چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم مسلسل په دوه مياشتو روژو نيولو نه دي ليدلي علاوه دشعبان او رمضان نه.

امام ترمذي وائي دام سلمه حديث حسن صحيح دي، په دي باب كي دعائشه رضي الله عنها نه هم روايت مروي دي او دا حديث دابوسلمه نه په روايت دعائشه هم مروي دي دابوسلمه بيان دي چي ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم لره دشعبان دمياشتي نه زيات په بله مياشت كي په روژه نيولو نه دي ليدلي دشعبان ټولي روژي به يي نيولي مګر علاوه ديو څو روژو نه.

تشريح : ددي باب تشريح په سابقه ابوابو كي تيره شوي ده.

****

٧٣٧_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ: فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: هُوَ جَائِزٌ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ إِذَا صَامَ أَكْثَرَ الشَّهْرِ أَنْ يُقَالَ صَامَ الشَّهْرَ كُلَّهُ، وَيُقَالُ: قَامَ فُلَانٌ لَيْلَهُ أَجْمَعَ وَلَعَلَّهُ تَعَشَّى وَاشْتَغَلَ بِبَعْضِ أَمْرِهِ، كَأَنَّ ابْنَ الْمُبَارَكِ قَدْ رَأَى كِلَا الْحَدِيثَيْنِ مُتَّفِقَيْنِ، يَقُولُ: إِنَّمَا مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّهُ كَانَ يَصُومُ أَكْثَرَ الشَّهْرِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى سَالِمٌ أَبُو النَّضْرِ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَ رِوَايَةِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو.(2)

---

1 _ سنن النسائي في الصيام ٢٢ (٢١٧٧)، و٧٠ (٢٣٥٣). سنن ابن ماجه في الصيام ٣ (١٦٤٨). (تحفة الأشراف: ١٨٢٢٢) (صحيح)، وأخرجه سنن ابي داود في الصيام ١١ (٢٣٣٦). وسنن النسائي في الصيام ٧٠ (٢٣٥٥). ومسند احمد (٦ في ٣١١)

2 تفرد المؤلف (تحفة الأشراف: ١٧٧٥٦) (حسن صحيح)، وأخرجه صحيح البخاري في الصوم ٥٢ (١٩٦٩). وصحيح مسلم في الصيام ٣٢ (١١٥٦). وسنن النسائي في الصيام ٣٢ (٢١٧٩، ٢١٨٠)، و٣٥ (٢١٨١٢١٨٧). وسنن ابن ماجه في الصيام ٣٠ (١٧١٠). والمؤطاء في الصيام ٢٢ (٥٦). ومسند احمد (٦ في ٣٩، ٥٨، ٨٤، ١٠٧، ١٢٨، ١٤٣، ١٠٣، ١٦٥، ٢٣٣، ٢٤٢، ٢٤٩، ٢٦٨)

ترجمه : په دي سند سره دعائشه رضي الله عنها نه هم دسابقه حديث هم معني روايت مروي دي.

امام ترمذي وائي عبدالله بن مبارك دي حديث باره كي وائي په كلام دعربو كي دا جائز دي چي كله به يي دكومي مياشتي داكثري حصي روژه نيوله نو وئيل به يي چي پوره مياشت مو روژي اونيولي او لكه چي وئيلي شي فلاني پوره شپه مونځ كړي دي او حال دادي هغه به دماښام خوراك هم كړي وي او په بعضي نورو كارونو كي به هم مشغول پاتي شوي وي ابن مبارك دواړه حديث ديو بل سره موافق ګڼړل په دي شان سره ددي حديث مفهوم دا شو چي رسول الله په اكثر شعبان كي روژي نيولي، سالم ابوالنضر او بعضي نورو راويانو په سند دابوسلمه عن عائشه دمحمد بن عمرو درروايت په شان روايت بيان كړي دي.

****

٣٨_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّوْمِ فِي النِّصْفِ الثَّانِي مِنْ شَعْبَانَ لِحَالِ رَمَضَانَ

درمضان په تعظيم كي دشعبان په نصف ثاني كي دروژي نيولو دكراهت بيان

٧٣٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا بَقِيَ نِصْفٌ مِنْ شَعْبَانَ فَلَا تَصُومُوا". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ عَلَى هَذَا اللَّفْظِ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يَكُونَ الرَّجُلُ مُفْطِرًا، فَإِذَا بَقِيَ مِنْ شَعْبَانَ شَيْءٌ أَخَذَ فِي الصَّوْمِ لِحَالِ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يُشْبِهُ قَوْلَهُمْ، حَيْثُ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقَدَّمُوا شَهْرَ رَمَضَانَ بِصِيَامٍ إِلَّا أَنْ يُوَافِقَ ذَلِكَ صَوْمًا كَانَ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ" وَقَدْ دَلَّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّمَا الْكَرَاهِيَةُ عَلَى مَنْ يَتَعَمَّدُ الصِّيَامَ لِحَالِ رَمَضَانَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي نيم شعبان پاتی شي نو روژی مه نيسئ.

---

1 _ سنن ابي داود في الصيام ١٢ (٢٣٣٧) . سنن الدارمي في الصوم ٣٤ (١٧٤٢) . (تحفة الأشراف : ١٤٠٥١) (صحيح)

وأخرجه سنن ابن ماجه في الصيام ٥ (١٦٥١) . وسنن الدارمي في الصوم ٣٤ (١٧٤١)

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او دا حديث مونږ ته صرف په دي الفاظو او په همدي سند معلوم دي، او ددي حديث مفهوم دبعضي اهل علموپه نزد دادي كه يو سړي دمخكي نه روژي نه نيسي او بيا دشعبان ختميدو څه ورځي باقي پاتي شي او هغه درمضان په تعظيم كي روژي نيول شروع كړي (نو دا عمل مكروه دي)، دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي هغوئ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه هغه څه نقل كړي دي كوم چي ددي خلقو د قول سره مشابهت لري لكه چي ارشاد نبوي دي "درمضان دمياشتي په استقبال كي دمخكي نه روژي مه نيسي" مګر علاوه دهغه ورځو نه چي تاسو دمخكي نه په روژو نيولو كي معمولا راروان يئ او دغه ورځ هم ستاسو په معمول كي راشي، دا حديث په دي خبره دلالت كوي چي كراهت دهغه چا دپاره دي څوك چي قصدا درمضان په تعظيم كي دشعبان په اخر كي روژي نيسي.

لغات : بقي: بقي يبقي بقاء دسمع باب نه معني باقي پاتي كيدل اودضرب نه معني همیشه پاتي كيدل، نصف: معني نيم جمع يي انصاف راځي.

تشريح : اذا بقي نصف من شعبان فلا تصوموا: كله چي دشعبان نيمه مياشت باقي پاتي شي نو روژي مه نيسئ، دا ممانعت ځكه دي چي دفرض روژو دپاره كمزوري پيدا نشي چي بيابه ورته درمضان روژي ګراني شي.

ددي ممانعت وجه دامت سره داسانئ او شفقت معامله كول هم دي قاضي عياض وائي چي په پورتني روايت كي دممانعت تعلق دهغه كسانو سره دي څوك چي دروژي نيولو نه پس كمزوري شي ليكن كه څوك طاقت لري نو دهغوئ دپاره څه حرج نشته.مګر دا قول دجمهور امت د قول خلاف دی او راجح نه دی.

****

٣٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ

دشعبان دپنځلسمي شپي دفضيلت بيان

٧٣٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا الحَجَّاجُ بْنُ أَرْطَاةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: فَقَدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً، فَخَرَجْتُ فَإِذَا هُوَ بِالْبَقِيعِ، فَقَالَ: "أَكُنْتِ تَخَافِينَ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْكِ وَرَسُولُهُ؟" قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَائِكَ، فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَغْفِرُ لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعْرِ غَنَمِ كَلْبٍ". وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ

عَائِشَةَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ الْحَجَّاجِ، وَسَمِعْت مُحَمَّدًا يُضَعِّفُ هَذَا الْحَدِيثَ، وقَالَ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ: لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عُرْوَةَ، وَالْحَجَّاجُ بْنُ أَرْطَاةَ، لَمْ يَسْمَعْ مِنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ. (1)

ترجمه : دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها بیان دي فرمائي چي ما یوه شپه رسول الله صلي الله علیه وسلم په کوٹر کي غائب اوموندلو نو زه دهغه په تلاش کي بنهر اووتم نو څه گورم چي رسول الله په بقیع قبرستان کي دي او ویې فرمائیل چي ایا ته ویریدلي چي الله او دهغه رسول به په تا باندي ظلم اوکړي؟ ما عرض اوکړو اي دالله رسوله زما خو دا خیال وو چي ته به خپلي بنځي خواته ورغلي یې رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل الله تعالي دشعبان په پنځلسمه شپه اسمان ددنیا ته نزول کوي او د کلب قبیلي دچیلو دوړئ نه دزیات تعداد خلقو ته مغفرت کوي.

امام ترمذي وائي دعائشه حدیث مونږ ته صرف په همدي سند دحجاج په روایت معلوم دي او ما دمحمد بن اسماعیل بخاري نه ددي حدیث تضعیف کول اوریدلي وو، همدا رنگي دعروه نه دیحي بن ابي کثیر او د یحي بن ابي کثیر دحجاج بن ارطات نه سماع ثابت نه ده. او په دي باب کي ابوبکر صدیق رضي الله عنه نه هم روایت وارد دي.

تشریح : علامه سیوطي دعطاء بن یسار قول نقل کړي دي چي کله دشعبان پنځلسمه شپه راشي نو ملك الموت ته یو فهرست ورکولي شي او په دي کي دهغه کسانو نومونه دي څوك چي په دي کال کي وفات کیږي او دهغه ټولو کسانو نومونه پکي هم وي څوك چي په نکاح کانو او کورونو جوړولو وغیره ددنیا په کارونوکي مشغول وي، دابن عباس رضي الله عنهما بیان دي چي تاسو خو خلق وینئ چي په بازارونو کي گرځي راگرځي خو نومونه به یې ددي کال په مړو کي لیکلي شوي وي.

په یو بل روایت کي دي چي دشعبان په پنځلسمه شپه ټولو مسلمانانو ته مغفرت کیږي لیکن علاوه دهغه خلقو نه څوك چي لنگ یاپرتوګ دګیټو نه اوږدساتي.

د رمضان د روژو فرضیت دهجرت په دویم کال د شعبان په میاشت کښې اوشو، یعنی د هجرت نه اتلس میاشتې پس د شعبان په میاشت کښې د قبلې د تحویل نه پس د رمضان روژې فرض شوی وې، اوددې نه وړاندې به رسول اکرم صلي الله علیه وسلم اوصحابه

---

1 سنن ابن ماجه في الاقامة ١٩١ (١٣٨٩) . (تحفة الأشراف : ١٧٣٥)

كرامو د عاشوري اود ايام بيض(د قمرى مياشتې ديارلسم،څوارلسم، پنځلسم تاريخ) روژې نيولې.(درمنثور)

****

٤٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي صَوْمِ الْمُحَرَّمِ

دمحرم دروژې فضيلت

٧٤٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِمْيَرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ شَهْرُ اللَّهِ الْمُحَرَّمُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درمضان نه پس بهترينه روژه دالله دبزرګى مياشتى محرم (عاشورى) روژه ده.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي.

لغات: المحرم: دقمري كال اولنۍ مياشتي نوم دى.

تشريح : بعضي علماء وائي ددينه مراد دعاشوري دورځي روژه ده او دبعضي علماؤ په نزد مطلقا دمحرم په مياشت كي دروژې نيولو ته اشاره ده.

****

٧٤١_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: سَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَيُّ شَهْرٍ تَأْمُرُنِي أَنْ أَصُومَ بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ؟ قَالَ لَهُ: مَا سَمِعْتُ أَحَدًا يَسْأَلُ عَنْ هَذَا إِلَّا رَجُلًا سَمِعْتُهُ يَسْأَلُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا قَاعِدٌ عِنْدَهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ شَهْرٍ تَأْمُرُنِي أَنْ أَصُومَ بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ؟ قَالَ: "إِنْ كُنْتَ صَائِمًا بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ فَصُمِ الْمُحَرَّمَ، فَإِنَّهُ شَهْرُ اللَّهِ، فِيهِ يَوْمٌ تَابَ فِيهِ عَلَى قَوْمٍ، وَيَتُوبُ فِيهِ عَلَى قَوْمٍ آخَرِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([2])

---

1 _ صحيح مسلم في الصيام ٣٨ (١١٦٣) . سنن ابي داود في الصيام ٥٥ (٢٤٢٩) . سنن النسائي في قيام الليل ٦ (١٦١٣) . سنن ابن ماجه في قيام الصيام ٤٣ (١٧٤٢) . (تحفة الأشراف : ١٢٢٩٢) . مسند احمد (٢ في ٣٤٢، ٣٤٤، ٥٣٥)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٢٩٥)

ترجمه : مروي دي چي د علي رضي الله عنهٔ نه یو کس تپوس اوکړو چي د رمضان د میاشتي نه پس د کومي میاشتي په روژې نیولو تاسو ماته حکم کوئ؟ هغوئ ورته اوفرمائیل ما په دي سلسله کي ستا نه علاوه بل څوك په تپوس کولو نه دي لیدلي او ما په دي باره کي د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه د یو سوال د جواب ورکولو په حال کي اوریدلي وو او زه ورسره خوا کي ناست وم چا تپوس اوکړو اي د الله رسوله تاسو ماته د رمضان نه پس د کومي میاشتي په روژې نیولو حکم کوئ رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل که چري د رمضان نه پس تاسو روژې نیسئ نو د محرم روژې اونیسئ ځکه چي دا د الله تعالي میاشت ده او په دي کي یوه ورځ داسي ده په کومه کي چي الله تعالي په بعضي خلقو باندي رحمت کوي او په دي کي په نورو خلقو باندي هم رحمت کوي.

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن غریب دي.

تشریح : په کوم قوم چي الله تعالي د رحمت نظر کړي وو او د ظالم د پنجو نه یي خلاص کړي وو هغوئ خو ښکاره معلوم دي چي بني اسرائیل دي مګر په لسم محرم الله تعالي فرعون او د هغه لښکر په سمندر کي تباه کړي وو او په کوم قوم چي به الله تعالي په ائینده کي د کرم نظر کوي هغوئ په متعین طور معلوم نه دي.

****

٤١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي صَوْمِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ

د جمعي په ورځ د روژې نیولو بیان

٧٤٢ـ حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، وَطَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدِ اسْتَحَبَّ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ صِيَامَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، وَإِنَّمَا يُكْرَهُ أَنْ يَصُومَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ لَا يَصُومُ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ. قَالَ: وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ هَذَا الْحَدِيثَ وَلَمْ يَرْفَعْهُ.(١)

---

١ ـ سنن ابي داود في الصيام ٦٨ (٢٤٥٠) (تحفة الأشراف: ٩٢٠٦)

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به دهري مياشتي په شروع كي دري روژي نيولي او ډيز كم به داسي وو چي دجمعي په ورځ به يي روژه اونه نيوله.

امام ترمذي وائي دعبدالله بن مسعود حديث حسن غريب دي شعبه دا حديث دعاصم نه نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي ذكر كړي، په دي باب كي دابن عمر او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، داهل علمو يو جماعت دجمعي په ورځ روژه نيول مستحب ګنړلي دي. او مكروه صورت دادي چي يو بنده صرف دجمعي په ورځ روژه نيسي او نه يي ددينه مخكي نيسي او نه ددينه روسته.

تشريح : په دي مسئله كي اختلاف دي چي صرف دجمعي په ورځ روژه نيول جائز دي او كنه؟ په دي باره كي دفقهاو دوه مذاهب دي.

(۱) دامام ابو حنيفه په نزد صرف دجمعي دورځي روژه نيول بغير دكراهت نه جائز دي.

(۲) دامام شافعي او امام احمدؒ په نزد صرف دجمعي په ورځ روژه نيول مكروه دي ددي سره به دجمعي نه مخكي يا دجمعي نه پس يوه بله ورځ يو ځاي كوي، او دجانبينو دلائل په مطولاتو دعلم فقه كي مذكور دي.

****

٤٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ صَوْمِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَحْدَهُ

خصوصا دجمعي په ورځ دروژي نيولو دكراهت بيان

٧٤٣_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَصُومُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا أَنْ يَصُومَ قَبْلَهُ أَوْ يَصُومَ بَعْدَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَجَابِرٍ، وَجُنَادَةَ الأَزْدِيِّ، وَجُوَيْرِيَةَ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ يَكْرَهُونَ لِلرَّجُلِ أَنْ يَخْتَصَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ لَا يَصُومُ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. (۱)

---

۱ _ مسلم في الصيام ٢٤ (١١٤٤) . سنن ابي داود في الصيام ٥٠ (٢٤٢٠) . سنن ابن ماجه في الصيام ٣٧ (١٧٢٣) . (تحفة الأشراف : ١٢٥٠٢) (صحيح) وأخرجه صحيح البخاري في الصيام ٦٣ (١٩٨٥) . و مسند احمد (٢ في ٤٥٨)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عيله وسلم فرمائيلي دي په تاسو كي دي هيڅوك دجمعي په ورځ روژه نه نيسي مګر دا چي دجمعي نه مخكي يا روسته ورځ هم روژه اونيسيئ.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعلي، جابر، جناده ازدي، جويريه ، انس، او عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او په همدي داهل علمو عمل دي هغوئ دا مكروه ګڼړي چي دجمعي ورځ څوك روژي دپاره خاص كړي چي نه ددينه مخكي روژي نيسي او نه ددينه روسته دامام احمد او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي.

تشريح : دجمعي په ورځ دروژي نيولو متعلق دعلماؤ متعدد اقوال دي ، ابراهيم نخعي ، زهري، او مجاهد وايي چي په هرحال كي مكروه دي.

دويم قول د امام مالك او ابوحنيفه وغيره دي چي بلكل مكروه ندي.

محمد بن سيرين وايي كه ورځ مخكي او وروسته ورنه روژه ونيولي شي نوڅه باك نشته.

ابن حزم وايي چي صرف دجمعي په ورځ روژه نيول حرام دي طاوس ، امام ابو يوسف، او يوقول دامام شافعي دي.

څلورم : په تيره شوي هفته كي يا دهفتي نه پس يادراتلونكي هفتي دجمعي دورځي نه علاوه كه په هره ورځ يي روژه اونيوله نو اوس به دجمعي دورځي روژه نيول مكروه نه وي.

صرف دجمعي په ورځ روژه نيول حرام دي كه ددينه مخكي يا وروسته يوه روژه اونيسي نو بيا به جائز وي دا مذهب دابن حزم دي او علامه شامي دجمعي دورځي روژه نيول مستحب ليكلي دي چي په دي كي دعقيدي فساد نشته.

په دي حديث كي ددي خبري بيان دي چي د جمعي دورځي نه كه څوك يوه ورځ مخكي يا وروسته ورسره روژه نيسي نو بيا خير دي ، امام نووي ووايي چي دجمعي په ورز دعا ، ذكر، نفل كول پكار دي نوځكه روژه نيول پكي منع كړي شوي دي، ددي دپاره چي عبادت په ښې طريقي سره وكړي شي، لكه چي دعرفي په ورځ دحاجيانو دپاره روژه نيول درست ندي.

بعضي علماء وايي چي دي ورځي ته يوم العيد ويلي شوي دي نو په دي وجه په دي ورځ كي روژه نيول ندي پكار.

بعضي فقهاء وايي چي دمبالغه في التعظيم دوجي نه پدي ورځ روژه نيول منع كړي شوي دي.

په پورتني حديث كي دجمي دورځي دروژي نيولو او ودجمعي دشپي دقيام كولو نه ممانعت راغلي دي اوپه دي كي داهم دي كه چري په كوم خاص تاريخ روژه نيول دچا معمول وي او

هغه تاريخ اتفاقا دجمعي په ورځ راشي نو څه باك نشته اجازت شته دي يعني داسي اتفاقي تخصيص معاف دي.

صرف دجمعي په ورځ دروژي نيولو دممانعت يوه وجه داده چي خلق پدي كي دخاص ثواب عقيده لري او داسي كول پكار ندي.

****

٤٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَوْمِ يَوْمِ السَّبْتِ

دخالي په ورځ دروژي نيولو بيان

٧٤٤_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، عَنْ أُخْتِهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَصُومُوا يَوْمَ السَّبْتِ إِلَّا فِيمَا افْتَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ أَوْ عُودَ شَجَرَةٍ فَلْيَمْضُغْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَمَعْنَى كَرَاهَتِهِ فِي هَذَا أَنْ يَخُصَّ الرَّجُلُ يَوْمَ السَّبْتِ بِصِيَامٍ لِأَنَّ الْيَهُودَ تُعَظِّمُ يَوْمَ السَّبْتِ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن بسر دخور "بهيه صماء" رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي صرف دهفتي په ورځ روژه مه نيسئ مگر هغه روژه نيولي شئ كومه چي الله تعالي په تاسو فرض كړي وي او كه په تاسو كي څوك دانگور پوستكي او د ونو دلختي نه علاوه نور څه نه مومي نو همدا دي اوجويي (خو روژه دي نه نيسي).

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او ددي دمكروه كيدو مطلب دادي چي څوك دي دروژي نيولو دپاره دخالي ورځ نه خاص كوي ځكه چي يهوديانو به دهفتي دورځي تعظيم كولو.

****

٤٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي صَوْمِ يَوْمِ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ

د دوشنبي او پنج شنبي په ورځ دروژي نيولو بيان

٧٤٥_ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ الْفَلَّاسُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عن رَبِيعَةَ الْجُرَشِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[1] ـ سنن ابي داود في الصيام ٥١٢ (٢٤٢١). سنن ابن ماجه في الصيام ٣٨ (١٧٢٦). سنن الدارمي في الصوم ٣٠ (١٧٩٠).

(تحفة الأشراف: ١٥٩١٠)

يَتَحَرَّى صَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ حَفْصَةَ، وَأَبِي قَتَادَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : عائشى رضي الله عنها نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به د دوشنبي اوزيارت دروژي خاص خيال ساتلو.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حديث حسن دي او په دي سند غريب دي.

لغات : يتحري: تحري معني قصد كول، فضيلت وركول دباب تفعيل نه اود مجردو نه هم استعماليږي.

تشريح : يتحري صوم الاثنين والخميس: يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم به ددوشنبي او زيارت په ورځ دروژي نيولو ډير اهتمام كولو ددي وجه په يو بل حديث كي دا بيان شوي ده چي په دي ورځ زما پيدائش شوي دي او په همدي ورځ دين فطرت دنيا ته نازل شوي دي نو په دي وجه زه دشكر روژه نيسم او په يو بل روايت كي دا هم راغلي دي چي ددوشنبي او زيارت په ورځ دالله په دربار كي اعمال پيش كولي شي نو زما زړه غواړي چي زما دي پدغه ورځ روژه وي.

ددوشنبي په ورځ دروژي نيولو په باره كي دا ارشاد نبوي دي چي دا زما دولادت اوماته دنبوت ملاويدو ورځ ده په يو بل روايت كي دا هم راغلي دي چي ددوشنبي او زيارت په ورځ دمخلوق اعمال دالله په دربار كي پيش كيږي نو په دي وجه زما زړه غواړي چي په دي ورځ روژه اونيسم.

****

٧٤٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، وَمُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ السَّبْتَ وَالْأَحَدَ وَالِاثْنَيْنِ وَمِنَ الشَّهْرِ الْآخَرِ الثُّلَاثَاءَ وَالْأَرْبِعَاءَ وَالْخَمِيسَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ سُفْيَانَ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (2)

---

1 ـ النسائي في الصيام ٣٦ (٢١٨٩)، وابن ماجه في الصيام ٤٢ (١٧٣٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨١) (صحيح) وأخرجه سنن النسائي في الصيام السابق: ٢١٨٨، وباب ٧٠ (الأرقام: ٢٣٥٨، ٢٣٦٥) ، ومسند احمد (٦ في ٨٠، ٨٩، ١٠٦)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٠٧٠)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دګل اوزيارت په ورځ عملونه عالم بالا کي پيش کيږي پس زه دا غواړم چي ځما عمل په داسی وخت کي پيش کړی شي چي ځما روژه وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي، او عبدالرحمن بن مهدي دا حديث دسفيان په روايت نقل کړي دي او مرفوع يي نه دي ذکر کړي.

تشريح : تعرض الاعمال يوم الاثنين والخميس: يعني ددوشنبي او زيارت په ورځ اعمال دالله تعالي په دربار کي پيش کيږي.

سوال: په يو بل روايت کي خو راغلي دي چي هر سحر او ماښام اعمال دالله په دربار کي پيش کيږي.

جواب: روزانه هر عمل په تفصيلي طور سره پيش کيږي او بيا ددوشنبي او زيارت په ورځ مجموعي اعمال په اجمالي طور پيش کيږي په سحر او ماښام والا حديث کي دا تاويل کوو چي فرشتي دسحر اعمال دشپي داعمالو نه مخکي او دشپي اعمال دسحر داعمالو نه مخکي بره اوړي ليکن دالله تعالي په وړاندي يي ددوشنبي او زيارت په ورځ پيش کوي.

****

٧٤٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "تُعْرَضُ الأَعْمَالُ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ، فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي هَذَا الْبَابِ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دګل اوزيارت په ورځ عملونه عالم بالا کي پيش کيږي نو زه دا غواړم چي ځما عمل په داسی وخت کي پيش کړی شي چي ځما روژه وي.

امام ترمذي وائي دابو هريره حديث په دي باب کي حسن غريب دي.

تشريح: په مذکوره حديث کي دزيارت په ورځ دروژي نيولو فضيلت بيان شوي دي او وجه يي داده چي په دي ورځو کي دالله تعالي په وړاندي دمخلوق اعمال پيش کيږي

****

[1] ـ ابن ماجه في الصيام ٣٢ (١٧٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٢٧٤٦)، و: مسند احمد (٢ في ٣٢٩)

٤٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي صَوْمِ يَوْمِ الأَرْبِعَاءِ وَالْخَمِيسِ

دچارشنبي او زيارت په ورځ دروژي نيولو بيان

٧٤٨_ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجَرِيرِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مَدُّوَيْهِ، قَالَا: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا هَارُونُ بْنُ سَلْمَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ الْقُرَشِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ، فَقَالَ: " إِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، صُمْ رَمَضَانَ وَالَّذِي يَلِيهِ وَكُلَّ أَرْبِعَاءَ وَخَمِيسٍ، فَإِذَا أَنْتَ قَدْ صُمْتَ الدَّهْرَ وَأَفْطَرْتَ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مُسْلِمٍ الْقُرَشِيِّ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ هَارُونَ بْنِ سَلْمَانَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ. (1)

ترجمه : دمسلم قرشي بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دصيام الدهر (دټول کال دروژو باره کي) تپوس اوکړو او يا ورنه په دي باره کي تپوس اوکړي شو (دراوي شك دي) نو ويي فرمائيل په تاسو باندي ستاسو دکور والاهم حق دي درمضان روژي نيسئ او دهغي مياشتي روژي اونيسئ کومه چي په دي پسي متصل ده او دچارشنبي او زيارت روژي به نيسئ کله چي تاسو دا روژي اونيولي نو دا داسي ده لکه چي تاسو ټول کال روژي نيولي وي او افطار مونه وي کړي.

امام ترمذي وائي دمسلم قرشي رضي الله عنه حديث غريب دي، بعضي راويانو دا حديث په روايت د هارون بن سليمان عن مسلم بن عبيدالله عن عبيدالله بن مسلم نقل کړي دي او په دي باب کي دعائشه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي.

تشريح : د بخاري په روايت کي د مزيد نورو حقوقو د حقدارانو ذکر دی:

إِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقاً، وَإِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقاً، وَلأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقاً، فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: ((صَدَقَ سَلْمَانُ)) رواه البخاري.

يعني دستا درب په تا حق دی او ستادنفس په تا حق دی او ستادکور والا په تا حق دی نوهر حقدار ته خپل حق اورسوه بيا ابوالدرداء رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او دا ټول حال يې ورته اووئيلو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سلمان رضي الله عنه رښتيا وئيلي دي (بخاري).

---

1 ابي داود في الصيام ٥٧ (٢٤٣٢) (تحفة الأشراف: ٩٧٤)

ولاهلك عليك حقا. يعني ستا دښځي هم په تاباندي حق دي، په يو روايت كي داسي دي چي ولضيفك عليك حقا. په بعضي رواياتو كي دا الفاظ راغلي دي: فصم وافطر وصل وات اهلك.

"صدق سلمان" يعني سلمان رښتيا اووئيل او په يو بل روايت كي سلمان افقه منك الفاظ راغلي دي يعني سلمان ستانه زيات فقيه دي او په يو روايت كي داسي دي فقال رسول الله صلي الله عله وسلم مثل ماقال سلمان. دلته په محدث د فقيه فوقيت واضح او ثابت شو.

****

٤٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ صَوْمِ عَرَفَةَ

دعرفي په ورځ دروژي نيولو دفضيلت بيان

٧٤٩ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ غَيْلَانَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدٍ الزِّمَّانِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدِ اسْتَحَبَّ أَهْلُ الْعِلْمِ صِيَامَ يَوْمِ عَرَفَةَ إِلَّا بِعَرَفَةَ. ([1])

ترجمه : دابوقتاده رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: زه دالله تعالي نه اميد لرم چي دعرفي دورځي روژه به ديو كال او ديو كال نه پس مودي ګناهونه محوه كوي.

امام ترمذي وائي دابوقتاده رضي الله عنه حديث حسن دي ، او په دي باب كي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، اهل علمو دعرفي په ورځ روژه نيول مستحب ګنړلي دي مګر څوك چي په عرفات كي موجود وي دهغوئ دپاره مستحب نه ده.

لغات : يكفر: ګناه متاوول ، معاف كول، او كفر په معني دانكار كولو اونه منلو دي.دمجردو او مزيدو دواړو نه استعمالېږي.

تشريح : عرفه دذي الحجي نهم تاريخ ته وئيلي شي په دي ورځ حجاج كرام په عرفات كي وقوف كوي كوم چي دحج اهم ركن دي او ددينه بغير حج نه كيږي په دي ورځ حاجيانو ته دا

---

[1] مسلم في الصيام ٣٦ (١١٦٢) . و ابي داود في الصيام ٥٣ (٢٤٢٥) . و النسائي في الصيام ٤٢ (٢٣٨٣) . و ابن ماجه في الصيام ٣١ (١٧٣٠) . (التحفة: ١٢١١٧) . مسند احمد (٥ في ٢٩٧)

حكم دي چي دالله ډېر ذکر دي اوکړي او په دعا کي دي مشغول اوشي ددوئ دپاره روژه نيول درست نه دي ليکن غير حاجيانو لره پکار دي چي ددي ورځي دروژي فضيلت ورنه فوت نشي او که په دي ورځ يي روژه اونيوله نو دټول کال ګناهونه به يي معاف شي او دراتلونکي کال هم او که دچا ګناهونه نه وي نو درجي به يي زياتي شي.(روضة)

****

٤٧ـ بَاب كَرَاهِيَةِ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ

دعرفي په ورځ په عرفه کي دروژي نيولو دکراهت بيان

٧٥٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل ابْنُ عُلَيَّةَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَفْطَرَ بِعَرَفَةَ، وَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ أُمُّ الْفَضْلِ بِلَبَنٍ فَشَرِبَ". وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأُمِّ الْفَضْلِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: حَجَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَصُمْهُ يَعْنِي يَوْمَ عَرَفَةَ، وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَمَعَ عُمَرَ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَمَعَ عُثْمَانَ فَلَمْ يَصُمْهُ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَسْتَحِبُّونَ الْإِفْطَارَ بِعَرَفَةَ لِيَتَقَوَّى بِهِ الرَّجُلُ عَلَى الدُّعَاءِ، وَقَدْ صَامَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ يَوْمَ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ.[1]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم په عرفه کي افطار اوکړو او ام الفضل رضي الله عنها ورته شوده راوليږل او هغه يي اوڅکل.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابوهريره، ابن عمر، او ام الفضل رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي ما دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره حج اوکړو او هغه په دغه ورځ روژه اونه نيوله او دابوبکر رضي الله عنه سره مي هم حج کړي دي هغي هم په دي ورځ روژه اونه نيوله او دعمر رضي الله عنه سره مي هم حج وکړو او هغوئ هم په دي ورځ روژه اونه نيوله او دعثمان رضي الله عنه سره مي حج اوکړو نو هغوئ هم روژه نه وه نيولي، داکثرو اهل علمو په دي باندي عمل دي، اهل علم په عرفات کي روژه نه نيول مستحب ګنړي اګرکه په بنده کي د دعا غوښتلو زيات نه زيات طاقات موجود وي او ډيره دعا اوغوښتلي شي مګر بعضي اهل علمو دعرفي په ورځ په عرفات کي روژي نيولي دي

[1] ـ تفرد به المؤلف (أوأخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٦٠٠٢)

****

٧٥١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، وَإِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ، عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ، فَقَالَ: حَجَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَمَعَ عُمَرَ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَمَعَ عُثْمَانَ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَأَنَا لَا أَصُومُهُ وَلَا آمُرُ بِهِ وَلَا أَنْهَى عَنْهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَجُلٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبُو نَجِيحٍ اسْمُهُ يَسَارٌ، وَقَدْ سَمِعَ مِنِ ابْنِ عُمَرَ. ([1])

ترجمه : ابو نجیح یسار د خپل پلار نه روایت نقل کوي چي فرمائیل یي: دابن عمر رضي الله عنهما نه دعرفي په ورځ په عرفات کي دروژي نیولو باره کي تپوس اوکړي شو نو وېي فرمائیل ما دنبي کریم صلي الله علیه وسلم سره حج کړي دي او هغوئ په دي ورځ روژه نه وه نیولي، او دابوبکر رضي الله عنه سره مي هم حج کړي دي هغوي هم په دي ورځ روژه اونه نیوله او دعمر رضي الله عنه سره مي هم حج کړي دي او هغوئ هم په دي ورځ روژه اونه نیوله او دعثمان رضي الله عنه سره مي حج اوکړو نو هغوئ هم روژه نه وه نیولي،او زه هم په دي ورځ په عرفات کي روژه نه نیسم مګر زه نه په دي باندي حکم کوم او نه ددینه څوك منع کوم.

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن دي، او دا حدیث دابن ابي نجیح نه په سند د عن ابیه عن رجل عن ابن عمر هم مروي دي دابو نجیح نوم یسار دي او دابن عمر نه دهغوئ اوریدل ثابت دي.

****

٤٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْحَثِّ عَلَى صَوْمِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ

دعاشوري په ورځ روژي نیولو متعلق ترغیب

٧٥٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ غَيْلَانَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " صِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ ". وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدِ بْنِ صَيْفِيٍّ، وَسَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، وَهِنْدِ بْنِ أَسْمَاءَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَالرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَلَمَةَ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (وأخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٨٥٤١)

الْخُزَاعِيِّ، عَنْ عَمِّهِ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ ذَكَرُوا، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ حَثَّ عَلَى صِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: لَا نَعْلَمُ فِي شَيْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ، أَنَّهُ قَالَ: "صِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ كَفَّارَةُ سَنَةٍ" إِلَّا فِي حَدِيثِ أَبِي قَتَادَةَ، وَبِحَدِيثِ أَبِي قَتَادَةَ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. (1)

ترجمه : دابوقتاده بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اميد لرم چي دعاشوري دورځي روژه به ديو كال ګناهونه محوه كوي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دعدي، محمد بن صيفي ، سلمه بن الاكوع ، هند بن اسماء، ابن عباس، ربيع بنت معوذ بن عفراء، عبدالرحمن بن سلمه خزاعي. چاچه دخپل تره نه روايت كړي دي او عبدالله بن زبير رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دعاشوري په ورځ دروژي نيولو ترغيب وركړي دي، دابوقتاده دحديث نه علاوه مونږ ته نه ده معلومه چي په كوم بل روايت كي وارد دي چي دعاشوري دورځي روژه ديو كال دګناهونو كفاره ده، دامام احمد او اسحاق قول هم دابو قتاده دحديث مطابق دي.

تشريح : په پورتني حديث كي دعاشوري په ورځ دروژي نيولو فضيلت بيان شوي دي چي په دي ورځ دروژه كيدو په سبب دتيركال ګناهونه معاف كيږي علماء وائي چي ددينه مراد صغيره ګناهونه دي دكبيره ګناه دپاره توبه ويستل او استغفار ضروري دي.

په يو بل روايت كي راغلي دي چي كله رسول الله دمكي نه مديني ته هجرت اوكړو نو يهوديان يي ددي ورځي په روژي نيولو اوليدل او تپوس يي ورنه اوكړو چي ددي ورځي څه خصوصيت دي چي تاسو پكي روژه نيسئ؟ هغوئ اوونيل دا يوه عظيم الشان ورځ ده په همدي ورځ زمونږ نبي موسي عليه السلام او دهغه قوم ته الله تعالي نجات وركړي وو او فرعون يي غرق كړي وو او موسي عليه السلام په طور دشكر په دي ورځ روژه نيولي وه نو په دي ورځ يي مونږ هم نيسو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي ستاسو په نسبت خو مونږ موسي عليه السلام ته زيات نژدي يو چنانچه رسول الله هم ددينه پس دعاشوري روژه نيوله او صحابه كرامو ته يي هم حكم اوكړو علماء وائي چي په ابتداء كي دعاشوري روژه واجب وه ليكن كله چي درمضان دروژو فرضيت راغي نو دعاشوري وجوب منسوخ شو

****

---

1 مسلم في الصيام ٣٦ (١١٦٢) . و ابي داود في الصيام ٥٣ (٢٤٢٥) . و النسائي في الصيام ٤٣ (٢٣٨٣) . و ابن ماجه في الصيام ٣١ (١٧٣٠) . (التحفه: ١٢١١٧) . مسند احمد (٥ في ٢٩٧)

٤٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي تَرْكِ صَوْمِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ

دعاشوري په ورځ دروژې نه نیولو درخصت بیان

٧٥٣_ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ النَّاسَ بِصِيَامِهِ فَلَمَّا افْتُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ هُوَ الْفَرِيضَةُ وَتَرَكَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ". وَفِي الْبَابِ عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَقَيْسِ بْنِ سَعْدٍ، وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَمُعَاوِيَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ عَلَى حَدِيثِ عَائِشَةَ، وَهُوَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ لَا يَرَوْنَ صِيَامَ يَوْمِ عَاشُورَاءَ وَاجِبًا إِلَّا مَنْ رَغِبَ فِي صِيَامِهِ لِمَا ذُكِرَ فِيهِ مِنَ الْفَضْلِ. (١)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې عاشوره يوه داسې ورځ وه په كومه كې چې به قريشو دجاهليت په زمانه كې روژې نيولې او رسول الله صلى الله عليه وسلم به هم په دې ورځ روژه نيوله كله چې رسول الله مدينې ته راغلو نو دعاشورې په ورځ يې روژه اونيوله او خلقو ته يې هم په دې ورځ دروژې نيولو حكم اوكړو مګر كله چې درمضان روژې فرض كړې شوې نو صرف درمضان فرضيت باقي پاتې شو او دعاشورې روژه يې پريخوده نو اوس كه څوك غواړې ددې ورځې روژه دې اونيسي او كه څوك غواړې نو نه دې نيسي.

امام ترمذي وائي دا حديث صحيح دې، په دې باب كې ابن مسعود، قيس بن سعد، جابر بن سمره، ابن عمر او معاويه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او داهل علمو عمل په حديث دعائشه دې او دا حديث صحيح دې علماء دعاشورې دورځې روژه واجب نه ګڼړي مګر دا چې ددې ورځې دروژې كوم فضيلت ذكر شو ددې په وجه ترغيب ضرور وركوي.

تشريح : دروژې دفرضيت نه مخكې دعاشورې روژه فرض ده مګر كله چې دروژې فرضيت نازل شو نو دعاشورې فرضيت ختم شو او قاعده داده كوم حكم چې دتخفيف په طور منسوخ كيږي دمنسوخ كيدو نه پس دهغه استحباب باقي پاتې كيږي او دعاشورې دورځې فرضيت هم داسانۍ دپاره ختم كړې شوې دې ځكه چې په يو كال كې دوه ځله دروژو فرضيت مشكل دې هر كله چې دا روژې مستحب دي نو نه نيول يې هم جائز دي.

---

١ _ تفرد به المؤلف (التحفه: ١٧٠٨٨) وأخرجه صحيح البخاري في الصوم ٦٩ (٢٠٠٢) . ومسلم في الصيام ١٩ (١١٢٥) . و سنن ابي داود في الصيام ٦٣ (٢٤٤٢) . والموطاء في الصيام ١١ (٣٣) . وسنن الدارمي في الصوم ٤٦ (١٨٠٣)

****

٥٠_ بَاب مَا جَاءَ عَاشُورَاءُ أَيُّ يَوْمٍ هُوَ

دعاشوري ورځ کومه يوه ده

٧٥٤_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَأَبُو كُرَيْبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَاجِبِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ الْأَعْرَجِ، قَالَ: " انْتَهَيْتُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ رِدَاءَهُ فِي زَمْزَمَ، فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي عَنْ يَوْمِ عَاشُورَاءَ أَيُّ يَوْمٍ هُوَ أَصُومُهُ، قَالَ: " إِذَا رَأَيْتَ هِلَالَ الْمُحَرَّمِ فَاعْدُدْ ثُمَّ أَصْبِحْ مِنَ التَّاسِعِ صَائِمًا "، قَالَ: فَقُلْتُ: أَهَكَذَا كَانَ يَصُومُهُ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: " نَعَمْ ".([1])

ترجمه : دحکم بن اعرج بيان دي فرمائي چي زه ابن عباس رضي الله عنه ته ورغلم او هغه په زمزم کي پخپل څادر کي ډډه وهلي وه او ناست وو ما ورنه تپوس اوکړو چي دعاشوري باره کي راته معلومات راکړه چي داکومه يوه ورځ ده چي روژه پکي اونيسم هغوئ اوفرمائيل کله چي ته دمحرم مياشت اوګوري نو شمير دورڅو شروع کړه او په نهم تاريخ روژه اونيسه او په داسي حال کي صباء کړه، ما ورنه تپوس اوکړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم به داسي کول؟ نو ويي فرمائيل هو، همداسي به يي کول.

****

٧٥٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: " أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِصَوْمِ عَاشُورَاءَ يَوْمُ الْعَاشِرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي يَوْمِ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: يَوْمُ التَّاسِعِ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: يَوْمُ الْعَاشِرِ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ قَالَ: صُومُوا التَّاسِعَ وَالْعَاشِرَ وَخَالِفُوا الْيَهُودَ، وَبِهَذَا الْحَدِيثِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق.([2])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په لسم تاريخ دعاشوري دروژي نيولو حکم کولو.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او داهل علمو په مينځ کي دعاشوري په سلسله کي اختلاف دي بعضي وائي چي عاشوره نهمه ورځ ده او بعضي وائي چي لسمه ورځ

---

1 مسلم في الصيام ٢٠ (١١٣٣)، سنن ابي داود في الصيام ٦٥ (٢٤٤٦)، (التحفة: ٥٤١٢)، مسند احمد (١/ ٢٤٢)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٩٥)

ده دابن عباس نه مروي دي چي په نهم او لسم روژه اونيسئ او ديهوديانو مخالفت اوكړئ، دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه قول ددي حديث سره مطابق دي.

****

٥١_ باب مَا جَاءَ فِي صِيَامِ الْعَشْرِ

دذي الحجي داولني عشري د روژو نيولو بيان

٧٥٦_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَائِمًا فِي الْعَشْرِ قَطُّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَرَوَى الثَّوْرِيُّ وَغَيْرُهُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمْ يُرَ صَائِمًا فِي الْعَشْرِ". وَرَوَى أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَائِشَةَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ الْأَسْوَدِ، وَقَدِ اخْتَلَفُوا عَلَى مَنْصُورٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَرِوَايَةُ الْأَعْمَشِ أَصَحُّ وَأَوْصَلُ إِسْنَادًا. قَالَ: وسَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ أَبَانَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا، يَقُولُ: الْأَعْمَشُ أَحْفَظُ لِإِسْنَادِ إِبْرَاهِيمَ مِنْ مَنْصُورٍ.[1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم دذي الحجي دلسو ورځو په روژو نيولو نه دي ليدلي.

امام ترمذي وائي دا رنګي نورو راويانو دا حديث په سند د الاعمش عن ابراهيم عن الاسود عن عائشه نقل كړي دي، او ثوري وغيره دا حديث په سند د منصور عن ابراهيم النخعي داسي نقل كړي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم مي دذي الحجي په لسو ورځو كي په روژه نيولو نه دي ليدلي، او ابو الاحوص په سند دمنصور عن ابراهيم النخعي عن عائشه روايت نقل كړي دي او په دي كي دهغوئ داسود واسطه نه ده ذكر كړي او بعضي راويانو په دي حديث كي په منصور كي اختلاف كړي دي او داعمش روايت زيات صحيح دي او دسند په اعتبار دټولو نه زيات متصل دي، دوكيع قول دی، اعمش دابراهيم نخعي دسند دمنصور نه زيات زيات ساتونكي دي.

---

1 صحيح مسلم في الاعتكاف ۴ (۱۱۷۶) . سنن ابي داود في الصيام ۶۲ (۲۴۳۹) . سنن ابن ماجه في الصيام ۳۹ (۱۷۲۹) .

(تحفة الأشراف: ۱۵۹۴۹)

تشريح : دذي الحجې دعشري روژې بالاجماع مستحب دي او دعشره ذي الحجه نه مراد دذي الحجې ابتدائي نهه ورځې دي، او لسمه ورځ معاف نه ده ځکه چې دا دلوې اختر ورځ ده او په دې کې روژې نيول حرام دي.

****

۵۲_ باب مَا جَاءَ فِي الْعَمَلِ فِي أَيَّامِ الْعَشْرِ

دذي الحجې په اولنۍ عشره کې دعمل کولو دثواب بيان

۷۵۷_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ مُسْلِمٍ هُوَ الْبَطِينُ وَهُوَ ابْنُ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ الْعَشْرِ " فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ ". وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله علي وسلم فرمائيلي دي دذي الحجې دلسو ورځو په مقابله کې نوري داسي ورځې نشته په کومو کې چې نيک عمل الله ته ددې ورځو نه زيات محبوب وي خلقو عرض اوکړو اې دالله رسوله دالله په لاره کې جهاد کول هم په دې ورځو کې دعمل کولو نه بهتر نه دي؟ رسول الله اوفرمائيل دالله په لاره کې جهاد کول هم په دې ورځو کې دعمل کولو نه بهتر نه دي، مګر علاوه دهغه مجاهد نه چاچه خپل مال او جان دالله په لاره کې حاضر کړي وي او وتلي وي او بيا دهيڅ څيز سره واپس نه وي راغلي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن غريب دي ، او په دې باب کې دابن عمر، ابوهريره، عبدالله بن عمرو بن العاص او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : دروژې په اولنۍ عشره کې رسول الله صلي الله عليه وسلم روژې نيولي دي او کنه دي؟ په دې سلسله کې دروايات و اختلاف دي مګر په دې ورځو کې چې کوم اعمال صالحه

---

1 _ البخاری في العيدين ۱۱ (۹۶۹) . ابی داود في الصيام ۶۱ (۲۴۳۸) . ابن ماجه في الصيام ۳۹ (۱۷۲۷) . (تحفة الأشراف: ۵۶۱۴) . مسند احمد (۱/ ۲۲۴) . سنن الدارمی في الصوم ۵۲ (۱۸۱۳)

اوكړي شي په حديث كي دهغوئ فضيلت راغلي دي او روژي نيول هم يو نيك كار دي پس دا فضلت به روژو ته هم شامل وي.

****

٧٥٨_ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ نَافِعٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مَسْعُودُ بْنُ وَاصِلٍ، عَنْ نَهَّاسِ بْنِ قَهْمٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ، يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ، وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مَسْعُودِ بْنِ وَاصِلٍ، عَنِ النَّهَّاسِ، قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعْرِفْهُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ مِثْلَ هَذَا. وقَالَ: قَدْ رُوِيَ عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا شَيْءٌ مِنْ هَذَا، وَقَدْ تَكَلَّمَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ فِي نَهَّاسِ بْنِ قَهْمٍ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: دذي الحجي دابتدائي دلسو ورځو نه زياته بله كومه ورځ داسي نشته چي دهغي ورځ عبادت الله ته زيات محبوب وي په دي ورځو كي دهري ورځي روژه د ټول كال دروژو سره برابر ده او په دي شپو كي دهري شپي قيام دليلة القدر دقيام سره برابر دي.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي ، دا حديث مونږ ته صرف دمسعود بن واث په سند معلوم دي او مسعود د نهاس نه روايت نقل كړي دي، ما دامام بخاري نه په دي باره كي تپوس اوكړو نو هغه ته دا حديث په كوم بل سند معلوم نه وو او ددي حديث په سندونو كي يو سند كوم چي قتاده نقل كړي دي دادي "قتادة عن سعيد بن المسيب عن النبي صلي الله عليه وسلم" او دا سند مرسل دي، يحي بن سعيد په نهاس بن قهم باندي دهغه دحافظي په اعتبار كلام كړي دي.

****

٥٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي صِيَامِ سِتَّةِ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ

دشوال دشپږو ورځو دروژو دفضيلت بيان

---

1 _ سنن ابن ماجه في الصيام ٣٩ (١٧٢٨) (تحفة الأشراف: ١٣٠٩٨)

٧٥٩ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ فَذَلِكَ صِيَامُ الدَّهْرِ". وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَثَوْبَانَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي أَيُّوبَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدِ اسْتَحَبَّ قَوْمٌ صِيَامَ سِتَّةِ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: هُوَ حَسَنٌ هُوَ مِثْلُ صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ. قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: وَيُرْوَى فِي بَعْضِ الْحَدِيثِ وَيُلْحَقُ هَذَا الصِّيَامُ بِرَمَضَانَ، وَاخْتَارَ ابْنُ الْمُبَارَكِ أَنْ تَكُونَ سِتَّةَ أَيَّامٍ فِي أَوَّلِ الشَّهْرِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ: إِنْ صَامَ سِتَّةَ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ مُتَفَرِّقًا فَهُوَ جَائِزٌ. قَالَ: وَقَدْ رَوَى عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، وَسَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا. وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنْ وَرْقَاءَ بْنِ عُمَرَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، وَسَعْدُ بْنُ سَعِيدٍ هُوَ أَخُو يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، قَالَ: أَخْبَرَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ إِسْرَائِيلَ أَبِي مُوسَى، عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ، قَالَ: كَانَ إِذَا ذُكِرَ عِنْدَهُ صِيَامُ سِتَّةِ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ، فَيَقُولُ: وَاللَّهِ لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ بِصِيَامِ هَذَا الشَّهْرِ عَنِ السَّنَةِ كُلِّهَا. (١)

ترجمه : دابوايوب انصاري رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه درمضان روژی اونيولی او وربسی يی شپږ روژی شوال کي ونيولي داسی ده لکه چي ټول عمريی روژی اونيوی .

امام ترمذي وائي دابو ايوب حديث حسن صحيح دي او عبدالعزيز بن محمد دا حديث په سند د صفوان بن سليم بن سعدن عن عمر بن ثابت عن ابي ايوب عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي ، او شعبه دا حديث په سند د ورخاء بن عمر عن سعيد بن سعيد سره نقل کړي دي، سعد بن سعيد ديحي بن سعيد انصاري ورور دي، بعضي محدثينو دسعد بن سعيد دحافظي په اعتبار کلام کړي دي، دحسن بصري نه روايت دي کله به چي دهغه په وړاندي دشوال دشپږو روژو ذکر اوشو نو فرمائيل به يي په الله قسم الله تعالي ددي مياشتي په روژو تمام کال راضي وي، په دي باب کي دجابر ، ابوهريره، اوثوبان رضي الله عنهم نه هم احاديث

---

1 ـ مسلم في الصيام ٢٩ (١١٦٤) . سنن ابي داود في الصيام ٥٨ (٢٤٣٣) . سنن ابن ماجه في الصيام ٣٣ (١٧١٦) . سنن الدارمي في الصوم ٤٣ (١٧٩٥) . (تحفة الأشراف : ٣٤٨٢)

وارد دي ، او يو جماعت داهل علمو ددي حديث په رنړا كي دشوال شپږ روژي مستحب ګڼړلي دي.

لغات : الدهر: معني اوږده زمانه دعصر مترادف دي.جمع يي دهور راځي.

تشريح : درمضان نه پس دشوال په مياشت كي شپږ روژي نيول دتمام كال دروژو نيولو ثواب لري او دامستحب دي لكه چي نووي ويلي دي، د اشرف علي تهانوي قول دي چي چي د ديرش روژي درمضان اونيسي اوشپږ دشوال شپږ ديرش شوى اودهرى نيكۍ ثواب الله تعالي يو په لس وركوي نو د درى سوه شپيتو روژو ثواب شو اودكال دومره ورځى وي نو دكال دروژو هومره ثواب يى اوشو او چي هر كال داسى كوي، نو دټول عمر دروژو ثواب شو ددى مطلب دانه دى چي كه چا دټول كال روژى اونيوى نو دهغه به ددى نه زيات ثواب نه كيږي دهري نيكۍ ثواب يو په لس دى دهغه خو به دلسو كالو هومره ثواب كيږي.علامه عبد الوهاب شعراني وايي دامام ابو حنيفه او شافعي او احمد په نزد دشوال شپږ روژي مستحب دي ليكن دامام مالك په نزد مستحب نه دي.علامه ظفر احمد عثماني دا عنوان قائم كړي دي استحباب صيام ستة من شوال: يعني باب دي په بيان دشوال دشپږو روژو كښي.
علامه ابن نجيم وائي چي دشوال شپږ روژي دامام ابو حنيفه په نزد جائز دي برابره خبره ده چي مسلسل وي او كه غير مسلسل وي همدارنګي فتوي د دارالعلوم ديوبند او نورو فتاوو هم ده، دمزيد تحقيق دپاره بذل المجهود، او جز المسالك ، فتح الملهم ، مرقات شرح مشكاة وغيره اوګوري.

****

٥٤_ باب مَا جَاءَ فِي صَوْمِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ

٧٦٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ أَبِي الرَّبِيعِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " عَهِدَ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثَةً: أَنْ لاَ أَنَامَ إِلاَّ عَلَى وِتْرٍ، وَصَوْمَ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَأَنْ أُصَلِّيَ الضُّحَى ".(1)

---

1 _ أخرجه البخارى في التهجد ٣٣ (١١٧٨) . والصيام ٦٠ (١٩٨١) . و مسلم في المسافرين ١٣ (٧٢١) . و النسائي في قيام الليل ٣٨ (١٦٧٨) . والصيام ٧٠ (٢٣٦٨) . و٨١ (٢٤٠٣) . (٢ في ٢٢٩، ٢٣٣، ٢٥٤، ٢٥٨، ٢٦٠، ٢٦٥، ٢٧١، ٢٧٧، ٣٢٩) . سنن الدارمى في الصلاة ١٥١ (١٤٩٥) . والصوم ٣٨ (١٧٨٦)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم ددرې څيزونو باره کي وصيت کړی دی اول دا وده کيدو نه مخکي وتر کولو ، هره مياشت کي د درې روژو نيولو (يعني ديارلسم، څوارلسم، پنځلسم، ايام بيض چي ورته وئيلی شي) اودڅاښت دوه رکعته هميشه کولو .

لغات : النوم: معني خوب ، دنائم جمع ده يا اسم جمع ده ، دږجل نوم او نوام نه ډير خوبي سړي مراد وي، نام ينام نوما ونياما معني پرکالي، اوده کيدل، مړ کيدل.

تشريح : الوتر قبل النوم: يعني دپريوتو نه مخکي وتر کول: ابوهريره رضي الله عنه ته دشپي په اول کي دوترو کولو حکم ځکه شوي دي چي هغه به دشپي دناوخته پوري احاديث يادول ددي په وجه به هغه ته دشپي پاڅيدل مشکل وو نو دا حکم ورته په دي وجه اوشو چي چرته ورنه پاتي نشي.

بصيام ثلاثة ايام من كل شهر : په هره مياشت کي دري ورځي روژي نيول دا د دري ورځو روژي کومي روژي دي؟ دبعضي علماؤ په نزد دايام بيض يعني ديارلسم څوارلسم پنځلم تاريخ روژي دي، ليکن بعضي وائي يوه په ابتدائي تاريخونو کي او دويمه په درمياني کي او دريمه په اخري تاريخونو کي ليکن دمحقيقينو رائي داده چي دا حکم مطلق دي هرچاته دا اختيار حاصل دي چي په پوره مياشت کي کله هم اوغواړي نو دري روژي دي اونيسي.

وركعتي الضحي: دڅاخت دوه رکعاتونه دساخت مونځ کم ازکم دوه رکعاته دي او زيات نه زيات دولس رکعاته دي دلته يي ادني درجه بيان شوي ده.

****

٧٦١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ بَسَّامٍ يُحَدِّثُ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا صُمْتَ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَصُمْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ وَأَرْبَعَ عَشْرَةَ وَخَمْسَ عَشْرَةَ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَقُرَّةَ بْنِ إِيَاسٍ الْمُزَنِيِّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي عَقْرَبٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، وَقَتَادَةَ بْنِ مِلْحَانَ، وَعُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، وَجَرِيرٍ.

قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ فِي بَعْضِ الْحَدِيثِ أَنَّ مَنْ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ كَانَ كَمَنْ صَامَ الدَّهْرَ. [1]

ترجمه: دموسي بن طلحه بيان دي چي دابوذر رضي الله عنه نه مي اوريدلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اي ابو ذر كله چي ته دمياشتي دري روژې نيسي نو ديارلسم څوارلسم پنځلسم نيسه.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابوقتاده او عبدالله بن عمرو او قرة بن اياس المزني او عبدالله بن مسعود او ابي عقرب او ابن عباس او عائشه او قتاده بن ملحان او عثمان بن ابي العاص او جرير رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

امام ترمذي وائي دابوذرحديث حسن دي او دبعضي محدثينو نه مروي دي هرچاچه په مياشت كي دري روژي اونيولي دا داسي ده لكه ټول عمر چي روژي نيولي وي.

تشريح: په پورتني حديث كي د ديارلسم او څوارلسم او پنځلسم تاريخونو روژو نيولو بيان دي.

دمياشت په كمو ورځو كي روژي نيول پكار دي

په هره مياشت كي د دري روژو نيولو باره كي چي څومره احاديث وارد دي دا ټول جمع كړي شي نو دولس صورتونه ورنه جوړيږي.

(۱) په غير معين طور سره په ټوله مياشت كي چي كله اوغواړي دري روژي نيول.

(۲) دمياشت په ابتداء كي دري روژي نيول.

(۳) دمياشتي په هره هفته او اتوار او دوشنبي په ورځ روژه نيول.

(۴) په مياشت كي په كوم يو سه شنبه او چارشنبه او زيارت روژه نيول.

(۵) په ايام بيض كي روژي نيول.

(۶) دمياشتي په كوم يو دوشنبي او سه شنبه او چارشنبه روژه نيول.

(۷) دمياشتي په كوم زيارت جمعه او هفته كي روژي نيول.

(۸) اولنئ روژه په دوشنبه نيول او بيا دوه روژي په زيارتونو كي نيول.

(۹) اولنئ روژه دمياشت په شروع كي دزيارت په ورځ او دوه روژي ددوشنبي په ورځ.

(۱۰) ددوشنبي او زيارت او هفتي روژه نيول.

---

[1] ـ النسائي في الصيام ٨٣ (٢٤٢٥) ، (تحفة الأشراف : ١١٩٨٨) وأخرجه: سنن النسائي في الصيام (المصدر المذكور (برقم: ٢٤٢٢٢٤٣١) ، مسند احمد (٥ في ١٥، ٥٢، ١٧٧)

(۱۱) په هره عشره کي يوه روژه نيول.
(۱۲) دمياشت په اخري تاريخونو کي دري روژي نيول.
دشريعت مقصد دادي چي په مياشت کي دري روژي نيول دي په کومو کي چي چاته سهولت وي په هغي کي دي شروع اوکړي ټولي ورځي يو برابر دي او دايام بيض فضيلت زيات دي.

****

٧٦٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَامَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ فَذَلِكَ صِيَامُ الدَّهْرِ". فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ تَصْدِيقَ ذَلِكَ فِي كِتَابِهِ: مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا (الأنعام) الْيَوْمُ بِعَشَرَةِ أَيَّامٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ أَبِي شِمْرٍ، وَأَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه: دابوذر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه هره مياشت دري روژي اونيولي نودده دا روژي صيام الدهر دي او ددي تصديق الله تعالي پخپل کتاب کي نازل کړي دي "من جاء بالحسنة فله عشر امثالها" (انعام ۱٦۰) يعني چاچه يوه نيکي اوکړه هغه ته به کم از کم ددي لس چنده اجر ملاويږي ګويا کي يوه ورځ کم از کم دلسو ورځو سره برابر ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، شعبه دا حديث په سند دابي شمر او ابي التياح عن ابي عثمان عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي.

****

٧٦٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ الرِّشْكِ، قَالَ: سَمِعْتُ مُعَاذَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: "أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قُلْتُ: مِنْ أَيِّهِ كَانَ يَصُومُ، قَالَتْ: كَانَ لَا يُبَالِي مِنْ أَيِّهِ صَامَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

---

1 النسائي في الصيام ٨٢ (٢٣١١)، وابن ماجه في الصيام ٢٩ (١٤٠٨)، (تحفة الأشراف: ١١٩٦٤).

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَيَزِيدُ الرِّشْكُ هُوَ يَزِيدُ الضُّبَعِيُّ وَهُوَ يَزِيدُ بْنُ الْقَاسِمِ وَهُوَ الْقَسَّامُ، وَالرِّشْكُ هُوَ الْقَسَّامُ بِلُغَةِ أَهْلِ الْبَصْرَةِ. (1)

ترجمه: دمعاذه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي دعائشه رضي الله عنها نه مي تپوس اوكړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم هره مياشت دري روژي نيولي؟ نو هغوئ اوونيل هو نيولي به يي ما اووئيل په كومو كومو تاريخونو يي نيولي؟ ويي فرمائيل هغه به ددي خبري څه پرواه نه ساتله چي دا كوم يو تاريخ دي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او يزيد الرشك يزيد ضبعي دي او دده نوم يزيد بن قاسم هم دي او قسام ورته هم وئيلي دي او درشك معني داهل بصره په لغت كي قسام دي.

تشريح: **ددي دريو ورځو نه كمي دري ورځي مراد دي؟**

د دريو ورځو په تعين كي دعلماؤ متعدد اقوال دي.

(۱) دامام مالك په نزد دايام ثلاثه نه مراد مطلقا په مياشت كي دري ورځي دي او تعين يي دخپل طرف نه مكروه دي.

(۲) دحسن بصري په ورځ دايان ثلاثه نه مراد دهري مياشتي ابتدائي ورځي دي.

(۳) دايام ثلاثه نه مراد دهري مياشتي ۱۴، ۱۳، ۱۲ تاريخونه دي.

(۴) ددينه مراد ايام بيض دي، يعني ۱۵، ۱۴، ۱۳.

(۵) دعائشه په نزد ددينه مراد دهري مياشتي اولنئ هفته اتوار او دوشنبه ده او په بله مياشت كي سه شنبه چارشنبه، پنج شنبه دي علي هذا القياس به دا طريقه جاري وي.

(۶) ددينه مراد دهري مياشتي اولنئ زيارت او بيا دوشنبه، او په دي پسي راتلونكي زيارت.

(۷) ددينه مراد دهري مياشتي اولنئ دوشنبه او په دي پسي متصل جمعرات او راتلونكي پير دي.

(۸) دابوالدرداء په نزد ددينه مراد دهري مياشتي اول او لسم او شلم تاريخ دي.

(۹) ددينه مراد دهري عشري اولني ورځ ده يعني ۱، ۱۱، ۲۱، تاريخونه.

(۱۰) دابراهيم نخعي په نزد ددينه مراد دهري مياشتي اخري دري ورځي دي.

دمعاذه عدويه رضي الله عنها حالات.

نوم معاذه دپلار نوم عبدالله كنيه ام الصهباء دخاوند نوم صله بن اشيم دبصري اوسيدونكي

---

1 مسلم في الصيام ۳۶ (۱۱۶۰). سنن ابي داود في الصيام ۵۰ (۲۴۵۳). سنن ابن ماجه في الصيام ۲۹ (۱۷۰۹). (تحفة الأشراف: ۱۷۹۶۶)

وه دمحدثينو په نزد ثقه ده عائشه رضي الله عنها ته به يي تلل راتلل كول همدا وجه ده چي دهغي احاديث يي نقل كړي دي او ډيره زياته عبادت ګذاره وه.

علامه ابن جوزي دحكيم بن سنان نه نقل كړي دي چي ماته ويوي خادمي خبر رارسيدلي دي كومي چي به معاذه عدويه ته تلل راتلل كول چي معاذه عدويه به ټوله شپه په عبادت كي تيروله او چي كله به ورباندي خوب غالب شو نو ځنګيدله به او بيابه يي خپل نفس مخاطب كړو او وئيل به يي: اي نفس خوب خو ستا په وړاندي دي او ستا به دي سره ملاقات وشي بيا به اوده شي دخادمي بيان دي چي معاذه عدويه به دا وئيل او دستركو نه به يي اوښكي رواني وي تردي چي سبا به شو (صفوة الصفوه).

ددي متعلق ابن جوزي ليكلي دي چي تمامه شپه به يي مونځ كولو اوچه كله بـه وربانـدي خـوب غالب شو نو تالي: به يي وهلي او خپل ځان تـه بـه يي وئيـل اي نفسه خوب خـو سـتا پـه وړانـدي دي، ددي دخادمي قول دي چي معاذه عدويه به تلاوت كولو او دستركو نه بـه يي اوښكي تلي او په دي حال كي به يي شپه تيره كړه او چي كله به مابنام شو نو وئيل بـه يي چي همدا شـپه ده په كومه كي چي زه به ددنيا نه رخصتيږم او بيا به يي په سجدو كولو سره سحر كړم.

****

٥٥ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّوْمِ

دروژو دفضيلت بيان

٧٦٤ـ حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مُوسَى الْقَزَّازُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ رَبَّكُمْ يَقُولُ: "كُلُّ حَسَنَةٍ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ. الصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنَ النَّارِ، وَلَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ، وَإِنْ جَهِلَ عَلَى أَحَدِكُمْ جَاهِلٌ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ". وَفِي الْبَابِ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَكَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، وَسَلَامَةَ بْنِ قَيْصَرٍ، وَبَشِيرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَةِ وَاسْمُ بَشِيرٍ زَحْمُ بْنُ مَعْبَدٍ، وَالْخَصَاصِيَةُ هِيَ أُمُّهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

---

[1] ـ أخرجه البخاری في الصوم ٢ (١٨٩٤) ، و٩ (١٩٠٤) ، واللباس ٧٨ (٥٩٢٧) ، والتوحيد ٣٥ (٧٤٩٢) ، و٥٠ (٧٥٣٨) . ومسلم في الصيام ٣٠ (١١٥١) . سنن النسائی في الصيام ٤٢ (٢٢١٦٢٢٢١) ، وابن ماجه في الصيام ١ (١٦٣٨) ، و٢١ (١٦٩١) . موطا

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو رب فرمائي دهري نيكئ بدله دلس چنده نه واخله تر اوه سوه پوري ده، او روژه زما دپاره ده، او خاص زه به ددي بدله ورکوم، روژه دجهنم دپاره ډال دي. او دروژه دار دخولي بوي الله تعالي ته دمشك دخوشبو نه زياته محبوب اوپاکه ده او که چري په تاسو کي څوك جاهل دچاسره دجهالت رويه کوي او دهغه روژه وي نو ورته دي اووائي چي زما روژه ده (يعني زه درته جواب نشم درکولي).

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب کي دمعاذ بن جبل، سهل بن سعد ، کعب بن عجره، سلامه بن قيصر، او بشير بن خصاصيه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او دبشير نوم زحم بن معبد دي او خصاصيه دده دمور نوم دي.

تشريح : والصوم لي وانا اجزي به. يعني روژه زما دپاره او زه به ددي بدله ورکوم، ددي وجه داده په روژه کي چي څومره اخلاص وي دومره په نورو عبادتونو کي نه وي روژه يو داسي عبادت دي چي ددي علم دالله تعالي نه علاوه دبل چاسره نه وي بله داده چي په روژه نيولو کي څومره مشقت وي دومره په نورو عبادتونو کي نه وي ددي تولو وجوهاتو په بنا فرمائيلي شوي دي چي روژه زما دپاره نيولي شي او هم زه به دقيامت په ورځ ددي بدله ورکوم.

بعضي محدثين وايي چي دا لفظ اجزي به دي يعني زه ددي بدله کي ورکوليي شم.

"دروژه دار دخولي خوشبو دمشکو نه زياته ښکولي ده" مطلب دادي چي الله تعالي دروژه دار دخولي بوي دمشکو نه زيات خوښوي يا دا مطلب دي چي دقيامت په ورځ به دروژه دار دخولي نه دمشکو بوي خي. (نووي في شرح مسلم)

****

٧٦٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَبَابًا يُدْعَى الرَّيَّانَ، يُدْعَى لَهُ

امام مالک في الصيام ٢٢ (٥٨) . واحمد (٢ في ٢٣٢، ٢٥٧، ٢٦٦، ٢٧٣، ٣٣٢، ٤٢٥، ٤٧٧، ٤٨٠، ٥٠١، ٥١٠، ٥١٦) . سنن الدارمي في الصوم ٥٠ (١٧٧٧)

الصَّائِمُونَ فَمَنْ كَانَ مِنَ الصَّائِمِينَ دَخَلَهُ وَمَنْ دَخَلَهُ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دسهل بن سعد رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت کي يوه دروازه ده چي ريان ورته وئيلي شي روژه نيونکي به په همدي دروازه جنت ته داخلولي شي ، هر څوك چي په روژه نيونکو کي شامل وي ، دوئ به په همدي به جنت ته داخليږي او هر څوك چي په دي باندي داخل شي هيڅ کله به تږي نشي
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح غريب دي.

تشريح : "الريان يدعي له الصائمون" سيرابئ ته وئيلي شي يعني روژه دارته به دباب الصوم په ځاي دباب الريان نه دعوت ورکولي شي په دي کي ديته اشاره ده چي په دنيا کي روژه دار کومه تنده تيره کړي وه اوس به تاسو هميشه دداسي تندي نه محفوظ يئ.

****

٧٦٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ حِينَ يُفْطِرُ، وَفَرْحَةٌ حِينَ يَلْقَى رَبَّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دروژه دار دپاره دوه خوشحالياني دي يوه خوشحالي دده دروژه ماتي په وخت ده او دويمه خوشحالي به يي هغه وخت وي کله چي دي دخپل رب سره مخامخ شي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح : په دي حديث کي دروژي فضيلت بيان شوي دي او په دي باب کي چي کوم حديث زير بحث دي دا حديث قدسي دي.

1 ابن ماجه في الصيام ۱ (۱٦٤٠) . (تحفة الأشراف : ٤٧٧٤) وأخرجه البخاري في الصوم ٤ (۱۸۹٦) . وبدء الخلق (۳۲۵۷) . و مسلم في الصيام ۳۰ (۱۱۵۲) . مسند احمد (٥ في ۳۳۳ . ۳۳۵)

2 ـ تفرد به المؤلف، وانظر حديث رقم: ٧٦٤ (التحفه: ١٢٧١٩)

فرحتاَن: دروژه دار دپاره دوه خوشحالئ دي يوه د افطارپه وخت كي خكه چي دا د روژي دتكميل وخت وي يا داچه پدي وخت كي دده په زړه كي يو نورانيت وي كوم چي دخوشحالئ سبب وي. اود خپل رب سره ملاقات په وخت كي ځو به ضرور خوشحاليږي چي د خپلي روژي اجر به حاصل كړي.

****

٥٦_ باب مَا جَاءَ فِي صَوْمِ الدَّهْرِ

ټول عمر دروژو نيولو بيان

٧٦٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ غَيْلَانَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ بِمَنْ صَامَ الدَّهْرَ ؟ قَالَ: "لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ أَوْ لَمْ يَصُمْ وَلَمْ يُفْطِرْ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَأَبِي مُوسَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ صِيَامَ الدَّهْرِ وَأَجَازَهُ قَوْمٌ آخَرُونَ، وَقَالُوا: إِنَّمَا يَكُونُ صِيَامُ الدَّهْرِ إِذَا لَمْ يُفْطِرْ يَوْمَ الْفِطْرِ وَيَوْمَ الْأَضْحَى وَأَيَّامَ التَّشْرِيقِ، فَمَنْ أَفْطَرَ هَذِهِ الْأَيَّامَ فَقَدْ خَرَجَ مِنْ حَدِّ الْكَرَاهِيَةِ وَلَا يَكُونُ قَدْ صَامَ الدَّهْرَ كُلَّهُ. هَكَذَا رُوِيَ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ نَحْوًا مِنْ هَذَا، وَقَالَا: لَا يَجِبُ أَنْ يُفْطِرَ أَيَّامًا غَيْرَ هَذِهِ الْخَمْسَةِ الْأَيَّامِ الَّتِي نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهَا، يَوْمِ الْفِطْرِ وَيَوْمِ الْأَضْحَى وَأَيَّامِ التَّشْرِيقِ. (١)

ترجمه : دابوقتاده رضي الله عنه نه مروي دي چي يو كس عرض اوكړو اي دالله رسوله كه څوك صوم الدهر (پوره كال روژي) نيسي نو څه حكم دي؟ رسول الله اوفرمائيل ده خو نه روژه اونيوله او نه يي افطار اوكړو.

امام ترمذي وائي دابوقتاده حديث حسن دي، او په دي باب كي د عبدالله بن عمر، عبدالله بن شخير، عمران بن حصين، او ابوموسي رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، داهل علمو يو جماعت صوم الدهر مكروه ګنړلي دي او بعضي نورو اهل علمو جائز ګرځولي دي دوئ وائي چي صيام الدهر خو به هغه وخت كي وي كله چي څوك دوړوكي اختر او دلوي اختر په

---

١ مسلم في الصيام ٣٦ (١١٦٢) . و ابي داود في الصيام ٥٣ (٢٤٢٥) . و النسائي في الصيام ٤٢ (٢٣٨٣) . و ابن ماجه في الصيام ٣١ (١٧٣٠) . (التحفه: ١٢١١٧) . مسند احمد (٥ في ٢٩٧)

ورخو او دايام تشريق په ورځو هم روژي نيول پري نږدي چاچه په دي ورځ روژي ترک کړي هغه دكراهت دحد نه اووتلو او دي ټول كال روژه نيونكي نشو دامام مالك بن انس نه هم داسي مروي دي او دا دامام شافعي يو قول هم دي ، امام احمد او اسحاق بن راهويه هم داسي وائي ددوئ دواړو قول دي چي په دي پنځو ورځو کي يعني يوم الفطر يوم الاضحي او ايام تشريق کي روژي نيولو نه رسول الله صلي الله عليه وسلم منع فرمائيلي ده او ددينه علاوه په باقي ورځو كي افطار كول واجب نه دي.

تشريح : دري ورځي روژي نيول داسي دي لكه ټول عمر روژي نيول ځكه چي دهرئ نيكئ ثواب لس چنده دي نوپه دي اعتبار د دري ورځو روژو ثواب د ديرشو روژو نيولو سره برابر دي او په دي شان سره به سړي په صائم الدهر كي اوشميرلي شي دا بشارت دكمزورو خلقو دپاره دي ليكن كه څوك صحت مند او طاقتور وي دهغه دپاره صوم داودي بهتر دي چي يوه ورځ به روژه نيسي او يوه ورځ به يي نه نيسي تردي چي دروژو سره عادت هم نشي ځكه چي دعادت كيدو په صورت كي دروژو مشقت نه محسوس كيږي او كله چي يوه ورځ پريږدي او بله ورځ روژه نيسي نو په دي شان سره انسان دروژو سره نه عادت كيږي بلكه په هره دويمه ورځ به روژه كيږي او دروژو مشقت به محسوسوي (لهذا څومره چي مشقت زياتيږي دومره به ثواب هم زياتيږي).

د تمام كال د روژو د نذر منلو بيان

كه چا د يوكال روژو نذر ومنلو نو د دې دوه صورتونه دي:

(۱) يا خودا متعين كړې شو،په دې طريقه چې وې وئيل. ددې كال روژې به نيسم، يا ئې دا متعين نه كړل،مثلاً وې وئيل چې د يوكال روژې به نيسم،كه د متعين يوكال روژو قضاء كړې وى نو په ده به د يوكال روژې لازم وى،خود ،يوم فطر. يوم نحر،اود ايام تشريق،روژو به افطار كوى،او روسته به ددې قضاء راوړى ځكه چې دمتعين يوكال روژو نذر ددې پنځو ورځو روژو هم دي ځكه چې دا پنځه ورځې هم په كال كښې داخل دى،اوكه په دې پنځو ورځو كښې ئې هم روژې اونيولې نو ادا به شى ځكه چې څنګه ئې لازم كړې وې،هغه شان ئې ادا كړې،خو په دې صورت كښې به په دې كس باندې د رمضان قضاء واجب نه وى ځكه چى په دې نذر سره به په رمضان كښې د نذر روژې لازم نه وى ځكه چې په رمضان كښې د رمضان‌نه سوا د بلې روژې ګنجائش نشته.

(۲) اوكه كال ئې متعين نه كړو،بلكه مطلقاً د يوكال روژو نذر ئې اوكړو نو ددې هم دوه صورتونه دى،يا به د تتابع شرط ذكر وى،يا به ذكر نه وى،يعنى يا به ئې دا وئيلى وى چه، زه به د يوكال روژې پرله پسې نيسم، يا به ئې د پرله پسې والى شرط نه وى ذكركړې.كه د

تتابع شرط ئې ذکر کړې وی نوددې حکم به هم هغه وی،کوم حکم چې د معین کال دې ځکه چې پرله پسې د یو کال د روژو نذر کول،ددې پنځو ورځو نه خالي نه دي
خو په دې صورت کښې داخبره ضروري ده چې ددې پنځو روژو قضاء به د نذر روژوسره متصلاً راوړی،یعنی کله چې کال پوره شي نو هم په راروانه ورځ به ددې پنځو روژو قضاء راوړي چې د امکان په اندازه تتابع اوتسلسل موجود شي،ددې پنځو روژو په قضاء کښې د امام زفر او امام شافعي (رحمه الله) اختلاف دې یعنی ددې دواړو په نزدددې پنځو ورځو قضاء واجب نه ده ځکه چې په حدیث "ألا لاتصوموا...ألحدیث" کښې په پنځو ورځوکښې د روژو نیولو نه منع شوې ده نو ددې ورځو نذر هم صحیح نه دي او هرکله چې نذر صحیح نه دي نوددې قضاء به هم واجب نه وی،(۲) خو زمونږ په نزدپه دې ورځوکښې د نذر د صحت وجه،اود پیش کړی حدیث جواب د فصل په ړومبئ مسئله کښې تیر شوې دي هلته کښې ئې اوګورئ، اوکه نه ئې کال متعین کړې دي او نه ئې تابع شرط کړې دي نوپه دې پنځو ورځوکښې به روژې نیولو سره نذر نه اداکیږی،بلکه په ده به د ۳۵ ورځو روژو قضاء راوړل واجب وی،پنځه خو ددې ورځو،او دیرش د رمضان،ددې پنځو روژو قضاء به ځکه واجب وی چې ده په خپل ځان کومې روژې لازم کړی دی،په دې کښې اصل دادی چې دا کامل وی نو ګویا په ده باندې کاملې روژې واجب شوی دی،او په دې ورځوکښې ئې چې کومې پنځه روژې نیولی دی،دا دحدیث په وجه ناقص دی،او قاعده ده،چه "ما وجب کاملاً لا یتأدّی ناقصًا" یعنی کوم شئ چې ،علی سبیل الکمال، واجب وی،هغه په ناقص ادا کولوسره نه اداکیږی نو هرکله چې په دې پنځو ورځوکښې کامل روژې ادا نکړې شوې نو ددې قضاء به واجب وی، ددې په خلاف که ده کال متعین کړې وی،اودې کس په دې پنځو ورځوکښې هم روژې اونیولې نو ادا به وی ځکه چې د کال متعین کولو په وجه چې په دې پنځو ورځو کښې کومې روژې لازم شوی دی،هغه ناقص دی،او ده هم ناقص اداکړی دی،او قاعده ده.چه "ما وجب ناقصًا جاز أن یتأدّی ناقصًا" یعنی کومې روژې چې ناقص واجب شوی دی نودا ناقص ادا کول روا دی.
بهرحال د رمضان د دیرشو ورځو قضاء په دې وجه واجب ده چې هرکله ئې کال متعین نه کړو نو مطلقاً د دولسو میاشتو روژې به لازم وی،اوپه دې دولسومیاشتوکښې رمضان داخل نه دي ځکه چې د رمضان په ورځوکښې دغیر رمضان روژو هیڅ ګنجائش نشته،په دې وجه د نذر روژو دولس میاشتو تعداد پوره کولو دپاره به د رمضان په عوض کښې یوه میاشت. یعنی د دیرشو ورځو روژو قضاء به لازم وی.

****

٥٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي سَرْدِ الصَّوْمِ

دمسلسل روژو نیولو بیان

٧٦٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "كَانَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ: قَدْ صَامَ، وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ: قَدْ أَفْطَرَ" قَالَتْ: "وَمَا صَامَ رَسُولُ اللَّهِ شَهْرًا كَامِلًا إِلَّا رَمَضَانَ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن شقيق بيان دي فرمائي چي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دروژو باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به روژي نيولي تردي پوري چي مونږ به دا ګمان اوكړو چي اوس خو يي ټولي روژي اونيولي او بيا به يي روژي پريخودلي تردي پوري چي مونږ به ګمان اوكړو چي ډيرو ورځو نه يي روژي نه دي نيولي او رسول الله صلي الله عليه وسلم درمضان نه علاوه په بله كومه مياشت كي پوره مياشت روژي نه دي نيولي.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن دي ، او په دي باب كي دانس او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : درسول الله صلي الله عليه وسلم په سيرت طيبه كي صوم الدهر نشته او نه به يي دا خوښولي البته مسلسل روژي نيول دهغه طريقه وه، رسول الله صلي الله عليه وسلم به نفلي روژي شروع كولي او مسلسل به يي نيولي تردي چي خلقو به دا ګمان اوكړو چي اوس به دي هميشه روژي نيسي بيا چي به يي كله روژي پريخودي نو دومره ورځو پوري به يي نه نيولي چي خلقو به خيال اوكړو چي اوس به كله هم روژي نه نيسي.

****

٧٦٩_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ صَوْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كَانَ يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ حَتَّى نَرَى أَنَّهُ لَا يُرِيدُ أَنْ يُفْطِرَ

---

1 مسلم في الصيام ٣٣ (١١٥٦) . سنن النسائي في الصيام ٧٠ (٢٣٥١) . (تحفة الأشراف : ١٦٢٠٢) . وانظر ماتقدم عند المؤلف برقم : ٧٣٤

مِنْهُ، وَيُفْطِرُ حَتَّى نَرَى أَنَّهُ لَا يُرِيدُ أَنْ يَصُومَ مِنْهُ شَيْئًا، وَكُنْتَ لَا تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلَّا رَأَيْتَهُ مُصَلِّيًا وَلَا نَائِمًا إِلَّا رَأَيْتَهُ نَائِمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه باره كي مروي دي چي دده نه تپوس اوكړي شو درسول الله دروژو په باره كي نو هغوئ اوفرمائيل رسول الله به په مياشت كي دومره روژي نيولي چي مونږ به دا ګمان اوكړو چي اوس دهغه دروژو بندولو اراده نشته او كله به يي بغير روژو نيولو دومره ورځي تيري كړي چي مونږ به ګمان اوكړو چي اوس به هډو بالكل روژي نه نيسي او كه دشپي په هره حصه كي تاسو دهغه مونځ ليدل غوښتلي نو تاسو به په مونځ كولو ليدلي وو او چي دشپي په كومه حصه كي تاسو دهغه اوده كيدل ليدل غوښتل نو په اوده كيدو به مو ليدلي وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي

****

٧٧٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مِسْعَرٍ، وَسُفْيَانَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي الْعَبَّاسِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفْضَلُ الصَّوْمِ صَوْمُ أَخِي دَاوُدَ، كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا وَلَا يَفِرُّ إِذَا لَاقَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الْعَبَّاسِ هُوَ الشَّاعِرُ الْمَكِّيُّ الْأَعْمَى وَاسْمُهُ السَّائِبُ بْنُ فَرُّوخَ. قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: أَفْضَلُ الصِّيَامِ أَنْ تَصُومَ يَوْمًا وَتُفْطِرَ يَوْمًا، وَيُقَالُ: هَذَا هُوَ أَشَدُّ الصِّيَامِ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دټولو نه افضل روژي زما د ورور داود عليه السلام روژي دي دهغه به يوه ورځ روژه وه او يوه ورځ به يي بغير دروژي وه او چي كله به يي ددوشمن سره مقابله وه نو د دوشمن نه د تختيدو په حال كي به يي ميدان نه پريخودو.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٨٣)

2 _ أخرجه البخاري في الصوم ٥٧ (١٩٧٧)، و٥٩ (١٩٧٩)، والانبياء ٣٨ (٣٤٢٠)، وفضائل القرآن ٣٤ (٥٠٥٢)، والنكاح ٨٩ (٥١٩٩)، والأدب ٨٣ (٦١٣٤)، سنن ابي داود في الصيام ٥٣ (٢٤٢٧)، ومسلم في الصيام ٣٥ (١١٥٩)، والنسائي في الصيام ٤١ (٢٣٨٠)، و٧٦ (٢٣٩٠-٢٣٩٥)، و٧٧ (٢٣٩٦-٢٣٩٨)، و٧٨ (٢٣٩٩-٢٤٠١)، وابن ماجه في الصيام ٢٨ (١٤٠٦)، و٣١ (١٤١٣)، واحمد ٢ في ١٦٠، ١٦٤، ١٨٨، ١٨٩، ١٩٠، ١٩٤، ١٩٥، ١٩٨، ١٩٩، ٢٠٠، ٢٠٦، ٢١٦، ٢٢٤، ٢٦٥)، سنن الدارمي في الصوم ٣٤ (١٧٩٣).

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي ، دبعضي اهل علمو قول دي په تولو روژو كي افضل روژي دادي چي تاسو يوه ورځ روژه اونيسئ او يوه ورځ يي پريږدئ، او وئيلي شوي دي چي په تولو كي سختي روژي همدا وي.

تشريح : كه څوك صحت مند او طاقتور وي دهغه دپاره صوم داودي بهتر دي چي يوه ورځ به روژه نيسي او يوه ورځ به يي نه نيسي تردي چي دروژو سره عادت هم نشي ځكه چي دعادت كيدو په صورت كي دروژو مشقت نه محسوس كيږي او كله چي يوه ورځ پريږدي او بله ورځ روژه نيسي نو په دي شان سره انسان دروژو سره نه عادت كيږي بلكه په هره دويمه ورځ به روژه كيږي او دروژو مشقت به محسوسوي

****

٥٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّوْمِ يَوْمَ الْفِطْرِ وَيَوْمَ النَّحْرِ

دواړه او دلوي اختر په ورځ دروژي نيولو دكراهت بيان

٧٧١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: شَهِدْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فِي يَوْمِ النَّحْرِ، بَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَنْهَى عَنْ صَوْمِ هَذَيْنِ الْيَوْمَيْنِ أَمَّا يَوْمُ الْفِطْرِ فَفِطْرُكُمْ مِنْ صَوْمِكُمْ وَعِيدٌ لِلْمُسْلِمِينَ، وَأَمَّا يَوْمُ الْأَضْحَى فَكُلُوا مِنْ لُحُومِ نُسُكِكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عُبَيْدٍ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ اسْمُهُ سَعْدٌ وَيُقَالُ لَهُ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ أَيْضًا، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَزْهَرَ هُوَ ابْنُ عَمِّ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ. (1)

ترجمه : دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دمولي(ازاد كړي غلام) ابوعبيده بيان دي فرمائي چي زه دعمر بن الخطاب رضي الله عنه سره په لسم ذي الحجه موجود وم چي هغوئ دخطبي نه مخكي مونځ شروع كړو او بيايي اووئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دي دوو ورځو كي د روژو نيولو نه دممانعت حكم اوريدلي دي. دوړوكي اختر په ورځ خو ځكه

---

1 _ البخاري في الصوم ٦٦ (١٩٩٠) . والأضاحي ١٦ (٥٥٧١) . مسلم في الصيام ٢٢ (١١٣٧) . سنن ابي داود في الصيام ٢٨ (٢٤١٦) . وابن ماجه في الصيام ٣٦ (١٧٢٢) . (تحفة الأشراف : ١٠٦٦٣) . موطا امام مالك في العيدين ٢ (٥) مسند احمد (١ في ٤٠)

چي دا ستاسو دافطار ورځ ده او دمسلمانانو اختردي او دلوي اختر په ورځ څکه چي تاسو دخپلو قربانيانو غوښي اوخوري.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.او ابو عبيد د عبد الرحمن بن عوف ازاد کړی غلام دی او دده نوم سعد دی ، دارنګي مولي عبد الرحمن بن ازهر ورته هم وئيلي شي او عبد الرحمن بن ازهر د عبد الرحمن بن عوف دتره څوي دی.

****

٧٧٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: " نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامَيْنِ يَوْمِ الأَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالَ: وَعَمْرُو بْنُ يَحْيَى هُوَ ابْنُ عُمَارَةَ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ الْمَازِنِيُّ الْمَدَنِيُّ وَهُوَ ثِقَةٌ، رَوَى لَهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَشُعْبَةُ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ.(١)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د دوه روژو نه منع فرمائيلي ده دلوي اختر په ورځ دروژي نيولو نه او دوړوکي اختر په ورځ دروژي نيولو نه.

امام ترمذي وائي دابوسعيد او ددي حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعمر، علي، عائشه، ابوهريره، عقبه بن عامر، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي داهل علمو په همدي باندي عمل دي، عمرو بن يحي دعماره بن الحسن مازني نوم دي او هغه دمديني اوسيدونکي دي او ثقه دي سفيان ثوري، شعبه، او مالك بن انس دده نه اخذ دروايت کړي دي.

تشريح : سوال: که څوك په ځان باندي د اختر دورځي روژه نذر کړي نو ددي څه حکم دی. صورت د مسئلې دا دي که چري يو کس د اختر په ورځ د روژې نيولو نذر ومنلو نو نذر به پوره کوي او کنه ؟

جواب: په دي مسئله کي د فقهاؤ دوه اقوال دي:

---

١ ـ البخاري في الصوم ٦٦ (١٩٩١) . مسلم في الصيام ٢٢ (٨٢٧) . و ابي داود في الصيام ٤٨ (٢٤١٧) . (تحفة الأشراف: ٤٤٠٣) (صحيح) وأخرجه صحيح البخاري في جزاء الصيد ٢٦ (١٨٦٤) . ابن ماجه في الصيام ٣٦ (١٧٢١) . مسند احمد (٣ في ٣٤) . و الدارمي في الصوم ٤٣ (١٧٩٣)

(۱) احناف علماء وايي ده له پکاردی چی په دې ورځ روژه اونه نیسی، بلکه ددې په ځائ دي قضاء راوړي.

، حاصل داچی د ، یوم نحر، د روژې نذرکول، زمونږ په نزدصحیح دی.

(۲) مګر د امام زفر او امام شافعي (رحمه الله) په نزدصحیح نه دی، او هم دا قول د امام مالك او امام احمد (رحمه الله) هم دې.

دامام شافعي او امام زفر دلیل دادې چی . یوم فطر، یوم نحر، او درې ورځې د ایام تشریق، په دې پنځو ورځوکښې روژه نیول، په شریعت کښې منع دی . د رسول الله صلي الله علیه وسلم ارشاد دې:

"ألا لاتصوموا فی هذه الایام فإنها أیام أکل وشرب وبعال"

خبرشئ، په دې ورځوکښې روژه مه نیسئ ځکه چی دا ورځې د خوراك څکاك اود مباشرت دی، بهرحال د رسول الله صلي الله علیه وسلم د منع کولو په وجه په دې ورځوکښې د روژې نیولو نذرکول، د معصیت نذر دي اود معصیت نذرکول، صحیح نه دی ځکه چی د رسول الله صلي الله علیه وسلم ارشاد دې:

"لانذر فی معصیة الله"

په کوم کارکښې چی د الله تعالی معصیت کیږی، دهغې نذر صحیح نه دي نو ثابته شوه چی په دې ورځوکښې د روژې نیولو نذرکول، صحیح نه دی،

زمونږ دلیل دادې چی د یوم نحر روژه د خپل ذات په اعتبارسره مشروع ده، خو، منهی عنه لغیره، ده، یعنی د یو داسې څیز په وجه په دې دوارو کښې دننه د روژې نیولو نه منع شوې ده چی ددې په ذات کښې داخل نه دي هغه څیز د الله تعالی د دعوت نه مخ اړول دی. یعنی په دې دوارو کښې الله تعالی د خپلو بندګانو ضیافت کوی، اوس که چرې یو کس په دې ورځوکښې روژه نیسی، نو ګویا ده د الله تعالی د دعوت نه اعراض اوکړو، اود الله تعالی د دعوت نه اعراض کول، ډیره بده خبره ده، بهرحال په دې پنځو ورځوکښې روژه نیول، د خپل ذات په اعتبار سره مشروع دی، اګرچی د وصف په اعتبارسره معصیت او غیرمشروع دی، خو ددې باوجود چی نذر صحیح دي په دې ورځ به روژه نه نیسی چی ددې معصیت اوګناه نه بچ شی، کومه د الله تعالی د دعوت نه د اعراض کولو په وجه روژې سره متصل شوې ده، خود نذر په وجه چی کومه روژه واجب شوې ده، دهغې د اداکولودپاره قضاء واجب ده، اوکه د ممنوع کیدلو باوجود ئې په ، یوم نحر، کښې روژه اونیوله نو نذر به پوره شی ځکه چی د څنګه روژې التزام ئې کړې وو، هم هغه شان روژه ده ادا کړه، یعنی په ، یوم نحر، کښې د روژې نیولو د نذر په وجه چی کومه روژه په ده باندې واجب شوې ده، هغه ناقصه ده، او ده هم ناقص اداکړه نو څنګه چی واجب وه، هم هغه شان ئې ادا کړه، په دې وجه نذر پوره شو.

****

٥٩_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّوْمِ فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ

په ايام تشريق کي دروژو نيولو دکراهيت بيان

٧٧٣_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ عِيدُنَا أَهْلَ الإِسْلَامِ، وَهِيَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَسَعْدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ، وَنُبَيْشَةَ، وَبِشْرِ بْنِ سُحَيْمٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُذَافَةَ، وَأَنَسٍ، وَحَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الأَسْلَمِيِّ، وَكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، وَعَائِشَةَ، وَعَمْرِو بْنِ العَاصِ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ يَكْرَهُونَ الصِّيَامَ أَيَّامَ التَّشْرِيقِ، إِلَّا أَنَّ قَوْمًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ رَخَّصُوا لِلْمُتَمَتِّعِ إِذَا لَمْ يَجِدْ هَدْيًا وَلَمْ يَصُمْ فِي العَشْرِ أَنْ يَصُومَ أَيَّامَ التَّشْرِيقِ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَهْلُ العِرَاقِ يَقُولُونَ: مُوسَى بْنُ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ، وَأَهْلُ مِصْرَ يَقُولُونَ: مُوسَى بْنُ عُلَيٍّ، وقَالَ: سَمِعْت قُتَيْبَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ اللَّيْثَ بْنَ سَعْدٍ، يَقُولُ: قَالَ مُوسَى بْنُ عَلِيٍّ: لَا أَجْعَلُ أَحَدًا فِي حِلٍّ صَغَّرَ اسْمَ أَبِي.[1]

ترجمه : دعقبه بن عامر رضي الله عنه بيان دي رسول الله سلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دعرفي ورځ او دلوي اختر ورځ او ايام تشريق زمونږ يعني دمسلمانانو داختر ورځ او دا دخوراک څښاک ورځي دي.

امام ترمذي وائي دعقبه بن عامر حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دعلي، سعد ، ابوهريره، جابر، نبيشه ، بشر بن سهيم، عبدالله بن حذافه ، انس، حمزه بن عمرو اسلمي، کعب بن مالک، عائشه، عمروبن العاص او عبدالله بن عمررضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي دوئ په ايام تشريق کي روژي نيول ممنوع ګڼري البته دصحابه کرامو يو جماعت حج تمتع کونکي لره ددي اجازت ورکړي دي چي کله هغه هديه بيانه مومي او دذي الحجي په ابتدائي لسو ورخو کي يي روژي نه وي نيولي او بيا دا په

[1] ـ ابي داود / الصيام ٤٩ (٢٤١٩) . سنن النسائي في المناسك ١٩٥ (٣٠٠٤) . (تحفة الأشراف : ٩٩٣١) . سنن الدارمي / الصوم ٤٧ (١٨٠٥)

ايام تشريق كي اونيسي، مالك بن انس، شافعي، احمد او اسحاق بن راهويه هم ددي قائل دي

****

٦٠ـ بَاب كَرَاهِيَةِ الْحِجَامَةِ لِلصَّائِمِ

دروژه دار دپاره دښكر لګولو دكراهت بيان

٧٧٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، وَمُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ النَّيْسَابُورِيُّ، ومحمود بن غيلان، ويحيى بن موسى، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَارِظٍ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَاب عَنْ عَلِيٍّ، وَسَعْدٍ، وَشَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، وَثَوْبَانَ، وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، وَعَائِشَةَ، وَمَعْقِلِ بْنِ سِنَانٍ وَيُقَالُ ابْنُ يَسَارٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَبِلَالٍ، وَسَعْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَذُكِرَ عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، أَنَّهُ قَالَ: أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَاب حَدِيثُ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَذُكِرَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ قَالَ: أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَاب حَدِيثُ ثَوْبَانَ، وَشَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، لِأَنَّ يَحْيَى بْنَ أَبِي كَثِيرٍ رَوَى عَنْ أَبِي قِلَابَةَ الْحَدِيثَيْنِ جَمِيعًا، حَدِيثَ ثَوْبَانَ، وَحَدِيثَ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ. وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمُ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ، حَتَّى أَنَّ بَعْضَ أَصْحَابِ النَّبِيِّ احْتَجَمَ بِاللَّيْلِ، مِنْهُمْ أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ، وَابْنُ عُمَرَ، وَبِهَذَا يَقُولُ ابْنُ الْمُبَارَكِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْت إِسْحَاق بْنَ مَنْصُورٍ، يَقُولُ: قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ: مَنِ احْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ، قَالَ إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ: وَهَكَذَا قَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. حَدَّثَنَا الزَّعْفَرَانِيُّ، قَالَ: وقَالَ الشَّافِعِيُّ: قَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَنَّهُ احْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ " وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: " أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ " وَلَا أَعْلَمُ وَاحِدًا مِنْ هَذَيْنِ الْحَدِيثَيْنِ ثَابِتًا، وَلَوْ تَوَقَّى رَجُلٌ الْحِجَامَةَ وَهُوَ صَائِمٌ كَانَ أَحَبَّ إِلَيَّ، وَلَوِ احْتَجَمَ صَائِمٌ لَمْ أَرَ ذَلِكَ أَنْ يُفْطِرَهُ.

قَالَ أَبُو عِيسَى: هٰكَذَا كَانَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ بِبَغْدَادَ، وَأَمَّا بِمِصْرَ فَمَالَ إِلَى الرُّخْصَةِ وَلَمْ يَرَ بِالْحِجَامَةِ لِلصَّائِمِ بَأْسًا، وَاحْتَجَّ بِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ مُحْرِمٌ صَائِمٌ.(1)

ترجمه : درافع بن خديج رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دښکر لګونکي او چاته چي ښکر لګولي شي د دواړو روژه باقي نه پاتي کيږي يعني روژه يي ماته شوه.

امام ترمذي وائي درافع بن خديج حديث حسن صحيح دي ، امام احمد بن حنبل وائي چي په دي باب کي دټولو نه صحيح روايت درافع بن خديج دي ، علي بن عبدالله ابن المديني وائي چي په دي باب کي دټولو نه زيات صحيح دثوبان او شداد بن اوس حديثونه دي ځکه چي يحي بن ابي کثير دابو قلابه نه د ثوبان اوشداد بن اوس داحاديثو يو جماعت روايت کړي دي. په دي باب کي د علي ، سعد ، شداد بن اوس، ثوبان، اسامه بن زيد، عائشه، معقل بن سنان، ابوهريره ، ابن عباس، ابوموسي ، بلال، او سعد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. په صحابه کرامو وغيره کي بعضي اهل علمو دروژه دار دپاره ښکرلګول مکروه ګڼړلي دي تردي پوري چي بعضي صحابه کرامو به دشپي ښکر لګولو په دوئ کي ابو موسي اشعري او ابن عمر هم دي، امام ابن مبارك هم دا وائي ، عبدالرحمن بن مهدي وائي چاچه دروژي په حالت کي ښکر اولګولو په هغه باندي ددي روژي قضاء لازم ده، اسحاق بن منشور وائي دا رنګي احمد او اسحاق بن راهويه هم وائي، مګر دامام شافعي قول دادي چي درسول الله نه دا هم مروي دي چي دروژي په حالت کي يي ښکر لګولي وو او دا هم مروي دي چي رسول الله به دروژي په حالت کي دښکر لګولو نه اجتناب کولو او که څوك ددينه ځان اوساتي دا به بهتر وي زه دا ګمان نه کوم چي څوك ښکر اولګوي او دهغه روژه دي ماته شي. په بغداد کي دشافعي هم دا قول دي چي په دي باندي روژه ماتيږي مګر په مصر کي رخصت طرف ته مائل شو بيا به يي دروژه دار په ښکر لګولو کي څه حرج نه ليدلو ددي دليل دادي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم په حجة الوداع کي داحرام په حالت کي ښکر لګولي دي

****

٦١_ بَابُ مَا جَاءَ مِنَ الرُّخْصَةِ فِي ذٰلِكَ

دروژه داردپاره دښکر لګولو درخصت بيان

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٥٥٦)

٧٧٥ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ صَائِمٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. هَكَذَا رَوَى وُهَيْبٌ نَحْوَ رِوَايَةِ عَبْدِ الْوَارِثِ، وَرَوَى إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ مُرْسَلًا وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ښکر اولګولو او هغه محرم وو او روژه يي نيولي وه.

امام ترمذي وائي دا حديث صحيح دي، دارنګي وهيب هم دعبدالوارث پشان روايت نقل کړي دي، اسماعيل بن ابراهيم بن عليه هم دايوب نه او ايوب دعکرمه نه مرسل نقل کړي دي او عکرمه په دي کي دابن عباس ذکر نه دي کړي.

****

٧٧٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ښکر اولګولو او هغه محرم وو او روژه يي نيولي وه.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي ددي سند په اعتبار.

تخريج : البخاری في الصوم ٣٢ (١٩٣٨)، والطب ١٢ (٥٦٩٥)، ابی داود في الصيام ٢٩

****

٧٧٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ فِيمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ وَهُوَ مُحْرِمٌ صَائِمٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَجَابِرٍ، وأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ

---

1 ـ البخاری في الصوم ٣٢ (١٩٣٨)، والطب ١٢ (٥٦٩٥)، ابی داود في الصيام ٢٩

2 ـ البخاری في الصوم ٣٢ (١٩٣٨)، والطب ١٢ (٥٦٩٥)، ابی داود في الصيام ٢٩

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، وَلَمْ يَرَوْا بِالْحِجَامَةِ لِلصَّائِمِ بَأْسًا، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيِّ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ښكر اولګولو او دي وخت كي رسول الله دمكي مديني په مينځ كي وو چي احرام يي تړلي وو او روژه يي نيولي وه.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوسعيد خدري، جابر او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي. په صحابه كرامو او اهل علمو كي يو جماعت د طرف ته مائل شوي دي او هغوئ دروژه دار په ښكر لګولو كي څه قباحت نه ګڼري، دسفيان ثوري مالك بن انس او امام شافعي هم دا قول دي.

تشريح : كه چري يوكس په حالت د روژې كښې ښكر اولګولو،نو دده روژه ماته شوه او كنه؟ په دي مسئله كي د فقهاؤ دوه مذاهب دي:

د احنافو په نزد د ښكر په لګولو روژه نه ماتيږي او د امام شافعي او امام اوزاعي په نزد ماتيږي فقهاؤ ددي ډير صورتونه بيان كړي دي مثلا:

كه چري يوكس په حالت د روژې كښې ښكر اولګولو،او بيا ئې دا ګمان اوكړو چې ښكر لګول روژه فاسده وي،په دې وجه ښكر لګولوسره روژه فاسد شوه،او هركله چې روژه فاسد شوه نو ده په قصد سره خوراك څكاك اوكړو نو په دې صورت كښې به په ده باندې قضاء اوكفاره دواړه واجب وي، ځكه دده دا ګمان چې ښكر لګول د روژې مفسد دى،هيڅ شرعى دليل طرف ته منسوب نه دي بلكه دليل شرعى خو عدم فساد دي ځكه چې احتجام (ښكرلګول) د رګونو نه د وينو په وتلوكښې د ،فصد، (رګ نه وينه اخستل) په شان دي او ،فصد،مفسد د صوم نه دي نو ښكر لګول به هم مفسد د صوم نه وى،بهرحال هركله چې دده په ګمان باندې هيڅ شرعى دليل موجود نه دي نو د صوم د فساد شبه هم نه پيدا كيږى،او هركله چې شبه پيدا نشوه نوكفاره به نه ساقطيږى ځكه چې كفاره په شبهاتو نه پس ساقطيږى.

---

[1] ـ البخاري في الصوم ٣٢ (١٩٣٨) . والطب ١٢ (٥٦٩٥) . ابي داود في الصيام ٢٩

خوكه دې ښکر لګونکی ته د روژې فاسدولو فتویٰ یو داسې فقیه ورکړې وی چې دده په فتویٰ باندې خلق اعتماد کوی،بیا ده په قصدسره څه خوراك څکاك اوکړو نو په ده به کفاره واجب نه وی ځکه چې فتوی دده په حق کښې دلیل شرعی دي نو ددې فتوی په وجه په ښکر لګولوسره دده روژه فاسد شوه،ددې نه پس چې کله ده په قصد خوراك څکاك اوکړو نودې روژه دار نه وو،بلکه بې روژې وو،اود روژې دنه کیدلوپه حالت کښې په رمضان کښې قصداً په خوراك څکاك سره کفاره نه واجبیږی،بلکه صرف قضاء واجبیږی.

اوکه ښکر لګونکی روژه دار ته دا حدیث اورسیدلو چې "افطر الحاجم والمحجوم" یعنی ښکر لګونکی.او لګولو والا د دواړو روژه ماته شوه. او بیا نې په دې حدیث باندې اعتماد هم اوکړو نو د امام محمد (رحمه الله) په نزدپه دې صورت کښې هم دا حکم دې چې په ده باندې کفاره واجب نه ده ځکه چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمان د مفتی د قول نه په کمه درجه کښې نه دي حالانکه د مفتی په قول باندې اعتماد کولو په حال کي کفاره واجب نه وه نو په حدیث شریف باندې په اعتماد سره به په درجه اولی کفاره واجب نه وی.
او امام ابویوسف رحمه الله فرمائی چې په دې صورت کښې به کفاره نه ساقطیږی ځکه چې په عوام الناس باندې صرف د فقهاؤ تابعداری لازم ده ځکه چې دوی له د احادیثو پیژندګلو حاصلول ناممکن دی،په دې طریقه چې یوحدیث په خپل ظاهر باندې نه وی،یا منسوخ شوې وی نودا خبرې یوعام کس څنګه پیژندلې شی نود عام کس په حق کښې د یومفتی فتویٰ ورکول،خوشرعی حجت دي خو حدیث به ددوی په حق کښې حجت نه وی نو هرکله چې د عام کس په حق کښې حدیث شرعیٰ دلیل نه دي نوښکر لګول به هم د صوم د فساد شبه نه پیداکوی،او هرکله چې د صوم د فساد شبه پاتې نشوه نو کفاره به هم نه ساقطیږی.

صاحب د هدایه فرمائی،که ښکر لګونکې ته دا حدیث اورسیدلو.اوده ته ددې حدیث تاویل هم معلوم شو،اوهغه دادې چې ښکرلګونکې.او لګولو والا دواړو به د یوبل غیبت کولویوځل نبی کریم صلي الله علیه وسلم دې دواړو سره تیر شو نو ویې فرمائیل "أفطرالحاجم والمحجوم" یعنی د غیبت کولو په وجه ددې دواړو د روژې ثواب ختم شو،راوی اوګنړل چې نبی کریم صلي الله علیه وسلم د ښکرلګولو په وجه داسې فرمائیلی دی نو ده د خپل سوچ موافق روایت اوکړو،او وې وئیل چې په ښکرلګولوسره روژه فاسدیږی، دویم تاویل دادې چې یوځل ښکر لګولو والابې هوشه شو نو ښکر لګونکی دده په حلق کښې اوبه واچولې،حالانکه دده روژه وه نونبی کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل: "أفطر الحاجم والمحجوم" یعنی ښکرلګونکی،د ښکر لګولو والا په حلق کښې اوبه واچولې نودده روژه نې فاسد کړه،راوی اوګنړل چې نبی کریم صلي الله علیه وسلم :

"أفطر الحاجم والمحجوم "-يعنى په حديث كښې : الحاجم . فاعل او . : والمحجوم" مفعول دي راوى اوګڼړل چى دواړه د عطف په طريقه فاعل دى. دريم تاويل دادې چى دا حديث منسوخ دي بهرحال ښكر لګونكى ته كه ددې حديث تاويل معلوم وى نود ښكرلګولو نه پس قصداً په خوراك څكاك سره به يقيناً كفاره واجب وى ځكه چى د حديث تاويل معلوميدلو نه پس به په دې حديث سره دروژې فاسد كيدلو شبه نه وى.او هركله چى په ښكر لګولوسره د روژه فاسد كيدلو شبه نه وى نوكفاره به هم ساقط نه وى.

ليكن شوافع اعتراض كوي چي د اهل علمو اختلاف هم شبه پيدا كوى.اود امام اوزاعى قول هم دادى چى په ښكر لګولوسره روژه فاسديږى نو ددې شبه په وجه كفاره ساقط كيدل پكار دى.ددې جواب دادې چى د امام اوزاعى قول شبه نه پيدا كوى ځكه چى د امام اوزاعى قول د قياس مخالف دي ځكه چى قياس خو دادې "أن الفطر مما يدخل لا مما يخرج" يعنى كوم څيز چى په خيټه كښې داخليږى.په هغې سره روژه فاسديږى.او كوم څيزچى بهر راوځى.په هغې سره روژه نه فاسديږى.او په ښكر لګولوسره وينه د رګونو نه بهر راوځى.دننه څه څيز نه داخليږى نو قياس هم دا تقاضا كوى چى په ښكر لګولوسره روژه فاسد نشى.او امام اوزاعى د فاسد كيدلو قائل دي نو ددوى قول د قياس مخالف شو.او شبه به هغه وخت وې چى كله ددوى قول د قياس موافق وې نو هركله چى د امام اوزاعى په قول د صوم د فساد شبه نه پيداكيږى نو كفاره به نه ساقطيږى.

زمونږ دليل دادې: "أنه صلى الله عليه وسلم إحتجم وهو صائم"

دويم روايت دادې: "أنه صلى الله عليه وسلم إحتجم وهو محرم وصائم بين مكة والمدينة" په دې رواياتو كښې به تعارض په وجه هيڅ نه ثابتيږى.اوس به قياس طرف ته رجوع كوو.او قياس دادې چى په ښكر لګولوسره روژه فاسد نشى ځكه چى روژه په «دخول شئ فى البطن» سره فاسديږى.په خروج د شئ سره نه فاسديږى. (العنايه على الهدايه)

****

٦٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْوِصَالِ لِلصَّائِمِ

دمسلمان دپاره مسلسل روژې نيول مكروه دي

٧٧٨_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، وَخَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُوَاصِلُوا"، قَالُوا: فَإِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "إِنِّي لَسْتُ كَأَحَدِكُمْ، إِنَّ رَبِّي يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِي". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي

هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَبَشِيرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا الْوِصَالَ فِي الصِّيَامِ. وَرُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ كَانَ يُوَاصِلُ الْأَيَّامَ وَلَا يُفْطِرُ. [1]

ترجمه : د انس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مسلسل روژي مه نيسئ هغوئ عرض اوکړو تاسو خو خپله مسلسل روژی نیسئ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه ستاسو په شان نه يم په ما باندي خپل رب راباندي خوروي او څکوي.

امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي، ابوهريره، عائشه. ابن عمر، جابر ، ابو سعيد خدري، بشر بن خصاصيه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او په همدي داهل علمو عمل دي او هغوئ بغير دافطار کولو نه مسلسل روژي نيول مکروه ګڼړي، دعبدالله بن زبير رضي الله عنهما نه مروي دي چي هغه به يو څو ورځي يوځاي کولي او افطار به يي نه کولو يعني تسلسل به يي اختيارولو.

لغات: الوصال : دوصل وصلا ضرب نه په معني دپيوند او متصل کولودي.

تشريح : يعني رسول الله دمسلسل روژو تيولو نه منع کړي ده داسي چي نه په مينځ کي ناغه کوي او نه پيشمني کوي او نه افطار يعني شپه او ورځ مسلسل روژي دي اونه نيولي شي ځکه چي رسول الله اسان دين راوړي دي او په دي کي خو مشقت زياتيږي، دامام شافعي او مالك او ابو حنيفه په نزد داسي روژي نيول مکروه دي.

" يطعمني ربي ويسقيني" يعني ماته زما رب خوراك څښاك راكوي په دي كي متعدد اقوال دي مثلا الله تعالي حقيقتا خوراك څښاك وركوي مګر دبعضو په نزد ددينه مراد دقوت پيدا كول دي چي الله تعالي يي بغير دخوراك نه په دي كي پيدا كوي ، دابن قيم خيال دادي چي الله تعالي ماله په انوارو مشاهده كي مشغول ساتي په كوم كي چي زه دخوراك او څښاك نه بي پرواه يم او روحاني غذا راته ملاويږي په داسي وخت كي جسماني غذا ته ضرورت نه پاتي كيږي.

****

٦٣ ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْجُنُبِ يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ وَهُوَ يُرِيدُ الصَّوْمَ

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢١٥)

که په جنب با ندي سحر شي او روژه نيول غواړي نو دده باره کي به حکم دي

۷۷۹_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، قَالَ: أَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ، وَأُمُّ سَلَمَةَ زَوْجَا النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ " يُدْرِكُهُ الفَجْرُ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ أَهْلِهِ، ثُمَّ يَغْتَسِلُ فَيَصُومُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. وَقَدْ قَالَ قَوْمٌ مِنَ التَّابِعِينَ: إِذَا أَصْبَحَ جُنُبًا يَقْضِي ذَلِكَ اليَوْمَ، وَالقَوْلُ الأَوَّلُ أَصَحُّ. (۱)

ترجمه : عائشی رضي الله عنها نه روايت د ی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم باندي به صبا شو په داسی حال کي چي هغوئ باندی به غسل فرض وو دکور والي په وجه بيابه يی دصباکيدو نه پس غسل اوکړو او روژه به يی اونيوله

امام ترمذي وائي دعائشه او دام سلمه حديث حسن صحيح دي دصحابه کرامو او دهغوئ نه پس په اهل علمو کي داکثرو هم دا قول دي، سفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول کړي دي، او دتابعينو يو جماعت وائي کله چي په چا باندي دجنابت په حالت کي سبا شي نو دي به ددي ورځي قضاء راوړي ليکن اولني قول زيات صحيح دي

لغات يدرکه: ادرك الشيء ، پخپل وخت رسيدل ادرك يدرك ادراك دباب افعال نه معني دکوم څيز موندل.

تشريح : وهو جنب من اهله : يعني هغه جنب وو ، علماء وائي که چاته جنابت لاحق شي نو ضروري نه ده چي دسبا کيدو نه مخکي دي غسل اوکړي په همدي حالت کي دي دروژي نيت اوکړي او بيا دي وروسته غسل اوکړي په دي باندي دڅلورو واړو مذهبونو اتفاق دي ليکن دابراهيم نخعي او بعضي علماؤ رايه داده چي جنب په جنابت کي روژه نشي نيولي اول به ځان پاکوي بيابه دروژي نيت کوي

****

۱ _ البخاری في الصوم ۲۲ (۱۹۲۶) . صحيح مسلم في الصيام ۱۲ (۱۱۰۹) . سنن ابی داود في الصيام ۳۶ (۲۳۸۸) . (تحفة الأشراف : ۱۷۶۹۲) . موطا امام مالك في الصيام ۳ (۱۲) . مسند احمد (۶ في ۳۸ . وسنن الدارمي في الصوم ۲۲ (۱۷۶۶)

٦٤_ باب مَا جَاءَ فِي إِجَابَةِ الصَّائِمِ الدَّعْوَةَ

دروژه دار دپاره د دعوت قبلولو بيان

٧٨٠_ حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ مَرْوَانَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَوَاءٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ، فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ". يَعْنِي الدُّعَاءَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي چاته دخوراك دعوت وركړي شي نو دا دي قبول كړي او كه روژه يي وي نو كه زړه يي غواړي كوربه ته دي دعا اوكړي.

تشريح : ددعوت قبلولو فضائل اونه قبلولو باندي وعيد :

څوك چي ددعوت قبلولو نه انكار كوي هغه دالله او رسول نافرمانه دى (مسلم)

مروي دي چي څوك دوليمي دعوت نه قبلوي هغه گنهگاريږي ليكن صرف دهغي وليمي مذمت راغلي دي په كومه كي چي صرف مالدارانو ته دعوت وركولي شي او غريبان پريخودي شي.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه زه چا دبيزي يوي خپئ (سوئ) ته اوبللم نو دعوت به يي قبول كړم (بخاري).

علماء وائي په دي روايت كي درسول الله دتواضع او سادگئ او انكسارئ بيان دي څكه چي خپي او سر په غوښه كي ډير كم قيمت څيز وي مطلب دادي چي دمعمولي څيز دعوت راته راكړي شي نو هم ورته ورځم . په دي كي ديته هم اشاره اوشوه چي يو كس دي دبل دتاليف قلب خيال اوساتي يو سړي غريب وي ډير څه نه شي كولي نو كه دهغه سره هر څه وي دهغي قبلول پكار دي ددي دپاره چي دده تاليف قلب اوشي او په احساس كم ترئ كي مبتلا نشي.

****

---

1 أخرجه: مسلم في الصيام ٢٨ (١١٥٠) . سنن ابي داود في الصيام ٧٥ (٢٤٦٠) . سنن ابن ماجه في الصيام ٤٠ (١٧٥٠) . مسند احمد (٢ في ٢٤٢) . سنن الدارمي في الصيام ٣١ (١٧٤٨)

٧٨١_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَكِلَا الْحَدِيثَيْنِ فِي هَذَا الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كوي چي فرمائيلي يي وو كله چي په تاسو كي يو كس ته دعوت وركړي شي او دهغه روژه وي نو دعوت وركونكي ته دي داسي اووائي "زه روژه دار يم" امام ترمذي وائي دا دواړه حديثونه په دي باب كي دابوهريره نه په حسن صحيح سند مروي دي

****

٦٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ صَوْمِ الْمَرْأَةِ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا

دخاوند داجازت نه بغير دښځو دپاره د نفلي روژو نيولو دكراهت بيان

٧٨٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَنَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَصُومُ الْمَرْأَةُ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ يَوْمًا مِنْ غَيْرِ شَهْرِ رَمَضَانَ إِلَّا بِإِذْنِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (٢)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي د يوي ښځي دپاره جائز نه دي چي خاوند يى په كور وي او بى دهغه داجازت نه نفلي روژه اونيسي مګر علاوه د رمضان د روژو نه.

امام ترمذي وائي دابو هريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عباس او دابوسعيد خدري رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي

---

1 _ أخرجه: صحيح مسلم في الصيام ٢٨ (١١٥٠). سنن ابي داود في الصيام ٧٥ (٢٤٦٠). سنن ابن ماجه في الصيام ٤٢ (١٧٥٠). مسند احمد (٢ في ٢٤٢). سنن الدارمي في الصيام ٣١ (١٧٤٨)

2 _ ابن ماجه في الصيام ٥٣ (١٧٦١). (بدون ذكر رمضان). سنن الدارمي في الصوم ٢٠ (١٧٦١). (تحفة الأشراف: ١٣٦٨٠). مسند احمد (٢ في ٢٤٥، ٣٦٣)

لغات: اذن اذنا دسمع نه معني غوږ ایښودلو او اجازت ورکولو ته وئیلي شي.

تشریح : **د نفلي روژي نه نیولو وجه**

یعني دښځي دپاره دخاوند داجازت نه بغیر روژي نیول جائز ندي، علماؤ ددینه نفلي روژي مراد کړي دي.

په بل روایت کي راځي "ومن حق الزوج علي زوجته ان لاتصوم تطوعاً الا بأذنه وان فعلت لم يقبل".

امام نووي وايي چي خاوند هر وخت دښځي دفائدي اخستلو حق هر وخت لري نو که ښځه دخاوند داجازت نه بغیر روجي نیسي نودخاوند د حق فوت کولو په وجه به دا روژه قبوله نوي شاهد، شاهد په معني دحاضر دي نووي وايي چي که خاوند غائب وي نو بیا باك نشته.

دلته معلومه شوه چي دښځي دپاره پداسي نوافلو کي مشغولیدل درست ندي کوم چي خاوند لره دخپل حق نه منع کوي ، اوکه دخاوند داجازت نه بغیر وي نو خاوند یي وربانديي ماتولي هم شي، دا هم معلومه شوه چي د نفلو نه دخاوند حق مقدم دي ، نزهة المتقين والا ددي دا وجه بیان کړي ده چي دخاوند په حق کي دعزت او عظمت او عصمت حفاظت دي ځکه په نفلو مقدم دي

****

٦٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي تَأْخِيرِ قَضَاءِ رَمَضَانَ

دتاخیر سره د رمضان دقضاء راوړلو بیان

٧٨٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ السُّدِّيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ الْبَهِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَا كُنْتُ أَقْضِي مَا يَكُونُ عَلَيَّ مِنْ رَمَضَانَ إِلَّا فِي شَعْبَانَ حَتَّى تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَقَدْ رَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَ هَذَا. [1]

---

[1] ـ مسند احمد (٦ في ١٢٤، ١٣١، ١٧٠) . وأخرجه صحيح البخاري في في الصوم ٤٠ (١٩٥٠) . صحيح مسلم في الصوم ٢٦ (١١٤٦) . سنن ابي داود في الصيام ٤٠ (٢٣٩٩) . سنن النسائي في الصيام ٦٣ (٢٣٢١) . سنن ابن ماجه في الصيام ١٣ (١٦٦٩)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي زما نه چي به درمضان په میاشت کي كومي روژي قضاء كيدلي نو چي څو پوري رسول الله صلي الله عليه وسلم ژوندي وو ما به په شعبان کي دهغي قضاء راوړله ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

تشریح : **د رمضان قضاء دويم رمضان پوري روسته كول**

كه چري په كوم كس باندي د رمضان قضاء واجب وي،او قضاء مؤخره كړي،تردې چې دويم رمضان راشي نود دويم رمضان روژې دې اونيسى ځكه چې هغه روژې په خپل وخت كي دى،او ددې دويم رمضان روژې په ده باندې متعين دى،په دې وجه په دې کي د نورو روژو گنجائش نشته،اود تير رمضان روژو قضاء به ددې دويم رمضان نه پس ادا كوى ځكه چې دا زمانه هم د قضاء ده، تردي مقام پوري مسئله اتفاقي ده خو اختلاف په دي کي دى كله دا روژي د كال نه پس قضا راوړي نو څه به كوي صرف قضاء كافي ده او كه فديه به هم وركوي په دي کي د علماؤ اختلاف دى:

(۱) احناف فقهاء وايي ددې تاخير په وجه به په ده باندې فديه واجب نه وى.

(۲) او د امام شافعى امام مالك اود امام احمد (رحمه الله) په نزدئې كه بغير د عذر نه تاخير اوكړو نوقضاء به هم راوړى،او د هرې روژې په بدله کي به فديه هم وركوى،

دمذكوره اهل علمو دليل دادې چې قضاء د دوه رمضانونو په مينځ کي مؤقت دم لكه چې دعائشه رضى الله عنها نه نقل دى چې په رمضان کي راپيښيدونكې د حيض د ورځو د روژو قضاء به ئې د شعبان پورې مؤخر كوله،ددې نه معلومه شوه چې د قضاء آخر وخت ترشعبان پوري دي يعنى د رمضان د فوت شوو روژو قضاء زيات نه زيات شعبان پورې مؤخر كيدلې شى،خوكه د شعبان پورې ئې قضاء اونكړه،بلكه دويم رمضان شروع شو نو گويا چې ده قضاء د خپل وخت نه مؤخر كړې ده نو قضاء د خپل وخت نه د مؤخر كولو په وجه به فديه واجب وى.

زمونږ دليل دادې چې الله تعالى د قضاء امر مطلق فرمائيلي دي اود امر مطلق موجب،على الفور ،نه وى،بلكي ،على التراخى، وى،هم دا وجه ده، كه چري يو كس د رمضان تيريدلو نه پس د رمضان د قضاء نه مخكي نفلى روژې اونيولې نو په اتفاق سره روا دى،كه د رمضان قضاء ،على الفور، واجب وې نود رمضان د قضاء نه بغير به نفلى روژې روا نه وې نوهر چې د رمضان قضاء ،على التراخى ، واجب ده نوپه ژوند کي د مرگ نه وړاندي كله چې اوغواړى،قضاء دې پوره كړى،پوره ژوند د قضاء وخت دي.العنايه على الهدايه).

****

٧٨٤_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ مَوْلَاةً لَنَا يُقَالُ لَهَا لَيْلَى تُحَدِّثُ، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ عُمَارَةَ بِنْتِ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَقَدَّمَتْ إِلَيْهِ طَعَامًا، فَقَالَ: "كُلِي". فَقَالَتْ: إِنِّي صَائِمَةٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الصَّائِمَ تُصَلِّي عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ حَتَّى يَفْرُغُوا". وَرُبَّمَا قَالَ: "حَتَّى يَشْبَعُوا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ.[1]

ترجمه : د ام عماره انصاريه رضي الله عنها نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم هغویٔ کره تشريف راوړو، او هغی ورته څه خوراك پيش کړو، رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ته هم خوره هغی عرض اوکړو ځما روژه ده رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دروژه دار مخکي چي خوراك خوړی شي، فرشتی هغه ته درحمت دعا کوي، ترهغی چي خلق خوراك نه اوزګار شي، يايی اوفرمائيل چي خلق ماړه شي.
امام ترمذي روايت کړی دی او حديث حسن يی ورته وئيلی دی . او دا روايت د شريك د روايت نه زيات صحيح دی.

لغات : يفرغوا: فرغ يفرغ فراغا معني فارغيدل ديوکار نه.

تشريح : په دي حديث کي دروژه دار دفضيلت بيان دی دچا په وړاندي چي خوراك اوکړی شي دهغي په وجه فرشتي ده ته دعا کوي.

****

٦٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّائِمِ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ

فضيلت دهغه روژه دارچي بل روژه دار ورسره افطاري وکړي

٧٨٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ لَيْلَى، عَنْ مَوْلَاتِهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الصَّائِمُ إِذَا أَكَلَ عِنْدَهُ الْمَفَاطِيرُ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ حَبِيبِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ لَيْلَى، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ عُمَارَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.[2]

---

1 ابن ماجه في الصيام ٤٦ (١٧٤٨) . (تحفة الأشراف : ١٨٣٣٥)

2 ابن ماجه في الصيام ٤٦ (١٧٤٨) . (تحفة الأشراف : ١٨٣٣٥)

ترجمه : ليلي دخپل ازاد کړي غلام نه اوهغه درسول الله صلي عليه وسلم نه روايت نقل کړی دی چي رسول الله صلي الله عليه سلم فرمائيلي دي د کوم روژه دار سره چي نو رو خلقو روژه ماته کړه فرشتي دهغه دپاره دعا غواړي.

امام ترمذي وايي چي دا حديث شعبه هم د حبيب بن زيد نه او هغه د ليلي نه او هغي دخپلي نيا ام عماره او هغي د رسول الله ددي حديث هم معني روايت نقل کړی دی.

شريح : روژه دارو دپاره د افطاري انتظام کونکي دپاره د اجر باره کي لاتعداد احاديث وارد دي يعني چي روژه دار ته داسي څيز ورکړي چي هغه ورباندي روژه ماته کړي برابره خبره ده چي کجوري وي او که داوبو ګوټ وي او که بل څه وي.

په يو بل روايت کي دسلمان فارسي رضي الله عنه نه مروي دي او په هغه روايت کي درمضان قيد هم لګولي شوي دي چي چاپه رمضان کي روژه دار ته افطاري ورکړو نو ده ته به دده دګناهونو بخشش اوشي او داور نه به ورته ازادي ملاؤ شي او هم دومره اجر به دافطاري ورکونکي ته هم ملاويږي او ددي روژه دار په اجر کي به هيڅ کمي نه راځي صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله په مونږ کي خو هر کس دومره څه نه بياموموچي هغه يي چاته دروژه ماتي دپاره ورکړي رسول الله اوفرمائيل چي الله تعالي دا اجر ديوي کجوري يا داوبوياد شودو دګوټ په ورکولو هم ورکوي.

علماء وايي پدي حديث کي دافطاري ورکولو ترغيب دي ځکه چي ددي په سبب په مسلمانانو کي محبت خوريږي.

****

٧٨٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ مَوْلَاةٍ لَهُمْ يُقَالُ لَهَا لَيْلَى، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ عُمَارَةَ بِنْتِ كَعْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ حَتَّى يَفْرُغُوا أَوْ يَشْبَعُوا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأُمُّ عُمَارَةَ هِيَ جَدَّةُ حَبِيبِ بْنِ زَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ.(١)

ترجمه : د ام عماره بنت کعب رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: اود سابقه حديث هم معني روايت يي بيان کړو، مګر هغي پخپل روايت

1 _ ابن ماجه في الصيام ٣٦ (١٧٤٨). (تحفة الأشراف: ١٨٣٢٥)

كي يفرغوا او يشبعوا الفاظ ذكر نكړل، امام ترمذي وايي ام عماره د حبيب بن زيد انصاري رضي الله عنه نياده.

****

٦٨ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي قَضَاءِ الْحَائِضِ الصِّيَامَ دُونَ الصَّلَاةِ

حائضه به دروژو قضاء راوړي او دمونځ قضاء به نه راوړو

٧٨٧ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ عُبَيْدَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كُنَّا نَحِيضُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَطْهُرُ "فَيَأْمُرُنَا بِقَضَاءِ الصِّيَامِ وَلَا يَأْمُرُنَا بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مُعَاذَةَ، عَنْ عَائِشَةَ أَيْضًا، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا نَعْلَمُ بَيْنَهُمُ اخْتِلَافًا، إِنَّ الْحَائِضَ تَقْضِي الصِّيَامَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعُبَيْدَةُ هُوَ ابْنُ مُعَتِّبٍ الضَّبِّيُّ الْكُوفِيُّ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ الْكَرِيمِ.[1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي به په مونږ بيماري راتله او بيا چي به پاكي راغله نو مونږ ته به يي دروژي دقضاء راوړلو حكم كولو او دمونځ دقضاء راوړلو حكم به يي نه كولو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي ، دا حديث دمعاذه نه هم مروي دي هغوئ دعائشه رضي الله عنها نه نقل كړي دي، او په همدي داهل علمو عمل دي مونږ ته ددوئ په مينځ كي هيڅ اختلاف معلوم نه دي چي حائضه به دروژي قضاء راوړي او دمونځ به نه راوړي.

تشريح : په رمضان كې د حيض نه پاكيدلو مسئله:

كه په رمضان كي د ورځي حائضه پاكه شوه نو په باقي ورځ كي به څه كوي امساك به كوي اوكه خوراك كولي شي په دي كي د اهل علمو او فقهاو دوه مسلكونه دي:

(١)زمونږ د احنافو په نزدپه پدې باندې د ورځ په باقي حصه كي د مفطرات نه امساك واجب دي يعني دددي د مخكي نه روژه نه وه،خوددي باوجود به د مابنامه پورې د روژه دارو پشان وخت تيروی،

---

[1] ـ ابن ماجه في الصيام ١٣ (١٦٧٠) . سنن الدارمي في الطهارة ١٠١ (١٠١٩) . (تحفة الأشراف : ١٥٩٤٣) (صحيح) وأخرجه صحيح مسلم في الحيض ١٥ (٣٣٥) . سنن ابي داود في الطهارة ١٠٥ (٢٦٣) . سنن النسائي في الصيام ٦٤ (٢٣٢٠) . سنن ابن ماجه في الطهارة ١١٩ (٦٣١) . مسند احمد (٦ في ٣٢، ٢٣١، ٢٣٢) . سنن الدارمي في الطهارة ١٠١ (١٠٢٠)

(۲) امام شافعي (رحمه الله) فرمائي چي په دوی د باقي ورځي امساك واجب نه دي. يعني خوراك كول ورته جائز دي. (شروح هدايه)

****

٦٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ مُبَالَغَةِ الِاسْتِنْشَاقِ لِلصَّائِمِ

دروژه دار دپاره په پوزه کي په اوبو راښکلو کي دمبالغي کولو دکراهت بيان

٧٨٨_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْحَكَمِ الْبَغْدَادِيُّ الْوَرَّاقُ، وَأَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ كَثِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَاصِمَ بْنَ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْوُضُوءِ، قَالَ: "أَسْبِغِ الْوُضُوءَ، وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ، وَبَالِغْ فِي الِاسْتِنْشَاقِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ كَرِهَ أَهْلُ الْعِلْمِ السُّعُوطَ لِلصَّائِمِ، وَرَأَوْا أَنَّ ذَلِكَ يُفَطِّرُهُ، وَفِي الْبَابِ مَا يُقَوِّي قَوْلَهُمْ. ([1])

ترجمه : دلقيط بن صبره رضي الله عنه نه روايت دی چي ما عرض وکړو يا رسول الله د اودس صحيح طريقه راته اوښايئ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل د اودس اندامونه ښه وينځه (چه يو ويخته هومره ځای پکي اوچ پاتی نشي) دګوتو خلال کوه اوپوزی ته اوبو اچولو کي پوره کوشش کوه (چه دننه پوزه ښه صفا شي) مګر که روژه دار وي (نوبياپوزی ته اوبو اچولو کي احتياط کوه ساه ډيره په بره راښکلو کي دروژی ماتيدو خطره ده دپوزی نه اوبه نيغی حلق ته کوزيږي واپس کيدی نه شي).

داحديث امام ابو داود او امام ترمذي روايت کړی دی اوحديث حسن صحيح يی ورته وئيلی دی او اهل علمو د روژه دار دپاره په پوزه کي اوبه په زور سره راښکل مکروه ګڼلي دي. په دي باب کي نور داسي روايات هم شته چي ددوئ قول ته تقويت ورکوي.

لغات : الاستنشاق: معني په پوزه کي اوبه اچول.

تشريح : په دي باب کي دا مسئله بيان شوي دي چي دروژي په حالت کي په مضمضه او استنشاق کي مبالغه کول جائز نه دي ځکه چي په دي کي دحلق نه داوبو کوزيدو امکان دي او په استنشاق کي دمبالغي کولو په صورت کي دماغو ته داوبو رسيدو امکان دي.

په کامل اودس کي دا هم داخل دي چي دګوتو په مينځ کي دبندونو خلال اوکړي او همدا رنګي په پوزه کي اوبه واچوي او همدا رنګي غرغره کول دي مګر په روژه کي احتياط

---

[1] _ انظر حديث رقم: ٣٨ (تحفة الأشراف: ١١١٧٢)

ضروري دي ځکه چي په پوزه یاخوله چي اوبه تیري شي نو بیا روژه ماتیږي.

****

٧٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ فَلاَ يَصُومُ إِلاَّ بِإِذْنِهِمْ

ځوک چي دیو جماعت ځاي ته ورشي دهغوي داجازت نه بغیر دي نفلي روژي نه نیسي

٧٨٩ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ العَقَدِيُّ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ وَاقِدٍ الكُوفِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ نَزَلَ عَلَى قَوْمٍ فَلَا يَصُومَنَّ تَطَوُّعًا إِلَّا بِإِذْنِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ لَا نَعْرِفُ أَحَدًا مِنَ الثِّقَاتِ، رَوَى هَذَا الحَدِيثَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. وَقَدْ رَوَى مُوسَى بْنُ دَاوُدَ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ المَدَنِيِّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِنْ هَذَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ ضَعِيفٌ أَيْضًا، وَأَبُو بَكْرٍ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الحَدِيثِ، وَأَبُو بَكْرٍ المَدَنِيُّ الَّذِي رَوَى عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ اسْمُهُ: الفَضْلُ بْنُ مُبَشِّرٍ وَهُوَ أَوْثَقُ مِنْ هَذَا وَأَقْدَمُ.[1]

ترجمه : دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي ځوک چي دیو قوم سره قیام اوکړي یعني دهغوئ میلمه شي نو دهغوئ داجازت نه بغیر دي نفلي روژي نه نیسي.

امام ترمذي وائي دا حدیث منکر دي مونږ ته په ثقاتو کي هیڅوک نه دي معلوم چي دا یي دهشام بن عروه نه نقل کړي وي . موسي بن داود دا روایت په سند د ابي بکر المدني عن هشام بن عروه عن ابیه عن عائشه عن النبي صلي الله علیه وسلم سره دا رنګي نقل کړي دي.

او دا حدیث ضعیف هم دي ابوبکر راوي دمحدثینو په نزد ضعیف دي او کوم ابوبکر مدني چي دجابر نه روایت نقل کوي دهغه نوم فضل بن مبشر دي هغه دده نه زیات ثقه دي او دده نه د مخکني زماني دي.

****

٧١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الاِعْتِكَافِ

داعتکاف بیان

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٧٤٢)

۷۹۰ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ "كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَأَبِي لَيْلَى، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : د عائشی رضي الله عنها نه روایت د ی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم به همیشه درمضان اخرو لسو ورځو کي اعتکاف کولو تردی چي الله تعالي واخستو.

امام ترمذي وائي دابو هريره او عائشه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابئ بن کعب، ابوليلي، ابو سعيد، انس، او ابن عمررضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

لغات : توفاه: توفي توفيا معني پوره کيدل لکه توفاه الله يعني الله ده لره وفات کړو ، العاکف فاعل دي معني يي مقيم ده جمع يي عاكفون او عكف او عكوف ده.

تشريح : اعتكاف د ،باب افتعال،مصدر دي د ،عكف، نه ماخوذ دي او ،عكف، متعدى دي او ،عكوف، لازم دي د شريعت په اصطلاح كي اعتكاف اوسيدل دروژي په حالت كي داعتكاف په نيت په مسجد كي .

حتي توفاه: تردي چي رسول الله ددنيا نه رخصت شو يعني هميشه يي په مدينه منوره كي اعتكاف كړي دي همدا وجه ده چي درمختار والا ليكلي دي چي دا سنت مؤكده علي الكفايه دي ددي مطلب دادي كه يو كس هم اعتكاف اوكړو نو دټولو ذمه به فارغه شي او كه نه نو ټول به ګنهګار وي .

داعتكاف شرعي حكم

د رمضان د آخرى عشرې اعتكاف سنت مؤكده دې.

مګر بعضي فقهاؤ ددي په وجوب قول كړى دى ددي دسنتيت دليل دادى چى نبى كريمﷺ په دې باندې مواظبت كړې دې لكه چي د ام المومنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي:

"قالت عائشه رضى الله عنها أن رسول اللهﷺ كان يعتكف فى العشر الأخير من رمضان حين قدم المدينة إلى أن توفاه الله تعالى"

عائشه رضى الله عنها فرمائى چى كله نبى كريمﷺ مدينې ته تشريف راوړلو نود وفاته پورې ئې د رمضان په آخرى عشره كښې اعتكاف كولو ،اود نبى كريمﷺ په يوځيز باندې

---

[1] ـ وأخرجه النسائي فى الكبرى) (تحفة الأشراف : ۱۳۲۸۵ و ۱٦٦٤٧)

مداومت كول،ددې د مسنون كيدلو دليل دي په دې وجه د رمضان په آخرى عشره كښې اعتكاف سنت مؤكده دې.

ليكن دلته دا اعتراض كيدې شي چې د رسول الله ﷺ مواظبت كول د وجوب علامت دي نود رمضان د آخري عشرې اعتكاف واجبيدل پكار دى. ددې جواب دادې چې رسول الله ﷺ به كوم څيز واجب ګرځول غوښتل نو په هغې به ئې مواظبت كولو،اود مواظبت نه پس به ئې د هغې د كولوحكم فرمائيلو،او په پريخودونكى به ئې نكير فرمائيلو،حالانكه نبى كريمﷺ خو نه ددې حكم فرمائيلې دي اونه ئې ددې په پريخودلو باندې نكير فرمائيلې دي پس كه د رمضان د آخرى عشرې اعتكاف واجب وې نو نبى كريمﷺ به خلقو ته ددې حكم فرمائيلې وو، او په پريخودونكى به ئې نكير فرمائيلې وې نو ثابته شوه چې دا واجب نه دې.

د اعتكاف د عدم وجوب دليل دا هم دې چې يو ځل نبى كريمﷺ د اعتكاف كولو دپاره په مسجد كښې خيمې لګولويعنى د پرده اچولو حكم اوكړلو،بيا مسجدته داخل شو، نو دوه خيمې ئې نورې هم اوليدلې،ددې باره كښې ئې تپوس اوكړو نو معلومه شوه چې يوه خيمه د عائشه رضى الله عنها وه،او يوه د حفصه رضى الله عنها وه چې دا ئې اوليدلې نو نبى كريمﷺ په غصه شو نود خپلې خيمې لرې كولو حكم ئې اوكړو،اودې كال ئې اعتكاف پريخودلو،ددې نه هم معلوميږى چې اعتكاف واجب نه دي ځكه چې د وجوب دليل بغير د پريخودلو مواظبت كول دى.

****

٧٩١ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ، ثُمَّ دَخَلَ فِي مُعْتَكَفِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. رَوَاهُ مَالِكٌ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ مُرْسَلًا. وَرَوَاهُ الْأَوْزَاعِيُّ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَقُولُونَ: إِذَا أَرَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ دَخَلَ فِي مُعْتَكَفِهِ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ فَلْتَغِبْ لَهُ الشَّمْسُ مِنَ اللَّيْلَةِ الَّتِي

يُرِيدُ أَنْ يَعْتَكِفَ فِيهَا مِنَ الْغَدِ، وَقَدْ قَعَدَ فِي مُعْتَكَفِهِ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ. (١)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم داعتكاف اراده اوكړه نو دسحر مونځ به يي شروع كړو او بيا به پخپل معتكف كي داخل شو.

امام ترمذي وائي دا حديث ديحي بن سعيد په واسطه دعمره نه مرسلا هم مروي دي (اوپه دي كي دعائشي دواسطي ذكر نشته) او دي لره امام مالك او بعضي نورو محدثينو ديحي بن سعيد نه او يحي دعمره نه مرسلا نقل كړي دي، اوضاعي، سفيان ثوري، او بعضي نورو محدثينو په سند ديحي بن سعيد عن عروة عن عائشه نقل كړي دي، دبعضي اهل علمو په نزد عمل په همدي حديث دي دوئ وائي كله چي څوك داعتكاف اراده اوكړي نو دسحر مونځ دي اوكړي او بيا دي پخپل معتكف كي داخل شي، امام احمد او داسحاق بن راهويه هم دا قول دي، دبعضي علماؤ قول دي كله چي څوك داعتكاف اراده اوكړي نو په راتلونكي ورځ په كومه كي چي دي اعتكاف كول غواړي په دغه ورځ چي نمر پريوځي پكار داده چي دي داعتكاف په ځاي كي ناست وي دا دسفيان ثوري او مالك بن انس قول دي.

تشريح : معتكف لـه پكار دى چى غلطې خبرې نـه كوى، بلكـه نـيكې اوښې خبرې دي كوى، اود عبادت په خيال باندې بالكل خاموش اوسيدل، هم مكروه دى،

ددې يو مطلب خو دادې چى بالكل د خبرو نه كولونذر اوكړى لكه څنګه چى مخكينو شريعتونو كښې وو، او يومطلب دادې چى بغير د نذر نه خاموش اوسيږى، او خبرې بالكل نه كوى، او يومطلب دادې چى د روژې نيت اوكړى، يعنى د «مفطرات ثلاثه» نه د بنديدلو نيت اوكړى، اودې سره سره د كلام نه كولوهم نيت اوكړى، دلته كښې هم دا دريم صورت مناسب دي څكه چى صاحب د هدايه دليل بيان كړې دې چى د خاموش اوسيدلو روژه زمونږ په شريعت كښې عبادت نه دي بلكه د مجوسيانو فعل دي نود مجوسيانو دمشابهت نه د بچ كيدلو دپاره بالكل خاموش اوسيدل مكروه دى، خود ګناه خبرونه جدا اوسيږئ.

---

١ _ البخاري في الاعتكاف ٦ (٢٠٣٣)، و٧ (٢٠٣٤)، و١٣ (٢٠٤١)، و١٨ (٢٠٤٥). صحيح مسلم في الاعتكاف ٢ (١١٧٢). سنن ابي داود في الصيام ٧٧ (٢٤٦٣). سنن النسائي في المساجد ١٨ (٧١٠). سنن ابن ماجه في الصوم ٥٩ (١٧٧١). موطا امام مالك في الاعتكاف ٣ (٧). (تحفة الأشراف: ١٧٩٣٠) مسند احمد (٦ في ٢٢٦)

مسئله: معتكف كه د انساني حاجت دپاره د مسجدنه بهر اووتلو، اودانساني حاجت پوره كولونه پس ئې د ښځې سره جماع هم اوكړه نو دده دا فعل حرام دي يعنى د اعتكاف په حالت كښې جماع كول حرام دى ځكه چې د رسول الله ﷺ په زمانه كښې دخلقو عادت دا وو چې دوى به د اعتكاف په حالت كښې د مسجد نه وتل،اود خپلو ښځو سره به ئې جماع كوله،بيا به ئې غسل اوكړو،او خپل معتكف ته به راتلل نود الله تعالى دا قول: ولا تباشروهن وانتم عاكفون في المساجد، نازل شو،په دې كښې د اعتكاف په حالت كښې دجماع كولو نه منع كړې شوې ده.

اود معتكف دپاره ښځې سره لاس لګول،او ښكلول هم حرام دى ځكه چې دا دواړه خبرې د جماع دواعى (مقدمات يا اسباب) دى،او جماع چونكه د اعتكاف د ممنوعاتو نه ده،په دې وجه به ددې دواعى هم د اعتكاف په ممنوعاتو كښې شامل وى،اوكوم څيز چې ممنوع وى،هغه حرام وى،په دې وجه به دا دواړه خبرې په معتكف باندې حرامې وى لكه څنګه چې د احرام په حالت كښې مباشرت حرام دي دغه شان د مباشرت دواعى هم حرام دى.

مسئله:د معتكف دپاره په مسجد كښې دننه په اخستلو خرڅولو كښې هيڅ باك نشته،په دې شرط چې سامان مسجدته رانه وړى ځكه چې ډير كرته معتكف دپاره د اخستلو خرڅولو ضرورت پيښيږى،اوهيڅ څوك داسې كس دده سره موجود نه وى چې دده بندوبست اوكړى نو د دې ضرورت په لحاظ سره معتكف ته ددې اجازت وركړې شوې دي فقهاؤ د اخستلو خرڅولو دپاره په مسجد كښې دننه سامان راوړل مكروه ګرځولى دى ځكه چې مسجد خالص د الله ﷻ دپاره وى،اود بنده ګانو دحقونو نه ئې دا محفوظ ساتلې دي نوچونكه مسجد ته دننه په سامان راوړلو كښې دا د بندګانو د حقونو اوسامان سره مشغولول لازميږى،په دې وجه به مسجد ته دننه د اخستلوخرڅولو سامان راوړلو،او ايخودلو اجازت نه وى.

د اعتكاف دپاره څلور څيزونه ضرورى دى:

اول ايساريدل دويم مسجد دريم د اعتكاف نيت څلورم روژه.

صاحب د هدايه وائى چې ايساريدل خود اعتكاف ركن دي ځكه چې د اعتكاف لفظ په لغت كښې د ايساريدلو په معنىٰ باندې دلالت كوى،په دې وجه د ايساريدلو موجوديدل ضرورى دى،او نيت چونكه د عادت اوعبادت په مينځ كښې د فرق پيدا كولو په ټولو مقصودى عبادتونوكښې شرط دي خود امام شافعي او امام احمد (رحمه الله) په نزدشرط نه دي په دې مسئله كښې امام مالك (رحمه الله) هم زمونږ هم خيال دې.

امام شافعي اود امام احمد (رحمه الله) دليل دادې چې روژه يو عبادت دي او په خپله اصل دي او کوم څيز چې په خپله اصل وي،هغه د نورو دپاره شرط نه وي څکه به روژه د اعتکاف دپاره شرط نه وي.

****

٧٢_ باب مَا جَاءَ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ

دليلة القدر بيان

قاضي ثناء الله پاني پتي داسي وضاحت پيش کړی دی: ترمذي، حاکم او ابن جرير دحسن رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوب کي اوليدل چي بني اميه زما په منبر رواختل رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي خوب په ليدو څه پريشاني محسوس کړه نوپدي باره کي انا اعطيناك الكوثر . او ، إِنَّآ أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ . لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ نازل شو يعني دبني اميه دزرو مياشتو دحکومت نه دليلة القدر يوه شپه بهتره ده، دقاسم بن الفضل همداني قول دي مونږ چي دبني اميه دحکومت زمانه اوشميرله نو بغير دکمي او زياتي نه زر مياشتي پوره شوي، دترمذي قول دي دا حديث غريب دي مزني او ابن کثير سخت منکر ګڼړلي دي.

ابن ابي حاتم او واحدي دمجاهد قول نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبني اسرائيلو ديو کس ذکر وکړو چي دالله تعالي په لار کي يي دزرو مياشتو پوري اسلحه اوچته کړي وه (يعني زر مياشتي جهاد يي کړي وو) مسلمانانو ددي په اوريدو سره تعجب اوکړو او پدي باره کي سورة القدر د من الف شهر پوري نازل شو، يعني دليلة القدر يوه شپه هغه زرو مياشتو نه بهتره ده په کومو کي چي بني اسرائيلو جهاد کړي وو.

ابن جرير دمجاهد نه هم داسي قول نقل کړي دي چي په بني اسرائيلو کي يو کس وو چي دماښام نه به يي دسحره پوري مونځ کولو او دسحر نه به يي دماښام پوري جهاد کولو او دده دا عمل دزرو مياشتو پوري جاري وو نو پدي باره کي الله تعالي إِنَّآ أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ . لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ نازل کړو

امام مالك په مؤطا کي ليکلي دي چي ديو معتمد عالم نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دامت عمرونه چونکه لنډ دي نو پدي وجه دنورو امتونو داعمالو دتعداد برابر خو ددوئ اعمال نشي کيدي څکه چي دهغوئ عمرونه زيات وو نو پدي وجه الله تعالي خپل رسول ته ليلة القدر ورکړو کوم چي دزرو مياشتو نه بهتره دي.

دزهري قول دي دليلة القدر نوم ددي شپې دعظمت ظاهرولو په وجه پدي باندي ايخودلي شوي دي لکه چي الله تعالي فرمائيلي دي "وماقدروالله حق قدره" يعني په واقع کي چي دالله تعالي څنګه عظمت دي هغه شان هغوئ اونکړو، ابو الضحي دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړي دي چي دنصف شعبان په شپه الله تعالي دتمامو کارونو فيصلي کوي او دليلة القدر په شپه کارنده کارانو ته ددي کارونو تفويض کوي (بغوي).

دليلة القدر وجه دتسميه دا هم بيان کړي شوي ده چي ددي شپې اعمال دالله تعالي په نزد ډير قدرمند دي او ډير لوي ثواب لري په ليلة القدر کي دقران دنزول دا معني ده او دابن عباس رضي الله عنهما دکلام نه هم دا معلوميږي چي په ليلة القدر کي پوره قران دلوح محفوظ نه په دنيوي اسمان کي بيت العزت ته نازل شوي دي او بيا د بيت العزت نه په شلو کالو کي جبرئيل عليه السلام لږ لږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته رارسولي دي او دايت کريمه "بمواقع النجوم" (سورة النجم) هم دا مطلب دي.

دابو ذر رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دابراهيم عليه السلام صحيفي په دريم رمضان او په بل روايت کي راغلي دي چي په اول درمضان کي نازل شوي وي او تورات په موسي عليه السلام په شپږم درمضان نازل شوي وو او انجيل په عيسي عليه السلام په ديارلسم رمضان نازل شوي وو او زبور په اتلسم رمضان نازل شوي وو او قران په رسول الله صلي الله عليه وسلم په څليريشتم رمضان درمضان شپږ ورځي لاباقي وي چي نازل شو.

امام احمد او طبراني دواثله بن الاسقع رضي الله عنه حديث نقل کړي دي چي دابراهيم عليه السلام صحيفي درمضان په اوله شپه نازلي شوي وي او تورات په شپږم درمضان او انجيل په ديارلسم درمضان نازل شوي وو او قران په څليريشتم درمضان ددي احاديثو په بنا بعضو علماؤ ليکلي دي چي ليلة القدر درمضان په څلريشتمه شپه نازل شوي دي، ابن مسعود رضي الله عنه، شعبي، حسن بصري، او قتاده ته ددي قول نسبت شوي دي ددي تائيد دبلال رضي الله عنه په هغه مرفوع حديث سره کيږي کوم چي امام احمد نقل کړي دي چي ليلة القدر لره په څلريشتم رمضان اولټوئ، ددي حديث په سند کي ابن ابي لهيعه راوي دي، ابن حجر ليکلي دي چي ابن لهيعه ددي حديث په مرفوع ګرځولو کي غلطي کړي ده.

الغرض: دا احاديث که صحيح هم وي خو بياهم ددينه دا نه ثابتيږي چي هر يو کال ليلة القدر په څليريشتم رمضان وي بلکه دومره ورنه معلوميږي چي په کوم کال قران نازل شوي وو او دکوم کال متعلق چي دبلال رضي الله عنه قول مروي دي په هغه کلونو کي ليلة القدر په څلريشتم رمضان راغلي دي.

فائده: دليلة القدر دتعين متعلق دعلماؤ اقوال مختلف دي چي تعداد يې تقريبا څلويښتو ته رسيږي ، صحيح خبره دا ده چي ليلة القدر هر كال درمضان په اخري عشره كي وي مګر تاريخونه بدليږي رابدليږي (يعني دهر كال دپاره يوخاص تاريخ مقرر نه دي) په تمامو صحيح احاديثو كي دتعارض ختمولو دپاره همدا طريقه ده .

دسلمان فارسي رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دشعبان په اخري ورځ خطبه وركړه او ويې فرمائيل اي خلقو يوه عزت والا مياشت تاسو ته رانزدي شوه دا دبركت والا مياشت ده او پدي كي يوه شپه ده چي دزرو مياشتو نه بهتره ده. په دي حديث دهغه قول ترديد كيږي كوم كي چي وئيلي شوي دي چي ليلة القدر په رمضان كي هم وي او په غير رمضان كي هم وي او قاضي خان ددي قول نسبت امام صاحب ته هم كړي دي.

شبهه: شايد چي دا واقعه به دهغه كال وي په كوم كي چي قران نازل شوي وو او يابه شايد دهغه كال متعلق وي په كوم كي چي سلمان فارسي رضي الله عنه بيان كړي دي، څوك چي په رمضان او غير رمضان كي دليلة القدر دراتلو قائل دي دهغوئ دمسلك ترديد پدي حديث او ايت سره نه كيږي.

****

٧٩٢_ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاوِرُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، وَيَقُولُ: "تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَابْنِ عُمَرَ، وَالْفَلَتَانِ بْنِ عَاصِمٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُنَيْسٍ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَبِلَالٍ، وَعُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَوْلُهَا يُجَاوِرُ يَعْنِي يَعْتَكِفُ، وَأَكْثَرُ الرِّوَايَاتِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فِي كُلِّ وِتْرٍ". وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ: "أَنَّهَا لَيْلَةُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ وَلَيْلَةُ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ وَخَمْسٍ وَعِشْرِينَ وَسَبْعٍ وَعِشْرِينَ وَتِسْعٍ وَعِشْرِينَ وَآخِرُ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ الشَّافِعِيُّ: كَأَنَّ هَذَا عِنْدِي وَاللَّهُ أَعْلَمُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُجِيبُ عَلَى نَحْوِ مَا يُسْأَلُ عَنْهُ، يُقَالُ لَهُ: نَلْتَمِسُهَا فِي لَيْلَةِ كَذَا، فَيَقُولُ: الْتَمِسُوهَا فِي لَيْلَةِ كَذَا. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَأَقْوَى الرِّوَايَاتِ عِنْدِي فِيهَا لَيْلَةُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَنَّهُ كَانَ يَحْلِفُ أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ، وَيَقُولُ: أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَلَامَتِهَا فَعَدَدْنَا وَحَفِظْنَا. وَرُوِيَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، أَنَّهُ

قَالَ: لَيْلَةُ الْقَدْرِ تَنْتَقِلُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ بِهَذَا. [1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به درمضان په اخري عشره کي اعتکاف کولو او فرمائيل به يي ليلة القدر لره درمضان په اخري عشره کي اولټوئ.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي د عمر، ابئ بن کعب، جابر بن سمره، جابر بن عبدالله، ابن عمر، فلتان بن عاصم، انس، ابوسعيد خدري، عبدالله بن انيس، ابوبکره، ابن عباس، بلال، او عباده بن صامت رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، او د "يجاوز" معني يعتکف ده يعني اعتکاف به يي کولو، دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه اکثر مروي روايات همدا دي چي فرمائيل به يي ليلة القدر لره درمضان داخري عشري په تاق شپو کي اولټوئ او دليلة القدر په سلسله کي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ۲۱، ۲۳، ۲۵،۲۷،۲۹ درمضان داخري شپي اقوال مروي دي امام شافعي وائي زما په نزد ددي مفهوم دادي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم هر سائل ته دهغه دسوال مطابق جواب ورکولو هغوئ ته به اووئيلي شول مونږ به دا په فلانئ شپه کي اولټوو؟ نو ورته به يي اوفرمائيل هو په فلانئ شپه کي يي اولټوئ، امام شافعي وائي زما په نزد دټولو نه قوي روايت ديويشتمي شپي دي او دابئ بن کعب نه مروي دي هغه به په قسم سره وئيل چي دا اوويشتمه شپه ده فرمائيل به يي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته ددي علامات خودلي دي او دا مونږ په شمير شميرلي شوي ياد ساتلي ده، دابو قلابه نه مروي دي ليلة القدر اکثر اخري عشري ته منتقل کيږي.

تشريح : امام نووي د ليلة القدر متعلق اعلي ترين تحقيق ذکر کړي دی:

دليلة القدر معني

دقدر معني عظمت، تقدير او حکم او تنکي وغيره چونکه دا شپه هم عظمت والاده او انسان هم په توبي سره او استغفار سره عظمت والاجوړيږي دتقدير او حکم والاځکه ده چي ديو کال تمام معاملات په دي شپه کي فرشتو ته سپارلي شي او دتنګئ والاځکه ده چي دفرشتو دکثرت په وجه په دي شپه زمکه تنګه شوي وي.

دليلة القدر فضائل

---

[1] البخاري في ليلة القدر ٣ (٢٠٢٠). (تحفة الأشراف: ١٧٠٦١)

په دي شپه قران هم نازل شوي دي او باقي اسماني كتابونه هم نازل شوي دي دابراهيم عليه السلام صحيفي په رمضان كي نازل شوي دي او تورات په شپږم رمضان نازل شوي دي او انجيل په ديارلسم رمضان نازل شوي دي او زبور په اتلسم رمضان نازل شوي دي او قران كريم په ليلة القدر كي نازل شوي دي.

دا شپه ډيره فضيلت والاده ددي يوي شپي عبادت د دري اتيا كالو او ځلور مياشتي دعبادت نه بهتردي په دي شپه كي دعبادت كونكو تمام مخكني گناهونه معاف كيږي په يو بل روايت كي راځي څوك چي ددي شپي دخير او بركت نه محروم شي دي حقيقتا محروم دي يو ځل عائشه رضي الله عنها دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو چي زه په دي شپه كي څه دعا اوغواړم رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل دا دعا وايه "اللهم انك عفو تحب العفو فاعف عني".

ليلة القدر كله وي

په دي باره كي دعلماو څلويښت اقوال دي داكثرو خلقو قول دادي چي دا درمضان په اخري عشره كي وي دامام مالك شافعي احمد سفيان ثوري او ابو قلابه وغيره هم دا قول دي او دا په طاق شپو كي راځي ، ۲۱ ، ۲۳ ، ۲۵ ، ۲۷ ، ۲۹ په حديث كي راځي تحرو ليلة القدر في العشر الاواخر من رمضان.

په يو متفق عليه روايت كي دي: ((مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَاناً وَاحْتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ)) يعني څوك چي په شب قدر كي قيام اوكړي دشپي دقيام نه مرا د دادي چي درمضان په شپو كي دتراويح داهتمام سره دقران كريم تلاوت او دالله ذكر اوكړي او دسحر جماعت هم پري نږدي نو دداسي كس دپاره خوشخبري ده چي مخكني تمام صغيره گناهونه به يي معاف شي.

في السبع الاواخر: په اخري اوه شپو كي علماء وائي داخري اوه شپو نه مراد هغه شپي دي كومي چي دشلم رمضان نه پس داوه ويشتم پوري دي يا دا چي اخري اوه شپي مراد دي يعني د درويشتم نه دنهه ويشتم پوري.

فمن كان متحريها فليتحرها في السبع الاواخر: څوك چي شبي قدر لتيول غواړي نو په اخري اوه شپو كي دي دي لره اولټوي په دي كي دوه احتمالونه دي يعني دشلم نه داوه ويشتم پوري يا د درويشتم نه نهه ويشتم پوري ليكن دويم احتمال زيات راجح دي.

****

٧٩٣ـ حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، قَالَ: قُلْتُ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: أَنَّى عَلِمْتَ أَبَا الْمُنْذِرِ أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ. قَالَ: بَلَى، أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهَا لَيْلَةٌ صَبِيحَتُهَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ لَيْسَ لَهَا شُعَاعٌ" فَعَدَدْنَا وَحَفِظْنَا، وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمَ ابْنُ مَسْعُودٍ أَنَّهَا فِي رَمَضَانَ وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ وَلَكِنْ كَرِهَ أَنْ يُخْبِرَكُمْ فَتَتَّكِلُوا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دزر بن حبيش بيان دي فرمائي چي دابیٔ بن كعب رضي الله عنه نه مي تپوس اوكړو اي ابو المنذر تاته څنګه معلومه شوه چي دا اوويشتمه شپه ده نو ويي فرمائيل ولي نه موږ ته رسول الله خبر راكړي دي چي دا يوه داسي شپه ده كله چي په سحر كي ددي نمر راوخيژي نو په دي كي دنمر شعاع او سړيكي نه وي نو موږ شمير اوكړو او ياد مو اوساتلو (زر وائي) په الله قسم ابن مسعود ته هم معلومه ده چي دا په رمضان كي اوويشتمه شپه ده ليكن هغه دا نه خوښوي چي دا شپه كه تاسو ته اوخودلي شي نو خلق به په همدي اعتماد اوكړي او عمل كول به پريږدي.

امام ترمذي واي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٧٩٤ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا عُيَيْنَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: ذُكِرَتْ لَيْلَةُ الْقَدْرِ عِنْدَ أَبِي بَكْرَةَ. فَقَالَ: مَا أَنَا مُلْتَمِسُهَا لِشَيْءٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ. فَإِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ: "الْتَمِسُوهَا فِي تِسْعٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي سَبْعٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي خَمْسٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي ثَلَاثٍ أَوَاخِرِ لَيْلَةٍ". قَالَ: وَكَانَ أَبُو بَكْرَةَ يُصَلِّي فِي الْعِشْرِينَ مِنْ رَمَضَانَ كَصَلَاتِهِ فِي سَائِرِ السَّنَةِ. فَإِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ اجْتَهَدَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 ـ مسلم في المسافرين ٢٥ (٧٦٢). سنن ابي داود في الصلاة ٣١٩ (١٣٧٨) (تحفة الأشراف: ١٨). مسند احمد (٥ في ١٣٠، ١٣١)

2 ـ أخرجه النسائي في الكبرى (تحفة الأشراف: ١١٦٩٦)

ترجمه : عيينه بن عبدالرحمن وائي ماته زما پلار روايت بيان كړي دي چي دابو بكره رضي الله عنه په وړاندي دليلة القدر ذكر اوكړي شو نو هغه اوفرمائيل دكوم څيز په وجه چي زه دا صرف په اخري عشره كي تلاش كوم هغه داده چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يوه خبره اوريدلي ده ما ورنه دا اوريدلي وو ليلة القدر هغه وخت كي اولټوئ كله چي دمياشتي پوره كيدو ته نهه ورځي پاتي شي، يا چي كله اوه ورځي باقي پاتي شي، يا چي كله پنځه ورځي باقي پاتي شي، يا چي كله دري ورځي باقي پاتي شي، ابوبكره رضي الله عنه به درمضان په شلو ورځو كي داسي مونځ كولو څنګه چي به يي په پوره كال كي كولو ليكن كله چي به اخري عشره راغله نو په عبادت كي به يي محنت او كوشش زيات كړو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٧٣_ باب مِنْهُ

داعتكاف متعلق يو بل باب

٧٩٥_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هُبَيْرَةَ بْنِ يَرِيمَ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُوقِظُ أَهْلَهُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به درمضان په اخري عشره كي خپل كور والا راويخول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****

٧٩٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[2]

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٣٠٧)

[2] _ مسلم في الاعتكاف ٣ (١١٧٥)، ابن ماجه في الصيام ٥٧ (١٧٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٢٣)

2/39

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به درمضان په اخري عشره کي په عبادت کولو کي دومره کوشش کولو څومره چي به يي په نورو ورځو کي نه کولو.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح غريب دي.

****

٧٤_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّوْمِ فِي الشِّتَاءِ

دژمي په موسم کي دروژو نيولو بيان

٧٩٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ نُمَيْرِ بْنِ عُرَيْبٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْغَنِيمَةُ الْبَارِدَةُ الصَّوْمُ فِي الشِّتَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ، عَامِرُ بْنُ مَسْعُودٍ لَمْ يُدْرِكِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ وَالِدُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَامِرٍ الْقُرَشِيِّ، الَّذِي رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ.[1]

ترجمه : دعامر بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ژمي کي روژي نيول يخ (مفت) غنيمت دي.
امام ترمذي وائي دا حديث مرسل دي عامر بن مسعود دنبي کريم صلي الله عليه وسلم زمانه مبارکه نه ده موندلي، دي د ابراهيم بن عامر قرشي پلار دي چي شعبه او سفيان ثوري ورنه نقل دروايت کوي.

****

٧٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي (وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ)

باب دي په بيان د تفسير د دي کلام الهي "وعلي الذين يطيقونه"

٧٩٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ (البقرة) ، كان من أراد منا أن يفطر ويفتدي حتى نزلت الآية التي

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٠٣٩)

بعدها فنسختها". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَيَزِيدُ هُوَ ابْنُ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ. [1]

ترجمه: سلمه بن اكوع رضي الله عنه فرمائي كله چي ايت كريمه "وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين" نازل شو نو په مونږ كي كه به چا غوښتل كه روژي اونه نيسي هغوئ به فديه وركوله ترڅو چي په دي پسي متصل راتلونكي ايت نازل شو او هغه دا ايت منسوخ كړو.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح غريب دي. اود يزيد د پلار نوم ابو عبيد دي اود سلمه بن الاكوع ازاد كړى غلام دى.

تشريح: وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ... (اوپه هغه خلقوباندي چي دفديه طاقت لري)
علامه بغوي فرمائي چي ددي ايت په تاويل اوحكم كي دعلماؤ اختلاف دي اكثر علماء فرمائي چي دا ايت منسوخ دي.
دابن عمر او سلمه بن اكوع رضي الله عنهما او نوروصحابه كرامو هم دامذهب دي. شان نزول ددي داسي وو چي په ابتداء داسلام كي الله تعالي دي خلقو ته اختيار وركړي وو يعني كه چري طاقت مو وي نو روژي ونيسئ ورنه افطار وكړئ او فديه وركړئ اوددي وجه داوه چي خلق دروژو نيولو سره عادت نه وو كه چري ابتداءً ورته دروژو نيولوحكم لازمي شوي وي نودوي ته به گرانه شوي وه ، بيا ددينه پس اختيار منسوخ شو او فمن شهد منكم الشهر الاية سره دروژي حكم قطعي شو.
بنا پدي تقدير مسافر اومريض ته په دري خبرو كي اختيار دي: اول: روژي نيول. دويم: افطار كول په نيت دقضا. دريم: روژه نه نيول او فديه وركول،
بياچه كله فديه وركول منسوخ شول نوپه روژو نيولو اوقضا راوړلو كي اختيار باقي پاتي شو.
قتاده فرمائي ځوك چي ډير بوډا وي دروژو نيولو طاقت لري ليكن ډير بوډا والي په وجه روژي نيول ورته گران وي نو ده ته مخكي ددي ايت په بناء دافطار كولو اوفديه وركولو اجازت وواوبيا دا اجازت منسوخ. حسن فرمائي چي دا ايت كريمه دهغه مريض په باره كي دي كوم چي دروژي نيولو طاقت لري نو ده په روژونيولو او افطار كولو كي اختيار دي دفديه وركولو په صورت كي خوبيا دا اختيار هم منسوخ شو.
ددي تمامو اقوالو موافق دقران كريم نه دداسي بوډا حال معلوم نشوكوم چي په سبب دضعف روژي نشي نيولي ،په همدي وجه امام مالك او امام شافعي په يو قول كي فرمائي: چي دشيخ فاني دپاره افطار كول جائز دي ځكه چي دا عاجز دي او الله تعالي دطاقت نه په زيات حكم باندي ځوك نه

---

[1] ـ البخاري في تفسير سورة البقرة ٢٦ (٤٥٠٦) . صحيح مسلم في الصوم ٢٥ (١١٣٥) . سنن ابي داود في الصيام ٣ (٢٣١٥) . سنن النسائي في الصيام ٦٣ (٢٣١٨) . سنن الدارمي في الصوم ٢٩ (١٧٧٥) . (تحفة الأشراف : ٤٥٣٤)

مكلف كوي اوفديه وركول وربانديِ واجب ندي ځكه ددي دپاره دليل پكار وي ځكه چي فديه دروژي غير معقول مثل دي اودمثل غير معقول په ثبوت كي رائي لره دخل نه وي.
اوديوجماعت مسلك دادي چي دا ايت ددي معني په اعتبار سره منسوخ ندي چي كوم خلق په ځوانئ كي دروژو نيولو طاقت لري اوبيا دبوډا والي نه پس عاجز شي پدوي باندي دروژو نيولو په ځاي فديه وركول واجب دي ليكن نظم دكلام ددي تاويل نه انكار كوي
علامه جلال الدين سيوطي ددي ايت په تفسير كي فرمائي : چي يطيقون په تقدير دلام سره دي او معني داده چي كوم خلق دروژو نيول طاقت نه لري دهغوي په ذمه باندي فديه وركول دي لكه په ايت يبين الله لكم ان تضلوا ، په ان تضلوا كي لام مقدر دي.
طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ... (په يو محتاج باندي خوراك كول)
دفديه مقدار په نزد دامام صاحب باندي دصدقة الفطر موافق دي چي دغنمو نيم صاع اودوربشو پوره صاع دي.
او امام شافعي فرمائي چي كومه غله اكثرپه دغه ښار كي خوړلي شي دهغي يو مد دهري ورځي په بدل كي مسكين ته وركول دي.
او امام احمد فرمائي دوربشو نيم صاع اودغنمو يو مد واجب دي.
بعضي فقهاؤ وئيلي دي چي دكومي غذا خوراك پدغه وخت كي مروج وي هغه دي وركړي
ابن عباس فرمائي چي هر مسكين ته دي دماښام او پيشنمي خوراك وركړي
د "فمن تطوع خيرا" مراد دادي چي څوك فديه دواجب مقدار نه زياته وركړي نو دا به دده دپاره ډير غوره وي او په ان تصوموا كي هغه خلق مخاطب دي څوك چي دروژي نيولو طاقت لري.
مطلب دادي چي اي دروژي طاقت لرونكو روژه نيول دفديي وركولو نه بهتر دي په دي كلام سره صراحتا معلوم شو چي په وعلي الذين يطيقونه ، كي دروژي طاقت لرونكي مراد دي اوڅوك چي طاقت نه لري لكه بوډاګان اوبيماران هغوئ مراد نه دي اوداځكه دچاچه طاقت نشته نودهغوئ دپاره روژه نيول بهتر نه دي بلكه دروژي نه نيول بهتر دي . اوددي ايت نه دا هم معلومه شوه كه چري مسافر ته دروژي په نيولو زيات تكليف نه وي نودهغه دپاره روژه نيول افضل دي . دجمهورو اهل علمو هم دا مسلك دي.
ليكن امام احمد او اوزاعي اوسعيد بن مسيب رحمه الله وائي چي روژه نيول ورله افضل نه دي.
اوهغوئ په دي مسئله كي د يو څو احاديثو نه استدلال كړى دى مثلا:
دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دي چي يوځل رسول الله صلي الله عليه وسلم په سفر تلي وو اوډيره ګڼره يي وليدله نوچه هلته ورغي نوډير خلق په يو سړي باندي راټول شوي وو نودهغوئ نه يي تپوس اوكړو چي څه قصه ده؟ خلقو عرض اوكړو دا كس روژه دار دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په سفر كي روژه نيول څه دنيكئ خبره نه ده (بخاري مسلم).
جابر رضي الله عنه فرمائي دفتح مكي په كال رسول الله صلي الله عليه وسلم مكي ته تشريف يوړو اوروژه يي نيولي وه اونورو خلقو هم روژه نيولي وه كله چي "كراع غميم" مقام ته ورسيدو نويوجام

اوبه يي راوغوښتلي او هغه يي پورته کړي او ټولوته يي اوښودلي اوبيا يي دهغوئ په وړاندي اوڅکلي خلقو چي دا اوليدل نو عرض يي اوکړو چي اي داالله رسوله بعضو خلقو روژه نيولي ده ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا خلق نافرمانان دي (رواه مسلم).

دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي چي په سفر کي درمضان روژي نيونکي داسي دي لکه څوك چي مقيم وي او افطار کوي (ابن ماجه).

زمونږ دطرف نه ددي احاديثو جواب دادي چي دا احاديث دهغه چاپه حق کي دي چاته چي دروژي په نيولو ډير تکليف رسيږي اودهغه په حق کي افطار کول افضل دي ، برابره خبره ده چي مسافر وي اوکه مريض وي همدارنګي که چري په جهاد کي افطار اوکړي شي نو افضل دي.

دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي خلقو ددشمن طرف ته ورمخکي شئ او اوس ستاسو دپاره افطار کول موجب د طاقت دي، ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمائي چي د افطار کولو اجازت رخصت وو نوځکه په مونږ کي بعضي کسانو خو روژه اونيوله او بعضو افطار اوکړو بياچه کله مونږ يو بل مقام ته ورسيدو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي خلقو سحر ددشمن سره مخامخ کيدل دي او افطار کول ستاسو دپاره موجب دقوت دي نو مونږ ټولو افطار وکړو او دا افطار کول عظيمت وو (مسلم).

او همدا رنګي امام مالك دبعضي صحابه کرامو نه په موطا کي داحديث نقل کړي دي او امام شافعي هم دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه په مسند الشافعي کي نقل کړي دي او ابو داود او حاکم او ابن عبدالبر هم داحديث نقل کړي دي.

اوکه چري دروژي په نيولو سره روژه دار ته تکليف نه وي نوددي ايت په بنا باندي دهغه دپاره روژه نيول افضل دي چنانچه ابوالدرداء رضي الله عنه فرمائي چي زه په يو سفر کي درسول الله صلي الله عيلـه وسلم سره ملګري وم او ګرمي دومره شديده وه چي دتاؤ نه دبچ کيدودپاره مونږ به په سرونوباندي لاس اېښودلو اوپه مونږ کي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه او عبدالله بن رواحه نه علاوه بل څوك روژه دار نه وو.

داتمام تفصيل دمسافر په حق کي ده ځکه چي ددي مسافر دپاره درخصت مدار په سفر دي برابره خبره ده چي ده ته دروژي په نيولو تکليف وي اوکه نه وي باقي پاتي شو بوډا اومريض اوضعيف او حامله او مرضعه نوددوئ په حق کي درخصت مبني پخپله مشقت او دروژي په وجه تکليف رسيدل دي که چري روژه دوئ ته تکليف نه رسوي نورخصت نشته اوکه چري تکليف ورته رسوي اوهغه تکليف دا وي چي يا خو دمرض دزياتوالي خطره وي اويا دنوي مرض پيدا کيدو خطره وي نوپه دي وخت کي هم د افطار جازت دي (مظهري، زاد المسير)

****

۷٦_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ أَكَلَ ثُمَّ خَرَجَ يُرِيدُ سَفَرًا

په رمضان کي د خوراك کولو نه پس دسفر اراده کول

٧٩٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّهُ قَالَ: أَتَيْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ فِي رَمَضَانَ وَهُوَ يُرِيدُ سَفَرًا، وَقَدْ رُحِلَتْ لَهُ رَاحِلَتُهُ وَلَبِسَ ثِيَابَ السَّفَرِ فَدَعَا بِطَعَامٍ فَأَكَلَ. فَقُلْتُ لَهُ: سُنَّةٌ. قَالَ: سُنَّةٌ. ثُمَّ رَكِبَ. (١)

ترجمه : دمحمد بن كعب بيان دي فرمائي چي زه په رمضان كي انس بن مالك ته ورغلم او هغه په سفر دتلو اراده كوله او په سورلئ يي كجاوه ترلي شوي وه او دسفر جامي يي اغوستلي وي نو خوراك يي راوغوښتلو او ويي خوړلو ما ورنه تپوس اوكړو ايا دا سنت دي؟ ويي فرمائيل هو، سنت دي او بيا هغه پخپله سورلئ سورشو.

****

٨٠٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: أَتَيْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ فِي رَمَضَانَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ هُوَ ابْنُ أَبِي كَثِيرٍ هُوَ مَدِينِيٌّ ثِقَةٌ، وَهُوَ أَخُو إِسْمَاعِيل بْنِ جَعْفَرٍ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ هُوَ ابْنُ نَجِيحٍ وَالِدُ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمَدِينِيِّ، وَكَانَ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ يُضَعِّفُهُ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالُوا: لِلْمُسَافِرِ أَنْ يُفْطِرَ فِي بَيْتِهِ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَقْصُرَ الصَّلَاةَ حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ جِدَارِ الْمَدِينَةِ أَوِ الْقَرْيَةِ، وَهُوَ قَوْلُ: إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيِّ. (٢)

ترجمه : په دي سند سره هم دمحمد بن كعب نه روايت دي چي په رمضان كي انس بن مالك ته ورغلم او بيا يي دسابقه حديث پشان روايت بيان كړو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او محمد بن جعفر ابن ابي كثير مديني دي او ثقه دي او دي د اسماعيل بن جعفر ورور دي او دعبدالله بن جعفر علي بن عبدالله مديني پلار ابن نجيح دي، يحي بن معين په ضعفاؤ كي شميرلي دي، دبعضي اهل علمو په دي حديث باندي عمل دي دوئ وائي چي دمسافر دپاره جائز دي چي په سفر دتلو نه مخكي افطار اوكړي ليكن په مونځ كي ورته دقصر كولو اجازت نشته ترڅو پوري چي دخپل ښار يا كلي نه جدا شوي نه وي او همدا داسحاق بن ابراهيم بن راهويه حنظلي قول هم دي.

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٤٣)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٤٣)

****

٧٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي تُحْفَةِ الصَّائِمِ

دروژه دپار دتحفي بيان

٨٠١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ طَرِيفٍ، عَنْ عُمَيْرِ بْنِ مَأْمُونٍ، عَنْ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تُحْفَةُ الصَّائِمِ الدُّهْنُ وَالْمِجْمَرُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَعْدِ بْنِ طَرِيفٍ. وَسَعْدُ بْنُ طَرِيفٍ يُضَعَّفُ، وَيُقَالُ: عُمَيْرُ بْنُ مَأْمُومٍ أَيْضًا. [1]

ترجمه : دحسن بن علي رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دروژه دار دپاره ښه تحفه خوشبو او تيل دي او د عود لرګي انګيټۍ ده.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي، ددي سند قوي نه دي دا حديث مونږ ته صرف دسعد بن طريف په سند معلوم دي، او سعد بن طريف يو ضعيف راوي دي. دده متعلق دا هم وئيلي شوي دي چي دده نوم عمير بن ماموم وو.

****

٧٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى مَتَى يَكُونُ

وړوكي او لوي اختر به كله نما نځلي شي

٨٠٢_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْيَمَانِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْفِطْرُ يَوْمَ يُفْطِرُ النَّاسُ، وَالْأَضْحَى يَوْمَ يُضَحِّي النَّاسُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: سَأَلْتُ مُحَمَّدًا، قُلْتُ لَهُ: مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ سَمِعَ مِنْ عَائِشَةَ، قَالَ: نَعَمْ، يَقُولُ فِي حَدِيثِهِ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٢٠٦)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٢٠)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوړوكي اختر ورځ هغه ده په كومه كي چي خلق اختر كوي او دلوي اختر ورځ هغه ده په كومه ورځ چي خلق قرباني كوي.
امام ترمذي وائي ا حديث په دي سند حسن غريب صحيح دي، ما دمحمد بن اسماعيل بخاري نه تپوس اوكړو ايا محمد بن منكدر دعائشه نه اوريدل كړي دي؟ هغه اووئيل هو، خكه چي دي پخپل روايت كي وائي ما دعائشه نه اوزيدلي دي

****

٧٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الِاعْتِكَافِ إِذَا خَرَجَ مِنْهُ

داعتكاف پوره كيدو نه مخكي دبهروتلو حكم

٨٠٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، قَالَ: أَنْبَأَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَلَمْ يَعْتَكِفْ عَامًا، فَلَمَّا كَانَ فِي الْعَامِ الْمُقْبِلِ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْمُعْتَكِفِ إِذَا قَطَعَ اعْتِكَافَهُ قَبْلَ أَنْ يُتِمَّهُ عَلَى مَا نَوَى، فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا نَقَضَ اعْتِكَافَهُ وَجَبَ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ، وَاحْتَجُّوا بِالْحَدِيثِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ مِنَ اعْتِكَافِهِ فَاعْتَكَفَ عَشْرًا مِنْ شَوَّالٍ" وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ نَذْرُ اعْتِكَافٍ أَوْ شَيْءٌ أَوْجَبَهُ عَلَى نَفْسِهِ، وَكَانَ مُتَطَوِّعًا فَخَرَجَ فَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يَقْضِيَ إِلَّا أَنْ يُحِبَّ ذَلِكَ اخْتِيَارًا مِنْهُ، وَلَا يَجِبُ ذَلِكَ عَلَيْهِ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: فَكُلُّ عَمَلٍ لَكَ أَنْ لَا تَدْخُلَ فِيهِ، فَإِذَا دَخَلْتَ فِيهِ فَخَرَجْتَ مِنْهُ فَلَيْسَ عَلَيْكَ أَنْ تَقْضِيَ إِلَّا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ، وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به درمضان په اخري عشره كي اعتكاف كولو خو يو كال داسي راغي چي اعتكاف يي اونكړي شو كله چي وريسي راتلونكي كال راغي نو دشلو ورخو اعتكاف يي اوكړو.

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٧٥٢)

امام ترمذي وائي دانس بن مالك دا حديث حسن صحيح غريب دي اعتكاف كونكي چي كله خپل اعتكاف دهغي مودي نه مخكي ختم كړي دكومي چي هغه نيت كړي وي نو دده باره كي داهل علمو اختلاف دي بعضي اهل علم وائي كله چي څوك اعتكاف مات كړي په ده باندي به ددي قضاء واجب وي او هغوئ دهغه حدث نه استدلال كړي دي په كوم كي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دخپل اعتكاف نه راوتلي وو نو په شوال كي يي لس ورځي اعتكاف اوكړو او دا دامام مالك قول دي ليكن بعضي اهل علم وائي كه چري يو كس باندي داعتكاف نذر يا داسي كوم څيز نه وي كوم چي ده پخپله په ځان باندي واجب كړي وي او نفلي اعتكاف يي شروع كړي وي او بيا ددينه بهر راوځي نو په ده باندي ددي قضاء نشته مگر دا كه چري دي پخپله خوښه ددي قضاء راوړي نو درسته ده خو قضاء به ورباندي واجب نه وي دا دامام شافعي قول دي، شوافع وائي هر هغه عمل دكوم په كولو او په نه كولو كي چي تاسو ته اختيار دركړي شوي وي كله چي تاسو دا شروع كړئ او بيا يي دپوره كيدو نه مخكي پريږدئ نو په تاسو به ددي قضاء لازمه نه وي مگر علاوه دحج او عمري نه، او په دي باب كي د ابو هريره رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي.

لغات: اعتكاف د ،باب افتعال،مصدر دي د ،عكف، نه ماخوذ دي او،عكف. متعدى دي او ،عكوف، لازم دي د شريعت په اصطلاح كښې اعتكاف اوسيدل دي دروژي په حالت كښې داعتكاف په نيت په مسجد كښې .

تشريح : د رمضان د آخرى عشرې اعتكاف مستحب دي خوصحيح خبره داده چې د رمضان د آخرى عشرې اعتكاف سنت مؤكده دې.

ددي قول دليل دادی چې نبی كريمﷺ په دې باندې مواظبت كړې دې لكه چې د ام المومنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي:

"قالت عائشه رضى الله عنها أن رسول اللهﷺ كان يعتكف فى العشر الأخير من رمضان حين قدم المدينة إلى أن توفاه الله تعالى"

عائشه رضى الله عنها فرمائى چې كله نبى كريمﷺ مدينې ته تشريف راوړلو نود وفات كيدو پورې ئې د رمضان په آخرى عشره كښې اعتكاف كولو.اود نبى كريمﷺ په يوڅيز باندې مداومت كول.ددې د مسنون كيدلو دليل دي په دې وجه د رمضان په آخرى عشره كښې اعتكاف سنت مؤكده دې.

دلته دا سوال كول نه دي پكار : كيدې شي چې د رسول اللهﷺ مواظبت كول د وجوب علامه وي نود رمضان د آخري عشرې اعتكاف واجبيدل پكار دى. ددې جواب دادې چې رسول اللهﷺ به كوم څيز واجب گرځول غوښتل نو په هغې به ئې مواظبت كولو.اود مواظبت نه پس به ئې د هغې د كولوحكم فرمائيلو.او په پريخودونكی به ئې نكير فرمائيلو. حالانكه نبی كريمﷺ خو نه ددې حكم فرمائيلې دي اونه ئې ددې په پريخودلو باندې نكير فرمائيلې دي پس كه د رمضان د آخرى

عشرې اعتکاف واجب وې نو نبی کریمﷺ به خلقو ته ددې حکم فرمائیلې وې، او په پریخودونکی به ئې نکیر فرمائیلې وې نو ثابته شوه چې دا واجب نه دې.

د اعتکاف د عدم وجوب دلیل دا هم دې چې یو خل نبی کریمﷺ د اعتکاف کولو دپاره په مسجد کښې خیمې لګولو یعنی د پرده اچولو حکم اوکړلو، بیا مسجدته داخل شو، نو دوه خیمې ئې نورې هم اولیدلې، ددې باره کښې ئې تپوس اوکړو نو معلومه شوه چې یوه خیمه د عائشه رضی الله عنها ده، او یوه د حفصه رضی الله عنها ده چې دا ئې اولیدلې نو نبی کریمﷺ غصه شو اود خپلې خیمې لرې کولو حکم ئې اوکړو، او پدې کال ئې اعتکاف پریخودلو، ددې نه هم معلومیږی چې اعتکاف واجب نه دې ځکه چې د وجوب دلیل بغیر د پریخودلو مواظبت کول دی.

د اعتکاف دپاره څلور څیزونه ضروری دی:

اول ایساریدل. دویم مسجد. دریم د اعتکاف نیت. څلورم روژه.

صاحب د هدایه وائی چې ایساریدل خود اعتکاف رکن دې ځکه چې د اعتکاف لفظ په لغت کښې د ایساریدلو په معنیٰ باندې دلالت کوی، په دې وجه د ایساریدلو موجودیدل ضروری دی.

(۱) او نیت د احنافو او مالکیانو په نزد د عادت اوعبادت په مینځ کښې د فرق پیدا کولو په تولو مقصودی عبادتونوکښې شرط دې.

(۲) اود امام شافعی او امام احمد (رحمه الله) په نزدشرط نه دې.

امام شافعی اود امام احمد (رحمه الله) دلیل دادې چې روژه یو عبادت دې او په خپله اصل دې او کوم څیز چې په خپله اصل وی، هغه د نورو دپاره شرط نه وی ځکه به روژه د اعتکاف دپاره شرط نه وی.

****

٨٠ـ بَابُ الْمُعْتَكِفُ يَخْرُجُ لِحَاجَتِهِ أَمْ لاَ

معتکف دخپل کوم ضرورت دپاره داعتکاف نه بهر وتلې شي او کنه

٨٠٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدَنِيُّ قِرَاءَةً، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، وَعَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: " كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَكَفَ أَدْنَى إِلَيَّ رَأْسَهُ فَأُرَجِّلُهُ، وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. هَكَذَا رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، وَعَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. وَالصَّحِيحُ عَنْ عُرْوَةَ، وَعَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. (١)

١ ـ النسائي في الطهارة ١٧٦ (١٧٩)، (٣٧٩). (تحفة الأشراف: ١٦٦٠٢ و١٦٩٢١)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم په اعتكاف كي ناست وو نو خپل سر به يي ماته رانزدي كړو او ما به ورله ويخته كمنزول او هغه به دكوم انساني ضرورت نه بغير داعتكاف دوران كي كور ته نه داخليدو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، دارنګي دا حديث بعضي نورو راويانو هم په سند د مالك عن ابن شهاب عن عروه وعمرة عن عائشه نقل كړي دي ، او صحيح داده چي ابن شهاب زهري دا روايت دعروه او عمره دواړو نه او هغوئ دعائشي نه نقل كړي دي.

****

٨٠٥_ حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، وَعَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ إِذَا اعْتَكَفَ الرَّجُلُ أَنْ لَا يَخْرُجَ مِنَ اعْتِكَافِهِ إِلَّا لِحَاجَةِ الإِنْسَانِ، وَاجْتَمَعُوا عَلَى هَذَا أَنَّهُ يَخْرُجُ لِقَضَاءِ حَاجَتِهِ لِلْغَائِطِ وَالبَوْلِ. ثُمَّ اخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي عِيَادَةِ المَرِيضِ وَشُهُودِ الجُمُعَةِ وَالجَنَازَةِ لِلْمُعْتَكِفِ. فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنْ يَعُودَ المَرِيضَ وَيُشَيِّعَ الجَنَازَةَ وَيَشْهَدَ الجُمُعَةَ إِذَا اشْتَرَطَ ذَلِكَ. وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ المُبَارَكِ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: لَيْسَ لَهُ أَنْ يَفْعَلَ شَيْئًا مِنْ هَذَا، وَرَأَوْا لِلْمُعْتَكِفِ إِذَا كَانَ فِي مِصْرٍ يُجَمَّعُ فِيهِ أَنْ لَا يَعْتَكِفَ إِلَّا فِي مَسْجِدِ الجَامِعِ. لِأَنَّهُمْ كَرِهُوا الخُرُوجَ لَهُ مِنْ مُعْتَكَفِهِ إِلَى الجُمُعَةِ، وَلَمْ يَرَوْا لَهُ أَنْ يَتْرُكَ الجُمُعَةَ. فَقَالُوا: لَا يَعْتَكِفُ إِلَّا فِي مَسْجِدِ الجَامِعِ حَتَّى لَا يَحْتَاجَ أَنْ يَخْرُجَ مِنْ مُعْتَكَفِهِ لِغَيْرِ قَضَاءِ حَاجَةِ الإِنْسَانِ. لِأَنَّ خُرُوجَهُ لِغَيْرِ حَاجَةِ الإِنْسَانِ قَطْعٌ عِنْدَهُمْ لِلِاعْتِكَافِ، وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ، وَالشَّافِعِيِّ، وقَالَ أَحْمَدُ: لَا يَعُودُ المَرِيضَ وَلَا يَتْبَعُ الجَنَازَةَ عَلَى حَدِيثِ عَائِشَةَ، وقَالَ إِسْحَاقُ: إِنِ اشْتَرَطَ ذَلِكَ فَلَهُ أَنْ يَتْبَعَ الجَنَازَةَ وَيَعُودَ المَرِيضَ.[1]

ترجمه : مونږ ته قتيبه په سند د ليث بن سعد عن ابن شهاب عن عروة وعمرة عن عائشه روايت بيان كړي دي.

---

[1] _ البخاري في الاعتكاف ٣ (٢٠٢٩). صحيح مسلم في الحيض ٣ (٢٩٧). سنن ابي داود في الصيام ٧٩ (٢٤٦٨). سنن ابن ماجه في الصوم ٦٣ (١٧٧٨). (تحفة الأشراف: ١٦٥٧٩) (صحيح) وأخرجه ح في الحيض ٢ (٢٩٥). والاعتكاف ٢ (٢٠٢٨). و١٩ (٢٠٤٦). واللباس ٧٦ (٥٩٢٥). و سنن ابي داود في الصيام ٧٩ (٢٤٦٧). والموطأ في الطهارة ٢٨ (١٠٢). والاعتكاف ١ (١). و مسند احمد (٦ في ١٠٣). ٢٠٤. ٢٣١. ٢٤٧. ٢٦٢). وسنن الدارمي في الطهارة ١٠٧ (١٠٨٥)

امام ترمذي وائي داهل علمو په دي باندي عمل دي چي کله يو سړي اعتکاف کوي نو دانساني ضرورت نه بغير د دخپل اعتکاف دځاي نه بهر نه اوځي او د علماؤ په دي خبره اتفاق دي چي د لوي او وړوکي اودس ماتي پشان ضرورتونو دپاره داعتکاف نه بهر وتل جائز دي، او د معتکف دپاره دمريض په عيادت کولو کي او دجمعي او جنازي په مونځ کي په شريکيدلو کي داهل علمو اختلاف دي، په صحابه کرامو او اهل علمو کي دبعضو دا قول دي چي اعتکاف والا دمريض عيادت له تلي شي، او دجنازي سره هم تلي شي او په جمعه کي هم شريك کيدي شي او دا هغه وخت کي چي کله ده داعتکاف وخت کي د دي څيزونو دپاره د وتلو شرط مقرر کړي وي او دا دسفيان ثوري او ابن مبارك قول دي ، او بعضي اهل علم وائي چي په دي څيزونو کي ورته ديو څيز دپاره دوتلو اجازت نشته ، ددوئ خيال دادي دمعتکف دپاره دا ضروري ده چي کله دي په يو داسي ښار کي موجود وي چرته چي دجمعي مونځ کيږي نو په داسي جامع مسجد کي دي اعتکاف اوکړي تردي چي دجمعي دتلو دپاره ده ته دوتلو ضرورت پيښ نشي او وتل يي دده دپاره مکروه ګرځولي دي او دده دپاره د جمعي پريخودل يي هم جائز نه دي ګڼړلي، نو په دي وجه ددوئ قول دادي چي اعتکاف والا به صرف په جامع مسجد کي اعتکاف کوي تردي چي ده ته دانساني حاجتونو نه علاوه دکوم بل حاجت دپاره دوتلو ضرورت رانشي نو په دي وجه بغير دکوم انساني ضرورت نه دمسجد نه په وتلو سره به اعتکاف ماتيږي او دا دامام مالك او امام شافعي قول دي امام احمد بن حنبل وائي دعائشه رضي الله عنها دحديث په بنا اعتکاف والا نه دمريض عيادت کولي شي او نه دجنازي سره تلي شي. اسحاق بن راهويه وائي که چري دي د دي څيزونو شرط اولګوي نو بيا ده ته دمريض عيادت دپاره او جنازي سره دتلو دپاره اجازت شته.

تشريح: **داعتکاف موانع او ممنوعات**

د معتکف دپاره د اعتکاف د مسجد نه وتل روا نه دی،سوا د دوه ضرورتو نه چی يو طبعی ضرورت دې لکه د تش او ډك اودس ماتی ضرورت،دويم دينی ضرورت لکه د جمعې اود جنابت د غسل ضرورت.

بهرحال د طبعی او انسانی ضرورت دپاره د وتلو په جواز باندې دليل د عائشه رضی الله عنها حديث دې يعنی

"کان النبیﷺ لايخرج من معتکفه إلا لحاجة الإنسان"

يعنی رسول اللهﷺ به د خپل معتکف نه بهرتشريف نه اوړلو،سوا د انسانی او طبعی ضرورت پوره کولو دپاره يعنی د وړوکی او غټ اودس ماتی دپاره.

دويم دليل دادې چی د انسانی ضروورياتو واقع کيدل د مخکښې نه معلوم دی،اودا هم معلومه ده چی ددې د پوره کولو دپاره وتل ضروری دی.ددې نه بغير خلاصې نشته نو

ددې ضرورتونو دپاره به وتل پخپله مستثنیٰ وی ځکه چی دغیر اختیاری أمورو انسان مکلف نه وی،خو دومره خبره ضرور ده چی د انسانی ضرورت پوره کیدلو نه پس،د طهارت نه د فارغیدلو نه فوراً پس خپل معتکف ته لاړشی،د طهارت نه د فارغیدلو نه پس دې په خپل کورکښې نه ایساریږی ځکه چی د انسانی حاجتونو دپاره وتل ضرورة ثابت دی،او کوم څیز چی ضرورةً ثابت وی نو هغه د ضرورت په اندازه ثابت وی،په دې وجه د ضرورت په اندازه د اعتکاف د مسجد نه د بهر پاتې کیدلو اجازت دې ددې نه زیات اجازت نشته.

(۱) د جُمعې د مانځه دپاره وتل زمونږ مذهب جائز دی.

(۲) اود امام شافعی او امام مالك (رحمه الله) په نزد جُمعې دپاره وتل روا نه دی.تردې که د جمعې د مانځه دپاره او وتلو نو اعتکاف به فاسد وی،

ددوې دواړو دلیل دادې چی خروج د اعتکاف یعنی په یوځائې کښې د وخت تیرولوضد دې او شئ د خپل ضد په راتلوسره فاسدیږی،په دې وجه اعتکاف په ،خروج من المسجد ،سره فاسدیږی،خو په دې صورتونوکښې به نه فاسدیږی،په کومو صورتونوکښې چی خروج متحقق دې لکه واړه اوغټ بول(اودس ماتی) دپاره وتل.اود جمعې د مانځه دپاره د وتلو هیڅ ضرورت نشته ځکه که ده د اوه ورځو نه کم اعتکاف کړې دي نو په کوم مسجد کښې چی غواړی،اعتکاف دې اوکړی،اوکه د اوه ورځو نه زیات اعتکاف ئې کړې دي نوپه جامع مسجد کښې دې اعتکاف اوکړی نو په دې دواړوصورتونوکښې څه داسې ضرورت موجود نشو چی د جمعې د مانځه دپاره خروج روا اوګرځوی. او هرکله چی داسې ضرورت متحقق نشو نود جمعې د مانځه دپاره به د وتلو هم اجازت نه وی.

زمونږ دلیل دادې چی په دلیل سره داخبره ثابته شوې ده چی اعتکاف په هر مسجد کښې مشروع دې لکه چی د الله تعالی ارشاد دې: ولا تباشروهن وانتم عاكفون في المساجد. نو هرکله چی په هر مسجد کښې اعتکاف مشروع دي نود جمعې دپاره وتل به دده د نذر اعتکاف دپاره داسې مستثنی وی لکه څنګه چی د انسانی ضرورت دپاره وتل مستثنی دی ځکه چی د اعتکاف د حفاظت دپاره د جمعې مونځ پریخودل قطعًا روا نه دی ځکه چی د نذر په وجه د اعتکاف وجوب د جمعې د مانځه د وجوب نه کمتر دي اود جمعې د مانځه د وجوب نه کمتر ځکه دې چی د جمعې مونځ د الله تعالی په واجبولوسره واجب شوې دي او اعتکاف د بنده په واجبولوسره واجبیږی.په دې طریقه چی ده د اعتکاف نذر کړې دي اود بنده دپاره د الله تعالی واجب کړې وظیفه ساقطولو اجازت نشته نو ثابته شوه چی د اعتکاف په وجه د جمعې مونځ نشی پریخودلې.اوهرکله چی د جمعې مونځ نشی پریخودلې نود جمعې د مانځه دپاره به د وتلو هم اجازت وی.

که چري معتكف بغير د عذره د مسجدنه اووتلو،اګرچې د يوي لمحي دپاره وتلې وی نود امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزدده اعتكاف فاسد شو.
،او قياس هم دا دي او صاحبين وائی چې اعتكاف به فاسد نه وی،خوکه د نيمې ورځې نه ئې زياته بغير د عذره د مسجد نه بهر تيره کړه نو اعتكاف به فاسد وی،او استحسان هم دا دي

دکوموضرورتونودپاره په اعکاف کې وتل جائز ندي

مسئله:د معتكف دپاره په مسجد کښې خوراك څكاك او اوده کيدل روا دی،دليل دادې چې د رسول الله ﷺ د اعتكاف په حالت کښې سوا د مسجد نه هيڅ ځائې نه وو،او هرکله چې د مسجدنه علاوه ئې هيڅ ځائې نه وو نو ښکاره خبره ده چې خوراك څكاك او اوده کيدل به ئې هم هلته کښې وو،دويم دليل دادې چې ددې خوراك څكاك اود اوده کيدلو ضرورت په مسجد کښې پوره کيدل ممکن هم دی نو دده دپاره د وتلو هيڅ ضرورت نشته.

مسئله: معتكف که د انسانی حاجت دپاره د مسجدنه بهر اووتلو، اودانسانی حاجت پوره کولونه پس ئې د ښځې سره جماع هم اوکړه نو دده دا فعل حرام دي يعنی د اعتكاف په حالت کښې جماع کول حرام دی ځکه چې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې دخلقو عادت دا وو چې دوی به د اعتكاف په حالت کښې د مسجد نه وتل.اود خپلو ښځو سره به ئې جماع کوله،بيا به ئې غسل اوکړو،او خپل معتكف ته به راتلل نود الله تعالى دا قول:

ولا تباشروهن وانتم عاكفون في المساجد . نازل شو،په دې کښې د اعتكاف په حالت کښې دجماع کولو نه منع کړې شوې ده.

اود معتكف دپاره ښځې سره لاس لګول،او ښکلول هم حرام دی ځکه چې دا دواړه خبرې د جماع دواعی (مقدمات يا اسباب) دی،او جماع چونکه د اعتكاف د ممنوعاتو نه ده،په دې وجه به ددې دواعی هم د اعتكاف په ممنوعاتو کښې شامل وی،اوکوم څيز چې ممنوع وی،هغه حرام وی،په دې وجه به دا دواړه خبرې په معتكف باندې حرامې وی لکه څنګه چې د احرام په حالت کښې مباشرت حرام دي دغه شان د مباشرت دواعی هم حرام دی.

په خلاف د روژې چې د روژې په حالت کښې مباشرت حرام اومفسد د صوم دي خو لاس لګول،او ښکلول د صوم مفسد نه دی ځکه چې جماع د روژې د ممنوعاتو نه نه ده،بلکه د جماع نه ځان ساتل د روژې رکن دي او رکن د شئ غير طرف ته نه متعدی کيږی،په دې وجه به جماع په روژه کښې،د روژې دواعی طرف ته نه متعدی کيږی

****

٨١_ بَاب مَا جَاءَ فِي قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

په رمضان كې د قيام الليل كولو بيان

٨٠٦ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفُضَيْلِ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجُرَشِيِّ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: صُمْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُصَلِّ بِنَا حَتَّى بَقِيَ سَبْعٌ مِنَ الشَّهْرِ، فَقَامَ بِنَا حَتَّى ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ، ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا فِي السَّادِسَةِ وَقَامَ بِنَا فِي الْخَامِسَةِ حَتَّى ذَهَبَ شَطْرُ اللَّيْلِ، فَقُلْنَا لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ نَفَّلْتَنَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِنَا هَذِهِ؟ فَقَالَ: "إِنَّهُ مَنْ قَامَ مَعَ الْإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ". ثُمَّ لَمْ يُصَلِّ بِنَا حَتَّى بَقِيَ ثَلَاثٌ مِنَ الشَّهْرِ، وَصَلَّى بِنَا فِي الثَّالِثَةِ وَدَعَا أَهْلَهُ وَنِسَاءَهُ، فَقَامَ بِنَا حَتَّى تَخَوَّفْنَا الْفَلَاحَ. قُلْتُ لَهُ: وَمَا الْفَلَاحُ؟ قَالَ: "السُّحُورُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ، فَرَأَى بَعْضُهُمْ أَنْ يُصَلِّيَ إِحْدَى وَأَرْبَعِينَ رَكْعَةً مَعَ الْوِتْرِ، وَهُوَ قَوْلُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَهُمْ بِالْمَدِينَةِ، وَأَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: وَهَكَذَا أَدْرَكْتُ بِبَلَدِنَا بِمَكَّةَ يُصَلُّونَ عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَقَالَ أَحْمَدُ: رُوِيَ فِي هَذَا أَلْوَانٌ وَلَمْ يُقْضَ فِيهِ بِشَيْءٍ، وَقَالَ إِسْحَاقُ: بَلْ نَخْتَارُ إِحْدَى وَأَرْبَعِينَ رَكْعَةً عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَاخْتَارَ ابْنُ الْمُبَارَكِ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ الصَّلَاةَ مَعَ الْإِمَامِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ، وَاخْتَارَ الشَّافِعِيُّ أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ وَحْدَهُ إِذَا كَانَ قَارِئًا، وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ.[1]

ترجمه : دابوذر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره درمضان روژې اونيولي او هغه مونږ ته مونځ رانكړو تردي چي كله صرف اوه شپې پاتي شوي نو رسول الله زمونږ سره قيام اوكړو (يعني تراويح) تردي چي دشپې دريمه حصه تيره شوه بيا چي كله شپږ شپې تيري شوي نوزمونږ سره يي قيام اونكړو (يعني تراويح يي اونكړې) او چي كله پنځه شپې پاتي شوي نو زمونږ سره يي قيام اوكړو (يعني تهجد يي اوكړو) تردي چي شپه نيمي ته ورسيده مونږ ورته عرض اوكړو اي دالله رسوله كه چري تاسو دشپې په دي باقي پاتي حصه كي هم نفل مونځ په جماعت سره راكړئ نو بهتره به وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چي دامام سره قيام اوكړي تردي چي امام فارغ شي نو دده دپاره به دتمامي

---

[1] ـ ابي داود في الصلاة ٣١٨ (١٣٧٥). سنن النسائي في السهو ١٠٣ (١٣٦٥). الإقامة ١٧٣ (١٣٢٧). (تحفة الأشراف: ١١٩٠٣). مسند احمد (٥ في ١٥٩). سنن الدارمي في الصوم (١٨١٨)

شپې قيام ليكلي كيږي او بيا يې بله شپه مونږ ته مونځ رانكړو تردې پورې چې په مياشت كې صرف درې ورځې باقي پاتې شوې نو بيا يې مونږ ته په اوويشتمه شپه مونځ راكړواو دخپل كور افراد او ښځې يې هم راوغوښتلې او رسول الله زمونږ سره قيام اوكړو تردې چې زمونږ سره دپيشمنې دوخت تيريدو ويره او خطره پيدا شوه راوي وائي ما ورنه تپوس اوكړو چې فلاح څه څيز دې راته يې اوفرمائيل پيشمنې كول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دې، او په دې باب كې دعائشه ، نعمان بن بشير ، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، په رمضان كې دقيام په سلسله كې داهل علمو اختلاف دې دبعضې علماؤ خيال دادې چې دوترو سره به يو څلويښت ركعاتونه كوي او دا داهل مدينه قول دې ددوئ په نزد په مدينه كې په همدې باندې عمل وو، او اكثر اهل علم په هغه احاديثو عمل كوي كوم چې دعمر او علي او بعضې نورو صحابه كرامو نه مروي دي او هغوئ دشلو ركعاتونو قائل دي، دا دسفيان ثوري، ابن مبارك، او شافعي قول دې ، امام شافعي وائي دا رنګې معمول ما پخپل ښار مكه كې ليدلې وو هلته به شل ركعاتونه كيدل، امام احمد وائي په دې سلسله كې مختلف قسم خبرې مروي دي او په دې باره كې يې كومه مضبوطه خبره او قول فيصل نه دې كړې، داسحاق بن راهويه قول دې مونږ ته دابيُ بن كعب دمطابق ۴۱ ركعاتونه كول بهتر ښكاري ،ابن مبارك ،اسحاق بن راهويه په رمضان كې په امام سره په دې طريقه مونځ كول خوښولو او امام شافعي يواځې تراويح كول خوښ كړي دي خو چې مونځ كونكې قاري وي.

تشريح: **د تراويح حكم او ددې د ركعتونو تعداد**

احناف علماء فرمائي چې د ماسخوتن د فرضو نه پس د رمضان په مياشت كښې د تراويحو په غرض د خلقو راجمع كيدل مستحب دى.امام به خلقو ته پنځه ترويحى كوى.هره ترويحه به په دوو سلامونو ادا كوى.او د هر دوو ترويحو په مينځ كښې به د يو ترويحى په مقدار د آرام په غرض كينى.بيا به امام دوى ته وتر مونځ وركوى.

صاحب د عنايه وجه دتسميه دتراويح ليكلى ده چې ترويحه دڅلور ركعتو نوم دې.ځكه چې څلور ركعتونه راحت او آرام ته رسول كوي.يعنى د څلور ركعتونو نه پس د راحت او آرام اجازت وركړې شوې دې. د سړو دپاره هم او د ښځو دپاره هم.

د امام ابو حنيفه رحمه الله نه هم دا مروى دى چې تراويح سنت مؤكده دى.

د تراويح متعلق د رسول الله صلى الله عليه وسلم عمل داسې مروي دې:

.(انه خرج ليلة من ليال رمضان وصلى عشرين ركعة فلما كانت الليلة الثانية اجتمع الناس فخرج وصلى بهم عشرين ركعة فلما كانت الليلة الثالثة كثر الناس فلم يخرج وقال عرفت اجتماعكم لكنى خشيت ان تكتب عليكم فكانوا يصلونها فرادى الى زمن عمر (رضي الله عنه)

يعني د رمضان په شپو كښې يوه شپه د الله نبي كريم صلي الله عليه وسلم تشريف راوړلو.او خلقو ته ئې شل ركعته اوكړل چې كله دويمه شپه شوه.او خلق راجمع شو.نو حضورﷺ تشريف راوړلو.او خلقو ته ئې شل ركعته اوكړل.كله چې دريمه شپه شوه.او خلق ډير شول.نو نبي كريم ﷺ تشريف راونړلو.او دائې اوفرمائيل چې ماته ستاسو جمع كيدل معلوم وو.خوماسره ويره وه.چې دا په تاسو باندې فرض نشي.نو خلقو د عمر د خلافت زماني پورې ځانله ځانله مونځ كولو.

د ابن عباس (رضي الله عنه) د حديث نه د شلو ركعتو ثبوت ملاويږي :

(انه ﷺ كان يصلي في رمضان عشرين ركعة سوى الوتر)

ابن عباس(رضي الله عنه) وائي چې نبي كريم ﷺ به په رمضان المبارك كښې د وترو نه علاوه شل ركعته كول (فتح القدير)

د تراويح جماعت او ترويحو بيان

صاحب د هدايه فرمائي چې داكثرو مشائخو په نزد د تراويحو جماعت سنت على الكفايه دې. كه د يو جومات ټولو خلقو د تراويحو مونځ پريخودلو.نو ټول به تاركين دسنت وي.او كه بعضو جماعت قائم كړو.او بعضو پريخودلو.نو په جماعت كښې نه شريكيدونكي خلق به د فضيلت پريخودونكي وي.

دليل دادې چې بعضي صحابه داسې دي چې دوی نه د تراويح په جماعت كښې شركت مروی ندی.يعنې دا حضرات صحابه په جماعت كښې نه دي شريك شوی.بلكه ځانله ئې كړی دی ، لكه څنګه چې امام طحاوی د ابن عمر(رضي الله عنه) او عروه نه يو روايت نقل كړې دې.

دامام ابويوسف نه مروی دی.كه د سنت قرات رعايت كولو سره په كور كښې تراويح كول ممكن وی.نو جائز دی چې دی په كور كښې ځانله د تراويح مونځ اوكړی. خوكه څوك فقيه كبير وی چې دده د عمل خلق اقتداء كوی.نو داسې كس دی په كور كښې تراويح نه اداكوی.

د امام ابويوسف دليل د نبي كريم ﷺ دا قول دې

(عليكم بالصلاة في بيوتكم فإن خير صلاة المرء في بيته الا المكتوبة)

يعني نبي كريم ﷺ اوفرمايل چې په تاسو په خپل كور كښې مونځ كول لازم دی.ځكه چې د سړی بهترين مونځ دده په خپل كور كښې دې.بغير د فرض نه.

د امام ابو حنيفه د طرفه جواب دادې چې قيام رمضان ددی نه مستثنی دې.ځكه چې مخكښې معلومه شوه چې نبي كريم ﷺ په جومات كښې د تراويح مونځ ادا كړې وو او چې كله ئې تشريف راؤنه وړلو.نو ددی عذر ئې بيان كړو.اودخلفاء راشدينو عمل هم دا پاتې شوې دې چې د تراويح مونځ ئې په جماعت سره په مسجد كښې ادا كړې دې. ددی وجې بغير د عذر نه د تراويح جماعت پريخودلو اجازت نشته.

علامه ابن الهمام صاحب د فتح القدير. او صاحب د عنايه ليكلی دی چې د هر دوه ترويحو په مينځ كښې په خاموشئ سره انتظار كول مستحب دی .ځكه چې تراويح او ترويحه د راحت نه

ماخوذ دی.نوداسی کار دی اوکړی چی په هغی کښې راحت وی.اودا خبره ښکاره ده چی راحت په چپ کیناستو کښې دې ، بنا په دې ځکه چپ کیناستل غوره او مستحب دی.

د تراویحو وخت او د قرات مقدار

دتراویح دوخت متعلق دوه مذاهب دي:

د اکثرو فقهاو قول دادی چي د تراویحو وخت د ماسخوتن نه پس او د وترو نه مخکښې دې.عام مشائخ ددی قائلین دی.تردی که د ماسخوتن نه مخکښې یا د وترو نه پس ئې د تراویحو مونځ اوکړو.نو دا به تراویح نه وی.ځکه چی د تراویح علم د صحابو د فعل نه ثابت شوې دې. نو صحابه کرامو چی په کوم وخت کښې د تراویحو مونځ کړې دې.هم هغه به د تراویحو وخت وی.او دا خبره منلی شوې ده چی صحابو د ماسخوتن نه پس د تراویحو مونځ کړې دې.نود تراویحو به هم دا وخت وی

(۲)او د بلخ د متاخرینو مشائخو مذهب دادې چی ټوله شپه د سحر صادق پورې د تراویحو وخت دې.د ماسخوتن نه مخکښې هم او د ماسخوتن نه پس هم.ځکه چی د تراویحو نوم قیام اللیل دې. ددی وخت به هم لیل یعنی شپه وی.اصح قول دادې چی د تراویحو وخت د ماسخوتن نه پس د آخری شپی پورې دې.د وترو نه مخکښې هم او د وترو نه پس هم.ځکه چی تراویح نفل دی چی د ماسخوتن نه پس مقرر شوی دی.نو د تراویحو مونځ به د ماسخوتن د ماتځه تابع وی.او تابع د متبوع نه پس وی. نود تراویح مونځ به د ماسخوتن نه پس وی مخکښې به نه وی.

دتراویح په موخر کولو کښې دوه اقوال دي:

(۱) تراویح د شپی آخره پورې مؤخر کول مستحب دی.بعضي عالمان فرمائی چی د نیمی شپی پورې مؤخر کول مستحب دی

(۲)خوکه د نیمی شپی نه پس ئې ترایح اوکړل.نود بعضو په نزد مکروه دی.ځکه چی تراویح د ماسخوتن د مونځ تابع دی.او ماسخوتن د نیمی شپی نه پس ادا کول مکروه دی.نوتراویح به هم د نیمی شپی نه پس مکروه وی.

اصح قول دادې چی د نیمی شپی نه پس مکروه نه دی.ځکه چی تراویح صلوة اللیل دی.او په صلوة اللیل کښې د شپې آخر افضل دې.نوپه تراویح کښې هم د شپی د آخره پورې تاخیر افضل دی مکروه نه دې.

په مقدار دقراءت کښې مذاهب ثلاثه:

(۱)بعضي خلق وائی چی د تراویحو په هره شفع کښې به دومره مقدار تلاوت کوی.خومره قرات چی د ماښام په مونځ کښې وی. ځکه چی د ترایحو مونځ نفل دې. او نفل په نسبت د فرض آسان وی.نود قراءت په مقدار کښې تراویح په آسانو فرائضو باندې قیاس کولی شی .او آسان په فرائضو کښې د ما ښام مونځ دې.خو دا قول صحیح نه دې.ځکه چی په دی مقدار سره په پوره میاشت کې په تراویح کښې یو ختم نه شی کیدلې.حالانکه په تراویح کښې یو خل کلام پاك ختمول مستحب دی

(۲)بعضي فرمائی چی د تراویحو په هره شفع کښې به دومره قرات کوی . څومره اندازه چی د ماسخوتن په مانځه کښې کوی.ځکه چی تراویح د ماسخوتن تابع دی
(۳)حسن بن زیاد د امام اعظم نه روایت کړې دې چی په هر رکعت کښې د لسو آیاتونو په مقدار قرات کوی.هم دا صحیح قول دې.ځکه چی په دی صورت کښې په خلقو باندې آسانی هم ده.او د ختم قران سنت هم ادا کیدی شی .ځکه چی په دیرشو شپو کښې د تراویح شپږ سوه رکعته وی.او د قران پاك ټول آیاتونه د شپږو زرو نه څه دپاسه دی چی په هر رکعت کښې لس آیاته تلاوت کوی.نو په تراویحو کښې به پوره قران یو ځل ختم شی.
په کفایه کښې لیکلی شوی دی چی دوه ځلی قرآن ختمول افضل دی.او مجتهدین د امت به په یوه عشره کښې یو ختم کولو.او امام ابو حنیفه رحمه الله به د رمضان په میاشت کښې یوشپیته (۶۱) ختمونه کول. دیرش د رمضان په شپو کښې او دیرش د ورځو په رڼاکښې او یو په تراویح کښې(فتاوی قاضی خان)
.تراویح د عامو نوافلو نه په څو خبرو کښې مختلف دې. (۱)اوله دا چی په عامو نفلونو کښې جماعت نشته او په تراویح کښې جماعت دې(۲)دویم دا چی نفلو کښې د رکعتونو تحدید نشته دې.او په تراویحو کښې د رکعتونو حد شته(۳)دریم دا چی نوافل د هیڅ وخت سره خاص نه دی.او تراویح د رمضان د شپو سره مخصوص دی.(۴)څلورم دا چی په تراویحو کښې یو قرآن ختمول مسنون دی.په نورو نفلونو کښې دا سنت نه دی(عنایه فتح القدیر لابن همام)

****

۸۲_ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا

روژه دارته د افطاري ورکولو فضیلت

۸۰۷_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دزید بن خالد جهني رضي الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي، څوك چي روژه دار باندي خوراك اوخوروي دهغه هم دروژه دار هومره ثواب کیږي، لیکن دروژه دار دثواب نه څه شی نه کمیږي (الله تعالي یی دخپل طرفه ورکوي).
امام ترمذي وايي دا حدیث حسن صحیح دی.

تشریح : ابوداد هم په دي سلسله کي د انس رضي الله عنه یو مرفوع روایت نقل کړی دی.

---

[1] ابن ماجه في الصيام ۴۵ (۱۷۴۶) (تحفة الأشراف : ۳۷۶۰) . مسند احمد (۴ في ۱۱۵، ۱۱۴، ۱۱۶)

عن أنسٍ ﷺ : أنَّ النبيَّ ﷺ جاءَ إلى سعد بن عبادة ﷺ فجاءَ بِخُبْزٍ وَزَيْتٍ ، فأَكَلَ ، ثُمَّ قالَ النبي ﷺ : ((أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ ؛ وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارُ ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ المَلاَئِكَةُ)) رواه أبو داود بإسناد صحيح .

انس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم سعد بن عباده كره تشريف يوړو نو هغه ورته ډوډئ اودزيتون تيل پيش كړل رسول الله صلي الله عليه وسلم روټئ اوخوړله او ويې فرمائيل تاكره روژه دار روژه ماته كړه، اوستاسو خوراك نيكانو اوخوړو اوتاسو ته فرشتو درحمت دعا اوغوښتله، امام ابو داود په صحيح سند روايت كړى دى .

علماء وائي دا جمله خبريه ده ليكن ددعا په معني ده يعني الله تعالي دي تاسو ته دهغي كس بدله دركړي ځوك چي دخلقو دپاره دافطاري انتظام كوي په پورتني حديث كي دي خبري ته هم ترغيب دي چي دطاقت مناسب ميلمستيا پكار ده او دا هم مستحب دي چي روژه دار به دافطاري انتظام كونكي ته دعا كوي.

****

٨٣ـ بَابُ التَّرْغِيبِ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ وَمَا جَاءَ فِيهِ مِنَ الْفَضْلِ

دقيام رمضان دپاره ترغيب او ددي فضائل

٨٠٨ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ بِعَزِيمَةٍ، وَيَقُولُ: "مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ. ثُمَّ كَانَ الأَمْرُ كَذَلِكَ فِي خِلاَفَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلاَفَةِ عُمَرَ عَلَى ذَلِكَ. وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به اصحابو ته په رمضان كي دتراويح كولو ترغيب وركولو، اوپه سختئ سره به يې حكم نه وركولو.

---

[1] مسلم في المسافرين ٢٥ (٧٥٩) . سنن ابي داود في الصلاة ٣١٨ (١٣٧١) . (تحفة الأشراف : ١٥٢٧٠) . وأخرجه البخاري في الإيمان ٢٧ (٣٧) . والصوم ٦ (١٨٩٨) . والتراويح ١ (٢٠٠٩) . وسنن ابي داود في الصلاة ٣١٨ (١٣٧١) . وسنن النسائي في قيام الليل ٣ (١٦٠٣) . والصيام ٣٩ (٢١٩٨ ،٢٢٠١ ، ٢٢٠٢ ،٢٢٠٣ ، ٢٢١٣) . والإيمان ٢١ (٥٠٢٧ ، ٥٠٢٩) . و٢٢ (٥٠٣٠)

فرمائيل به يی څوك چي دايمان په حالت كي دثواب په نيت رمضان كي قيام الليل وكړی، مخكني گناهونه به ورته ټول معاف شي پس رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو او همدا طريقه جاري وه او بيا دابوبكر رضي الله عنه په خلافت كي او دعمر دخلافت په ابتداء كي هم معامله همداسي جاري وه.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دعائشه نه هم روايت مروي دي، او دارنگي داروايت زهري دعروه نه عن عائشه عن النبي صلي الله عليه وسلم سند هم نقل كړی دي. امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

لغات : بعزيمة: العزيمة معني موكده اراده جمع يي عزائم راځي.

تشريح : دقيام نه مراد تراويح دي ددينه علماء استدلال كوي چي تراويح كول سنت مؤكده دي ځكه چي رسول الله ديته ترغيب وركړي دي او درمضان دشپي قيام پخپله درسول الله نه ثابت دي بلكه دري شپي يي اجتماعي تراويح پخپله وركړي دي بيايي اوفرمائيل زما سره دا خطره ده چي دا چرته فرض نشي نو په دي وجه يي دخواهش توجه صحابه كرامو ته اجتماعي تراويح ورنكړي ليكن وروسته ددي دفرض كيدو خطره نه وه نو په دي وجه عمر رضي الله عنه داجتماعي تراويح اهتمام شروع كړو. (روضة الصالحين)

امام نووي وائي چي دلته دگناهونو دمغفرت نه مراد صغيره گناهونه دي او دكبيره گناهونو دپاره توبه ويستل او استغفار وئيل ضروري دي او كچرته څوك داسي خوش نصيب انسان وي دچا په عمل نامه كي چي گناه نه وي نو دا دشپي قيام به دده دپاره په جنت كي ددرجو دلوړيدو ذريعه اوگرځي. (دليل الفالحين)

****

ويليه انشاء الله كتاب الحج في المجلد الثالث.